وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ

تفسير

أحسن الكلام

بلغة البشتو

للشيخ أبي زكريا عبد السلام الرستمي

الجزء الثامن

اتم جزء

د سورة الاحقاف نه تر سورة التحريم پورې

ناشر
جامعة عربية لإشاعة التوحيد والسنة
پنج پیر - پشاور

(حقوق طبع د مصنف د پاره محفوظ دی)

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ

تفسیر

احسن الکلام

بلغۃ البشتو

للشیخ ابی زکریا عبد السلام الرستمی

الجزء الثامن

اتم جزء

د سورة الاحقاف نه تر سورة التحریم پورے

الناشر:

جامعة عربية لاشاعة التوحيد والسنة

بده بير - پشاور

پي ډي ايف کمپوزنګ.. عابد منصور مردانوي(تحريک طالبان پاکستان حلقه مردان)

سُوْرَةُ الْاَحْقَافِ ۴۶ مَكِّيَّةٌ ۶۶	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰيَاتُهَا ۳۵ رُكُوْعَاتُهَا ۴

حٰمٓ ۞ ﴿۱﴾ تَنْزِيْلُ الْكِتٰبِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ﴿۲﴾

الله تعالیٰ دَدے په مراد ښه پوهیږی. نازلول دَ دے کتاب دَطرف دَ الله تعالیٰ نه دی چه زورا ور حکمتونو والا دے۔

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سُوْرَةُ الْاَحْقَاف

ربط دَ دے سورت دَ ماقبل سره په ډیرو وجوهو سره دے وجه اول داده چه په هغه سورت کښ امر په اتباع دَ شریعت سره وُو نو په دے سورت کښ تصدیق دَ شریعت په اثبات دَ صدق دَ نبی او دَ صدق دَ قرآن سره ذکر کوی. دویمه وجه داده چه کښ سورت کښ آیات عقلیه او وحییه ذکر شول په توحید باندے نو په دے سورت کښ په هغے باندے تفریع ده په رد دَ شرك فی القدرة والعلم سره. دریمه وجه داده چه په هغه سورت کښ تخویف اخروی ذکر شوید ے او په دے سورت کښ تخویف دنیوی ذکر کوی په واقعه دَ عادیانو سره او ورسره داهم ذکر کوی چه داعذابونه دَ دے مشرکانو الِهه من دون الله تعالیٰ نشی دفع کولے.

دَعویٰ دَ سورت. رد دے په شبهه دَ مشرکانو باندے چه معبودان من دون الله وسیلے گنړی او سبب دَ نجات ورکولو ئے گنړی نو په ۲۸ کښ دَ هغے جواب کوی په اثبات دَ صدق دَ نبی او دَ قرآن نه په تردید دَ اقسامو دَ شرک کښ. شرك فی التصرف. او فی العلم او فی الدعاء او فی العبادة او اثبات دَ صدق دَ نبی او دَ قرآن دے په تصدیق کولو دَ جنانو سره.

خلاصه دَ سورت داده. په دے کښ دوه بابونه دی اول باب تر ۱۵ پورے دے په دے کښ اول ترغیب الی القرآن دے بیا زجرونه دی اول زجر په اعراض کولو سره دَ آیاتِ وحییه (قرآن) او عقلیه نه او دویم زجر په رد دَ شرک فی التصرف په طلب دَ دلیل سره دَ مشرکانو نه دریم زجر په رد دَ شرک فی العلم او فی الدعاء سره څلورم زجر په انکار دَ قرآن سره بیا صداقت دَ قرآن او دَ رسول ذکر کوی سره دَ دلیل نقلی دَ کتاب دَ موسیٰ علیه السلام نه بیا بشارت دے.

تفسیر ۱ په دے آیت کښ ترغیب الی القرآن دے او اشاره ده ځ پاتے په بل مخ)

مَا خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَآ اِلَّا

نه دی پیدا کړی مونږ اسمانونه او زمکه او هغه چه دَ دے په مینځ کښ دی مګر

بِالْحَقِّ وَاَجَلٍ مُّسَمًّى وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا عَمَّآ اُنْذِرُوْا

په فائده او نیټې مقررے سره او کافران خلق دَ هغه څه نه چه دوی له پرے ویره ورکیدیشی

مُعْرِضُوْنَ ③ قُلْ اَرَءَيْتُمْ مَّا تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ

مخ ګرځوونکی دی۔ ته اوایه خبر کړئ ما له په باره دَ هغه چا کښ چه تاسو ورته رامدد شه وایئ سیوا

اللّٰهِ اَرُوْنِيْ مَاذَا خَلَقُوْا مِنَ الْاَرْضِ اَمْ لَهُمْ

دَ الله تعالی نه او خایئ ما ته هغه څه دی چه دوی پیدا کړیدی دَ زمکے دَ څیزونو نه ایا دوی لره شته دے

دَ سورت راتلونکے مضمون ؏ چه وحی دَ الله تعالی ده څه بے دلیله خبره نه ده۔

؎۲ په دے کښ اشاره ده چه راتلونکے مضمون دَ عقلی دلیلونو سره هم برابر دے یعنی دا نظام علوی او سفلی او وسطی دلالت کوی په توحید او په بعث بعد الموت باندے۔ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا دا زجر دے په اعراض کولو سره عَمَّآ (ما) موصوله یا مصدریه دے۔

؎۳ په دے کښ طلب دَ دلیل دے دَ معرضینو نه دَ هغوی په شرک باندے او زجر دے په شرک فی التصرف باندے او هم دا سے تیر شوی دی سورة فاطر ؎ کښ حاصل دا دے چه په زمکه کښ خلق یا په اسمان کښ شرکت په تصرف کښ دلیل دے په الوهیت باندے نو که ستاسو الهو کښ دَ دے نه یو قدرت وی نو اوښائی۔ او دا دلیل عقلی دے او که دا سے نه وی نو دلیل نقلی دَ کتاب دَ الله تعالی یا دَ مخکښنو پیغمبرانو دَ اثارو، احادیثو نه پیش کړئ په الوهیت دَ معبودانو ستاسو باندے ؎ مَا تَدْعُوْنَ سورة فاطر کښ دَ شرکاء لفظ هم ویلے وو ځکه چه په هغه سورت کښ مخکښ دَ شرک دَ مشرکانو تفصیل کړے شوے دے۔ اِئْتُوْنِيْ بِكِتٰبٍ مراد دَ دے نه منزّل کتاب دے په قرینه دَ سورة فاطر سره چه په هغے کښ اٰتینا ویلے وو۔ من قبل هذا یعنی نازل شویدی مخکښ دَ قران نه چه هغه تورات، انجیل، زبور دی او هر کله چه دا کتابونه مشرکانو ته نه دی ورکړے شوی دَ دے وجے نه په دے ایت کښ اٰتینا نه دے ذکر کړے۔ او اَثٰرَةٍ مِّنْ عِلْمٍ نقل دے دَ عکرمه او مجاهد نه چه مراد دَ دے نه روایت نقل کړے شویدے دَ انبیاء علیهم السلام نه چه هغے ته په اصطلاح دَ شرع کښ احادیث ویلے کیدے شی په دیکښ اشاره ده

شِرْكٌ فِي السَّمٰوٰتِ ۭ اِيْتُوْنِيْ بِكِتٰبٍ مِّنْ قَبْلِ هٰذَآ

برخه په اسمانونو کښې راوړئ ماته کتاب (چه نازل شوی وی) مخکښې د دے کتاب نه

اَوْ اَثٰرَةٍ مِّنْ عِلْمٍ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝۴ وَمَنْ

یا رانقل کړے شوے دلیل (د مخکنو نه) که چرے تاسو رشتني يئ . او څوک دے

اَضَلُّ مِمَّنْ يَّدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَنْ لَّا يَسْتَجِيْبُ

زيات گمراه د هغه چا نه چه رامدد شه وائي سيوا د الله تعالىٰ نه هغه چا ته چه نشي پوره کولے (حاجت

لَهٗٓ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ وَهُمْ عَنْ دُعَآئِهِمْ

د ده) لره تر ورځ د قيامت پورے او دوی د هغوی د بللو نه

غٰفِلُوْنَ ۝۵ وَاِذَا حُشِرَ النَّاسُ كَانُوْا لَهُمْ اَعْدَآءً وَّكَانُوْا

ناخبره دی . او کوم وخت چه راجمع کړے شی خلق نوشی به دوی هغوی لره دُشمنان او دوی به شی

چه دليل شرعی صرف کتاب الله وی یا احادیث د پیغمبر د دے نه بغير په بل څيز سره صدق نه ثابتيږی د دے وجه نه اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ئے ذکر کړو.

ے دا بل هم زجر دے په شرک فی الدعاء والعلم باندے روستو د رد د شرک فی التصرف نه وَمَنْ اَضَلُّ دا استفهام (تپوس) دے په طريقه د نفی سره او دا راځی په بشکاره خبره کښې د اَضَلُّ نه مراد کافر دے ځکه چه کفر اخری درجه د گمراهئ ده. مِمَّنْ يَّدْعُوْا د دُعا نه مراد حاجت غوښتل او رامدد شه ويل دی په دے عقيده باندے چه داحاجت روا او اختيارمند د نفع او ضرر دے او دا دُعا اصل عبادت دے د دے وجه نه بعض مفسرينو د يدعوا په تفسير کښې يعبد ليکلے دے. مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَنْ لَّا يَسْتَجِيْبُ لفظ من دون الله خونول ماسوی الله ته عام دے که ژوندی وی او که مړه وی بتان وی او که روح والا وی اولياء وی او که انبياء وی او لفظ د مَنْ خاص دے په عقل والو پورے که مړه وی او که ژوندی نو دا يدل د خاص دے د عام نه او په دے کښې اشاره ده که څوک د بتانو بندگی کوی هم نو د هغوی مقصد بُتان نه وی بلکه هغه شخص وی چه دا بُت د هغه جوړ کړے شوے دے نو کوم خلق چه وائي چه په دے ايت او د دے پشان نورو اياتونو کښې صرف بُت پرستان مراد دی نو دا سے (پاتے په بل مخ)

بِعِبَادَتِهِمْ كٰفِرِيْنَ ۞ ﴿۶﴾ وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ

دَ بندګئ دَ هغوی نه انکار کوونکی. او کوم وخت چه اولوستلے شي په دوی باندے ایاتونه زمونږ ښکاره

قَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ هٰذَا سِحْرٌ

نو وائي کافران په باره دَ حق کښې هر کله چه دوی ته راغې چه دا جادو دے

خلق دَ قرآن په حقیقت نه پوهیږی بلکه تحریف کوی. تفسیر ابن کثیر، قرطبی، سراج المنیر، خازن وغیره ټولو تصریح کړے ده چه دا ایت شامل او عام دے عابدانو دَ ملائکو او دَ عیسٰی علیه السّلام او دَ پیریانو وغیره ته. لَا يَسْتَجِيْبُ لَهٗٓ یعنی دَ دوی هیڅ حاجت نه شي پوره کولے نه ورله څه فائده ور رسولے شي او نه ضرر او دا شامل دے دِ خبرے ته چه مړی دَ دے ژوندو دَ پاره دُعا هم نشي غوښتلے که دوی ورنه دُعا طلب کوی، ځکه چه دُعا غوښتل هم استجابت دے. اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ په دے کښې دیر تاکید دے یعنی مشرک دِ دا خیال نه کوی چه زما دُعا ئې اوس قبوله نه کړه نو څه وخت روستو به قبوله کړی بلکه تر قیامته پورے نه شي قبلیدلے. او هرچه په قیامت کښې دے تو اگرچه حاجت روائي نه شي کولے لیکن مخاطبه به دَ یو بل سره اوکړی لکه نور ایاتونو کښې ثابته شوے ده. وَهُمْ عَنْ دُعَآئِهِمْ غٰفِلُوْنَ دَ غفلت نه مراد نه اوریدل دی لکه سورة یونس سـ۲۹ او سورة فاطر سـ۱۴ کښې تیر شویدی لفظ دَ هم او غافلون او صفت دَ غفلت هم دلالت کوی چه دا خاص نه دے په بتانو پورے. او دا معبودان دَ دعا نه ځکه غافل دی چه څوک لرے وی او څوک نزدے وی لیکن مړه دی او مړے خونه اوری او یا دا چه دَ مشرک اواز او دُعا وغیره ورته الله تعالٰی نه اوری دغسے تفصیل په سورة فاطر کښې تیر شوے دے.

سـ۶ لفظ دَ حشر او عداوت او کفر (انکار) هم دلیل دے چه دا ایت په باره دَ بتانو کښې نه دے مگر هله چه مجاز کیږی لیکن چه هر کله حقیقت کیدے شي تو مجاز مراد کول جائز نه دی كَانُوْا لَهُمْ ضمیر دَ کانوا معبودانو ته راجع دے او ضمیر دَ لهم عابدانو ته او دا رنګ وَكَانُوْا بِعِبَادَتِهِمْ اول ضمیر معبودانو ته او دویم عابدانو ته راجع دے یعنی لکه دُشمن چه دُشمن سره خیرے نه کوی او براءت ترینه کوی دغسے به دا معبودان دَ دے عابدانو سره خیرے نه کوی او دَ هغوی دَ عبادتونو نه به انکار کوی لکه سورة یونس سـ۲۸ کښې او دا انکار دَ وجے دَ ناخبرئ نه دے.

مُّبِينٌ ۝٧ أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ ۖ قُلْ إِنِ افْتَرَيْتُهُ فَلَا

ښکاره ۔ آیا دوی وائی چه دا ئے د ځان نه جوړ کړیدے ته اوایه که چرے ما د ځان نه جوړ کړے وی نو

تَمْلِكُونَ لِي مِنَ اللَّهِ شَيْئًا ۖ هُوَ أَعْلَمُ بِمَا تُفِيضُونَ

وس نه لرئے تاسو ما لره د بچ کولو د عذاب د الله تعالیٰ نه هیڅ قسم ، هغه ښهٔ پوهه دے په هغه خبرو باندے چه ننوځئ تاسو

فِيهِ ۖ كَفَىٰ بِهِ شَهِيدًا بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ ۖ وَهُوَ الْغَفُورُ

په هغے کښں پوره دے الله تعالیٰ گواه په مینځ زما او په مینځ ستاسو کښں او خاص الله تعالیٰ بخنه کونکے

الرَّحِيمُ ۝٨ قُلْ مَا كُنتُ بِدْعًا مِّنَ الرُّسُلِ وَمَا أَدْرِي

رحم کوونکے دے ۔ ته اوایه زه نه یم نوے رالیږلے شوے د قِسم د رسولانو نه او نه پوهیږم

ــــ دا هم بل زجر دے په انکار د قرآن سره یعنی هر کله چه دوی ته د توحید واضح آیاتونه (لکه دا تیر شوی دوه آیاتونه) اولوستلے شی نو دوی دا دروغ گنړی. لِلْحَقِّ د دے نه مراد دغه آیات بینات دی یا مراد د دے نه مضمون د هغے دے یعنی اثبات د توحید او رد د شرک. سِحْرٌ لکه جادو چه بے حقیقته خیالی خیز وی نو دوی (کافران) هم قرآن دا سے گنړی یا سحر په معنیٰ د کذب او باطل دے لکه قاموس او نورو کتابونو د لغت کښں لیکلے دی۔

ــــ دا بل زجر دے په انکار د قرآن سره د مخکښې نه ترقی ده ځکه چه د سحر په معنیٰ کښں بل چا ته نسبت کول ماخوذ نه دی او د افتراء مراد دا دے چه د ځان نه ئے دروغ جوړ کړے دی نو بیا ئے الله تعالیٰ ته نسبت کړیدے ۔ قُلْ په دے سره جواب ذکر کوی حاصل د جواب دا دے که بالفرض ما په الله تعالیٰ باندے دروغ جوړ کړے وی نو هغه به ضرور ماله سزا راکړے وے لکه چه سورة الحاقه ۴۵ ۴۶ کښں شته او تاسو خو ما نشئ خلاصولے لکه الحاقه ۴۷ کښں ۔ لیکن الله تعالیٰ ماله عذاب نه دے راکړے بلکه ما د پاره ئے شهادت کړیدے تُفِيضُونَ فِيهِ افاضه نه مراد په خبرو کښں ننوتل او د هغے تکذیب کول او هغے ته سحر ویل دی ۔ شَهِيدًا بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ په دے کښں اشاره ده هغه آیاتونو ته چه هغے کښں دلیلونه د اثبات د صدق د قرآن او د رسول ذکر شویدی هغه شهادتونه د الله تعالیٰ دی لکه سورة نساء ۱۶۶ رعد ۴۳ ۔ وَهُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ زجاج ویلے دی چه دا دعوت او ترغیب دے توبے او استغفار ته مشرکینو او منکرینو ټولو ته۔

مَا يُفْعَلُ بِيْ وَلَا بِكُمْ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحٰى إِلَيَّ وَمَا

په هغه کار چه کیږی به زما سره او تاسو سره (په دنیا کښی) زهٔ تابعداری نه کوؤم مګر دَ هغه چه وحی کیږی ماته او نیم

أَنَا إِلَّا نَذِيرٌ مُّبِينٌ ⑨ قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ كَانَ مِنْ

زهٔ مګر ویره ورکوونکے ښکاره۔ ته اووایه خبر راکړئ که چرے وی (دا قران) دَ طرف

ف۹ په دے ایت کښی جواب دَ دوؤ شبهاتو دے چه هغکښی سره تعلق لری اوله شبهه دوی اویل چه ته مفتری دَ دے وجے نه یُ چه تا داسے دعویٰ کړے ده (یعنی دَ توحید او رسالت) چه هغکښی بل چانه ده کړے دویمه شبهه دا ده که ته مفتری نه یُ نو مونږ ته زمونږ دَ غیبو دَ حالاتو خبر راکړه نو په دے ایت کښی علی الترتیب دَ دواړو شبهاتو جوابونه دی دَ اولے شبهے جواب قُلْ مَا كُنْتُ بِدْعًا مِّنَ الرُّسُلِ یعنی ماخه نوے مسئله دَ ځان نه داسے نه ده جوړه کړے چه دَ نورو رسولانو نه زه په هغے سره جدا شوے یم بلکه ماهغه مسئله دَ توحید او دعویٰ دَ رسالت پیش کړیده چه هغکښی رسولانو هم داسے پیش کړیوه۔

بِدْعًا بدع او مبتدع په لغت دَ عرب کښی هر هغه نوے کار ته ویلے کیږی چه دَ هغے هغکښی مثال نه وی او دَ شریعت په اصطلاح کښی بدعت هر هغه څیز دے چه دلیل شرعی سره ثابت نه وی او شریعت ګرځولے شویوی که قول وی او که عقیده او که عمل وی او هیئت وی او که کیفیت وی او که مقدار وی او که وقت وی او که مکان وی په دلیل دَ حدیث صحیح سره "من احدث فی امرنا هٰذا ما لیس منه فهو رد" نو لفظ دَ ما دغه ټولو ته عام دے۔

لَيْسَ مِنْهُ معنیٰ دا چه هغے دَ پاره دلیل په شرع کښی نه وی او دَ دے تقسیم حسنه او سیئه یا واجب مستحب وغیره ته نشی کیدے ځکه چه رسول الله صلّی الله علیه وسلّم فرمائیلے دی کل بدعة ضلالة او کوم تقسیم چه بعض اهل علمو ذکر کړے دے روستو دَ منلو دَ هغے نه ویلے کیدیشی چه هغه تقسیمات په بدعة لغویه کښی دی - او دَ دویمے شبهے جواب

وَمَا أَدْرِي مَا يُفْعَلُ بِيْ وَلَا بِكُمْ مراد دَ دے نه احوال دنیویه دی دَ حسن بصری نه مفسرینو نقل کړیدے چه دا په دنیا کښی دی او هرچه په اخرت کښی وی نو معاذالله ځکه چه نبی صلی الله علیه وسلم ته علم وؤچه دے بخلے شوے او جنتی دے نو دَ دُنیا دَ حالاتو په باره کښی نبی عالم الغیب نه دے دا علم ورته نه وؤچه دَ مکے معظمے نه به ویستلے کیږی او که قتل کیږی او که نه او دَ امت په باره کښی عالم نه وؤچه دوی به زما تصدیق کوی او که تکذیب او په دوی به عذاب راځی او که نه او څه رنګ عذاب

عِنْدِ اللّٰهِ وَكَفَرْتُمْ بِهٖ وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنْ بَنِيْٓ

دَ الله تعالیٰ نه او انکار کوئے تاسو دَهٔ نه او گواهی کړیده گواهی کوؤنکی دَ بنی

اِسْرَآءِيْلَ عَلٰى مِثْلِهٖ فَاٰمَنَ وَاسْتَكْبَرْتُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

اسرائیلو نه دَ دے په مثل (کتاب) باندے نو هغه ایمان هم راوړدے او تاسو لویٔ کوئے، یقیناً الله تعالیٰ

لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿١٠﴾ ع وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

(توفیق) دَ هدایت نه ورکوی قوم ظلم کوؤنکو ته - او وائیٔ کافران

لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَوْ كَانَ خَيْرًا مَّا سَبَقُوْنَآ اِلَيْهِ ؕ وَاِذْ

مؤمنانو (ته ئے او روی) که چرے دا حق وے نو مخکښ شوے به نه وؤ دوی زمونږ نه دے ته او هر کله چه

به وربانде راځی په دلیل دَ سورة اعراف ١٨٨ - او نمل ٦٥ انعام ٥٠ سره -

سوال :- حدیث دَ ام العلاء الانصاریه کښ خو وارد دی (په باره دَ عاقبت کښ) والله وانا رسول الله وما ادری مایفعل بی ولا بکم - جواب دا دے چه په دے روایت کښ صحیح الفاظ دا دی ما ادری مایفعل به لکه چه امام بخاری راوړے دے دا رنګ قرطبي او ابن کثیر هم ویلے دی - اِنْ اَتَّبِعُ اه په دے روستو دواړه جملو کښ شان دَ رسول ذکر کړے شوے دے -

١٠ دا هم زجر دے په انکار دَ قرآن سره دَ اثبات دَ صداقت دَ قرآن په شهادت سره اِنْ كَانَ دَ دے شرط جزاء دَ واستکبرتم نه روستو محذوف ده فقد ظلمتم.

شَاهِدٌ مِّنْۢ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ غوره دا ده چه مراد دَ شاهد نه موسیٰ علیه السّلام او مثله نه مراد تورات دے یعنی موسٰی علیه السّلام دَ تورات بیان کړے وؤ چه دا کتاب دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه نازل شوے دے او په هغے کښ مضمون دَ توحید او رسالت او بعث بعد الموت وؤ - مِثْلِهٖ مراد دَ دے نه مماثلت دے په نزول من الله کښ او په مضمون کښ او مماثل دَ قرآن نیشته په فصاحت او بلاغت کښ -

ع ١

لَمْ يَهْتَدُوْا بِهٖ فَسَيَقُوْلُوْنَ هٰذَآ اِفْكٌ قَدِيْمٌ ⑪

بوهه نه لري پدے کتاب نو ضرور وائي دوی چه دا دروغ (جوړ کړے شوی) زاړه دی۔

وَمِنْ قَبْلِهٖ كِتٰبُ مُوْسٰٓى اِمَامًا وَّرَحْمَةً ۭ وَهٰذَا

او مخکښ دَ دینه کتاب دَ موسٰی علیه السلام (نازل کړے شوے دے) پیشوا اورحمت ۔ او دا

كِتٰبٌ مُّصَدِّقٌ لِّسَانًا عَرَبِيًّا لِّيُنْذِرَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ۤ ۖ

کتاب دے تصدیق کوؤنکے دے ژبه عربی ده دَپاره دَ دے چه ویره ورکړی ظالمانو لره

۱۱ دا بل زجر دے په منکرینو دَ قرآن باندے. او طریقه دَ انکار دا ده چه کوم صحابه کرامو ایمان راوړے وو نو اکثر فقراء مسکینان وو نو متکبرینو به ویل چه دوی خو کم عقل دی دَ دوی ایمان دلیل دَ حقانیت او خیریت نه دے بلکه دا که خیر وی نو مونږ به دَ دوی نه وړاندِ منلے وے ځکه چه مونږ هوښیار یو۔ قرطبی دَ ماوردی نه نقل کړے دی چه دا معارضه خو واپس کیږی په دوی باندے ځکه هر مخالف بل ته ویلے شی که ستا خبره حق وے نو مونږ به دَ هغے خلاف نه وے کړے او که تکذیب دَ رسول خیر وے نو تاسو به زمونږ نه مخکښ والے نه وے کړے ځکه چه کل حزبٍ بما لدیهم فرحون. اوس هم دشمنان دَ صحابه کرامو دا سے وائي او ابن کثیر ویلے دی چه څوک اهل سنت والجماعة وی (دَ هغوی په زړونو کښ عزت او احترام دَ صحابه کرامو دے) نو هغوی وائي كُلُّ فِعْلٍ وَقَوْلٍ لَمْ يُثْبَتْ عَنِ الصَّحَابَةِ فَهُوَ بِدْعَةٌ لِاَنَّهُ لَوْ كَانَ خَيْرًا لَسَبَقُوْنَا اِلَيْهِ لِاَنَّهُمْ لَمْ يَتْرُكُوْا خَصْلَةً مِنْ خِصَالِ الْخَيْرِ اِلَّا وَقَدْ بَادَرُوْا اِلَيْهَا (هر کار او وینا چه دَ صحابه کرامو نه ثابته نه وی نو هغه بدعت دے ځکه که دغه خیز ښه کار وے نو صحابو به زمونږ نه مخکښ کړے وے ځکه چه هغوی هیڅ خصلت دَ خیر دَ خصلتونو نه پریخودلے نه دے بلکه هغے ته ئې رواندے والے کړے دے) او دا جمله دَ رد دَ بدعاتو (عقیدةً او عملاً) دَپاره پوره قانون دے لکه تاویل په صفاتو دَ الله تعالٰی کښ. وسیلے په قبرونو والوسره. عُرس، عید میلاد النبی، حیله اسقاط او دَ جنازو بدعات وغیره که دا ښهٔ کارونه وے نو مونږ نه به مخکښ صحابه کرامو کړے وے. لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لام دَ خطاب دے نو ماسبقونا کښ التفات دے دَ خطاب نه غیبت ته. یا لام شانیه دے نو سبقونا په خپله معنٰی سره دے.
وَاِذْ لَمْ يَهْتَدُوْا ۱۱ دا دلیل دے چه څوک په یو خیز باندے پوهه نه لري نو تکذیب او خلاف ئې کوي

وَبُشْرٰى لِلْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۲﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ قَالُوْا رَبُّنَا اللّٰهُ

او زیرے دَپاره دَخائسته عمل کوؤنکو. یقینًا هغه کسان چه وائي دوی رب زمونږ الله تعالیٰ دے

ثُمَّ اسْتَقَامُوْا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۱۳﴾

بیا پاخه دی (په ایمان باندے) نو نیشته هیڅ ویره په دوی باندے او نه به دوی غمژن کیږی.

اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا جَزَآءً بِمَا

دغه کسان جنت والا دی همیشه به وی په هغې کښې بدله ورکیدیشی دَ هغه

كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۴﴾ وَوَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ اِحْسٰنًا

چه دوی عملونه کول. او پوخ حکم ورکړیدے مونږ انسان ته دَ مور او پلار سره دَ ښیګړے کولو

س۱۲ دا دلیل نقلی او ترغیب دے قران ته اِمَامًا یعنی په هغې کښې دا سے دلیلونه دَ توحید او دَ صداقت دَ اٰخری رسول وؤ چه اقتداء دَ هغې ضروری وه وَرَحْمَةً یعنی په هغې کښې دا سے عقیده او مسائل او احکام وؤ چه هغه عین رحمت دَ الله تعالیٰ وؤ او دا رنګ په هغې باندے عمل کول سبب دَ خاص رحمت دَ الله تعالیٰ وؤ او دلته عبارت کښې تقدیر دے یعنی دوی په هغې سره هدایت حاصل نه کړو بلکه خلاف او تکذیب ئې اوکړو. وَهٰذَا كِتٰبٌ دا ترغیب دے قران ته په ذکر کولو دَ دوه صفتونو دَ کمال او ذکر دَ دوه فائدو دے وَبُشْرٰى دا په معنیٰ دَ وَيُبَشِّرَ دے عطف دے په لینذر باندے لِلْمُحْسِنِيْنَ مراد دَ دے نه هغه کسان دی چه عمل کوی په قران باندے.

س۱۳ س۱۴ تر دے ایت پورے ذکر دَ حالاتو دَ منکرینو وؤ او هغوی ته زواجر او جوابونه وؤ اوس ذکر کوی صفات دَ مؤمنانو او هغوی ته بشارت دے او تفسیر دَ دے په سورة حٰمٓ سجدة س۳۱ کښې تیر شوے دے هر کله چه په هغه سورت کښې مقام دَ دعوت کوؤنکو وؤ نو دَ هغې دَ اهمیت دَ وجے نه په بشارت کښې ډیر تفصیل وؤ او دلته اختصار دے.

حَمَلَتْهُ اُمُّهٗ كُرْهًا وَّوَضَعَتْهُ كُرْهًا ؕ وَحَمْلُهٗ وَفِصٰلُهٗ

پورته کړې دے دهٔ لره مور دَ دهٔ په تکلیف سره او زیګولے دے دهٔ لره په تکلیف سره او پورته کول ددهٔ او دَ سینے نه پرېکول ددهٔ

ثَلٰثُوْنَ شَهْرًا ؕ حَتّٰٓى اِذَا بَلَغَ اَشُدَّهٗ وَبَلَغَ اَرْبَعِيْنَ

دیرش میاشتے دی ترهغے پورے چه اورسی کلک والی ته او اورسی څلویښت

سَنَةً ۙ قَالَ رَبِّ اَوْزِعْنِىْٓ اَنْ اَشْكُرَ نِعْمَتَكَ الَّتِىْٓ

کالو ته نو وائي دے اے ربه زما توفیق راکړے ما ته چه شکر اوکړم دَ نعمتونو ستا هغه

اَنْعَمْتَ عَلَىَّ وَعَلٰى وَالِدَىَّ وَاَنْ اَعْمَلَ صَالِحًا

چه تا پیرزو کړے دی په ما باندے او په مور او پلار زما باندے، او چه عمل اوکړم دَ سنت په برابر

تَرْضٰىهُ وَاَصْلِحْ لِىْ فِىْ ذُرِّيَّتِىْ ؕۚ اِنِّىْ تُبْتُ اِلَيْكَ

چه ته ئے خوخ کړے او صلاحیت راکړے ما لره په اولاد زما کښ یقینًا ما توبه کړیده تا ته

وَاِنِّىْ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿۱۵﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ نَتَقَبَّلُ

او یقینًا زهٔ دَ پوره حکمونو منونکو نه یم . دا سے خلق هغه دی چه قبلوؤ مونږ

ت۱۵ دَ دے آیت نه دویم باب دے تر آخر دَ سورت پورے په دیکښ ذکر دَ دوه قسمه انسانانو دے اول قسم محسن دَ والدینو او الله تعالیٰ ته توبه کوؤنکے او هغه ته بشارت دے او دویم قسم نافرمان دَ والدینو او مکذّب او هغه ته تخویف اخروی. بیا تخویف دنیوی په ذکر دَ واقعے دَ عادیانو دے او جواب دَ شبهے دَ مشرکانو چه آلهه دَ دوی مدد نشی کولے. بیا دلیل نقلی دَ جن نه دَ پاره دَ تشجیع په دعوۃ الی القرآن او صداقۃ رسول او اثبات دَ قیامت او اختتام په تشجیع سره په صبر کولو او تخویف منکرینو ته .

ربط هرکله چه تیر شوی آیانو کښ دوه قسمه انسانان ذکر شول چه دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم او دَ قرآن په باره کښ څوک تکذیب دَ هغه کوی او څوک ئے تصدیق کوی نو اوس ذکر کوی دَ دواړه قسمونه په بارهٔ دَ والدینو کښ او په دے کښ تسلی ده نبی صلی الله علیه وسلّم ته چه هرکله مور او پلار دَ انسان دَ پاره ظاهری قریبی احسان کوؤنکی دی لیکن بعضے اولاد ئے اطاعت کوی او بعضے ئے نافرمانی کوی نو دا رنګ دَ نبی صلی الله علیه وسلم په باره کښ هم دوه قسمه انسانان دی. په دے ت۱۵ کښ ذکر دَ اول قسم دے.

وَوَصَّيْنَا دا عطف دے په معنیٰ دَ تیر شوی مضمون باندے یعنی مخکښې حکم دَ الله تعالیٰ دے په باره دَ اصولو دَ دین کښې نو اوس حکم دَ هغه دے په باره دَ والدینو کښې۔ اِحْسَانًا نیکی کول دَ والدینو سره عام او مطلق دی او اطاعت دَ هغوی مقید دے په عدم معصیت پورے او احسان په قول او عمل او خدمت او خرچ کول په هغوی باندے په وخت دَ حاجت دَ هغوی کښې او امر بالمعروف او نهی عن المنکر په نرمه لهجه سره دے ټولو ته احسان شامل دے۔ حَمَلَتْهُ اُمُّهٗ كُرْهًا هر کله چه دَ پلار دَ احسان اقرار (اکثر) مجبورًا کیدے شی دَ دے وجے نه چه دَ هغه نه ویره کیدے شی لیکن مور کمزورے وی نو دَ دے وجے نه انسانانو ته دَ مور تکالیف په تربیت کولو کښې درے قسمونه ذکر کوی یو حمل، دویم وضع دَ حمل، دریم سینه ورکول او بیا دَ سینے نه پریکول او دَ هغے موده یې ذکر کړے ده دوه نیم کاله نو معلومه شوه چه دَ مور حق په نسبت دَ پلار سره ډیر دے۔ كُرْهًا کِسائی او فراء ویلے دی چه کرهًا په پیښ سره هغه تکلیف دے چه انسان یې بخپله پورته کوی او په زوَر سره هغه دے چه په بل چا باندے تکلیف اچوی۔ او هر کله چه دَ دے تکلیفونو اثر دَ مور کمزورے کول دی دَ دے وجے نه سورة لقمان کښې دَ دے نه تعبیر کړے وَهْنًا په وهن سره۔ وَحَمْلُهٗ وَفِصَالُهٗ دلته عبارت کښې تقدیر دے یعنی ومدة حمله ومدة فصاله ثلثون شهرًا روایت دَ ابن عباس رضی الله عنهما چه قرطبی او ابن کثیر وغیره راوړے دے دَ هغې مقصد دا دے چه دا دیرش میاشتے تقسیم دی په دواړه حالتونو باندے یعنی کله چه په حمل باندے نهه میاشتے تیرے شی نو رضاعت به یوویشت میاشتے وی او که حمل شپږ میاشتے وی نو رضاعت به دوه کاله وی علی هذا القیاس۔

نو هر کله چه رضاعت دَ دوه کالو نه زیاتی کول منع دی په دلیل دَ سورة بقره ۲۳۳ سره نو معلومه شوه چه دَ حمل دَ پیدائش کمه موده شپږ میاشتے دی دَ دے نه کم نشی کیدے او په دے کښې قرطبی واقعه دَ عثمان رضی الله عنه نقل کړیده چه یو زنانه دَ وخت دَ نکاح نه شپږ میاشتے روستو ولد راوړو نو هغه اراده اوکړه چه په دے باندے حد دَ زنا قائم کړی نو علی رضی الله عنه منع کړو او په دے آیت سره یې دلیل پیش کړو او دا سے واقعه شربینی دَ ابوبکر او عمر رضی الله عنهما باره کښې هم ذکر کړیده۔ او هر کله چه دا دیرش میاشتے دَ دے دواړه حالتونو دَ پاره مشترکے دی لکه چه مخکښې بیان شو دَ دے وجے نه یو ځائے ذکر کړو۔

دویم قول قرطبی دا سے ذکر کړے دے چه عادةً موده دَ حمل نهه میاشتے ده او دَ رضاعت دوه کاله دی لیکن اول درے میاشتے دَ بچی درونډ والے ریاتے په بل مخ)

په ګېډه کښې نه محسوس کېږي او دَ حمل نه مراد دروند والے دے دَ دے وجې هغه درے میاشتې اولنۍ ورسره شمار کړے نه دي . او په ایت کښې زیاته موده دَ حمل نه ده ذکر کړے دَ دے وجې نه په هغې کښې دَ ائمو ډیر اختلاف دے . دریم تفسیر مدارك کښې ذکر کړے دے چه دَ حمل نه مراد دَ امام ابوحنیفه رحمة الله په نیز پانسے په لاسو کښې ګرځول دي او ثلثون شهرًا توله دَ رضاعت موده ده یعنې دوه نیم کاله . لیکن دا تفسیر ضعیف دے په څو وجوهو سره اول وجه دَ حمله نه دا معنٰی مراد اغستل دَ صحابه کرامو تابعینو نه نقل نه ده دویمه وجه دَ امام صاحب نه دا روایت په ظاهر روایت یا نادر روایت کښې زمونږ په علم کښې نه دے ثابت شوے دریمه وجه دَ بچي په لاسو کښې دَ ګرځولو دَ پاره دَ مودے څه تعیین نیشته ځکه چه اکثر ګرځېدل دَ بچي دَ یو کال په عمر کښې شروع کېږي او دَ دوه کاله یا دوه نیم کالو نو بچي خو په منډه منډه په زمکه بانسے ګرځي په لاسونو کښې پورته کولو ته محتاج نه وي . څلورمه وجه دا چه دَ امام ابوحنیفه رحمة الله په نیز چه موده دَ رضاعت دوه نیم کاله ده دا دَ ظاهر ایت دَ سورة بقره ۲۳۳ نه خلاف دے اګرچه په هغې کښې تاویلونه کیدے شي او ملا علي قاري شرح نقایه کښې ویلي دي چه فتوٰی په قول دَ صاحبینو بانسے ده چه موده دَ رضاعت دوه کلونه دي . حَتّٰٓى اِذَا بَلَغَ اَشُدَّهٗ ، په عبارت کښې تقدیر دے یعنې استمرت حیاته یعنې ژوند ئې تېر بېږي تر دے پورے چه اورسیږي . اَشُدَّهٗ مراد دَ دے نه بلوغ دے یا اتلس کلونه یا دَ دیرش کلونه دي دا اقوال مختلفه دَ مفسرینو دي . وَبَلَغَ اَرْبَعِيْنَ سَنَةً اشاره ده چه عقل دَ انسان پوره کېږي په وخت دَ څلوېښت کاله کښې نو که دَ دے نه روانسے دَ هلکوالے یا دَ ځوانۍ په سبب چه غلط کارونه ئې کړے دي لیکن کله چه څلوېښت کالو ته اورسیږي نو اسباب دَ ګناهونو ئې کمزوري شول او عقل ئې پوره شو اوس خو ضرور توبه اوباسي او شکرګذار ئې ته ملا او تړي او دا هم خوش قسمتي دَ انسان ده . قَالَ رَبِّ اَوْزِعْنِيْٓ په دے کښې اشاره ده چه اوس ئې پوره توجه شکر دَ الله تعالٰی ته پیدا شوه لیکن انسان په شکر کولو کښې هم توفیق دَ الله تعالٰی ته محتاج دے ځکه دُعا غواړي رب اوزعني وزع په اصل کښې تقسیم او برخه کولو ته وائي او الهام او توفیق دَ شکر خائسته برخه ده . اَنْ اَشْكُرَ نِعْمَتَكَ نظم الدرر کښې لیکلي دي چه لوے شکر دَ نعمتِ الٰهي توحید فی العبادات دے . وَاَنْ اَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضٰىهُ تَرْضٰىهُ تفسیر دَ صالح دے یعنې چه موافق وي دَ کتاب او سنت سره یا تَرْضٰىهُ په معنٰی دَ قبولیت دے یعنې عمل اګرچه صالح وي لیکن

عَنْهُمْ اَحْسَنَ مَا عَمِلُوْا وَنَتَجَاوَزُ عَنْ سَيِّاٰتِهِمْ

دَ دوی نه ډیر خائسته عملونه چه دوی کړی دی او تیریدل کوؤ مونږ دَ ګناهونو دَ دوی نه

فِیْۤ اَصْحٰبِ الْجَنَّةِ ؕ وَعْدَ الصِّدْقِ الَّذِیْ كَانُوْا

وی به دوی په جنت والو کښ وعده دَ رشتین والی هغه چه کیدے شوه

یُوْعَدُوْنَ ﴿۱۶﴾ وَالَّذِیْ قَالَ لِوَالِدَیْهِ اُفٍّ لَّكُمَاۤ

وعده دَ دوی سره. او هغه څوک چه اُویل ئې مور او پلار خپل ته افسوس دے په تاسو دواړو

اَتَعِدٰنِنِیْۤ اَنْ اُخْرَجَ وَقَدْ خَلَتِ الْقُرُوْنُ مِنْ

آیا ویره وځ ئې تاسو ماله چه زه به بیا راوُویستلے شم (دَ زمکے نه) او حال دا چه تیر شوی دی ډیرے پیړئ زما نه

قبلول په اختیار دَ الله تعالیٰ کښ دی وَ اصلح لی فی ذریتی صلاحیت دَ اولاد اشاره ده بقاء او اجراء دَ توحید او دَ عمل صالح ته په اولاد دَ دهٔ کښ او صلاحیت دَ اولاد هم فائده ده دَ پاره دَ والدینو او هر کله چه دلته اجراء دَ صلاحیت مراد ده دَ دے وجے نه متعدی کړو په فِیْ سره. اِنِّیْ تُبْتُ اِلَیْكَ مراد دا چه هغه عوارض دَ ځوانئ او غلبه دَ شهواتو چه ورسره دَ عقل کموالے هم وؤ دَ هغے ټولو نه ما رجوع اوکړه. وَاِنِّیْ مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ په توبه کښ صفاتِ سلبیه ته اشاره ده چه دَ نافرمانئ نه بچ کیدل دی او په المسلمین کښ صفات ثبوتیه ته اشاره ده یعنی پوره تابعداری کول.

سئلہ ۱۶ دا بشارت دے دَ پاره دَ دے قسم کسانو او لفظ دَ اُولٰٓئِكَ دلیل دے چه دغه آیت مخکنے خاص په یو شخص پورے نه دے لکه بعض مفسرینو سبب نزول کښ نبی صلّی الله علیه وسلّم ذکر کړے دے او بعضو ابوبکر رضی الله عنه. اَحْسَنَ مَا عَمِلُوْا مراد دَ دے نه ټول حسنات دی تو احسن په معنیٰ دَ هغه خیز دے چه په هغه کښ صفت دَ حسن وی یا احسن مقابل دَ حسن دے او حسن مباح ته ویلے کیږی چه نه په هغے کښ ثواب وی او نه عذاب. فِیْۤ اَصْحٰبِ الْجَنَّةِ حال دے په تقدیر دَ کائنین سره یا خبر دَ مبتدا ایښ دے یعنی هم فی اصحاب الجنة. وَعْدَ الصِّدْقِ دا تیر شوے جملے په معنیٰ دَ وعدے کښ دی نو دا مفعول مطلق دے دَ تاکید دَ دغه مضمون دَ پاره او فعل ئې پټ دے. وَعَدَ اللهُ وَعْدَ الصِّدْقِ او دا اضافت دَ موصوف دے یا اضافتِ بیانیه دے.

قَبۡلِیۡ ۚ وَهُمَا یَسۡتَغِیۡثٰنِ اللّٰهَ وَیۡلَكَ اٰمِنۡ ۖ ق اِنَّ

مخکښې او دے دواړه فریاد کوو الله تعالیٰ ته (د ځوئي په باره کښې) تباه به شې ایمان راوړه یقینًا

وَعۡدَ اللّٰهِ حَقٌّ ۚ ۖ فَیَقُوۡلُ مَا هٰذَاۤ اِلَّاۤ اَسَاطِیۡرُ

وعده د الله تعالیٰ رشتیا ده نو وائي نه دی دا مګر نقل شوی (دروغ) قصے

الۡاَوَّلِیۡنَ ﴿۱۷﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِیۡنَ حَقَّ عَلَیۡهِمُ الۡقَوۡلُ

د زړو خلقو دی. دا ے کسان هغه دی چه پوره شویده په دوی باندے فیصله د عذاب

فِیۡۤ اُمَمٍ قَدۡ خَلَتۡ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ مِّنَ الۡجِنِّ وَ

(داخلیږی) به په هغه ډلو کښې چه تیر شویدی د دوی نه مخکښې د پیریانو او

ـ۱۷ دا ذکر د دویم قسم دے نافرمان د مور او پلار په مسئله د بعث بعد الموت کښې. یعنی صرف د نافرمان ذکر کول مقصد نه دے اګرچه دا هم ګناه دے بلکه هغه نافرمان د والدینو مراد دی چه په اسلامی عقیده کښې د مور او پلار مخالفت کوی او دا درجه د کفر ده او قرآن کریم کښې عادةً کامل وصف والا ذکر کیږی. اُفٍّ لَّکُمَاۤ تفصیل د دے سورة اسراء ـ۲۳ کښې تیر شویدے. وَقَدۡ خَلَتِ الۡقُرُوۡنُ مِنۡ قَبۡلِیۡ دا دلیل دے د منکر د بعث چه مخکښې ډیر خلق تیر شویدی او او سه پورے یو هم دوباره نه دے پیدا شوے او حال دا چه دا دلیل ئے باطل دے ځکه مدعا خو دا نه ده چه اوس په دنیا کښې خلق دوباره ژوندی کیږی بلکه دوباره ژوند به د دے دنیا د فنا نه روستو وی. وَهُمَا یَسۡتَغِیۡثٰنِ اللّٰهَ په دے کښې اشاره ده چه داعی الی الحق د پاره ضروری دی چه د دعوت سره د الله تعالیٰ نه د هدایت د خلقو د پاره دُعاګانے هم غواړی. وَیۡلَكَ اٰمِنۡ په دے جمله کښې تخویف او علاج دواړه ذکر کړی دی یعنی که ایمان رانوړے نو هلاک به شے او که ایمان دے راوړو نو بچ به شے د هلاکت نه. اِنَّ وَعۡدَ اللّٰهِ حَقٌّ علت د ماقبل دے. فَیَقُوۡلُ مَا هٰذَاۤ دا دویم طریقه د انکار د منکر ده یعنی مخکښې خلقو کښې هم دا خبره د قیامت ذکر شویده لیکن دروغ قصے دی.

فائده :- دا جمله اکثر د قرآن نه د انکار په باره کښې استعمال شویده لکه سورة انعام ـ۲۵ کښې خو فرق دا دے چه هلته مراد دا دے چه دا قرآن د مخکنو خلقو قصے دی لیکن دروغ دی او دلته مراد دا دے چه د قیامت خبرے مخکنو خلقو جوړے کړے دی.

وَالْاِنْسِ ۚ اِنَّهُمْ كَانُوْا خٰسِرِيْنَ ⑱ وَلِكُلٍّ دَرَجٰتٌ

انسانانو نه يقيناً دوى دَ تاوان کارونه کول . او دَ هرچا دَپاره درجے دى

مِّمَّا عَمِلُوْا ۚ وَلِيُوَفِّيَهُمْ اَعْمَالَهُمْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ⑲

دَ وجے دَ عملونو دَ دوى نه او چه پوره ورکړى الله تعالىٰ دوى ته جزا دَ عملونو دَ دوى او په دوى باندے به هيڅ ظلم نشى کيدے

وَيَوْمَ يُعْرَضُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا عَلَى النَّارِ ۭ اَذْهَبْتُمْ

او په کومه ورځ چه پيش به کړے شى کافران په اور باندے (او به ويلے شى) وړے دى تاسو

طَيِّبٰتِكُمْ فِيْ حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا وَاسْتَمْتَعْتُمْ بِهَا ۚ

خپلے مزے په ژوند دنيوى ستاسو کښ او فائدے مو اخستلے دى په هغے سره

ف۱۸ دا تخويف اخروى دَ دويم قسم دَپاره . اُولٰٓئِكَ دا دليل دے چه دا آيت محکنى عام دے خاص نه دے په عبد الرحمان بن ابى بکر يا عبد الله بن اُبَىٔ پورے لکه چه مفسرينو په سبب دَ نزول کښ هغوى ذکر کړے دى او بيضاوى او بقاعى رد کړے دے په هغه مفسرينو باندے چه چا سبب نزول عبد الرحمٰن بن ابى بکر ګرځولے دے . الْقَوْلُ فيصله دَ عذاب چه لَاَمْلَـَٔنَّ جهنم اه ده يا قول په معنىٰ دحجت دے يعنى دنيا کښ دَ مور او پلار يا دَ بل داعى الى الحق په واسطے سره په دوى باندے حجت قائم شوے دے . فِىْٓ اُمَمٍ په تقدير دَ کائنين سره دا حال دے دَ امم قد خلت من قبلهم په دے کښ دَ دوى متبوعينو پيرانو او ملايان ګمراهانو ته اشاره ده .

ف۱۹ دا دَ فريقينو سره تعلق لرى په طريقه دَ دفع کولو دَ وهم سره . وهم دا وو چه دَ دوى دواړو فريقو په مينځ کښ دَ فرق وجه څه ده ؟ حاصل جواب دا دے چه سبب دَ فرق عملونه دَ دوى دى يعنى عملونه مختلف دى نو دَ دے په سبب درجات او جزا مختلفه ده . سوال :. درجات کښ معنىٰ دَ بره ختلو ده نو دَ دے اطلاق په جهنم باندے ولے کيږى ؟ جواب :. دَ يو بل نه زياتيدل په بره تللو يا په خکته تللو سره دے ته درجات ويلے کيږى نو دَ جهنم په مرتبو باندے اطلاق کول صحيح دى يا دا اطلاق تغليباً دے . وَلِيُوَفِّيَهُمْ دا علت دے دَ محذوف فعل يعنى جَزَاهُمْ بِالدَّرَجَاتِ لِيُوَفِّيَهُمْ . وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ظلم دَ اضدا دونه دے زيلتے کول په بدو کښ او نقصان کول په نيکو کښ دواړو ته شامل دے .

فَالْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُوْنِ بِمَا كُنْتُمْ

نو نن به بدله ورکیدے شی تاسو ته دَ عذاب دَ ذلت (سپک والی) په دے وجے سره چه تاسو

تَسْتَكْبِرُوْنَ فِي الْاَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَبِمَا كُنْتُمْ

لویئ کوله په ملک کښ په ناحقه سره او په دے وجه سره چه تاسو

تَفْسُقُوْنَ ﴿۲۰﴾ ع وَاذْكُرْ اَخَا عَادٍ ۭ اِذْ اَنْذَرَ قَوْمَهٗ ۲ع۲

حکمونه دَ الله تعالیٰ نه منل. او یادکړه (ذوی ته) رور دَ عادیانو. کله چه ویره ئے ورکوله قوم خپل ته

۲۰ دا تخویف اخروی دے اول سبب محرومیدل دَ طیباتو نه په آخرت کښ ذکر کوی او هر کله چه ټول طیبات روک شی نو نتیجه ئے ذلت او سپکوالے وی دَ دے وجے نه فَالْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُوْنِ ئے په مخکښ متفرع کړو په حرف دَ فا سره بیا ئے دوه سببونه دَ عذاب دَپاره ذکر کړل چه هغه په حقیقت کښ سبب دَ حِرمان دَ طیباتو او سبب دَ عذابِ هون دی. اَذْهَبْتُمْ طَيِّبٰتِكُمْ مراد دَ طیبات نه مزیدار خوراک څښاک پوشاک دے چه زړه ئے غواړی نو حاصلوی یا مراد دَ دے نه ځوانی او قوتونه خرچ کول دی په مزو حاصلولو دَ دُنیا کښ او دَ آخرت دَپاره هیڅ محنت نه دے کړے دویم قول دَ ضحاک نه نقل دے او اکثرو مفسرینو اول قول راوړے دے او په هغے کښ دَ عمر رضی الله عنه ډیر روایات نقل کړے شوے دی.

سوال:- دَ دے نه معلومیږی چه استعمال دَ طیباتو ناروا دے او حال دا چه سورة اعراف ۳۲ کښ دَ هغے په تحریم باندے زجر ورکړے دے؟

جواب:- اول جواب دا دے چه مراد دَ دے نه په استعمال دَ طیباتو کښ انهماک کول او دَ دے نه عادت جوړول دی نو هغه سبب جوړ شی دَپاره دَ حرامو، لکه یو انسان ځان عادت کړی دَ مزے په څیزونو باندے نو کله چه هغه نه ملاویږی نو بیا دَ هغے دَ حاصلولو دَپاره حرامے طریقے استعمالوی.

دویم جواب دا دے چه مراد دَ دے نه ترک دَ شکر دے یعنی دَ طیباتو استعمال ئے کوؤ او شکر ئے نه کوؤ. وَاسْتَمْتَعْتُمْ لفظ په دے باندے دلالت کوی یعنی دا طیبات ئے صرف دَ دنیا دَپاره استعمال کړے دی دین او آخرت ئے هیر کړے دے.

فائده:- دا آیت اګرچه صراحةً په باره دَ کافرانو کښ وارد دے خو بیا هم صحابه کرامو دَ دے نه خوف کوؤ دَ وجے دَ ډیرے تقویٰ نه نو کوم آیاتونه چه عام وی نو مؤمنانو لره دَ هغے په باره کښ ضرور ویره پکار ده دا بهانه دِ نه کوی چه دا زمونږ په باره

بِالْاَحْقَافِ وَقَدْ خَلَتِ النُّذُرُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ

په احقاف ځائے کښې او حال دا چه تیر شوی وُو ویره ورکوونکی مخکښې دَ دهٔ نه

وَمِنْ خَلْفِهٖٓ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّا اللّٰهَ ؕ اِنِّيْٓ اَخَافُ

او روستو دَ دهٔ نه (ربړے خبره) چه بندګی مکوئے دَ هیچا سیوا دَ الله تعالیٰ نه یقینًا ویره کومه زه

عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿۲۱﴾ قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا لِتَاْفِكَنَا

په تاسو باندے دَ عذاب دَ ورځے لوئے نه. دوی اووئیل آیا ته راغلے ئے موږ ته دَ دے دَ پاره چه واړوے موږ

کښې نه دی نازل شوی.

فائده :- دَ مخکښې بحث نه معلومه شوه چه دَ مزے خوراک ښکاک بشرطیکه چه حلال وی منع نه دے لیکن دَ هغے دَ پاره تکلف کول او عادت کیدل منع دی بلکه سنت دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم دا دے چه ځان په ئے مړه وُو هر کله چه خوراک به ملاؤ شو او صبر به ئے کوؤ چه نه به ملاویدلو. حلوئ، غوښه، چرګ ئے خوړلو کله چه به ملاؤ شو او کله ئے په اوچه ډوډئ، ستوان دَ اوبو سره، ډوډئ دَ اوربشو او په کجورو باندے اکتفاء کړیده دغه رنګ په لباس کښې هم نو مسلمان لره په دے سنت باندے عمل پکار دے سرهٔ دَ شکر نه په نعمت باندے او سرهٔ دَ صبر نه په تکلیف باندے. بِمَا كُنْتُمْ تَسْتَكْبِرُوْنَ اه استکبار په عقیده کښې دے په ارتکاب دَ شرک او کفر سره او فسق په عملونو کښې دے.

۲۱ دا دلیل نقلی دے دَ پاره دَ تسلئ ورکولو نبی صلّی الله علیه وسلّم ته لکه چه وَصَّيْنَا الْاِنْسَانَ اه کښې هم تسلی وه. او دا رنګ دا دَ تخویف دنیوی یو مثال دے مشرکینو مکه بینو ته دَ پاره دَ عبرت اغستلو. او تخصیص دَ عادیانو په ذکر سره دَ دے وجے دے چه دَ دوی بدنونه هم قوی وؤ بادشاهی ئے هم وسیع وه. سرکشی ئے هم ډیره وَه دَ دے وجے نه ئے وئیل مَنْ اَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً او آبادئے ئے هم پخے وے لیکن سرهٔ دَ دے دومره قوت نه هغوی دَ عذاب دَ الله تعالیٰ نه بچ نه شول نو دا مشرکینِ مکه او نور کافران به څه رنګ بچ شی. اَخَا عَادٍ هغه هود علیه السّلام وُو چه دَ عادیانو نسبی رور وُو او په دے تعبیر کښې اشاره وه چه څوک دَ رور خبره نه مني نو دَ پردی سړی خو بالکل نه منی. بِالْاَحْقَافِ جمع دَ حقف ده دَ شګو ډیرئے ته وئیلے کیږی چه اوګده او غټه وی لیکن غر ترینه نه وی جوړ شوی او دا یو علاقه ده دَ عمان نه تر مهره پورے. بقاعی وئیلے دی چه دا سے ډیرئے دَ شګے چه کومه (باقی په بل مخ)

عَنْ اٰلِهَتِنَاۚ فَاْتِنَا بِمَا تَعِدُنَاۤ اِنْ كُنْتَ مِنَ

دَ بندګئ دَ معبودانو زمونږه نو راوړه مونږ ته هغه عذاب چه ويروے ته مونږه که چرے ته يئے دَ

الصّٰدِقِيْنَ ﴿٢٢﴾ قَالَ اِنَّمَا الْعِلْمُ عِنْدَ اللّٰهِ ۖ وَ اُبَلِّغُكُمْ

رشتينو نه . دهٔ اُوويل يقيناً علم (دَ عذاب) دَ الله تعالىٰ سره دے او رسوم تاسو ته

مَّاۤ اُرْسِلْتُ بِهٖ وَ لٰكِنِّيْۤ اَرٰىكُمْ قَوْمًا تَجْهَلُوْنَ ﴿٢٣﴾

هغه پيغام چه رالېږلے شوے يم په هغے سره او ليکن زه وينم تاسو لره داسے قوم چه ناپوهي کوئے .

علاقه کښې وی نو په هغے کښې عادةً سختے سيلے نه راځي. نو معلومه شوه چه په دوی باندے دَ سيلے عذاب خارق للعادة وؤ وَقَدْ خَلَتِ النُّذُرُ اه دا جمله معترضه ده او په دے کښې اشاره ده ماکنت بدعا من الرسل ته چه په دے سورت کښې زمونږ دَ نبی صلّى الله عليه وسلّم په باره کښې تير شوے دے يعنی ټول رسولان هم په دے صفت کښې شريک دی. اَلَّا تَعْبُدُوْۤا اِلَّا اللّٰهَ اشاره ده چه يرهٔ ورکوئنکی اګرچه ډير وی ليکن مدعیٰ يوه ده چه مسئله دَ توحيد ده يعنی دا اتفاقی مسئله ده اِنِّيْۤ اَخَافُ په دے کښې تخويف دے په وخت دَ اعراض کولو کښې دَ توحيد نه.

٢٢ په دے کښې انکار دَ هغوی ذکر کړے دے او انکار دَ دوی متعلق دے دَ هغه مسئلے سره چه الا تعبدوا الا اياه يعنی په دے مسئلے سره ته مونږ لره زمونږ دَ اٰلِهَةُ دَ تعظيم او دَ بندګے نه اړوے. لِتَاْفِكَنَا په دے کښې دوی اشاره کوله چه دا اړول دَ اٰلِهَونه هم په دهوکه او په دروغو سره دی فَاْتِنَا بِمَا تَعِدُنَاۤ دا متعلق دے دَ اِنِّيْۤ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ اه سره.

٢٣ قَالَ اِنَّمَا الْعِلْمُ دا جواب دے دَ هغوی دَ دے قول فَاْتِنَا اه او دا جواب دے په ترقئ سره يعنی عذاب راوستل خو لرے خبره ده بلکه ما سره دَ هغے علم هم نيشته چه کله به وی او څه رنګ به وی او په دے کښې مقصد اظهار دَ شان دَ رسول دے چه هغه غيب دان نه وی بلکه دَ هغه صفت دا دے وَ اُبَلِّغُكُمْ مَاۤ اُرْسِلْتُ بِهٖ چه مسئله دَ توحيد او تخويف بالعذاب دے. تَجْهَلُوْنَ شرک کول، عذاب په تادئے سره غوښتل، عذاب په اختيار يا په علم دَ پيغمبر کښې ګڼړل دا ټول دَ جهل کارونه دی.

فَلَمَّا رَاَوْهُ عَارِضًا مُّسْتَقْبِلَ اَوْدِيَتِهِمْ قَالُوْا هٰذَا

پس هر کله چه دوی اولیدله پلنه وریځ چه مخامخ راتلله دَ دوی میدانونو ته دوی اُویل دا

عَارِضٌ مُّمْطِرُنَا ؕ بَلْ هُوَ مَا اسْتَعْجَلْتُمْ بِهٖ ؕ رِيْحٌ

پلنه وریځ ده چه باران به او وروی په موږ باندې (راویلې شو) بلکه دا هغه څیز دې چه تاسو پرې تلوار غوختلو. دا سیلۍ ده

فِيْهَا عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٢٤﴾ تُدَمِّرُ كُلَّ شَيْءٍۭ بِاَمْرِ رَبِّهَا

په دې کښې عذاب دردناک دې هلاکوی هر څیز لره په حکم دَ رب دَ دې

فَاَصْبَحُوْا لَا يُرٰٓى اِلَّا مَسٰكِنُهُمْ ؕ كَذٰلِكَ نَجْزِي

نو صبا کړو دوی په داسې حال چه نه ښکاریدل سیوا دَ کورونو دَ دوی نه دغسې بدله ورکوو موږ

الْقَوْمَ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿٢٥﴾ وَلَقَدْ مَكَّنّٰهُمْ فِيْمَآ اِنْ مَّكَّنّٰكُمْ

قوم مجرمانو ته . او یقیناً طاقت ورکړو موږ دوی ته په هغه څیزونو کښې چه نه دې درکړې موږ تاسو ته طاقت

۲۴ ۔ ۲۵ دا ذکر دَ عذاب دَ هغوی دې په تفصیل سره فَلَمَّا رَاَوْهُ (ه) ضمیر عذاب یا ماتعدنا ته راجع دې ۔ عَارِضًا صفت دې دَ موصوف محذوف سحابًا عارضًا ۔
قَالُوْا هٰذَا الخ مفسرینو لیکلې دی چه دَ دوی نه باران څه موده بند شوې وو نو هر کله چه دوی وریځه اولیدله نو دوی دَ خپل عقل موافق په هغې باندې خوشحالی ښکاره کړه چه اوس به باران اوشی ۔ یعنی دَ خپلو بد اعمالو دَ سزا هیڅ خیال ئې هم اونکړو۔ بَلْ هُوَ مَا اسْتَعْجَلْتُمْ بِهٖ دا قول دَ الله تعالیٰ دې په واسطه دَ هود علیه السلام سره یا دا په زبان حال سره دې ۔ او استعجال دَ دوی په دې لفظ سره تیر شو فاتنا بما تعدنا ۔ رِيْحٌ یعنی هغه وریځ نه ده بلکه دَ سیلې طوفان وو چه اسمان ئې پټ کړې وو دَ وریځ پشان ښکاره کیدله ۔ تُدَمِّرُ كُلَّ شَيْءٍ دمار پوره هلاکت چه ناګهه وی کل شی نه مراد هغه دې چه اَتَتْ عَلَيْهِ لکه سورت ذاریات ۴۲ کښې . او دَ كُلَّ شَيْءٍ نه دَ هود علیه السلام او دَ هغه دَ ملګرو خارج کیدل خارق للعادة وو ۔ بِاَمْرِ رَبِّهَا اشاره ده چه اسباب تاثیر نه شی کولې بغیر دَ امر دَ الله تعالیٰ نه ۔ كَذٰلِكَ دا تخویف دې روستو مجرمانو ته او كذلك کښې تشبیه عامه ده که په اصل عذاب کښې وی او که په نوع یا جنس دَ هغه کښې ۔

فِيْهِ وَجَعَلْنَا لَهُمْ سَمْعًا وَّاَبْصَارًا وَّاَفْـِٕدَةً ۫ۖ فَمَآ

په هغې کښې او ورکړي مونږ دوی لره غوږونه او سترګې او زړونه نو

اَغْنٰى عَنْهُمْ سَمْعُهُمْ وَلَآ اَبْصَارُهُمْ وَلَآ اَفْـِٕدَتُهُمْ

وانه ړوړ دَ دوی نه غوږونو دَ دوی او نه سترګو دَ دوی او نه زړونو دَ دوی

مِّنْ شَيْءٍ اِذْ كَانُوْا يَجْحَدُوْنَ ۙ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ

هيڅ حصّه (دَ عذاب نه) ځکه چه دوی انکار کوو دَ اياتونو دَ الله تعالیٰ نه

وَحَاقَ بِهِمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿۲۶﴾ ع وَلَقَدْ

او راګير کړو دوی لره هغه څيز چه دوی ورپورې ټوقې کولے . او يقيناً

س ۲۶ په دے کښې خطاب دے موجوده مجرمانو ته او ذکر کوی دَ عاديانو دوه قوتونه او يو سبب عذاب او اشاره ده چه په هيڅ قوت دَ دوی سره عذاب نه شو دفع کيدے . يو قوت تمکين دے مراد دَ دے نه پاخه مکانونه غټ بدنونه ډير مالونه دی اِنْ مَّكَّنّٰكُمْ اِن نافيه دے يعنی موجوده خلقو سره دومره قوت نيشته او بقاعی ويلے دی چه په اِنْ کښې مبالغه دَ نفی ده په نسبت دَ ما سره . او دويم قوة وَجَعَلْنَا لَهُمْ سَمْعًا الخ په دے کښې اشاره ده قوة باطينه ته لکه فهم، ادراك، او هوښياري په دنيوی کارونو کښې او دا رنګ دا اسباب وو دَ حق معلومولو دَ پاره . فَمَآ اَغْنٰى الخ يعنی هر کله چه دا حواس دوی دَ حق دَ پاره استعمال نه کړل بلکه صرف دَ دنياوی علوموا و تجربو دَ پاره ئے استعمال کړل نو په هغې سره عذاب دَ الله تعالیٰ دفع نه شو . او هر کله چه علمی قوت دَ مالی قوت نه مضبوط دے او په علمی قوت سره دوی ته فائده او نه رسيدله نو په مالی قوت سره خو په طريقه اولیٰ عذاب نه شی دفع کيدے دَ دے وجه نه عدم افاده دَ سمع او بصر وغيره کښې ذکر کړه او عدم افاده دَ تمکين ئے ذکر نه کړه دَ هغې ذکر ئے مقايسته پريخود . او سبب دَ عذاب ئے ذکر کړے دے په اِذْ كَانُوْا يَجْحَدُوْنَ الخ سره نو معلومه شوه چه دَ اسبابِ الٰهيه په مقابله کښې هيڅ طاقت فائده نشی ورکولے .

أَهْلَكْنَا مَا حَوْلَكُم مِّنَ الْقُرَىٰ وَصَرَّفْنَا الْآيَاتِ

هلاک کړے دی مونږ چاپیره ستاسو نه ډیر کلی او قسما قسم بیان کړے وډ مونږ ایاتونه

لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿۲۷﴾ فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ الَّذِينَ اتَّخَذُوا

دے دپاره چه دوی را اوګرځی د باطل نه . نو ولے مدد نه کوو د دوی سره هغه کسانو چه دوی جوړکړی وو

مِن دُونِ اللَّهِ قُرْبَانًا آلِهَةً ۖ بَلْ ضَلُّوا عَنْهُمْ ۚ وَ

سیوا د الله تعالیٰ نه دپاره د نزدیکت (الله تعالیٰ ته) معبودان ۔ بلکه هیر شو د دوی نه او

ذَٰلِكَ إِفْكُهُمْ وَمَا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿۲۸﴾ وَإِذْ صَرَفْنَا

دا دروغ د دوی وو او هغه خبرے چه دوی د ځان نه جوړولے ۔ او کله چه راواړوله مونږ

ف ۲۷ پدیکښ تخویف دنیوی دے په اجمالی طریقے سره مَا حَوْلَكُم مِّنَ الْقُرَىٰ اشاره ده واقعے د ثمودیانو او قوم د لوط علیه السّلام او اهلِ مدین ته چه دوی حجاز والو ته نزدے وو ۔ الْآيَاتِ دلیلونه، وعظونه، تخویفات او بشارات وغیره.

ف ۲۸ دا رد د شرک دے چه متفرع دے په مخکښ واقعه باندے او دا جواب د شبهے د مشرکانو دے چه دوی وائی چه مونږ یا بابا رامدد شے یا شیخ عبد القادر وغیره د دے وجے نه وایو چه د دے په برکت سره زمونږ نه عذابونه مصیبتونه دفع کیږی حاصل د جواب دا دے چه تیر شوی مشرکانو (عادیانو وغیرو) هم دا سے کول لیکن هرکله چه په هغوی باندے عذاب راغے نو د دوی الهو د دوی سره امداد او نه کړو الَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ قُرْبَانًا آلِهَةً ۔ د اتخذوا اول مفعول هُمْ ضمیر محذوف دے چه راجع دے الذین ته او الهة مفعول ثانی دے او قربانًا حال دے. او بعض مفسرینو ویلے دی چه قربانًا دویم مفعول دے او الهة د هغے نه بدل دے یا بیان دے لیکن زمخشری او قرطبی په دے باندے رد کړے دے. قُرْبَان هر هغه څیز دے چه په هغے سره تقرب کیدے شی الله تعالیٰ ته. نو مشرکانو بزرګان او اولیاء د الله تعالیٰ د نزدیکت دپاره وسیلے جوړے کړے دی دا رنګ سورة زمر ف ۲ کښ تیر شوی دی. بَلْ ضَلُّوا عَنْهُمْ ضلال په معنیٰ د غائب کیدلو او په معنیٰ د هیریدلو او په معنیٰ د غافل کیدلو دے دا ټولے معانی دلته صحیح کیږی ۔ وَذَٰلِكَ اشاره ده اتخاذ الآلهة ته إِفْكُهُمْ او ړیدل د توحید ته یا ذالك اشاره ده (پاتے په بل مخ)

إِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ الْقُرْآنَ ۚ فَلَمَّا

تاته یو ډله د پیریانو نه چه غوږ یې کیخودلو قرآن ته پس هرکله چه

حَضَرُوهُ قَالُوا أَنصِتُوا ۖ فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوْا إِلَىٰ قَوْمِهِم

رانزدې شو نو دوی اوویل (یو بل ته) چپ شئ نو هرکله چه پوره شو لوستل روان شو دوی خپل قوم ته

مُّنذِرِينَ ﴿٢٩﴾ قَالُوا يَا قَوْمَنَا إِنَّا سَمِعْنَا كِتَابًا أُنزِلَ

(اراده کوونکی) د ویره ورکولو. دوی اوویل اے زموږ قومه! یقیناً موږ اوریدلے دے یو کتاب چه نازل کړے شوے دے

مِن بَعْدِ مُوسَىٰ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ يَهْدِي

روستو د موسیٰ علیه السلام نه تصدیق کوونکے دے د هغه کتابونو چه د ده نه مخکښ دی هدایت کوی

ضلال د الهه ته او إِفْكُهُمْ کښ مضاف پټ دے یعنی اثر إفکهم. او هرکله چه د دوی دوه عقیدے ذکر شوے یو الهه نیول یعنی هغوی لره بندګی کول دویم دعویٰ د تقرب الی الله کول نو د دے وجے نه دوه الفاظ یې ذکر کړل افك او افتراء او دا رنګ ایت په سورة هود ۱۰۱ کښ هم دے.

۲۹ دا دلیل نقلی دے د جناتو نه د پاره د اثبات د صداقت د رسول او د قرآن او په دے کښ تسلی هم ده نبی صلی الله علیه وسلم او دا رنګ په دے واقعه کښ ذکر د طریقے د دعوت دے چه اول علم د قرآن دے بیا دعوت دے قرآن ته بیا دعوت دے اطاعت او اجابت د رسول ته. دا واقعه په سفر د طائف کښ وه چه نبی صلی الله علیه وسلم بطن نخله کښ قرآن لوستلو نو جناتو واوریدل یا دا دعوت د رسول الله صلی الله علیه وسلم پیریانو ته په لیلة الجن کښ ؁ ۳ و بیا دغه جنات نبی صلی الله علیه وسلم داعیان مقرر کړل د پار د قوم د هغوی. نَفَرًا او وه کسان وو یا نهه کسان وو بعضے د نجران او بعضے د نصیبین وو. يَسْتَمِعُونَ الْقُرْآنَ طلب یې کوو د قرآن د اوریدلو یعنی د لرے نه اواز د لوستلو د قرآن یې تر غوږ شو مائله شول اوریدلو ته نو نزدے راغلل. أَنصِتُوا دا ادب د قرآن دے او د دے ادب د وجے نه په دوی باندے رحم اوکړے شو یعنی هدایت ورته نصیب شو او توفیق د دعوت ورته الله تعالیٰ ورکړو لکه چه سورة اعراف ۲۰۴ کښ ذکر دے.
وَلَّوْا إِلَىٰ قَوْمِهِم مُّنذِرِينَ یعنی دوی د هغه وخت نه په اراده د انذار د خپل قوم

إِلَى الْحَقِّ وَإِلَىٰ طَرِيقٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٣٠﴾ يَا قَوْمَنَا أَجِيبُوا

حق طرف ته او نيغې لارې ته - اے قومه زمونږ قبول کړے

دَاعِيَ اللَّهِ وَآمِنُوا بِهِ يَغْفِرْ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ وَ

(دعوت) دَ دعوت کوونکی دَ الله تعالیٰ او ایمان راوړئے په ده باندے بخنه به اوکړی تاسو ته دَ ګناهونو ستاسو او

يُجِرْكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣١﴾ وَمَن لَّا يُجِبْ

پناهی به درکړی تاسو ته دَ عذاب دردناک نه - او چا چه قبول والے اونکړو (دَ دعوت)

سره روان شو او دا ادب دے دَ هر سړی دَپاره چه علم دَ قرآن او سنت حاصل کړی نو هغه دِ دے خپل قوم ته اورسوی او دا رنګ سورة توبه ۱۲۲ کښ هم ذکر دی -

۳۰ په دے ایت کښ ذکر دے دعوت کول دَ جنا تو قرآن کریم ته او دا خائسته طریقه دَ دعوت ده - مِنۢ بَعْدِ مُوسٰى دَ عیسٰی علیه السّلام ذکر ئے اونه کړو دَ دے وجے نه چه دوی دَ عیسٰی علیه السلام نه نه وو خبر شوی یا دَ دے وجے نه چه دَ انجیل اصل هم تورات وو - يَهْدِي إِلَى الْحَقِّ الخ مراد دَ حق نه صحیح عقیده ده چه امر یقینی او واقعی دے او مراد دَ طَرِيقٍ مستقیم نه اتباع دَ رسول ده یعنی دَ قرآن حاصل دعوت دے توحید او سنت ته او سورة جن ۲/۱ کښ هم دا سے ذکر کړی دی.

۳۱ په دے کښ دعوت دے تصدیق دَ رسول الله صلی الله علیه وسلّم او اتباع دَ هغه ته - دَاعِيَ اللَّهِ مراد دَ دے نه رسول الله صلّی الله علیه وسلّم دے او دا دلیل دے چه هغه دَ ټول انس وجن دَپاره رالیږلے شوے وو - وَآمِنُوا بِهِ دا تفسیر دَ اجابت دے او ایمان ذکر دا هم خیز دے په اجابت کښ. يَغْفِرْ لَكُمْ الخ دَ اجابت دوه فائدے ذکر کړے دی. مِّن ذُنُوبِكُمْ مِنْ دَپاره دَ تعمیم دَ انواعو دَ ګناهونو دے یعنی دَ هر قسم ګناهونو ته بخنه کوی په سبب دَ ایمان سره یا مِنْ دَپاره دَ تبعیض دے یعنی هغه ګناهو نه بخشش کوی کوم چه دَ ایمان راوړلو نه مخکښ وی. او دا اشاره کیدے شی چه جنت ته به ئے داخلوی ځکه چه ګناهونه مانع وو دَ دخول دَ جنت ته نو چه هغه ئے اوبخل نو جنت ته دَ داخلیدلو نه مانع پاتے نه شو او دا مسئله اختلافیه ده چه جنات به جنت ته داخلیږی او که نه. صحیح دا ده چه دَ دوی حکم هم پشان دَ انسانانو دے او دَ استحقاق دَ جنت دَپاره چه کوم دلیلونه دَپاره دَ بشر دی نو هغه دوی ته هم شامل دی -

دَاعِيَ اللّٰهِ فَلَيْسَ بِمُعْجِزٍ فِي الْاَرْضِ وَلَيْسَ

دَ دعوت کوؤنکی دَ اللّٰه تعالیٰ نو نه دے بچ کیدونکے دَ عذاب دَ اللّٰه تعالیٰ نه په ټول ملک کښې او نیشته

لَهٗ مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءُ ۭ اُولٰۗىِٕكَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۳۲﴾

دۀ لره سیوا دَ اللّٰه تعالیٰ نه مددګاران دغه کسان په ګمراهۍ ښکاره کښې دی۔

اَوَلَمْ يَرَوْا اَنَّ اللّٰهَ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَ

آیا او دوی نه ګوری چه یقینًا الله تعالیٰ هغه ذات دے چه پیدا کړیدی آسمانونه او

الْاَرْضَ وَلَمْ يَعْيَ بِخَلْقِهِنَّ بِقٰدِرٍ عَلٰٓي اَنْ

زمکه او نه دے ستړے شوے په پیدائش دَ هغې سره قدرت لرونکے دے په دے خبره باندے

يُّـحْيِۦ الْمَوْتٰى ۭ بَلٰٓي اِنَّهٗ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۳۳﴾

چه ژوندی به کړی مړی! هاؤ یقینًا هغه په هر څیز باندے قدرت لرونکے دے۔

۳۲ دا زجر او تخویف دے په ترک دَ اجابت دَ رسول صلی الله علیه وسلم سره۔ فَلَيْسَ بِمُعْجِزٍ فِي الْاَرْضِ په دے کښې اشاره ده عذاب الٰهی ته وَلَيْسَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءُ اشاره ده چه بزرګان وغیره هم دَ دوی امداد نه شی کولے یعنی نه پخپل زور سره بچ کیدیشی او نه دَ بل چا په امداد سره۔ اُولٰۗىِٕكَ په دے ځائے کښې دوه همزګان په ضمه سره جمع شویدی همزه دَ اولیاء او همزه دَ اولئِك دا په قرآن کښې بل ځائے کښې نیشته۔

۳۳ په دے آیت کښې زجر دے منکرینو دَ قیامت ته چه دوی سره دَ علم نه په قدرت دَ الله تعالیٰ باندے انکار کوی دَ بعث نه او دا تفسیر دَ ضلال مبین دے کوم چه مخکښې آیت کښې ذکر شویدے وَلَمْ يَعْيَ بِخَلْقِهِنَّ او دلیل ئے دا دے چه تر اوسه پورے په نظام دَ الله تعالیٰ کښې هیڅ نقصان نه دے راغلے که چرے ستړے شوے وے نو ضرور به نقصان پیدا شوے وُو لکه سورة ق ۱۵ کښې۔ بِقٰدِرٍ با دَ تاکید دَ پاره په اثبات کښې هم راځی لکه كَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا کښې۔ او دا خبر دَ اَنَّ دے حاصل دَ معنیٰ دا دے آیا دوی علم نه لری په دے خبره باندے چه هغه الله تعالیٰ چه خالق دے نو قادر هم دے په دوباره ژوندی کولو باندے۔ بَلٰٓي په دے کښې اثبات دَ هغه نفی دے

وَيَوْمَ يُعْرَضُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا عَلَى النَّارِ ؕ اَلَيْسَ

او په کومه ورځ چه پیش به کړے شی کافران په اور باندے (او وبه ویلے شی) ایا نه دے

هٰذَا بِالْحَقِّ ؕ قَالُوْا بَلٰى وَرَبِّنَا ؕ قَالَ فَذُوْقُوا الْعَذَابَ

دا حق ، دوی به اووائی هاؤ قسم دے په رب زمونږ باندے او به وائی الله تعالیٰ نو اوڅکئ عذاب

بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ﴿۳۴﴾ فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ اُولُوا الْعَزْمِ

په دے وجه چه تاسو کفر کوؤ . نو صبر اوکړه لکه چه صبر کړے وو پوخ کار کوونکو

مِنَ الرُّسُلِ وَلَا تَسْتَعْجِلْ لَّهُمْ ؕ كَاَنَّهُمْ يَوْمَ

رسولانو او په تادے سره دوی لره عذاب مه غواړه یقیناً دوی په کومه ورځ

يَرَوْنَ مَا يُوْعَدُوْنَ ۙ لَمْ يَلْبَثُوْۤا اِلَّا سَاعَةً مِّنْ

چه اُوینی هغه چه دوی سره ئے وعده کیدیشی (گمان به اوکړی) چه نه وو حصار شوی دوی مگر یو ساعت دَ

نَّهَارٍ ؕ بَلٰغٌ ۚ فَهَلْ يُهْلَكُ اِلَّا الْقَوْمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿۳۵﴾ ع

ورځے نه دا رسول دی پس نه به شی هلاکولے په عذاب سره مگر قوم نافرمانی کوونکی .

چه اولم یروا کښ ده یعنی بلکه دوی علم لری په قدرت دَ الله تعالیٰ باندے نو سرهٔ دَ علم نه انکار کوی او دا رنګ سورة اسراء ۹۹ کښ هم دی.

فائده :- هرکله چه په دے سورت احقاف کښ دَ ابتداء نه اثبات دَ بعث بعد الموت ته اشاره وه نو دَ دے وجے نه دَ تاکید دَپاره بائے زیاتی راوړه چه مقصد ښه واضح شی.

۳۴ دَ اثبات دَ قیامت نه روستو دَ هغے هیبتِ شان بیانوی دَپاره دَ تخویف مخکښ ایت ۲۰ کښ هم تیر شوید ی په هغے کښ اسباب دَ عذاب ذکر کړیدی او په دے کښ اقرار دَ منکرینو ذکر کوی سرهٔ دَ عذاب نه هٰذَا اشاره ده دوباره ژوند ته -

۳۵ هرکله چه ذکر کړے شو انکار دَ منکرینو دَ توحید او رسالت او قرآن او قیامت نه نو اوس تسلی ورکوی پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته په امر سره په صبر کولو او په عدم استعجال دَ عذاب سره - اُولُوا الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ . العزم نه مراد پوخ پاتے کیدل دی په دین باندے سرهٔ دَ هر قسم مصیبتونو نه بغیر دَ شکایت نه مخلوق ته او په دے کښ اقوال مختلفه دی اول قول دا دے چه مِن بیانیه دے او ټول رسولان اولوالعزم دی (ریلتے په بلخ)

ځکه چه تولو رسولانو کښې د غه معنیٰ دَ عزم موجود وه. دویم قول دا دے چه مِنْ دَ پاره دَ تبعیض دے او مراد دَ دے نه پنځه رسولان دی چه په سورة شوریٰ ۱۳ او احزاب ۷ کښې ذکر دی. دریم قول دا دے چه دا اتلس پیغمبران دی چه سورة انعام ۸۳، ۸۵ ۸۶ کښې ذکر دی او دَ هغوی په اقتداء باندے امر کړے شویں ے په انعام ۹۰ کښې څلورم قول دا دے چه هغه شپږ انبیاء مراد دی چه سورة اعراف کښې دَ هغوی قصے ذکر دی. خو په دے کښې اول قول غوره دے. وَلَا تَسْتَعْجِلْ لَّهُمْ دَ دے نه مراد دا دے چه دَ بے صبرئ دَ وجے نه زر دَ دوی دَ پاره عذاب اونه غواړے. نو صبر اعلیٰ دَ فضائلو نه دے او استعجال اعلیٰ دَ رزائلو نه دے نو په اول باندے ئے امر اوکړو او دَ دویم نه نهي اوکړه. كَاَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَ دا هم په تسلیٰ کښې داخل دے یعنی دوی عذاب په تلوار سره غواړی او دوی وائی چه عذاب په مونږ دے زر نه راځی لیکن هرکله چه راشی نو دوی به پخپله اقرار اوکړی چه دا عذاب خو زر راغے ځکه چه کوم څیز تیرشی نو دَ انسان نه هیرشی یا دَ هیبت دَ عذاب دَ وجے نه دَ دوی نه به هغه اوګس ژوند دَ دنیا او مرے هیرے شی. مَا يُوْعَدُوْنَ عام دے که دَ دُنیا عذاب وی او که دَ اخرت وی او دا سے په سورة مؤمنون ۱۱۳ او سورة نازعات ۴۶ کښې هم ذکر دی. بَلٰغٌ دا هم خطاب دے نبی صلّی الله علیه وسلّم ته په طریقه دَ تشجیع سره یعنی عَلَيْكَ بَلٰغٌ یا خبر دَ مبتدا محذوف دے هٰذَا دا قران بلاغ دے او حمل دَ مصدر مبالغةً دے فَهَلْ يُهْلَكُ اِلَّا الْقَوْمُ الْفٰسِقُوْنَ دا هم داخل دے په تسلیٰ دَ پیغمبر کښې یعنی روستو دَ تبلیغ نه عذاب به خاص راځی په نافرمانو باندے هاں که تبلیغ او نشی نو عذاب به عام راځی -

ختم شو تفسیر دَ سورة احقاف په فضل دَ الله تعالیٰ سره

سُوْرَةُ مُحَمَّدٍ ۴۷ مَدَنِيَّةٌ ۹۵	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰيَاتُهَا ۳۸ رُكُوْعَاتُهَا ۴

اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَضَلَّ

هغه کسان چه کفر ئے کړيدے او اړوی خلقو لره د لارے د الله تعالیٰ نه بے کاره کړيدی

اَعْمَالَهُمْ ① وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَ

عملونه د دوی - او هغه کسان چه ايمان ئے راوړے دے او عملونه ئے کړيدی په برابر د سنت سره او

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سُوْرَةُ محمّد او بل نوم ئے سورة القتال دے

دا سورت او سورة فتح او حجرات داخلو رم باب دے د آخرے حصے نه په دے کښ مسئله د قتال او انتظام ذکر کوی۔

ربط د دے سورت د ماقبل سره په ډير وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه ماقبل کښ ذکر د دعوت او تبليغ وؤ نو په دے سورت کښ امر دے په قتال فی سبيل الله تعالیٰ سره - دويمه وجه دا ده چه د هغه سورت په آخر کښ اهلاک د فاسقينو ذکر شو نو د دے سورت په اول کښ ذکر د علت د هغے دے - دريمه وجه دا ده چه په هغه سورت کښ اثبات د اصول اربعو (توحيد، صداقتِ رسول، صداقتِ قرآن، قيامت) او شو نو اوس په دے سورت کښ اصول ممدّه ذکر کوی چه قتال او انفاق فی سبيل الله دے۔

دعویٰ د دے سورت امر په قتال فی سبيل الله سره په ۳ کښ په ذکر د اتلس[18] احوالو د کافرانو او هغه علتونه د قتال دی او اتلس[18] صفات د مؤمنانو د پاره د تيزئے ورکولو په قتال باندے او اتلس[18] قبائح د منافقينو چه هغه اوصاف مانعه د قتال دی۔ او دعویٰ د توحيد چه مقصد د قتال دے ذکر ده په آيت ۱۹ کښ۔

خلاصه د سورت دا سورت تقسيم دے دوه بابونو ته اول باب تر ۱۹ پورے دے په دے کښ تفصيل ذکر کوی احوال د مشرکينو اتلس او صفات د مؤمنانو اتلس[18] په طريقه د تقابل د فريقينو سره - او بيا تخويف په ذکر د قرب د قيامت سره په ۱۸ کښ او دعویٰ د توحيد په ۱۹ کښ۔ (پاتے په بل مخ)

اٰمَنُوْا بِمَا نُزِّلَ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّهُوَ الْحَقُّ مِنْ رَّبِّهِمْ ۙ

ایمان ئې راوړې دے په هغه (وحی) چه نازل کړے شوې دے په محمد صلی الله علیه وسلم باندے او دا حق دے د طرف د رب د دوی نه

كَفَّرَ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَاَصْلَحَ بَالَهُمْ ۲ ذٰلِكَ بِاَنَّ

لرے کوی الله تعالی د دوی نه بدئ د دوی او خائسته کوی حال د دوی ۔ دا په دے وجه سره چه یقینًا

الَّذِيْنَ كَفَرُوا اتَّبَعُوا الْبَاطِلَ وَاَنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوا

کافرانو تابعداری د باطل کړیده او یقینًا مؤمنانو

اتَّبَعُوا الْحَقَّ مِنْ رَّبِّهِمْ ۭ كَذٰلِكَ يَضْرِبُ اللّٰهُ

تابعداری د هغه حق کړے ده چه د دوی د رب د طرف نه دے، دغسے بیانوی الله تعالی

لِلنَّاسِ اَمْثَالَهُمْ ۳ فَاِذَا لَقِيْتُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

خلقو لره حالات د هغوی ۔ نو کوم وخت چه مخامخ شئ د کافرانو سره (په میدان جنګ کښ)

تفسیر ۱ په دے ایت کښ درے حالات د کافرانو ئې ذکر کړیدی د پاره د زجر او هر هغه څوك چه دا اوصاف پکښ وی نو دا ایت هغوی ته شامل دے۔ اَضَلَّ اَعْمَالَهُمْ مراد د دے نه هغه عملونه د خیر دی چه ور سره کفر او شرك کوی لکه عبادات، خائسته اخلاق قیدیان خلاصول، صدقات کول، خیلولی پالل، میلمستیا ورکول، کاونډیانو سره احسان کول دا ټول برباد دی۔

۲ په دے کښ د مؤمنانو ښځه حالات ذکر کړیدی او بشارت دے هغوی ته وَاٰمَنُوا بِمَا نُزِّلَ عَلٰی مُحَمَّدٍ هر کله چه په دے سورت کښ مقصد ذکر د دے امت، او اولنی دواړه صفات ټولو مؤمنانو ته شامل وو نو دا صفت ئې ذکر کړو چه معلومه شی چه فقط دا امت مراد دے۔ وَهُوَ الْحَقُّ ضمیر د هو ما نزل یا محمد ته یا ایمان راوړلو ته راجع دے او په دے لفظ کښ اشاره ده چه ایمان د دوی په قرآن او په دے نبی صلی الله علیه وسلم باندے د وجے د حقانیت نه دے نه د وجے عصبیت وغیره نه۔ وَاَصْلَحَ بَالَهُمْ مراد د بال نه مطلق حال او شان د دوی دے که دنیوی وی او که دینی وی او د اصلاح نه مراد په هغے کښ فائدے دنیوی او اخروی اچول دی او د برباد ئې نه بچ کول دی۔

۳ دا ایت د هغکنو دواړه ایاتونو سره متعلق دے یعنی د اضل اعمالهم۔ او کفر

فَضَرْبَ الرِّقَابِ ؕ حَتّٰۤى اِذَاۤ اَثْخَنْتُمُوْهُمْ فَشُدُّوا

نو اووهئ سټونه دَ دوی ترڅو چه هرکله بنۀ وینې توئ کړئ دَ دوی نو کلک کړئ

الْوَثَاقَ ۗ فَاِمَّا مَنًّاۢ بَعْدُ وَاِمَّا فِدَآءً حَتّٰى تَضَعَ

تړل دَ هغوی نو یا خو احسان اوکړئ احسان کول روستو (دَ تړلو نه) او یا تربیه فدیې واخلئ تر هغې پورې چه کیدی

الْحَرْبُ اَوْزَارَهَا ۚ ۛ ذٰلِكَ ۛ ؕ وَلَوْ يَشَآءُ اللّٰهُ لَانْتَصَرَ

جنګ سامان خپل دا خبره ده او که چرے اوغواړی الله تعالیٰ نو بدله به واخلی

مِنْهُمْ ۙ وَلٰكِنْ لِّيَبْلُوَا۟ بَعْضَكُمْ بِبَعْضٍ ؕ وَالَّذِيْنَ

بخپله دَ دوی نه او لیکن (تاسو ته یې حکم دَ قتال در کړو) دَ دے دَپاره چه ازمیښت اوکړی دَ بعض ستاسو په بعضو سره او هغه کسان

قُتِلُوْا فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَلَنْ يُّضِلَّ اَعْمَالَهُمْ ④

چه اوژلے شو په لار دَ الله تعالیٰ کښ نو هیڅرے نه بے کاره کوی عملونه دَ هغوی.

عنهم سیئاتهم دَپاره سببونه ذکر کوی په طریقه دَ ترتیب سره او په دے کښ دَ کافرانو یوحال او دَ مؤمنانو هم یو حال ذکر کړے دے. ذٰلِكَ اشاره ده اضلال او تکفیر او اصلاح ته په تاویل دَ مذکور سره. الْبَاطِلَ دَ دے نه مراد دلیل باطل دے لکه اتباع دَ هوٰی (خواهش) او اتباع دَ اباؤ او الْحَقَّ دَ دے نه مراد دلیل حق دے قرآن او حدیث چه داوحی ده دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه. كَذٰلِكَ يَضْرِبُ اللّٰهُ اه مراد دَ امثال نه احوال او صفات دی او هُمْ ضمیر دواړه فریقو ته راجع دے یعنی صفات دَ دواړو ډلو الله تعالیٰ نورو خلقو ته ذکر کوی دَپاره دَ دے چه خلق دَ حق او باطل تمیز او پیژنی او عبرت ترے واخلی.

سلا داتفریع ده په ماقبل دواړه قسمونو حالاتو باندے یعنی اے مؤمنانو هرکله چه ستاسو دغه اوچت حالات دی او ستاسو مقابله کښ کافران دی او دَ هغوی احوال دَ ذلت دی دَ دے وجې نه هغوی لره قتل کړئ دَپاره دَ دے چه دا ذلیل اوصاف دَ دُنیا نه پورته شی. فَضَرْبَ الرِّقَابِ اشاره ده چه مؤمن صرف دفع کوونکے نه دے بلکه دے رفع کوونکے دے دَ دے وجې نه لَقِيْتُمُ سیټې وئیلی دی نو دا رنګ دَ قتل قصد کوونکی دا سے اندام باندے ګذار کوی چه مقتول دَ هغې په وجه سره زر مړ کیدیشی (پاتے په بل مخ)

لع ۳ [illegible] على ذالك ۱۲

سَيَهْدِيهِمْ وَيُصْلِحُ بَالَهُمْ ﴿٥﴾ وَيُدْخِلُهُمُ

ضرور کامیابوی دوی لره او خائسته کوی حال دَ دوی - او داخله دی دوی لره

او دغه انډام ستہ دے چه دَ هغې په وهلو سره دَ مرے رګونه پریکړے شی - فَشُدُّوا الْوَثَاقَ
اشاره ده اګرچه مؤمن رافع دے (لرے کوؤنکے دَ کافرانو دے) لیکن مقصد په رفع
کښ په خلقو باندے رعب اچول دی دَ پاره ددے چه بیا دَ مؤمن مخے له نه راځی دَ دے
وجے دَ ډیر قتل نه روستو امر ئے دَ قید کولو ورکړو فَإِمَّا مَنًّا بَعْدُ وَإِمَّا فِدَاءً دَ هر یو نه مخکښ
فعل پټ دے تمنون منا او تفدون فداءً - قرطبی پنځه اقوال دَ دے ایت په ذیل کښ
ذکر کړی دی چه دا منسوخ یا ناسخ دے یا محکم دے او بیا ئے اخری غوره کړیدے
چه سرهٔ دَ قتال نه قیدیان جوړول او بیا احسانی پریخودل یا په فدے سره پریخودل
دا ټول کارونه جائز دی - حَتَّىٰ تَضَعَ الْحَرْبُ أَوْزَارَهَا په دے کښ توجیهات دی الحرب
نه مراد جنګ کول دی یا ترینه مراد اهل الحرب دی أَوْزَارَهَا مراد ترینه اسلحه دَ جنګ
ده یا مراد ترینه اسباب دَ جنګ دی یعنی شرك او کفر - هر کله چه دَ حرب نه مراد
جنګ وی نو دَ اوزارو کیخودلو نسبت مجازی دے او چه اهل حرب مراد شی نو دَ
اسلحے کیخودلو نه مراد صلح کول، جزیه ادا کول، یا اسلام راوړل دی او چه مراد
ترینه کفر او شرک شی نو دا به مناسب شی دَ سورة انفال ۳۹ سره یعنی چه
ټول خلق به مسلمانان شی او هغه زمانه دَ نزول دَ عیسیٰ علیه السلام ده - دا دَ
مجاهد نه قرطبی نقل کړیدی او مطلب به دا شی چه اَلْجِهَادُ مَاضٍ اِلٰی یَوْمِ الْقِیَامَةِ
ذٰلِكَ دا یو کلمه ده چه فصیحان بلیغان خلق ئے استعمالوی کله چه دَ یو کلام نه بل
کلام ته انتقال کوی - او دا په محل دَ رفع کښ دے مبتدا ئے حذف ده یعنی خبره
دغه ده یا ئے خبر حذف دے دغه حکم دَ کافرانو دے یا په محل دَ نصب کښ ده
یعنی دا کار اوکړئ - وَلَوْ يَشَاءُ اللَّهُ په دے جمله کښ حکمت دَ فرضیت دَ قتال
ذکر کوی چه هغه ابتلاء کول دی په بندګانو باندے او دا حکمت په ټولو فرائضو
الٰهیو کښ دے وَالَّذِينَ قُتِلُوا دا تسلّی ده دَ پاره دَ شهداء فی سبیل الله -
فَلَن يُضِلَّ أَعْمَالَهُمْ په دے کښ حال دَ مؤمنانو شهداؤ ذکر کړے دے او
مقابل دے دَ ۱ سره -

۵ ۶ په دے ایاتونو کښ درے حالات دَ مومنانو شهیدانو ذکر کوی دَ پاره
دَ ترغیب دَ قتال فی سبیل الله - روستو دَ مرګ نه دَ هدایت معنی جنت ته رسول دی

الْجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمْ ﴿۶﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ

جنت ته تعریف ئې کړېدے دَ هغه جنت دوی لره ۔ اے ایمان والو که

تَنْصُرُوا اللّٰهَ يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ اَقْدَامَكُمْ ﴿۷﴾

مدد اوکړئ دَ الله تعالیٰ نو مدد به اوکړی ستاسو او پاخه به کړی قدمونه ستاسو ۔

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَتَعْسًا لَّهُمْ وَاَضَلَّ اَعْمَالَهُمْ ﴿۸﴾

او هر چه کافران دی نو تباهی ده دوی لره او برباد کړی دی عملونه دَ دوی ۔

لکه سورة اعراف ۴۳ کښې ۔ وَيُصْلِحُ بَالَهُمْ په ۲ کښې اصلاح دَ بال (حال) په دنیا کښې مراد وه او دلته اصلاح په آخرت کښې مراد ده ۔ عَرَّفَهَا لَهُمْ دَ تعریف نه دے په معنیٰ دَ پیژندګلے سره دے یعنی هر جنتی ته به خپل منزل او خود لے شی او هغه به ئې پیژنی ۔ یا دَ عرف نه دے په معنیٰ دَ خوشبویه کولو او په دیکښې نور توجیهات هم مفسرینو لیکلے دی ۔

۷ روستو دَ امر دَ قتال نه سره دَ ذکر دَ حالاتو دَ فریقینو نه تشجیع ورکوی په جهاد فی سبیل الله باندے او دوه حالتونه دَ مؤمنانو ذکر کوی دا حالتونه دوه وعدے دی دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه په شرط دَ جهاد کولو سره ۔ ان تَنْصُرُوا اللّٰهَ نصرت په اصل کښې دَ له کښې داخلیدل او دَ له کولو ته ویلے کیږی او هغے ته همکاری هم ویلے شی یعنی الله تعالیٰ دین رالیږلے دے او نبی صلی الله علیه وسلم ئې رالیږلے دے او دین چلوی دا کار دَ الله تعالیٰ دے نو په دیکښې (دین چلولو کښې) ملګرتیا کولو ته نصرت ویلے کیږی نو دَ هغے ئې دوه فائدے ذکر کړے دی یو نصرت دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه یعنی غلبه ورکول په دشمن باندے دویم په دین باندے کلکول لکه سوره حج ۴۰ ۔

۸ دا یو قسم نصرت الٰهیه دے دَ مؤمنانو سره ۔ او دَ کافرانو دوه حالتونه ذکر کوی دَ تخویف دَ پاره ۔ فَتَعْسًا لَّهُمْ ۔ تعس په اصل کښې پړمخ پریوتلو ته وائي لکه نکس چه په سر باندے غورځیدل دی بیا قرطبی دَ دے لس معانی ذکر کړے دی دَ هغے ټولو مقصد یو دے چه ذلیل کیدل دی ۔ هغه لس دا دی ۔ لرے والے ، غم ، مشقت ، بدرد ویل ۔ هلاکت ، نا امیدی ، قباحت ، ذلیل کیدل ، بد حال ، بد بختی ۔ وَاَضَلَّ اَعْمَالَهُمْ مراد دَ اعمالو نه دَ دوی کیدونه او مکرونه دی په مخالفت دَ ایمان والو کښې ۔

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَرِهُوْا مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاَحْبَطَ اَعْمَالَهُمْ ۝۹

دا دَ دے وجے نه چه یقیناً دوی بد گڼړی هغه چه نازل کړیدے الله نو بے فائدے کړیدی عملونه دَ دوی.

اَفَلَمْ يَسِيْرُوْا فِى الْاَرْضِ فَيَنْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ

آیا دوی نه ګرځی په ملک کښ نو چه اوګوری چه څه رنګ وؤ

عَاقِبَةُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ۭ دَمَّرَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ۡ وَ

آخری انجام دَ هغه خلقو چه دَ دوی نه مخکښ تیر شویدی تباهی راوستله الله تعالیٰ په هغوی باندے او

لِلْكٰفِرِيْنَ اَمْثَالُهَا ۝۱۰ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ مَوْلَى الَّذِيْنَ

کافرانو لره دَ دے پشان عذابونه دی. دا دَ دے وجے نه چه یقیناً الله مددګار (دوست) دَ

سـ۹ په دیکښ دوه حالات دَ کافرانو ذکر کوی. ذٰلِكَ په تاویل دَ مذکور سره اشاره ده تعس او اضلال ته یعنی دَ دغه دوارو دَ پاره سبب کراهیت دَ ما انزل الله دے بد ګڼړل دَ قران او سنت. نا کاره ګڼړل حکم او شریعت دَ الله. فَاَحْبَطَ اَعْمَالَهُمْ دَ دے نه مراد عملونه دَ کفر او شرک او نور قبائح فواحش دی. فَا دلالت کوی په سببیت باندے یعنی بد ګڼړل دَ ما انزل الله سبب دے دَ پیدا کیدلو دَ ناکاره عملونو دَ پاره لکه چه دا سبب دَ تعس او دَ اضلال هم دے فَا دلالت کوی په سببیت خفیه (پټ) باندے او بآء دَ پاره دَ سببیت ظاهر یه راځی نو دا آیت دلیل دے چه بد ګڼړل او نفرت کول دَ قران او سنت او دَ هغے دَ احکامونه سبب ښکاره دے دَ پاره دَ هلاکت او دَ ذلت او دَ بے کاره کیدلو دَ عملونو او دَ دے نه پیدا کیږی بدکاری فحاشی او نور بد اعمال هم.

سـ۱۰ دا تخویف دنیوی دے او دَ کافرانو یو حال ذکر کوی او مثال دَ تعس (هلاکت) ذکر کوی په سبب دَ کراهیت دَ ما انزل الله سره. دَمَّرَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ دَمار پوره هلاکولو او دَ ویخ نه ویستلو ته ویلے کیږی او عَلَيْهِمْ دلالت کوی په احاطه کولو دَ دمار سره په هغوی باندے. وَلِلْكٰفِرِيْنَ دَ پاره دَ تعمیم وصف دَ کفر ئے ذکر کړو چه ټولو کافرانو ته شامل شی. اَمْثَالُهَا هَا ضمیر عاقبت ته راجع دے یعنی په تیر شوی اقوام مکذبه باندے چه کوم عذابونه راغلی وؤ نو دَ هغے پشان به په روستنو باندے هم راځی.

ع ۴/۵

اٰمَنُوْا وَاَنَّ الْكٰفِرِيْنَ لَا مَوْلٰى لَهُمْ ﴿۱۱﴾ ع اِنَّ اللّٰهَ

مؤمنانو دے او یقیناً کافران چه دی نیشته مددګار دَ هغوی . یقیناً الله تعالیٰ

يُدْخِلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ

به داخلوی هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے او عملونه ئے کړیدی په سنت برابر جنتونو ته

تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ؕ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا

چه بهیږی به لاندے دَ هغے نه ولے او کافران خو

يَتَمَتَّعُوْنَ وَيَاْكُلُوْنَ كَمَا تَاْكُلُ الْاَنْعَامُ وَالنَّارُ

مزے اخلی (ردَ دنیا) او خوراک کوی لکه چه خوراک کوی څاروی او اور

مَثْوًى لَّهُمْ ﴿۱۲﴾ وَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ هِيَ اَشَدُّ

ځائے دَ دیره کیدلو دَ دوی دے. او ډیر کلی دی چه هغه مضبوط دی

سلا دا سبب دَ ماقبل دے او دَ مؤمنانو یو حال او دَ کافرانو یو حال ذکر کوی ذٰلِكَ اشاره ده نصرت دَ مؤمنانو او ذلت او هلاکت دَ کافرانو ته . مَوْلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا دَ قشیری نه نقل دے چه دا ایت کریمه دَ ډیر اُمید (دَ خوشحالئ) ایت دے ځکه چه الله تعالیٰ خپل ولایت په عبادت کوونکو، وظیفو او ذکر کوونکو او ریاضت کوونکو پورے نه دے خاص کړے بلکه صِرف مؤمنان ئے ذکر کړیدی. او دَ دے ایت موافق اعلان رسول الله صلی الله علیه وسلّم په اُحد کښں کړے وو "لنا المولی ولا مولیٰ لکم" په جواب دَ قول دَ کافرانو کښں "لنا العزیٰ ولا عزیٰ لکم".

سلا روستو دَ ذکر دَ حالاتو دَ فریقینو نه بشارت ذکر کوی یو فریق ته او تخویف دویم فریق لره او دَ مؤمنانو یو حال او دَ کافرانو درے حالتونه ئے ذکر کړی دی. تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ په دے جمله کښں اشاره ده چه دغه باغات دَ جنت همیشه تروتازه او په ترقئ سره دی . يَتَمَتَّعُوْنَ وَيَاْكُلُوْنَ تمتع عام دے دَ خوراك، څښاك، لباس، لهو ولعب، زیب وزینت ټولو ته شامل دے او اکل ئے خاص ذکر کړے دے اشاره ده چه لوے مقصد دَ دوی خوراک دے لکه سورة حجر سلا کښں تیر شوی دی. كَمَا تَاْكُلُ الْاَنْعَامُ تشبیه په ډیر خیزو توکښں ده ، (پاتے په بل مخ)

قُوَّةً مِّنْ قَرْيَتِكَ الَّتِيْٓ اَخْرَجَتْكَ اَهْلَكْنٰهُمْ فَلَا

په قوت کښې ستا دَ کلی نه هغه چه ویستلے ئې ته هلاک کړیدی مونږ هغوی نو نۀ وُو

نَاصِرَ لَهُمْ ﴿۱۳﴾ اَفَمَنْ كَانَ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ

مددګار دوی لره - آیا څوک چه دی په ښکاره دلیل باندے دَ رب دَ طرف نه ډے

كَمَنْ زُيِّنَ لَهٗ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ وَاتَّبَعُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ ﴿۱۴﴾

پشان دَ هغه چا دے چه ډولی کړے شویوی دۀ لره بد عمل دَ دۀ او تابعداری کړیوی دَ خواهشاتو خپلو .

مَثَلُ الْجَنَّةِ الَّتِيْ وُعِدَ الْمُتَّقُوْنَ ؕ فِيْهَآ اَنْهٰرٌ

صفت دَ هغه جنت چه وعده ئې کړے شویده دَ متقیانو سره (دا دے) په هغې کښې ویالے دی

مِّنْ مَّآءٍ غَيْرِ اٰسِنٍ ۚ وَاَنْهٰرٌ مِّنْ لَّبَنٍ لَّمْ يَتَغَيَّرْ

دَ اوبو نه چه نه په ګنده کیږی او ویالے دَ پیو نه چه نه په بدلیږی

په تلذذ کښې. په فرق نه کولو دَ حرامو او حلالو کښې، په اول کښې بسم الله نه ویل او په آخر کښې حمد او شکر نه کول، خوراک مقصد ګرځول، او دا رنګ په ولاړه باندے خوړل.

س۱۳ دا تسلّی ده نبی صلّی الله علیه وسلّم ته او تخویف دنیوی دے منکرینو ته. قَرْيَةٍ هِيَ اَشَدُّ قُوَّةً اشاره ده احقاف ته چه مخکښې سورت کښې تیر شول او دَ هغې په شان نورو واقعاتو مخکنو ته. اَهْلَكْنٰهُمْ هم ضمیر اهل قریه ته راجع دے چه حذف دے.

س۱۴ په دے کښې دَ تسلّئ او دَ تخویف (چه مخکښې ذکر شول) اسباب ذکر کوی او تقابل دَ فریقینو دے چه دَ مؤمنانو بوحال ذکر کوی او دَ کافرانو دوه حالات ذکر کوی. عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنْ رَّبِّهٖ اشاره ده چه مؤمنان دَ تقلید مذموم (تقلید جامد) نه بچ وی بلکه په دلیل پسے روان وی. كَمَنْ زُيِّنَ لَهٗ سُوْٓءُ عَمَلِهٖ یعنی شرك او بدعات ورته ثواب معلومیږی لکه سورة کهف س۱۰۴ سورة فاطر س۸ کښې تیر شوے دی. وَاتَّبَعُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ یعنی دَ عمل کولو دَ پاره دلیل دَ وحی نه لری او خواهش (هوی) خو دلیل نه دے.

طَعْمُهٗ ۚ وَاَنْهٰرٌ مِّنْ خَمْرٍ لَّذَّةٍ لِّلشّٰرِبِيْنَ ۚ وَاَنْهٰرٌ

خوند دَ هغې او ولې دی دَ شرابو چه مزه ورکوی څکونکو لره او ولې دی

مِّنْ عَسَلٍ مُّصَفًّى ۗ وَلَهُمْ فِيْهَا مِنْ كُلِّ

دَ ګبین چه صفا کړے شوے دے او دوی لره په هغې کښې دَ هر قسم

الثَّمَرٰتِ وَمَغْفِرَةٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ ۗ كَمَنْ هُوَ خَالِدٌ

میوه جات نو نه دی او بخشش دے دَ دوی دَ رب دَ طرف نه (آیا دا سے کس) پشان دَ هغه چا دے چه همیشه وی

فِى النَّارِ وَسُقُوْا مَآءً حَمِيْمًا فَقَطَّعَ اَمْعَآءَهُمْ ﴿١٥﴾

په اور کښې او څکولے کیږی په دوی باندے اوبه خوټکیدلے نو ټوټے ټوټے به کړی کولمے دَ دوی ۔

ف۱۵ ایت نه مخکښې بشارت په جنت سره ذکر وو او س دَ هغې تفصیل بیانوی او تقابل دے دَ فریقینو په جزاء کښې ۔ مَثَلُ الْجَنَّةِ دا مبتدا ده خبر ئې پټ دے (مَا تَسْمَعُوْنَ) یا همزه دَ استفهام محذوف دے او دا مبتداء ده او كَمَنْ هُوَ خَالِدٌ دا ئې خبر دے او مینځ کښې جمله حالیه ده ۔ فِيْهَا اَنْهٰرٌ مِّنْ مَّآءٍ غَيْرِ اٰسِنٍ دا صرف تفصیل دَ انواعو دَ مشروباتو ذکر کوی هر کله چه اول په مشروباتو کښې محبوب او به دی نو هغه ئې اول ذکر کړے ۔ غَيْرِ اٰسِنٍ په خلاف دَ اوبو دَ دُنیا نه چه خوند ئې کله دَ اصل نه بدل وی او کله په عارض سره بدل شی لکه په یو ځائے ډیرے حصارے شی یا لهه پکښې پیدا شی ۔ وَاَنْهٰرٌ مِّنْ لَّبَنٍ دَ اوبو نه روستو زیات نزدے هر طبیعت ته پئې (شودهٔ) څکل دی نو دویم ئې ذکر دَ پیو اوکړو لَمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهٗ په خلاف دَ پیو دَ دینا چه کله دَ غولانزے نه راوځی او خوند ئې خراب وی یا ډیر وخت پرے تیر شی نو خراب شی ۔ دَ اوبو صفت (غیر اسن) په صیغه دَ اسم سره ذکر وو او دَ پیو صفت (لم یتغیر) په صیغه دَ فعل سره ذکر کړو اشاره ده چه دَ اوبو دَ جنت په دغه صفت همیشه وی او جنتیان به هم دَ هغې خوند بدلول نه غواړی او دَ پیو خوند به پخپله نه بدلیږی لیکن که جنتیان غواړی چه ماسته شو ملے وغیره ډِ ترینه جوړے شی نو جوړیدے شی ۔ وَاَنْهٰرٌ مِّنْ خَمْرٍ هر کله چه عام طبیعتونه دَ میوو او غلو نه ویستلے شوے رَس غواړی چه دَ هغې نه صورت دَ خمرو (شرابو) جوړیږی نو دریم ذکر ئې دَ هغې اوکړو لَذَّةٍ لِّلشّٰرِبِيْنَ یعنی دَ هغې رنګ یا خوند یا عاقبت په دلسے نه وی چه څکونکی دَ هغې نه نفرت (پاتے په بل مخ)

وَمِنۡهُمۡ مَّنۡ يَّسۡتَمِعُ اِلَيۡكَ ۚ حَتّٰۤى اِذَا خَرَجُوۡا مِنۡ

اوبعض خلق داسې دي چه غوږ کيږدي تاته (په جاسوسئ سره) تردے پورے چه هرکله اوځي ستا

عِنۡدِكَ قَالُوۡا لِلَّذِيۡنَ اُوۡتُوا الۡعِلۡمَ مَاذَا

دَ خوانه وائي هغه کسانو ته چه علم ورکړے شويدے دۀ څه

قَالَ اٰنِفًا ۚ اُولٰٓئِكَ الَّذِيۡنَ طَبَعَ اللّٰهُ

اُويل اوس دا هغه خلق دي چه مُهر وهلے دے الله تعالىٰ

اوکړي او په هغې کښې به ذاتي لذت پروت وي په خلاف دَ خمر دَ دنيا نه چه دَ هغې خوند او رنګ او عاقبت هم کريه وي ليکن په خارجي نورو څيزونو سره ئې پکښې عارضي لذت پيدا کړے وي. وَاَنۡهٰرٌ مِّنۡ عَسَلٍ هرکله چه عام طبيعتونه دَ مشروباتو خوګولے غواړي او دَ عام خوږو څيزونو خوږوالے عارضي دے دَ دے وجے اکثر اوقاتو کښې هغه مضر هم کيږدے شي او دَ عسل (ګبين) خوږوالے اصلي ذاتي دے او هغه شفاء او علاج دے بله دا چه عسل دَ مختلفو بوټو او ګلونو نه راويستلے رس وي نو مناسبت ئې دَ خمر و سره شته دے. مُّصَفًّى په صيغه دَ اسم مفعول دَ تصفيه نه راوړلو کښې مبالغه ده دَ هغې په صفائي کښې يعني ګويا چه صفا کوونکو هغې لره صفا کړے وي چه په هغې کښې به پکه او خسترې وغيره هيڅ نه وي. وَلَهُمۡ فِيۡهَا مِنۡ كُلِّ الثَّمَرٰتِ مخکښې ذکرشو مشروبات او دا اجمالي ذکر دے دَ مطعوماتو. وَمَغۡفِرَةٌ مِّنۡ رَّبِّهِمۡ اشاره ده چه په دُنيا کښې کله ميزبان (کوربه) په زړه کښې دَ ميلمنو نه خفه وي ليکن په جنت کښې به الله تعالىٰ دَ ټولو نه رضا وي او دَ دے وجې نه ګناهونه ئې ورته بخلے دي. كَمَنۡ هُوَ خَالِدٌ فِى النَّارِ دَ زجاج نه نقل دے چه تقدير دَ عبارت داسې دے اَفَمَنۡ كَانَ عَلٰى بَيِّنَةٍ مِّنۡ رَّبِّهٖ وَاُعۡطِىَ هٰذِهِ الۡاَشۡيَآءَ كَمَنۡ زُيِّنَ لَهٗ سُوۡٓءُ عَمَلِهٖ وَهُوَ خَالِدٌ فِى النَّارِ.

وَسُقُوۡا مَآءً حَمِيۡمًا دا په مقابله دَ مشروباتو دَ جنت کښې دے. دا داسې اوبه دي چه څوکنو ته ئې نزدے کړي نو مخ به ئې رويت پريت شي او دَ مخ څرمن به په هغې لوښي دَ اوبو کښې پريوځي لکه سورة کهف ۲۹ کښې تيرشويدي بيا به ورله دننه کولمے ټکړے ټکړے کړي. او په حديث کښې وارد دي چه دا ټکړے به دَ دوی نه لاندے اوځي (اللهم اجرنا من النارِ).

عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَاتَّبَعُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ ﴿۱۶﴾

په زړونو د دوی باندے او تابعداری کوی دوی د خواهشاتو خپلو .

وَالَّذِيْنَ اهْتَدَوْا زَادَهُمْ هُدًى وَّ

او هغه کسان چه هدایت والا دی زیاتی کوی الله تعالیٰ دوی لره هدایت او

اٰتٰىهُمْ تَقْوٰىهُمْ ﴿۱۷﴾ فَهَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّا السَّاعَةَ

ورکوی دوی ته (توفیق) د تقوی . نو انتظار نه کوی دا منکرین مگر د قیامت

اَنْ تَاْتِيَهُمْ بَغْتَةً ۚ فَقَدْ جَآءَ اَشْرَاطُهَا ۚ

چه راشی دوی ته ناساپه نو یقینا راغلی دی نخښے د هغے

س۱۶ دا تقسیم د کافرانو ته اشاره ده چه بعضے پکښ داسے عمل کوی او دا عمل د منافق دے د مِنْهُمْ ضمیر راجع دے الذین یتمتعون ویاکلون ته او په دے ایت کښ د دوی درے حالات ئے ذکر کړیدی. مَاذَا قَالَ اٰنِفًا یعنی د دوی توجه نه وی کلام د الله او د رسول ته په غفلت کښ وی نو پوهه نه لری او مراد د دے نه هغه کلام دے چه دوی واوریدلو یا مراد د دے نه هغه کلام دے چه د دوی د راوتلو نه روستو وؤ دوی د هغے تپوس کوی په دے خیال باندے چه زمونږ په غیبت کښ ئے څه ویلے دی. یا دا چه غفلت کښ نه وی لیکن په طریقه د استهزاء او د نفرت سره وائی. وائی چه دے نبی دا څه بے فائدے خبرے اوکړے. وَاتَّبَعُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ دا سبب دے د پاره د نه پوهیدلو په کلام د الله تعالیٰ او د رسول د هغهٔ یا دا استهزاء ده په هغے پورے او په س۱۴ کښ چه اتباع هویٰ ذکر کړے وه نو هغه سبب وؤ د پاره د تزیین د بد عمل د دوی.

س۱۷ دا په مقابله د مخکښ کښ د مؤمنانو دوه صفات ذکر کوی. زَادَهُمْ ضمیر الله تعالیٰ ته راجع دے یا استماع د قران ته. یعنی ایمان والا چه قران اوری نو الله تعالیٰ دوی لره په سبب د هغے سره ایمان زیاتوی ځکه چه دوی ئے په غفلت سره نه اوری او استهزاء هم نه کوی. وَاٰتٰهُمْ تَقْوٰهُمْ یعنی په قران اوریدلو سره طریقے د تقویٰ هم ایزده شی او د هغے توفیق ورته هم حاصل شی.

فَاَنّٰى لَهُمْ اِذَا جَآءَتْهُمْ ذِكْرٰىهُمْ ﴿۱۸﴾ فَاعْلَمْ اَنَّهٗ لَآ

نو د کوم ځائے نه به وی دوی لره کله چه قیامت راشی نصیحت اغستل د دوی. پس پوهه شه چه یقیناً نیشته

اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْۢبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَ

حقدار د بندګۍ سیوا د الله تعالیٰ نه او بخنه غواړه د پاره د بوج خپل او د پاره د مؤمنانو سړو او

---

۱۸ په دے کښ تخویف اخروی دے او ذکر د یو حال د کافرانو دے. فَهَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّا السَّاعَةَ
یعنی دا کافران هر کله چه اوس ایمان نه راوړی نو معلومیږی چه انتظار د قیامت کوی (دوی وائی) چه قیامت راشی نو بیا به ایمان راوړو اَنْ تَاْتِيَهُمْ بَغْتَةً دا بدل اشتمال دے د اَلسَّاعَةُ نه یعنی قیامت خو ناګهه راځی دوی ته بیا مهلت د توبے نشی ورکیدے بَغْتَةً هغه حال دے چه تاریخ معیین ئے معلوم نه وی نو انسان ورته تیارے نه وی کړے او ناساپه راشی اګرچه نښے ئے معلومے وی.
فَقَدْ جَآءَ اَشْرَاطُهَا شرط نښے د زخم ته وئیلے کیږی کله چه جوړ شی دلته مراد د هغے نه د قیامت واړه علامات دی چه اول په هغے کښ د نبی صلی الله علیه وسلم بعثت دے لکه چه صحیح حدیث کښ وارد دی (بُعِثْتُ اَنَا وَالسَّاعَةُ كَهَاتَيْنِ) نو نبی صلی الله علیه وسلم خورا اولیږلے شو او دا رنګ انشقاق القمر او دُخان دے او دا خو تیر شویئ د دے وجے نه جَآءَ په فعل ماضی سره ئے اوویل او هر کله چه اوله نښه موجوده شوه نو نورے ورپسے پرله پسے راځی د دے وجے نه جمع صیغه ذکر کړله. او نورے نښے په احادیثو کښ ذکر دی بعضے د هغو نه دا دی. علم د دین به پورته کړے شی. جهل به زیات شی. غریبان به مالداران شی. ربا خوړل او شراب څښل او زنا کول به ډیر شی. نارینه به کم شی. زنانه به ډیرے شی تر دے پورے چه د پنځوسو زنانو به یو سړے منتظم وی. امانت به برباد کړے شی یعنی کارونه به نااهلو ته اوسپارلے شی شهادت د دروغو او په دروغه قسمونه به ډیر شی مساجدو کښ به اوازونه اوچت کړے شی د ټنګ ټکور سامان به ډیر شی دوستان به نزدے کولے شی او مور و پلار او خپلوان به لرے کړے شی. نو دا نښے زمونږ زمانه کښ اکثر موجود دی لیکن اکثر مخلوق تر ینه بیا هم غافل دے. فَاَنّٰى لَهُمْ اِذَا جَآءَتْهُمْ ذِكْرٰىهُمْ، ذِكْرٰىهُمْ مبتدا دہ فانّٰی لهم خبر مقدم دے اذا جاءتهم شرط (معترض) دے لکه سورة فجر ۲۳ کښ دی.

الْمُؤْمِنٰتِ ؕ وَاللّٰهُ یَعْلَمُ مُتَقَلَّبَکُمْ وَمَثْوٰکُمْ ﴿۱۹﴾ ع وَ

دَ زنانو مومنو دَ پاره ، او الله تعالیٰ پیژنی ستاسو دَ گرځیدلو او دَ دیره کیدلو ځایونه ۔ او

سلا پـه دے کښی دعویٰ دَ توحید دہ چه هغه مقصد دَ مثال دے۔ ربط دَ مخکښی سره دادے چه دَ قیامت نزدے کیدل یئے ذکر کړل نو اوس دَ قیامت دَ عذاب نه دَ بیچ کیدلو دَ پاره طریقه کار ذکر کوی۔ نو تقدیر دَ عبارت دادے وَاِذَا ثبت ان الذکرٰی لا تَنْفَعُ وَقْتَ مجی الساعۃ فاعلم رالاٰن) رهر کله چه ثابته شوه چه کله قیامت راشی نو ذکرئ فائدہ نه ورکوی نو اوس په ذکرئ باندے علم حاصل کړئے۔ او اول او اهم ذکری کلمه دَ توحید دہ ۔ فَاعْلَمْ پیغمبر صلی الله علیه وسلّم ته خطاب دے او مراد تربیته امت دے یا مراد دَ دے نه په دے علم باندے کلک پاتے کیدل دی ۔ او علم دَ دے کلمے شامل دے علم ته په الفاظو دَ هغے باندے او په معنیٰ دَ هغے باندے او په هغے باندے عقیدہ ساتل او په مقتضیاتو دَ هغے باندے هم پوهه او عمل کول۔ او دا دلیل دے چه علم دَ توحید اول فرض دے او دا رنګ دا دلیل دے چه علم دَ قول او عمل نه مخکښی دے دَ دے وجے امام بخاری په ترجمۃ الباب کښی ذکر کړے دی باب العلم قبل القول والعمل او بیا یئے په دے ایت سره استدلال کړیدے۔ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْۢبِكَ استغفار قول دَ ژبے دے او عمل هم دے اشارہ دہ چه دَ علم سره استغفار په کثرت سره ضروری دے۔ لِذَنْۢبِكَ (سوال) نبی صلی الله علیه وسلّم خو معصوم دے نو هغه ته یئے دَ ذنب نسبت ولے اوکړو؟

جواب ۔ اول جواب دادے چه مراد دَ ذنب نه ګناه نه دے بلکه بوج دَ زړه او خفګان دے په سبب دَ شرک دَ مشرکانو او مخالفت دَ مخالفینو یعنی استغفر الله وایه دَ پاره دَ ختمولو دَ خفګان دَ زړه نه او دلیل په دے باندے حدیث دے ۔

انه لیُغان علی قلبی فاستغفر الله سبعین مرۃً اومأته مرۃ ریقینا زما په زړه باندے بوج او خفګان راځی نو ځکه او یا یا سل کرته استغفار وایم) دویم جواب مراد دَ ذنب نه افضل کار کله کله پریخودل دی اګر چه هغه ګناه نه دے لیکن دَ مقربینو دَ شان سره مناسب نه دے دریم جواب قرطبی ذکر کړے دے چه استغفار غواړه دَ پاره دَ بچ کیدلو دَ ګناه کولو نه ۔ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ دا شفاعت کول دی په دنیا کښی او اشارہ دہ چه هر مؤمن لره ضروری دی چه استغفار به دَ نورو مؤمنانو دَ پاره غواړی۔ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مُتَقَلَّبَكُمْ وَمَثْوٰىكُمْ دا دواړه الفاظ رپاتے په بل مخ)

يَقُولُ الَّذِينَ اٰمَنُوا لَوْلَا نُزِّلَتْ سُورَةٌ ۚ فَإِذَآ

وائي هغه خلق چه دعوی دَ ایمان کوی ولے نشی نازلیدلے یو سورت نو کوم وخت

اُنْزِلَتْ سُورَةٌ مُّحْكَمَةٌ وَّذُكِرَ فِيهَا الْقِتَالُ ۙ رَأَيْتَ

چه نازل کړیشی سورت پوخ مضمون والا او ذکر کړیشی په هغے کښ حکم دَ قتال وینے ته

الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَّرَضٌ يَّنْظُرُونَ إِلَيْكَ

هغه کسان چه په زړونو دَ هغوی کښ مرض دے گوری تا ته

نَظَرَ الْمَغْشِيِّ عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ ۖ فَأَوْلٰى لَهُمْ ﴿٢٠﴾

پشان دَ نظر کولو دَ هغه چا چه بیهوشی ورباندے راغلے وی دَ مرګ دَ وجے ته نو تباهی ده دوی لره۔

ډیرو معانو ته شامل دی ۲ کرځیدل دَ ورځے او ځائے دَ ارام کولو دَ شپے ۲ عملونه ستاسو په دُنیا کښ او مرجع په قبر او په قیامت کښ ۳ کرځیدل په سفر کښ او اقامت کول په یو ځائے کښ یعنی ستاسو په ټولو حالاتو باندے الله تعالیٰ عالم دے دَ دے وجے نه دَ هغه دَ توحید دَ الوهیت علم ضروری دے او استغفار غوښتل پکار دی. دا رنګ په دے کښ اشاره ده چه علم او عمل په تاسو باندے فرض دے او هرچه دَ هغے عاقبت او نتیجه ده نو هغه دَ الله تعالیٰ په علم او اختیار کښ ده۔

۲۰ دَ دے ایت نه دویم باب دے تر اخر دَ سورت پورے په دیکښ زواجر دَ منافقینو دی په ذکر دَ اتلس قبائحو دَ هغوی سره او ترغیب دے قتال ته په ۳۳ ۳۵ کښ او ترغیب دے انفاق ته سره دَ تزهید فی الدنیا نه۔

تفسیر په دے (۲۰) کښ زجر دے منافقینو ته په ذکر دَ څلور و حالاتو دَ هغوی سره الَّذِينَ اٰمَنُوا دا قول دَ مخلصانو مؤمنانو دے دَ پاره دَ شوق دَ جهاد او دَ حرص په وحی اوریدلو باندے دا طلب کوی یا مراد دَ دوی نه منافقان دی چه طلب دَ نزول دَ سورت په طریقه دَ منافقت سره کوی لکه سورة نساء ۷۷ کښ ذکر دی۔ مُّحْكَمَةٌ چه ښکاره مراد والا وی او نه منسوخ کیږی۔ فِي قُلُوبِهِمْ مَّرَضٌ نفاق او بزدلی دَ چه دَ هغے اثرئے روستو ذکر کړے دے الْمَغْشِيِّ عَلَيْهِ مِنَ الْمَوْتِ دَ مرګ په وخت کښ بے هوشی راشی یا دَ ویرے دَ مرګ نه بے هوشه شی نو دَ هغه سترګے نیغے او وازے وی یو طرف ته او دا رنګ دَ بزدل سړی دَ ویرے دَ

طَاعَةٌ وَّقَوْلٌ مَّعْرُوْفٌ فَاِذَا عَزَمَ الْاَمْرُ فَلَوْ

(ښکاره ده) دوی لره تابعداري کول او وينا نيکه نو کوم وخت چه پوخ شو حکم دَ قتال نو که چرې

صَدَقُوا اللّٰهَ لَکَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ﴿۲۱﴾ فَهَلْ عَسَيْتُمْ

رښتني کړې وو دوی لوظ دَ الله تعالیٰ ضرور به غوره وو دوی لره . نو يقيناً نزدې يئ تاسو

اِنْ تَوَلَّيْتُمْ اَنْ تُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ وَتُقَطِّعُوْٓا

که چرې مخ واړوئ چه فساد به اوکړئ په ملک کښ او پرې به کړئ

اَرْحَامَکُمْ ﴿۲۲﴾ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَعَنَهُمُ اللّٰهُ فَاَصَمَّهُمْ

خپلولے ستاسو . دا هغه خلق دي چه لعنت کړيدے الله تعالیٰ په دوی باندې نو کانړه يئ کړل دوی

وجه نه سترګے وازے وي او يو طرف ته ګوري فَاَوْلٰى لَهُمْ اصمعي ويلے دي چه دَ دے معنیٰ داده چه قريب شو دوی ته هغه څيز چه هلاکوي دوی لره نو اَوْلٰى فعل ماضي لازمي ده او فاعل يئ حذف دے يا فعل ماضي متعدي ده ضمير فاعل الله تعالیٰ ته راجع دے او هلاک مفعول يئ حذف دے. يا اولى په معنیٰ دَ ويل سره مصدر دے يا اَوْلٰى په معنیٰ دَ زيات لائق دے او مبتدا حذف ده يعني العقاب اَوْلٰى لَهُمْ يا اَوْلٰى په معنیٰ لائق سره دے او خبر دے مقدم او مبتدا يئ طاعت دَ قول معروف دے.

۲۱ طَاعَةٌ ا ه دَ دے دَ پاره خبر حذف دے يعني خَيْرٌ لَّهُمْ. يعني که چرے دوی دَ جهاد نه ويره نه کولے بلکه طاعت يئ کړے وے نو ډير خير به وؤ. او مراد طاعة نه طاعت دَ الله تعالیٰ او دَ رسول دے عموماً او خاص په معامله دَ جهاد کښ.

مَعْرُوْفٌ هغه څيز دے چه شرعاً معلوم وي ښائيست دَ هغے. فَاِذَا عَزَمَ الْاَمْرُ پوخ شو حکم دَ جهاد يعني فرض کړے شو په داسے طريقه چه بيا نه منسوخ کيږي. فَلَوْ صَدَقُوا اللّٰهَ. دا لو له جمله جزاء دَ اذا ده مراد دَ صدق نه اخلاص کول دَ ايمان او دَ جهاد دي. لَوْ دلالت کوي په امتناع دَ دواړه جزئينو دَ جملے نو معلومه شوه چه دوی صادق نه دي نو دا دَ منافقينو بل حال دے.

۲۲ مراد دَ توليتم نه اعراض دَ کتاب الله او دَ جهاد نه دے دا قول دَ قتاده دے نو په دے ايت کښ اشاره ده ناکاره نتائجو ته دَ اعراض دَ کتاب الله (پاتے په بل مخ)

وَأَعْمَىٰ أَبْصَارَهُمْ ﴿٢٣﴾ أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ أَمْ

او ړندې يې کړې سترګې د دوی ایا دوی سوچ نه کوی په قران کښې بلکه

عَلَىٰ قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا ﴿٢٤﴾ إِنَّ الَّذِينَ ارْتَدُّوا عَلَىٰ

په زړونو د دوی باندې جړندې د هغې دی۔ یقیناً هغه کسان چه واوړیدل (د ایمان نه) په

او د جهاد نه. یعنی که چرې تاسو د قران نه مخ واړوئ او جهاد پریږدئ نو په ملک کښې په ګناهونو او بغاوت او ناحق قتلونو ډیر شی او دا فساد دې او خپلولې به ختم شی یعنی په خپلوانو باندې به ظلم شوروشی څو یل باندې به لوټ مار کیږی پشان د جاهلیت. یا مراد د تولیتم نه والیان کیدل دی یعنی منافقانو ته چه ولایت افسری ملاوشی نو فسادونه به کوی په مخالفت د قران او سنت سره او په ظلمونو کولو او په رشوتونو اغستلو سره۔ نو په ایت کښې دا دوه حالات د منافقانو ذکر دی چه په اعراض کولو یا په ولایت حاصلولو سره پیدا کیږی۔

فائده:- احکام قرطبی وئیلی دی چه ارحام دوه قسمونه دی اول عام دویم خاص دې عام رحم یعنی تعلق د دین اسلام دې او دا د ټولو مسلمانانو حق دې او خاص خو صرف د نسبی خپلوانو حق دې۔

س ۲۳ ـ ۲۴ دا نور صفات د منافقانو دی په دواړو ایاتونو کښې یې پنځه ذکر کړې دی.

أُولَٰئِكَ دا اشاره ده تیرشوی صفتونو والو ته یعنی ماقبل (افساد او قطع الارحام) سبب د لعنت دې او لعنت سبب د اصمام او عمی د سترګو دې حرف د فا په دې ترتیب او سببیت باندې دلیل دې۔

فائده، فاصمهم اذانهم یې او نه وئیل اشاره ده چه په غوږ پریکولو سره اوریدل نه فوت کیږی او په سترګه لرکولو سره نظر ختمیږی۔ أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ، همزه استفهام انکاری دې نفی د تدبر ترینه مراد ده او حرف فا دلالت کوی چه اصمام او عمی سبب دې د نفی د تدبر د قران او په دې کښې اشاره ده چه مقصد د قران صرف تلاوت د الفاظو نه دې بلکه تدبر او سوچ کول دی په معانی او مقاصدو او حکمتونو د هغه کښې او دا رنګ سورة نساء س ۸۲ کښې تیرشویدی۔ أَمْ عَلَىٰ قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا أَمْ په معنیٰ د بَلْ سره دې د پاره د ترقی په سبب د نفی د تدبر د قران کښې یعنی د تدبر نه کولو حقیقی وجه داده چه د دوی په زړونو باندې جړندې وهلې شویدی۔

أَدْبَارِهِم مِّن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدَى

شا ګانو خپلو باندے روستو دَ دے نه چه ښنه ښکاره شو دوی ته هدایت

الشَّيْطَانُ سَوَّلَ لَهُمْ وَأَمْلَى لَهُمْ ﴿٢٥﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ

شیطان ښولی کړیدی دوی ته (عملونه دَ دوی) او مهلت ئے ورکړیدے دوی ته- دا دَ دے وجے نه چه یقیناً دوی

قَالُوا لِلَّذِينَ كَرِهُوا مَا نَزَّلَ اللَّهُ سَنُطِيعُكُمْ فِي

وائي هغه کسانو ته چه بد ګڼړی هغه چه نازل کړیدے الله تعالی موږ به ستاسو خبره او منو په

لکه جرنده (تاله) چه دروازه باندے اوهلے شی نو دننه هیڅ خیز نه شی داخلیدلے نو دارنګ دَ دوی زړونو ته دننه حق خبره نه داخلیږی۔

فائده: قلوب نکره ده په سیاق دَ اثبات کښ ده یعنی په بعضے زړونو باندے قفل وهی۔ او أَقْفَالُهَا ئے مضاف کړیدے ضمیر دَ قلوب ته اشاره ده چه مراد دَ دے نه جرندے دَ او سپنے نه دی بلکه جرندے چه مناسب وی دَ زړونو سره یعنی جرندے دَ کفر او عناد کولو۔

ف۲۵ دا هم زجر دے منافقانو ته او ارتداد دَ هغوی دا دے چه دَ قران نه فرضیت دَ قتال ورته معلوم شو او بیا ئے هم اعراض اوکړو او سبب دَ ارتداد ئے ذکر کړو سَوَّلَ او أَمْلَى نو په دے ایت کښ دَ منافقانو درے حالات ذکر شول۔

سَوَّلَ لَهُمْ تسویل نه مراد خائسته کول سرهٔ دَ اسانولو نه دی۔ وَأَمْلَى لَهُمْ سوال۔ مهلت ورکوونکے الله تعالی دے نو شیطان ته ولے نسبت اوشو؟

اول جواب دا دے چه أَمْلَى ضمیر الله تعالی ته راجع دے په قرینه دَ ف۱۷۸ دَ سورة آلعمران او ف۵۵ دَ سورة مؤمنون۔

دویم جواب دا دے چه ضمیر شیطان ته راجع دے چه شیطان مهلت ورکوی یعنی په وسوسو سره دَ انسان نه مرګ هیر کړی او دَ دے تائید په سورة اعراف ف۲۰۲ کښ دے۔

سَوَّلَ کښ اشاره ده اعمالو دَ شرک او بدعاتو ته چه هغے ته دوی ګناهو نه وائي دَ دے وجے نه توبه نه اوباسی او أَمْلَى کښ اشاره ده انهماك دَ دوی په خواهشاتو او شهواتو نفسیاتو کښ چه توبے کولو نه غافل دی۔

بَعْضِ الْاَمْرِ ۚ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اِسْرَارَهُمْ ﴿۲۶﴾ فَكَيْفَ اِذَا

بعض کارونو کښې او الله تعالیٰ پوهیږی دَ دوی په پټو خبرو کولو باندے. نو څرنګ حال به دوی وی هغه وخت

تَوَفَّتْهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ يَضْرِبُوْنَ وُجُوْهَهُمْ وَاَدْبَارَهُمْ ﴿۲۷﴾

چه ساه اخلی دَ دوی نه ملائک دَ مرګ وهی به مخونه دَ دوی او شاګانے دَ دوی.

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمُ اتَّبَعُوْا مَآ اَسْخَطَ اللّٰهَ وَكَرِهُوْا

دا په دے وجه چه یقیناً دوی تابعداری کړیده دَ هغه کار چه خفه کړی یے الله تعالیٰ او بد ګڼلی دوی

رِضْوَانَهٗ فَاَحْبَطَ اَعْمَالَهُمْ ﴿۲۸﴾ ع اَمْ حَسِبَ الَّذِيْنَ

رضا دَ الله تعالیٰ نو بے فائدے کړیدی عملونه دَ دوی. آیا ګمان کوی هغه کسان

رکوع ۳

سـ۲۶ په دے ایت کښې هم زجر دے منافقانو ته او سبب دَ تسویل الشیطان ذکر کوی چه هغه دَ بے دینو خلقو سره په بے دینئ کښې تعاون کول دی یا دَ تعاون کولو وعده کول دی. کَرِهُوْا مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ دَ دوی ذکر دَ دے سورت په ایت سـ۹ کښې تیر شویدے او هغه ښکاره کافران او مشرکان دی. بَعْضِ الْاَمْرِ مراد ترینه مخالفت دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم او خلقو لره دَ هغه دَ طاعت نه منع کول او دَ جهاد نه منع کول دی اظهار دَ شرک ترینه مراد ندے. اِسْرَارَهُمْ دا خبره دوی پټه کوله او دا رنګ نور منافقونه دوی پټ ساتلے دی هغه دلته مراد دی.

سـ۲۷ دا تخویف دَ حال دَ زنکدن دے. او حرف دَ فَا دلیل دے چه دا عذاب به په سبب دَ مخکښې ذکر شوی صفاتو او احوال سره وی. تخصیص دَ مخونو او شاګانو په دے وجه سره دے چه په وخت دَ اعلانِ قتال کښې دَ دوی په مخونو باندے اثار دَ خفګان ښکاره کیده او دغه مخ به یئ. بچ کوو هسے نه چه په قتال کښې په هغې باندے ګذار او لګی او شا به یئ ګرځوله په وخت دَ تختیدلو کښې نو په دے ایت کښې دَ دوی بو حال ذکر شو. دا رنګ په سورة انفال سـ۵۰ کښې هم تیر شویدی.

سـ۲۸ په دے ایت کښې دَ دوی درے حالتونه ذکر کوی او هغه اسباب دی دَ تیر شوی عذاب (ضرب دَ مخونو او دَ شاګانو) په طریقه دَ لف نشر مرتب سره یعنی وهل دَ مخونو په سبب دَ اتباع دَ مَا اسخط سره دی او وهل دَ شاګانو په سبب دَ کراهت دَ رضا دَ الله تعالیٰ دی او په دغه دواړو باندے احباط دَ عمل مرتب کړے دے.

فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ اَنْ لَّنْ يُّخْرِجَ اللّٰهُ اَضْغَانَهُمْ ﴿۲۹﴾

چه په زړونو دَدوی کښې مرض (کینه) دے چه را ښکاره نه کړی الله تعالیٰ کینے دَدوی (دَ مؤمنانو سره)

وَلَوْ نَشَآءُ لَاَرَيْنٰكَهُمْ فَلَعَرَفْتَهُمْ بِسِيْمٰهُمْ ؕ وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ

او که مونږ او غواړو نو او به ښايو تاته دوی نو او به پیژنے دوی لره په نخښو دَدوی سره، او ضرور ته به ئې او پیژنے

فِيْ لَحْنِ الْقَوْلِ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اَعْمَالَكُمْ ﴿۳۰﴾ وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ

په چالاکو خبرو کښې او الله تعالیٰ پوهه دے په عملو ستاسو۔ او ضرور از میښت کوؤ مونږ په تاسو باندے

اتَّبَعُوْا مَآ اَسْخَطَ اللّٰهَ سبب دَ غضب دَ الله تعالیٰ کفر کول دی او دَ هغې سره خداع او فساد او په مؤمنانو پورے استهزاء ئې کولے کړیدی۔ وَكَرِهُوْا رِضْوَانَهٗ سبب دَ رضا دَ الله تعالیٰ ایمان، توحید، اخلاص او اتباع دَ قران او سنت ده هغه دوی بد ګڼړی۔

فائده۔ رضوان ئې په صیغه دَ اسم سره او اسخط په صیغه دَ فعل سره ذکر کړیدی اشاره ده چه رضا دَ الله تعالیٰ غالبه ده په غضب دَ هغه باندے۔ اَعْمَالَهُمْ دَ دے نه مراد هغه اعمال حسنه دی چه منافقان ئې دَ نفاق دَ وجے کوی۔

۲۹ په دے کښې زجر دے او ذکر دَ یو حالت دَ منافقانو دے۔ او په دے سره دَ منافقانو ګیله ختموی۔ دوی وائی چه زمونږ قبائح ښکاره نه دی پکار۔ نو الله تعالیٰ او فرمائیل چه دا ګمان دَ دوی غلط دے چه مونږ به دَ دوی قبائح نه ښکاره کوؤ۔ مَرَضٌ، نفاق او حسد او بغض دَ مؤمنانو سره دَ دوی دَ زړه مرض دے ځکه چه روستو لفظ اَضْغَانَهُمْ په هغې باندے دلالت کوی یعنی دا ټول صفات دَ منافقت دَ دوی دَ مؤمنانو سره دَ کینے کولو دَ وجے نه دی۔

۳۰ هر کله چه دَ منافقینو بعضے علامات او صفات ذکر شول او ټول ئې بیان نه کړل دَ دے وجه ذکر کوی په دے ایت کښې لَاَرَيْنٰكَهُمْ مراد دَ دے نه خود دَ ټولو علاماتو دی لیکن لو دلالت کوی په امتناع دَ دواړو جملو یعنی دَ الله تعالیٰ مشیت په دے باندے نیشته نو ټول علامات دَ دوی دَ معرفت ئې تاته نه دی خودلی۔ فَلَعَرَفْتَهُمْ بِسِيْمٰهُمْ دا عطف دے لَاَرَيْنٰكَهُمْ باندے لیکن هر کله چه په هغې کښې معنیٰ دَ انتفاء ثابته شوه نو په دے جمله کښې هم معنیٰ دَ انتفاء ده یعنی ته ئې په علاماتو سره نه پیژنے۔ وَلَتَعْرِفَنَّهُمْ فِيْ لَحْنِ الْقَوْلِ دا ذکر دے دَ یو علامت خاصه یعنی په وخت دَ لحن القول کښې به ئې ضرور پیژنے (باتے په بل مخ)

حَتّٰى نَعۡلَمَ الۡمُجٰهِدِيۡنَ مِنۡكُمۡ وَالصّٰبِرِيۡنَ وَنَبۡلُوَا۟

تر دے پورے چه جدا کړو مونږ جهاد کوونکي ستاسو نه او صبر کوونکي او ښکاره به کړو مونږ

اَخۡبَارَكُمۡ ﴿۳۱﴾ اِنَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا وَصَدُّوۡا عَنۡ سَبِيۡلِ

(حقيقت) دَ خبرونو ستاسو. يقيناً هغه کسان چه کفر ئې کړيدے او منع کوی خلقو لره دَ لار

سوال :- دا جمله دلالت کوی چه نبی صلّی الله علیه وسلّم ټول منافقان پیژندل او دَ
ایت دَ سورة توبه سا۱۰۱ نه صراحتًا معلومیږی چه هغه ټول نه پیژندل؟
جواب :- دَ دے جواب ابن کثیر سورة توبه کښ لیکلے دے دَ هغے حاصل دادے چه دا
دَ باب دَ توسم نه دے (یعنی په نخه سره پیژندل) او دَ دے نه دا نه لازمیږی چه
ټول منافقانو په تعیین او په تفسیر سره پیژنی. حاصل دَ جواب دادے چه په لحن
القول سره پیژندلے شی لیکن هر یو منافق په هر وخت کښ لحن القول نه کوؤ
دَ دے وجے نه په ټولو باندے علم حاصل نه شو.
سوال :- حدیث دَ مسند احمد کښ چه نبی صلّی الله علیه وسلّم دَ جُمعے په ورځ یو
یو منافق ته آواز وکړو او دَ مسجد نه ئې اوشړلو او شپږ دیرش کسانو نومونه ئې
واغستل نو معلومه شوه چه ټول منافقان ئې او پیژندل؟
جواب :- دَ دے نه معلومه شوه چه نبی صلّی الله علیه وسلّم بعضِ منافقان پیژندلے
وؤ ټول ئې نه وؤ پیژندلی. لَحۡنِ الۡقَوۡلِ. لَحۡن مائل کول دَ کلام دی دَ ظاهری
معنی نه بلے معنی ته. ابو حیان وئیلی دی مراد ترینه هغه کلمات دی چه ظاهرًا خائسته
وی او مراد ترینه قبیح وی لکه راعنا وغیره. لَحۡن ورانے او چالاکے دَ خبرو ته وئیلے کیږی
او لَحۡن خطائې او غلطے دَ کلماتو ته هم وئیلے کیږی دا ټولے معانی دلته مراد کیدیشی.
وَاللّٰهُ يَعۡلَمُ اَعۡمَالَكُمۡ اضافت دَ پاره دَ استغراق دے یعنی ستاسو په ټولو عملونو ظاهری
او باطنی باندے صرف الله تعالٰی علم لری دا دلیل دے چه پیغمبر هم په ټولو اعمالو
دَ مخلوق باندے علم نه لری.
سا۳۱ :- مخکښ ایت کښ دَ معرفت دَ منافقانو دَ پاره یو علامت ذکر کړے وؤ په دے
ایت کښ دَ دے معرفت او تمیز دَ پاره بله طریقه ذکر کوی چه هغه ابتلاء ده په
مصیبتونو سره یا په عبادتونو او په فرضیت دَ جهاد سره او ابتلاء دَ الله تعالٰی
دَ حقیقت ښکاره کولو دَ پاره وی دَ دے وجے حَتّٰى نَعۡلَمَ راوړو مراد دَ علم نه علم دَ

اللّٰهِ وَشَآقُّوا الرَّسُوْلَ مِنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْهُدٰى

دَ الله تعالیٰ نه او خلاف کوی دَ رسول نه روستو دَ دے نه چه ښهٔ ښکاره شو دوی ته هدايت

لَنْ يَّضُرُّوا اللّٰهَ شَيْـًٔا ؕ وَسَيُحْبِطُ اَعْمَالَهُمْ ﴿۳۲﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

هيڅرے ضرر نه شي ورکولے الله تعالیٰ ته هيڅ قسم او ضرور بے فائدے به کړي عملونه دَ دوی ۔ اے ايمان

اٰمَنُوْٓا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَلَا تُبْطِلُوْٓا

والو اطاعت کوئ دَ الله تعالیٰ او اطاعت کوئ دَ رسول او مه بربادوئ

اَعْمَالَكُمْ ﴿۳۳﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ

عملونه خپل (په مخالفت دَ دے دواړو) يقيناً هغه کسان چه کفر ئے کړے دے او منع کول کوی دَ لارے

اظهار او دَ تميز دے ۔ اَلْمُجَاهِدِيْنَ عام دے قتال او نورو سختو اعمالو شرعيو ته ۔ وَنَبْلُوَا اَخْبَارَكُمْ اخبار په معنیٰ دَ باطنی حالاتو دے چه اخلاص او نفاق وغيره دی يعنی جهاد او صبر ظاهری اعمال دی او اخلاص، نفاق باطنی اعمال دی دا ټول په ابتلاءاتو سره ښکاره کيږی ۔ دَ فضيل بن عياض رحمة الله عليه نه نقل دے چه هغه به دا آيت اولوستلو نو ژړا به ئے اوکړه او دُعا به ئے کوله چه يا الله تعالیٰ زمونږ پټ حالات مه ښکاره کوه دَ پاره دَ دے چه شرمنده نه شو ۔

۳۲ په دے آيت کښ زجر دے منافقانو او ټولو کافرانو ته او دَ دوی پنځه حالات ذکر کوی ۔ وَشَآقُّوا الرَّسُوْلَ مشاقة دَ شقاق او دَ شِق نه ماخوذ دے يعنی مخالفت دَ رسول او دَ سنت دَ رسول په ضد او په عناد سره کوی په دا سے طريقے سره چه خپله لار دَ نبی دَ لارے نه په بل جانب اوګرځوی ۔ وَسَيُحْبِطُ اَعْمَالَكُمْ مراد دَ دے نه هغه کيدونه او مکرونه دی چه په دشمنیٔ دَ رسول الله صلّی الله عليه وسلّم کښ دوی کوی ۔

۳۳ هر کله چه دَ منافقانو احوال ئے ذکر کړل نو اوس مؤمنان منع کوی دَ صفاتو دَ منافقانو نه او ترغيب ورکوی اطاعت دَ الله تعالیٰ او دَ رسول دَ هغه ته ۔ وَلَا تُبْطِلُوْٓا اَعْمَالَكُمْ مراد دَ دے نه تحذير دے دَ صفاتو دَ منافقانو نه چه مخکښ بيان کړے شول چه هغه سبب دَ بطلان دَ عملونو دے ۔ بيا دا جمله عامه ده هر ابطال ته شامله ده که په مخالفت دَ الله تعالیٰ او دَ رسول سره وی او که په (پاتے په بل مخ)

اللّٰهِ ثُمَّ مَاتُوْا وَهُمْ كُفَّارٌ فَلَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ ﴿۳۴﴾ فَلَا

دَ الله تعالیٰ نه بیا مړه شي په داسې حال کښې چه کافر وي نو هیچرې بخنه نه کوي دوی ته الله تعالیٰ . نو کمزوري

تَهِنُوْا وَتَدْعُوْٓا اِلَى السَّلْمِ ۖ وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ ۖ وَاللّٰهُ

مه ښکاره کوئ او بلنه مه کوئ صلح کولو ته (دَ وجې دَ سستۍ نه) او حال دا چه تاسو اوچت یئ او الله تعالیٰ

مَعَكُمْ وَلَنْ يَّتِرَكُمْ اَعْمَالَكُمْ ﴿۳۵﴾ اِنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا

ستاسو ملګرې دې او هیچرې نه کمه وي ثواب دَ عملونو ستاسو . یقینًا ژوند دنیوي

مرتد کیدلو سره او که په شرك او کفر کولو سره وي .

فائده :- یو نفل یا سنت مونځ چه شورو وي او په دغه وخت دَ فرض جماعت شورو شي نو نفل او سنت به في الحال پرېږدي روستو ولې به نه کوي دَ پاره دَ عمل کولو په دې حدیث "اذا اقیمة الصلوٰة فلا صلوٰة الا المکتوبة" او دې ته ابطالِ عمل ویل جائز نه دي بلکه دا خو موافقت کول دي په حدیث صحیح باندې . او دا رنګ نفل عمل نه پوره کول روستو دَ شورو کولو نه (سیوا دَ حج او عمرې) دا ابطال دَ عمل نه دې بلکه ترك دَ عمل اختیاري دې .

۳۴ روستو دَ خطاب دَ مؤمنانو نه زجر دې کافرانو ته . مخکښې ۳۲ په باره دَ ضدیانو عنادیانو کښې وو او دا په باره دَ جاهلانو کافرانو کښې دې . فَلَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ اشاره ده که چرې دَ مرګ نه مخکښې یې دَ کفر نه صحیح توبه کړې وي نو الله تعالیٰ به ورته بخنه کړې وې .

۳۵ هر کله چه دَ کافرانو خباثتونه یې ذکر کړه نو اوس مؤمنانو ته تشجیع ورکوي په جهاد کولو او منع کوي دوی لره دَ بې همته کیدلو نه . فَلَا تَهِنُوْا دا په سورة آل عمران ۱۳۹ کښې هم تیر شویدې وهن کمزوري ښکاره کول دي دُشمن ته او حدیث کښې دَ وهن دوه اسباب ذکر شویدي ۱ محبت دَ دنیا ۲ ویره کول دَ مرګ نه . وَتَدْعُوْٓا اِلَى السَّلْمِ دا دَ وهن یو صورت دې چه پخپله صلح کولو ته دعوت ورکوي نو دا وهن دې او دَ دې آیت دَ آیت دَ سورة انفال ۶۱ سره مخالفت نیشته ځکه چه هلته یې شرط لګولې دې چه کافران هر کله دَ صلح طلب کوي نو بیا صلح کول جائز دي او دلته مراد دا دې چه تاسو دَ اول سر نه طلب دَ صلحې مه کوئ . دَ دې وجې نه په حدیبیه کښې صلح په طلب دَ کافرانو سره شوې وه .

لَعِبٌ وَّلَهْوٌ ۚ وَاِنْ تُؤْمِنُوْا وَتَتَّقُوْا يُؤْتِكُمْ اُجُوْرَكُمْ

لوبے او مشغله ده او که تاسو ایمان راوړو او تقویٰ مو اوکړه نو دربه کړی تاسو ته ثوابونه ستاسو

وَلَا يَسْـَٔلْكُمْ اَمْوَالَكُمْ ﴿۳۶﴾ اِنْ يَّسْـَٔلْكُمُوْهَا فَيُحْفِكُمْ

او نه غواړی الله تعالیٰ ستاسو نه مالونه ستاسو ۔ که چرے او غواړی ستاسو نه مالونه او زور درباندے اوکړی

وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ اوچت والے په عزت او په مرتبه کښ دے په نیز دَ الله تعالیٰ یعنی ستاسو مرتبه په نیز دَ الله تعالیٰ اوچته ده نو سپک کار مه کوئے۔ یا مراد اوچت والے دے په حجت او دلیل کښ۔ یا مراد دَ دے نه غلبه ده په عاقبت کښ اگر چه بعض اوقاتو کښ دَ بعض عوارضو دَ وجے نه مؤمنان مغلوب شی. او تشجیع دَ پاره ئے درے علتونه ذکر کړے دی اول انتم الاعلون ۔ دویم والله معکم ۔ دریم ولن یترکم اه۔

وَاللّٰهُ مَعَكُمْ په معنیٰ دَ ملگرتیا او مدد کولو سره استعمالیږی او دا ښکاره معنیٰ ده تاویل نه دے نو معلومه شوه چه معیّت دَ متشابهاتو نه نه دے لکه چه امام بخاری او نور سلفو هم دا معنیٰ ذکر کړے ده او دَ بعضو علماؤ په نیز دا دَ متشابهاتو نه دے یعنی معیّت نه معنیٰ ظاهری مراد ده او کیفیت دَ هغې باندے الله تعالیٰ ښه پوهیږی لیکن دا توجیه ضعیفه ده ځکه چه په عقیده دَ فوقیت دَ الله تعالیٰ کښ شبه پیدا کوی۔

وَلَنْ يَّتِرَكُمْ اَعْمَالَكُمْ دا په مقابل دَ سیحبط اعمالهم کښ دے او مراد دَ دے نه ثواب دَ اعمالو صالحو دے۔

۳۶ په دے ایت کښ تزهید فی الدنیا ذکر کوی ځکه چه محبت دَ دنیا سبب دَ وهن دے او دا رنگ ترغیب ورکوی انفاق فی سبیل الله ته. اِنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا هغه ژوند او هغه سامانونه چه دَ دین دَ پاره نه خرچ کیږی هغه دلته مراد دی۔

لَعِبٌ وَّلَهْوٌ دا دواړه په دے مفهوم کښ شریک دی چه په بے فائدے خیز باندے مشغوله کیدل دی لیکن په لعب کښ ځان خوشحالول مقصد وی او دا اکثر دَ وړو بچو کار وته وی او په لهو کښ صرف ځان مشغولول وی سرور او خوشحالی پکښ مقصد نه وی او دا دَ ځوانانو او دَ مشرانو خلقو کار دی۔ یا مراد دَ ایت نه تشبیه ده دَ زر ختمیدلو دَ ژوند دَ دنیا یعنی دا ژوند دا سے زر ختمیږی لکه دَ لعب او لهو وخت چه لگ وی او زر ختم شی۔ وَاِنْ تُؤْمِنُوْا وَتَتَّقُوْا اشاره ده چه هر کله دَ ژوند دنیوی سره ایمان او تقویٰ جمع شی نو بیا په رپاتے په بل مخ)

تَبْخَلُوْا وَيُخْرِجْ اَضْغَانَكُمْ ﴿۳۷﴾ هٰۤاَنْتُمْ هٰۤؤُلَآءِ تُدْعَوْنَ

نو بخل به اوکړئ او راښکاره به کړی کینے ستاسو۔ خبر شئ تاسو اے خلقو را بللے کیدلے شئ

لِتُنْفِقُوْا فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ فَمِنْكُمْ مَّنْ يَّبْخَلُ ۚ وَ

د پاره د دے چه خرچه اوکړئ په لار د الله تعالیٰ کښ نو بعض ستاسو نه هغه دی چه بخل کوی او

مَنْ يَّبْخَلْ فَاِنَّمَا يَبْخَلُ عَنْ نَّفْسِهٖ ؕ وَاللّٰهُ الْغَنِىُّ

چا چه بخل اوکړو نو یقیناً بخل کوی (چه را وځی) د نفس د هغه نه او الله تعالیٰ بے حاجته دے

هغه سره ډیرے فائدے حاصلیږی۔ او په تقویٰ سره مراد په دے ایت کښ د بزدلے او وهن او د بخل نه بچ کیدل دی په جهاد او انفاق کولو سره۔ وَلَا يَسْئَلْكُمْ اَمْوَالَكُمْ په دیکښ څلور توجیهات دی اوله دا ده چه ستاسو نه ټول مالونه نه غواړی بلکه بعض حصّه د مال لکه لسمه شلمه او څلویښتمه۔ دویم دا چه ستاسو مالونه الله تعالیٰ د ځان د پاره نه غواړی بلکه ستاسو انفاق ستاسو د فائدے د پاره دے۔ دریم دا مالونه ستاسو مالونه نه دی بلکه د الله تعالیٰ دی نو هغه در نه خپل مالونه غواړی ستاسو مالونه نه غواړی۔ څلورم دا چه نبی صلّی الله علیه وسلّم ستاسو نه په دعوت د دین باندے اجرت نه غواړی۔ په اول درے توجیهاتو سره دا ترغیب دے انفاق طرف ته۔ او په اخری توجیه باندے ترغیب دے ایمان او تقویٰ ته چه په دے اجرونه ملاویږی او ستاسو هیڅ خیز پکښ نه خرچ کیږی یعنی ګټه ده او تاوان پکښ نیشته۔

۳۷ په دے کښ حکمت ذکر کوی چه الله تعالیٰ ستاسو نه ټول مال نه غواړی د پاره د دے چه شرمنده نشئ په ښکاره کیدلو د بخل او د کینے کولو سره۔ ځکه چه الله تعالیٰ مهربان دے او په خپلو بندګانو باندے پرده اچوی۔ فَيُحْفِكُمْ احفاء په لغت کښ انتهاء ته رسیدل دی په خبرو کولو جګړه کولو او سوال کولو کښ۔

وَيُخْرِجْ اَضْغَانَكُمْ د اخراج نه مراد راښکاره کول دی او یخرج ضمیر بخل ته راجع دے یا الله تعالیٰ ته راجع دے یا سوال او احفاء ته راجع دے او روستنے جمله دلیل دے چه دا خطاب منافقانو ته دے ځکه چه د مخکښ نه معلومه شوی چه دا صفتونه (بخل، ضغن) د منافقانو دی۔

وَاَنْتُمُ الْفُقَرَآءُ ۚ وَاِنْ تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ

او تاسو حاجتمند يئ او كه چرے مخ واړوئ تاسو نو بدله كيں به راولى

قَوْمًا غَيْرَكُمْ ۙ ثُمَّ لَا يَكُوْنُوْٓا اَمْثَالَكُمْ ﴿۳۸﴾ ع

نور خلق سيوا ستاسو نه بيا به نه وى هغوى ستاسو پشان ـ

۳۸ ـ ۳۸ مخكښ ايت كښ بخل ذكر كړے شو په هغه وخت كيں چه ټول مال ترينه طلب كړے شى نو اوس ترقى كوى په زجر كښ چه ټول مال خو پريګده كه لګه حصه ترينه دَ انفاق فى سبيل الله دَ پاره طلب كړيشى نو هم دوى بخل كوى ـ فَمِنْكُمْ مَنْ يَّبْخَلُ دويم قسم يئ حذف كړے دے يعنى منكم من يجود ليكن دلته بخلاؤ ته زجر مقصد دے دَ دے وجے نه دا يو قسم يئ ذكر كړو ـ فَاِنَّمَا يَبْخَلُ عَنْ نَّفْسِهٖ په عَنْ حرف كيں اشاره ده چه دا بخل پيدا شويدے دَ دوى دَ نفوسو خبيثوُ نه ـ وَاللّٰهُ الْغَنِىُّ وَاَنْتُمُ الْفُقَرَآءُ دا ـ سورة فاطر ۱۵ كښ هم تير شوى دى ليكن دلته يئ والله الغنى مخكښ ذكر كړے دے او هلته كښ روستو وجه داده چه دلته دفع دَ وهم مقصد ده وهم دادے چه الله تعالىٰ امر دَ انفاق كوى نو معلوميږى چه الله تعالىٰ محتاج دے نو دَ دے په جواب كيں والله الغنى ړواندے ذكر كړو او په سورة فاطر كښ رد دَ شرك فى الدعاء مقصد وُ نو فقر دَ مخلوق يئ مخكيں ذكر كړو چه دا مخلوق دَ الله تعالىٰ سره څه رنګه شريك جوړيدے شى دوى خو پخپله محتاج دى ـ وَاِنْ تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا دا عطف دے په ان تؤمنوا وتتقوا باندے په ۳۶ كښ يا واو استينافيه دے اِنْ په مقام دَ شك كيں ذكر كيږى نو معلومه شوه چه مخاطبين چه صحابه كرام دى هغوى مخ نه وُ اړولے دَ دے وجے نه دَ هغوى په ځوند كيں دَ دين حفاظت الله تعالىٰ په بل چا باندے دَ هغوى په بدله كيں نه دے كړے هاں هر كله چه دَ سلف صالحينو دَ زمانے تيريدلو نه روستو رفته رفته عربو مخ واړوؤ نو الله تعالىٰ دَ دين كار عجموته او سپارلو ـ يا دا خطاب منافقانو دَ مدينے ته وُ چه هغوى وخت په دَ جهاد او انفاق نه مخ اړوؤ نو الله تعالىٰ هغوى رفته رفته هلاك كړل او انصار يئ دَ هغوى په ځائے باندے دَ دين دَ حفاظت دَ پاره قائم كړل ـ

ختم شو تفسير دَ سورة محمّد په فضل دَ الله تعالىٰ سره او په توفيق دَ هغه سره ـ

سُوْرَةُ الْفَتْحِ ۴۸ مَدَنِيَّةٌ ۱۱۱	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰيَاتُهَا ۲۹ رُكُوْعَاتُهَا ۴

اِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِيْنًا ۝١ لِّيَغْفِرَ لَكَ اللّٰهُ

يقيناً فتح دركړه مونږ تاته فتح ښكاره . دَدے دَپاره چه بخښنه اوكړی تاته الله تعالیٰ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة الفتح

ربط دَدے سورت دَمخکښ سورت سره په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه، هر کله چه امر دَ قتال اوشو په مخکښ سورت کښ نو په دے سورت کښ بشارت دے په فتح او په انزال السکینه سره۔ دویمه وجه هر کله چه په هغه سورت کښ دَ مؤمنانو هغه اتلس[18] صفات ئے ذکر کړل چه علتونه دَ تشجیع دَ قتال فی سبیل الله وو نو اوس دا سے اتلس[18] صفتونه دَ هغوی ذکر کوی چه اسباب دَ رضا دَ الله تعالیٰ دی دَ هغوی ته۔ دریمه وجه په هغه سورت کښ ذکر وو توم دَ محمد صلی الله علیه وسلم نو اوس په دے سورت کښ ذکر دَ عظمتِ شان دَ هغه دے څلورمه وجه دا ده چه په هغه سورت کښ منع وه دَ دعوت الی الصلح نه نو اوس په دے سورت کښ اشاره کوی که چرے کافران دعوت درکوی صلحے ته نو صلح اوکړئ دا فتح اوګڼړئ لکه صلح حدیبیه۔

دعویٰ دَ سورت۔ زیرے ورکول نبی صلی الله علیه وسلم ته په فتح سره او عظمتِ شان دَ هغه او زیرے ورکول مؤمنانو (صحابه کرامو) ته په انزال السکینه سره او ذکر دَ صفاتو دَ هغوی۔

او مسئله دَ توحید ئے په مختلف تعبیراتو سره په ۴ ۹ ۱۱ ۱۴ ۲۶ ۲۷ کښ راوړے ده او نهه اسماءِ حسنیٰ دَ الله تعالیٰ۔

خلاصه دَ سورت دا تقسیم دے دوه بابونو ته اول باب تر ۱۸ پورے دے په دے کښ دوه بشارتونه دی او دَ هر یو سره متعلق څلور څلور امور ذکر دی بیا صداقت دَ رسول او عظمت شان دَ هغه سره دَ ذکر دَ توحید نه بیا نوی۔ بیا اس قباحتونه دَ منافقانو زجراً او ذکر دَ عذر والو دے په ۱۷ کښ۔

مَا تَقَدَّمَ مِنۡ ذَنۡۢبِكَ وَمَا تَاَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعۡمَتَهٗ

دَ هغه چه مخکښ تیر شوی دی دَ خطا ئے ستا نه او هغه چه روستو شو یوی او پوره کوی نعمت خپل

عَلَيۡكَ وَيَهۡدِيَكَ صِرَاطًا مُّسۡتَقِيۡمًا ﴿۲﴾ وَّيَنۡصُرَكَ

په تا باندے او کلکه وی تا لره په لار نیغه باندے - او مدد به کوی تا سره

تفسیر ۱ مراد دَ فتح نه په صحیح قول کښ صلح دَ حدیبیه ده چه سبب دَ فتح دَ اسلام او گرځیده له په دلیل دَ حدیث دَ براء بن عازب رضی الله عنه سره هغه ویلے دی چه تاسو فتح دَ مکے فتح گنړے هاں هغه خو یو فتح ده او مونږ بیعت الرضوان فتح گنړو. او دا رنګ روایت دَ انس رضی الله عنه دے هر کله چه نبی صلی الله علیه وسلم دَ صلح حدیبیه نه واپس شو نو په صحابه کرامو باندے ډیر غم او خفګان وو نو دا آیا تونه نازل شول او نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه دا ماته دَ ټولے دنیا نه زیات خوخ دی امام زهری رحمة الله نه نقل دے چه دَ صلح حدیبیه نه غټه فتح بله نه وه دَ دے وجے نه چه مشرکان دَ مسلمانانو سره خلط شول دَ هغوی خبرے ئے واوریدے نو اسلام کښ داخل شول او په دوه درے کاله کښ ډیر خلق مسلمانان شول. فَتۡحًا مُّبِيۡنًا په دے کښ ډیر معجزات ښکاره شول او سبب شو دَ غلبے دَ اسلام او قتال پکښ هم او نشو دَ دے وجے نه مبین صفت ئے ذکر کړو.

۲ ۳ دا ذکر دَ خلورو فائدو دے په فتح کښ دَ پاره دَ نبی صلی الله علیه وسلم -
اوله فائده :- لِيَغۡفِرَ لَكَ اللّٰهُ لام دَ پاره دَ عاقبت او غائے دے یعنی فتح سبب دے دَ پاره دَ دے خلورو فائدو او وجه دَ سببیت دا ده چه فتح مبین دَ وجے دَ جهاد او دَ قتال فی سبیل الله او دَ نورو تکالیفو تیرولو نه روستو راغله او دغه کارونه سبب دَ مغفرت دَ ګناهونو دی ځکه چه ان الحسنات یذهبن السیئات هود ۱۱۴ او مشهوره ده چه اِنَّ الۡعَطَايَا عَلٰى مَتۡنِ الۡبَلَايَا (یقیناً بخششونه دَ مصیبتونو په شا باندے وی) دویم قول دا دے چه لام دَ پاره دَ علت دے یعنی فتح مبین ئے دَ دے وجے نه ورکړه چه الله تعالیٰ مغفرت کړے دے او دا نور کمالات ئے ورکړیدی - لیکن دا قول ضعیف دے ځکه دا خلور امور ئے په صیغه دَ مستقبل ذکر کړے دی او فتح ئے دَ ماضی په صیغے سره ذکر کړے ده. نو را تلونکے څیز علت او سبب دَ تیر شوی دَ پاره نشی کیدلے -
سوال :- لفظ دَ مغفرت او ذنب دلالت کوی چه نبی صلی الله علیه وسلم (پاتے په بل مخ)

اللّٰهُ نَصۡرًا عَزِيۡزًا ﴿۳﴾ هُوَ الَّذِيۡۤ اَنۡزَلَ السَّكِيۡنَةَ فِيۡ

اللہ تعالیٰ مدد عزت والا ۔ خاص اللہ تعالیٰ هغه ذات دے چه رالیږلے ده تسلی (یقین) په

گناهونه کړیدی او حال دا دے چه هغه او ټول انبیاء علیهم السّلام معصوم دی د گناهونو نه ؟
جواب:۔ په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه دا جمله مستلزم د گناهونو کولو دپاره نه ده د دے وجے نه چه د ذنب نه مراد خلاف الافضل کارونه دی چه هغه گناه نه دے لیکن د انبیاء علیهم السلام دپاره سبب د خفګان وی نو هغه خفګان الله تعالیٰ لرے کړی دے ته مغفرت ویلے شوید ے. دویمه وجه مغفرت په معنیٰ د عصمت دے لکه شربینی دا قول نقل کړیدے یعنی الله تعالیٰ ته بچ ساتلے یے د گناهونو کولو نه په تیر شوی وخت کښ او هم په روستو وخت کښ. دریمه وجه دا جمله په ظاهر کښ تنجیز یه ده لیکن په معنیٰ د تعلیق سره ده یعنی که چرے وی ستا مخکښ او روستو گناهونه نو الله تعالیٰ تا ته بخنه کړیده. مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْۢبِكَ وَمَا تَاَخَّرَ په دے کښ ډیر اقوال دی د مفسرینو. قول د مجاهد دا دے چه مخکښ د نبوت نه او روستو د نبوت نه.
دویم قول مخکښ د فتح نه او روستو د فتح نه. دریم قول مخکښ د دے وخت نه او روستو د دے نه. څلورم قول چه ارتکاب د منهی عنه یے کړے وی او مامور به یے پریخودے وی.
دویمه فائده:۔ وَيُتِمَّ نِعۡمَتَهٗ عَلَيۡكَ په دے کښ اشاره ده نزول د هغه احکامو ته چه روستو د فتح نه نازل شویدی او دا رنګ اشاره ده چه روستو د فتح نه ډیر متکبرین خلق په اسلام کښ داخل شی لکه سورة نصر کښ د فتح نه روستو وَرَاَيۡتَ النَّاسَ يَدۡخُلُوۡنَ فِيۡ دِيۡنِ اللّٰهِ اَفۡوَاجًا راغلے دے.
دریمه فائده:۔ وَيَهۡدِيَكَ صِرَاطًا مُّسۡتَقِيۡمًا هدایت په معنیٰ د تثبیت سره دے یعنی فتح سبب شو دپاره د تثبت په دین باندے.
څلورمه فائده:۔ وَيَنۡصُرَكَ اللّٰهُ نَصۡرًا عَزِيۡزًا **سوال:۔** سورة نصر کښ نصرت د فتح نه مخکښ ذکر کړے دے او دلته یے فتح سبب د اخرت او ګرځوله نو معلومه شوه چه فتح په نصرت باندے مخکښ ده؟ **جواب:۔** په هغه سورت کښ د نصر نه مراد اسباب د غلبے ورکولو دی او په دے ایت کښ مراد د نصر نه غلبه ورکول دی په ټولو دشمنانو باندے نو اشاره شوه د مکے فتح کولو ته او ورسره د د غه نه روستو چه کوم فتوح نبی صلی الله علیه وسلّم ته حاصل شول.
عَزِيۡزًا عزت والا یعنی د غلبے سره په عزت وی یا عزیز په معنیٰ د عزیز الوجود (یعنی بے مثاله نصرت) دے

قُلُوْبِ الْمُؤْمِنِيْنَ لِيَزْدَادُوْٓا اِيْمَانًا مَّعَ اِيْمَانِهِمْ ط

زړونو دَ مؤمنانو کښې. دے دپاره چه زياتی شی ايمان سرهٔ دَ ايمان دَ دوی نه،

وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا

او خاص الله تعالیٰ لره لښکرے دَ اسمانونو او دَ زمکے دی او الله تعالیٰ دے علم والا

حَكِيْمًا ﴿۴﴾ لِّيُدْخِلَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ جَنّٰتٍ

حکمتونو والا. دے دپاره چه داخل کړی مؤمنان سړی او مؤمنے زنانه جنتونو ته

سګ دا دويم بشارت دے مؤمنانو ته په انزال السکينه سره. مراد دَ دے نه کلکيدل دَ په دين او اطمينان دَ زړه دے او شبهات دَ زړه لرے کيدل دی سرهٔ دَ دے نه چه دَ حديبيه دَ سفر مصيبتونه او دَ کفارو منع کول او بغير دَ مقصد دَ عمرے کولو نه وطن ته واپس کيدل او بعض شرطونه دَ صلح چه ظاهرًا دليل دَ کمزورے وو مثل، دا ټول سبب دَ زيغ او دَ خفګان وو ليکن دَ هغے اثرئے دَ دوی دَ زړونو نه لرے کړو. دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه روايت دے چه هره سکينه په قران کښې په معنیٰ دَ طمانيت ده بيا يو روايت کښې دَ سورة بقره دَ لفظ سکينه استثناء ده ليکن هغه استثناء صحيح نه ده ځکه چه هغه هم په معنیٰ دَ طمانيت ده. بيا دَ انزال السکينه باندے څلور فائدے مرتب کړے دی اوله فائده :: لِيَزْدَادُوْٓا اِيْمَانًا مَّعَ اِيْمَانِهِمْ او وجه دَ تفريع دَ دے فائدے داده چه هر کله شبهات دَ زړه نه لرے شول او ډير معجزات دَ نبی صلی الله عليه وسلم (چه په سفر حديبيه کښې) ښکاره شول نو په دے سره ضرور ايمان زيات شو. او په دے زيادت دَ ايمان اقوال دی اول ايمان په شرائعو دَ دين باندے روستو دَ ايمان بالله واليوم الاٰخر نه دا روايت دَ ابن عباس رضی الله عنهما دے. دويم قول يقين په الله تعالیٰ او په رسول باندے وو نو هغه يقين نور زيات شو دا دَ ضحاك قول دے. يا دَ ايمان فطری سره ايمان شرعی يو ځائے شو نو ايمان زيات شو دا روستو قول ضعيف دے ځکه دَ دے واقعے نه مخکښې هم ايمان شرعی وو.

فائده :- دا ايت دليل دے چه په نفس ايمان کښې زياتے او کمے راځی او امام بخاری رحمه الله دغه شان اته ايات دَ دے مسئلے په اثبات کښې ذکر کړے دی. مثلاً معلومه خبره ده چه په ايمان (يقين) دَ ابوبکر رضی الله عنه او په (ياتے په بل مخ)

تَجۡرِیۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ خٰلِدِیۡنَ فِیۡهَا وَیُکَفِّرَ

چه بهيږي لاندې دَ هغې نه ولې هميشه به وي دوي په هغې کښې او لرې به کړي

عَنۡهُمۡ سَیِّاٰتِهِمۡ ؕ وَکَانَ ذٰلِکَ عِنۡدَ اللّٰهِ فَوۡزًا عَظِیۡمًا ۙ﴿۵﴾

دَ دوي نه بدئ دَ دوي او دا ده په نيز دَ الله تعالیٰ کاميابي لويه .

يقين زموږ کښې ډير فرق دے . او بعضِ علماؤ دَ دے نه زيادت دَ ايمان په سبب دَ اعمالو کولو سره مراد کړے دے يعني دَ چا چه عملونه زيات وي نو ايمان ئے زيات وي او دَ چا چه عملونه کم وي نو ايمان ئے کم وي . او دوي وائي چه نفسِ ايمان (يقين) کښې زيادت نه راځي نو دا قول ضعيف دے بلکه دواړه زيادتو نه ثابت دي او بعضِ علماء دَ اطلاق دَ لفظ دَ زيادت نه مطلقاً احتراز کوي بلکه دَ زيادت تاويل په پوخ والي يا په ښکاره والي سره کوي او حال دا دے چه دَ دوي سره په عدم زيادت باندے هيڅ دليل نيشته نو دا قول دَ دوي ډير کمزورے دے دَ قرآن کريم تحريف معنوي ته نزدے خبره ده . هاں مجتهد دَ اجتهاد په خطائے سره ګناه ګار نه دے ليکن په هغه پسے په دَ خطائے کښې تقليد کول سره دَ ظهور دَ مخالف دليل نه ظلم دے . وَلِلّٰهِ جُنُوۡدُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ دا علتِ حقيقيه دَ انزال السکينه دے يعني اسباب دَ نصرت کله ملائک دَ اسمانو نو راليږلي دي او کله حيوانات حشرات دَ زمکے او دا ټول دَ الله تعالیٰ په اختيار کښې دي . او هر کله چه اسباب دَ نصرت دَ هغه په اختيار کښې دي نو تصرتِ الٰهيه سبب دَ سکون دَ زړونو دے هغه دَ هغه په اختيار کښې دے .

ف۵ دا دويمه او دريمه فائده ده مرتب ده په مجموعه انزال السکينه باندے دَ پاره دَ زيادت دَ ايمان يعني په دے مجموعه باندے دخول دَ جنت او تکفير دَ سيئاتو بنا دے.

فائده ع۱ :. په قرآن کريم کښې چه کوم ځائے وهم وي دَ اختصاص دَ جنت په نارينه مؤمنانو پورے نو هلته کښې ذکر دَ زنانه مؤمنو هم کوي دَ پاره دَ دفع دَ وهم لکه دلته مسئله دَ قتال او دَ فتح ده چه دغه عمل اکثر دَ نارينو دے نو وهم راتلے چه جنت به هم په نارينو پورے خاص وي نو مؤمنات ئے ذکر کړل چه جنت په عمل دَ قتال پورے خاص نه دے دَ هغې نور اسباب هم شته چه په زنانو کښې موجود وي نو دَ جنت حقدارے کړځيدلے شي . او کوم ځائے کښې چه دا وهم نه وي نو مؤمنات جدا نه ذکر کوي ځکه چه هغوئ تابع دي دَ نارينو .

وَّيُعَذِّبَ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْمُنٰفِقٰتِ وَالْمُشْرِكِيْنَ وَ

او عذاب به ورکړي منافقانو سره او زنانه منافقو لره او مشرکانو سره او

الْمُشْرِكٰتِ الظَّآنِّيْنَ بِاللّٰهِ ظَنَّ السَّوْءِ ؕ عَلَيْهِمْ

زنانو مشرکو ته چه ګمانونه کوي په الله تعالى باندې ګمان ناکاره په دوي باندې دي

دَآئِرَةُ السَّوْءِ ۚ وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَلَعَنَهُمْ وَاَعَدَّ

مصيبتونه ناکاره او غضب کړيدے الله تعالى په دوي باندے او لعنت ئې کړيدے او تيار کړيدے

لَهُمْ جَهَنَّمَ ؕ وَسَآءَتْ مَصِيْرًا ⑥ وَلِلّٰهِ جُنُوْدُ

دوي لره جهنم او ناکاره دے ځائے د ورګرځيدلو . او خاص الله تعالى لره دي لښکرې

فائده ۲ :- تکفير دَ سيئاتو په اصل کښې دَ دخول دَ جنت نه مخکښې دے ليکن روستوئې دَ دے وجے نه ذکر کړو چه اول انسان اهل دَ دخولِ جنت اوګرځي په حسناتو سره نو بيا ترينه تکفير دَ سيئاتو کيږي.

۷ دا څلورمه فائده ده يعنی سکون او نصرت دَ مؤمنانو سبب دَ غمونو او خفګانو دَ دشمنانو دے او دا عذاب دَ دنيا دے او مراد دَ عذاب نه دلته عذاب دنيوي دے او هغه ذليل او مغلوب کيدل دَ منافقانو او کافرانو دي او دارنګ تسلّط دَ مؤمنانو په دوي باندے په قتل کولو او قيد کولو دَ دوي سره .او هر کله چه دا قسم عذابونه په منافقانو باندے مخکښې او ډير راځي ځکه چه دوي مؤمنانو سره نزدے او سيړي دَ دے وجے نه دَ دوي ذکر ئې مقدم کړو . ظَنَّ السَّوْءِ دوي ګمان کوي چه الله تعالى لره شريکان يا اولاد دي يا الله تعالى بغير دَ وسيلو (شرکيو) نه حاجتونه نه پوره کوي يا دَ الله تعالى صفات نيشته يا صفتونه ئې مشابه دي دَ مخلوق سره دے ته بدګمان ويلے کيږي. عَلَيْهِمْ دَآئِرَةُ السَّوْءِ داسے په سورة توبه ۹۸ کښې هم تير شويدي او دا جمله خبريه ده إخبار دے دَ الله تعالى دَ طرف نه يا دُعائيه ده په دُعا دَ شر سره نو تعليم دے دَ طرف دَ الله تعالى نه نيکانو بندګانو ته چه داسے دُعا لولے او مراد دَ دائرة السوء نه مصيبتونه دَ دنيا دي په ذليل کيدلو او قيد کيدلو او مغلوب کيدلو او نور قسم عذابونو باندے . وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَلَعَنَهُمْ دا دواړه چه کله جدا ذکر شي نو په يو معنىٰ سره وي او کله چه يو ځائے ذکر شي (ياتے په بل مخ)

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ۝۷ اِنَّآ

دَ اسمانونو او دَ زمکے او دے الله تعالی زورآور حکمتونو والا۔ یقینًا مونږ

اَرْسَلْنٰكَ شَاهِدًا وَّمُبَشِّرًا وَّنَذِيْرًا ۝۸ لِّتُؤْمِنُوْا

لیږلے یې ته حق بیان کوونکے او زیرے ورکوونکے او ویره ورکوونکے، دے دَپاره چه ایمان راوړئ تاسو

نو دَدوی په مینځ کښ فرق وی چه په غضب کښ صرف غصه او خفه کیدل دی چه نتیجه دَ هغے بدله اغستل او عذاب ورکول وی او په لعنت کښ دَ دغه نه لو سره دَ رحمت خاصه نه محروم کول مراد وی۔

ک دا علت دے دَپاره دَ عذاب دَ منافقانو او مشرکانو یعنی الله تعالی دَ دوی په عذاب ورکولو قدرت لری ځکه چه ټولے لښکرے دَ هغه په تصرف کښ دی او دَ هغه ملکیت دے دَ هغے په ذریعه دوی له عذابونه ورکولے شی او په سک کښ دَ مؤمنانو دَ نصرت دَپاره دا علت ذکر شویوؤ او دَ دے وجه نه دَ دے ایت په اخر کښ عَزِيْزًا یې ذکر کړو او دَ هغے ایت په اخر کښ علیمًا ذکر کړے وؤ۔ عزیز دَ دُشمن په مقابله کښ او علیم دَ مؤمنانو دَ تسلیٔ ورکولو دَپاره استعمالیږی۔

ش دا اثبات دَ صداقتِ رسول دے او متعلق دے دَ انا فتحنالك سره نو دا علت دَ فتح ورکولو دے یعنی فتح دَ دے وجه ورکړے شوه چه ته رسول بر حق یې یا دا فتح مبین دلیل دَ رسالت دَ نبی صلی الله علیه وسلّم دے۔ شَاهِدًا شهادت په دنیا کښ مراد دے او شهادت په معنی دَ بیان کولو دَ حق دے په غیر باندے یعنی ته په بیان او تبلیغ کوونکے یې او دَ بیان کولو دوه قسمونه یې ذکر کړل بشارت او انذار او که مراد دَ شهادت نه شهادت په عملو نو مراد شی نو مراد تری نه صرف هغه خلق دی چه دَ نبی صلی الله علیه وسلّم په زمانه کښ یې دَ هغه په رواندے عملونه کول او څوک چه دَ دے نه ثابته وی چه نبی صلی الله علیه وسلّم حاضر و ناظر دے نو دا تحریف دَ قران کوی۔

فائده:۔ شَاهِدًا دَ نبی صلی الله علیه وسلّم په صفت کښ چه ذکر دے نو په دنیا کښ شهادت مراد دے او شهید چه دَ هغه په صفت کښ ذکر دے نو په اخرت کښ مراد دے۔

بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَتُعَزِّرُوْهُ وَتُوَقِّرُوْهُ ۭ وَتُسَبِّحُوْهُ

په الله تعالیٰ او په رسول دَ هغه او مدد او کړئ دَ هغه (دَ دین) او عزت ئې او کړئ، او پاکی وائې دَ هغه

بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ⑨ اِنَّ الَّذِيْنَ يُبَايِعُوْنَكَ اِنَّمَا

صباځ او بیګائې. یقیناً هغه کسان چه بیعت کوی ستا سره نو یقیناً

يُبَايِعُوْنَ اللّٰهَ ۭ يَدُ اللّٰهِ فَوْقَ اَيْدِيْهِمْ ۚ فَمَنْ

بیعت کوی دوی دَ الله تعالیٰ سره لاس دَ الله تعالیٰ دَ دوی دَ لاسونو دَ پاسه دے نو چا چه

سو په دے کښ څلور فائدے دَ ارسال دَ رسول ذکر کوی اوله فائده ایمان بالله والرسول دے اشاره ده چه ایمان تفصیلی په اتباع دَ رسول حاصلیږی دویمه فائده وَتُعَزِّرُوْهُ ضمیر الله تعالیٰ ته راجع دے نو مراد دَ دے ته نفی کول دَ ولد او شریک دی دَ الله تعالیٰ ته او رد کول دی په مشرکانو باندے. یا راجع دے رسول ته نو مراد دا دے چه دَ هغه دَ دین او دَ سنت دَ مخالفت کولو ته په خلقو لره منع کوئ او دَ هغوی شبهات په دفع کوئ. دریمه فائده وَتُوَقِّرُوْهُ په دے ضمیر کښ هم دواړه احتمالونه دی او توقیر دَ الله تعالیٰ دَ هغه نوم په عزت سره ذکر کول دی دَ هغه بندګی خاص کول دَ هغه په صفاتو دَ کمال باندے ایمان راوړل دی او توقیر دَ رسول صلی الله علیه وسلم هغه په صرف نوم سره آواز نه کول دَ هغه دَ سنت احترام کول دَ هغه دَ نوم سره صلوٰة سلام ویل دَ هغه پوره تابعداری کول دی. څلورمه فائده وَتُسَبِّحُوْهُ دا ضمیر صرف الله تعالیٰ ته راجع دے که تیر شوی ضمیرونه صرف پیغمبر ته راجع کړے شی نو بیا به په توقروه باندے وقف کیدے شی لیکن صحیح دا ده چه ضمیرونه تیر شوی الله تعالیٰ او رسول هر یو ته راجع کیدل احتمال لری په تاویل دَ کل واحد سره او ضمیر دَ تسبحوه خاص دے په الله تعالیٰ پورے. هاں بعض مفسرینو دا ضمیر هم نبی صلی الله علیه وسلم ته راجع کړے دے او دَ تسبیح معنیٰ ئې لغوی اخستے ده چه نبی صلی الله علیه وسلم پاک او معصوم دے دَ ګناهونو نه لیکن دا معنیٰ په عرف او شرع کښ دَ تسبیح دَ پاره نه ده استعمال کړے شوے.

بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا مراد تری نه ورځ او شپه دی ذکر دَ جزء او مراد تری نه کل دے.

نَّكَثَ فَاِنَّمَا يَنۡكُثُ عَلٰى نَفۡسِهٖ ۚ وَمَنۡ اَوۡفٰى بِمَا

مات کړو (بیعت) نو یقیناً ماتوی د پاره د ضرر د ځان خپل او چاچه پوره کړو هغه چه

عٰهَدَ عَلَيۡهُ اللّٰهَ فَسَيُؤۡتِيۡهِ اَجۡرًا عَظِيۡمًا ۝۱۰ ع سَيَقُوۡلُ ع ۱۰ ۹

وعده یې په هغې باندې د الله تعالیٰ سره کړیده نو زر ده چه ورکړي هغه ته ثواب لوئے ـ زر او به وائي

سنا روستو د اثبات د رسالت او د ذکر کولو د مقصد د رسالت نه بشارت دے تابعداری کوونکو د هغه ته او تشجیع ده په جهاد باندے اِنَّ الَّذِيۡنَ يُبَايِعُوۡنَكَ دا واقعه د بیعت الرضوان ته اشاره ده چه په دے سورت کښ د هغې تفصیل به راشی او دا بیعت د صحابه کرامو د نبی صلی الله علیه وسلم سره وو بعض کسانو بیعت کړے وو په مرګ باندے او بعض بیعت کړے وو چه تیختنه به نه کوو او بعضو بیعت کړے وو په جهاد باندے (دا تطبیق دے په مینځ د مختلف روایتونو کښ)۔ اِنَّمَا يُبَايِعُوۡنَ اللّٰهَ دا د دے وجے نه چه هر قول او فعل د رسول صلی الله علیه وسلم په حکم د الله تعالیٰ سره دے (وما ینطق عن الهوی) او دا پشان د ومن یطع الرسول فقد اطاع الله (نساء سنا) دے۔ او مبایعت د بیع نه اغستلے شوے دے ځکه چه دوی (بیعت کوونکو) خپل نفسونه او مالونه په الله تعالیٰ باندے خرڅ کړیدی په بدله د جنت کښ لکه سورة توبه سلاا کښ دی۔ يَدُ اللّٰهِ فَوۡقَ اَيۡدِيۡهِمۡ په دے کښ اشاره ده چه بیعت کښ د نارینه د پاره لاس ورکول شرط دی هاں زنانه د پاره لاس ورکول منع دی ځکه چه حدیث د عائشه رضی الله عنها کښ وارد دی (والله مامست ید النبی صلی الله علیه وسلم ید امرءة قط) قسم دے په الله تعالیٰ باندے چه لاس د نبی صلی الله علیه وسلم د لاس د (پردے) ښځے سره نه دے لګیدلے. بلکه بیعت د هغه د زنانو سره صرف په وینا کولو سره وو۔ يَدُ اللّٰهِ د ید معنیٰ ظاهری مراد ده چه لاس دے او دا رنګ د لفظ فوق معنی اوچت والے دے لیکن بغیر د تمثیل او د تشبیه نه د مخلوق سره او کیفیت یې مجهول دے دا عقیده د سلف صالحینو ده او چاچه تاویل کړے دے په نصرت یا په احسان کولو یا په حفاظت کولو یا په قوت وغیره سره دغه تاویلات ټول باطل دی ځکه چه مستلزم کیږی انکار د صفت د الله تعالیٰ لره بیا دا جمله مستلزم ده چه نصرت او امداد د الله تعالیٰ د مؤمنانو د محنت او عمل نه ډیر دے۔

لَكَ الْمُخَلَّفُوْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ شَغَلَتْنَآ اَمْوَالُنَا

تاته پاتے کړے شوی د بانډچیانو نه چه مشغول کړیدی موږ لره مالونو زموږ

وَاَهْلُوْنَا فَاسْتَغْفِرْ لَنَا ۚ يَقُوْلُوْنَ بِاَلْسِنَتِهِمْ مَّا لَيْسَ

او بال بچ زمونږ نو موږ لره بخښنه اوغواړه وائی دوی په خپلو ژبو باندے هغه خبرے چه نیشته

فِيْ قُلُوْبِهِمْ ۚ قُلْ فَمَنْ يَّمْلِكُ لَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا

په زړونو د دوی کښ ته اوایه نو څوک د وس لری ستاسو د پاره د عذاب د الله تعالیٰ نه د بچ کولو

اِنْ اَرَادَ بِكُمْ ضَرًّا اَوْ اَرَادَ بِكُمْ نَفْعًا ۭ بَلْ كَانَ اللّٰهُ

که چرے اوغواړی الله تعالیٰ په تاسو باندے تکلیف یا اوغواړی په تاسو باندے نفع ، بلکه الله تعالیٰ دے

بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ⑪ بَلْ ظَنَنْتُمْ اَنْ لَّنْ يَّنْقَلِبَ

ستاسو په عملونو باندے خبردار . بلکه گمان کوئے تاسو چه چرے به واپس اونه گرځی

فائده :- بعض خلقو د ید الله نه یں د رسول الله مراد کړے دے او ویلے دی په عقیده د حلول او اتحاد سره چه لاس د الله تعالیٰ او لاس د رسول الله صلّی الله علیه وسلم یو گرځیدلے دی د هغوی دا قول ډیر کفر یا تو لره مستلزم دے او په دے توجیه باندے بقاعی او خطیب شربینی لعنت ویلے دے. فَمَنْ نَّكَثَ دا تخویف دے وَمَنْ اَوْفٰى دا بشارت دے عَلَيْهُ اللّٰهَ په قراءت د حفص کښ په ضمه (پیښ) د ها سره دے د وجے د مقارنت (یوځیکیدلو) د دے نه د نوم د الله تعالیٰ سره چه جلیل او عظیم دے.

سـ١١ د دے ایت نه تر سـ١٧ پورے زجرونه دی منافقانو ته چه د دے سفر نه پاتے شوے وو د وجے د ویرے د قریش نه اگرچه نبی صلی الله علیه وسلم دوی ته قولاً او فعلاً ښکاره کړے وه چه موږ اراده د جنگ نه لرو. فعلاً دا وه چه د ذوالحلیفه نه ئے احرام د عمرے اوتړلو او هدایا ئے د ځان سره روانے کړے. بیا په دے ایاتونو کښ لس قباحتونه د منافقانو ذکر کوی. په دے ایت کښ ئے درے قباحتونه د هغوی ذکر کړے دی. سَيَقُوْلُ دا دلیل دے چه دا وحی په حال د سفر کښ نازل شویوه او دا پیش گوئی یقیناً رشتیا شوه نو دا اخبار بالغیب دے (پاتے په بل مخ)

الرَّسُولُ وَالْمُؤْمِنُونَ إِلَىٰٓ أَهْلِيهِمْ أَبَدًا وَزُيِّنَ

رسول او مؤمنان (صحابه) خپل بال بچ ته هیچرے او ښوولی شوے وو

ذَٰلِكَ فِي قُلُوبِكُمْ وَظَنَنتُمْ ظَنَّ السَّوْءِ وَكُنتُمْ

داګمان په زړونو ستاسو کښں او ګمانونه کول تاسو ګمانونه بد او تاسو وئ

قَوْمًا بُورًا ﴿١٢﴾ وَمَن لَّمْ يُؤْمِن بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ

قوم تباه کیدونکی . او څوک چه ایمان نه راوړی په الله تعالیٰ او په رسول د هغه پاندے

دلیل دے په صداقت د نبی صلی الله علیه وسلم باندے. الْمُخَلَّفُونَ په صیغه د اسم مفعول سره ئے ذکر کړو اشاره ده چه الله تعالیٰ دوی لره د نبی صلی الله علیه وسلم د ملګرتیا نه روستو پاتے کړل په سبب د نفاق د زړونو د دوی. شَغَلَتْنَآ أَمْوَالُنَا وَأَهْلُونَا دا دروغ عذر دے د پاره د پاتے کیدلو د دے عمرے نه یعنی دوی ویل چه د مالونو او د اهل وعیال حفاظت کول ضروری دی او زمونږ هیڅوک نائبان نیشته چه انتظام اوکړی په دے وجه مونږ مشغول شو. فَاسْتَغْفِرْ لَنَا نوطلب د مغفرت هم د دوی په طریقه د استهزاء سره دے په دلیل د روستو جملے سره. مَا لَيْسَ فِي قُلُوبِهِمْ یعنی د دوی په زړونو کښں اراده د استغفار نیشته ځکه چه دوی ځان ته ګنهګار نه وائي -

قُلْ فَمَن يَمْلِكُ لَكُم حاصل دا دے چه ستاسو پاتے کیدل د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د پاره د حفاظت د مال او اهل تاسو ته هیڅ ضرر نه شی دفع کولے او تاسو ته څه فائده د رکولے نشی. ضَرًّا هر قسم ضرر که لوئے وی یا وړوکے په اهل کښں وی یا په مال کښں دا رنګ نَفْعًا هم عام دے بَلْ اضراب دے د پټولو د دوی نه نفاق او حسد لره.

۱۲ دا هم زجر دے په ذکر د څلورو قباحتونو د هغوی سره دا بَلْ د پاره د ترقی دے یعنی د نفاق او حسد سره دوی په فاسد ګمانونو پسے روان دی. أَن لَّن يَنقَلِبَ الخ مراد د دے نه دا دے چه دوی د رسول او د مؤمنانو شان سپک ګنړی او د مشرکانو شان لوئے ګنړی د دے وجے نه دا ګمان ئے کوؤ- وَزُيِّنَ ذَٰلِكَ الخ اشاره ده چه دا ګمان کول بے اختیاره نه دی بلکه دوی په دے باندے خوشحاله دی چه رسول او مؤمنان ختم شی. ظَنَّ السَّوْءِ مراد دا دے چه الله تعالیٰ د دے رسول او مؤمنانو سره هیڅ امداد نه کوی ځکه چه دوی په دین باطل باندے دی.

فَاِنَّآ اَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ سَعِيْرًا ﴿۱۳﴾ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ

نو یقینًا تیار کړے دے موږ کافرانو لره اور تیز بلیدونکے . او خاص الله تعالیٰ لره بادشاهي د اسمانونو

وَالْاَرْضِ ۭ يَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَاۗءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ

او د زمکے ده . بخښنه کوی چاته چه او غواړی او عذاب ورکوی چاته چه او غواړی

وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿۱۴﴾ سَيَقُوْلُ الْمُخَلَّفُوْنَ

او الله تعالیٰ دے . بخښنه کوونکے رحم کوونکے . زر دے وائی به پاتے کړے شوی خلق

اِذَا انْطَلَقْتُمْ اِلٰى مَغَانِمَ لِتَاْخُذُوْهَا ذَرُوْنَا نَتَّبِعْكُمْ ۚ

هر کله چه روان شئ تاسو غنیمتونو ته دے د پاره چه واخلے هغه پریګدئ موږ چه لاړ شو تاسو سره

يُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّبَدِّلُوْا كَلٰمَ اللّٰهِ ۭ قُلْ لَّنْ تَتَّبِعُوْنَا

غواړی دوی چه بدل کړی دوی کلام د الله تعالیٰ ته او وایه هیڅ چرے مه ځئ زموږ سره

كَذٰلِكُمْ قَالَ اللّٰهُ مِنْ قَبْلُ ۚ فَسَيَقُوْلُوْنَ بَلْ

دغه شان ویلی دی الله تعالیٰ د دے نه مخکښ نو زر دے دوی به اوائی بلکه

بُوْرًا جمع د بائر ده هغه ځیز ته وائی چه خراب شی او هیڅ فائده او خیر پکښ نه وی. او کُنْتُمْ پخپله معنیٰ دے یعنی دوی د دے وخت نه رواندے هم بے کاره او شریان خلق وو. یا کُنْتُمْ په معنیٰ د صرتم دے یعنی اوس اوګرځیدلے بے کاره او بے خیره.

۱۳ دا تخویف اخروی دے او اشاره ده چه د منافقانو ایمان شرعی نیشته نو دوی کافران دی.

۱۴ دا ذکر د توحید دے په ذکر د صفتونو د الله تعالیٰ سره او مقصد پکښ ترغیب دے چه د نفاق نه توبه اوکړئ نو الله تعالیٰ به درته بخښش اوکړی او علت هم دے د پاره د ماقبل یعنی الله تعالیٰ بادشاه دے چه چاله عذاب ورکوی نو هیڅوک ئے مقابله نه شی کولے.

تَحْسُدُوْنَنَا ؕ بَلْ كَانُوْا لَا يَفْقَهُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ⑮

حسد کوئے تاسو زمونږ سره بلکه دوی نه پوهیږی مګر لږ .

سھا په دے ایت کښی هم زجر دے په ذکر دَ خلورو قبا حتو تو دَ منافقانو سره. اِلٰى مَغَانِمَ لِتَاْخُذُوْهَا مراد دَ دے نه غنیمتونه دَ خیبر دی او په دے تعبیر کښی اشاره ده چه دَ خیبر په غزوه کښی لږ تکلیف وو فتح دَ هغے اسانه او یقینی وه یعنی هر کله چه صحابه کرام دَ صلح دَ حدیبیه نه واپس شول تکلیفونه ورته ډیر اور سیدل او مقصد دَ سفر ئے هم حاصل نه شو نو دَ هغوی زړونو کښی خفګان وو دَ هغے دَ زائل کولو دپاره الله تعالىٰ نبي صلّى الله عليه وسلّم ته حکم اوکړو چه غزوه دَ خیبر ته هغه صحابه کرام بوځه کوم چه په سفر دَ حدیبیه کښی شریک وو او نورچا ته اذن مه ورکوه.
ذَرُوْنَا نَتَّبِعْكُمْ نو هر کله چه فتح دَ خیبر اسانه وه او غنیمتونه حاصلیدل هم یقینی وو دَ دے وجے نه منافقینو دا مطالبه اوکړه چه مونږ هم تاسو سره غزوه دَ خیبر ته ځو. او دا ښکاره دلیل وو په دے خبره باندے چه دوی ویلے وو شغلتنا اموالنا واهلونا چه دا عذر دَ دوی بلکل دروغ وو که دوی واقعی مشغول وے نو بیا خیبر ته دَ سفر کولو والے مطالبه کوی نو معلومه شوه چه دوی دنیا پرست دی په حدیبیه کښی دَ غنیمت څه طمع نه وه او په خیبر کښی دَ غنیمت یقینی طمع وه نو دَ غنیمت په نیت دوی خیبر ته تلل غواړی. كَلٰمَ اللهِ مراد دَ دے روستو دواړه جملو کښی ذکر دے (قل لن تتبعونا كذالكم قال الله من قبل) بعض مفسرینو ویلے دی مراد دَ دے نه وعده دَ الله تعالىٰ ده دَ اهلِ حدیبیه سره چه تاسو له به غنیمتونه دَ خیبر درکوؤم او بعضو مفسرینو ویلے دی چه مراد دَ دے نه امر دَ الله تعالىٰ دے نبی صلّى الله عليه وسلّم ته چه خیبر ته دِ دے نه ځی مګر صرف حدیبیے والا. په دے روستنو دواړو اقوالو کښی وحی خفی ته کلام الله اُویلے شو یعنی احادیث هم دَ الله تعالىٰ کلام دے. بعض مفسرینو ویلے دی چه مراد دَ دے نه ایت دَ سورة توبه ۸۳ دے لیکن ابن جریر دَ دے قول رد کړے دے چه غزوه تبوك خو دَ خیبر نه روستو وه او هغه ایت خو دَ غزوه تبوک په سفر کښی نازل شوے دے.
فَسَيَقُوْلُوْنَ بَلْ تَحْسُدُوْنَنَا حاصل دا چه دوی دغه کلام دَ الله تعالىٰ خو دَ سره منی نه بلکه وائی چه تاسو دَ خیبر سفر یا غنیمتونو کښی چه مونږ له شرکت نه راکوئے نو ستاسو زمونږ سره حسد دے یعنی منافقان نسبت دَ حسد رسول الله صلّى الله

قُلْ لِّلْمُخَلَّفِيْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ سَتُدْعَوْنَ اِلٰى

ته اوایه پاتے کړے شوے بانډه چیانو ته زر دے را او بللے شئ به جنګ د

قَوْمٍ اُولِيْ بَاْسٍ شَدِيْدٍ تُقَاتِلُوْنَهُمْ اَوْ يُسْلِمُوْنَ

داسے قوم ته چه سخت جنګ والا دی قتال به کوئ دَدوی سره تردے پورے چه اسلام راوړی

فَاِنْ تُطِيْعُوْا يُؤْتِكُمُ اللّٰهُ اَجْرًا حَسَنًا وَاِنْ تَتَوَلَّوْا

نو که تاسو خبره اومنله در به کړی تاسو ته الله تعالیٰ ښائسته ثواب او که چرے تاسو مخ اوګرځوؤ

كَمَا تَوَلَّيْتُمْ مِّنْ قَبْلُ يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۱۶﴾

لکه چه تاسو مخ ګرځولے دے دَ دے نه مخکښ عذاب به درکړی تاسو ته عذاب دردناک.

علیه وسلّم او صحابه کرامو ته کوی. او حسد ویلے کیږی تمنّا کول دَ زوال دَ نعمتِ الٰهیه دَبل چا نه او دَ هغې زوال دَپاره کوشش کول او حسد په هره طریقه سره چه وی نو ګناهِ کبیره دے او حدیث صحیح کښ چه وارِد دی چه (لاحسد الا فی الثنتین) نو مراد دَ حسد نه غبطه ده یعنی سیالی کول دَبل چا دَ نعمت پشان دَ ځان دَپاره غوښتل دَپاره دَ دے چه هغه سره برابر شی. بَلْ كَانُوْا لَا يَفْقَهُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا. بَلْ دَپاره دَ ترقئ دے یعنی کلام الله بدلول او نسبت دَ حسد نبی او مؤمنانو ته کول خوځه کوے بلکه دوی جاهلان دی دَ دین او دَ الله تعالیٰ او دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم په خبرو باندے نه پوهیږی اِلَّا قَلِيْلًا مراد دَ دے نه دَ دنیا خبرے دی لکه چه سورة روم ے کښ دی.

سـ۱۶ په دے کښ اشاره ده اظهار دَ منافقت دَ دوی ته چه دوی ویلے وؤ ذَرُوْنَا نَتَّبِعْكُمْ نو دَ دے نه روستو دوئ قتال فی سبیل الله کښ شریک شول نو دا قول به دَ دوی رشتنئ وی او که نه دروغژن به وی. مِنَ الْاَعْرَابِ معلومیږی چه دَ حدیبیه نه صرف اعراب پاتے شوے وو دَ دے وجے نه دا لفظ ئے مخکښ هم ذکر کړے وؤ او په دے ایت کښ هم. سَتُدْعَوْنَ اِلٰى قَوْمٍ اُولِيْ بَاْسٍ شَدِيْدٍ مراد دَ دے نه قتال دَ بنو حنیفه اهلِ یمامه دے چه هغوی ته ابوبکر رضی الله عنه دعوت ورکړے وؤ او فارس او روم دے چه هغوی ته عمر رضی الله عنه دعوت ورکړے وؤ. او بنا په دے تفسیر باندے اشاره شوه چه دَ رسول الله صلی الله (پاتے په بل مخ)

لَيْسَ عَلَى الْاَعْمٰى حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الْاَعْرَجِ حَرَجٌ وَّ

نیشته په ړوند باندے ګناه او نه په ګوډ باندے ګناه او

لَا عَلَى الْمَرِيْضِ حَرَجٌ ؕ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ

نه په ناجوړه باندے ګناه او چاچه تابعداری اوکړه دَ الله تعالیٰ او دَ رسول دَ هغه

يُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۚ وَمَنْ

داخل به کړی دهٔ لره جنتونو ته چه بهیږی په لاندے دَ هغې نه ویالے او چاچه

يَّتَوَلَّ يُعَذِّبْهُ عَذَابًا اَلِيْمًا ﴿۱۷﴾ ع لَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنِ — النصف ع

مخ اوګرځوو عذاب به ورکړی دهٔ لره عذاب دردناک۔ یقیناً رضا شوے دے الله تعالیٰ دَ

علیه وسلّم نه روستو خلافت دَ ابوبکر او عمر رضی الله عنهما حق دے ځکه چه دَ هغوی
دَ زمانے په قتال کښں شرکت کول ئې سبب دَ اجر حسن او شرکت نه اعراض ئې سبب
دَ عذاب ګرځولے دے۔ اوبل قول داد ے چه مراد دَ دے نه قتال دَ هوازن او ثقیف دے
یعنی غزوه دَ حنین او اوطاس او طائف لیکن په دے قول باندے اعتراض دے چه
لن تتبعونا او دا رنګ سورة توبه کښں لَنْ تُقَاتِلُوْا مَعِيَ عَدُوًّا تیر شویدی دَ هغې نه
معلومیږی چه دوی ته نبی صلّی الله علیه وسلم بیا دعوت نه دے ورکړے دَ قتال
کولو؟ جواب داد ے چه ایت دَ سورة توبه خو دَ غزوه حنین نه روستو نازل شویدے
او په لَنْ تَتَّبِعُوْنَا کښں منع مختص ده په غزوه خیبر پورے۔ حرف دَ سین په ستدعون
کښں دلالت کوی چه دا دعوت په زمانه دَ نبی صلی الله علیه وسلّم کښں دے نورو ستنے
توجیه غوره ده او دغه قول دَ قتاده او دَ عکرمه دے۔ تُقَاتِلُوْنَهُمْ اَوْ يُسْلِمُوْنَ یعنی
په دے دواړو کښں په یو کاروی قتال یا اسلام لیکن په
قرینه دَ سورة توبه ۲۹ سره دا حکم دَ اهلِ کتابو باره کښں نه دے بلکه دَ هغوی نه جزیه
اغستنل هم جائز دی. دا رنګ بعضِ نورکافران چه په دلیل دَ حدیث صحیح سره دَ
هغوی نه هم جزیه اغستل جایز دی۔ كَمَا تَوَلَّيْتُمْ مِّنْ قَبْلُ اشاره ده تولّی دَ ورځ
دَ اُحد او حدیبیه او نورو واقعاتو ته۔

۱۷ دا حکم دَ معذوریتو دے چه مستثنیٰ دی دَ فرضیت دَ قتال نه. وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ
وَرَسُوْلَهٗ په دے کښں اشاره ده چه علاوه دَ قتال نه نور اطاعت په دوی باندے دَ دوی

الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ يُبَايِعُوْنَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا

مؤمنانو (صحابو) نه کوم وخت چه بیعت کوؤ دوی تا سره لاندے دَ او نے نه نو خبر وؤ الله تعالیٰ دَ

فِيْ قُلُوْبِهِمْ فَاَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ عَلَيْهِمْ وَاَثَابَهُمْ

هغه خیز نه چه په زړونو دَ دوی کښ وؤ نو راولیږله الله تعالیٰ تسلی په دوی باندے او بدله ئے ورکړه دوی له

فَتْحًا قَرِيْبًا ﴿۱۸﴾ وَّمَغَانِمَ كَثِيْرَةً يَّاْخُذُوْنَهَا وَكَانَ اللّٰهُ

فتح نزدے او غنیمتونه ډیر چه اخلی دوی هغه او الله تعالیٰ دے

دَ استطاعت موافق فرض دے لکه دعوت تبلیغ وغیره.

فائده ۱:۔ اعمٰی ئے مخکښ ذکر کړو ځکه چه قتال کښ اول دَ نظر کولو ډیر ضرورت وی او ړوند والے دا سے عذر دے چه نه ځائله کیږی بیا ور پسے اعرج ذکر کړو ځکه چه روستو دَ صلاحیت دَ نظر نه دَ خپو دَ سلامتیا ضرورت دے او دا عذر هم زر نه ځائله کیږی او هر کله چه عرج (دَ یو خپے ګډ والے) عذر دے نو په دواړو خپو شل کیدل خو ضرور عذر دے.

فائده ۲:۔ دَ حدیبیه نه کوم مسلمانان چه پاتے شویوؤ نو دَ هغوی دغه درے عذرونه وو دَ دے وجے دا ئے خاص کړه په ذکر سره که نه دَ دے نه علاوه نور عذرونه هم شته چه په سورة توبه ۱۹ ۹۲ کښ ذکر شوی دی یا په احادیث صحیحه کښ ذکر دی.

۱۸ دَ دے ایت نه تر اخر دَ سورت پورے دویم باب دے په دے کښ اته حالات دَ صحابه کرامو ذکر کوی کوم چه حدیبیه کښ حاضر وو او دوی لره دنیوی او اخروی بشارتونه ذکر کوی او دَ دوی په مقابله کښ زجرونه دی منافقانو او مشرکانو ته بیا جواب دَ یو شبهے دَ منافقانو دے په اخر کښ عظمتِ شان دَ نبی صلّی الله علیه وسلم دے او دَ عام صحابه کرامو لس صفات ذکر کوی.

تفسیر:۔ په دے ایت ۱۸ کښ دَ صحابه کرامو دوه حالتونه او درے بشارتونه ذکر کوی. لَقَدْ رَضِيَ په دے کښ اول بشارت دے په ډیر تاکید سره او سورة توبه ۱۰۰ کښ دا سے بشارت ټولو صحابو ته ذکر شوے دے او دَ دے لفظ دَ وجے نه بیعت دَ حدیبیے ته بیعت الرضوان وئیلے کیږی. اِذْ يُبَايِعُوْنَكَ او دَ دے سبب په اختصار سره دا دے چه نبی صلّی الله علیه وسلم حدیبیه مقام ته په اراده (پاتے په بل مخ)

دَعمرے تقریبًا دَ پنځلس سوه صحابه کرامو نه اورسیدلو نو اول قاصد ئے مکے والو ته جواس بن امیه خزاعی رضی الله عنه اولیږلو لیکن دَ هغه مخے ته ډیر مشرکان حائل شول او مکے ته ئے دَ تللو اجازت ورنه کړو بیائے عثمان رضی الله عنه اولیږلو هغوی عثمان رضی الله عنه ته اجازت ورکړو چه ته عمره اوکړه لیکن نبی صلّی الله علیه وسلّم او نورو صحابو ته اجازت نیشته نو عثمان رضی الله عنه اوفرمائیل چه زه طواف نه کوم ترڅو پورے چه نبی صلّی الله علیه وسلّم نه وی کړے په دے خبرو اترو سره عثمان رضی الله عنه مکه کښں ډیر ایسار کړے شو. او خبر خور کړے شو چه هغه قتل کړے شوے دے نو دغه وخت نبی صلّی الله علیه وسلّم صحابه کرامو ته دعوت ورکړو چه راشئ ما سره بیعت اوکړئ چه قتال به کوو او تیښته به نه کوو او نبی صلّی الله علیه وسلّم دغه وخت دَ کیکر دَ اونے په سوری کښں ناست وؤ نو ټولو صحابو بیعت اوکړو او نبی صلّی الله علیه وسلّم خپل ښے لاس په خپل ګس لاس کښں کیخودلو چه دا بیعت دَ پاره دَ عثمان رضی الله عنه دے او دا واقعه دَ عثمان رضی الله عنه دَ رفعتِ شان دَ پاره لوئے دلیل دے او یو حدیث کښں وارد دی چه نبی صلّی الله علیه وسلّم اوفرمائیل چه اور دَ جهنم ته به نه داخلیږی هیڅوک دَ هغه چا نه چه دَ دے اونے دَ لاندے ئے دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم سره بیعت کړے دے۔ او سعید بن المسیب دَ خپل پلار نه روایت کوی چه زه هم په دغه بیعت کوؤنکو کښں شامل وم نو هر کله چه راتلونکے کال مونږ په دغه لاره راغلو نو هغه اونه زمونږ نه بلکل هیره کړے شوه او عام تاریخونو کښں لیکلے دی چه دَ عمر رضی الله عنه په دورِ خلافت کښے بعض خلق به راتلل او دَ یوے اونے دَ لاندے به ئے مونځونه کول په دے عقیدے سره چه دا متبرک مقام دے (دا اونه دوی په خپل خیال سره مقرر کړے وه) نو عمر رضی الله عنه حکم اوکړو دَ هغے اونے په پریکولو سره او هغه لارئے بنده کړله. او کتاب الاعتصام شاطبی ویلے دی چه دا کار عمر رضی الله عنه دَ دے دَ پاره اوکړو چه په داسے تبرکاتو سره دَ شرک دروازه پرانستے نه شی لیکن افسوس په دے امت روستنی دا دے چه دوی دَ ډیرو پیرانو دَ څیزونو ته او مکانونو دَ ناستے نه په داسے طریقے سره حصول دَ تبرکاتو شورو کړے دے چه هر قسم شرک په هغے کښں کوی هغے ته سجدے کوی دَ هغے نه فائدے اغستل او مرضونه دفع کولو عقیده لری دَ هغے دَ پاره نذر و نیاز هم پیش کوی دَ هغے په خوا کښں عرسونه هم کوی، فَاَنّٰی یُؤْفَکُوْنَ، فَعَلِمَ مَا فِیْ قُلُوْبِهِمْ مراد دَ ما فی قلوبهم نه صدق او اخلاص دے

عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴿١٩﴾ وَعَدَكُمُ اللّٰهُ مَغَانِمَ كَثِيْرَةً

زورآور حکمتونو والا. وعده کړے ده الله تعالیٰ تاسو سره د ډیرو غنیمتونو

تَاْخُذُوْنَهَا فَعَجَّلَ لَكُمْ هٰذِهٖ وَكَفَّ اَيْدِيَ النَّاسِ

چه اخلے به تاسو هغه نو زر ئې درکړو تاسو ته دا او وبندئې کړو لاسونه د خلقو

عَنْكُمْ ۚ وَلِتَكُوْنَ اٰيَةً لِّلْمُؤْمِنِيْنَ وَيَهْدِيَكُمْ

ستاسو نه او د دے دپاره چه شی نخښه دپاره د مؤمنانو او کلک کړی تاسو لره

صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ﴿٢٠﴾ وَّاُخْرٰى لَمْ تَقْدِرُوْا عَلَيْهَا

په لار نیغه باندے او نور غنیمتونه چه ستاسو وس نه دے برشوے په هغے باندے

یعنی د بیعت کولو نه مخکښ د دوی اخلاص الله تعالیٰ ته معلوم وؤ او وفاء د علت دپاره ده یعنی الله تعالیٰ په وخت د بیعت کښ د دوی نه په دے وجه رضا شو چه الله تعالیٰ ته د مخکښ نه د دوی اخلاص معلوم وؤ. فَاَنْزَلَ السَّكِيْنَةَ عَلَيْهِمْ دا عطف دے په رَضِیَ باندے یعنی رضا د الله تعالیٰ سبب اوګرځیدلو د دوی د اطمینان او د شجاعت د قتال دپاره سرهٔ د لګ عدد نه. وَاَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيْبًا مراد د دے نه فتح د خیبر ده چه په واقعه د حدیبیه پسے متصل اوشوه او دا الله تعالیٰ عِوض اوګرځوؤ دپاره د اخلاص د بیعت کولو.

ف ۱۹ دا عطف دے په فتحًا باندے او مراد ترینه غنیمتونه د خیبر دی چه هغه زمکے باغات نقود او نور مالونه وؤ.

ف ۲۰ دا هم بشارت دنیویه دے او مراد د دے مغانم نه روستو د خیبر نه تر وفات د نبی صلی الله علیه وسلم پورے ټول غنیمتونه دی. هٰذِهٖ. غنیمتونو د خیبر ته اشاره ده. وَكَفَّ اَيْدِيَ النَّاسِ عَنْكُمْ دا بل معجزانه انعام دے چه هرکله نبی صلی الله علیه وسلم اراده د سفر د عمرے اوکړه نو یهودیانو قصد اوکړو چه مدینه باندے حمله کوؤ دا رنګ هرکله چه اراده د غزوه د خیبر ئې اوکړه نو قبائیلو د اسد او غطفان قصد اوکړو چه په مدینه باندے حمله اوکړی لیکن د دے ټولو په زړونو کښ الله تعالیٰ رعب واچوو او د خپلو ارادونه واپس شول. وَلِتَكُوْنَ اٰيَةً لِّلْمُؤْمِنِيْنَ دا عطف دے په مقدر (پټ) باندے یعنی تشکروه ولتکون او ضمیر په تکون راځی په بل مخ)

قَدْ اَحَاطَ اللّٰهُ بِهَا ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ

یقینًا راګیر کړیدی الله تعالیٰ هغه لره په علم خپل کښې، او دے الله تعالیٰ په هر څیز باندے

قَدِيْرًا ﴿۲۱﴾ وَلَوْ قٰتَلَكُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوَلَّوُا الْاَدْبَارَ

قدرت لرونکے ۔ او که چرے جنګ اوکړی تاسو سره کافران نو او به ګرځوی شاګانے

ثُمَّ لَا يَجِدُوْنَ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴿۲۲﴾ سُنَّةَ اللّٰهِ

بیا به نه مومی دوی هیڅ دوست او نه مددګار ۔ پشان دَ طریقے دَ الله تعالیٰ

الَّتِىْ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلُ ۚ وَلَنْ تَجِدَ لِسُنَّةِ اللّٰهِ

هغه چه تیره شویده مخکښې او هیڅ چرے او به نه مومے ته طریقے دَ الله تعالیٰ لره

تَبْدِيْلًا ﴿۲۳﴾ وَهُوَ الَّذِىْ كَفَّ اَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ وَاَيْدِيَكُمْ

بدلیدل ۔ او خاص الله تعالیٰ هغه ذات دے چه بند یئے کړل لاسونه دَ دوی ستاسو نه او لاسونه ستاسو

کښې راجع دے عجلت دَ غنیمتونو دَ خیبر او دَ دشمنانو لاسونه دفع کولو ته په تاویل دَ مذکور سره ۔ او دَ مؤمنانو دَ پاره ایت (دلیل) شو چه الله تعالیٰ دَ دوی حفاظت کوی که دوی په کورونو کښې حاضر وی او که غائب وی یا دلیل شو په صدق دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم باندے ۔ وَيَهْدِيَكُمْ اه یعنی دغه معجزانه کارونه سبب دے دَ تثبت او دَ زیادت دَ ایمان دَ پاره ۔

س ۲۱ دا هم داخل دے بشارت دنیویه کښې ۔ وَاُخْرٰى فعل پټ دے یعنی وعدکم مغانم اخرٰی ۔ او ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه مراد دَ دے نه هغه فتوح دی چه روستو مسلمانانو ته ورکړے شوے وو لکه فارس او روم اګر چه په اول وخت کښې په هغې باندے قدرت نه وو ۔ قَدْ اَحَاطَ اللّٰهُ بِهَا یعنی په علم دَ الله تعالیٰ کښې راګیر وو یا دا چه الله تعالیٰ ستاسو دَ پاره محبوس او محفوظ ساتلے وو ۔

س ۲۲ س ۲۳ دا هم په بشارت کښې داخل دے یعنی کافران تاسو سره قتال نه شی کولے دَ دے وجې نه چه الله تعالیٰ ستاسو سره مدد کوی ۔ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مراد دَ دے نه مکے والا دی په واقعه دَ حدیبیه کښې یا مراد ترینه ټول کافران دی ۔ سُنَّةَ اللّٰهِ فعل یئے پټ دے یعنی سَنَّ اللّٰهُ سنةً یا کاف تشبیهی پټ دے یعنی کسنةِ

عَنْهُمْ بِبَطْنِ مَكَّةَ مِنْ بَعْدِ اَنْ اَظْفَرَكُمْ عَلَيْهِمْ ط

دَ هغوی نه په مینځ دَ مکه کښ روستو دَ دے نه چه وس ئے برکړو ستاسو په هغوی باندے

وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرًا ﴿۲۴﴾ هُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

او الله تعالیٰ دے ستاسو عملونو لره لیدونکے. داهغه خلق دی چه کفر ئے کړیدے

وَصَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَالْهَدْيَ مَعْكُوْفًا

او منع کړے ئے تاسو دَ مسجد حرام نه او هدیو لره چه بندے کړیشویدی

اَنْ يَّبْلُغَ مَحِلَّهٗ ؕ وَلَوْلَا رِجَالٌ مُّؤْمِنُوْنَ وَنِسَآءٌ

دَ رسیدلو نه ځائے دَ حلالے ته او که چرے نه وے سړی مؤمنان او زنانه

الله تعالیٰ او مراد ترے نه امداد دَ الله تعالیٰ دے دَ تیر شوے انبیاء علیهم السّلام سره په مقابله دَ کافرانو کښ چه الله تعالیٰ هغوی سره امداد کړے وو او کافران ئے مغلوب کړی او تباه کړے وو.

۲۴ داهم ذکر دَ انعام دَ الله تعالیٰ دے په مؤمنانو باندے او دا رنګ تائید دے دَ مخکښ ایت یعنی دَ قتال په وخت کښ په دوی شاګرځوی دَ وجه دَ امداد دَ الله تعالیٰ ته تاسو سره لکه چه په دے واقعه خاصه کښ الله تعالیٰ ستاسو مدد کړے دے.

وَهُوَ الَّذِيْ كَفَّ اَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ دَ ترمذی په روایت کښ راغلی دی چه اتیا کسان دَ کافرانو نه دَ جبل تنعیم دَ طرف نه دَ صبا دَ مانځه په وخت کښ راکوز شول او قصد ئے کړے وو چه نبی صلی الله علیه وسلم لره قتل کړی نو صحابه کرامو دوی لره اونیول لیکن رسول الله صلّی الله علیه وسلم بیا دوی آزاد کړل. دَ دے واقعے په بِنا مراد دَ بطن مکه نه حدیبیه ده دَ دے وجے نه چه دَ حدیبیے څه حِصّه په مکه کښ یعنی (حرم) کښ داخل ده او بعض مفسرینو ویلے دی مراد دَ دے نه صلح دَ حدیبیه ده چه الله تعالیٰ تاسو په مکه کښ دَ جنګ کولو نه بچ کړے ئے اګر چه تاسو له ئے غلبه او قدرت در کړے وو نو بِنا په دے تفسیر باندے دَ بطن مکه نه تفسِ مکه مراد ده.

مُّؤْمِنٰتٌ لَّمْ تَعْلَمُوْهُمْ اَنْ تَطَـُٔوْهُمْ فَتُصِيْبَكُمْ مِّنْهُمْ

مؤمنې چه تاسو هغوی نه پیژنئ چه د خپو د لاندې به ئې کړئ نو او به رسیږی تاسو ته د دوی د وجې نه

مَّعَرَّةٌۢ بِغَيْرِ عِلْمٍ ۚ لِيُدْخِلَ اللّٰهُ فِىْ رَحْمَتِهٖ مَنْ

نقصان په بغیر د پوهې نه د دې د پاره چه داخل کړی الله تعالیٰ په رحمت خپل کښې هغه چا لره

يَّشَآءُ ۚ لَوْ تَزَيَّلُوْا لَعَذَّبْنَا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ عَذَابًا

چه او غواړی، که چرې دوی لرې شول نو عذاب به ورکړو مونږ کافرانو ته د دوی نه عذاب

اَلِيْمًا ﴿۲۵﴾ اِذْ جَعَلَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فِىْ قُلُوْبِهِمُ الْحَمِيَّةَ

دردناک . کله چه واچوؤ کافرانو په خپلو زړونو کښې غیرت

ف ۲۵ په دې ایت کښې حال د اهل مکه کافرانو بالخصوص ذکر کوی او دفع د وهم کوی که څوک اووائی چه صلح حدیبیه ولې اوکړې شوه بلکه الله تعالیٰ به امداد کړې وې د مؤمنانو سره او په مکې والو باندې به ئې حمله کړې وې او قتال به شوې وې؟

حاصل د جواب دا دې چه هاں سبب د قتال خو موجود وو هغه کفر د دوی او د مسجد حرام نه منع کول د مؤمنانو او منع کول د هدایا چه دا روستنی دواړه د دې مشرکانو په دین کښې هم ناروا وو. لیکن د قتال نه مانع موجود وو هغه وجود د کمزورو مؤمنانو دې په مکه کښې او وجود د هغه کسانو چه الله تعالیٰ د هغوی د پاره ایمان راوړل مقرر کړې وو یعنی که چرې په مکه کښې په دغه وخت قتال کړې شوې وې نو دغه مؤمنان به یکښې په غلطۍ او خطائی سره قتل کړې شوې وو. وَالْهَدْيَ دا عطف دې په صدّوکم باندې مَعْكُوْفًا دا حال دې او په معنیٰ د محبوسًا دې (ترلې شوې او بندې کړې شوې) اَنْ يَّبْلُغَ مَحِلَّهٗ دا بدل اشتمال دې د الهدیٰ نه یا مفعول له دې. قرطبی وئیلې دی چه محل په زیر د حا سره غایة او منتهی ته وئیلې کیږی او مَحَل په زور د حا سره ځائې د نزول او د دیره کیدلو ته وئیلې کیږی. دلته مراد د محل نه مکان د نحر او د ذبح کولو د هدایه دې او هغه حرم شریف دې. وَلَوْلَا رِجَالٌ اه دا ذکر د مانع د قتال دې او مراد د دې کسانو نه هغه مؤمنان دی چه د هجرت کولو نه په سبب د عذر سره یا د کافرانو په جبر سره پاتې شوې وو. لَمْ تَعْلَمُوْهُمْ یعنی تاسو ته علم د هغوی د ایمان نیشته یا تاسو هغوی شخصی طور سره نه پیژنئ. اَنْ تَطَـُٔوْهُمْ دا بدل اشتمال دې

حَمِيَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِينَتَهُ عَلٰى رَسُولِهٖ

غيرت د جاهليت نو را اوليږله الله تعالىٰ تسلي خپله په رسول خپل باندې

وَعَلَى الْمُؤْمِنِينَ وَأَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوٰى وَ

او په مؤمنانو (صحابو) باندې او ملګري ئې کړه په دوی باندې کلمه د توحيد او

كَانُوا أَحَقَّ بِهَا وَأَهْلَهَا ۚ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ

وؤ دوی ډير حقدار د هغې او لائق د هغې او الله تعالىٰ دے په هر څيز باندې

د رِجَالٌ او نِسَاءٌ نه اومراد د دے نه پامال کول د هغوی دی په وخت د قتال کښې په قتل کولو زخمي کولو او وهلو سره۔ فَتُصِيبَكُمْ، فا سببيه ده يعنې پامال کول ستاسو هغوی لره سبب د مصيبت ستاسو دے مَعَرَّةٌ لسان العرب کښې ويلې دی چه معرّة ځائے د خارخ ته وائي او دارنګ ګناه او سختئ اذي (مصيبت) او جنايت او تاوان ته هم ويلې کيږی. نو دلته معنیٰ دا شوه که چرے تاسو مؤمنانو لره په بے علمئ سره وژلے وے نو لازم شوے به وے په تاسو پورے بد نامے لګول د کافرانو او ديتونه د قتيلانو ځکه چه يو مؤمن په دارحرب کښې وی او هجرت ئې نه وی کړے او د هغه د ايمان علم قاتل ته نه وی او قتل کړے شی نو په دے سره کفاره لازميږی لکه چه سورة نساء ۹۲ کښې تير شويدی۔ بِغَيْرِ عِلْمٍ اشاره ده عذر د مؤمنانو مجاهدينو ته ځکه چه کامل مؤمن بل مؤمن لره قصدًا نه قتل کوی۔ او د لَوْلَا جواب پټ دے لَأَذِنَ اللّٰهُ لَكُمْ فِي دُخُولِ مَكَّةَ أَوْ لَسَلَّطَكُمْ عَلَيْهِمْ. لِيُدْخِلَ اللّٰهُ فِي رَحْمَتِهٖ مَنْ يَشَاءُ دا علت دے د محذوف د پاره يعنې تاسو ئې مسلط نه کړئ په اهل مکه باندے د پاره د دے چه بعض کسانو لره توفيق د ايمان ورکړی او دغسے اوشوه ځکه چه روستو د صلح حديبيه نه ډير کسان مسلمانان شول۔ لَوْ تَزَيَّلُوا يعنې که چرته دا مؤمنان د کافرانو نه جدا شی نو بيا به په دے کافرانو باندے ضرور عذاب راځی د قتاده نه روايت دے چه دا ايت دليل دے چه د مؤمنانو په وجه الله تعالىٰ د کافرانو نه عذاب دفع کوی او د دے قسم ډير مسائل مفسر قرطبي دلته ذکر کړے دی هغه اوګورئ۔

ع ۱۲ ۳

عَلِيمًا ﴿۲۶﴾ لَقَدْ صَدَقَ اللّٰهُ رَسُوْلَهُ الرُّءْيَا بِالْحَقِّ

علم والا۔ یقیناً رشتنی کړے دے اللّٰه تعالیٰ دَ رسول خپل سره خوب په حقه سره

ف ۲۶ دا هم ذکر دَ سبب دَ قتال او ذکر دَ مانع دَ قتال دے۔ یعنی مشرکانو دَ قتال دَ پاره سبب جوړ کړے وو چه هغه حمیّت دَ جاهلیت وو او په دے کښ ډیر قباحت دَ مشرکانو ذکر کوی هغه دا دے چه دَ مسجدِ حرام او دَ عمرے نه منع کول خو دَ دوی په دین کښ هم جائز نه وو لیکن سرهٔ دَ دے نه دوی مؤمنانو لره منع کړل دا خالص جاهلیت دے او دَ جاهلیت غیرت دا وو چه په خط دَ صلح کښ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ او محمد رسول اللّٰه لیکل ئے نه منل او دا رنګ دَ خپل معبودانِ باطله دَ پاره ئے حمیّت او عصبیّت کوو۔ صرف حمیت۔ (غیرت کول) په حق باندے جائز دے لیکن په باطل باندے غیرت کول حرام دی دَ دے وجے دَ الحمية نه روستو حمية الجاهلية ئے ذکر کړو۔ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ مراد دَ دے نه توفیق دَ صبر او استقامت دے په مقابله دَ حمية الجاهلية کښ او دیته رسول هم محتاج دے دَ دے وجے نه عَلٰى رَسُوْلِهٖ ئے ذکر کړو او دَ سورت په ف ۴ او ۱۸ کښ مراد تسلیم وو دَ صلح حدیبیه شرطونه چه نبی صلی اللّٰه علیه وسلّم مقرر کړے وو لیکن دَ صحابه کرامو په زړونو کښ دَ هغے نه خفګان وو نو هغه خفګان اللّٰه تعالیٰ ختم کړو دَ دے وجے په هغه ایت کښ صرف په مؤمنانو کښ انزال السکینه ذکر کړے وو۔ وَاَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوٰى هغه کلمه چه په هغے سره دَ شرک نه بچاؤ کیږی او هغه کلمه دَ توحید ده او دا تفسیر قرطبی کښ په حدیث مرفوع او په اقوالو دَ صحابه کرامو سره هم ذکر کړے ده۔ او مراد دا دے چه مشرکان په شرک باندے کلک وو نو اللّٰه تعالیٰ مؤمنانو لره په توحید باندے کلک کړل یا مراد دا دے چه لازم ئے کړو په دوی باندے رعایت او لحاظ کول دَ کلمے دَ توحید یعنی دا سے طریقه اختیار کړئ چه په هغے سره کلمه دَ توحید او چتیږی۔ وَكَانُوْٓا اَحَقَّ بِهَا وَاَهْلَهَا په دے کښ اشاره ده چه دا الزام په دوی باندے جبرًا کرهًا او دَ دوی دَ اهانت دَ پاره نه وو بلکه دا خو حقدار نه دَ هغه حق ورکول وو۔ او اَحَقَّ اسم تفضیل کښ اشاره ده چه کوم خلق دَ دوی نه روستو مسلمانان شوی دی نو هغوی حقدار دَ دے کلمے دی لیکن اصحاب دَ حدیبیے دِ ټولو نه زیات حقدار وو۔ وَاَهْلَهَا په دیکښ اشاره ده چه حقدار ئے دَ دوی عارضی نه وه بلکه دوی په علم دَ اللّٰه تعالیٰ کښ دَ دے کلمے اهل وو او په دیکښ اشاره ده هغه حدیث ته چه اِخْتَارَهُمُ اللّٰهُ (الصَّحَابَةَ) لِصُحْبَةِ نَبِيِّهٖ ۔

لَتَدْخُلُنَّ الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ اٰمِنِيْنَ

ضرور داخلیږئ به مسجد حرام ته چه الله تعالیٰ اوغواړی امن والا

مُحَلِّقِيْنَ رُءُوْسَكُمْ وَمُقَصِّرِيْنَ لَا تَخَافُوْنَ

خریونکی د سرونو خپلو او لنډوونکی د وېښتو نه به ویرېږئ د دشمن نه

فَعَلِمَ مَا لَمْ تَعْلَمُوْا فَجَعَلَ مِنْ دُوْنِ ذٰلِكَ فَتْحًا

نو خبر وو الله تعالیٰ د مصلحت (حکمتونو) نه چه تاسو نه وئ خبر نو درکړه الله تعالیٰ د دے نه مخکښ فتح

قَرِيْبًا ﴿۲۷﴾ هُوَ الَّذِيْٓ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ بِالْهُدٰى وَدِيْنِ

نزدے ۔ خاص الله تعالیٰ هغه ذات دے چه راولیږلو ئے رسول خپل په هدایت سره او په دین

۲۷ دا تسلی ده رسول الله صلی الله علیه وسلّم او صحابه کرامو ته او متعلق دے د
فانزل الله سکینته سره او جواب د سوال د منافقینو دے چه هغوی وئیل چه رسول الله
صلّی الله علیه وسلّم ویلے وو چه ما خوب لیدلے دے چه مونږ مسجدِ حرام ته
داخل شو او عمره مو کړے ده او حال دا چه دے خو واپس د حدیبیے نه راغے او
عمره ئے اونکړه نو په دے ایت کښ جواب دے حاصل ئے دا دے چه په خوب
کښ داسے نه وو ویلے شوی چه په دے کال کښ به وی نو دا تلونکی کال به دلخوب
ضرور رشتنی شی ۔ الرُّءْيَا دلته حرف د فِيْ پټ دے یعنی په خوب کښ ورته رشتیا
ویلے وو ۔ یا صادق په معنیٰ د مضارع دے معنیٰ دا چه رشتنی به اوګرځوی خوب له
نو الرُّءْيَا مفعول به شو ۔ بِالْحَقِّ د پاره د ښکاره کولو د حق او د حکمتونو ۔ نو په یکښ
د دے خوب فائدو او حکمتونو ته اشاره ده ۔ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ (سوال) دا کلمه د شک
په مقام کښ استعمالیږی نو دا د الله تعالیٰ د شان سره مناسب نه ده ؟ (جواب) په دیرو
طریقو سره ! اول دا چه ابوعبیدہ ویلے دی اِنْ په معنیٰ د اذ سره دے غوره دا چه
په معنیٰ د اذا سره وی ۔ دویم دا کلمه د پاره د تعلیم د بندګانو خپلو ده ۔ دریم دا چه اِنْ
په معنیٰ د ګما سره دے ۔ څلورم دا کلمه د تبرك د پاره ده لیکن بیا هم د تعلیم د بندګانو
د پاره ده ځکه چه الله تعالیٰ تبرك ته محتاج نه دے ۔ مُحَلِّقِيْنَ رُءُوْسَكُمْ وَمُقَصِّرِيْنَ
دا اشاره ده پوره کولو د عمرے ته په تحلیل سره روستو د طواف او سعی نه او حلق
(وېښته خرئیل) په تحلیل د احرام کښ غوره دے د قصر نه (راټے په بل مخ)

الْحَقِّ لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ

حق سره دَ دے دَپاره چه غالب کړی دهٔ لره په ټولو دینونو باندے او پوره دے الله تعالیٰ

شَهِيْدًا ۞ ۲۸ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ؕ وَالَّذِيْنَ مَعَهٗۤ

گواهی ورکوونکے ۔ محمد صلی الله علیه وسلم رسول دَ الله تعالیٰ دے، او هغه کسان چه دَ دهٔ تابعداری (صحابه)

دَ دے وجے نه محلقین ئے مخکښ ذکر کړو هاں عام حالات کښ قصر غوره دے دَ حلق نه په دلیل دَ دے سره چه دَ نبی صلی الله علیه وسلم نه حلق بغیر دَ تحلیل دَ حج او عمرے نه ثابت نه دے او هغه حدیث چه په هغے کښ محلقینو ته درے کرته دُعا کړے ده هغه هم خاص دے په حالت دَ تحلیل بعد الاحرام پورے۔

سوال :۔ محلقین حال دَ لَتَدْخُلُنَّ نه صحیح نه دے ځکه چه په حال دَ دخول کښ حلق نه دے جائز بلکه روستو دَ دخول او دَ طواف او سعی نه دے ؟

جواب :۔ لفظ دَ اٰمِنِيْنَ کښ اشاره ده قدرت او تمکن موندل په پوره کولو دَ حج باندے صرف امن دَ دشمن نه مراد نه دے . لَا تَخَافُوْنَ دا هم حال دے۔

سوال :۔ اٰمنین دلالت کوی په عدم خوف باندے نو دا لفظ ئے بیا ولے ذکر کړو؟

جواب :۔ دا دَ اثبات دَ دوامِ امن دَپاره دے روستو دَ عمرے کولو نه یعنی په حال دَ عمرے کښ به هم امن وی او روستو دَ هغے نه به هم خوف نه وی. فَعَلِمَ مَا لَمْ تَعْلَمُوْا دا علت دے دَ مقدر (ریت) دَپاره یعنی عمره کول ستاسو یو کال روستو کړے شوه نو فا په معنیٰ دَ علت سره ده۔ مَا لَمْ تَعْلَمُوْا اشاره ده هغه حکمتونو ته چه په صلح دَ حدیبیه کښ وو لیکن مؤمنانو ته دَ مخکښ نه علم دَ هغے حاصل نه وو۔

فَجَعَلَ مِنْ دُوْنِ ذٰلِكَ فَتْحًا قَرِيْبًا . ذٰلِكَ اشاره ده خوب ته او دَ فَتْحًا قَرِيْبًا نه مراد صلح ده یا ذٰلك اشاره ده صلح ته او دَ فتح قریب نه مراد فتح دَ خیبر ده۔

س۲۸ دا علت دے دَ لقد صدق الله اه دَپاره او ذکر دَ صداقت دَ رسول صلی الله علیه وسلم دے دَپاره دَ ردکولو په هغه مشرکانو باندے چه صلحنامه دَ حدیبیه کښ محمد رسول الله لیکلو نه ئے انکار کوؤ او ویل ئے چه موږ ستا رسالت نه منو او دَ هغے په ځائے ئے محمد بن عبد الله اولیکلو. بِالْهُدٰى وَدِيْنِ الْحَقِّ مراد دَ هدیٰ نه قرآن دے او دین الحق دَ هغے تشریح ده په سنت سره یا مراد دَ هدیٰ نه عقیده ده او دین الحق نور احکام دی یا مراد دَ هدیٰ نه دلیلونه

أَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ تَرٰىهُمْ رُكَّعًا

سخت دی په مقابله دَ کافرانو کښې رحم کوونکې دی په مینځ خپل کښې وینې ته دوی رکوع کوونکی

سُجَّدًا يَّبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا سِيْمَاهُمْ

سجده کوونکی لټوی فضل دَ الله تعالیٰ نه او رضا دَ هغه ۔ نخښې دَ دوی

فِيْ وُجُوْهِهِمْ مِّنْ أَثَرِ السُّجُوْدِ ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِي

په مخونو دَ دوی کښې دی دَ وجې دَ نخښو دَ سجدو کولو نه، دا دَ دوی حال دے په

التَّوْرٰىةِ وَمَثَلُهُمْ فِي الْإِنْجِيْلِ كَزَرْعٍ أَخْرَجَ

تورات کښې او حال دَ دوی په انجیل کښې پشان دَ کروندے چه راوباسی

شَطْـَٔهٗ فَاٰزَرَهٗ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوٰى عَلٰى سُوْقِهٖ

تیغ خپل نو کلک کړی هغه نو غټ شی بیا برابر او دریږی په پنډو خپلو باندے

يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيْظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ

خوشحالوی زمیندار لره (عاقبت دا) چه غصه شی په سبب دَ دے سره کافران، وعده کړیده الله تعالیٰ دَ هغه کسانو سره

او مواعظ دَ قرآن او دَ حدیث دی او مراد دَ دین حق نه مسائل او احکام دَ دواړو دی.
لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ كُلِّهٖ ضمیر اول راجع دے دین حق ته
یا راجع دے رسول ته او اظهار نه مراد غالب کرځول دی او الدِّيْنِ مفرد په معنیٰ دَ جمع سره دے. یا ضمیر راجع دے رسول ته او اظهار نه مراد اخبار او اعلام دے او الدِّيْن نه مراد ټول دینِ اسلام دے. وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا مراد ترینه شهادت دَ الله تعالیٰ دے په حقانیت دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم باندے اګرچه مشرکان شهادت نه کوی په رسالت دَ هغه باندے. او دا ۳ ایت په سورة توبه ۳۳ کښې او سورة صف ۹ کښې هم دے لیکن په هغه سورتونو کښې رد په مشرکینو اهلِ کتابو باندے مقصد وو نو ذکر کړے وو ولو کره المشرکون او په دے سورت کښې په صلح کوونکو مشرکانو باندے رد دے چه هغوی صلحنامه کښې په رسالت باندے شهادت نه کوؤ.

آمَنُوا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ مِنْهُمْ مَّغْفِرَةً وَّ ع ۴ ۱۳

چه ایمان ئې راوړے دے او عملونه ئې کړیدی دَ سنت برابر دَ دوی نه . بخښنه او

أَجْرًا عَظِيمًا ﴿۲۹﴾

ثواب لوئے .

۲۹ روستو دَ اثبات دَ رسالت او مقصد دَ رسالت نه اوس اوصاف دَ رسول او دَ صحابه کرامو ذکر کوی او دا لس صفتونه دَ صحابه کرامو په عام حالاتو کښ دی او تیر شوی اته احوال وو صرف په حالت دَ بیعت الرضوان کښ . مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللّٰهِ دا شهادت دَ الله تعالٰی دے په رسالت دَ محمد صلی الله علیه وسلّم باندے لکه چه تیر شوی آیت په آخر کښ دَ هغې ذکر کړے شوے وؤ . وَالَّذِيْنَ مَعَهٗٓ دا عطف دے په ما قبل باندے کله چه محمد موصوف وی او رسول الله صفت ئې نو په دے مینځ کښ وقف نشی کیدلے او روستو صفات دَ رسول الله سره دَ صحابه کرامو دی . یا مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللّٰهِ مبتداء او خبر دی او الَّذِيْنَ مَعَهٗٓ مبتداء ده او مابعد ئې خبر دے نو دا صفتونه صرف دَ صحابه کرامو دی او دا قول غوره دے . مَعَهٗٓ مراد دَ دے نه معیت دَ صحبت دے تر مرګه پورے او صرف صحابه ترینه مراد دی یا مراد ترینه معیت دَ تابعداری دے نو ټول مؤمنان ترینه مراد دی .

اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ دا اول صفت دے او دا شدت دَ وجے دَ نفرت دَ کفر او دَ شرک نه دے ، طبعی نه دے او دَ حسن بصری نه روایت دے چه په شدت کښ صحابه دا سے حالت ته رسیدلے وو چه ځپلے جامے به ئې هم دَ کافرانو نه بچ ساتلے او بدنونه به ئې هم دَ هغوی دَ بدنونو نه ساتل دَ عبد الله بن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه چا مشرک سره مصافحه اوکړه نو لاس دِ اُووینځی . دا هم دَ قبیلے دَ شدت نه دے . او مراد دَ شدت نه د مداهنت نه ځان ساتل دی او په دین حق باندے مضبوط پاتے کیدل دی شدت په طریقه دَ کنځل کولو بد رد ویلو سره مراد نه دے دَ پاره دَ دے چه دَ قوله قولا لینا (طه) سره منافات را نشی . رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ دا دویم صفت دے مراد دَ رحم نه په یو بل باندے ترس کول او مینه ، محبت کول او مدد کول او معاف کول دی دا سے په سورة مائده ۵۴ کښ هم ذکر دی . خطیب شربینی ویلے دی چه حق په مسلمانانو باندے په هره زمانه کښ دا دے چه دَ دے اخلاقو لحاظ دِ اوکړی سختی دِ کوی په هغه چا باندے چه دین اسلام والا نه دی او مؤمنانو سره دِ ښه ژوند تیر دی په احسان او صله رحمی

اومدد کولو او اذیت دفع کولو او صبر کولو دَ دوی دَ غلطے نه. تَرٰىهُمْ دا اشاره ده چه دا صفتونه په دوی کښ یقینی دی. رُكَّعًا سُجَّدًا دا دوه صفتونه دی او دا اشاره ده اهمیت دَ صلوٰة او کثرت دَ هغے ته دَ دوی په عملونو کښ.

فائده:- قیام ئے ذکر نه کړو ځکه چه په حال دَ قیام کښ پوره نه معلومیږی چه دا انسان مونځ کوی او که نه او هرچه حالت دَ رکوع او سجود دے نو ښکاره نښه ده دَ مونځ کولو. يَبْتَغُونَ فَضْلًا الخ دا پنځم صفت دے دَ دے نه مراد اخلاص کول دی په ټولو عملونو کښ فَضْلًا مراد تر ینه ثوابونه او جنت دے او رِضْوَانًا نو دا تخصیص دے دَ روستو دَ تعمیم نه یعنی فضل عام دے او رضا خاص ده. او فضل ئے مخکښ کړو په رضا باندے اشاره ده چه حق دَ بنده (دَ احتیاج دَ وجے نه) مخکښ دے په حق دَ الله تعالیٰ باندے یعنی فضل خو حق دَ بنده دے دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه او رضا خو صرف حق دَ الله تعالیٰ دے او دا مراد دے دَ قول دَ فقهاؤ چه حق دَ عبد مقدم دے په حق دَ الله تعالیٰ باندے یعنی هغه حق چه الله تعالیٰ بنده له ورکړے دے هغه مخکښ دے په هغه حق چه خالص صفت دَ الله تعالیٰ دے. سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِم مِّنْ أَثَرِ السُّجُودِ دا شپږم صفت دے په دے کښ اشاره ده ډیرو مونځونو کولو ته او خصوصًا مونځ دَ تهجد ته. بیا په دے نښه کښ دَ مفسرینو دوه اقوال دی یو دا چه دا به په آخرت کښ وی ځکه چه حدیث صحیح کښ راغلے دی مضمون ئے دا دے چه په ورځ دَ قیامت به الله تعالیٰ ملائکو ته حکم اوکړی چه دَ جهنم نه موحدین رااوباسئ نو ملائک به ئے پیژنی په آثارو دَ سجدے ځکه چه کوم اندامونو باندے سجده کیږی نو اور دَ جهنم به هغه نه خوری. دارنګ حسن بصری نه روایت دے چه مراد دَ دے نه سپین والے دَ مخونو دَ دوی دے په ورځ دَ قیامت، په دلیل دَ (يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ) سره. دریم قول دا دے چه دا په دنیا کښ دے یعنی علامات دَ تهجد کولو دَ شپے او دَ بیدارئ چه هغه خشوع او تواضع ده دا مجاهد ویلے دی او زیړ والے دَ مخونو دَ دوی دا ضحاک ویلے دی او دا نورانیت دے چه په مخونو دَ تهجد کوونکو متبعینو دَ سنت کښ معلومیږی او راجح دا ده چه دا جمله دواړه قولونو ته شامل ده یعنی په دنیا او په آخرت دواړو کښ به دَ اسے نښے وی. او داخل دی په آیت کښ هر هغه خوک چه په ټولو مونځونو باندے محافظت کوی. او مفسر بقاعی ویلے دی چه دا ګمان مه کوئ چه مراد دَ دے نه هغه توره غوټه (نښه) ده چه په تندی دَ بعض کسانو کښ جوړه شوے وی دا خوارج دی او په نهایه دَ ابن اثیر کښ دی چه ابوالدرداء یو سړے اولیدلو چه دَ سترګو په مینځ کښ (پاتے په بل مخ)

داسې نښه وه نو هغه اوفرمائيل که دا نه وې نوخه به وې۔ او دَ بعض متقدمينو علماؤ نه نقل دې چه مونږ موخ کوو ليکن زمونږ دَ سترګو په مينځ کښې څه ځيز نه ښکاري او اوس خو خلق موخ کوي نو دَ سترګو په مينځ کښې دَ اوښ دَ زنګون پشان نښه ښکاري نو مونږ نه پوهيږو چه سرونه دَ دوي درانه شوې دي او که زمکه زيګه شويده۔ او ابن کثير دَ مجاهد نه نقل کړې دي چه کله کله دا نښه دَ دوارو سترګو په مينځ کښې دَ هغه چا وي چه زړه ئې دَ فرعون نه هم سخت وي. ليکن مراد دَ دې نه هغه کسان دي چه داسې نښه دَريا دَ پاره جوړه وي يا مشرک يا بدعتي وي او ډير مونځونه کوي او دا نښه ئې په تندي کښې جوړه شي نو دَ داسې کسانو دغه نښه دَ تندي دغه علماؤ بده ګڼړلې ده.

ذٰلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرٰىةِ دا اوم صفت دې دَ صحابه کرامو دَ مفسرينو نه دلته دوه قولونه نقل دي اول دا چه په دې ځائې باندې وقف کول دي يعني دا مخکښې چه کوم صفات دَ صحابه کرامو ذکر شول نو داسې په تورات کښې ذکر دي او مَثَلُهُمْ فِي الْاِنْجِيْلِ نه نوې کلام (جمله) شورو کيږي. دويم قول دا دې چه وقف به په فِي الْاِنْجِيْلِ باندې وي او دَ كَزَرْعٍ نه نوې جمله شورو ده. ليکن غور په دې کښې اوله توجيه ده او قرينه دا ده چه في الانجيل سره لفظ دَ مثلهم مستقل ذکر کړې دې په ما قبل عطف دې نو فصيح کلام به داسې وې چه دويم مثلهم به ئې نه ذکر کولې او بله وجه دا ده چه دارمي او مشکوٰة باب فضائل سيد المرسلين کښې دَ کعب الاحبار نه په صفت دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم او دَ صحابه کرامو کښې عبارت دَ تورات نقل کړيدې دارنګ بقاعي په نظم الدرر کښې دَ دې ايت په تشريح کښې عبارت دَ تورات په وصف دَ صحابو کښې نقل کړيدې. وَمَثَلُهُمْ فِي الْاِنْجِيْلِ كَزَرْعٍ دا اتم صفت دې دَ صحابه کرامو په طريقه دَ مثال سره او حاصل دَ دې مثال دا دې چه نبي صلى الله عليه وسلم اول دعوت شورو کړو نو کمزورې حالت وو اجابت به يو يو سړي کوؤ او ځان به ئې پټ ساتلو ځکه چه دشمنانو نه ويره وه لکه دَ فصل چه اول تيغ ښکاره شي نو کمزورې وي او مرغو دَ خوړلو ويره هم وي بيا الله تعالیٰ دعوت قوي کړو په مکه مکرمه کښې دَ عمر رضى الله عنه او دَ ډير صحابو دَ ملګرتيا په وجه سره دين ښکاره شو لکه تيغ دَ فصل قوي شي نو ښکاره شي دَ مرغو وغيره دَ خوړلو خطره ورباندې کمه شي بيا دَ صحابه کرامو په مکه کښې او دَ مکې نه بهر په ګردونواح او په حبش کښې پوره جماعت جوړ شو لکه فصل چه غټ شي او ګلک شي نو بيا په مدينه منوره کښې خپل مستقل حکومت قائم شو لکه فصل چه پوخ شي او فائدې ئې عامې شي. دَ قتاده نه روايت دې چه مثال

دَ اصحابو دَ محمّد صلی الله علیه وسلّم په انجیل کښې لیکلے شوے دے چه را اوځی به یو قوم زرغون کیږی به په شان دَ زرغون کیدلو دَ فصل، امر بالمعروف او نهی عن المنکر به کوی. اَخْرَجَ شَطْئَهٗ شطأ نِهی ته ویلے کیږی مراد ترینه تیغ دَ غنمو، وربشو، جوارو وغیره دے او اخراج کښې اسناد (نسبت) زرع ته مجازی دے یا ضمیر دَ فاعل الله تعالیٰ دے. فَاٰزَرَهٗ دَ آزر نه ماخوذ دے قوت ته او دَ انسان ملا ته ویلے کیږی لکه اشدد به ازری. فَاسْتَغْلَظَ مراد دَ غلظت نه دا دے چه دا تیغ دَ فصل غټ شی دنگ والے او پلن والے ئے ډیر شی.

فَاسْتَوٰی عَلٰی سُوْقِهٖ سوق نه مراد تنه دَ هغه بوټی ده چه روستو دَ غټ والی نه په خپل ځائے برابر ولاړ وی هوا کانړے ئے کږولے نشی او که کوږ شی نو دَ ویخ نه ئے نه شی ویستلے. یُعْجِبُ الزُّرَّاعَ یعنی کروندګر کوونکے دَ خپل محنت نتیجه اُوینی چه فصل پوره شو بوخ شو نو هغه ډیر خوشحاله شی تو دا رنګ نبی صلی الله علیه وسلم دَ صحابه کرامو په ترقئ او په غټ جماعت او دَ دین په استقامت باندے خوشحاله شو او په دے جمله کښې اشاره ده دَ صحابه کرامو نهم صفت ته. تفسیر سراج المنیر کښې ویلے چه شَطْاَهٗ کښې اشاره ده ابوبکر رضی الله عنه ته فَاٰزَرَهٗ کښې اشاره ده عمر رضی الله عنه ته او فَاسْتَغْلَظَ کښې اشاره ده عثمان رضی الله عنه ته. فَاسْتَوٰی کښې اشاره ده علی رضی الله عنه ته.

لِیَغِیْظَ بِهِمُ الْکُفَّارَ په دے کښې اشاره ده لسم صفت دَ صحابه کرامو ته. او متعلق دَ دے لام حاصل دَ مخکښې عبارت دے یعنی دا صفتو نه او دا ترقی چه په دواړه مثالونو کښې ذکر شوه الله تعالیٰ صحابه کرامو ته دَ دے وجے نه ورکړے ده چه کافران په دوی باندے غصه شی او خفه شی.

ابن کثیر په تفسیر کښې لیکلے دی چه امام مالک رحمة الله دَ دے ایت نه استنباط کړے دے دَ کفر دَ روافضو چه بداګوری صحابه کرامو ته او یو ډلے دَ علماؤ دَ هغه سره موافقت کړے دے په دے مسئله کښې او قرطبی دَ امام مالک رحمته الله قول ذکر کړے دے چه هغه ویلے دی چه څوک سحر راپاسی او دَ هغه په زړه کښې په یو صحابی باندے بُغض او غیظ وی نو هغه ته دا ایت اورسیدلو یعنی دَ دے په حکم کښې داخل شو. بیا قرطبی په باره دَ عظمتِ شان دَ صحابه کرامو او دَ هغوی دَ اختلافاتو په باره کښې ډیر ښائسته تفصیل راوړے دے هغه دِ اوکتلے شی.

وَعَدَ اللّٰهُ دا بشارت دے او صفت دَ ایمان او عمل صالح ئے (پاتے په بل مخ)

ذکر کړو اشاره ده چه صرف محبت د نبی صلّی الله علیه وسلّم سبب د جنت نه دے بلکه اصل سبب ایمان او عمل صالح دے مِنْهُمْ دا مِنْ د پاره د جنس دے د تبعیض د پاره نه دے د دے وجه نه چه صحابه کرام ټول ایمان او عمل صالح والا او جنتیان دی لیکن مِنْ را وړلو کښ تاکید دے او اشاره ده چه هر یو صحابی مستقل د دے بشارت حقدار دے۔

فائده:۔ شربینی ویلی دی چه په دے ایت کښ ټول حروف معجم راجمع دی نو په دے کښ باریکه اشاره ده اتمام او اکمال د دین د رسول الله صلّی الله علیه وسلّم ته په ملګرتیا د صحابه کرامو سره۔ الله تعالیٰ نه دُعا ده چه مونږ هم د دے وعدے حقدار اوګرځوی او د رسول الله صلّی الله علیه وسلّم او د هغه د صحابو سره زمونږ پوره محبت پیدا کړی او د هغوی د اتباع کولو مونږ له توفیق را کړی اللّٰهم امین۔

ختم شو تفسیر د سورة فتح په توفیق د الله تعالیٰ سره۔

سُوْرَةُ الْحُجُرَاتِ ۴۹ مَدَنِيَّةٌ ۱۰۶	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰيَاتُهَا ۱۸ رُكُوْعَاتُهَا ۲

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيِ اللّٰهِ

اے ایمان والو مه وړاندے کیږئ دَ الله تعالیٰ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة الحجرات .

ربط دَ دے سورت دَ سورة فتح سره په څلور وجوهو سره دے اوله وجه دا ده هرکله چه مخکښ سورت کښ شان دَ صحابه کرامو او دَ هغوی دَ ترقۍ کولو په طریقه دَ مثال سره ذکر شو نو اوس په دے سورت کښ آداب ذکر کوی دَ پاره دَ دفع دَ اختلاف او تفرق په مینځ دَ هغوی کښ او دَ ټولو مسلمانانو کښ. دویمه وجه مخکښ سورت کښ صداقت دَ رسول صلی الله علیه وسلّم ذکر کړو نو په دے سورت کښ دَ هغه دَ احترام کولو دَ پاره اصول ذکر کوی. دریمه وجه دا ده چه په هغه سورت کښ یو نوعه صفات اتلس دَ صحابو ذکر شول نو په دے سورت کښ نور اوصاف او احوال شپاړس[۱۶] ذکر کوی.

دعویٰ دَ سورت ذکر دَ اصولو او آدابو دَ پاره دَ دفع دَ اختلاف او تفرق او دَ پاره دَ بقا دَ اتحاد او اتفاق چه هغه په طریقه دَ لس[۸] اوامرو او اته نواهی سره دی .

خلاصه دَ سورت دا ده چه په دیکښ اووه آداب ذکر کوی دَ پاره دَ دفع کولو دَ تفرق او بیا زجرونه دی منافقانو ته چه هغوی دَ دے آدابو لحاظ نه کوی او اوصاف دَ مؤمنانو دَ پاره دَ تمیز په مینځ دَ دوه ډلوکښ. او زجر دے په منافقانو باندے په دعویٰ کولو دَ ایمان سره چه دا دعویٰ دَ پاره دَ دے ده چه الله تعالیٰ خبروركوی یا دَ پاره دَ دے چه په رسول باندے احسان ښکاره کوی او دا دواړه ردی اخلاق دی او په آخر کښ رد دے په شرك فی العلم باندے.

تفصیل دَ آدابو دا دے . اول ادب دا دے چه دَ قرآن او سنت په مقابله کښ دَ هیڅ چا رائے او خپله رائے مه پیش کوئ په دے سره تفرق راځی . او رعایت کول دَ قرآن او سنت په ټولو امورو کښ او دَ هغے په مقرره اوقاتو کښ (۱) کښ او دویم ځان . بچ کول دَ توهین دَ صاحب دَ شرع او دَ احکامو شرعیو نه او رعایت دَ کیفیاتو او صفاتو دَ احکامو شرعیو کول په (۲) کښ بیا بشارت دے ادب کوونکو له په (۳) کښ او زجر دے پریخودونکو دَ (پاتے په بل مخ)

وَرَسُوْلِهٖ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ سَمِیْعٌ عَلِیْمٌ ① یٰۤاَیُّهَا

او دَ رسول دَ هغه نه او یره کوئے دَ الله تعالیٰ نه یقیناً الله تعالیٰ هر څه اوری او په هر څه پوهیږی۔ اے

ادب لره په ۵ کښ۔ دریم ادب ځان ساتل دَ قبلولو دَ خبر دَ فاسق نه دَ پاره دَ دے چه اختلاف رانشی او تحقیق کول دَ خبر دَ هغه او ترغیب دے اطاعت دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته او عمل کولو ته په مقتضیٰ دَ ایمان پاندے په ۸ کښ۔ څلورم ادب امر کول په مصلحت کولو سره په مینځ دَ مؤمنانو کښ دَ پاره دَ دفع کولو دَ اختلاف او جګړے کولو په ۱۰ کښ. پنځم ادب ځان۔ بچ کول دَ تذلیل او تحقیر دَ اهل ایمان نه په درے طریقو سره او دا پیدا کیږی دَ تکبر کولو نه یعنی تکبر مه کوئے دا په ۱۱ کښ۔ شپږم ادب ځان بچ کول دَ هغه کارونو نه چه اسباب دَ پیدائش دَ اختلاف او تفرق دی او دا پیدا کیږی دَ حسد کولو نه یعنی بغض او حسد مه کوئے دا په ۱۲ کښ. اووم ادب ځان بچ کول دَ فخر او تعصب نسبی نه دا هم سبب دَ تفرق دے او دا پیدا کیږی دَ خوئی دَ جاهلیت نه یعنی دَ جاهلیت دَ اخلاقو نه ځان بچ کړئے او اکرام کول په سبب دَ تقویٰ سره نه په نسب سره په ۱۳ کښ۔ بیا دَ دے نه روستو بحث دَ اهلِ نفاق دے.

تفسیر ۱ دا اول ادب دے دَ پاره دَ اتحاد او اتفاق پیدا کیدلو او دَ بچ کیدلو دَ تفرق او اختلاف نه مفسر قرطبی ذکر کړیدی چه آیت عام دے ډیرو واقعاتو ته شامل دے شاید چه دا آیت بغیر دَ سبب خاصه نه نازل شویدے۔ یعنی خاص سبب نزول ذکر کولو ته ضرورت نیشه۔ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا په تولو آدابو کښ دا ندا دَ پاره دَ دے ده چه دا دَ ایمان مقتضا گانے دی یعنی چه ایمان لرے نو دَ دے آدابو رعایت به کوے۔ لَا تُقَدِّمُوْا فعل متعدی دے مفعول ئے پټ دے یعنی لا تقدموا اٰرائکم واقوالکم وافعالکم خپلے رائے او وینا گانے او عملونه مه مخکښ کوئے یا په معنیٰ دَ لا تتقدموا (لازمی) دے یعنی مه مخکښ کیږے یعنی مخالفت دَ قرآن او سنت مه کوئے ۔ بَیْنَ یَدَیِ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ مراد دَ دے نه قرآن او حدیث او حکم دَ الله تعالیٰ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم دے او لفظ دَ بین یدی په معنیٰ دَ مخامخ حاضریدلو او دَ لاسونو سره او نزدے کیناستلو دے لیکن په طور دَ مثال او دَ کنایه سره۔ مراد دَ دے نه نفس حضور دے یعنی حکم دَ الله تعالیٰ او دَ رسول حاضر دے نو دَ ځان نه قول او عمل او رائے او قات او طریقے مه جوړوئے ۔ تفسیر ابن کثیر کښ ویلے دی چه تلوار مه کوئے په هیڅ څیز کښ مخکښ دَ قرآن او سنت نه بلکه تابع شئ په ټولو کارونو کښ دَ کتاب او سنت تر دے چه خپل قیاس او اجتهاد هم په قرآن او سنت پاندے مه مخکښ کوئے او په دے باندے ئے حدیث دَ معاذ رضی الله عنه په دلیل کښ پیش کړیدے

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَرْفَعُوْٓا اَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ

ایمان والو مه اوچتوئ اوازونه خپل پورته دَ اواز

النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوْا لَهٗ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ

دَ نبی صلی الله علیه وسلم نه او په زوره وینامه کوئ هغه ته پشان دَ زوره وینا ستاسو بعضو دَ

لِبَعْضٍ اَنْ تَحْبَطَ اَعْمَالُكُمْ وَاَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ ۝۲

بعضو ته (دهسې نه) چه برباد به شي عملونه ستاسو او تاسو به نه پوهیږې.

چه هغه خپل اجتهاد بانډې عمل کول دَ قرآن او سنت نه روستو ذکر کړے وو او نبی صلی الله علیه وسلم په هغې بانډې ډیر خوشحاله شو.

فائده: په دې ایت کښې رد دې په هر هغه حاکم چه قانون دَ قرآن او سنت نه مخالف چلوي دارنګ رد دې په هر مبتدع او بدعت بانډې که په عقیده کښې وي او که په اعمالو کښې وي. ځکه چه دوي خپل حکم او خپل جوړ کړے شوي بے دلیله خبرې او کارونه دَ قرآن او سنت نه وړاندې کوي بلکه هغې ته خلق رابلي. دارنګ معلومه شوه چه په قیاس دَ مجتهد بانډې هغه وخت عمل نشي کیدې کله چه په مخالفت دَ قرآن او دَ سنت کښې وي دارنګ رد دې په هغه چا بانډې چه تحلیل او تحریم دَ ځان نه جوړوي او رد دې په هغه چا بانډې چه هغه اوقات چه په دلیل شرعي سره دَ پاره دَ عباداتو مقرر وي او هغه بدلوي یا عام وي او دوي ئې خاص کوي یا خاص وي او دوي ئې عام کوي لکه چه قربانی دَ اختر دَ مونځ نه وړاندې کوي څوک بعض عباداتو ته دَ جمعې په شپه یا ورځ پورې خاص کوي چا تخصیص دَ یو صدقې په خلوینتمه یا په کال پورې کړے وي، چا قضا دَ مونځ په اخره جمعه دَ رمضان پورې خاص کړے وي. وَاتَّقُوا اللّٰهَ معلومه شوه چه دَ دې حکم دَ پابندئ کولو دَ پاره علاج تقوىٰ ده. اِنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ هر کله چه تقدم یا په اقوالو کښې وي نو دَ هغې دَ پاره ئې سمیع راوړو یا په اعمالو او عقیدو کښې وي نو دَ هغې دَ پاره ئې علیم ذکر کړو.

۲ دا دویم ادب دې په دې کښې مقصد احترام او توقیر دَ صاحب دَ شرع او دَ کلام دَ هغه دې او په دې کښې اشاره ده رعایت دَ سنت ته په کیفیاتو او وصفاتو کښې. یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا دا نداء ئې بار بار مقرر کړه دَ پاره دَ ډیرو فائدو اوله فائده زیاته توجه کول دَ مخاطبینو ده دویمه فائده چه دا وهم رانشي چه اول مخاطب او دویم ر پاتې په بل مخ)

إِنَّ الَّذِينَ يَغُضُّونَ أَصْوَاتَهُمْ عِندَ رَسُولِ اللَّهِ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ امْتَحَنَ اللَّهُ قُلُوبَهُمْ لِلتَّقْوَىٰ ۚ

يقيناً هغه كسان چه خكته كوى اوازونه خپل دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم په خوا كښ دا هغه كسان دى چه ازمائيلے دى الله تعالىٰ زړونه دَ هغوى دَ تقوىٰ دَ پاره

مخاطب جُدا جُدا دى د ريمه فائده چه معلومه شى چه هر يو كلام جُدا جُدا مقصود دے.

لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ اواز اوچتول څلور قسمه دے اول طبعى طور سره لكه واقعه دَ ثابت بن قيس بن شماس رضى الله عنه ده دا جائز دے دويم قسم په بے پرواهئ سره اواز اوچتول چه هغه مناسب نه وى دَ مجلس دَ لويو خلقو سره او دَ توقير دَ مشرانو سره دريم قسم په طور دَ سپكوالى او دَ توهين سره اواز پورته كول دا دواړه قسمونه منع دى او دا په دے ايت كښ مراد دى يعنى دويم قسم حرام دے ځكه چه دا عادت تيول سپكوالى ته رسوئنكے دے او دريم قسم كفر دے ځكه چه توهين دَ نبى صلّى الله عليه وسلّم كفر دے او دا قسمونه په ژوند دَ رسول الله صلّى الله عليه وسلّم كښ دى او دا رنګ علماؤ ليكلى دى چه دا اداب په مسجد نبوى كښ روستو دَ مرګ دَ رسول الله صلّى الله عليه وسلّم نه هم ضرورى دى. څلورم قسم دا دے چه دَ كلام دَ الله تعالىٰ او دَ رسول الله صلّى الله عليه وسلّم په وړاندے خپل اوازونه اوچتول دا هم حرام دى او دا شامل دے ديته چه په كوم ذكر باندے دَ رسول الله صلّى الله عليه وسلّم نه اوچتوالے دَ اواز او جهر كول ثابت نه دى نو په هغے باندے رفع صوت او جهر كول خلاف سنت دے.

وَلَا تَجْهَرُوا لَهُ بِالْقَوْلِ دَ اولے جملے او دَ دے په مينځ كښ يو فرق دا دے چه په هغے كښ مراد وؤ چه خپل كلام او اواز دَ كلام دَ نبى صلّى الله عليه وسلّم او دَ اواز نه اعلىٰ مه ګرځوئے او دَ دے جملے مطلب دا دے چه دَ نورو خلقو سره ئے مساوى او برابر هم مه ګرځوئے دويم فرق دا دے چه رفع الصوت عام دے كه په وخت دَ خطاب كولو كښ وى او كه بغير دَ خطاب كولو نه وى او جهر كول په وخت دَ مخاطبه كښ دے او په دے جهر كولو كښ دريے طريقے دى اوله طريقه كلمه دَ ادب ويل دى لكه يا رسول الله ليكن په جهر طبعى سره هغه جائز دے دويمه طريقه دغه كلمه ويل په بے پرواهئ سره دريمه طريقه په طور دَ سپكوالى سره اواز كول دَ دے حكم هم مخكښ بيان شو څلورمه طريقه يا محمد ويل لكه چه سورة نور ۶۳ كښ هم

لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿۳﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ يُنَادُوْنَكَ

دَ دوی دَپاره بخنه او ثواب لوئے دے۔ یقینًا هغه کسان چه اوزونه کوی تا ته

تیر شویدی لکه تفسیر قرطبی وغیره کښ ویلے دی چه خطاب مه کوئے نبی صلّی الله علیه وسلّم ته په یا محمد او یا احمد سره او دا سے اواز کول حرام دی. اَنْ تَحْبَطَ اَعْمَالُكُمْ یعنی بے ادبی دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم اگر چه په بے پروائی سره وی لیکن هر کله چه عادت او گرځی نو سبب شی دَپاره دَ اهانت دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم او اِهانت دَ هغه سبب دَ کفر دے او کفر سبب دَ برباد ئے دَ نیکو اعمالو دے۔

فائده:- په سورة محمد س۹ او س۲۸ کښ حبط دَ عمل ئے په فاء سببیه سره ذکر کړے دے او دلته ئے په اَنْ سره ذکر کړے دے چه دا صریح نه دے په سببیت کښ. وجه دا ده چه هلته ئے کوم گناهونه دَ فاء نه مخکښ ذکر کړے دی هغه اسباب بالذات (بغیر دَ واسطے) نه دی دَپاره دَ حبط او دلته چه کوم گناهونه ذکر کړے دی هغه اسباب دی په واسطو سره لکه مخکښ ذکر شول (چه رفع صوت او جهر دے) اول قسم گناه نه دے او دویم قسم گناه دے لیکن کفر نه دے دا هله کفر گرځی چه سبب شی دَپاره دَ توهین دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم او توهین بیا سبب دے دَپاره دَ حبط دَ اعمالو او دَ دے فرق په بِنا با تن ے هلته وَاَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ ئے نه دے ذکر کړے او دلته ئے ذکر کړو. ځکه چه مراد دَ عدم شعور نه دا دے چه عمل دَ کفر کوی او کلمه دَ کفر وائی قصدًا لیکن په دے نه پوهیږی چه دا سبب دَ حبط دَ عمل دے او دا عذر نه دے دَ دے نه دا نه معلومیږی چه عدم اراده دَ کفر هم کفر دے ځکه لزوم دَ کفر کفر نه دے بلکه التزام دَ کفر کفر دے.

س۳ دا بشارت دے هغه اهلِ ایمان ته چه دَ مخکښ ذکر کړے شوی ادب التزام کوی او دا ښلور صفات او احوال دی دَ صحابه کرامو دَپاره. يَغُضُّوْنَ اَصْوَاتَهُمْ په حدیث دَ بخاری کښ ذکر دی چه روستو دَ نزول دَ دے ایت نه عمر رضی الله عنه په دا سے ادب سره په غلے (خکته) اواز سره په مجلس دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم کښ خبرے کولے چه کله به نبی کریم صلّی الله علیه وسلّم وا نۀ ریدلے نو دَ دۀ نه به ئے دوباره تپوس اوکړو چه تا څه اُویل او دغه شان روایت دَ ابوبکر رضی الله عنه په باره کښ هم راغلے دے.

اِمْتَحَنَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ دا ماخوذ دے دَ امتحان الذهب والفضه نه (یعنی صفا کول دَ سرو زرو او سپینو زرو دَ خیرو نه) یا ماخوذ دے دَ امتحان الادیم (محل دَ څرمنے دَپاره دَ دے چه فراخه شی) یعنی دَ دوی زړونه الله تعالیٰ پاک کړی (پاتے په بل مخ)

مِنْ وَّرَآءِ الْحُجُرٰتِ اَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۴﴾ وَ

روستو د دیوالونو نه ډیر د دوی نه پوهیږی .

لَوْ اَنَّهُمْ صَبَرُوْا حَتّٰى تَخْرُجَ اِلَيْهِمْ لَكَانَ خَيْرًا

که چرے دوی صبر کړے وے ترهغې پورے چه ته بهر راوتلے وے دوی ته ضرور بهٔ خیره

لَّهُمْ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۵﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِنْ

ده دوی لره او الله تعالیٰ دے بخښنه کوونکے رحم کوونکے . اے ایمان والو که

جَآءَكُمْ فَاسِقٌۢ بِنَبَاٍ فَتَبَيَّنُوْۤا اَنْ تُصِيْبُوْا قَوْمًۢا

راوړی تاسو ته گنهگار یو خبر نو تحقیق یې اوکړئ (هسے نه) چه اورسوئ (تکلیف) یو قوم ته

بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوْا عَلٰى مَا فَعَلْتُمْ نٰدِمِيْنَ ﴿۶﴾ وَاعْلَمُوْۤا

په ناخبرئ سره نو شئ به په خپلو کړو باندے پښیمانه . او پوهه شئ

ذهر قبیح فکر او عقیده ے نه او فراخ کړی دی دپاره د قبلولو د تقویٰ . یا دپاره د ښکاره کولو د تقویٰ.

سک دا زجر دے هغه چا ته چه د مخکښ ذکر شوی ادب لحاظ نه کوی . اَلْحُجُرٰتِ جمع د حجر دے او هغه جمع د حجرت ده یا حجرات جمع د حجرت ده هغه زمکے ته ویلے کیږی چه دیوال ترینه چاپیره وی لیکن اکثر مستعملیږی دپاره د کور چه په هغے کښ کوټهٔ د اوسیدلو او صحن وی چه راگیر وی په دیوالونو کښ او دلته مراد دیوالونه د کورونو دی. اَكْثَرُهُمْ یعنی دوی د داسے قوم نه دی چه اکثر د دوی جاهلان دی یا اَكْثَرُ ئې د دے وجے نه اویل چه د بعضے کسانو اوازونه بے اختیاره اوچت وؤ او شر بینی ویلے دی چه اکثر په معنیٰ د کُل سره دے.

سه دا بیان د ادب دے دپاره د ناپوهو خلقو او د صبر نه مراد انتظار کول دی. لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ اشاره ده چه ادب د مشرانو (ادب شرعی) سبب د خیر او برکت او سبب د مغفرت او رحمت دے.

سلا په دیکښ دریم ادب دے یعنی په تیر شوی ادابو سره اتحاد جوړیږی لیکن بعضے خلق دا اتحاد خرابوی چه هغه فاسق دروغژن چغلخوروی نو د هغه د بے تحقیقه خبرے منلو نه

أَنَّ فِيكُمْ رَسُولَ اللَّهِ ۚ لَوْ يُطِيعُكُمْ فِي كَثِيرٍ مِّنَ الْأَمْرِ

یقیناً په تاسو کښې رسول د الله تعالیٰ شته دے که چرے ستاسو تابع شي په ډیرو کارونو کښې

لَعَنِتُّمْ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ حَبَّبَ إِلَيْكُمُ الْإِيمَانَ وَزَيَّنَهُ

نو په تکلیف کښې به پریوځئ او لیکن الله تعالیٰ محبوب کړے دے تاسو ته ایمان او ښائسته کړے یې هغه

ځان بچ کول ضروري دي. فَاسِقٌ مراد د دے نه هغه څوک دے چه ارتکاب د ګناهِ کبیره یې کړے وي او صحیح توبه یې نه وي کړے او مسلمان وي. دروغ ویل چغلي کول، د مؤمنانو په مینځ کښې فساد پیدا کول دا ټول پکښې داخل دي. مفسر خازن وائي دي چه دا آیت عام دے نازل کړے شوے دے د پاره د بیان د تثبّت او د اعتماد نه کولو په خبر د فاسق باندے او خطیب شربیني هم وائي دي چه نزول د آیت په باره د ولید رضي الله عنه کښې دے. خو هغه ته فاسق ویل دا کمزورے قول دے په څو وجوهو سره اول دا چه الله تعالیٰ او د هغه رسول دا نه دي فرمائيلي چه دا آیت په باره د ولید رضی الله عنه کښې نازل شوے دے او د صحابه کرامو لوئے شان او عدالت چه په یقیني نصوصو سره ثابت دے نو هغه په دے قول د مفسرینو باندے پریخودل نه دي جائز. دویمه وجه دا ده چه په دغه روایت چه ابن کثیر او نور مفسرینو په سند سره نقل کړے دے لیکن سند یې متصل نه دے او په البدایه کښې وائي دي چه الله تعالیٰ د دے په صحت باندے پوهه دے ص ۲۹۴ جلد ۸ - ابن عربي په العواصم والقواصم او د هغې په تعلیق کښې په دے باندے رد کړے دے. دریمه وجه دا ده چه ولید رضی الله عنه ته فاسق ویل بے دلیله خبره ده ځکه چه هغه واقعه که چرے ثابته شي نو د ولید رضی الله عنه اجتهادي خطا یې باندے دلالت کوي او په اجتهادي خطا یې سره ګناه نه ثابتیږي نو څه رنګ هغه ته فاسق ویلے کیږي. فَتَبَيَّنُوا اشاره ده چه خبر د فاسق قبلولے شي روستو د تحقیق او تبیین نه معلومه شوه چه خبر د عادل څو هر وخت قبول دے. أَن تُصِيبُوا قَوْمًا دا نقصان ذکر کوي د قبلولو د خبر د فاسق بغیر د تبیین نه یعني که چرے دے فاسق د یو سړي یا د یو قوم په باره کښې ناکاره خبر درکړے وي مثلاً وائي دي چه فلاني تا ته کنځل کړے دي ستا یې وئیلي دي یا په تا باندے بهتان لګولے دے یا یې ویلي دي چه فلاني د اسلام نه انکار کړے دے یا زکوٰة ورکولو نه وغیره او مخاطب په دے خبره باندے عمل اوکړي یعني د هغه کس یا قوم نه انتقام واخلي د هغه بے عزتي اوکړي د هغوی سره جنګ اوکړي نو دا لوئے جرم دے او سبب د پښیمانتیا دے. (پاتے په بل مخ)

فِيْ قُلُوْبِكُمْ وَكَرَّهَ اِلَيْكُمُ الْكُفْرَ وَالْفُسُوْقَ وَالْعِصْيَانَ ۭ

په زړونو ستاسو کښې او بد يې ښکاره کړيې دے تاسو ته کفر او ګناهونه کول او نافرمانی کول

اُولٰۗىِٕكَ هُمُ الرّٰشِدُوْنَ ۝ فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَنِعْمَةً ۭ

دا سے کسان خاص دوی کامیاب دی د وجے دَ فضل دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه او دَ وجے دَ نعمت نه

بِجَهَالَةٍ مراد دَ دے نه بے خبری ده دَ حقیقتِ حال نه یا اشاره ده چه په دے خبرِ دَ فاسق باندے بے تحقیقه عمل کول جهالت دے۔ نٰدِمِيْنَ ندامت ویلے کیږی افسوس او خفګان کولو ته په یو کار کولو باندے روستو دَ کولو دَ هغے نه په داسے حال کښې چه دا افسوس کول بیا فائده نه ورکوی۔

سک په دے کښې اشاره ده طریقے دَ تحقیق دَ خبرِ دَ فاسق ته او دارنګ تحذیر دے فاسق ته دَ دروغ خبر ویلو نه یعنی خبرِ دَ فاسق په رسول الله صلی الله علیه وسلم ته پیش کیږی په ژوند دَ هغه کښې او دَ هغه سنت ته به پیش کیږی روستو دَ وفات دَ هغه نه نو په دے طریقے سره به دَ هغهٔ فاسق دروغ او رشتیا معلومیږی او دا حکم عام دے هره مسئله او فیصله که دَ یو عالم وی یا حاکم وی نو هغه به تللے کیږی په سنت دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم باندے۔ فِيْكُمْ رَسُوْلَ اللّٰهِ وصف یې ذکر کړو نوم (محمد) یې نه دے ذکر کړے اشاره ده چه دَ هغه ذات خو حاضر ناظر نه دے نه په ژوند دَ هغه کښې او نه روستو دَ مرګ دَ هغه نه لیکن صفت دَ رسالت (چه قرآن او سنت دے) هغه په تاسو کښې باقی دے۔ لَوْ يُطِيْعُكُمْ الخ حاصل دا دے چه څوک دروغ خبر یا دروغ مسئلے او بدعات په خلقو کښې خوروی دَ هغه مطلب دا وی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم (په حالت دَ ژوند کښې) زما تابع اوکړی یا سنت دَ رسول الله دِ زما تابع شی یعنی حدیث صحیح دَ خپل خواهش او دَ خپلے رائے تابع کرځوی لکه چه جامد مقلدین او مبتدعین دا کار کوی نو دا به سبب دَ ډیر مشقت او تکلیف اوګرځی ځکه چه په سنت دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم کښې حرج او تنګول نیشته او په خلافِ سنت کارونو کښې او بدعاتو کښې خو ډیر حرج دے۔ فِيْ كَثِيْرٍ مِّنَ الْاَمْرِ کثیر یې دَ دے وجے نه اُویل چه په بعض خلاف سنت کار کښې آسانتیا وی لیکن هغه دَ شرعے دَ مصلحت سره موافق نه وی۔ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ حَبَّبَ اِلَيْكُمُ الْاِيْمَانَ دَ ماقبل نه وهم پیدا شو چه آیا صحابه کرامو دا اراده کړے ده چه دروغ اُوائی او پیغمبر به ځان پسے په هغے کښې تابع اوګرځوی نو دا وهم لرے کوی

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۸﴾ وَاِنْ طَآئِفَتٰنِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ

او الله تعالیٰ پوهه حکمتونو والا دے. او که چرے دوه ډلے د مؤمنانو نه

چه د صحابه کرامو شان د دے نه اوچت دے او لفظ د لَوْ يُطِيْعُكُمْ په دے باندے دليل دے ځکه چه لَوْ د پاره د انتفاء او د منع راځی یعنی دا سے نه دی شوی. فرق د تحبيب او تزيين په مینځ کښ دا دے چه تحبيب کښ معنیٰ د طلب ده په رضا سره بیا هر کله چه طلب او محبوبيت کله کله د قبیح څیزونو د وجے د مجبوریٔ نه نو تزيين ئے ذکر کړو تزيين دا دے چه ایمان دوی ته قبیح نه ښکاری بلکه د ښائست د ایمان د وجے نه هغے سره محبت کوی. بل فرق دا دے چه محبت امر باطنی دے نو مراد د ایمان نه عقیده صحیحه د توحید ده او تزيين امر ظاهری دے نو مراد د ضمیر د زَيَّنَهٗ نه اعمال د ایمان دی. وَكَرَّهَ اِلَيْكُمُ الْكُفْرَ دا اشاره ده چه محبت د دوی د ایمان سره دومره زیات دے چه د هغے مقابل ورته بد ښکاره کیږی الکفر مقابل د ایمان دے. او الْفُسُوْقَ وَالْعِصْيَانَ دا مقابل دے د زَيَّنَهٗ سره ځکه چه په هغے کښ اعمالو صالحه ته اشاره ده. او د دے دریو واړو فرق دا دے چه کفر خو انکار کول دی د طاعت د الله تعالیٰ او د رسول صلی الله علیه وسلم نه او الفسوق ګناه کبیره دے او العصیان ګناهو نه صغیره دی دویم فرق دا دے چه کفر انکار دے په زړه کښ او فسوق د طاعت نه وتل دی اګرچه انکار نه کوی په زړه کښ خو په ظاهر کښ بغاوت او کړی د حکم نه او عصیان مخالفت کول دی د امر نه یعنی انکار هم نه کوی او وائی چه زه تابعداری کوؤم لیکن سرهٔ د دے نه د بعض او امرو نه مخالفت کوی او د حدیث د بخاری او مسلم چه د انس رضی الله عنه نه روایت دے مضمون دا دے چه درے خصلتونه په چا کښ جمع شی نو د ایمان خوږوالے ئے نصیب شی دریم خصلت پکښ دا دے چه کفر ته واپس کیدل (یا قبلول) دا سے مکروه او بد ګڼړی لکه چه اُور ته غورځیدل بد ګڼړی. نو دا صفت په صحابه کرامو کښ موجود دے.

فائده :- په لفظ د حَبَّبَ او كَرَّهَ کښ چه ضمیر فاعل ئے الله تعالیٰ ته راجع دے اشاره ده چه ټول کارونه د خیر او شر الله تعالیٰ پیدا کړیدی او دا رد دے په قدریه معتزله باندے. اُولٰٓئِكَ هُمُ الرَّاشِدُوْنَ مبتداء او خبر ئے معرفه راوړل او په مینځ کښ ضمیر فصل دلالت کوی په حصر او په کمال باندے او رشد نه مراد هدایت موندل دی سرهٔ د کامیابیٔ او د ښو خوالی او د عقلمندے نه.

۸ په دے کښ اشاره ده چه دغه تیر شوی اوصاف د الله تعالیٰ د رپاتے په بل مخ)

اقْتَتَلُوْا فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا ۚ فَاِنْۢ بَغَتْ اِحْدٰىهُمَا عَلَى

جنګ اوکړی نو روغه اوکړئ دَ دوی په مینځ کښ نو که چرے زیاتے اوکړی یوه ډله په

الْاُخْرٰى فَقَاتِلُوا الَّتِىْ تَبْغِىْ حَتّٰى تَفِىْٓءَ اِلٰٓى

بله بانده نو جنګ اوکړئ دَ هغے ډلے سره چه زیاتے ئے کړے دے تردے پورے چه را اوګرځی

اَمْرِ اللّٰهِ ۚ فَاِنْ فَآءَتْ فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ

فیصلے دَ الله تعالیٰ ته نو که چرے را وګرځی نو روغه اوکړئ دَ دوی په مینځ کښ په انصاف سره

وَاَقْسِطُوْا ۭ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ﴿٩﴾ اِنَّمَا

او انصاف کوئ یقینًا الله تعالیٰ مینه کوی دَ انصاف کوونکو سره۔ یقینًا

طرف ته احسان دے هغه مجبور نه دے په هغه بانده حق واجبه نیشته دے. فَضْلًا کښ اشاره ده چه دَ مؤمنانو په مینځ کښ په دغه صفتونو کښ تفاضل شته دے او نِعْمَةً کښ اشاره ده چه دغه محبت او کراهت باطنی نعمتونه دی چه دَ هغے شکر کول واجب دی۔

س۹ په دے کښ څلورم ادب ذکر کوی یعنی کوم وخت چه دَ فاسق خبر او منلے شی بغیر دَ تحقیق نه او دَ هغے په سبب سره دَ مؤمنانو په مینځ کښ اختلاف او دشمنی او قتل وقتال پیدا شی نو په نورو مؤمنانو بانده فرض دی چه دَ هغوی په مینځ کښ دَ مصالحت کوشش اوکړی او طرف داری دِ نه کوی دَ پاره دَ دے چه اتحاد او اتفاق دَ مؤمنانو ته نقصان اونه رسیږی. طَآئِفَتَانِ قرطبی دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل کړے دی چه طائفه یو نفر او زیاتو ته هم ویلے کیږی دَ دے وجے نه دَ جمعِ ضمیر ورته هم راجع کیږی. فَاَصْلِحُوْا بَيْنَهُمَا یعنی "په نصیحت کولو او فیصلے دَ قران او سنت ته په رابللو سرهٔ" او دا سے په سورة نساء س۳۵ او س۱۲۸ کښ هم ذکر کړے شوے دی۔ فَاِنْۢ بَغَتْ اِحْدٰىهُمَا مراد دَ بغی نه دا دے چه یو طائفه فیصلے دَ قران او سنت ته غاړه کینږدی بلکه دَ فساد کولو اراده کوی حَتّٰى تَفِىْٓءَ اِلٰٓى اَمْرِ اللّٰهِ فئ په اصل کښ سوری ته ویلے کیږی یعنی قتال کول ګرمی ده او حکم دَ قران او سنت کښ سورے او راحت دے۔ اَمْرِ اللّٰهِ مراد دَ دے نه کتاب الله او سنت رسول الله صلّی الله علیه وسلّم دے بِالْعَدْلِ دا تاکید ئے دَ دے وجے نه ذکر کړے دے چه قتال دَ دوی سبب دَ حسد او دَ کینے اونه ګرځی چه دَ هغے دَ وجے نه عدل نه شی کیدے. قرطبی ویلے دی چه دلته په عدل کښ دا خبره داخل ده چه دے باغیانو دَ تاویل په وجے سره

الْمُؤْمِنُوْنَ اِخْوَةٌ فَاَصْلِحُوْا بَیْنَ اَخَوَیْكُمْ ۚ وَاتَّقُوا

مؤمنان رونړه رونړه دی نو روغه کوئ په مینځ د رونړو ستاسو کښې او یره کوئ

اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ۝۱۰ ع یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا یَسْخَرْ

د الله تعالیٰ نه د دے د پاره چه رحم اوکړے شی په تاسو باندے. اے ایمان والو مسخرے دِ نه کوی

ع ۱۰ / ۱۳

کوم مالونه او نفسونه تلف (هلاک) کړے وی نو د هغے مطالبه ترینه نشی کیدے. وَاَقْسِطُوْا تفسیر سراج المنیر کښې لیکلی دی چه قَسط په زور د قاف سره ظلم ته ویلے کیږی او په زیر د قاف سره عدل ته ویلے شی نو معنیٰ دا چه زائل کړئ ظلم په کولو د عدل سره. تنبیه: دوستو د حکم د عدل نه امر په اقساط سره د دے وجے نه دے چه مراد د دے نه حصه او حق ورکول دی په داسے حالاتو کښې اکثر د انسانانو حقوقو ته نقصان اورسیږی نو د دے وجے نه د اقسطوا حکم مستقل ذکر شو لکه سورة ممتحنه ۸ او مائده ۴۲ کښې ذکر دی.

فوائد:- په دے ایت کښې یو فائده دا ده چه مؤمن په اقتتال سره کافر نه کرځی ځکه چه سره د صفت د ایمان نه ئے اقتتال ذکر کړے دے. دویمه فائده دا ده چه هغه مسلمانان چه د یو عادل امیر المؤمنین د بیعت یا د یو حکم شرعی نه بغاوت اوکړی (یعنی ډله بازی او فساد جوړوی تفرق په مینځ د مسلمانانو کښې جوړوی) نو د هغوی سره قتال کول هم فرض کفائی دے د پاره د دے چه د نورو مسلمانانو جماعت او اتحاد خراب نشی. دریمه فائده دا ده چه څوک یو ګناه په تاویل سره جائز کوی لیکن هغه سبب د فساد وی نو هغه تاویل سبب د منع د قتال نشی کیدلے ځکه چه باغی ضرور ځان د پاره تاویلات کوی لیکن هغے ته اعتبار نشی ورکیدلے. د دے وجے نه قرطبی د لسان الامة نه نقل کړے دی چه په جنګونو د صحابه کرامو کښې (په کورنئ کښې) یو حکمت د الله تعالیٰ دا وو چه احکام د قتال د اهل تاویل معلوم شی. او بیا مفسر قرطبی د دے ایت په تفسیر کښې د صحابه کرامو د جنګونو په باره کښې ویلے دی چه دا ټول اجتهادی اختلاف وو او مونږ لره جائز نه دی چه په دے کښې یو طرف ته یا یو صحابی ته د یقینی خطا ئے نسبت اوکړو هغوی ټول زمونږ امامان دی مونږ به د هغوی د جنګونو د ذکر کولو نه خپلے ژبے محفوظ ساتو لکه چه زمونږ تورے (سیوف) د هغوی د وینو نه الله تعالیٰ محفوظ ساتلے دی، او دا به وایو چه تِلْكَ اُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ.

ســـا دا علت دے د پاره د امر د اصلاح کولو او په لفظ د الْمُؤْمِنُوْنَ کښې (پاتے په بل مخ)

قَوْمٌ مِّنْ قَوْمٍ عَسٰٓى اَنْ يَّكُوْنُوْا خَيْرًا مِّنْهُمْ وَ

هيڅ نارینه په نورو نارینو پورې کیدې شي چه هغوی به وي غوره د دوی نه او

لَا نِسَآءٌ مِّنْ نِّسَآءٍ عَسٰٓى اَنْ يَّكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ ۚ

نه زنانه په نورو زنانو پورې کیدیشي چه هغوی به غوره وي د دوی نه

وَلَا تَلْمِزُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوْا بِالْاَلْقَابِ ؕ بِئْسَ

او طعنونه مهٔ کوئ په خپلو ځانونو باندې او مهٔ یادوئ یو بل په ناکاره نومونو سره ، بد

الِاسْمُ الْفُسُوْقُ بَعْدَ الْاِيْمَانِ ۚ وَمَنْ لَّمْ يَتُبْ

نوم فسق والا دوستو د ایمان نه او چاچه توبه او نکړه

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ⑪ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا

نو هغه کسان دوی ظالمان دي. اې ایمان والو

اشاره ده چه اختلاف دَ نسب ته اعتبار نیشته بلکه ایمان صِرف سبب دَ اخوّت او
ورورولې دَپاره دې او دَ ابوعثمان حیری نه خطیب شربیني نقل کړې دی چه اخوّت
دَدین کلک دې دَ اخوّت دَ نسب نه ځکه چه اخوّت دَ نسب قطع کیږی په مخالفت دینی
سره او اخوت دینی نه قطع کیږی په مخالفت دَ نسب سره. اَخَوَيْكُمْ تثنیه ئې دَ دې
وجې نه ذکر کړه چه ادنیٰ عدد دَ هغه چاچه مخالفت ئې په مینځ کښې پیدا کیږی هغه دوه
کسان دی نو حکم زیاتو ته هم شامل دې. لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ هرکله چه صلح کول دَ مسلمانانو
رحم کول دی په هغوی باندې نو په تقاضا دَ الرَّاحِمُوْنَ يَرْحَمُهُمْ مَنْ فِى السَّمَآءِ سره
دلته هم په جزاء کښې وعده دَ رحم ذکر کړې شوله.
سـ ۱۱ دا پنځم ادب دې هرکله چه دَ دوه طائفو جګړه تیره شي نو په هغې کښې دَ یو بل نقصانونه
او عیبونه معلوم شي لیکن دوستو دَ مصلحت نه دَ هغه نقصانونو په وجه سره دَ هغې
سپک والې جائز نه دې هسې نه چه بیا فساد او اختلاف پیدا شي نو په دې ادب کښې
دَ درې خیزونو نه منع کړې شوې ده چه هغه سبب دَ توهین دَ مسلمان دې او بیا
سبب دَ فساد دې. اول خیز مسخرې کول یعنی دَ بعض نقصان په وجې سره یا به غیر
دَ نقصان نه چا ته سپک کتل او په هغه پورې پزمونزې کول اګرچه عیب ئې ښکاره نه

اجْتَنِبُوْا كَثِيْرًا مِّنَ الظَّنِّ ۫ اِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ

ځان بچ کوئ دَ ډيرو گمانونو نه يقينًا بعض گمانونه

ذکرکوی۔ تفسیر سراج المنیر کښ ذکر دی چه سخریه دیته ویلے کیږی چه یو انسان بل انسان ته دَ عزت په نظر سره نه گوری بلکه دَ درجے نه ئے نسکته گنړی۔ او مسخرے کول په بل پورے مستلزم ده تکبر کولو لره او دا خوئ دَ مشرکانو کافرانو دے چه حق پرستو پورے مسخرے کوی لکه سورة هود ۳۸ توبه ۷۹ انعام ۱۰ بقره ۲۱۲ صافات ۱۲ کښ ذکر شوی دی۔

قَوْمٌ مِّنْ قَوْمٍ قوم ته قوم دَ دے وجے نه ویلے کیږی چه څوک یو تن دَ قوم له سختئ نه دعوت ورکړی نو دوی ورسره او دریږی او دا صفات اکثر دَ نارینو وی دَ دے وجے نه دَ قوم اطلاق حقیقةً په نارینو بانذے کیږی او زنانه پکښ کله کله مجازًا داخلیږی۔ وَلَا نِسَاءٌ دلته دَ زنانه ذکر ئے جُدا اوکړو یو دَ دے وجے نه چه په زنانو کښ مسخرے کول په یو بل پسے ډیرے وی بل دَ دے وجے نه چه اکثر نارینه په زنانه پورے یا زنانه په نارینه پورے مسخرے نه کوی بلکه هر یو جنس په خپل هم جنس پورے مسخرے کوی۔

عَسٰى اَنْ يَّكُوْنُوْا خَيْرًا مِّنْهُمْ دَ دے دوه مقصدونه دی یو دا چه په ظاهر کښ هغه سړے (چه مسخرے ورپورے کیږی) سپک ښکاری لیکن حقیقت کښ هغه الله تعالیٰ ته مقرب او نزدے وی لکه چه حدیث صحیح کښ دی رُبَّ اَشْعَثَ اَغْبَرَ لَوْ اَقْسَمَ عَلَى اللّٰهِ لَاَبَرَّهٗ (ډیر کرته یو بیر سرے دوړژن وی خو چه قسم اوکړی دَ الله تعالیٰ په باره کښ نو الله تعالیٰ دِ له هغه قسم پوره کوی)

تنبیه دَ دے دا مراد نه دے چه یو سړے بے دینه دے شرک او بدعات کوی بیلمازه وی لکه بعض ملنگان دَ دے زمانے او هغه ډِهم دَ احترام او دَ عزت حقدار وی په گمان سره چه دے په باطن کښ دَ الله تعالیٰ ولی او بزرگ وی دا غلطه ده ځکه چه ولی الله مخالفت دَ شرعے نه کوی۔ دویم مقصد دا دے کیدیشی چه په راتلونکی وخت کښ چه دا مسخره کوونکے انسان ذلیل مسکین عیبژن شی او بل عزت مند شی نو معامله به په عکس سره شی۔ قرطبی او نورو مفسرینو دَ عبدالله بن مسعود رضی الله عنه روایت ذکر کړے دے "که زه په یو سپی پورے خندا نے اوکړم نو ویریږم چه زه به سپے اوګرځم" او دَ قشیری نه نقل دے "چه چا بل مسلمان سپک گنړلے دے نو الله تعالیٰ هغه مسلمان په دهٔ بانذے مسلّط کړځولے دے"۔ او دویم خیز چه دَ هغے نه منع کړے شوے ده او دَ کورنئ فساد پیدا کوی په دے قول کښ دے وَلَا تَلْمِزُوْا اَنْفُسَكُمْ (یا تے په بل مخ)

إِثْمٌ وَّلَا تَجَسَّسُوْا وَلَا يَغْتَبْ بَّعْضُكُمْ بَعْضًا

گناه دے او عیبونه دَ یو بل مه لټوئ او غیبت دِ نه کوی بعض ستاسو دَ بعضو

لمز مخامخ عیب اوبد ویلو ته ویلے کیږی او په اصل کښ اشارے کول په سترګو او په سر او په شونډو سره سرهٔ دَ پټو خبرو کولو ته او همز صرف پشی شا عیب ویلو ته ویلے کیږی نو لمز ډیر ناکاره دے په نسبت دَ همز سره او دَ همز ذکر روستو ایت کښ په ضمن دَ غیبت کښ ذکر کوی ۔ او اَنْفُسَكُمْ په معنیٰ دَ هم جنس دے لکه سوره بقره ۵۴، ۸۴ سورة العمران ۱۴۱ کښ تیر شویدی ۔ او هر کله چه دَ بل چا عیب وئیل سبب دَ عیب ویلو دَ خپل ځان دی دَ دے وجے نه انفسکم ئے ویلے دے او دَ بل چا عیبونه وئیل دلیل دے دَ تکبر کولو او ځان معصوم ګڼړلو او چه مخامخ عیب وائی نو په دیکښ توهین دَ مسلمان هم دے۔ قرطبی نقل کړیدی چه دَ انسان دَ نیک بختے نښه دا ده چه په خپلو عیبونو سره مشغول شی دَ نورو خلقو دَ عیبونو نه او دَ بکر بن عبد الله مزنی نه ئے نقل کړے دی "که چرے ته غواړے چه دَ عیبونو مجموعه اُوینے نو عیاب (چه عیبونه وائی) ته او ګوره یعنی په ده کښ به پخپله دغه عیبونه موجود وی"۔ او دریم خیز چه سبب دَ فساد او تحقیر دَ مسلمان دے او دَ هغے نه منع کړے شوے ده په دے قول کښ. وَلَا تَنَابَزُوْا بِالْاَلْقَابِ او مه یادوئ یو بل په ناکاره نومونو سره، دا هم دلیل دے په تکبر کولو دَ تنابز کوونکی او په تحقیر دَ هغه بل مسلمان باندے ۔ نبزٌ لقب ذکر کولو ته ویلے کیږی او اکثر په ناکاره لقب کښ استعمالیږی او لقب دَ خپل نوم نه علاوه بل وصفی نوم دے چه په هغے کښ دَ انسان اوچت والے یا تذلیل مقصود وی ۔ نو مراد دَ دے جملے دا دے چه یو مسلمان په داسے ناکاره لقب سره مه رابلئ چه په هغے لفظ سره هغه خفه کیږی او دَ بلنه کوونکی مقصد هم دَ هغه سپک والے وی ۔ لکه چه اُویلے شی اے فاسقه اے منافقه، اے کافره او اے یهودی، اے نصرانی او اے خرهٔ اے خنزیره یا دَ چا نوم کښ ترخیم او کړی دَ هغه دَ سپک والی دَ پاره یا او وائی اے کونړه یا اے ړونده په طریقه دَ سپک والی ۔ او دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه هر کله یو سړی بدکارونه کړے وی او دَ هغے نه ئے بیا توبه او باسی نو بیا په هغه ګناهونو سره دَ ده یادول دا هم تنابز بالالقاب دے هاں که یو سړے په یو لقب سره مشهور وی او په هغے نه خفه کیږی او دَ آواز کوونکی مقصد دَ هغه سپک والے نه وی نو بیا جائز دے لکه چه امام بخاری رحمة الله علیه باب ذکر کړے دے په کتاب الادب کښ چه چا ته اوګد یا لنډ او ویلے شی او دَ هغه عیب کول مقصد نه وی نو

أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا

ایا خوخوی یو تن ستاسو چه اوخوری غوښې دَ رور خپل چه مړ وی

فَكَرِهْتُمُوهُ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَّحِيمٌ ⑫

نو تاسو خو بد گڼړئے او ویره کوئے دَ الله تعالیٰ نه یقیناً الله تعالیٰ توبه قبلوونکے رحم کوونکے دے.

نو دا جائز دے. بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الْإِيمَانِ الاسم نه مراد لقب دے الفسوق بدل دے دَ الاسم نه په تقدیر دَ و سره یعنی هغه نوم چه په هغے کښې صفت دَ فاسق کیدلو دے یا دَ اسم معنیٰ مصدری ده التسمیة (نوم ذکر کول) ته او مراد تر ینه مسخره او لمز او تنابز درے واړه دی. الْفُسُوقُ یو مقصد دا دے چه هغه نوم چه دلالت کوی په فسق باندے یعنی فاسق منافق یهودی نصرانی ویل. بَعْدَ الْإِيمَانِ یعنی روستو دَ ایمان راوړلو نه دا نومونه مؤمن ته ویل ډیر بد کار دے. دویم مقصد دَ الفسوق دا دے چه دا نومونه مؤمن ته ذکر کول سبب دَ فسق او دَ گناهګارئ دی. او په حدیث صحیح کښې نقل دی چا چه یو رور ته اُوویل اے کافره نو په دے سره یو دَ دے دواړو نه اخته شو که هغه سړی کښې کفر وی نو درست ده او که نه وی نو دا خبره په ویونکی باندے واپس راګرځی. وَمَن لَّمْ يَتُبْ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ مراد دَ توبے نه شرعی توبه ده په هغے کښې یو شرط دا دے چه دَ چا بے عزتی ئے کړے ده دَ هغه نه به معافی هم غواړی او دا جمله دلیل دے چه دَ یو مسلمان بے عزتی او سپک والے ظلم او گناهِ کبیره دے.

۱۲ دا شپږم ادب ذکر کوی او په دے کښې نور درے قسمه خیزونو نه منع کوی چه هغه هم سبب دَ فساد او دَ اختلاف پیدا کیدلو دی او دَ یو مسلمان توهین او سپک والے دے او بل په تکبر باندے دلالت کوی او دا ټول گنده خصلتونه دی چه دَ مسلمان دَ شان سره نه ښائیږی. مخکښې ایت کښې هغه خیزونه ذکر وو چه مخامخ دَ مسلمان دَ سپک والی اسباب وو او په دے کښې دا سے خیزونه ذکر کوی چه پټ شا دَ هغه دَ سپک والی اسباب وی او دا درے هم په خائسته ترتیب سره دی اول بدګمانی کول دی چه کیدا ے شی چه پدے انسان کښې به نقصانونه وی نو بیا دَ هغه دَ نقصانا نو تجسس او لټول شورو کړی نو بیا دَ هغے پټ شا ذکر کوی چه هغه غیبت کول دی. اجتنبوا په دیکښې اشاره ده چه دا روستو خصلت پلیت او گنده دے دَ هغے نه دا سے اجتناب پکار دے لکه اجتناب کول دَ نجاست نه كَثِيرًا مِّنَ الظَّنِّ یو هه شه چه انسان کښې دا سے حال (پاتے په بل مخ)

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّا خَلَقْنٰكُمْ مِّنْ ذَكَرٍ وَّاُنْثٰى وَ

اے خلقو ! یقیناً مونږ پیدا کړی یئ تاسو د یو نارینه او د یو زنانه نه او

پیدا شی چه د یو خیز په باره کښ نه د خیر حکم کولے شی او نه د شر او دارنګ هیڅ حکم په هغه باندے کولے نشی دواړه طرفونه ورته یو شان وی نو دے حالت ته شک ویلے کیږی په هغه باندے په هیڅ صورت کښ عمل کول جائز نه دی بلکه حدیث صحیح کښ وارد دی چه د شبهاتو او مشتبهاتو نه ځان بچ کړئے او کله په انسان کښ داسے حال پیدا شی چه یو طرف ته د حکم کولو ترجیح ورکوی لیکن بل طرف ته ئے هم مرجوح خیال وی نو راجح طرف ته ظنّ (ګمان) ویلے کیږی او مرجوح طرف ته وهم ویلے کیږی. وهم خو د وسوسے په شان وی هغے ته خو هیڅ اعتبار نیشته او د ظن په باره کښ روستو تفصیل راځی او کله چه داسے حال وی چه یو طرف باندے داسے حکم کولے شی چه د بل طرف ورته هیڅ وهم او خیال هم نه راځی نو هغے ته یقین ویلے کیږی هغه خو درجه د ایمان ده په شرعیاتو کښ. بیا پوهه شه چه ظنّ په قرآن کښ په مختلفو صیغو سره نهه شپیته کرته ذکر کړے شوے دے او د هغے مختلف معنے او حکمونه دی. اوله معنیٰ ظن په معنیٰ د یقین سره دے لکه په سورة بقره ٤٦ او سورة الحاقه ٢٠ چه د ظن نه روستو اَنّ په شد سره ذکر وی نو په معنیٰ د یقین سره وی او دا قاعده اکثری ده. دویمه معنیٰ ظن په معنیٰ د ګمان کولو دے چه معنیٰ مشهوره ده لکه په سورة بقره ٢٣٠ جن ٥ کښ. دریمه معنیٰ خیال غیر اختیاری لکه په لکه په سورة انبیاء ٨٧ او سورة یوسف ١١٠ کښ او دا ټول دے په یو تفسیر باندے په دے دواړه ایاتونو کښ. او څلورمه معنیٰ ظن په معنیٰ د دروغ ویلو سره دے دا هر کله چه په مقابله د حق کښ وی لکه چه قرطبی ویلے دی په تفسیر د سورة بقره ٧٨ کښ او د ابن الانباری نه ئے نقل کړیدی "چه عرب لفظ د ظن په معنیٰ د یقین او د شک او د کذب کښ استعمالوی". پنځمه معنیٰ ظن په معنیٰ د اجتهاد کولو دے لکه سورة ص ٢٤ کښ. او شپږمه معنیٰ ظن په معنیٰ د تهمت لګولو دے لکه په دے ایت کښ قرطبی په دے کښ معنیٰ د تهمت لیکلے ده. او دارنګ ظن قرآن کریم دوه قسمه ذکر کړے یو ظن محمود لکه سورة نور ١٢ کښ سورة ص ٢٤ او نور ایاتونو کښ هم دی او دویم ظن مذموم دے لکه سورة انشقاق ١٤ (ظن د بعث بعد الموت) او سورة فصلت ٢٢ (ظن د علم د الله تعالیٰ) او سورة جن ٧ (ظن د بعث د نبی نه) او سورة فتح ١٢ (ظن سوء او انکار د غلبے د رسول او صحابه نه) او سورة احزاب ١٠ (ظن د اهل نفاق) او سورة

جَعَلْنٰكُمْ شُعُوْبًا وَّقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوْا ؕ اِنَّ

اوجوړ کړي ئې مونږ تاسو خاندانونه	او	قبيلې	دَ دې دَپاره چه يو بل او پېژنئ		يقيناً

جاثيه سـ۳۲ (ظن انکار دَ قيامت) او سورة اعراف سـ۲۷ (پيغمبر ته کاذب ويل) او سورة حج
سـ۱۵ (نصرت نه کول دَ الله تعالیٰ دَ رسول سره) او سورة بقره سـ۷۸ (ظن په مقابل دَ حق کښې) او
سورة العمران سـ۱۵۴ (ظن دَ جاهليت) او سورة نساء سـ۱۵۷ (ظن دَ قتل دَ عيسیٰ عليه السلام) او
سورة ص سـ۲۷ (ظن دَ باطل په خلق دَ اسمانونو او زمکې باندې) او په سورة انعام سـ۱۱۶ (اتباع دَ ظن
په شرکيانو کښې) - هر کله چه ظن مذموم دَ منافقانو او دَ کافرانو مشرکانو کار دے او هغوی ډير
دي او دا رنګ بغير دَ دليل نه په چا باندې تهمت لګول دا هم ډير موجود دي نو دَ دې
وجې نه کَثِيْرًا ئې او فرمائيل او دَ کافرانو منافقانو دَ تشبيه نه ئې منع او کړله -

اِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ اِثْمٌ سوال:- مخکښې ئې کَثِيْرًا لفظ سره ذکر کړو او امر دَ اجتناب ئې
ذکر کړو هغه دليل وو چه ډير ګمانونه ګناه دي او په دې جمله کښې ئې بَعْضَ لفظ ذکر
کړو چه دلالت کوي په کموالي باندې؟

جواب په څو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه بَعْضَ مطلق نکره ده نو ويلې کيږي که
لګه وي او که ډيره وي هاں په دې لفظ کښې اشاره ده چه بعض ظن محمود دے لکه چه
مخکښې ذکر کړے شو - دويمه وجه دا ده چه اکثر ګمانونه بے اختياره په زړه کښې پيدا
کيږي بيا روستو څوک دَ هغې مطابق عقيده او عمل او کړي او څوک ئې پريږدي نو په
اِجْتَنِبُوْا کښې احتياط کولو ته اشاره وه چه احتياط کوئ چه بے اختياره ګمانونه ستاسو
ستاسو زړونو کښې راشي او هر کله چه عقيده او عمل په هغې باندې بعضې خلق
کوي او بعضې نه کوي او بعضې باندې عمل کول خير وي او بعضې باندې عمل کول
ګناه او شر وي نو روستو جمله کښې بَعْضَ لفظ ذکر کړو - او نيشاپوري په تفسير کښې
ويلې دي چه دَ ظن څلور قسمونه دي - ۱ واجب لکه ښه ګمان کول په الله تعالیٰ باندې
او په مؤمنانو باندې ۲ حرام لکه بد ګمان کول په الله تعالیٰ باندې او په نيکانو
مؤمنانو باندې چه ښکاره علامت دَ بدئ پکښې نه وي او په دې ايت کښې هم دا قسم
مراد دے ۳ مستحب لکه مؤمن فاسق باندې ښه ګمان کول ۴ مباح لکه ظن کول
په مسائل اجتهاديه کښې - او تفسير روح المعاني کښې ذکر دي چه ظن دوه قسمه دے
۱ اختياري هغه منع دے ۲ غير اختياري نو مراد دَ منعې نه عمل کول په مقتضا دَ ګمان
باندې دي يا کوشش کول دَ زائل کولو چه ظن غير اختياري دے - (رياض په بل مخ)

وَلَا تَجَسَّسُوْا هرکله چه دَ بدګمان او دَ تهمت لګولو نه روستو دا انسان کوشش کوی چه په دغه بل انسان کښی عیبونه او لټوی نو دَ هغې نه منع کوی او په حدیث صحیح کښی راغلی دی" ولا تجسّسوا ولا تحسّسوا". دا دَ اخفش نه نقل دے چه په دے دواړو کښی زیات فرق نیشته او نورو اهل لغت پکښی فرق په څو وجوهو سره کړے دے. اوله وجه چه تجسُّس عیبونو لټولو ته ویلے کیږی او تحسُّس په حواسو سره معلومولو ته ویلے کیږی. دویمه وجه تجسُّس دَ بل چا دَ پاره جاسوسی کول دی او تحسُّس دَ خپل ځان دَ پاره دَ چا عیبونه معلومول دریمه وجه تجسُّس همیشه په شر کښی استعمالیږی او تحسُّس کله په خیر کښی او کله په شر کښی استعمالیږی. په خیر کښی استعمال لکه سورة یوسف ۸۷ کښی او په شر کښی استعمال لکه په دے مذکوره حدیث کښی دے او امام اوزاعی ویلے دی چه تجسُّس لټول دَ یو خیز ته ویلے کیږی او تحسُّس دَ چا غوږ ساږنه کول دی چه هغوی ورباندے خفه کیږی او دَ دے جملے په تفسیر کښی قرطبی ډیر واقعات لیکلی دی کتل یې فائده مند دی.

وَلَا يَغْتَبْ بَّعْضُكُمْ بَعْضًا هرکله چه بعض انسان دَ چا عیب معلوم کړی نو بیا دغه عیب دَ هغه پشی شا ذکر کوی دَ هغه دَ بے عزته کولو دَ پاره نو په دے جمله کښی دَ هغې نه منع کوی. دَ حدیث صحیح مضمون دے چه "غیبت دا دے چه په یو سړی کښی څه نقصان موجود وی او بل انسان یې دَ هغه په غائب والی کښی ذکر کوی او هغه سړے پرے خفه کیږی او که عیب پکښی نه وی او ذکر کوی په عیب سره نو دا خو بهتان دے".

هغه هم ګناه کبیره دے. دَ حسنِ بصری نه نقل دے چه دَ غیبت درے طریقے دی او په کتاب الله کښی دَ هغې نه منع ذکر ده اول غیبت چه دَ یو رود په باره کښی دَ هغه نقصان ذکر کوے چه په هغه کښی موجود وی. دویمه طریقه دا ده چه دَ یو عیب په باره کښی درته خبر درا ورسیږی او هغه ذکر کوے او دیته "افک" هم وائي لکه[۲] بهتان دے چه ذکر کوے هغه نقصان چه په هغه کښی نه وی لکه په دے قول دَ الله تعالیٰ کښی ولا تقف ما لیس لک به علم (اسراء) او دا صیغه دَ نهی ده. او نور تاکیدات چه وړاندے ذکر کیږی او دا رنګ احادیث صحیحه چه دَ غیبت په منع کښی وارد دی دا ټول دلالت کوی چه غیبت کول ګناهِ کبیره دے.

فائده :- دَ غیبت په معنیٰ کښی دا ذکر شوه چه "هغه سړے پرے خفه کیږی" نو معلوم شوه که یو سړے خپل یو عیب عیب نه ګڼړی او دَ هغې په ذکر کولو نه خفه کیږی نو هغه ذکر کول او په هغې باندے دَ حدودِ شرعیه دَ لاندے رد کول غیبت نه دے او دا مراد دے دَ قول دَ حسن بصری چه دَ بدعتی غیبت کول جائز دی. او دا رنګ هغه فاسق چه خپل فسق ښکاره کوی. او دا رنګ مدعی لره جائز دی چه دَ مدعیٰ علیه

[۲] سورة نور کښی ذد لے ذکر شوی دی. او دریمه طریقه

هغه نقصان (دَ قاضي په مخکښ) ذکر کړي چه دَ کوم په باره کښې دعویٰ کوي ځکه چه مقصد دَ مدعي (صادق) دَ هغه سړي خفه کول نه دي بلکه خپل حق ثابتول یې مقصد اصلي دے او دارنګ په علم دَ اسماء رجال کښې دَ یو راوي عیبونه ذکر کول دا غیبت نه دے ځکه چه په هغې کښې مقصد دَ هغه سړي خفه کول نه دي مراد بلکه دَ دین حفاظت دے او دارنګ دَ ظالم بادشاه دَ ظلم ذکر کول په دے مقصد چه دَ هغه دَ ظلم نه خلق بچ شي دا هم غیبت نه دے په دے ټولو کښې قصد کول دَ خیر زیات دي دَ هغه سړي دَ خفه کولو نه.

بَعْضُكُمْ بَعْضًا په دے لفظ کښې اشاره ده چه غیبت په اکثرو مجلسونو کښې موجود وي او دارنګ هغه یو سړے چه غیبت کوي نو هغه بل چه خبر شي نو هغه هم دَ دهٔ غیبت کوي دَ دے وجے نه دا لفظ یې ذکر کړو۔ اَيُحِبُّ اَحَدُكُمْ اَنْ يَّاْكُلَ لَحْمَ اَخِيْهِ مَيْتًا

حجت دلیل سلبي دا منع ده دَ غیبت کولو نه په طریقه دَ مثال او دَ تشبیه سره یعنې عفت دَ انسان یې مشابه کړے دے دَ غوښے دَ بدن دَ هغه سره۔ ځکه چه کله دَ یو انسان عزت پریکیږي نو دَ هغه زړه ته داسے درد رسیږي هغه ته دَ هغه دَ تن نه په غوښه پریکولو سره بیا حالت دَ غائب کیدلو یې مشابه کړیږے دَ حالت دَ مرګ سره لکه چه مړے دَ انسانانو دَ خبرو نه خبر نه دے او نه اوري نو دارنګ غائب انسان هم نه خه اوري او نه خبر دے، او په لفظ دَ مَيْتًا راوړلو کښې دفع دَ یو اعتراض ده که او ویلے شي چه انسان ته خو په بے عزتئ سره هله درد رسیږي چه دَ هغه مخامخ بے عزتي اوکړے شي لیکن چه پټې شا بے عزتي کول وي او هغه خبر نه وي نو دَ هغه زړه ته خو درد نه رسیږي؟ نو جواب یې اوکړو لکه چه دَ مړي دَ بدن نه غوښه پریکیږي او هغه ته خو درد نه رسیږي لیکن سرهٔ دَ دے نه دا دَ هغه بے عزتي ګنړلے کیږي۔ او په دَے لفظ کښې بله فائده داده چه دَ مُردارے خوراک صرف په حالت دَ مجبورئ کښې حلال دے او چه دَ هغې نه ادنیٰ خیز ملاویږي نو دَ مُردارے نه ځان بچ کول ضروري دي لکه چه مُرداره بیزه او غوا دي او مړ انسان وي نو دَ بیزے یا دَ غوا نه به خوراک کوي لیکن دَ انسان دَ بدن نه به خوراک نه کوي دارنګ که چرے دَ یو ضرورت او حاجت دفع کولو بله طریقه موجوده وي نو غیبت به نه کوي۔ فَكَرِهْتُمُوْهُ په دے ضمیر کښې څلور احتمالونه دي اول دا چه دا ضمیر خوراک (اکل) ته راجع دے او دویم دا چه غوښے (لحم) ته راجع دے دریم دا چه مړي (میت) ته راجع دے یعنې مړے چه وجود یې متغیّر او بد بویه شي نو ستاسو ترینه ضرور کرکه کیږي نو په دے کښې ډیره مبالغه ده۔ څلورم دا چه غیبت کولو ته راجع دے چه دَ لا یغتب په ضمن کښې دے) یعنې که ستا څوک غیبت اوکړي تو بد یې ګنړے نو دَ دے وجے نه دَ بل چا غیبت هم بد اوګنړه۔ او ابن کثیر په باره دَ قباحت دَ ربا کښے په بل مخ)

أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ

ډېر عزت مند ستاسو نه دَ الله تعالیٰ په نيز ډېر تقوىٰ دار دے يقيناً الله تعالیٰ علم والا دے

خَبِيرٌ ﴿۱۳﴾ قَالَتِ الْأَعْرَابُ آمَنَّا ۖ قُل لَّمْ تُؤْمِنُوا

خبر لرونکے دے۔ وائي بانډچيان ايمان راوړے دے مونږ، ته اووايه ايمان نه دے راوړے تاسو

غيبت کولو کښې ډېر احاديث او واقعات ذکر کړے دی هغه اوګورئ۔ او دَ غيبت کولو نه توبه کول دا دی چه اول دَ پاره غيبت کول پرېږدی او که امکان لری نو دَ هغه سړی نه دِ ے معافی اوغواړی او که معافی نشی غوختلے نو په کوم مجلسو نو کښې چه دَ هغه بد ئې ويلے وی نو په هغې کښې دِ ے دَ هغه صفت اوکړی او چه څوک دَ هغه غيبت کوی نو هغه دِ منع کړی۔ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَّحِيمٌ دَ تيرشوی ايت په اول کښې صيغه دَ نهی وه (لا يسخر) نو دَ هغې په ارتکاب سره انسان ظالم کيږی نو دَ هغه ايت په اخر کښې الظالمون ذکر کړو او دَ دے ايت په اول کښې صيغه دَ امر (اجتنبوا) ده او دَ امر په امتثال سره (په عمل کولو) دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه رحمتونه راځی دَ دے وجې نه ئې په تواب رحيم سره ختم کړو.

س ۱۳ په دے ايت کښې اووم ادب ذکر کوی چه سبب دَ اتحاد او اتفاق دے او دَ تفرق او دَ فساد نه دَ بچ کيدلو خائسته طريقه ده حاصل دا دے (سره دَ ربط دَ ماقبل نه) چه يو انسان دَ بل انسان سپک والے او بخيله تکبر دَ دے وجې نه کوی چه زما جنس جدا دے نو دا غلطه ده ځکه چه ټول دَ يو مور او پلار نه پيدا دی او يا به تکبر دَ نسب دَ وجې نه کوی نو نسب بغير دَ تقوىٰ نه هيڅ سبب دَ عزت نه دے بلکه صرف دَ تعارف او دَ پيژندګلو دَ پاره دے هاں عزت صرف په تقوىٰ سره دے او متقی سړے دَ بل چا سپک والے او بخيله تکبر نه کوی بلکه دَ تقوىٰ دَ وجې دَ تيرشوی ناکاره خصلتونو نه ځان بچ کوی.

يَا أَيُّهَا النَّاسُ په دے ادب کښې عام خطاب ئې ذکر کړو ځکه چه هم جنس کيدل او تفاوت دَ نسبونو په مؤمنانو پورے خاص نه دے کافران هم ټول دَ ادم او حواء عليهما السّلام اولاد دی او مختلف نسبونه پکښې شته دے۔ مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ مراد دَ دے نه ادم او حواء عليهما السلام دی يا هر مور او پلار دی ليکن اول قول اصح دے او دا دليل دے چه دَ بچی پيدائش دَ اوبو دَ پلار او مور دواړو نه دے لکه سورة طارق ۷ کښې تصريح دَ او په کوم ايتونو کښې چه ماء مفرد ذکر دے لکه سورة مرسلات ۲۰ او قيامه ۳۷ نو مراد دَ مفرد نه تثنيه ده يعنی دوه اوبه دَ مذکر او مؤنث لکه تفسير قرطبی کښې ذکر دی.

وَلٰكِنْ قُوْلُوْٓا اَسْلَمْنَا وَلَمَّا يَدْخُلِ الْاِيْمَانُ فِيْ

او لیکن	وایئ	چه مونږ اسلام قبول کړیدے	او تراوسه نه دے داخل شوے	ایمان	په

وَجَعَلْنٰكُمْ شُعُوْبًا وَّقَبَآئِلَ اول ئې خَلَق ذکر کړو او دلته ئې جعل ذکر کړو ځکه چه اصولو کښې اکثر خَلْق ذکر کیږی او په اوصافو او فروعو کښې جعل ذکر کیږی لکه سورة انعام ۱ کښې هم دلسے دی۔ شُعُوْبًا جمع دَ شعب ده لرے نیکو ته ویلے کیږی لکه چه په عربو کښې ربیعه، مضر، اوس، خزرج دی او شعب دَ اضدادو نه دے جمع او تفرق دواړو ته ویلے کیږی ځکه چه دوی په یو اصل کښې متفرق نسلونه جمع شوے وی۔ وَّقَبَآئِلَ جمع دَ قبیلة ده دَ شعب نه راندے نیکونو ته منسوب وی لکه چه کنانه یو قبیله ده او دا سے اُوه طبقات اهلِ علمو لیکلے دی اول شعب بیا قبیله بیا عماره بیا بطن بیا فخذ بیا فصیلة (دا په سورة معارج ۱۳ کښې ذکر ده) بیا عشیره (لکه سورة توبه ۲۴ کښې ذکر ده)۔ چا دَ شعوب او قبائل نور فرقونه هم ذکر کړے دی۔ او دا دوه قسمونه ئې خاص کړل په ذکر سره ځکه چه اول تعارف دَ دے نه شورو کیږی بله وجه دا ده چه فخر په نسبونو کښې په دے دووُ سره وی په لرے خاندانو سره فخر نه کیږی لکه په دے ملک کښې ویلے کیږی دَ فخر په طور سره چه زه پښتون یم یا سیّد یم لاندے خاندان نه ذکر کوی او دا جمله دلیل دے چه تقسیم دَ نسبونو دَ الله تعالیٰ اختیار کښې دے دَ دے وجے نه په حدیث صحیح کښې په هغه چا باندے لعنت ویلے دے چه خوک خپل نسب بدلوی او دَ خپل اَبْ نه سیوا بل اَبْ ته نسبت کوی۔ لِتَعَارَفُوْا دا حکمت دے دَ پاره دَ تقسیم دَ نسبونو چه خپل نسبونه اوپیژنئ او دَ هغے دَ وجے نه صله رحمی اوکړئ۔ حدیث دَ ترمذی کښې راغلے دی "چه رسول الله صلّی الله علیه وسلّم فرمائیلے دی چه دَ خپلو نسبونو نه دومره ایزده کړئ چه صله رحمی پرے کوئ"۔ دا ښکاره دلیل دے چه نسبونه دَ پاره دَ فخر او تکبّر او دَ پاره دَ عزت او شرافت نه دی نو فخر کول په نسب باندے دا خوئی دَ جاهلیت والو دے او حدیث دَ مسند بزار کښې (چه ابن کثیر هم ذکر کړے دے) راغلے دی "چه رسول الله صلّی الله علیه وسلّم فرمائیلے دی چه تاسو ټول دَ خاورو نه پیدا شوی ئې او ضرور منع دِ شی هغه کسان چه فخر کوی په پلرانو (نسبونو) باندے یا به دوی ډیر سپک شی په نیز دَ الله تعالیٰ دَ گونګټانو نه"۔

اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰىكُمْ دا علت دَ مقدّر (پټ) کلام دے یعنی نه دے نسب دَ پاره دَ فخر او عزت ځکه چه ان اکرمکم الخ یعنی دَ الله تعالیٰ په نیز سبب دَ اوچت والی دَ مرتبے او دَ کرامت صرف تقویٰ ده۔ او قرطبی ویلے دی چه تقویٰ دَ الله تعالیٰ (پلټے په بل مخ)

قُلُوْبِكُمْ ؕ وَاِنْ تُطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ لَا يَلِتْكُمْ مِّنْ

زړونو ستاسو کښ او که چرے تابعداری کوئے تاسو د الله تعالیٰ او د رسول د هغه نو نیمګړے به نکړی ستاسو د

اَعْمَالِكُمْ شَيْـًٔا ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٤﴾ اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ

عملونو نه هیڅ یقیناً الله تعالیٰ بخښنه کوونکے رحم کوونکے دے۔ یقیناً مؤمنان

د حدودو په امر او نهی کښ لحاظ کول دی او ځان موصوف کول په هغې چه الله تعالیٰ د هغې امر کړے دے او ځان بچ ساتل د هغې نه چه الله تعالیٰ د هغې نه نهی (منع) کړے ده۔
اَکْرَمَ صیغه د اسم تفضیل ئے د دے وجے نه ذکر کړے ده چه په نفسِ کرامت (عزت) کښ ټول انسانان شریک دی لکه په سورة اسراء ۷۰ کښ ذکر شوے دی او لفظ د عِنْدَ اللّٰهِ کښ اشاره ده چه د خلقو په نیز عزتمند کیدلو ته اعتبار نیشته د الله تعالیٰ په نیز عزت حاصلول لوئے مقصد دے او په عِنْدَ کښ معنی د قربت ده۔ او اَتْقٰکُمْ اسم تفضیل کښ اشاره ده چه د تقویٰ هم مختلف مرتبے دی نو کرامت عند الله هم په تفاوت سره دے۔
سوال:۔ علم سبب د شرافت او د لوئے مرتبے دے په دلیل د نورو نصوصو سره او دلته ئے تقویٰ ذکر کړه د دے څه تطبیق دے؟
جواب:۔ اول دا چه تقویٰ په اصل کښ عمل کول دی په علم باندے نو اشاره ده چه صِرف علم (بے عمله) سبب د کرامت نه دے بلکه د علم سره عمل ضروری دے۔ دویم دا چه علم سبب د تقویٰ دے لکه په سورة فاطر ۲۸ کښ دی او تقوی سبب د کرامت دے نو دلته ئے سببِ قریبه ذکر کړو چه هغه مقصدی دے۔ او دا آیت دلالت کوی چه په نکاح کښ کفاءت د دین په لحاظ سره مقدم دے او حدیث صحیح کښ هم ذکر دی "چه د ښځے سره د (یو) د څلورو وجونه نکاح کیدے شی د مال وجے نه، د جمال د وجے نه د نسب د وجے نه او د دین د وجے نه نو ته ځان کامیاب کړه په دین والا باندے" او روستو د دینداری نه کفاءت د نسب په نیز د بعضے علماؤ معتبر دے چه په خپل محل کښ د دے د پاره دلیلونه ذکر کیږی۔
۱۴ ربط د دے د مخکښ مضمون سره دا دے چه په دے آدابو ذکر کړے شوؤ باندے خوک عمل نه کوی صرف ظاهری عملونه (مونځ او دس وغیره) کوی او دعویٰ د ایمان کوی نو هغه منافق دے په هغه باندے اعتبار مه کوئے او ربط د مخکښ آیت سره دا دے

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوْا وَ

هغه کسان دي چه ايمان يې راوړې دے په الله تعالیٰ او رسول د هغه باندې بيا يې هيڅ شک نه دے کړے او

چه منافقانو ويل چه زمونږ نسب هم اوچت دے او ايمان والا هم يو او تقویٰ خو په ايمان سره ده نو مونږ (د صحابه کرامو نه) غوره يو نو په دے ايت کښ د هغوی رد کوی او زجر دے په مجرّد دعویٰ د ايمان سره چه په حقيقت کښ ايمان نه وی صرف عمل وی نو هغے ته اعتبار نيشته -

قَالَتِ الْاَعْرَابُ اٰمَنَّا دا قول د بعض بانډچيانو دے چه هغه په سورة توبه ۹۷ ۹۸ کښ ذکر دی او مقصد پديکښ تحذير دے ټول امت ته د دوی د طريقے نه او دعویٰ په اٰمَنَّا سره يې د پاره د دنيوی اغراضو کوله او اشاره يې کوله چه مونږ تقویٰ والا يو نو اکرم يو- قُلْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا دا نفی داسے ده لکه په سورة بقره ۸ کښ تيره شوې ده او دليل د عدم ايمان د دوی مخالفت کول دی د دوی د اداب د دے سورت نه، خصوصًا اول او دويم ادب ځکه چه د هغه دواړو مخالفت کول مستلزم وو (حبطِ عمل) او کفر لره. وَلٰكِنْ قُوْلُوْٓا اَسْلَمْنَا مراد د دے ظاهری انقياد او بعض عملونه کول دی د پاره د حفاظت د ځانونو او مالونو خپلو او د پاره د حصول د غنيمتونو او زکوٰة -او دا دليل دے چه اسلام دوه قسمه دے اول صرف استسلام او ظاهری انقياد دے بغير د تصديق د زړه نه او دويم قسم انقياد په ژبه او زړه او اندامونو سره دے لکه په قول د ابراهيم عليه السّلام کښ اسلمت لرب العالمين بقره ۱۳۱ او ان الدين عند الله الاسلام العمران ۱۹ او داسے تقسيم امام بخاری په ترجمة الباب کښ ذکر کړے دے (بَابٌ اِذَا لَمْ يَكُنِ الْاِسْلَامُ عَلَى الْحَقِيْقَةِ وَكَانَ عَلَى الْاِسْتِسْلَامِ اَوِ الْخَوْفِ مِنَ الْقَتْلِ لِقَوْلِهٖ تعالیٰ (قَالَتِ الْاَعْرَابُ اٰمَنَّا قُلْ لَّمْ تُؤْمِنُوْا وَلٰكِنْ قُوْلُوْٓا اَسْلَمْنَا) فَاِذَا كَانَ عَلَى الْحَقِيْقَةِ فَهُوَ عَلٰى قَوْلِهٖ تَعَالٰى (اِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَ اللّٰهِ الْاِسْلَامُ (کتاب الايمان) او دا ايت ښکاره دلالت کوی چه په صرف عمل کولو بغير د يقين او تصديق قلبی نه انسان مؤمن نه جوړيږی. وَلَمَّا يَدْخُلِ الْاِيْمَانُ فِيْ قُلُوْبِكُمْ دا علت دے د دے قول چه لَمْ تُؤْمِنُوْا او مراد د ايمان نه تصديق او يقين دے او محل د هغے قلب دے او دا دليل دے چه صرف اقرار په اٰمَنَّا او په کلمه د توحيد سره بغير د تصديق قلبی نه ايمان، ايمان شرعی نه دے - خطيب شربينی نقل کړيدی چه عام خلق غفلت والا په نن زمانه کښ په داسے حالت کښ دی. وَاِنْ تُطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ دا جمله دليل دے چه اطاعت د الله تعالیٰ او د رسول الله صلی الله عليه وسلم علامت د صحيح ايمان دے - لَا يَلِتْكُمْ مِّنْ اَعْمَالِكُمْ شَيْئًا اشاره ده چه اطاعت د الله تعالیٰ او د رسول صلی الله عليه وسلم سبب د قبوليت د عملونو دے او مخالفت کول (پاتے په بل مخ)

جٰهَدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ

او جهاد ئې کړے دے په مالونو خپلو او نفسونو خپلو سره په لار د الله تعالىٰ کښ

اُولٰٓئِكَ هُمُ الصّٰدِقُوْنَ ﴿۱۵﴾ قُلْ اَتُعَلِّمُوْنَ اللّٰهَ بِدِيْنِكُمْ

دغه کسان دوی رشتني دی ۔ ته او وایه ایا خبروركوئے تاسو الله تعالىٰ ته په دين خپل سره

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَاللّٰهُ

او الله تعالىٰ عالم دے په هغه څه چه په اسمانونو او هغه څه چه په زمکه کښ دی او الله تعالىٰ

بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۱۶﴾ يَمُنُّوْنَ عَلَيْكَ اَنْ اَسْلَمُوْا

په هر څيز باندے پوهه دے. زياد نه كوى دوى په تا باندے چه دوى اسلام راوړے دے

دَ دوی سبب دَ نقصان یا دَ برباد ئے دَ ثواب دے۔ او هر کله چه اطاعت دَ الله تعالىٰ او دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم يو شے دے دَ دے وجے نه لا يلتكم ئے مفرد صيغه ذکر کړے ده إِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ اشاره ده چه اطاعت دَ الله تعالىٰ او دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم سبب دَ مغفرت او دَ رحمت دے۔

سئلہ ۱۵ په دے ایت کښ ذکر دَ حقیقت دَ ایمان شرعی دے په رد دَ منافقانو کښ چه هغوی دعویٰ دَ ایمان کوی لیکن دروغژن دی په دے دعویٰ کښ. ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوْا مراد دَ ارتیاب (شک) نه داسے عملونه کول دی چه علامت دَ کفر او دَ شرك وی چه بعضِ دَ هغے نه مخالفت کول دَ ادابو دَ دے سورت دی. وَجَاهَدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ اه مراد دَ دے هر هغه محنت او کوشش کول دی چه دَ ایمان په تقاضا سره وی او مال یا نفس پکښ خرچ کیږی او مالونه ئے دلته مخکښ ذکر کړل اشاره ده چه منافق سړے عمل په بدن سره کله کله کوی دَ ریا وغیره دَ پاره لیکن خرچ دَ مال فی سبیل الله کښ ډیر بخیل وی. اُولٰٓئِكَ هُمُ الصّٰدِقُوْنَ په دیکښ تعریض دے په هغه چا باندے چه دا شرطونه دَ ایمان په چا کښ موجود نه وی نو هغه په دعویٰ دَ ایمان کښ دروغژن دے۔

سئلہ ۱۶ دا زجر دے منافقانو ته یعنی هر کله چه دعویٰ دَ دوی په اٰمَنَّا سره دَ دروغو ده نو په اٰمنا ویلو کښ دَ دوی دوه مقصدونه دی اول دا چه الله تعالىٰ خبر ورکوی په خپل ایمان سره دویم دا چه په رسول صلى الله عليه وسلم باندے احسان او زیاد نه کوی نو پس دے ایت کښ په اول مقصد دَ دوی باندے زور نه ورکوی. وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اه پس دے جمله او دوستنی

قُلْ لَّا تَمُنُّوْا عَلَيَّ اِسْلَامَكُمْ ۚ بَلِ اللّٰهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ

ته اوايه زبادته مه کوئے په ما باندے دَ اسلام ستاسو بلکه الله تعالیٰ زبادته کوی په تاسو باندے

اَنْ هَدٰىكُمْ لِلْاِيْمَانِ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۱۷﴾

دَ دے خبرے چه تاسو ته هدایت دَ ایمان کړیدے که چرے تاسو رشتنی یئ .

جمله کښ رد دَ شرك فی العلم دے اوحرف دَ ما دلته دَ تعمیم دَپاره دے. یعنی الله تعالیٰ چه په هر څیز باندے عالم دے نو هغه ته دَ دروغو دَ ایمان خبر ولے ورکوئے هغه خو ستاسو په درغو باندے هم عالم دے .

فائده :- که پیغمبر په هر څیز باندے عالم وے نو پکار وو چه په دے ایت کښ دَ هغه ذکر هم الله تعالیٰ دَ ځان سره یو ځائے کړے وے لیکن هغه په هر څیز عالم نه دے او عالم الغیب هم نه دے .

سے ۱۷ دا بل زجر دے دَ منافقانو په دویم مقصد باندے چه په رسول صلی الله علیه وسلم باندے زبادته کول دی. اَنْ اَسْلَمُوْا (سوال) دوی خو دعویٰ دَ امنّا کړے ده دَ اسلام ئے خو نه ده کړے ؟ (جواب) دعویٰ دَ ایمان متضمن ده دعوے دَ اسلام لره ځکه چه ایمان شرعی انقیاد باطنی اوظاهری دواړو ته شامل دے لیکن دلته ئے دَ اَسْلَمُوْا ذکر دَ دے وجے نه اوکړو چه دوی په بعض عملونو کښ دَ نبی صلی الله علیه وسلم اوصحابه کرامو سره ظاهری شرکت کوؤ لکه مونځ کول. جهاد کول وغیره او بیا به ئے په نبی صلی الله علیه وسلم احسان خیژوؤ چه مونږ ستا ملګرتیا کوؤ. لکه اوس هم بعض ناپوهان په سنت طریقے یو کار اوکړی نو بیا په خپل مشر یا استاذ باندے احسانونه خیژ وی. بَلِ اللّٰهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ اَنْ هَدٰىكُمْ لِلْاِيْمَانِ (سوال) په دوی کښ ایمان په حقیقت کښ موجود نه وو نو څه رنګ ئے دا اوفرمائیل ؟ (اول جواب) دلته ئے حصول دَ ایمان دَ دوی نه دے ذکر کړے بلکه هدایت ایمان ته په رالیږلو دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم سره لکه چه سورة العمران سے ۱۶۴ کښ ذکر شوے دی .

(دویم جواب) مراد دَ لِلْاِيْمَانِ دا دے چه تاسو دَ کوم ایمان دعویٰ کوئے (اګرچه په دروغه سره ده) نو دَ دے ایمان خود نه خو الله تعالیٰ کړے ده نو دَ هغه احسان منل پکار دی او دا ایت دلیل دے چه دَ داعی الی الحق احسان دے په خلقو باندے .

فائده :- مَنّ اظهار دَ نعمت دے په بل چا باندے دَپاره دَ طلب دَ شکر کولو او دا دَ مخلوق دَپاره حرام دے لکه سورة بقره سے ۲۶۴ کښ ذکر دے ځکه چه دوی دَ ریاتے په بل منځ)

إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ غَيْبَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاللَّهُ

يقيناً الله تعالىٰ پوهه دے په پټو څيزونو د اسمانونو او د زمکے او الله تعالىٰ

بَصِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٨﴾

ليدونکے د هغه کارونو دے چه تاسو يئے کوئے۔

مخلوق ته د شکر کولو مطالبه او نيت اوکړی نو د الله تعالىٰ د طرف نه جزاء نه ملاويږی او الله تعالىٰ خو يئے اغستلو ته محتاج نه دے صرف د بندګانو شکر کول د هغوی د فائدے د پاره غواړی نو الله تعالىٰ لره د مَنّ کولو حق شته دے۔

خطيب شربينی ويلے دی "احسان زبادل چه د مخلوق د طرفه وی نو نعمت خرکړی او چه د الله تعالىٰ د طرف نه وی نو نعمت مزيدار شی" او دا ايت دليل دے چه انسان ته په هره درجه کښں هدايت يا نعمت ملاؤشی نو د الله تعالىٰ د طرف نه ئے اوګڼړی او په هغے باندے دِ لوئی نه کوی۔ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِيْنَ اشاره ده چه رښتنے ايمان نعمت د الله تعالىٰ دے۔

سـ۱۸ په دے کښں اشاره ده رد کولو ته په منافقانو باندے يعنی اے منافقانو تاسو په دعویٰ د ايمان کښں صادق نه يئے ځکه چه الله تعالىٰ په غيبو باندے عالم دے نو ستاسو په زړونو باندے هم عالم دے او په دے ايت کښں رد دے په شرك فی العلم باندے په دوه طريقو سره اول دا چه هر څه چه پټ دی د مخلوق نه په اسمانونو او زمکو کښں نو الله تعالىٰ په هغے باندے عالم دے۔ دويم دا چه مخلوق څه عملونه کوی ښکاره او پټ نو الله تعالىٰ په هغے باندے عالم او بصير دے او دا دواړه صفتونه په هيڅ مخلوق کښں نشی موجود کيدلے يو صفت د علم غيب او دويم صفت د علم بِكُلِّ شَيْءٍ دا الله تعالىٰ پورے خاص دی۔

ختم شو تفسير د سورة الحجرات په فضل د الله تعالىٰ سره

الحمدلله۔

اٰیَاتُهَا ۴۵	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ	سُوْرَةُ قٓ
رُکُوْعَاتُهَا ۳		۵۰ مَکِّیَّةٌ ۳۴

قٓ ۚ وَالْقُرْاٰنِ الْمَجِیْدِ ﴿۱﴾ بَلْ عَجِبُوْٓا اَنْ جَآءَهُمْ

الله تعالیٰ بنهٔ پوهه دے په مراد د دے. قسم دے په قران شرافت والا - بلکه تعجب کوی دوی د دے نه چه راغلے دے دوی ته

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

سُوْرَةُ قٓ

د دے سورت نه څلورم باب دے د پاره د اثبات د قیامت او په دے کښ څلور سورتونه دی قٓ ، ذاریات، طور، نجم -

ربط د دے سورت د مخکښ سورت سره په څو طریقو دے اوله دا چه هرکله اداب د اتحاد د مؤمنانو د پاره ذکر شول نو په دے سورت کښ د د غه ادابو د رعایت د پاره تخویف ذکر کوی په راتللو د یوم الخروج ، یوم الوعید ، یوم الخلود سره - دویمه طریقه هرکله چه ذکر شو چه کرامت په سبب د تقویٰ سره دے نو په دے سورة کښ ذکر کوی شان د متقیانو - دریمه دا چه هر کله ذکر کړے شو حال د مؤمنانو او منافقانو نو په دے کښ ذکر کوی حال د کافرانو -

دعویٰ د دے سورت اثبات د بعث بعد الموت دے په ذکر د خروج د مړو د زمکے نه په س۱۱ او س۴۲ کښ او په عذابونو دنیویه سره په تیر شوے قومونو باندے او اثبات د توحید دے په رد د شرک فی التصرف والعلم او په ذکر د څلورو اسماء حسنیٰ سره -

خلاصه د دے سورت دا ده چه دے تقسیم دے دوه بابونو ته اول باب تر س۱۴ پورے دے په دے کښ شهادت د قران ذکر کوی په اثبات د بعث بعد الموت باندے په س۱ کښ بیا زجرونه دی منکرینو ته په س۲ س۳ س۵ کښ بیا یو دلیل عقلی علمی او درے دلیلونه عقلیه تصرفی علوی وسطی او سفلی ذکر کوی د پاره د اثبات د قیامت او هر دلیل مشتمل دے په درے درے خیزونو باندے بیا دعوی د سورت په س۱۱ کښ بیا ذکر د عذاب دے - په تیر شوے منکرینو باندے د پاره د تخویف د موجوده خلقو په درے ایاتونو کښ بیا زجر دے په س۱۵ کښ -

تفسیر س۱ قٓ دا د مقطعاتو نه دے په دے کښ د ډیرو سورتونو کښ بحث تیر شوے دے. دلته یو قول دا دے چه په حرف قٓ باندے قسم ذکر کوی او هرکله چه (پاتے په بل مخ)

مُّنْذِرٌ مِّنْهُمْ فَقَالَ الْكٰفِرُوْنَ هٰذَا شَيْءٌ عَجِيْبٌ ﴿۲﴾

ویره ورکوؤنکے دَ دوی نه نو وائی کافران چه دا نااشنا څیز دے.

حرف مقسم بهٖ وی نو حرف قسم راوړلو ته ضرورت نه وی لکه دا، او کله چه مقسم بهٖ نور څیزونه بغیر دَ حروف مقطعات نه وی نو واو دَ قسم دَ پاره ذکر کیږی لکه والطور والصافات وغیره او په دے سورت کښ داسے الفاظ چه مشتمل دی په حرف دَ قاف باندے اته څلویښت دی نو دا هم وجه دَ مناسبت ده دَ حرف قاف سره په اول دَ دے سورت کښ.

او ابن کثیر هغه قول ذکر کړے دے چه چا ویلے دی چه مراد په دے سره کوهِ قاف غر دے نو بیا ئے وئیلے دی چه دا دَ زنادِقو خبرے دی او په دے کښ چه کوم روایت دَ ابوحاتم رازی دے نو هغه اکثر منقطع دے. وَالْقُرْاٰنِ الْمَجِيْدِ دا هم قسم دے او تفصیل دَ قسم په قرآن باندے دَ سورۃ یٰس په اول کښ تیر شویدے. الْمَجِيْدِ لوئے قدر والا، عزت والا، شرافت والا، ډیرو فائدو والا ته وئیلے کیږی سورۃ یٰسٓ کښ والقرآن الحکیم ذکر کړے وو ځکه چه په هغه سورت کښ دَ الله تعالیٰ ډیر حکمتونه ئے ذکر کړے وو او په دے سورت کښ دَ الله تعالیٰ دَ قدرت او دَ عظمت ذکر کوی. دَ دے قسم په جواب کښ ډیر اختلاف دے بعضو محذوف راویستلے دے چه لیبعثن (راپورته به کړے شی) ماردوا قولك بحجة (نه ده رد کړے دوی خبره ستا په دلیل سره) غوره دا چه روستو ایت جوابِ قسم دے او بَلْ هم په جواب قسم کښ ذکر کیدے شی او په معنیٰ دَ قد سره رازی.

ﺳ۲ بَلْ عَجِبُوْٓا اَنْ جَآءَهُمْ دلته من پټ دے یعنی تعجب ئے دَ رسول دَ بشریت نه کړے دے لکه سورۃ تغابن ﺳ۶ کښ دی. یا متعجب مِنه (هغه څیز چه دوی ترے تعجب کړیدے) پټ دے یعنی من الخبر بالبعث (دَ خبر دَ دوباره ژوند نه) لکه چه روستو ایت کښ ذکر دے، او دَ اَنْ جَآءَهُمْ نه مخکښ لام پټ دے یعنی لان جاءهم نو دا وجه دَ تعجب شوه. مُّنْذِرٌ هر کله چه مقصد دَ سورۃ بعث بعد الموت ثابتول دی او دا مسئله دَ انذار (ویرے) ده دَ دے وجے نه صرف انذار ئے ذکر کړو. مِّنْهُمْ دَ دوی دَ جنس نه، دا ډیرو سورتونو کښ ذکر شویدی چه جاهلانو په هر وخت کښ دَ بشریت دَ رسولانو نه انکار کړے دے. فَقَالَ الْكٰفِرُوْنَ دا تفصیل دَ تعجب کولو دے او لفظ دَ کافرون سره ئے اشاره او کړه دَ دوی قبیح حال ته. هٰذَا شَيْءٌ غوره دا ده چه هذا سره اشاره ده بعث بعد الموت ته لکه روستو ایت کښ ذکر کوی بعض علماؤ ویلے دی چه اشاره ده توحید ته لکه سورۃ ص ﺳ۵ کښ او بعضو ویلے دی چه اشاره ده چه رسول بشر دے. عَجِيْبٌ کوم کار

ءَاِذَا مِتۡنَا وَكُنَّا تُرَابًا ۚ ذٰلِكَ رَجۡعٌۢ بَعِيۡدٌ ﴿٣﴾ قَدۡ

آیا هر کله چه مونږ مړه شو او شو مونږ خاورې نو دا واپسي دَ عقل نه لرې ده . یقینًا

عَلِمۡنَا مَا تَنۡقُصُ الۡاَرۡضُ مِنۡهُمۡ ۚ وَعِنۡدَنَا كِتٰبٌ

پوهه یو مونږ په هغه چه کموي زمکه دَ دوی نه او زمونږ سره کتاب دے

حَفِيۡظٌ ﴿٤﴾ بَلۡ كَذَّبُوۡا بِالۡحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمۡ فَهُمۡ

ساتونکے دَ عملونو دَ دوی - بلکه دوی دروغژن کنړی حق لره هر کله چه دوی ته راغے نو دوی

چه دَ عادت دَ خلقو نه خلاف وی نو هغے ته دوی عجیبه او نا اشنا وائی . لیکن هر کله چه دَ الله تعالیٰ په قدرتونو باندے فکر او کړیشی نو دوباره ژوندی کول هیڅ نا اشنا کار نه دے نو دَ منکرانو دا تعجب کول بے ځایه دی . عَجِيۡبٌ لګ نا اشنا ته ویلے کیږی او عجاب ډیر نا اشنا ته ویلے کیږی نو هر کله چه مشرکانو دَ توحید مسئله ډیره نا اشنا ګنړله او ویل ئے چه دا مونږ دَ خپلو مشرانو نه اوریدلے نه ده نو دَ دے وجه نه ئے په سورة ص ٥ کښ عجاب ذکر کړے او مسئله دَ بعث بعد الموت ئے خو دَ مشرانو نه اوریدلے ده لکه سورة مؤمنون ٨٢ کښ دی لیکن دَ عقل نه ئے لرے ګنړله دَ دے وجه نه دلته او سورة رعد ٥ کښ صرف عجیب اُویل.

٣ دا بیان دَ متعجب مِنه (چه دَ هغے نه تعجب ئے کوؤ) دے په تفصیل سره او دَ پاره دَ تاکید دَ تعجب ئے همزه دَ استفهام انکاری په اول کښ راوړو او دَ تُرَابًا نه روستو تقدیر دے یعنی نبعث په قرینه دَ سورة مؤمنون ٨٢ او صافات ١٦ او واقعه ٤٧ سره او بعث دلالت کوی په واپس کولو باندے دَ دے وجه نه ئے ذٰلِكَ رَجۡعٌ اُویل ذٰلِكَ اشاره ده بعث ته چه دَ نبعث مقدر کښ مصدریت دے او رَجۡعٌ متعدی دے واپس کولو ته ویلے کیږی او رجوع لازم ده واپس کیدلو ته وائی . بَعِيۡدٌ مراد دَ دے نه لرے والے دے دَ عقل او عادت نه .

٤ دا رد دے دَ دوی په تعجب او انکار کولو دَ بعث نه او دلیل عقلی علمی دے په بعث بعد الموت باندے یعنی هغه ذات چه عالم دے په ټولو اجزاؤ دَ هر بدن باندے جُدا جُدا او دَ دوی په عملونو باندے نو هغه ضرور قادر دے په دوباره اجزاء یو ځائے کولو او ژوندی کولو باندے . مَا تَنۡقُصُ الۡاَرۡضُ مِنۡهُمۡ په دے کښ دَ مفسرینو درے توجیهات دی اوله دا چه ټول بدن خاورے او خوری لیکن (پاتے په بل مخ)

فِيْٓ اَمْرٍ مَّرِيْجٍ ۝۵ اَفَلَمْ يَنْظُرُوْٓا اِلَى السَّمَآءِ فَوْقَهُمْ

په خبره ګډه وډه کښې دي - آیا نو دوی نه ګوري اسمان ته د پاسه د دوی

عجب الذنب (لکه لیمې) نه خاورې کیږي او دا صحیح حدیث کښې هم راغلې دي. دویمه توجیه دا ده چه څوک مړه شي او څوک ژوندي پاتې وي څه وخت پورې. دریمه توجیه دا ده چه د ډیرو انسانانو بدنونه خاورې کیږي او د بعض انسانانو لکه انبیاء علیهم السلام او د بعض اولیاؤ شهداؤ بدنونه نه خاورې کیږي. وَعِنْدَنَا كِتٰبٌ حَفِيْظٌ مراد د کتاب نه هغه کتاب دې چه ملائکو پکښې عملونه د انسانانو لیکلې دي نو د حفیظ معنیٰ دا چه د تمام عملونو حفاظت ئې کړیدې لکه په سورة کهف ۴۹ کښې ذکر روؤ نو حفیظ په معنیٰ د حافظ دې لکه سوره انعام ۱۰۴ یا مراد د کتاب نه لوح محفوظ دې چه په هغې کښې د دوی نومونه او عملونه وغیره لیکلې شويدي نو حفیظ په معنی د محفوظ دې یعني د شیطانانو نه او د تغییر او تبدیل نه ساتلې شوې دې.

۵ دا دویم اضراب دې اول اضراب په دویم ایت کښې وو هغه زجر وو د دوی په تعجب کولو د بعث بعد الموت نه او په دې کښې زجر دې په تکذیب د دوی په باره د قرآن کښې چه هغه خبر ورکړې دې د بعث نه او په دې کښې ترقي ده ځکه چه تکذیب غټ کفر دې په نسبت د تعجب کولو او دا رنګ تعجب سبب دې د پاره د تکذیب. بِالْحَقِّ مراد د حق نه قرآن یا رسول یا خبر د بعث بعد الموت دې. لَمَّا جَآءَهُمْ په دې کښې اشاره ده چه دوی ته د دې حق نه خبر شويدي او بیا ئې هم تکذیب کړیدې. فَهُمْ فِيْٓ اَمْرٍ مَّرِيْجٍ مریج د مرج نه ماخوذ دې لکه مرج البحرین اختلاط او فساد ته ویلې کیږي او مراد دا چه په یو خبره باندې نه ټینګیږي بلکه وائي سحر دې نو بیا وائي شعر دې او کله وائي کهانت دې نو کله وائي دروغ دي او خوبونه دي لکه په سورة انبیا ۳ ۵ کښې تیر شويدي یا مراد د دې نه ګډوډ دین دې یعني د مشرکانو دین ګډوډ دې لکه چه د حسن بصري او قتاده نه نقل کړې شويدي چه (مَا تَرَكَ قَوْمٌ الْحَقَّ اِلَّا مَرَجَ اَمْرُهُمْ وَالْتَبَسَ عَلَيْهِمْ دِيْنُهُمْ) "یو قوم حق نه دې پریخودې مګر د هغوی حال خراب شي او دین ئې ګډوډ شي". او حرف د فَا په فهم کښې هم دلالت کوي په سببیت د ماقبل باندې د پاره د مابعد" معنیٰ دا چه تکذیب سبب د مَرَج دې.

كَيْفَ بَنَيْنٰهَا وَزَيَّنّٰهَا وَمَا لَهَا مِنْ فُرُوْجٍ ﴿۶﴾ وَالْاَرْضَ

چه څه رنګ مونږ جوړ کړېدے او ډولی کړېدے او نیشته دَ دے چودل - او زمکه

مَدَدْنٰهَا وَاَلْقَيْنَا فِيْهَا رَوَاسِيَ وَاَنْۢبَتْنَا فِيْهَا مِنْ

اوګړه غوړولے ده مونږ او اچولے دی مونږ په دیکښ پاخه غرونه او زرغون کړیدی مونږ په دیکښ دَ

كُلِّ زَوْجٍۢ بَهِيْجٍ ﴿۷﴾ تَبْصِرَةً وَّذِكْرٰى لِكُلِّ

هر قسم بوټو نه تازه تازه - دَ پاره دَ پوهه کولو او یاداشت دَ پاره دَ هر

~~۶~~ دَ دے ایت نه تر یوؤلسم ایت پورے دلیلونه عقلیه آفاقیه ذکر کوی دَ پاره دَ اثبات دَ بعث بعد الموت روستو دَ ذکر دَ تکذیب دَ دوی نه لکه چه روستو دَ تعجب نه ئې یو دلیل علمی ذکر کړے وؤ. نو په دے ایت کښ دلیل عقلی علوی دے او مشتمل دے په درے خیزونو باندے. یو بنا (جوړخ) دَ آسمان. دویم زینت دَ هغې په ستورو سره لکه سورة صافات ~~۶~~ کښ دی او دریم نه چاؤدل دَ هغې. فُرُوْجٍ ف ر ج اجزاء جدا کیدلو ته ویلے کیږی نو مراد ترینه سُورے کیدل او چاؤدل دی. یعنی اجزاء دَ آسمان دَ یو بل سره پیوست او هموار دی لیکن دا صفت دَ دے تر ورځ دَ فنا پورے دے په دلیل دَ سورة مرسلات ~~۹~~ او تکویر ~~۱۱~~ او انفطار ~~۱~~ او انشقاق ~~۱~~ سره.

~~۷~~ په دے ایت کښ دلیل عقلی سفلی دے او مشتمل دے په درے خیزونو باندے ~~۱~~ اول مد الارض لکه سورة رعد ~~۳~~ او سورة حجر ~~۱۹~~.

سوال:- دَ قیامت دَ قائمیدلو په وخت کښ هم راغلے دی وَاِذَا الْاَرْضُ مُدَّتْ (انشقاق ~~۳~~) نو آیا اوس ممدود نه ده ؟

جواب:- "مراد دَ مدّ الارض نه اوس دا دے چه مفروشه ئې کړځولے ده دا سے چه دَ انسانانو ژوند پکښ تیریدیشی اګرچه غرونه، کندے ډیرے ئې پکښ هم دَ انسانانو دَ فائدو دَ پاره شته او دَ ورځ دَ قیامت دَ مدّ نه مراد دا دے چه دا سے به ئې را کاږی چه غرونه او کندے به دَ دے نه لرے شی لکه سورة طٰه ~~۱۰~~ کښ شته دے". دویم ~~۲~~ رواسيَ (غرونه) په زمکه کښ اودرول لکه سورة رعد ~~۳~~ او سورة حجر ~~۱۹~~ او سورة نحل ~~۱۵~~ او سورة انبیاء ~~۳۱~~ او سورة نمل ~~۶۱~~ او سورة لقمان ~~۱۰~~ او سورة حٰمٓ سجده ~~۱۰~~ او سورة مرسلات ~~۲۷~~ کښ او سورة نازعات ~~۳۲~~ کښ ذکر دی. دریم ~~۳~~ انبات دَ بوټو په زمکه کښ. زَوْجٍ اقسام دَ بوټو مراد دی چه دَ یو بل سره په بعض صفتونو کښ مشابهت او موافقت لری (پاتے په بل مخ)

عَبْدٍ مُّنِيْبٍ ﴿۸﴾ وَنَزَّلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءً مُّبٰرَكًا

بنده دَ حق طلبګار - او راورولے دی مونږ دَ طرف دَ اسمان نه او به برکت واله

فَاَنْۢبَتْنَا بِهٖ جَنّٰتٍ وَّحَبَّ الْحَصِيْدِ ﴿۹﴾ وَالنَّخْلَ

نو زرغون کړیدی مونږ په سبب دَ هغې باغونه او دانے (چه بوټی) یُې لو کیدیشی. او اونے دَ کجورو

اګرچه په نورو صفتونو کښې جُدا وی. بَهِيْجٍ کښې اشاره ده چه دغه بوټی لکه چه دَ خوراک دَپاره دی نو دا رنګ دَ سیل کولو او دَ رونق دَپاره هم دی.

ف۸ په دے ایت کښې دَ مخکښې دواړه دلیلونو فائده ذکر کوی اوله فائده تَبْصِرَةً او دویمه ذِكْرٰى او دَ دے دواړو دَ منصوب کیدلو وجه دا ده چه دا مفعول لهٗ دے دَ مخکښې دَپاره یا مفعول بهٖ دے دَ فعل محذوف دَپاره یعنی جعلناها تبصرةً وذکرٰی یا مفعول مطلق یاحال دے بیا دا دواړه فائدے دَ اسمانونو او زمکے دواړو سره تعلق لری یعنی دواړه فائدے په اسمانونو کښې هم دی او په زمکه کښې هم دی یا په طریقه دَ لف نشر مرتب سره دی یعنی اسمانونه تبصرةً او زمکه ذکرٰی ده. فرق په مینځ دَ دواړو کښې دا دے چه تبصرة هغه عبرت دے چه په نظر کولو سره حاصلیږی او ذِکرٰی هغه نصیحت دے چه دَ عقل او دَ زړه په ذریعه حاصلیږی یا تبصرةً دلیلونو دَ توحید او ذِکرٰی دلیلونو دَ بعث بعد الموت ته اشاره ده. په عَبْدٍ کښې اشاره ده چه دا فائده په صفت دَ عبدیت سره حاصلیږی نه په تکبر سره او په مُنِيْبٍ کښې اشاره ده چه دا فائده په عناد او ضد کولو سره نه حاصلیږی بلکه هغه څوک چه دَ شهواتو نفسانیه نه اوګرځی حق طرف ته نو فائده اغستلے شی.

ف۹ دا بل دلیل دے دلیل عقلی وسطی او دا هم مشتمل دے په درے څیزونو باندے اول اِنْزَالُ الْمَآءِ یعنی بارانونه ورول دویم باغات پیدا کول دریم دانے او غلے زرغونول.

نَزَّلْنَا په دے لفظ کښې اشاره ده چه بارانونه وخت په وخت ورولو کښې ډیرے فائدے دی باب تفعیل صیغه په دے باندے دلالت کوی مُبٰرَكًا هغه باران چه په هغے سره زمکه تازه شی او فِضا صفا شی او مرضونه هم کم شی دَ دے قسم برکات په بارانونو کښې الله تعالیٰ پیدا کړے دی. جَنّٰتٍ باغونه دَ اونو او دنګو بوټو مراد دی. مخکښې ایت کښې هم انبات ذکر کړے وؤ او په دے ایت کښې دوباره ذکر کړو دَ دے فرق په ډیرو وجو سره دے اوله وجه، دا چه هغه انبات دَ باران نه وړاندے دَ زمکے په نموالی سره یا په اوبو دَ نهرونو او کویانو او چینو وغیره سره دے او په دے ایت کښې انبات په باران

بَاسِقٰتٍ لَّهَا طَلْعٌ نَّضِيْدٌ ﴿١٠﴾ رِّزْقًا لِّلْعِبَادِ ۙ وَاَحْيَيْنَا

دنګې چه دَ هغې غونچکو ته دی لاندې باندې. دَ پاره دَ روزئ دَ بندګانو او تازه کړې ده مونږ

بِهٖ بَلْدَةً مَّيْتًا ۭ كَذٰلِكَ الْخُرُوْجُ ﴿١١﴾ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ

په دې سره زمکه اوچه دغسې راوتل دی (دَ قبرونو نه) . دَ دروغو نسبت کړې وُو دَ دوئ مخکښې

سره دے چه باران کیدلو سره متصل بوټی اوزرغون شی لکه حرف دَ فَا په فَاَنۡبَتۡنَا کښې په دے باندے دلیل دے. دویمه وجه دا ده چه په هغه ایت کښې مقصد صفت دَ زوجیت وُو او په دے ایت کښې ګُور والے او غټ والے دَ اونو مراد دے. دریمه وجه دا ده چه په هغه ایت کښې ضمیر دَ فِیۡهَا په یو احتمال سره زَوَاسِیَ ته راجع کیدے شی یعنی بوټی دَ غرونو صرف مراد وو او په دے ایت کښې عام مراد دی. وَحَبَّ الۡحَصِیۡدِ په نیز دَ بصریانو دا په اصل کښې حب النبت الحصید دے یعنی دانے دَ هغه بوټو چه هغه بوټی لو کیدے شی او په نیز دَ کوفیانو دا اضافت دَ موصوف دے صفت ته، او مراد دے ته غنم وریشے رُوژے وغیره دی چه بوټی پس دَ اوچیدلو نه لو کړے شی او بیا دَ غوبل یا په نورو الاتو سره دَ هغے نه دانے را اویستلے شی.

سـ۱ دا بل دلیل عقلی وسطی دے وَالنَّخۡلَ عطف دے په جَنّٰتٍ باندے هر کله چه دَ کجورے اوصاف او فائدے دَ نورو اونو نه ډیرے دی دَ دے وجے نه دا ئے جُدا ذکر کړو او دا دلیل هم په درے خیزونو باندے مشتمل دے یو نخل. دویم بَاسِقٰتٍ، بسوق دنګ والی ته ویلے کیږی او برابر ته هم ویلے کیږی او دریم لَّهَا طَلۡعٌ نَّضِیۡدٌ میوے دَ کجورے چه اول په یو بنده کسوړه کښې ښکاره شی او بیا پرانستے شی نو هغے ته طلع ویلے کیږی او نضید ورته مخکښې دَ ښکاره کیدلو ته ویلے کیږی.

سـ۱۱ دا مخکښې دلیلونو تتمه ده په درے خیزونو باندے اول رِزۡقًا لِّلۡعِبَادِ دا مفعول مطلق دَ فعل محذوف دَ پاره دے یا تمییز یا مفعول له دے یا مفعول بِهٖ په معنی دَ مرزوقا سره دے.

سوال:- دَ خلق دَ اسمانونو او زمکے نه روستو تبصرةً وذکری ذکر کړے وُو او دَ بارانونو او دَ بوټو او میوو دَ پیدائش نه روستو ئے رزقًا ذکر کړو دَ دے څه حکمت دے؟

جواب:- دَ قیامت په اثبات کښې دوه مقصدونه دی اول قدرت دَ الله تعالیٰ په دوباره ژوندی کولو باندے او دویم مقصد باقی ساتل روستو دَ اعادے نه. تو اول مقصد پاتے په بل مخ)

قَوْمُ نُوْحٍ وَّاَصْحٰبُ الرَّسِّ وَثَمُوْدُ ﴿۱۲﴾ وَعَادٌ وَّ

قوم دَ نوح علیه السّلام او کوهی والو او ثمودیانو او عادیانو او

اشاره وه چه کوم ذات په پیدا کولو دَ اسمانونو او زمکو باندے قادر دے نو هغه په دوباره ژوندی کولو باندے ضرور قادر دے او دے عبرت ته تبصرةً او ذکریٰ ویلے کیږی او بیائے اشاره اوکړه چه کوم ذات په میوؤ او غلو سره تاسو ژوندی ساتی نو دغه ذات به په اٰخرت کښ خوامخواه تاسو ژوندی ساتلے شی او بقا او ژوند خو په رزق سره دے بیا دَ اول سره ئے عبد منیب قید لګولے وؤ او روستو سره ئے صرف عباد ویلے دے دا ځکه چه تبصرةً او ذکر حاصلو دَپاره انابت ضروری دے او رزق خو ټولو بندګانو له ورکوی۔ دویم[۲] خیز وَاَحْیَیْنَا بِهٖ بَلْدَةً مَّیْتًا دَ باران دَ فائدونه دا فائده ئے په اٰخر کښ خاص ذکر کړه ځکه مقصد خو اثبات دَ بعث بعد الموت دے او هغه په دے فائده ذکر کولو سره ښهٔ معلومیږی۔ دریم[۳] خیز کَذٰلِكَ الْخُرُوْجُ دا دعویٰ دَ سورت ده یعنی لکه چه دَ زمکے نه باغات دانے بوټی روستو دَ وچ والی دَ هغے نه الله تعالیٰ راویستل نو دارنګ به تاسو په مختلف شکلونو صورتونو صفتونو سره دَ قبرونو نه راوباسی په ورځ دَ قیامت نو دا اثبات دَ قیامت دے په قیاس کولو سره په بوټو راوتلو سره دَ زمکے نه پس دَ وچ والی دَ هغے نه۔ او حدیث کښ وارد دی چه نبی صلی الله علیه وسلّم به اکثر په ورځ دَ اختر سورة قٓ لوستلو نو په دے کښ لطیفه اشاره ده دَ خبرے ته چه دَ اختر په ورځ مسلمانان دَ خپلو کورونو نه په مختلف هیئتونو کښ را اوځی نو دارنګ به په ورځ دَ قیامت ټول خلق دَ خپلو عملونو په موافق په مختلف حالتونو کښ دَ قبرونو نه را اوځی۔

۱۲ ۱۳ ۱۴ دا تخویف دنیوی دے په ذکر دَ اته قومونو مکذبینو سره او دَ هغوی دَ عذاب اجمالی په ذکر سره او ورسره تسلّی ده رسول الله صلّی الله علیه وسلّم ته یعنی مخکنو ډیرو او طاقت والا قومونو دَ بعث بعد الموت او دَ رسولانو تکذیب کړے وؤ نو په هغوی باندے عذابونه راغلل نو دارنګ دا موجوده خلق هم دی۔

په اول ایت کښ درے قومونه ذکر کړل قوم نوح۔ اصحاب الرس او ثمود او په دویم ایت کښ هم درے دی عاد۔ فرعون او اخوان لوط۔ دریم ایت کښ دوه دی اصحاب الایکة او قوم تُبَّع۔ (حکمتونه) اول دا چه په سورة حج ۴۲ ۴۳ ۴۴ کښ اوؤ قومونه دَ مکذبینو نه ذکر کړیدی خو په اصل ترتیب زمانی دَ هغوی سره ځکه په دغه ایاتونو کښ صرف تسلّی زمونږ نبی صلی الله علیه وسلّم ته مقصود وه چه دَ نورو انبیاؤ تکذیب کړے

فِرْعَوْنُ وَإِخْوَانُ لُوطٍ ﴿۱۳﴾ وَأَصْحٰبُ الْأَيْكَةِ

فرعون او قوم دَ لوط علیه السلام او بېړ والو

وَقَوْمُ تُبَّعٍ كُلٌّ كَذَّبَ الرُّسُلَ فَحَقَّ وَعِيدِ ﴿۱۴﴾

او قوم دَ تُبّع ، دے ټولو رسولانو ته دروغژن ویلی وُو نو راغے په دوی باندے زما عذاب۔

شوی دے او په سورة صٓ ۱۲ تا ۱۳ کښ ترتیب ئے بدل کړے دے ځکه چه په دغه سورت
کښ ذکر دَ هغه مکذبینو مقصد دے چه تکذیب ئے دَ وجے دَ عزت (غرور) او شقاق دَ
وجے نه کړے دے نو په غرور او شقاق کښ چه کوم یو قوم زیات دے هغه ئے مخکښ ذکر
کړے دے په ترتیب سره او په دے سورة قٓ کښ تکذیب دَ عقلی دلیلونو (چه مخکښ
ذکر شول) مقصود دے نو په کوم قوم کښ چه دغه جهل زیات دے نو هغه ئے مخکښ ذکر
کړے دے په ترتیب سره۔ دویم اصحاب الرس صرف په سورة فرقان او په دے سورت کښ
ذکر کړے دی په نورو سورتونو کښ په سلسله دَ اقوام مکذبینو کښ هغوی نه دی ذکر کړی ځکه چه
هغوی ډیر مشهور نه وُو۔ دریم اصحاب الایکه قوم دَ شعیب علیه السلام دے پشان دَ اصحاب
مدین یا دواړه یو قوم دے دَ دے وجے نه سورة صٓ او قٓ کښ ئے دَ دوی په ذکر باندے اکتفاء
اوکړه۔ څلورم دلته ئے اخوانِ لوط ذکر کړو دَ دوی اخوت دَ لوط علیه السلام سره صرف دَ مصاهرت
(سخرګنئ) په وجه سره وُو او دے اخوت ته پوره اعتبار نیشته په نیز دَ عام خلقو باندے
دَ دے وجے نه په نورو سورتونو کښ صرف قوم لوط ویلی وُو او په دے سورت کښ اشاره
وه دَ دوی نهایت جهل او سرکشئ ته چه دوی دَ خپلو لئے (یعنی دَ خپل زوم) لحاظ هم اونکړو
دَ هغه تکذیب ئے اوکړو۔ پنځم قوم تبع ئے په هغه سورتونو کښ نه دے ذکر کړے په کومو
کښ چه دَ اقوامو مکذبینو ذکر کول مقصود وو سیوا دَ سورة دُخان ۳۷ او دَ دے سورت نه، ځکه
چه دَ دهٔ په قوم کښ تکذیب زیات مشهور نه دے او دا رنګ عذاب دَ هغوی معروف نه دے.
شپږم دلته ئے فرعون ذکر کړو قوم فرعون ئے نه دے ذکر کړے دیکښ اشاره ده چه فرعون
دَ دوی امام وُو او دوی دَ هغه په تقلید کښ تکذیب کړے دے نو دَ دوی دَ مشر ذکر ئے اوکړو
ګویا چه دَ دوی وجود کالعدم دے دَ ډیر جهل دَ وجے نه۔ اوم دلته ئے تکذیب دوه کرته ذکر
کړے دے دا اشاره ده چه اول تکذیب دَ عقلی دلیلونو دے او دویم تکذیب دَ رسولانو
(یعنی دَ وحی) دے۔ اتم سورت صٓ کښ "فَحَقَّ عِقَابِ" ذکر کړے دے او دلته ئے "فحق
وعید" ذکر کړے دے یو وجه دا ده چه دیته رعایت دَ فواصلو ر پاتے په بل مخ)

أَفَعَيِينَا بِالْخَلْقِ الْأَوَّلِ ۚ بَلْ هُمْ فِي لَبْسٍ مِّنْ

ایا مونږ ستړي شوي يو په اول پيدائش باندې بلکه دوی په شک کښې دي د

خَلْقٍ جَدِيدٍ ﴿١٥﴾ ۶ وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ وَنَعْلَمُ

پيدائش نوی نه . او يقيناً پيدا کړی دی مونږ انسان او پوهيږو

ديلې کيږي دَپاره دَ فصاحت دَ کلام يعنې سورة صٓ کښې فاصلې دَ آياتونو په دا سې لفظ سره دی چه دَ لام کلمې نه مخکښې الف وی لکه شقاق، عجاب، عقاب وغيره او په دې سورت کښې فاصلې په دا سې لفظ سره دی چه دَ لام کلمې نه مخکښې يٓ وی لکه مجيد، حفيظ، بهيج، وعيد او دا په طريقه اکثری سره دی په دواړه سورتونو کښې. او بله وجه دا ده چه سورة صٓ کښې مرض دَ کافرانو عزت او شقاق ذکر کړې دې او دا سې وصف والا خلق دَ عاقبت دَ عمل خپل نه غافل وی نو هغوی ته ئې عقاب ذکر کړو چه دَ عاقبت نه ماخوذ دې او په دې سورت کښې انکار دَ وعد دَ بعث بعد الموت نه ذکر کړې او دَ هغې سره مناسب لفظ دَ وعيد دې. (والله تعالىٰ اعلم بحكم كلامه).

۱۵ دا زجر دې په انکار دَ بعث بعد الموت سره دَ اشارې نه دليل ته چه قياس دې په خَلْقِ اول باندې او په دې زجر کښې اشاره ده چه دَ تير شوې قومونو دَ تکذيب دَ قيامت دَپاره هم هيڅ دليل نه وو دَ دې وجې نه دا زجر ئې دَ هغوی په تکذيب پسې ذکر کړو. أَفَعَيِينَا همزه دَپاره دَ استفهام انکاری دې او معطوف عليه دَ حرف فَا حذف دې تقدير دَ عبارت دا سې دې أكذبوا فعيينا يعنې كَذَّبُوا لِأَجْلِ عَجْزِنَا وَتَعَبِنَا (يعنې دوی تکذيب کړيدې دَ دې وجې مونږ ستړي شوې يو دَ اول پيدائش نه) بِالْخَلْقِ الْأَوَّلِ مراد دَ خَلْقِ اول نه اول پيدائش دَ انسانانو دې لکه سورة يٰس ۷۹ کښې اشاره ده يا مراد دَ خَلْقِ اول نه پيدائش دَ آسمانونو، زمکو، اونو، بوټو وغيره دې چه په مخکښې آياتونو کښې ذکر شول او هغې ته اشاره ده په سورة يٰس ۸۱ کښې. لَبْسٍ لَبس کړوو والے دې په خبرو کښې چه سبب دَ هغې سخت شک او شبهه دَ دوی ده نو دلته ذکر دَ مسبَّب دې او مراد ترينه سبب دې.

سوال:۔ دَ دوی تکذيب ئې مخکښې ۵ کښې ذکر کړې دې او دلته ئې شک ذکر کړو او شک خو ادنیٰ دې دَ تکذيب نه؟

جواب:۔ په دې کښې اشاره ده چه دَ دوی دَ انکار او تکذيب دَپاره هيڅ دليل نيشته په اصل کښې دَ دوی شک دې ليکن دَ ضد دَ وجې نه شک ئې انکار ته رسولې دې.

مَا تُوَسْوِسُ بِهٖ نَفْسُهٗ ۚ وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ

په هغه چه وسوسے اچوی دهٔ ته نفس دَ دهٔ او موږ ډیر نزدے یو دهٔ ته

مِنْ حَبْلِ الْوَرِيْدِ ﴿۱۶﴾ اِذْ يَتَلَقَّى الْمُتَلَقِّيٰنِ عَنِ

دَ رګ دَ مرئ نه (چه زړه ته رسیږی). کوم وخت چه را اخلی دوه ملائک اغستونکی دَ

س۱۶ دَ دے ایت نه دویم باب تر اخرہ دَ سورت پورے دے. په دیکښ دلیل عقلی مختصر دے بیا ذکر دَ حفاظت الاعمال دے په کتابت دَ کرام کاتبینو سره دَ اثبات دَ بعث او حساب دَ پاره بیا ذکر دَ حالت دَ نزع دے دَ تخویف دَ پاره بیا تخویف اخروی تفصیلی دے په لس طریقو سره او شپږ صفات دَ اهلِ جهنم دی او ذکر دَ قرینانو او ذکر دَ حال دَ جهنم تر س۳۰ پورے دے بیا بشارت دے په پنځو طریقو په ذکر دَ پنځه صفتونو دَ اهل جنت تر س۳۵ پورے بیا تخویف دنیوی او ترغیب قرآن ته او دلیل عقلی دَ بعث بعد الموت په س۳۸ کښ بیا پنځه اوامر دَ پاره دَ تشجیع دَ دعوت او ذکر دَ اته احوالو دَ قیامت دے تر اخرہ پورے. په دے (س۱۶) کښ دلیل عقلی دے په ذکر دَ خلق اول دَ انسان کوم چه په مخکښ ایت کښ ذکر کړے دے. او پسے کښ الله تعالیٰ خپل درے صفتونه ذکر کړے دی. اوّل پیدا کول دَ الله تعالیٰ انسان لره او په دے کښ۳ هم اشاره ده زجر ته چه نفس او شیطان دے انسان ته وسوسے اچوی دَ هغے دَ وجے نه دے په ضد او عناد کښ اخته شی او تکذیب او انکار کوی. وسوسه دَ نفس دَ طرف نه دَ شر خبره وی چه بے اختیاره وی او صحیح حدیث کښ وارد دی چه دے امت ته الله تعالیٰ دَ وسوسو معافی کړے ده تر هغو پورے چه په ژبه ئے نه وی ویلے یا عمل ئے ورباندے نه وی کړے. او وسوسے اچوونکی درے څیزونه دی یو نفس دَ انسان دے لکه سورة یوسف س۵۳ کښ دی. دویم شیطان جنی. دریم شیطان انسی دے او دا دواړه سورة الناس کښ ذکر دی. او وسوسه ډیر پټ څیز دے او الله تعالیٰ په هغے باندے عالم دے بل چا لره دَ هغے علم نیشته. دریم صفت اقربیت دَ الله تعالیٰ ونحن اقرب الیه قربت دَ الله تعالیٰ ښکاره معنیٰ ده لیکن دَ هغے په کیفیت باندے موږ نه پوهیږو دَ هغے تشبیه دَ مخلوق سره نیشته او نه ئے تاویل کوو او دا قربت دَ فوقیت دَ عرش سره منافات نه لری ځکه چه الله تعالیٰ په هر څه باندے قادر دے. من حبل الورید دا اضافت دَ موصوف دے صفت ته یعنی رګ چه ورید دے یا اضافت بیانیه دے او وریدان دوه رګونه دی دَ ښے دَ څنګ طرف او ګس طرف نه متصل دی دَ سر نه تر وتین رګ پورے (پاتے په بل مخ)

۳ زور ته هم دا ده چه دا انسان ولے تکذیب او انکار کوی دَ بعث نه. دوئم علم دَ وسوسو نفسانیو دے انسان ته او بیا یکښ هم ——

الْيَمِيْنِ وَعَنِ الشِّمَالِ قَعِيْدٌ ﴿۱۷﴾ مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ

ښي طرف او د ګس طرف ته (ربوبو) ناست دے. نه اوباسي انسان د خُلې نه څه خبره

او وتين رګ د زړه دے چه د هغې په قطع کيدلو سره انسان مړ کيږي. تو ورين مفرد نه مراد جنس دے تو دواړو ته شامل دے يا هر يو ورين ترينه مراد دے ځکه مفرد ئې ذکر کړے دے. بيا د دے د تخصيص وجه داده چه امام راغب په مفردات کښ ليکلی دي چه دا رګونه د روح د چليدلو رګونه دي نو مراد د دے دا دے چه الله تعالىٰ د روح نه هم زيات نزدے دے يا داوجه ده چه دا رګونه زړه سره تړلے شوے دي نو مراد دا چه د الله تعالىٰ قربت د انسان د زړه سره (چه محل د وسوسے دے) تعلق لري او اَقْرَبُ اسم تفضيل ئې د دے وجے نه اويل چه که روح د انسان اوکه زړه دے خود انسان اجزاء او د بدن ټکړے په مينځ کښ حاجب (مانع) ګرځي او د الله تعالىٰ قربت او علم ته هيڅ خيز مانع نيشته.

۱۷ په دے کښ ذکر کوي حال د کراماً کاتبين د پاره د اثبات د بعث بعد الموت يعني د دے ملائکو مقرر کيدل او عملونه ليکل دليل دے چه الله تعالىٰ به ضرور ورځ د جزاء او د حساب قائمه وي. اِذْ لفظ په معنیٰ د اذکر دے نو دا مستقل کلام دے يا متعلق دے په اَقْرَبُ پورے حاصل دا چه ملائک چه ناسو بانندے ناست دي د ليکلو د عملونو د پاره د هغوی نه الله تعالىٰ زيات نزدے دے نو هغه د ملائکو ليکلو ته حاجت نه لري ليکن دا خو په انسانانو بانندے د حجت قائم کولو د پاره دي. يَتَلَقَّى الْمُتَلَقِّيَانِ. کله چه يو خيز يا کلمه د چا د طرف نه راځي او بل څوک ئې واخلي نو دے ته تلقي ويلے کيږي نو دا سے دوه ملائک د انسان کلمات، اقوال او اعمال چه د هغه نه صادر يږي نو دوی ئې ځان سره محفوظ ساتي عَنِ الْيَمِيْنِ وَعَنِ الشِّمَالِ قَعِيْدٌ قعيد وزن د فعيل په مفرد او متعدد بانندے يو شان ويلے کيږي يا په کلام کښ حذف دے يعني عن اليمين قعيد وعن الشمال قعيد. او روايانو سره ثابت شوي دي چه دا دوه ملائک د ورځے او دوه د شپے وي او ښي طرف بانندے ليکونکے د نيکے او په ګس طرف بانندے ليکونکے د بد اعمالو وي او ليکونکے د حسناتو امين دے په ليکونکي د سيئاتو بانندے او دوی ته کراماً کاتبين ملائک ويلے کيږي. قَعِيْدٌ نه مراد د دے لازم او ملګرے کيدل دي که ولاړ وي او که ناست وي صرف کيناستل ترينه مراد نه دي.

إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ ﴿١٨﴾ وَجَاءَتْ سَكْرَةُ الْمَوْتِ

مګر دَ هغه په خوا کښې شته څوکے کوونکے تیار - او راغلې سختۍ دَ مرګ

بِالْحَقِّ ذَٰلِكَ مَا كُنتَ مِنْهُ تَحِيدُ ﴿١٩﴾ وَنُفِخَ فِي الصُّورِ

په رشتیا سره (نو اوبه ویلے شی) دا هغه څیز دے چه ته دَ هغے نه تختیدلے. او پوکے به او کړے شی شپیلئ کښې

سنا۱۸ مخکښې تلقی او دوه طرفونه ئے ذکر کړل اوس دَ هغوی تیاری ذکر کوی یعنی هیڅ وخت غافل نه وی. یَلْفِظُ لفظ په لغت کښې رمی (ویشتل) ته ویلے کیږی یعنی وینا چه دَ خولے نه او باسی په خپل اختیار سره او په دے کښې اشاره ده چه کوم کلمات دَ خولے نه بے اختیاره او ځی نو دَ هغے لیکل نه کوی هغه معاف دی مِنْ قَوْلٍ صحیح دا ده چه اقوال او اعمال دواړه لیکی لیکن قول ئے خاص ذکر کړو ځکه چه په دے سورت کښې دَ منکرینو اقوال په باره دَ قیامت کښې ذکر شویدی په سٓا۲ سٓا۳ کښې نو په دے کښې زجر دے چه دا اقوال ستاسو لیکلے کیدیشی دَ پاره دَ حساب کولو. رَقِيبٌ عَتِيدٌ دا دواړه هم دَ مفرد او متعدد دَ پاره یو شان استعمالیږی پشان دَ قعید. رقیب ساتونکی، څوکئ کونکی ته ویلے کیږی او عَتِيدٌ تیار او حاضر ته ویلے کیږی یعنی په دغه ملائکو کښې دا صفتونه دی.

سنا۱۹ په دے ایت کښې تخویف دے په ذکر دَ حالت دَ نزعے سره. یعنی هر کله چه عملونه او لیکلے شی او عمر په ختمیدلو شی نو سختۍ دَ مرګ په شورو شی نو دَ هغے نه غفلت نه دے پکار.

سَكْرَةُ الْمَوْتِ یعنی دَ مرګ په وخت دا سے سختی او تکلیف راځی چه انسان پشان دَ حالت دَ سکر (دَ نشے) وی خبرے ئے دَ اعتدال او اختیار نه بهر شی او صحیح حدیث کښې کښې وارد دی چه نبی صلّی الله علیه وسلّم هم په وخت دَ نزع کښې فرمائیلے وو "لا اله الا الله ان للموت سکرات". او "اَللّٰهُمَّ اَعِنِّيْ عَلٰى سَكَرَاتِ الْمَوْتِ".

بِالْحَقِّ دا متعلق دے دَ جاءت سره او حق په معنیٰ دَ یقین سره دے یا متعلق دے په سکرت پورے او مراد دَ حق نه امر واقعی دے.

ذٰلِكَ مَا كُنتَ مِنْهُ تَحِيدُ دا خطاب دے دَ ملائکو دَ طرف نه هر انسان ته په وخت دَ نزع کښې. تَحِيدُ دَ حیدة یا حیدودة نه ماخوذ دے او ړیدل، ګګیدل په قصد او په نفرت کولو سره.

ذٰلِكَ يَوْمُ الْوَعِيْدِ ﴿۲۰﴾ وَجَآءَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّعَهَا

دا ورځ د عذاب ده. او راشي هر نفس د هغه سره به وي

سَآئِقٌ وَّشَهِيْدٌ ﴿۲۱﴾ لَقَدْ كُنْتَ فِيْ غَفْلَةٍ مِّنْ

چلوونکے او گواهي کوونکے. يقيناً ته وې په غفلت کښ د دے

هٰذَا فَكَشَفْنَا عَنْكَ غِطَآءَكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ

نه نو لرې کړه مونږ ستا نه پرده ستا نو نظر ستا نن

۲۰ د دے ايت نه تر ۳۱ پورے تخويف اخروي تفصيلي دے چه په هغې کښ شپاړس احوال ذکر کوي په دے ايت کښ دوه حالات ذکر دي.

اول نُفِخَ فِي الصُّوْرِ. مراد د دے نه دويمه شپيلۍ ده چه دپاره د بعث بعد الموت ده.
دويم يَوْمُ الْوَعِيْدِ يعني الله تعالی وعده د عذاب کړيده د منکرينو سره په دے ورځ کښ او دا يو نوم دے د نومونو د ورځ د قيامت نه.

۲۱ په دے ايت کښ دوه حالتونه ذکر کوي اول د هر نفس راتلل ميدان د حشر ته دويم هر يو نفس سره به سايق او شهيد وي. مراد د دواړو نه ملائک دي چه يو به ئې ميدان حشر او بيا مقام د جنت يا جهنم ته راولي. د جنتيانو سره به هم سايق وي چه دلالت کوي په هغې باندے سورة زمر ۷۳ او د جهنميانو سره به هم وي لکه سورة زمر ۷۱ او طريقه د بوتللو د جهنميانو په سورة رحمان ۴۱ کښ ده.
او دويم ملک به ورباندے شهادت کوي.
شهادت به د جنتيانو دپاره کوي د هغوی په نيکو عملونو او شهادت به په جهنميانو باندے کوي د هغوی په ناکاره عملونو باندے.
او سَآئِقٌ وَّشَهِيْدٌ اګرچه مفرد دي ليکن مراد د دے نه جنس دے نو ډيرو ته هم شامليږي. او بل قول دا دے چه مراد د سائق نه ملائک دي او مراد د شهيد نه اعضاء د دوی دي يا عملونه د دوی دي يا هغه عملنامه چه ليکلے شوے ده.
او كُلُّ نَفْسٍ ظاهر دلالت کوي چه دا ايت عام دے ټولو انسانانو ته. او دويم قول دا دے چه دا خاص دے په مشرکينو پورے.

حَدِيْدٌ ﴿٢٢﴾ وَقَالَ قَرِيْنُهٗ هٰذَا مَا لَدَيَّ عَتِيْدٌ ﴿٢٣﴾ ط

تیز دے ۔ او او به وائي ملګرے دَدۀ دا هغه څيز دے چه ما سره دے تيار ۔

ف ۲۲ په دے کښې هم دوه حالتونه ذکر کوی او کشف دَ غطاء (پرده لرے کول) دے او دویم تیزیدل دَ نظر دی۔ مِنْ هٰذَا اشاره ده مخکښې مجموعه حال ته یعنی پوکل دَ شپیلئ او سایق او شهید سره میدان حشر ته راتلل۔ او مراد دَ غفلت نه غفلت دے په سبب دَ محبت دَ دنیا دَ شهواتو سره په ارتکاب دَ ګناهونو سره نو ګنهګارو مؤمنانو ته هم شامل دے یا مراد دَ دے نه انکار کول دی نو خاص دے په کافرانو پورے۔ غطاءك مراد دَ دے نه هغه حالات دی چه منع کوونکی وو دَ ذکر دَ اٰخرت نه چه هغه جهل او محبت دَ دُنیا او شهوات نفسانیه دی او سبب دَ هغې غفلت وو لکه سورة کهف ف ۱۰۱ کښې ذکر دی۔ فبصرك اليوم حديد۔ بصر دَ قلب مراد دے ځکه چه دَ غفلت محل زړه دے نو دَ غفلت په ازالے سره بصیرت دَ زړه راغې یا مراد دَ دے نه بصر دَ سترګو دے په مقابله دَ غطاء کښې یعنی په ورځ دَ قیامت به جزا او سزا دَ عملونو او میزان وغیره ته دا سے نظر کوی چه هیڅ حاجب او مانع به مخے ته نه وی او دیته اشاره ده په سورة مریم ف ۳۸ کښې۔

سوال :- په سورة طٰه ف ۱۲۴ او سورة اسراء ف ۷۲ کښې معلومیږی چه دَ قیامت په ورځ به دوی ړانده وی نو دَ دے ایت سره ئے تعارض معلومیږی ؟

جواب :- دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دی چه دا په مختلفو اوقاتو باندے حمل دی بعض وخت به ړانده وی او بعض وخت به ئے نظر تیز وی. دویم جواب دا دے چه په هغه ایاتونو کښې مراد دَ عمی نه عدم دلیل او حجت دے یعنی بے دلیله به وی۔

ف ۲۳ په دے ایت کښې یو حال ذکر کوی چه هغه شهادت دَ قرین دے او دَ اکثر مفسرینو په نیز مراد دَ دینه مقرر ملائک (کراماً کاتبین) دی چه هغوی به دَ هرچا عملنامے تیارے حاضرے کړی نو هٰذَا کښې اشاره ده عملنامه لیکلے شوے ته لَدَيَّ کښې اشاره ده چه دا زما سره امانت وو چه بل چا پکښې هیڅ خیانت نه دے کړے۔ او دَ بعض مفسرینو په قول کښې مراد دَ قرین نه شیطان دے لکه سورة زخرف ف ۳۶ او سورة حٰمٓ سجده ف ۲۵ کښې او هٰذَا کښې اشاره ده دغه شخص (ګمراه کړے شوی ته) او عَتِيْدٌ نه مراد دا دے چه شیطان په سبب دَ اغواء دَ دۀ تیار کړے دے دۀ لره دَ جهنم دَ پاره۔

أَلْقِيَا فِي جَهَنَّمَ كُلَّ كَفَّارٍ عَنِيدٍ ﴿۲۴﴾ مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ

(او به ویلے شی) اوغورځوئ په جهنم کښ هر کفرکوونکے عنادکوونکے منع کوونکے دَ خیر

مُعْتَدٍ مُّرِيبٍ ﴿۲۵﴾ الَّذِي جَعَلَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ

دَ حد نه تیریدونکے شک والا هغه چه ګرځوی دَ الله تعالیٰ سره بل حقدار دَ بندګئ

فَأَلْقِيَاهُ فِي الْعَذَابِ الشَّدِيدِ ﴿۲۶﴾ قَالَ قَرِينُهُ رَبَّنَا

نو واچوئ دغه په عذاب سخت کښ. او به وائی ملګرے دَدهٔ اے ربه زمونږ

س۲۴ س۲۵ س۲۶ په دے ایاتونو کښ دوه حالتونه ذکر کړیدی ع۱ القاء په جهنم کښ ع۲ القاء په سخت عذاب کښ او دَ جهنمی شپږ صفاتِ قبیحه ئے ذکر کړے دی. اَلْقِيَا صیغه دَ تثنیه ئے ذکر کړیده په دے کښ څلور اقوال دی اول داچه دا دَ عربو محاوره ده چه یو ملګری ته په تثنیه سره خطاب کوی. دویم داچه دا تثنیه دَ تکرار دَ پاره ده لکه په لفظ لبیک کښ یعنی اَلْقِ اَلْقِ. دریم داچه دوه ملائک دی سایق او شهید هغوی ته خطاب دے چه یو به ئے دَ سر نه او بل به ئے دَ خپو نه اونیسی لکه په سورة رحمان س۴۱ کښ دی. څلورم قول دادے چه دا مفرد صیغه ده اَلْقِيَا په اصل کښ القین دے نون دَ تاکید خفیفه بدل شو په الف سره. اول سبب دَ جهنم کفر دے نو هغه ئے مخکښ ذکر کړو په كَفَّارٍ سره صیغه دَ مبالغے ئے ذکر کړیده یعنی دَ توحید، رسول، قرآن، قیامت، عقلی نقلی دلیلونو نه منکر دے.

عَنِيدٍ یعنی دَ کفر سره ئے عناد یو ځائے شوید ے چه سرهٔ دَ پوهے نه دَ حق نه انکار کوی دَ وجے دَ حسد او بُغض نه دَ اهلِ حق سره او دَ تکبر دَ وجے نه نو عناد کول ډیرو ګناهونو له متضمن دے لکه انکار، حسد، تکبر، ازدراء دَ حق او اهل حق (سپک ګڼل) او غیرت په باطل باندے. مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ اشاره ده چه دا شخص ضال او مضل دواړه صفتونه لری الْخَيْرِ توحید، سنت، قرآن. انفاق دَ مال فی سبیل الله تعالیٰ او ټولو حقوقو واجبو ته شامل دے. مُعْتَدٍ کښ اشاره ده چه حقوق العباد هم ضائع کوی په ظلم کولو سره. مُرِيبٍ دا لازمی او متعدی په دواړه معانی سره راځی یخپله شک کوونکے او نورو خلقو له په شک کښ اچوی یعنی په شبهاتو اچولو او طعنونو کولو سره په اهلِ حق باندے.

الَّذِي جَعَلَ دا صفت ئے مستقل ذکر کړو اشاره ده چه دا دَ ټولو قبائحو دَ پاره اصل او منشاء ده. فَأَلْقِيَاهُ په دویم کرت ذکر کولو کښ اشاره ده ترقئ دَ عذاب ته او په حرف دَ فاء سره ئے ذکر کړو اشاره ده چه تیر شوی صفتونه سبب دے دَ پاره دَ عذابِ شدید.

مَآ اَطۡغَیۡتُهٗ وَلٰکِنۡ کَانَ فِیۡ ضَلٰلٍۭ بَعِیۡدٍ ﴿۲۷﴾ قَالَ

ما نه دے گمراه کړے دۀ لره لیکن دے وو په گمراهۍ لرے کښ . او به وائی الله تعالیٰ

لَا تَخۡتَصِمُوۡا لَدَیَّ وَقَدۡ قَدَّمۡتُ اِلَیۡکُمۡ بِالۡوَعِیۡدِ ﴿۲۸﴾

جګړے مه کوئے زما په مخکښ او حال دا چه مخکښ خبر درکړے وو ما تاسو ته دَ عذاب .

مَا یُبَدَّلُ الۡقَوۡلُ لَدَیَّ وَمَآ اَنَا بِظَلَّامٍ لِّلۡعَبِیۡدِ ﴿۲۹﴾ ع

نشی بدلیدے وینا زما په خوا کښ او زۀ نه یم ظلم والا په بندګانو بانده .

ف ۲۷ په دے ایت کښ دوه حالتونه ذکر کوی ع ۱ انکار دَ قرین دَ گمراه کولو نه ع ۲ اوگمراهی دَ دغه انسان . دلته دَ قرین نه مراد شیطان دے که تیر شوی ایت کښ دَ قرین نه مراد هم شیطان وی نو فرق دا دے چه هلته شیطان جِنّی مراد دے او په دے ایت کښ شیطانِ اِنسی مراد دے .

(حکمت) په تیر شوی ایت کښ وَقَالَ قَرِیۡنُهٗ په واو عاطفه سره ذکر کړے وو ځکه چه هغه په "جَاءَتۡ کُلُّ نَفۡسٍ مَّعَهَا سَآئِقٌ وَّشَهِیۡدٌ" بانده عطف وو او په دے ایت کښ عطف نه دے ذکر کړے اشاره ده چه دا کلام دَ پاره دَ جواب سوال دے یعنی گمراه انسان به اوائی چه اے ربه څه خو دے شیطان انسی گمراه کړے ووم لکه سورة صافات ف ۲۸ سبا ف ۳۱ ص ف ۶۰ کښ تیر شویدی نو هغه قرین به دَ خپلے صفائی جواب ورکړی یعنی ما په دے انسان بانده زور نه دے کړے په گمراهۍ کښ بلکه ما صرف دعوت ورکړے وے نو دے پخپل اختیار سره گمراه شوے دے لکه په سورة ابراهیم ف ۲۲ کښ دی .

ف ۲۸ په دے کښ هم یو حال ذکر کوی معلومه شوه چه مخکښ دَ گمراهانو او دَ انسی جنی شیطانانو په مینځ کښ به په یو بل بانده دعوے کول وی نو الله تعالیٰ به هغوی لره منع کړی په دے قول سره چه لَا تَخۡتَصِمُوۡا . لَدَیَّ لفظ دَ لَدَیَّ کښ اشاره ده چه دا مقام دَ جزا دے دلته جګړے کول هیڅ فائده نه ورکوی . وَقَدۡ قَدَّمۡتُ اِلَیۡکُمۡ دا اول علت دے دَ لَا تَخۡتَصِمُوۡا دَ پاره یعنی په واسطه دَ رسولانو او داعیانو دَ حق سره خبر وَ نه دَ عذاب ما درلیږلے وو نو ستاسو هیڅ عذر نه دے پاتے شوے بلکه په تاسو بانده حجت قائم کړے شوے دے .

ف ۲۹ په دے ایت کښ هم دوه حالتونه ذکر کړے دی او دا علتونه ر پاتے په بل مخ)

يَوْمَ نَقُوْلُ لِجَهَنَّمَ هَلِ امْتَلَأْتِ وَتَقُوْلُ

کومه ورځ چه اوبه وايو جهنم ته　ايا ته ډک شوے　او هغه به اوائي

هَلْ مِنْ مَّزِيْدٍ ﴿۳۰﴾ وَاُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِيْنَ

ايا څه زيات شته دے .　او نزدے به کړے شي جنت　متقيانو ته .

هم دَ لَا تختصموا دَپاره دی ع۱ مايبدل القول يعنی ماچه کومه فيصله کړيده لکه په سورة صٓ ۸۵ کښې ده نو هغه په هيڅ طريقے سره نه بدليږي نو ستاسو دَ جګړے هيڅ فائده نيشته. لَدَيَّ متعلق دے دَ يُبَدَّلُ سره يا متعلق دے دَ قَوْلُ سره يعنی هغه قول چه زما دَ طرف نه مقرر دے. وَمَآ اَنَا بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ يعنی ستاسو دَ اختصام هيڅ فائده نيشته ځکه چه زما په دربار کښې ظلم کول نيشته او اختصام خو دَ دے مقصد دَپاره وی چه حاکم په عدل سره فيصله اوکړی او الله تعالیٰ خو هر وخت عدل کوونکے دے او دا سے په سورة آل عمران ۱۸۲ او سورة حج ۱۰ او سورة انفال ۵۱ او سورة فصلت ۴۶ کښې هم تير شويدی.

سوال:۔ لفظ دَ ظلام مبالغه ده يعنی ډير ظلم کوونکے نه دے نو دَ دے نه خو دَ لږ ظلم نفی نه معلوميږی او حال دا چه الله تعالیٰ خو هيڅ ظلم نه کوی لکه سورة آل عمران ۱۰۸؟

جواب:۔ په ډيرو وجوهو سره دے اول دا چه دا صيغه دَ مبالغے نه ده بلکه دا په معنیٰ دَ ذو ظلم سره دے. دويمه دا چه هر صفت چه په جانب دَ الله تعالیٰ کښې وی نو هغه په مبالغے سره وی نو که چرے بالفرض ظلم دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه موجود وے نو په مبالغے سره به وے نو دا په طريقه دَ فرض سره شو. دريمه دا چه عبيد ئے جمع ويلے ده نو مراد دا چه په دے ډيرو بندګانو باندے که چرے ظلم کولے نو ډير ظلمونه به ترينه جوړ شوے وے.

۳۰ په دے ايت کښې هم دَ تخويف اخروی نه دوه حالتونه ذکر کوی ع۱ دَ جهنم ډکيدل ع۲ طلب دَ زياتی. يَوْمَ نَقُوْلُ يوم منصوب، ظرف دے دَپاره دَ مَا يُبَدَّلُ يا دَ ظلام دَپاره يا فعل ئے پټ دے يعنی "انذرهم" او يروه دوی لره. هَلِ امْتَلَأْتِ دا استفهام دَ تقرير او تحقيق دَپاره دے او پکښې خبر ورکول دی جهنميانو ته په وسعت دَ جهنم سره چه دا څوک ګمان اونه کړی چه جهنم کښې دومره ډير خلق به څنګه زائيږی؟ او دا تپوس دَ جهنم، دَ وعدے دَ وجے نه دے چه هغه سورة ص ۸۵ سورة اعراف ۱۸ سورة هود ۱۱۹ او سورة سجده ۱۳ کښې شته دے. هَلْ مِنْ مَّزِيْدٍ بعض مفسرينو ويلے دی

غَيْرَ بَعِيْدٍ ﴿٣١﴾ هٰذَا مَا تُوْعَدُوْنَ لِكُلِّ اَوَّابٍ

نه به وی لرے۔ دا هغه څیزدے چه تاسو سره ئے وعده کیدیشی هر توبه کوونکی ډیاره

چه دا استفهام انکاری دے نو اقرار شو په ډکیدلو باندے چه باقی ځائے نیشته او اکثر مفسرینو ویلے دی چه دا استفهام طلبی دے یعنی طلب دَ زیاتو خلقو کوی نو اشاره ده چه ډک شوے به نه وی نو اعتراض داکیدے شی چه وعده دَ الله تعالیٰ خو پوره نه شوه نو جواب ئے په هغه حدیث صحیح کښ اشاره ده چه جهنم اوائی هل من مزید نو رب العزت به خپل قدم په هغے کښ کیدی نو بعض اجزا به دَ بعضو سره جوخت شی او اوبه وائی بَس بَس ستا په عزت اوکرم باندے قسم دے ر او قدم په معنیٰ ظاهری سره دَ الله تعالیٰ دَ پاره ثابت دے او کیفیت ئے الله تعالیٰ ته معلوم دے تشبیه تمثیل او تاویل کول ئے جائز نه دی او دا مذهب دَ سلف صالحینو دے)۔

۳۱ دَ دے ایت نه تر ۳۵ پورے بشارتِ اخرویه دے په ذکر دَ اوؤ احوالو دَ جنت او پنځه صفاتو دَ اهلِ جنت سره۔ په دے ایت کښ دوه حالات دَ جنت ذکر دی ۱ ازلفت ۲ غیر بعید او یو صفت دَ جنتیانو ذکر دے۔

اُزْلِفَتْ یعنی جنت به په میدان حشر کښ رانزدے کړیشی متقیانو ته دا دَ دوی دَ اکرام او دَ عزت دَ پاره ځکه چه دوی ته دَ مزل کولو تکلیف محسوس نه شی او الله تعالیٰ قادر دے چه جنت دَ یو ځائے نه بل ځائے ته نقل کړی دلته دویم قول قرطبی ذکر کړے چه مراد دا دے چه دَ دنیا په ژوندکښ دَ متقیانو زړونو ته جنت نزدے دے دوی دَ هغے دَ پاره محنت کوی لیکن دا قول دَ سَوق دَ ایاتو نو نه مخالف دے سورة شعراء ۹۰ کښ تیر شویدی۔

غَيْرَ بَعِيْدٍ مفعول مطلق دے دَ پاره دَ ازلفت په تقدیر دَ مصدر سره ازلافا غیر بعید یا حال دے دَ جنت نه او جنت په تاویل دَ مکان سره دے دَ دے وجے نه بعیدة ئے نه دے ذکر کړے۔

بیا لفظ دَ غیر بعید دَ تاکید دَ پاره دے یعنی که وهم اوکړے شی چه ازلاف (نزدیکت) به لګ وخت دَ پاره وی نو جواب اوشو چه دا ازلاف همیشه دَ پاره دے چه جنت به دَ دوی نه هیڅ وخت بعید نه وی۔

حَفِيْظٍ ﴿۳۲﴾ مَنْ خَشِيَ الرَّحْمٰنَ بِالْغَيْبِ وَجَآءَ

چه ساتنه کوونکے دے. هغه څوک چه ویره کوی دَ رحمان ذات نه په حالت نه لیدلو کښ او راغلے وی

بِقَلْبٍ مُّنِيْبٍ ﴿۳۳﴾ ادْخُلُوْهَا بِسَلٰمٍ ؕ ذٰلِكَ

په زړه حق ته گرځیدونکے (او به ویلے شی) داخل شئ جنت ته په سلامتیا سره ۔ دا

۳۲ په دے کښ بیا حال دَ جنت او دوه صفتونه دَ جنت والو ذکر دی ۔ هٰذَا اشاره ده جنت ته په تاویل دَ مکان دَ نعمتونو ۔ مَا تُوْعَدُوْنَ دا وعده دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه په قرآن کریم کښ په هغه آیاتونو کښ ذکر ده چه په تقویٰ سره جنت حاصلیږی او هغه ډیر آیتونه دی لکه سورة آل عمران ۱۳۳ حجر ۴۵ دُخان ۵۱ ذاریات ۱۵ طور ۱۷۔

لِكُلِّ اَوَّابٍ دا بدل دے دَ للمتقین نه او په مینځ کښ جمله معترضه ده یا دا متعلق دے په توعدون پورے او مقولہ لَهُمْ مقدر دے یعنی په داسے حال چه ویلے کیږی به دوی ته دا ۔ اَوَّابٍ هغه څوک دے چه دَ گناه نه ئے توبه کړے وی لیکن چه ورته یاد شی نو بیا هم استغفار غواړی او تسبیح هم ډیره وائی ۔ او په اختتام دَ هر مجلس کښ دا کلمه وائی سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهٖ اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوْبُ اِلَيْكَ ۔ حَفِيْظٍ حفاظت کوونکے دَ الله تعالیٰ دَ حقوقو او دَ اوامرو یا یاد ساتونکے دَ گناهونو خپلو دَ پاره دَ دے چه استغفار تری کوی یا حفاظت کوونکے دَ عمر خپل چه خپل اوقات نه ضائع کوی ۔

۳۳ په دے کښ دَ متقیانو دوه صفتونه ذکر کوی ۔ تیر شوی صفتونه عبادات لسانیه وو او دا صفتونه عبادات قلبیه دی ، ۱ خشیت ۲ انابت ۔ مَنْ خَشِيَ بدل دے یا صفت دے دَ پاره دَ اواب یا مبتدا حذف ده یا حرف ندا حذف دے او جواب دَ ندا په روستو آیت کښ دے ۔ خَشیت خاص دے دَ خوف نه ځکه چه خشیت کښ معنیٰ دَ تعظیم دَ مخشی عنه وی سره دَ خوف نه دَ دے وجے نه لفظ دَ الرحمٰن ئے ذکر کړو دَ پاره دَ افادے دَ عظمت شان دَ هغهٔ ۔ بِالْغَيْبِ حال دے دَ مفعول نه یعنی الله تعالیٰ ئے لیدلے نه دے بلکه دَ عقلی او نقلی او وحی دلیلونو په وجه سره په الله تعالیٰ باندے ایمان لری یا حال دے دَ فاعل نه یعنی په حالت دَ خلوت کښ هم دَ الله تعالیٰ نه خشیت کوی لکه چه دَ خلقو په مخکښ هم کوی یعنی منافقت نه کوی ۔ وَجَآءَ بِقَلْبٍ مُّنِيْبٍ هر کله چه خشیت تحقیق لو لره مستلزم دے نو وهم راغے چه دا بنده دَ ویرے دَ وجے دَ الله تعالیٰ نه تیختنه کوی نو ورپسے ئے دَ وهم دَ دفع کولو دَ پاره دا صفت ذکر کړو ۔

يَوْمُ الْخُلُوْدِ ﴿٣٤﴾ لَهُمْ مَّا يَشَآءُوْنَ فِيْهَا وَلَدَيْنَا

ورځ دَ همیش والی ده . دوی لره به هغه څه وی چه دوی غواړی په هغې کښې او زمونږ سره شته

مَزِيْدٌ ﴿٣٥﴾ وَكَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْنٍ

زیاتی - او ډیر هلاک کړے دی مونږ دَ دوی نه مخکښې پیړئ

وَجَآءَ اه اشاره ده چه خشیت دَ الله تعالیٰ مستلزم دے رجوع الی الله لره - او مراد دَ جَآءَ توجه کول دی الله تعالیٰ ته په دنیا کښې او بعضې مفسرینو دا صفت روستو دَ مرګ ته ویلے دے لیکن هغه مناسب نه دے - مُنِيْبٍ چه دَ ضد او عناد نه خالی وی او مخلص طلب ګار دَ حق وی نو منیب دے - او "سلیم" چه سورة صافات ٨٤ کښې ذکر شوے دے په صفت دَ ابراهیم علیه السّلام کښې هغه مرتبه دَ منیب نه اوچته ده چه هغه داسے زړه دے چه دَ توجه او دَ شغل لغیر الله نه بالکل خالی دے -

٣٤ دا بشارت دے په دوه حالتونو سره تیر شوی صفتونو والو ته - اُدْخُلُوْهَا دلته یقال لهم (او به ویلے شی دوی ته) پټ دے یا حرف ندا دَ مَنْ خَشِيَ نه مخکښې پټه ده او دا مقصود بالنداء دے . بِسَلٰمٍ سلامتیا دَ عذابونو او هر قسم غمونو نه او سلام ویل دَ طرف دَ الله تعالیٰ او ملائکو نه دے ټولو ته دا لفظ شامل دے. يَوْمُ الْخُلُوْدِ مراد دا دے چه داسے ورځ ده چه په هغې کښې همیش والے حاصلیږی -

٣٥ په دے ایت کښې هم بشارت دے په ذکر دَ دوه حالتونو سره فِيْهَا متعلق دے په يشآؤن پورے او مشیئت او اشتهاګانے په جنت کښې دَ دنیا په نسبت به ډیرے وی . یا متعلق دے په لهم پورے یعنی په جنت کښې به ټول مشتهیات او شوقونه پوره کیږی -

وَلَدَيْنَا مَزِيْدٌ لفظ دَ لدينا دلیل دے چه دا جنتیان په هغه نعمتونو باندے دَ پوهے دَ الله نه خبر نه دی ځکه هغه خاص دَ الله تعالیٰ سره دی -

مَزِيْدٌ په معنیٰ دَ زیادت دے لکه سورة یونس ٢٦ کښې یا اسم مفعول دے یعنی هغه څیز چه زیاتی کیږی به دَ دوی په تمناګانو باندے مراد ترینه هغه نعمتونه دی چه دَ دوی په زړه کښې هم نه وی تیر شوی او هغه دیدن دَ الله تعالیٰ دے په ډیر اکرام او عزت سره لکه چه احادیثو مرفوعه کښې ذکر دے او دا رنګ خاص قسم حورے دی -

هُمْ اَشَدُّ مِنْهُمْ بَطْشًا فَنَقَّبُوْا فِي الْبِلَادِ ؕ

چه هغوی سخت وو دَ دوی نه په نیولو کښ نو ورننوتلے وو په ښارونو کښ

هَلْ مِنْ مَّحِيْصٍ ﴿۳۶﴾ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَذِكْرٰى لِمَنْ

آیا شته دے ځائے دَ تیښتے . یقینًا په دے کښ ضرور نصیحت دے هغه چا لره

كَانَ لَهٗ قَلْبٌ اَوْ اَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيْدٌ ﴿۳۷﴾ وَ

چه هغه لره عقل وی یا ږدی غوږ او زړه ئے حاضر وی . او

ف۳۶ دا تخویف دینوی دے متعلق دے دَ ف۱۲ سره . او دَ بشارت نه ئے روستو ذکر کړو مناسبت ئے دا دے چه تیر شوی صفات دَ متقینو په چا کښ نیشته نو هغوی په دنیا کښ هم تباه حاله دی . اَشَدُّ مِنْهُمْ بَطْشًا قوت مالی او بدنی او دَ هغے وجے نه په خلقو باندے ظلم کولو ته دا لفظ شامل دے او په دے کښ اشاره ده چه په مادی او دنیوی طاقتونو سره دَ عذاب دَ الله تعالیٰ نه بچ کیدل نشی کیدے . فَنَقَّبُوْا فِي الْبِلَادِ تنقیب په اصل کښ سوری کول او په سرنګونو کښ داخلیدلو ته ویلے کیږی مراد دا دے چه په دُنیا کښ ګوټ په ګوټ باندے په ډیرو ښارونو کښ دَ تجارتونو او مالونو دَ پاره ګرځیدلے وو یا قسم قسم حیلے ئے لټولے وے دَ مرګ نه دَ بچ کیدلو دَ پاره سُرنګونه ، تاخانے ، مورچے ئے دَ خپل حفاظت دَ پاره جوړے کړے وے . هَلْ مِنْ مَّحِيْصٍ دا استفهام انکاری دے دَ پاره دَ ازالے دَ غفلت ئے ذکر کړے دے یعنی دَ هغوی تنقیب فی البلاد سره هیڅ فائده اونشوه نو اے موجوده خلقو تاسو غافل نه شئ . مَحِيْصٍ ځائے دَ تختیدلو دَ مرګ نه ، نو ظرف دے یا تختیدل نو مصدر میمی دے او جواب ئے په لفظ دَ لَا سره پټ دے .

ف۳۷ په دے آیت کښ ترغیب دے قرآن ته او دے سورت ته ځکه چه ذٰلِكَ اشاره ده ټول قرآن ته یا هغه مضمون ته چه په دے سورت کښ ذکر شویدے یا اشاره ده من قرنٍ ته .

ربط هر کله چه تیر شوی آیت کښ هلاکت دَ اقوام مکذبه ته ئے اشاره اوکړه نو په دے آیت کښ دَ هغه قومونو دَ واقعاتو نه ذکرٰی (عبرت) حاصلولو دَ پاره طریقه ذکر کوی . اوله طریقه لِمَنْ كَانَ لَهٗ قَلْبٌ ، تنکیر دَ پاره دَ تعظیم دے او مراد دَ قلب نه عقل دے په ذکر دَ محل او مراد ترینه حال دے او دا قرطبی دَ مجاهد نه روایت کړے دے یا مراد دَ دے نه ژوندے زړه دے لکه سورة یٰس سے کښ دَ یحییٰ بن معاذ نه قرطبی نقل

لَقَدْ خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِيْ

یقینًا پیدا کړی دی مونږ اسمانونه او زمکه او هغه چه دَ دے په مینځ کښ دی په

سِتَّةِ اَيَّامٍ ۖ وَّمَا مَسَّنَا مِنْ لُّغُوْبٍ ﴿٣٨﴾ فَاصْبِرْ عَلٰى

شپږو ورځو کښ او نه دے رسیدلے مونږ ته هیڅ ستړے والے. نو صبر کوه په

کړے دی چه زړونه دوه قسمونه دی اول هغه زړه چه دَ دنیا دَ اشغالو او فکرونو نه ډک وی نو هر کله چه دَ اٰخرت خبره کار ورته مخے له راشی نو حیران شی چه څه اوکړم. او دویم هغه زړه چه دَ هیبتونو دَ اٰخرت نه ډک وی نو کله چه ورته دَ دنیا څه کار مخے له راشی نو نه پوهیږی چه څه اوکړم دَ وجے دَ شغل نه په اٰخرت باندے. نو په دے ایت کښ دا دویم قسم زړه مراد دے. اَوْ اَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيْدٌ دا دویمه طریقه ده غوږ کیخودل په داسے طریقے سره چه بل څه خبره په هغے باندے نه اوری دیته القاء السمع وائی گویا چه دَ قرآن اوریدل داسے درونه او لوئے کارګنړی چه غوږ ئے ورله خکته غورځولے دے. وَهُوَ شَهِيْدٌ مراد دَ دے نه توجه دَ زړه ده ځکه چه صرف کیخودل دَ غوږ کافی نه دی ترڅو پورے چه دَ زړه توجه نه وی.

فائده:- دَ قرآن نه دَ وعظ او فائدے اغستلو دَپاره دوه درجے دی اوچته درجه دا ده چه انسان په قرآن کښ تدبر او سوچ کوی "افلا یتدبرون القرآن". "افلم یدبروا القول" باندے عمل کوی. دویمه درجه دا ده چه څه په توجه دَ زړه سره دَ بل چا نه ئے اوری. اوله درجه دَ اجتهاد ده او دویمه درجه دَ اتباع ده ځکه چه دَ قرآن اوریدل او دَ هغے اطاعت کول اتباع ده او دَ دے نه چه چا دَ تقلید اثبات کړید ے نو هغه دَ تقلید معروف معنے نه جاهل دے یا تلبیس او تحریف کوی (العیاذ باللّٰه).

ف ٣٨ دا دلیل عقلی دے دَ اثبات دَ قیامت دَپاره (ربط) یعنی اول خو دَ قرآن نه ذکری او نصیحت اغستل دی او په هغے پسے دَ عقلی دلیلونو دَ اسمان او زمکے نه استدلال کول دی او دا عطف دے په ف ١٦ باندے فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ دلته په سورة فرقان ف ٥٩ السجده ف ٤ او اعراف ف ٥٤ یونس ف ٣ هود ف ٧ او حدید ف ٤ کښ ذکر شویدی په مقام دَ تفصیل دَ نعمتونو لکه سورة فرقان او مقام دَ اثباتِ قیامت لکه سورة السجده او دا سورت په دے کښ ئے مابینهما ورسره ذکر کړے دے او په نورو سورتونو کښ په ذکر دَ اسمانونو او زمکے باندے اکتفاء کړیده. وَمَا مَسَّنَا مِنْ لُّغُوْبٍ په دے کښ رد دے په وهم دَ منکرینو دَ بعث بعد الموت باندے یعنی دا وهم دِ څوک نه کوی چه اللّٰه تعالٰی به په اول پیدائش باندے ستړے شوے وی (راپاتے په بل مخ)

مَا يَقُوْلُوْنَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ

هغه خبرو باندے چه دوی وائی او تسبیح وایه سره دَ حمد دَ رب ستا نه مخکښ دَ ختلو

الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوْبِ ﴿۳۹﴾ وَمِنَ الَّيْلِ

دَ نمر نه او مخکښ دَ پټیدلو دَ نمر نه . او دَ شپے نه

ستړے شویوی نو دویم کرت پیدائیش نه شی کولے او دا رنګ رد دے دَ یهودیانو په قول باندے هغوی وائی چه الله تعالیٰ دَ اتوار دَ ورځ نه ترجمعے ورځ پورے په پیدائیش کښ مشغول وؤ نو دَ خالی په ورځ ئے استراحت او آرام اوکړو او دا سے په سورة احقاف ۳۲ کښ هم تیر شویدی او په دے سورت ۱۶ کښ ذکر دی چه الله تعالیٰ په اول پیدائیش دَ مخلوق باندے ستړے شوے نه دے .

۳۹ ۴۰ دَ دے نه تر آخره پورے پنځه اوامر ذکر کوی دَ پاره دَ تشجیع دَ دعوت کوؤنکی. په دے دوه آیاتونو کښ درے اوامر دی. په دے ترتیب کښ اشاره ده چه دَ داعی په ذمه باندے دعوت کول دی او هرکله چه په دعوت کښ رُکاوټ پیدا شی نو بیا صبر کول او په بندګے دَ الله تعالیٰ کښ مشغولیدل دی او صبر او تسبیح حمد ذریعه ده دَ پاره دَ آسانتیا دَ دعوت کولو. عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ دا عام دے قول دَ یهودیانو ته هم شامل دے کوم چه مخکښ ذکر شو او قول دَ منکرینو دَ بعث بعد الموت ته هم چه دَ سورت په ابتدا کښ ذکر شویدے او دا رنګ په نبی صلی الله علیه وسلم باندے طعنونه کول او هغه ته کنځل کول دے ټولو ته شامل دے. وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ عمل کول په دے امر باندے په ډیرو طریقو سره دی اول سبحان الله وبحمده او سبحان الله والحمد لله په ژبه ویل دویم خلقو ته دَ دے بیان کول دریم مونځ کول. تسبیح کښ اشاره ده دَ صفاتو دَ نقصان نه الله تعالیٰ پاک ګڼړل او حمد کښ اشاره ده تمام صفتونه دَ کمال (چه الوهیت دے) الله تعالیٰ لره په عقیده کښ لرل. قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوْبِ وخت دَ فجر او وخت دَ عصر ته اشاره ده دا دوه ئے مخکښ ذکر کړل دَ وجے دَ ډیر فضیلت او اهمیت دَ دے دواړو نه لکه چه ډیرو احادیثو صحیحه کښ دَ دے دواړو فضیلتونه ذکر دی او دا وختونه دَ اجتماع دَ ملائکو دَ شپے او دَ ورځے دی او دا وختونه دَ غفلت دَ خلقو دی په اول وخت کښ اشاره ده شکر دَ نعمت دَ الله تعالیٰ ته چه شپه په خیر سره تیره شوه دویم کښ اشاره ده چه ورځ هم اختتام ته رسیدونکے ده په خیر سره. او اشاره ده

فَسَبِّحْهُ وَاَدْبَارَ السُّجُوْدِ ﴿۴۰﴾ وَاسْتَمِعْ يَوْمَ يُنَادِ

تسبیح وایه دَ هغه او روستو دَ سجدے کولو ته. او غوږ کیږده هغه ورځ چه اواز به اوکړی

الْمُنَادِ مِنْ مَّكَانٍ قَرِيْبٍ ﴿۴۱﴾ يَوْمَ يَسْمَعُوْنَ

اواز کوونکے دَ مکان نزدے نه هغه ورځ به دوی اوری

چه په طلوع دَ نمر سره وخت دَ موځ دَ صبا ختمیږی او دا رنګ په غروب سره وخت دَ موځ دَ مازیګر ختم شویدے. او په دویم ایت کښ امر په تسبیح سره په دوه وختونو کښ ذکر شویدے - اللیل او ادبار السجود - نو مراد دَ اللیل نه وخت دَ ماښام او ماسخوتن دے او وخت دَ تهجد هم پکښ داخل دے او دا رنګ دَ شپے په هره حصّه کښ چه بیدار شی او دَ الله تعالیٰ تسبیح او حمد وائی هغه ته هم شامل دے. او مِنْ لفظ کښ اشاره ده چه دَ شپے څه حصه دَ خوب دَ پاره صرف کول سنت دی. وَاَدْبَارَ السُّجُوْدِ دَ اکثر صحابه او تابعینو نه روایت دے چه مراد دَ دے نه دوه رکعتونه سنت روستو دَ فرض دَ ماښام نه دی او ابن کثیر په دے کښ روایت مرفوع هم نقل کړیدے او دویم قول دا دے چه مراد دَ دے نه په هر فرض موځ پسے سبحان الله او الحمد لله او الله اکبر لوستل دی او په دیکښ روایات مختلف دی یو دا چه هره کلمه دَ دے نه دری دیرش ۳۳ کرته وئیل دی دویم دا چه اوله او دویمه هره یوه دری دیرش ۳۳ کرته او الله اکبر څلور دیرش ۳۴ کرته او دریمه دا چه هره یوه لس لس کرته وئیل. هر روایت باندے عمل کول صحیح دی لیکن سنت دا دے چه فرض موځ پسے په دا وائی او چا چه دَ فرضو په ځائے په سنت موځ پسے اُویل او خیال کوی چه دا سنت طریقه ده نو دا بدعت کوونکے دے قول او طریقه دَ رسول الله صلّی الله علیه وسلّم ئے بدل کړل. دریم قول دا دے چه مراد دے نه فرض موځ پسے سنت او نفل کول دی لیکن دَ هغے نه دَ فجر او دَ عصر موځ مستثنیٰ دے په سبب دَ صحیح احادیثو سره اَدْبَارَ په زور دَ الف سره جمع دَ دبر ده دَ هر څیز روستنے حصه ته وئیلے کیږی او دا رنګ هغه څیز چه روستو وی دَ بل څیز نه هغے ته هم وئیلے کیږی دلته بنا په دے وارو روایتونو باندے روستنے معنیٰ مراد ده.

سټ ۴۱ ۴۲ دا څلورم امر دے دا چې ته مراد ترینه انتظار دَ ورځ دَ قیامت دے دَ پاره دَ حساب وَاسْتَمِعْ يَوْمَ يُنَادِ مراد استماع نه انتظار کول دی یعنی دَ ورځ دَ قیامت انتظار اوکړه یا استماع په خپله معنیٰ ده یعنی غوږ کیږده حالاتو دَ هغه ورځ ته رپاتے په بل مخ)

الصَّيْحَةَ بِالْحَقِّ ۚ ذٰلِكَ يَوْمُ الْخُرُوْجِ ﴿۴۲﴾ إِنَّا

چغه په رشتيا دا ورځ ده دَ راوتلو (دَ قبرونو نه). يقيناً

نَحْنُ نُحْيِ وَنُمِيْتُ وَاِلَيْنَا الْمَصِيْرُ ﴿۴۳﴾ يَوْمَ

مونږ ژوندی کول او مړه کول کوؤ او خاص مونږ ته راګرځيدل دَ خلقو دی. په هغه ورځ

تَشَقَّقُ الْاَرْضُ عَنْهُمْ سِرَاعًا ۚ ذٰلِكَ حَشْرٌ

چه اوبه چوی زمکه دَ دوی نه منډے په وهی، دا راجمع کول دی

نو دَ يوم نه مخکښ احوال لفظ پټ دے اوکه يوم ظرف شی دَ پاره دَ استمع نو دا معنیٰ مناسب نه ده. الْمُنَادِ مراد دَ دے نه اسرافيل يا جبرئيل يا بل ملک دے په اختلاف دَ روايا تو سره مِنْ مَّكَانٍ قَرِيْبٍ يعنی هر انسان به دا آواز داسے آوری لکه چه هغه ته نزدے وی يَوْمَ يَسْمَعُوْنَ الصَّيْحَةَ دَ يَوْمَ يُنَادِ نه بدل دے او په دے سره وهم دفع کوی يعنی که وهم اوکړيشی چه منادی خو به آواز دَ قريب نه کوی ليکن کيدیشی چه دا خلق دَ مرګ يا دَ غفلت دَ وجه نه نه آوری نو دَ دے جواب ئے اوکړو. الصَّيْحَةَ نه مراد دويمه شپيلۍ ده دَ پاره دَ بعث بعد الموت په قرينے دَ الْخُرُوْجِ سره. بِالْحَقِّ دا متعلق دے په الصيحه پورے يا متعلق دے په يسمعون پورے بنا په اول دَ الْحَقِّ نه مراد بعث بعد الموت دے او بنا په دويم دَ الْحَقِّ نه مراد يقين دے. يَوْمُ الْخُرُوْجِ هغه خروج چه په ۱۱ کښ ذکر کړے وو او دا نوم دَ ورځ دَ قيامت دے. او په دے آيا تو کښ دَ ورځ دَ قيامت څلور احوال ذکر کړے دی.

۴۳ ۴۴ په دے آيا تو کښ دَ قيامت نور څلور حالات ذکر کوی. او په دے کښ اثبات دَ قيامت دے يعنی په احياء او اماتت باندے قادر دے نو په دوباره ژوندی کولو خو ضرور قادر دے.

يَوْمَ تَشَقَّقُ عَنْهُمْ دا تفصيل دَ حال دَ خروج دے او حديث دَ مسلم کښ په فضيلت دَ نبی صلی الله عليه وسلم کښ ذکر دی چه زمانه دَ ټولو نه مخکښ به زمکه اوچوی.

سِرَاعًا يعنی داعی طرف ته به په منډه سره ورځی لکه سورة ابراهيم ۴۳ سورة قمر ۸ او سورة معارج ۴۳ کښ دی.

عَلَيْنَا متعلق دے په يسير پورے او مخکښ راوړے دے دَ پاره دَ تخصيص

عَلَيۡنَا يَسِيۡرٌ ﴿۴۴﴾ نَحۡنُ اَعۡلَمُ بِمَا يَقُوۡلُوۡنَ

په موږ باندے اسان . موږ ښهٔ پوهه يو په هغه خبرو باندے چه دوی وائی

وَمَآ اَنۡتَ عَلَيۡهِمۡ بِجَبَّارٍ قف فَذَكِّرۡ بِالۡقُرۡاٰنِ

او نه يئے ته په دوی باندے زور کوؤنکے نو بيا نوه قران

مَنۡ يَّخَافُ وَعِيۡدِ ﴿۴۵﴾ ع

هغه چاته چه ويره کوی دَ عذاب زما نه

يعنی خاص په الله تعالیٰ باندے اسان دے لکه سورة روم ۲۷ کښ ذکر دی.

۴۵ دا تسلی ده رسول الله صلی الله عليه وسلم ته په دوه طريقو سره اول داچه نَحۡنُ اَعۡلَمُ بِمَا يَقُوۡلُوۡنَ يعنی دا منکرين چه انکار کوی ستا تکذيب کوی يا تاته بدِه وينا کوی نو الله تعالیٰ ته دَ هغے خهٔ علم شته عذاب ورکولے شی ليکن ستا امتحان کوی. وَمَآ اَنۡتَ عَلَيۡهِمۡ بِجَبَّارٍ جمله خبريه په خپله معنیٰ سره ده يعنی ته په دوی باندے زور نشے کولے چه ايمان راوړی او دا رنګ ته په جبر کولو سره مکلف خو نه يئے نو دَ دوی په ايمان نه راوړلو سره په تا باندے ګناه نيشته. دا جمله انشائيه نه ده لکه بعض مفسرينو ويلے دی چه دَ دے معنیٰ دا ده چه جبر مکوه او بيا دا آيت ئے منسوخ کړے دے نو دا قول صحيح نه دے.

فَذَكِّرۡ بِالۡقُرۡاٰنِ دا پنځم امر دے يعنی دَ داعی په ذمه باندے جبر کول خو نيشته ليکن دعوت او تبليغ دَ دهٔ ذمه واری ده. دَ دے نه مراد صرف تلاوت او قراءت دَ قران نه دے بلکه په قران بيا تولو سره توحيد او دَ قيامت مسئلے واضح کول دی او دا تذکير په طريقه دَ دعوت تبليغ او درس وتدريس سره دے او دَ ذکر الٰهی لويه طريقه تذکير بالقران دے او دا امر په سورة انعام ۷۰ او سورة ذاريات ۵۵ سورة طور ۲۹ سورة اعلیٰ ۹ سورة الغاشيه ۲۱ کښ هم موجود دے.

معلومه شوه چه تذکير بالقران ډير لوئے عمل دے چه الله تعالیٰ په هغے خپل نبی لره بار بار مخاطب کړځولے دے.

مَنۡ يَّخَافُ وَعِيۡدِ تخصيص دَ دے په اعتبار دَ فائدے اخستلو سره دے دا تقييدی قيد احترازی سره نه دے يعنی تذکير بالقران خو رپاتے په بل مخ)

عام دے که څوک ترینه فائده اخلی اوکه نه اخلی لیکن هغه په تذکیر
کښې مخکښې کول پکار دی چه په هغوی کښې انابت وی
او امید دَ استفادے وی لکه دَ سورة عبس
په ابتداء کښې دے ترتیب ته
اشاره ده۔
دَ قتادہ نه روایت کړے شوے دے چه
هغه به ویل
" اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنَا مِمَّنْ يَخَافُ وَعِيْدَكَ
وَيَرْجُوْا مَوْعُوْدَكَ يَا بَارُّ يَا رَحِيْمُ "
ختم شو تفسیر دَ سورة قٓ په فضل دَ الله تعالٰی سره۔

سُوْرَةُ الذّٰرِيٰت ٥١ مَكِّيَّةٌ ٦٧	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰيَاتُهَا ٦٠ رُكُوْعَاتُهَا ٣

وَالذّٰرِيٰتِ ذَرْوًا ﴿١﴾ فَالْحٰمِلٰتِ وِقْرًا ﴿٢﴾ فَالْجٰرِيٰتِ

قسم دے په هواګانو الوځوونکو په الوځولو سره بیا پورته کوونکے بوج لره بیا چلیدونکے

يُسْرًا ﴿٣﴾ فَالْمُقَسِّمٰتِ اَمْرًا ﴿٤﴾ اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ

په اسانه سره بیا تقسیم کوونکی کارونو لره یقینًا هغه چه تاسو سره ئې وعده کیدیشی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة الـذاريات

ربط دَدے سورة دَ مخکښې سره دادے چه په دیکښې دَ مخکښې نه ترقی ده په ډیرو وجو سره اوله وجه داچه هلته کښې کذٰلك الخروج ذکر کړے وو نو دلته انما توعدون لصادق دے دا ترقی ده په دعویٰ دَ بعث بعد الموت کښې. دویمه وجه، هغه سورت کښې وؤ وسبح بحمد ربك او په دے سورت کښې ففروا الی الله دے دا ترقی ده په دعویٰ دَ توحید کښې. دریمه وجه هلته کښې خَلق دَ انسان ئې ذکر کړے دے او دلته حکمت دَ خلق دَ انسانانو ذکر دے. څلورمه وجه، په هغه سورت کښې صرف دلیلونه وو په اثبات دَ بعث باندے نو په دے کښې دَ دلیلونو سره شواهد هم دی. پنځمه وجه، هلته کښې ذکر دَ اقوام مکذبه وؤ اجمالًا دلته دَ هغے نه دَ پنځو قومونو عذابونه ئې ذکر کړل.

دعویٰ دَ دے سورت اثبات دَ بعث بعد الموت دے په ۵ کښې په ذکر دَ پنځه شواهدو او په عقلی دلیلونو او په ذکر دَ عذاب دَ پنځه قومونو سره. او دعویٰ دَ توحید په ۵۰ ۵۱ ۵۷ کښې ده او اووه اسماء حسنٰی ذکر کړے دی.

خلاصه دَ سورت دادہ چه دا سورت تقسیم دے دوه بابونو ته اول باب تر ۲۳ پورے دے په دیکښې پنځه شواهد دی او په مینځ کښې دعویٰ دَ سورت ده بیا پنځه حالات دَ مکذبینو په طریقه دَ زجر سره بیان وی بیا بشارت په ذکر دَ پنځه صفاتو دَ متقینو سره بیا درے عقلی دلیلونه چه په هغے کښې پنځه حالات ذکر دی او بیا قسم ذکر دے. دلیلونه او قسم دَ پاره دَ اثبات دَ بعث بعد الموت دَی تفسیر ۱ ۲ ۳ ۴ دا څلور قسمونه دی په طریقه دَ شواهدو (پاتے په بل مخ)

لَصَادِقٌ ﴿۵﴾ وَّاِنَّ الدِّيْنَ لَوَاقِعٌ ﴿۶﴾ وَالسَّمَآءِ

ضرور رشتیا دے او یقینًا جزا ضرور واقع کیدونکے ده۔ اوقسم دے په اسمان باندے

سره په روستو دعوی باندے او دا صفتونه ټول دَ هوا ګانو دی یعنی هوا ګانے دوړے وغیره الوزوی بیا دَ وریځو بوجونو پورته کوی بیا روانے وی په نرمۍ سره بیا تقسیمونکی دَ وریځو او دَ بارانونو وی پدې توجیه باندے موصوف یو دے چه هوا ګانے دی او صفتونه یې ډیر دی او فَا دَ پاره دَ ترتیب دَ دے کارونو ده یا دا صفتونه دَ موصوفانو جدا جدا دی یعنی ذَارِيَاتِ صفت دَ هوا ګانو دے او حَامِلَاتِ صفت دَ وریځو دے او جَارِيَاتِ صفت دَ کشتو دے او مُقَسِّمَاتِ صفت دَ ملائکو دے او دا روایت کړے شوے دے دَ علی او عمر رضی الله عنهما نه لکه چه ابن کثیر ذکر کړے دی او بیا په دے تفسیر باندے فَا دَ پاره دَ ترتیب ده په قسم کښ نه په مقسم به کښ۔ او ذَرْوًا مفعول مطلق دے او وِقْرًا مفعول به دے او جمع یې ذکر نه کړه ځکه یو جماعت بوج دَ وریځو پورته کوی یو بوج دَ باران او يُسْرًا مفعول مطلق دے په موصوف محذوف سره یعنی جَرْيًا يُسْرًا۔ او اَمْرًا مفعول به دے او دَ مفرد راوړلو وجه یې په وقرا کښ ذکر شوه۔

فائده :- په سورة صافات او نازعات او مرسلات او په دے سورت کښ په قسم کښ دَ جمع سالم مؤنث صیغے ذکر کړے دی ځکه دَ دے نه مراد مختلف حالات دی او جمع مؤنث په حالتونو باندے ښکاره دلالت کوی۔

۵ ۔ ۶ دا جواب قسم او دعوی دَ سورت ده۔ مَا یا موصوله دے یا مصدریه دے او مراد دَ دے نه خروج دے دَ قبرونو نه چه دَ هغې وعده په سورة قٓ کښ ذکر شوې او وعده په جمله خبریه سره وه دَ دے وجے نه دَ هغې وصف یې صادق ذکر کړو ځکه چه صدق او کذب په اخبارو کښ راځی۔ وَاِنَّ الدِّيْنَ یعنی صدق دَ وعدے دَ بعث بعد الموت دَ پاره دَ جزا ورکولو دے دَ دے وجے نه ورپسے وقوع دَ جزا یې ذکر کړه۔ او مناسبت دَ مقسم به دَ جواب قسم سره دا دے لکه څه رنګ چه الله تعالیٰ په ذریعه دَ هوا ګانو دوړے خورے کړی او بیا ترینه وریځے جوړے کړی او بیا یې په مینځ دَ اسمان او زمکه کښ روانے کړی او بیا یې دَ باران په صورت کښ زمکے ته واپس را اولیږی دا رنګ الله تعالیٰ قادر دے چه دا انسانان ذرے ذرے کړی او بیا یې را جمع کړی او ارواح ورته په اسانتیا سره راولی او جزا او سزا ور باندے تقسیم کړی۔ یا دا چه هغه ذات چه دَ هوا ګانو او وریځو او کیشتو او ملائکو نه مختلف

ذَاتِ الْحُبُكِ ۝٧ اِنَّكُمْ لَفِیْ قَوْلٍ مُّخْتَلِفٍ ۝٨ یُّؤْفَكُ

چه ګنړو ستورو والا دے | یقینًا تاسو په خبره مختلفو کښ یئے | اړولے شی

کارونه اخلی نو هغه قادر دے چه دَ انسان نه مختلف کارونه په دنیا کښ واخلی او په آخرت کښ مختلف جزاګانے ورکړی.

ف٧ دا پنځم قسم بطور شاهد دے دا یئے دَ مخکښ قسمونو نه جدا ذکر کړو ځکه دَ دے مقسم به جدا دے دَ هغے مقسم به نه او دا رنګ هغه څلور عالم وسطی او سفلی څیزونه وو (رسیوا دَ مقسمات نه په یو تفسیر باندے) او دا عالم علوی دے. اَلْحُبُكِ حبک مضبوط او وَل دَجامے چه خائسته او صفا هم وی او مختلف کرخے پکښ وی نو هغے ته وئیلے کیږی نو دلته هم دَ آسمانونو مضبوط والے او صفائی او په ستورو سره خائسته کیدل او دَ هغے په وجے سره لارے جوړیدل په آسمان کښ دا ټول صفتونه مراد دی. په دلیل دَ سبعًا شدادًا سورة نبا ١٢ سبع طرائق مؤمنون ١٧ اِنَّا زَیَّنَّا السماء بزینة ن الکواکب صافات ٦ ما تری فی خلق الرحمٰن من تفاوت سوره ملك ٣. بیا دَ دے جواب قسم محذوف دے (لَتُخْرَجُنَّ مِنَ الْقُبُوْرِ) لکه چه آسمان کښ مختلف ستوری پټ وی او بیا ښکاره شی نو دا سے به تاسو هم په زمکه کښ پټ شئ نو بیا به په ورځ دَ قیامت را ښکاره شئ یا جواب قسم روستو دے.

ف٨ غوره دا ده چه دا جواب قسم دے او دَ دے آیت نه دَ منکرینو پنځه قبائح ذکر کوی په طریقه دَ زجر ورکولو سره. قَوْلٍ مُّخْتَلِفٍ په باره دَ قرآن او دَ رسول او دَ قیامت کښ او دَ الله تعالیٰ کښ دَ هر یو باره کښ دَ منکرینو ګډے وډے خبرے دی. دَ قرآن په باره کښ وئیلے کیږی چه دا سحر دے یا کهانت دے یا شعر دے یا افتراء ده یا ګډوډ خوبونه یا اساطیر وغیره دی هم دغسے دَ نبی صلی الله علیه وسلم په شان کښ اختلاف ساتل چه دا ساحر یا کاهن یا مجنون یا شاعر یا مفتری او کذاب وغیره دے دارنګ دَ قیامت په باره کښ اختلاف دے چه دا اساطیر الاولین دی یا دَ عقل نه لرے ده وغیره دَ الله تعالیٰ په شان کښ اختلاف چه دَ هغه شریک شته دے یا ولد شته دے یا وَلِیٌّ مِنَ الذُّلِّ شته دے یا ټول حاجات نشی پوره کولے یا شفعاء ور باندے زور آور دی، یا یئے ملائک لونړه دی یا ور سره جِنَّات شریک دی وغیره خو دا ټولے ګډوډے خبرے دی دَ منکرینو. دَ قسم او جوابِ قسم مناسبت دا دے چه دَ آسمان مضبوط والے او خائست شاهد دے چه دَ دے جوړونکے (الله تعالیٰ) (پاتے په بل مخ)

عَنْهُ مَنْ اُفِكَ ⑨ قُتِلَ الْخَرّٰصُوْنَ ⑩ الَّذِيْنَ

دَ دے نه هغه څوک چه اړولے شو. تباه کړے شو په ټوک خبره کوونکی هغه کسان

هُمْ فِيْ غَمْرَةٍ سَاهُوْنَ ⑪ يَسْئَلُوْنَ اَيَّانَ

چه دوی په جهل کښ غافل دی تپوس کوی چه کله به وی

قادر او عالم دے په هرڅيز بانده نو دهغه په خلاف کښ ستاسو اقوال باطل او کړوړ دی یالکه څنګه چه ستوری دَ اسمان مختلف دی او دَ اسمان او دَ ستورو په باره کښ دَ خلقو اختلاف دے بغیر دَ دلیل نه لکه څوک وائی اسمان دَ او سپنے نه جوړ دے څوک وائی دَ تلنبے وغیره څوک وائی ستوری دَ فلانکی څيز نه جوړ دی یا دَ فلانی څيز نه څوک وائی فلانے ستورے سپیره دے او فلانے نیک بخت دے وغیره نو دا ټولے بے دلیله خبرے دی. دا رنګ ستاسو په اقوالو کښ هم چه بے دلیله دی اختلاف دے.

۹ دا هم زجر دے مراد دَ دے نه ګمراهان مقلدین دی چه دَ ګمراهانو مشرانو دَ مختلف اقوالو په وجه سره دَ حق نه اوړیږی لے شی هر کله چه مقلد ځان بے اختیاره کړے دے دَ دے وجه نه مجهول صیغه ئے ذکر کړیده او عَنْهُ ضمیر قَوْلٍ مُخْتَلِفٍ ته راجع دے بل قول دا دے چه مراد دَ دے نه اهل ایمان دی چه هغوی دَ دے اختلاف نه بچ ساتلے شوے دی خو اول قول غوره دے.

۱۰ دا هم زجر دے. قُتِلَ او قاتل په معنیٰ دَ لعنت او تباهئ سره هم مستعملیږی لکه سورة عبس ۱۷ او سورة توبه ۳۰ کښ او دا جمله خبریه یا جمله دُعائیه ده په دُعا دَ شر سره. اَلْخَرّٰصُوْنَ مراد دَ دے نه هغه خلق دی چه "قول مختلف" کښ دی بے دلیله مشغول دی- او دا لفظ دَ خرص نه اخستلے شویدے په اټکل سره (بغیر دَ دلیل نه) خبره او فیصله کولو ته ویلے کیږی- یعنی دَ الله تعالیٰ او دَ قیامت او دَ قرآن او رسول په باره کښ دَ دے متکریتو اقوال په اټکل بانده بِنا دی او قرطبی ویلے دی چه په دیکښ نجومیان هم داخل دی چه دَ اسمان دَ ستورو په باره کښ بے دلیله خبرے کوی او دَ هغے تاثیر ثابتوی.

۱۱ دا بل زجر دے او تعریف دے دَ خراصون دَ پاره- غَمْرَةٍ هغه جهل ته ویلے کیږی چه عقل لره پټ کړی- سَاهُوْنَ مراد دَ سهو نه غفلت او په باطلو خبرو او کارونو

يَوْمُ الدِّيْنِ ﴿۱۲﴾ يَوْمَ هُمْ عَلَى النَّارِ يُفْتَنُوْنَ ﴿۱۳﴾

ورځ دَ جزا - هغه ورځ چه دوی به اور باندے او سوځولے شی -

ذُوْقُوْا فِتْنَتَكُمْ ؕ هٰذَا الَّذِيْ كُنْتُمْ بِهٖ

اوڅکئ عذاب دَ سوزش خپل دا هغه خیز دے چه تاسو په دا

تَسْتَعْجِلُوْنَ ﴿۱۴﴾ اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ جَنّٰتٍ وَّ

په تادئ سره غوختلو - یقینًا متقیان به په جنتونو کښ او

عُيُوْنٍ ﴿۱۵﴾ اٰخِذِيْنَ مَآ اٰتٰىهُمْ رَبُّهُمْ ؕ

چینو کښ وی اخلی به هغه نعمتونه چه ورکوی دوی ته رب دَ دوی

کښ مشغولتیا ده لکه سورة مؤمنون ف۲۳ او سورة ماعون ف۵ کښ دی -

ف۱۲ دا بل زجر دے او دا اثر دَ غمره او دَ سهو دے - يَسْـَٔلُوْنَ دا سوال په طریقه دَ تکذیب او دَ عناد سره دے - اَيَّانَ دَ هغه استفهام دَپاره استعمالیږی چه په هغے کښ بُعد (لرے والے) وی یعنی انکار وی -

ف۱۳ ف۱۴ يَوْمَ ظرف دے دَ فعل محذوف دَپاره او دا جواب دَ مخکښ سوال (رپه ایان سره) دے یعنی دوی تپوس کوی کله به واقع کیږی جواب دا دے چه واقع به شی په هغه ورځ چه دوی له به په اور کښ عذاب ورکیدے شی دَ دوی سوال عنادی وو نو جواب ئے هم زجری اوشو - یا یوم ظرف دے دَ روستو فعل دَپاره چه ذُوْقُوْا دے - يُفْتَنُوْنَ ، فتن په اصل کښ ویلے کیږی دَ سرو زرو ویلے کولو ته په اور باندے مراد ترینه سوځول او عذاب ورکول دی - هٰذَا دا اشاره ده فتنه ته په تاویل دَ عذاب سره دَ دے وج نه مذکر یئے ذکر کړے دے -

ف۱۵ ف۱۶ دا بشارت دے روستو دَ تخویف او زجر نه - په بشارت کښ دَ دے خیزونه او دَ متقیانو پنځه صفتونه ذکر کوی - اٰخِذِيْنَ مَآ اٰتٰىهُمْ رَبُّهُمْ دا اجمالی بشارت دے ټول هغه نعمتونو دَ جنت ته شامل دی چه هغه دَ شمار نه بهر دی اٰخِذِيْنَ مراد دَ دے نه قبلوونکے په رضا سره او قبض کوونکے لګ لګ ځکه دَ هغه نعمتونو انتها نیشته دے - دویم قول دا دے چه دا دَ متقینو دنیوی صفت دے یعنی اٰخذین نه مراد عمل کوونکی او دَ ما اٰتاهم نه مراد هغه (پاتے په بل مخ)

إِنَّهُمْ كَانُوا قَبْلَ ذَٰلِكَ مُحْسِنِينَ ﴿١٦﴾

یقیناً دوی دَ دے نه مخکښ وُو خائسته عمل کوونکی۔

كَانُوا قَلِيلًا مِّنَ اللَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ ﴿١٧﴾

وُو ډیر کم دَ شپې نه چه اوده کیدل به۔

وَبِالْأَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ﴿١٨﴾ وَفِي أَمْوَالِهِمْ

او په وخت دَ پیش منی کښ دوی ـ بخښنه غوښتله ـ او دَ دوی په مالونو کښ

فرائض او احکام دی چه الله تعالیٰ نازل کړے دی لیکن که دا توجیه صحیح وے نو روستو إِنَّهُمْ به ئے په عطف سره ذکر کړے وے۔ مُحْسِنِينَ مراد دَ دے نه احسان په معامله دَ خالق او مخلوق دواړو کښ دے اول احسان اخلاص دے په بندګئ کښ لکه چه په حدیث جبرئیل کښ ذکر دے او اخلاص توحید قلبی عملی او قولی ټولو ته شامل دے دویم احسان عبادت په خائسته طریقه سره ادا کول یعنی موافق دَ سنت سره دریم احسان دَ مخلوق سره خه معامله او خه اخلاق چلول او هغوی ته دَ حق دین دعوت ورکول۔ نو دا جامع صفت دَ متقیانو دے۔ روستو دَ دے بعض جزئیات ذکر دی۔

س۱۷ س۱۸ س۱۹ په دے درے ایاتو نو کښ دَ احسان بعض افراد ذکر کوی دَ دے وجے نه ئے دَ عطف په طریقه سره نه دے ذکر کړے كَانُوا قَلِيلًا مِّنَ اللَّيْلِ الخ په دے کښ مشهور دوه قولونه دی اول قول دا دے چه مَا نافیه دے او مطلب ئے دا دے "چه په شپو کښ کمه شپه دا سے وه چه دوی به ټوله شپه اوده کیدل بلکه ډیرے شپے به ئے مونځ کوو او کله کله به ټوله شپه اوده پاتے شول" دا قول ابن کثیر دَ ابن عباس رضی الله عنهما او مجاهد او قتاده نه نقل کړے دے او په دے کښ دَ عام امتیانو دَ پاره من وجه سهولت دے او دویم قول دَ حسن بصری وغیره نه نقل کړے دے او ابن جریر هغه غوره کړے دے هغه دا دے چه مَا حرف زائده دے او مراد دَ دے نه دا دے "چه دَ شپے به په کمه حصه کښ اوده کیدل او په اکثره حصه دَ شپه کښ به ئے تهجد کول" او دا صفت ډیر اعلیٰ دے اګر چه په دے کښ دَ عام امت دَ پاره ګران والے دے۔ وَبِالْأَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُونَ په دے کښ اشاره ده چه تهجد ئے تر سحر پورے رسولے دی او دا رنګ دا

حَقٌّ لِّلسَّآئِلِ وَالْمَحْرُوْمِ ⑲ وَفِی الْاَرْضِ اٰیٰتٌ

برخه دَپاره دَ سوال کوؤنکی اوسوال نه کوؤنکی (بے نصیبه) وه۔ او په زمکه کښ ډیر دلیلونه دی

لِّلْمُوْقِنِیْنَ ⑳ وَفِیْٓ اَنْفُسِكُمْ ۚ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ ㉑

دَپاره دَ یقین کوؤنکو اوستاسو په ځانونو کښ هم۔ آیا نو ولے نه ګورئ۔

اشاره ده چه دوی په خپل قیام اللیل باندے غرور نه دے کړے بلکه دَخپل قصور او کوتاهۍ اقرار ئے کړے دے۔ او دا رنګ په سورة اٰل عمران ۱۷ کښ هم ذکر شوے دی۔ الْاَسْحَارِ جمع دَ سحر ده دَ شپے آخری شپږم حصے ته ویلے کیږی۔ یَسْتَغْفِرُوْنَ په دے کښ اشاره ده چه انسان هر څومره بندګی دَ الله تعالیٰ کوی لیکن پوره حق دَ بندګئ نشی ادا کولے دَ دے وجے نه دَ عام عبادت په اختتام کښ استغفار ویل سنت دی لکه هر فرض مونځ پسے درے کرته استغفار ویل او دَ مجلس په اختتام کښ کفاره دَ مجلس دَپاره استغفار ویل نو دا رنګ دَ تهجد نه روستو استغفار ویل او دا دلیل دے چه استغفار ویل تعبّد دے دا مستلزم دَګناه نه دے دَ دے وجے نه انبیاء علیهم السلام ډیر استغفار غوختلے دے۔

وَفِیْٓ اَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مخکښ صفتونه دَ احسان په حق دَ الله تعالیٰ کښ ذکر وو او دا صفت احسان دے په حق دَ مخلوق کښ او حَقٌّ عام دے که فرض او واجب وی دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه یا دے انسان په ځان باندے لازم کړے وی نو زکوٰة او صدقاتِ واجبه او احسان دَ خپل خپلوانو سره وغیره ته شامل دے لِلسَّآئِلِ وَالْمَحْرُوْمِ سائل هغه دے چه خپل حاجت خلقو ته ښکاره کوی او سوال کوی دَ وجے دَ ضرورت نه او محروم هغه دے چه خپل حاجت مخلوق ته نه ښکاره کوی او څوک دَ هغه په حال هم نه پوهیږی دَ دے دَپاره چه صدقه ورله ورکړی۔ بعضو ویلے دی چه سائل محتاج انسان ته وائی او محروم حیواناتو ته وائی او بعضو ویلے دی چه سائل صرف محتاج ته ویلے کیږی او محروم هغه دے چه مصیبت ورته رسیدلے دے او مال ئے هلاک شوے دے۔ او سائل ئے مخکښ راوړو دَ دے وجے نه چه هغه له حق ورکول آسان دی دَ وجے دَ ښکاره کولو دَ حاجت نه یا دَ دے وجے نه چه انسان مقدم دے په حیواناتو باندے او سورة معارج ۲۴ کښ لفظ دَ معلوم ذکر دے نو هلته زکوٰة مراد دے چه دَ هغے مقدار معلوم او مقرر دے او په دے سورت کښ عام مراد دے۔

۲۰ ۔ ۲۱ لس روستو دَ ذکر دَ فریقینو نه په باره دَ بعث بعد الموت کښ (ر پاتے په بل مخ)

وَفِي السَّمَآءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوعَدُونَ ﴿٢٢﴾

او په اسمان کښ ستاسو رزق دے او هغه څيز دے چه تاسو سره ئے وعده کيدے شي.

دليلونه ذکر کوي دپاره د اثبات د بعث بعد الموت چه دعوىٰ د سورت ده او دا رنګ په دے کښ اشاره ده چه صفتونه د متقينو (کوم چه مخکښ ذکر شول) هله حاصليږي کله چه انسان په دنيا او په ځان کښ فکر اوکړي ۔ اٰيٰتٌ غرونه، دريابونه، اونے، ميوے، بوټي کانړي، سوکړه او بارانونه دا ټول دليلونه دي په قدرت د بعث بعد الموت باندے سره د توحيد نه ۔ لِّلْمُوْقِنِيْنَ مراد د دے نه يقين حاصلوونکي دي يعني په اراده د يقين او د انابت سره د دے دليلونو نه فائده اخستلے شي يا مراد دا چه يقين ئے وي چه دا اٰيت الله تعالىٰ پيدا کړيدي نو هغه ترينه اثبات د بعث بعد الموت هم کولے شي.
وَفِيْٓ اَنْفُسِكُمْ مراد دا دے چه د ابتداء د خلق د انسان نه تر انتها پورے او په ټولو باطني او ظاهري اندامونو او د هغے په ساخت کښ ډير دليلونه دي په اثبات د بعث بعد الموت او د توحيد باندے ۔ د قتاده نه ابن کثير نقل کړيدي چه چا په ځان کښ فکر اوکړو نو پوهه به شي چه دے پيدا شويدے او د دهٔ پيوندونه نرم کړے شويدي دپاره د عبادت د الله تعالىٰ ۔ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ بصر او بصيرة دواړو ته شامل دے يعني په سترګو سره دے اٰيتونو ته نظر اوکړئ او په زړه کښ په دے باندے سوچ اوکړئ. په اول کښ افاقي سفلي دليلونو او په دويم کښ انفسي دليلونو ته اشاره ده.

۲۲ دا دليل علوي دے ۔ مراد د رزق نه اسباب د روزئ دي او د سماء نه مراد اوچت طرف دے يعني بارانونه او واورے هواګانے وغيره د روزئ د پيدائش دپاره اسباب دي. يا مراد دا دے چه په اسمان کښ د الله تعالىٰ سره د هر چا روزي ده لکه وَمَا مِنْ دَابَّةٍ فِي الْاَرْضِ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ رِزْقُهَا ۔ سورة هود ۶ يا مراد د دے نه تقدير د روزئ دے.
وَمَا تُوْعَدُوْنَ يعني هر خير او شر په اسمان کښ تقدير کړے شويدے يا مراد د دے نه جنت دے چه هغه په اسمان کښ د سدرة المنتهىٰ په خوا کښ دے لکه سورة نجم ۱۵ کښ دي. او کومه قصه د واصل الاحدب چه ابن کثير او قرطبي نقل کړيده نو هغه تفسير نه دے هغه يو خاص واقعه رشائد چه کرامت دے) ده د هغے ذکر کولو ته حاجت نيشته ځکه چه سره د تقدير د روزئ نه انسان مکلف دے په کسب کولو سره دپاره د روزئ.

فَوَرَبِّ السَّمَآءِ وَالۡاَرۡضِ اِنَّهٗ لَحَقٌّ مِّثۡلَ

پس قسم دے په رب دَ اسمان او زمکه باندے یقینًا دا خبره حقه ده پشان

مَاۤ اَنَّكُمۡ تَنۡطِقُوۡنَ ﴿۲۳﴾ هَلۡ اَتٰىكَ حَدِيۡثُ ع ۱۸

دَ هغه چه تاسو خبرے کوئے . یقینًا راغلے دے تا ته خبر

ضَيۡفِ اِبۡرٰهِيۡمَ الۡمُكۡرَمِيۡنَ ﴿۲۴﴾ اِذۡ دَخَلُوۡا

دَ میلمنو دَ ابراهیم علیه السلام چه عزتمند وو . کله چه داخل شو

۲۳ دا تاکید دے دَ پاره دَ اثبات دَ بعث بعد الموت او اِنَّهٗ ضمیر بعث ته راجع دے چه په دعویٰ دَ سورت (مَا تُوۡعَدُوۡنَ) کښ تیر شویدے یعنی وعده دَ قیامت دا سے یقینی ده لکه چه تاسو خبرے دَ خُلے نه راوباسئ او یقین کوئ چه دا ستاسو دَ خُلے نه راوتلے دی دا توجیه ابن کثیر کړے ده ۔ یا دا ضمیر رزق ته راجع دے یعنی کوم رزق چه انسان ته الله تعالیٰ په اسمان کښ مقرر کړے دے هغه به دے انسان ته یقینًا رارسیږی لکه چه ستاسو دَ خُلو نه خبرے او اواز راوځی او په هغے باندے دَ خلقو یقین وی چه دا دَ فلانی دَ خُلے نه راوتلے دے ځکه په نورو حواسو کښ اشتباه کیدے شی او په خبرو راوتلو کښ دَ خُلے نه هیڅ اشتباه نیشته یا دا چه لکه هر انسان خبرے بخپله ژبه سره کوی دَ بل چا په ژبه خبرے نشی کولے نو دارنګ مقرر رزق دَ هر انسان بل انسان نشی خوړلے دے به یئے خوری ۔ او دا توجیه قرطبی وغیره نقل کړے ده ۔ او دَ حسن بصری نه مرسل روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلّم فرمائیلی دی چه تباه دِ کړی الله تعالیٰ هغه قومونه چه دوی ته خپل رب قسم خوړلے دے او بیا هم دوی تصدیق نه کوی بعض مفسرینو ضمیر دَ اِنَّهٗ قرانٓ ته راجع کړیدے لیکن دغه توجیه صحیح نه ده چه په هغے کښ تمثیل دَ کلام دَ الله تعالیٰ دَ نطق دَ مخلوق سره راځی او الله تعالیٰ او دَ هغهٔ صفتونه دَ تمثیل او تشبیه دَ مخلوق نه پاک دی ۔

۲۴ دَ دے ایت نه تر اخره دَ سورت پورے دویم باب دے په دے کښ دَ تخویف دنیوی پنځه نمونے ذکر کوی دَ واقعاتو دَ سابقینو نه ۔ بیا پنځه احوال دَ یره خکته او دَ نورو خیزونو په طریقه دَ دلیل سره ذکر کوی بیا دعویٰ دَ توحید او رد دَ شرک ذکر کوی بیا زجر دے په پنځه احوالو دَ مکذبینو او تسلّی ده رپاتے په بل مخ)

عَلَيْهِ فَقَالُوْا سَلٰمًا ؕ قَالَ سَلٰمٌ ۚ قَوْمٌ مُّنْكَرُوْنَ ﴿۲۵﴾

هغه ته نو اویل ئې سلام کوؤ مونږ سلام، هغه اویل چه په تاسو دې سلام وی قوم نا اشنا دی.

رسول الله صلّی الله علیه وسلّم ته او ذکر دَ پنځه صفتونو دَ الله تعالیٰ دے په دے ۲۴ کښ ذکر دَ واقعے دَ ابراهیم علیه السلام دے او دا تمهید دے واقعے دَ لوط علیه السلام ته او دا سے په سورة هود او سورة حجر کښ هم ذکر شوې ده - او وجه دَ دے تمهید ذکر کولو یوه دا ده چه کوم ملائک دَ قوم لوط دَ اهلاک دَپاره رالیږلے شوی وُ هغه ملائک وُ چه دَ ابراهیم علیه السّلام دَ بچی دَ زیری ورکولو دَپاره هم وُ اشاره وه چه دغه ظالم قوم که چرے تباه کړے شی هیڅ پرواه مکوه دا یو بچے چه دَ الله تعالیٰ توحید دَپاره به دعوت ورکوی دَ هغه ټول قوم نه غوره دے دویمه وجه دا ده چه په یو قوم بانـدے عذاب دَ الله تعالیٰ راځی نو دَ هیڅ شخص اگرچه ابراهیم علیه السّلام وی په سفارش سره هغه عذاب نه واپس کیږی او نه دَ هغه شخص قدرت رسی چه په خپل زور سره دغه عذاب واپس کړی دریمه وجه دا چه په یو نیک شخص بانـدے دَ دُنیا خوشحالی او په ناکاره خلقو دَ الله تعالیٰ عذاب راځی نو دوی ترینه دَ مخکښ نه هیڅ خبر نه لری ناګاهه راځی. هَلْ دا په معنیٰ دَ قد سره او په استفهام سره ذکر کوی دَپاره دَ توجه ورکولو دے قصے ته. ضَيْفِ اسم جمع ده یو او ګڼړو ته شامل دے روستو صیغے دَ جمع دلیل دی چه دا ملائک ډیر وُ او ضَیف ئې ورته دَ ابراهیم علیه السّلام په ګمان سره اویل. الْمُكْرَمِيْنَ دَ دے ډیرے وجے دی یو خو دا چه دوی ملائک وُ او ملائک دَ الله تعالیٰ په نیز مکرّم دی لکه سورة انبیاء ۲۶ کښ دی دویم دا چه ابراهیم علیه السلام دَ دوی خدمت پخپله کوؤ دریم دا چه طلب ګار حرصناک دَ خوراک ته وی.

۲۵ دا متعلق دے په حدیث پورے او تفصیل دَ هغے دے. سَلٰمًا فعل حذف دے یعنی نُسَلِّمُ عَلَيْكَ سَلٰمًا.

سَلٰم یعنی عَلَيْكُمْ سَلٰم دا دواړه سلامونه دَ تحیه مسنونه دی بیا جمله اسمیه کښ دوام او استمرار وی په نسبت دَ جمله فعلیه سره نو جواب غوره شو دَ سلام نه نو معلومه شوه چه ابراهیم علیه السلام عمل کړے دے په فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا بانـدے. قَوْمٌ مُّنْكَرُوْنَ مبتدا ئې حذف دے أَنْتُمْ که هغوی ته ئې بنکاره ویلے وی یا هُمْ که دَ هغوی نه ئې پټ ویلے وی - او هر کله چه هغوی په نا اشنا

فَرَاغَ اِلٰٓی اَهْلِهٖ فَجَآءَ بِعِجْلٍ سَمِیْنٍ ﴿۲۶﴾ فَقَرَّبَهٗٓ

نو پټ روان شو کور والا ته نو را اوړوئے سخے وریت کړے شوے نو نزدے ئے کړو هغه

اِلَیْهِمْ قَالَ اَلَا تَاْكُلُوْنَ ﴿۲۷﴾ فَاَوْجَسَ مِنْهُمْ

دوی ته اوویل ئے ایا تاسو خوراک نه کوئے۔ نو په زړه کښې پټه اوساتله

خِیْفَةً قَالُوْا لَا تَخَفْ وَبَشَّرُوْهُ بِغُلٰمٍ

ویره د دوی نه دوی اوویل مه ویریږه او زیرے ئے ورکړو په هلک

شکلونو کښې داخل شوی دی او بغیر د اجازت نه ورغلے وو او سلام ئے اوکړو او حال داچه په هغه وخت کښې عام خلق د ابراهیم علیه السّلام مخالف وو هغوی په هغه بانذے سلام هم نه کوو نو د دے وجو نه منکرون ئے اوفرمائیل۔

۲۶ تا ۲۷ په دے کښې اداب د میلمستیا دی اول داچه زر پروګرام د خوراك پکار دے حرف د فا په دے بانذے دلالت کوی دوئیم میلمه ته ښکاره کول نه دی پکار چه څه ستا د پاره د خوراک انتظام کوؤم کیدلے شی چه هغه د حیا د وجے نه انکار اوکړی۔ دریم په خوراك د میلمستیا تیارولو کښې هم مناسب تادی پکار ده فَجَآءَ حرف د فا کښې دغے ته اشاره ده څلورم عمده او غوړه خوراك د طاقت مناسب پکار دے اودا تکلّف حسبِ استطاعت د میلمه د پاره سنت دے په عِجْلٍ کښې دغے ته اشاره ده او د دے وجے نه په اور بانذے وریت کړو ځکه چه په دے طریقے سره غوښه زر تیاریږی د خوراک د پاره په نسبت د پخولو سره۔

سَمِیْنٍ وریت کړے شوے لکه سورة هود ۶۹ کښې یا ئے معنی څورب دے پنځم، خوراك میلمه ته نزدے کیخودل پکار دی۔

فَقَرَّبَهٗٓ کښې دے ته اشاره ده شپږم په امر سره میلمه ته وینا نه ده پکار ځکه چه د ادب نه خلاف ده د دے وجے نه اَلَا تَاْكُلُوْنَ ئے اوفرمائیل او دا لفظ د پیش کولو د خوراک د پاره ویلے دے یا هر کله چه هغوی لاس نه نزدے کولو خوراک ته نو دا ئے ورته په طور د تپوس سره اُویل۔

عَلِيْمٍ ﴿۲۸﴾ فَاَقْبَلَتِ امْرَاَتُهٗ فِيْ صَرَّةٍ فَصَكَّتْ

علم والا۔ نو مخامخ شوه . بی بی دَ هغه په چُله دَ ملائکو کښې نو په لاس ئې او وهلو

وَجْهَهَا وَقَالَتْ عَجُوْزٌ عَقِيْمٌ ﴿۲۹﴾ قَالُوْا

مخ خپل او اوويل ئې زه بوډۍ شنډه يم ۔ دوی اوويل

س۲۸ اَوْجَسَ دا دَ زړه حالت دے یعنی په زړه کښې ئې ویره راغله او د هغې سبب په
سورة هود س۷ کښې ذکر دے قَالُوْا لَا تَخَفْ (سوال) ملائک خو دَ زړه په خبرو باندې
علم نه لری نو څه رنګ هغوی پوهه شول؟ یو جواب دا دے چه ابراهیم علیه السلام ورته
اُویل انّا منکم وجلون (حجر س۵۲) او دویم دا چه دَ علاماتو نه هم په فِراست سره
معلومیږی۔ وَبَشَّرُوْهُ بِغُلٰمٍ عَلِيْمٍ مراد دَ دے نه اسحاق علیه السلام دے۔
عَلِيْمٍ نه مراد دا دے چه دَ نبوت علم به لری او دا رنګ په سورة حجر س۵۳ کښې هم دی
سوال :۔ سورة هود س۷۱ کښې ئې نوم په بشارت کښې ذکر کړیدے او په دے دواړه
سورتونو کښې نه دے ذکر کړے ؟
جواب :۔ په سورة هود کښې بشارت دے بی بی دَ ابراهیم علیه السلام ته ځکه زنانه
تصریح دَ خبرے ته محتاج وی او په نوم دَ بچی باندے خوشحالیږی او دا رنګ
په بقا دَ نسل سره ډیره خوشحالیږی دَ دے وجے نه دَ هغې په بشارت کښې (وَمِنْ
وَّرَآءِ اِسْحٰقَ یَعْقُوْبَ) هم ذکر کړے دے او په دے دواړه سورتونو کښې بشارت
دے ابراهیم علیه السلام ته او پلار په نوم نه خوشحالیږی بلکه دَ بچی په کمال دَ
صفت باندے خوشحالیږی دَ دے وجے نه عَلِيْمٍ ئې په صفت کښې ذکر
کړیدے۔
س۲۹ معلومیږی چه بی بی صاحبه دَ پردے نه شاته ولاړه وه دَ خدمت دَ پاره
په دے خیال سره چه دا میلمانه څوک اجنبی سړی دی هر کله چه بشارت
ئې واوریدو او پوهه شوه چه دا ملائک دی نو بیا مخامخ شوه او دا سے
دَ سورة هود س۷۱ نه هم معلومیږی چه دا ولاړه وه دَ پردے نه شاته او
دَ قوم لوط دَ هلاکت زیرے ئې واوریدلو نو خوشحاله شوه نو بیا دَ ابراهیم
علیه السلام دَ بشارت نه روستو ملائکو دے بی بی ته هم بشارت ورکړو
نو بیا مخامخ راغله په ډیر تعجب کولو کښې فِيْ صَرَّةٍ یو معنیٰ دَ دے چغه وه

كَذٰلِكِ ۙ قَالَ رَبُّكِ ۭ اِنَّهٗ هُوَ الْحَكِيْمُ الْعَلِيْمُ ﴿۳۰﴾

دغسې به يې ته ، وئيلي دي رب ستا يقيناً هغه حکمتونو والا

پوهه دے په هرڅه بانــدے

دَ وجې دَ تعجب کولو نه بے اختياره بلکه معنىٰ جماعت دے نو مراد دا دے چه جماعت دَ ملائکو ته رالخامخ شوله" او صَرَّةٍ په معنىٰ دَ دريچې سره خو ما په هيڅ تفسير او لغت دَ عربئ ژبه کښ نه دے ليدلے نو دا معنىٰ مناسب نه ده"

فَصَكَّتْ وَجْهَهَا دا هم تعجب کولو په وخت کښ دَ زنانو عادت دے صَكَّةٌ په پلن څيز بانــدے وهل". مراد دَ دے نه پلنے کوتے يا ورغوے دی او وَجْهَه نه مراد دَ مخ يو طرف دے يا تنــدے دے.

وَقَالَتْ عَجُوْزٌ عَقِيْمٌ دا سبب دَ تعجب دے او دا رنګ حال دَ خاوند يې هم ذکر کړے دے په سورة هود سـ۷۲ــ کښ.

هر کله چه سورة هود کښ مخاطبه دَ ملائکو دَ بی بی سره ذکر کړے شوے ده نو دا سے شوله لکه خاوند چه غائب وی نو بی بی دَ هغه حالت ذکر کړو او په دے سورت کښ دَ دے سره مخاطبه دَ اول نه نيشته بلکه خاوند يې حاضر دے دَ هغه حال دَ بوډا والی ښکاره دے ملائکو ته.

عَقِيْمٌ دومره عمر چه پوښته عادةً دَ اولاد دَ راوړلو نه عاجز شی دے ته عقيم و يلے کيږی او دا رنګ چه دَ ابتداء نه اولاد نه وی شوے تر مرګ پورے نو هغے ته هم عقيم ويلے کيږی لکه سورة شوری سـ۵۰ــ کښ.

سـ۳۰ــ دا تسلّی ده دَ پاره دَ تعجب دَ هغے بی بی. دلته يې قَالَ رَبُّكِ اُوئيل يعنی دا بشارت قول دَ رب ستا دے او سورة هود سـ۷۳ــ کښ دے ته يې امرالله ويلے دی دَ امر اطلاق په قول بانــدے واضح دے او په لفظ امر کښ تاکيد دے نو په سورة هود کښ هم تعجب دَ بی بی په ډير تاکيد او تفصيل سره ذکر کړے وؤ نو موافقت راغے.

قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ اَيُّهَا الْمُرْسَلُوْنَ ﴿۳۱﴾

اووېل هغه څه لوئ کار دے ستاسو اے رالېږلے شوے ملائکو۔

قَالُوْٓا اِنَّآ اُرْسِلْنَآ اِلٰى قَوْمٍ مُّجْرِمِيْنَ ﴿۳۲﴾

دوی اووېل مونږ رالېږلے شوے یو قوم مجرمانو ته۔

لِنُرْسِلَ عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّنْ طِيْنٍ ﴿۳۳﴾

دے دَپاره چه را اولېږو په دوی باندے کانړی (جوړشوی) دَ خټو نه

مُّسَوَّمَةً عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُسْرِفِيْنَ ﴿۳۴﴾ فَاَخْرَجْنَا

نښاندار دی په نیز دَ رب ستا دَپاره دَ حد نه تېرېدونکو۔ نو اوویستل مونږ

۳۱ هرکله چه معلومه شوه ابراهیم علیه السلام ته چه دا ملائک دی او بشارت دَپاره خو یو شخص هم پوره وؤ او دوی په دا پسے کښ تلوار کوله نو تپوس کوی دَ هغوی دَ ګنړوالی او ډېر والی او دَ تلوارے کولو۔ خَطْب غټ او ډېر ضروری کار ته ویلے کیږی.

۳۲ ۳۳ ۳۴ په دے کښ غرض اصلی دَ هغوی دَ ارسال بیان شو چه هلاکول دَ مجرمانو دی او معلومه شوه چه زیرے ورکول دَ ځوئ دَ ابراهیم علیه السلام دَ دے په نسبت ورو کے مقصد دے. مُجْرِمِيْنَ مجرم هغه خوک دی چه ګناهونه ښکاره کوی دَ چا نه شرم او حیا نه کوی نو قوم لوط هم دا سے وؤ۔ لِنُرْسِلَ تعبیر په ارسال سره دلالت کوی په ډېر والی دَ کانړو باندے مِنْ طِيْنٍ په دے کښ اشاره ده چه په دے کانړو کښ ماده دَ اور شامله وه ځکه چه دَ خټے نه کانړے په تیز اور سره جوړیدے شی او هغے ته ئے سورة هود او حجر کښ سجّیل ویلے دے۔ او په دے کښ ذکر دَ لوئے قدرت دَ الله تعالی دے ځکه چه دَ آسمان دَ طرف نه ګلئ رچه دَ اوبو نه کانړی جوړ شوے دی) راوریګی او دَ خټو جنس هم بره نیشته نو دا عظیم قدرت دَ الله تعالیٰ دے کنه!

مُّسَوَّمَةً نښے ورباندے اشاره ده بل قدرت ته چه په اور سره نښے ورانیږی او په دے کښ خو موجود دی او غوره دا ده چه نښو باندے دَ دوی نومونه لیکلے شوے وؤ۔ عِنْدَ رَبِّكَ اشاره ده تقدیر ته او دا رنګ اشاره ده چه دے ته دَ بندګانو لاس نه دی رسیدلی. لِلْمُسْرِفِيْنَ دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت

مَنْ كَانَ فِيهَا مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۳۵﴾ فَمَا وَجَدْنَا

نو او ته منډلو مونږ هغه څوک چه په هغې کښ وو د ایمان والو نه .

فِيهَا غَيْرَ بَيْتٍ مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿۳۶﴾ وَتَرَكْنَا

او پریخودو مونږ په هغې کښ سیوا د یو کوټې د مسلمانانو نه .

فِيهَا آيَةً لِّلَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ الْعَذَابَ الْأَلِيْمَ ﴿۳۷﴾

په هغې کښ نښه د پاره د هغه خلقو چه ویره یږی د عذاب دردناک نه .

کړے شویدے چه مراد د دے نه مشرکان دی ځکه لوئے اسراف شرک کول دی او صیغه د اسم فاعل سره اشاره ده چه دوی که هلاک شوے ته وے نو هم د الله تعالیٰ په علم کښ وه چه دوی به همیشه اسراف او شرک کوی او اسراف اکثر پټ گناه ته ویلے کیږی یا چه گناه نه کنړلے کیږی. او اجرام ښکاره گناه ته ویلے کیږی نو په وخت د ارسال د ملائکو ئے اجرام ذکر کړو او په وخت د عند ربك کښ اسراف ذکر کړو.

۳۵-۳۶ فا د پاره د روستو والی ده یعنی د ملائکو د لیږلو نه روستو مؤمنانو له ئے د هغه کلی نه اُویستل او عذاب د هغې نه روستو راغے او اخراج سره ئے صفت د ایمان ذکر کړو اشاره ده چه دا علت د نجات دے. فَمَا وَجَدْنَا دا لفظ دلالت کوی په ډیره مبالغه باندے گویا چه ملائکو ډیر تفتیش اوکړو خو صرف یو کور د مسلمانانو ملاؤ شو. غَيْرَ بَيْتٍ مراد د دے نه کور د لوط علیه السلام دے د هغه ښځه هم تر دینه مستثنیٰ ده په قرینه د نورو ایاتونو سره چه (اِلَّا امرءته) باقی صرف دوه لونړه د هغه وے او هغه مسلمانانے وے لکه چه عام تفسیرونو دا روایت راوړے دے او خطیب شربینی ذکر کړے دی چه کورنئ د لوط علیه السلام ته ئے مسلمین ځکه اُویل چه دا د ابراهیم السلام ورارهٔ دے او هغه خپله کورنئ ته د مسلمانانو نوم ایښے دے. فراء بغوی په تفسیر کښ ویلے دی چه د ایمان شرعی او اسلام شرعی د یو بل سره تلازم دے اگرچه معنیٰ ئے جُدا جُدا ده نو دے ایت کښ ئے د دے دے یو کورنئ ته مؤمنان او مسلمانان اُویل او د دے تور تحقیق سورة حجرات کښ تیر شویدے.

فائده ۱- د منکرینو دوه صفتونه ئے ذکر کړے وو مجرمین ، مسرفین نو د هغوی په مقابله کښ د مؤمنانو دوه صفتونه ئے لف نشر غیر مرتب سره ذکر کړل مومنین او مسلمین.

۳۷ مراد د ایت ته نښه د عبرت ده او هغه خراب شوی (پاتے په بل مخ)

وَفِيْ مُوْسٰى إِذْ أَرْسَلْنٰهُ إِلٰى فِرْعَوْنَ بِسُلْطٰنٍ

(او نخښنه) په واقعه دَ موسیٰ علیه السلام کښ، کوم وخت چه اولیږلو مونږ دے فرعون ته په دلیل

مُّبِيْنٍ ﴿۳۸﴾ فَتَوَلّٰى بِرُكْنِهٖ وَقَالَ سٰحِرٌ أَوْ مَجْنُوْنٌ ﴿۳۹﴾

ښکاره سره۔ نو اوګرځیدلو په وجه دَ طاقت خپل او اوویل ئے جادوګر دے یا لیونے دے۔

فَأَخَذْنٰهُ وَجُنُوْدَهٗ فَنَبَذْنٰهُمْ فِي الْيَمِّ

نو اونیوو مونږ دے او لښکرے دَ دهٔ نو اوغورځول مونږ دوی په دریاب کښ

وَهُوَ مُلِيْمٌ ﴿۴۰﴾ وَفِيْ عَادٍ إِذْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الرِّيْحَ

او دے وو ملامته کوونکے دَ خپل ځان. (او نخښنه) په عادیانو کښ کله چه اولیږله مونږ په دوی باندے سیلئ

کهنډرات دَ دوی دی یا بد بویونه او یا کانړی و پښتلے شوی او دا سے په سورۃ عنکبوت ۳۵ کښ هم تیر شویدی او په هغه ایت کښ مِّنْهَا اٰيَةً بَيِّنَةً ئے ذکر کړے دے اشاره ده نښے محسوسے ته او په دے ایت کښ فِيْهَا اٰيَةً ذکر دے اشاره ده نښے معقولے ته چه په ویرے کولو سره عبرت دَ هغے نه اخستلے کیږی۔

۳۸ ۳۹ دا دویمه نمونه دَ عذاب دنیوی ذکر کوی او دا عطف دے په فِيْهَا باندے دَ ترکنا دَ لاندے دے۔ بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ مراد دَ دے نه ټول معجزات دَ موسیٰ علیه السلام دی چه فرعون ته ئے پیش کړے وو په تاویل دَ جنس سره یا مراد ترینه معجزه دَ عصا ده۔ بِرُكْنِهٖ مراد دَ دے نه قوت دَ دهٔ دَ بادشاهۍ او دَ لښکرو او دَ مال په حیثیت سره دے او با دسببیت دَ پاره ده۔ یعنی په دے سبب سره ئے تکبر او عناد اوکړو۔ یا مراد دَ دے نه قوم قبیله دَ دهٔ ده او با په معنیٰ دَ مَعَ سره ده۔ سٰحِرٌ اَوْ مَجْنُوْنٌ اَوْ په معنیٰ دَ تردّد او دَ شک سره دے یعنی دوی په دے حکم کولو کښ پخپله متردد وُو۔ یا اَوْ په معنیٰ دَ بَلْ سره دے دَ پاره دَ ترقیٔ په حکم کولو کښ۔ یا په معنیٰ دَ واو سره ځکه چه دوی دواړه حکمونه په موسیٰ علیه السلام باندے کړے وو چه ساحر دے لکه سورۃ اعراف ۱۰۹ وشعراء ۳۴ او مجنون دے لکه سورۃ شعراء ۲۷ کښ۔ ۴۰ دا ښکاره دلیل دے چه فرعون ئے هم غرق کړے دے۔ فَنَبَذْنٰهُمْ دا لفظ دلالت کوی دَ دوی په توهین باندے۔ وَهُوَ مُلِيْمٌ تخصیص دَ فرعون ئے اوکړو په ضمیر دَ هُوَ سره ځکه دے سبب وو دَ پاره دَ ګمراهۍ دَ خپلو لښکرو۔

الْعَقِيمَ ﴿۴۱﴾ مَا تَذَرُ مِن شَيْءٍ أَتَتْ عَلَيْهِ إِلَّا

شنډه (بے برکته). نه پریخودلو هغې هیڅ خیز چه راتللو په هغې باندے مګر

جَعَلَتْهُ كَالرَّمِيمِ ﴿۴۲﴾ وَفِي ثَمُودَ إِذْ قِيلَ لَهُمْ

اوګرځولو ئې هغه په شان دَ هډوکی ذرے ذرے. (او نخښه) په ثمودیانو کښې کوم وخت چه اوویلے شو دوی ته

تَمَتَّعُوا حَتَّىٰ حِينٍ ﴿۴۳﴾ فَعَتَوْا عَنْ أَمْرِ رَبِّهِمْ

مزے واخلئ ترلږ وخت پورے. نو نافرمانی ئې اوکړله دَ حکم دَ رب خپل نه

مُلِيمٌ یو معنیٰ دا چه دهٔ کارونه دَ ملامتیا کړے وُو ترمرګ پورے دویمه دا چه دهٔ په هغه وخت کښې ځان لره ملامته کوؤ یعنی توبه ئې ویستله لکه سورة یونس ۹۰ کښې تیرشویدی لیکن هغه وخت توبه نه قبلیدله. او دا لفظ چه په باره دَ یونس علیه السلام کښې په سورة صافات ۱۴۲ کښې راغلی نو مراد دا دے چه هغه ځان لره ملامته کوؤ په تسبیح ویلو او اعتراف دَ ظلم سره اګرچه ظلم عند الله نه وؤ.

۴۱ دا دریمه نمونه دَ عذاب دنیوی ذکرکوی وَفِي عَادٍ مراد دا دے چه دَ هغوی په هلاکولو کښې لوئے عبرت دے روستو خلقو لره. په أَرْسَلْنَا کښې اشاره ده ډیر والی او تیزوالی دَ سیلئ ته. الْعَقِيمَ بے خیره سیلئ هغه ده چه اونو بوټو ته او انسانانو ته هیڅ فائده نه ورکوی او هغے ته بادِ دبور ویلے کیږی لکه چه صحیح حدیث کښې وارد دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلّم فرمائیلی دی چه ما سره امداد کړے شویدے (په احزاب کښې) په بادِ صبا سره او عادیان هلاک کړے شویوو په بادِ دَ بور سره.

۴۲ په دے کښې تیزی او هیبتِ شان دَ هغه سیلئ ذکر کوی.

سوال :- دا سیلئ په غرونو کټو وغیره باندے راغلے وه لیکن هغه ئې ذرے کړے نه دی؟

جواب :- مراد دَ مِن شَيْءٍ نه هغه خیزونه دی چه الله تعالیٰ دَ هغے دَ هلاکولو اراده کړے وه یعنی بدنونه دَ عادیانو او دَ هغوی آبادئ او فصلونه وغیره او دا رنګ په احقاف ۲۵ کښې هم شته دے. الرَّمِيمِ بوټی چه اوچ شی او ذرے ذرے او سخا شی هغے ته په اصل کښې رمیم ویلے کیږی دا رنګ هغه اډوکی چه زاړه شی او خاورے شی.

۴۳ دا څلورمه نمونه دَ عذاب دنیوی ده. تَمَتَّعُوا حَتَّىٰ حِينٍ (ریاتے په بل مخ)

فَأَخَذَتْهُمُ الصّٰعِقَةُ وَهُمْ يَنْظُرُوْنَ ﴿٤٤﴾

نو اونیولو دوی لره سختے چغے او حال دا دے چه دوی کتل۔

فَمَا اسْتَطَاعُوْا مِنْ قِيَامٍ وَّمَا كَانُوْا مُنْتَصِرِيْنَ ﴿٤٥﴾

نو وس ئے او نه لرلو دَ اودریدلو او نه وو دوی بدله اخستونکی

وَقَوْمَ نُوْحٍ مِّنْ قَبْلُ ۖ إِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ﴿٤٦﴾ ع

الربع

(هلاک کړے وو مونږ) قوم دَ نوح علیه السلام دَ دوی نه مخکښ یقیناً هغوی وو قوم نافرمان۔

وَالسَّمَآءَ بَنَيْنٰهَا بِأَيْدٍ وَّإِنَّا لَمُوْسِعُوْنَ ﴿٤٧﴾

او اسمان جوړ کړیدے مونږ په طاقت سره او مونږ فراخوونکی دَ هغے یو۔

یو معنیٰ دا چه دَ نیتے دَ مرګ پورے دَ خپلو باغونو مالونو نه فائدے واخلئ او ایمان را وړئے، نو په دیکښ دعوت دے ایمان ته او دَ هغے دنیوی فائدو ته اشاره ده۔ دویمه معنیٰ دا ده چه په دوی بانـدے فیصله اوشوه چه درے ورځے روستو به په دوی بانـدے عذاب راځی لکه په سورة هود ١٥٤ کښ۔

ف٤٤ حرف دَ فا په فَعَتَوْا کښ دلالت کوی چه اوله معنیٰ غوره ده او دَ عتو (نافرمانئ) تفصیل په نورو سورتونو کښ تیر شویدے چه هغه اوښه هلاک کول او دَ صالح علیه السلام دَ قتل ارادے کول دی۔ الصّٰعِقَةُ مراد دَ دے نه سخته هیبت ناکه چغه وه چه سبب اوګرځیده دَ خوزیدلو دَ زمکے دَ پاره دَ دے وجے نه سورة اعراف کښ دَ دوی عذاب په رجفه سره او په سورة هود کښ په صیحه سره ذکر کړے دے او ذکر دَ صاعقه دَ ثمود یا تو په سورة حٰمٓ سجده ١٥٧ کښ تیر شویدے۔ يَنْظُرُوْنَ مراد دَ دے نه انتظار دے درے ورځے یا مراد دا چه دَ عذاب نښے په بدنونو دَ دوی کښ راښکاره شوے او ورته ئے کتل۔

ف٤٥ په دے کښ سخت والی دَ عذاب ته اشاره ده۔ قِيَامٍ اودریدل او تینګیدل دی یا طاقت دَ دفع کولو دے۔

ف٤٦ دا پنځمه نمونه دَ عذاب ده۔ او دَ دے فعل حذف دے یعنی اَهْلَكْنَا قَوْمَ نُوْحٍ۔ او ئے ورسره نه دے ذکر کړے ځکه چه دوی ډیر مخکښ وو دِ دے زمانه کښ دَ هغوی هیڅ مکان او نښے معلوم نه دی چه په هغے کښ نمونه دَ عبرت وی اِنَّهُمْ كَانُوْا دا ضمیر قوم دَ نوح علیه السلام یا تیر شوے ټولو قومونو مکذبینو ته راجع دے۔

ف٤٧ دَ دے ایت نه درے عقلی دلیلونه ذکر کوی په اثبات دَ بعث بعد الموت بانـدے

وَالْاَرْضَ فَرَشْنٰهَا فَنِعْمَ الْمٰهِدُوْنَ ﴿۴۸﴾ وَمِنْ

او زمکه موږ غوړولې ده نو ښهٔ غوړوونکي یو ۔ او د

كُلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ﴿۴۹﴾

هر څیز نه پیدا کړیدی موږ جوړې دې د پاره چه نصیحت قبول کړئ تاسو.

په دې ایاتونو کښې په دې کښې یو دلیل دې علوی.

(ربط) د دې نه مخکښې ایاتونو کښې نقلی دلیلونه وو نو دا عقلی دلیلونه دی. بِاَیْیدٍ دا مصدر دې په معنیٰ د قوت او د قدرت سره دا د عبدالله بن عباس رضی الله عنهما نه ابن کثیر او قرطبی روایت ذکر کړې دې او بل احتمال دا دې چه اَیْدٍ جمع د یَدٍ شی لکه سورة یٰس ۷۱ کښې دی نو دا لفظ به د متشابهات نه شی او یا حذف شوی د وقف د وجه نه. وَاِنَّا لَمُوْسِعُوْنَ د وسع نه ماخوذ دې په معنیٰ د قدرت واسعه سره دې نو دا اسم فاعل دې په معنیٰ د ذوکذا سره یعنی (ذُوْ وُسْعٍ وَّطَاقَةٍ) یا د وسعت متعدیه نه دې یعنی په مینځ د اسمان او زمکه کښې او دا رنګ الله تعالیٰ د اسمانونو په مینځ کښې ډیره فراخی پیدا کړې ده لکه چه حدیث صحیح کښې وارد دی چه د زمکې او اسمان او د یو اسمان نه تر بل اسمان پورې د پنځه پنځه سوه کالونو فاصله ده.

۴۸ دا دویم دلیل سفلی دې. فَرَشْنٰهَا یعنی زمکه داسې پیدا کړې ده چه ډیره نرمه هم نه ده او ډیره سخته هم نه ده د پاره د دې چه مخلوق ترینه فائده واخلی. فَنِعْمَ الْمٰهِدُوْنَ دا بلې فائدې ته اشاره ده یعنی انسانان پکښې ارام کوی او د ارام ځایونه هم پکښې الله تعالیٰ جوړ کړیدی.

۴۹ دا دریم دلیل دې او وسطی دې یعنی چه الله تعالیٰ قادر دې په پیدا کولو د زوجیت د څیزونو نو قادر دې په دوباره ژوندی کولو باندې او دا رنګ هر کله چه هر څیز جوړې جوړې دې نو د دنیا د پاره هم جوړې پکار ده چه اخرت دې او دا رنګ چه هر کله مخلوق ټول زوج زوج دې نو معلومه شوه چه خالق فرد او یو دې ځکه چه الله تعالیٰ د مثل نه پاک دې. وَمِنْ كُلِّ شَيْءٍ حیوانانو نباتاتو کښې او په اوصافو او احوالو کښې او رنګونو او اوقاتو کښې زوجیت دې یعنی مذکر او مؤنث غِنیٰ او فقر حسن او قبح ژوند او مرګ او تیاره رنړا پاتې په بل مخ)

فَفِرُّوْٓا اِلَى اللّٰهِ ۭ اِنِّىْ لَكُمْ مِّنْهُ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٥٠﴾

نو او تختئ الله تعالیٰ ته یقیناً زهٔ تاسو لره دَ هغه نه ویره درکوونکے یم ښکاره .

وَلَا تَجْعَلُوْا مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ ۭ اِنِّىْ لَكُمْ مِّنْهُ

او مه جوړوئ دَ الله تعالیٰ سره حقدار دَ بندګئ بل یقیناً زهٔ تاسو لره دَ هغه نه

نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿٥١﴾ كَذٰلِكَ مَآ اَتَى الَّذِيْنَ مِنْ

ویره درکوونکے یم ښکاره . دغسې نه راتلو هغه کسانو ته چه دَ

قَبْلِهِمْ مِّنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا قَالُوْا سَاحِرٌ اَوْ

دوی نه مخکښ دوُ هیڅ رسول مګر دوی ویل جادوګر دے او

او شپه ورځ ، نمر او سپوږمۍ ، صحت او بیماری ، اوچه او لونده (دریاب) سمه او غر، ګرمی او یخنی، ایمان او کفر، سعادت او شقاوت، حق او باطل، خوږ او تریخ ، اسمان او زمکه، خیر او شر، جن او انس، صبا او بیګاه ، حرکت او سکون ، ښکته او بره، ابتداء او انتها، دُنیا او اخرت وغیره .

لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ مراد دَ دے نه تذکر دَ قیامت دے او توحید دَ الله تعالیٰ په هغه طریقه چه مخکښ ذکر کړے شو .

سنہ دا نتیجه ده دَ تیر شوی نقلی او عقلی دلیلونو او دا لفظ ډیرو معانیو ته شامل دے یعنی او تختئ دَ ماسوی الله نه الله تعالیٰ طرف ته او دَ ګناهونو نه طاعت دَ الله تعالیٰ ته، او دَ طاعت دَ شیطان نه طاعت دَ الله تعالیٰ ته، او دَ جهل نه علم ته او دَ بندګئ دَ غیر الله نه بندګئ دَ الله تعالیٰ ته .

او فَفِرُّوْٓا کښ اشاره ده چه شیطانی قوتونه ډیر دی دَ هغوی نه دَ بچ کیدلو دپاره تختیدل ضروری دی په سُست رفتار باندے کار نه کیږی .

نَذِيْرٌ ویره ورکوونکے دَ قرار ته غیر الله ته ځکه چه په دے کښ عذاب دے .

سا۵ اول ایت کښ اثبات دَ توحید وو او په دے کښ نفی دَ شرک ده او دا کمال توحید دے نَذِيْرٌ اول انذار دَ عذاب دَ دنیا نه وو او دا انذار دَ عذاب دَ اخرت نه دے یا اول انذار دَ مطلق عذاب ته وو او دا انذار دَ همیشه عذاب نه دے ځکه چه مشرک دَ پاره عذاب همیشه دے .

مَجْنُوْنٌ ﴿۵۲﴾ اَتَوَاصَوْا بِهٖ ۚ بَلْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُوْنَ ﴿۵۳﴾

لیونے دے ۔ ایا دوی یو بل ته وصیت کړے دے پدے خبره باندے بلکه دوی قوم سرکش دی۔

فَتَوَلَّ عَنْهُمْ فَمَآ اَنْتَ بِمَلُوْمٍ ﴿۵۴﴾ وَّذَكِّرْ فَاِنَّ

نو مخ واړوه دَ دوی نه نو ته نهٔ ملامته کړے شوے۔ او قرآن بیان کړه یقینًا

الذِّكْرٰى تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۵۵﴾ وَمَا خَلَقْتُ

قرآن بیانول نفع ورکوی مؤمنانو ته ۔ او نه دی پیدا کړی ما

سـ۵۲ سـ۵۳ په دے ایاتونو کښ زجر دے منکرینو ته یعنی په امر (ففروا) او نهی (ولا تجعلوا) باندے دوی عمل نه کوی بلکه تکذیب کوی۔ مِنْ قَبْلِهِمْ په دے سورت کښ ذکر دَ فرعونیانو تیر شوے دے چه هغوی هم داسے تکذیب کړے وۇ۔ سَاحِرٌ اَوْ مَجْنُوْنٌ اَوْ دپاره دَ شک یا دپاره دَ تفصیل دے خو بهر صورت دَ منکرینو په تناقض او جهل باندے دلالت کوی ځکه چه مجنون ساحر نشی کیدے۔

اِشکال سوال:۔ دا دلالت کوی په حصر باندے یعنی مکذبینو سیوا دَ دے دَ دوه حکمونو نه نور هیڅ نه دی ویلے او حال دا چه هغوی خو په نورو طریقو او الفاظو سره هم تکذیب کړے دے لکه کَذَّابٌ اَشِرٌ او داسے نور؟

جواب:۔ دا دواړه لفظونه ئے په کثرت سره ویلے وو یا دا چه دا دواړه جامع دی هغه ټولو قبائحو لره چه دوی انبیاؤ ته نسبت کوۇ ځکه ساحر صفت ټولو فسادانو ته شامل دے او مجنون هغه احوالو ته عام دے چه دَ انسانیت نه پرے سرے بهر کیږی۔ اَتَوَاصَوْا بِهٖ یعنی یو شان حکم کول دَ مکذبینو دَ ټولو زمانو، یا دَ دے وجه نه دے چه دوی یو بل ته وصیت کړے دے یا دَ طغیان دَ وجه نه دے اوله خبره خو نیشته نو دویمه ثابته شوه او دا زجر شوے دے۔

سـ۵۴ سـ۵۵ دا تسلی او تشجیع ده نبی صلّی اللہ علیه وسلّم ته ۔ مراد دَ تَوَلَّ نه دا دے چه دَ دوی پرواه مه ساته که خبره منی او که نه منی فَمَآ اَنْتَ بِمَلُوْمٍ ځکه تا خپله ذمه داری ادا کړے ده او ادا کوے ئے وَذَكِّرْ په دے سره اشاره ده چه دَ تَوَلَّ نه مراد پریخودل دَ دعوت نه دی۔ تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِيْنَ یعنی دعوت او بیان کول دَ فائدے نه خالی نه دی دَ مُؤْمِنِيْنَ نه مراد هغه خلق دی چه اراده دَ ایمان لری په اعتبار دَ مَا يَؤُوْلُ اِلَيْهِ سره یا ایمان والا دی او دَ ایمان نفع رسلے په بل مخ)

الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴿٥٦﴾ مَا أُرِيدُ

پیریان او انسانان مگر دے دپارہ چه زما بندگی اوکړی۔ زۀ نه غوارم

مِنْهُمْ مِّنْ رِّزْقٍ وَّمَا أُرِيدُ أَنْ يُطْعِمُونِ ﴿٥٧﴾

دَ دوی نه هیڅ روزی (ځان دپاره) او نه غوارم چه مالهٔ خوراک راکړی۔

داده چه په قرآن سره به ئے ایمان مضبوط شی او نور احکام متعلق دَ ایمان سره به ایزده کړی۔

سے۵۶ دَ دے ربط دَ ذکّر سره دے یعنی دوی ته تذکیر دَ حکمت دَ پیدائش دَ جن او انس درکړه۔ اِلَّا لِيَعْبُدُونِ (سوال) هر کله چه عبادت دَ الله تعالیٰ په طریقه دَ توحید سره مراد شی دَ خلق جن او انس نو ډیر جن او انس خو توحید والا نه دی نو خلاف لازم شو دَ اراده دے دَ الله تعالیٰ نه نو ثابت شو مذاهب دَ معتزلو او داخلاق دے دَ ډیرو تصوصو نه؟

جواب:۔ په ډیرو طریقو سره اوله طریقه داده چه مراد دَ دے اقرار کول دی په بندگئ دَ الله تعالیٰ که په خوښه سره وی او که په زور سره وی نو کفار او مشرکین په حالت دَ کړه (زور) کښ اقرار دَ بندگئ دَ الله تعالیٰ کوی۔ دویمه طریقه داده چه مراد دَ دے نه امر کول او مکلّف کول دَ دوی دی په توحید سره او امر دوی ته شوی دے لکه په آیت دَ سورة بینه سے۵ کښ دی دریمه طریقه داچه مراد دَ جن او انس نه صرف مؤمنان دی څلورمه طریقه داده چه مراد دَ دے نه استعداد دَ دوی دے دَپاره دَ توحید فی العبادت۔

سے۵۷ په دے کښ اثبات دَ الوهیت دَ الله تعالیٰ دے چه الله تعالیٰ هیڅ قسم محتاج نه دَ او دفع دَ وهم ده، هغه داچه مخلوق چه هر کله ځان له عبید (مریان) جوړ وی نو دَ خپل اغراضو دَپاره ئے جوړوی نو الله تعالیٰ او فرمائیل چه ما دَ خپل هیڅ غرض او فائدے دَپاره نه دی پیدا کړی۔ مِنْ رِّزْقٍ یعنی رزق گټل او کسبونه دَ بندگانو دَ ځان دَپاره دی پیدا کښ الله تعالیٰ دَ ځان دَپاره هیڅ فائده غرض او مقصد نه دے گرځولے او دار نګ مقصد اصلی دَ خلقت رزق گټل نه دی بلکه دا خو صرف ذریعه او وسیله ده دَپاره دَ بندگئ کولو۔ اَنْ يُطْعِمُونِ دَ دے سره ئے مستقل مَا أُرِيدُ دَ دے وجے ذکر کړو چه مولیٰ کله مرئے صرف دَ خپل خدمت دَپاره مقرر کړے وی دَ هغه کسب کول ئے مراد نه وی نو الله تعالیٰ دا مقصد هم دَ ځان نه

إِنَّ اللَّهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ ﴿٥٨﴾ فَإِنَّ

يقيناً الله تعالیٰ خاص هغه روزي ورکوونکے دے خاوند دَ طاقت مضبوط دے. نو يقيناً

لِلَّذِينَ ظَلَمُوا ذَنُوبًا مِّثْلَ ذَنُوبِ أَصْحَابِهِمْ

هغه کسانو لره چه ظلم ئے کړيدے برخے دَ عذاب دي پشان دَ برخے دَ عذاب دَ ملګرو دَ دوي

فَلَا يَسْتَعْجِلُونِ ﴿٥٩﴾ فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ كَفَرُوا

نو دوي دِے په تادۓ سره نه غواړي. نو تباهي ده هغه کسانو لره چه کفر ئے کړيدے

مِن يَوْمِهِمُ الَّذِي يُوعَدُونَ ﴿٦٠﴾ ع

دَ وجے دَ هغه ورځے دَ دوي نه چه دوي سره ئے وعده کيدۀ شي.

مستقلاً نفي کړو. نو دا ښکاره دليل دے چه الله تعالیٰ مخلوق ته دَ بندګۍ حکم دَ خپل غرض دَ پاره نه دے ورکړے بلکه دَ مخلوق فائده ده يعني اجر دَ دنيا وَ اخرت حاصلول او دَ عذاب نه بچ کيدل.

ف۵۸ هر کله چه بعض مولکان دَ خپلو مريانو نه خدمت نه اخلي نو روزي هم نه ورکوي نو الله تعالیٰ دا وهم هم دفع کړو پدے قول سره چه إِنَّ اللَّهَ هُوَ الرَّزَّاقُ صيغه دَ مبالغے کښ اشاره ده چه هر قسم او هر وخت او هر چاله روزي ورکوونکے او پيدا کوونکے دے. ذُو الْقُوَّةِ په دے لفظ کښ اشاره ده چه الله تعالیٰ مخلوق ته په روزۓ ورکولو کښ دَ هيڅ چا مدد کولو ته محتاج نه دے او لفظ دَ ذُو دلالت کوي په ښکاره کولو دَ قوت باندے الْمَتِينُ پدے کښ اشاره ده چه په قوت دَ الله تعالیٰ کښ هيڅ قسم کمزوري نه راځي.

ف۵۹ دا تخويف دنيوي دے. يعني هر کله چه ذکر شو حکمت دَ پيدائش دَ جن او انس او ذکر شو قوت دَ الله تعالیٰ نو دا سبب دے دَ پار دَ سزا دَ ظالمانو هغه چه دَ حکمت دَ پيدائش نه ئے خلاف کړيدے. ذَنُوبًا په اصل کښ هغه بوقے ته ويلے کيږي چه ډکه وي دَ اوبو نه دا رنګ هغه ورځ دَ شر ته ويلے کيږي چه ډيره اوګده وي دلته مراد ترې برخه دَ عذاب ده مِثْلَ ذَنُوبِ أَصْحَابِهِمْ مراد دَدے نه هغه قومونه دَ مکذبينو دي چه په دے سورت کښ دَ هغوي دَ عذابو نو ذکر شو يدے نو په دے کښ عذاب دنيوي مراد دے.

ف۶۰ مراد دَ يَوْمِهِمُ الَّذِي يُوعَدُونَ نه ورځ دَ عذاب دنيوي ده نو فا په فويل کښ دَ سببيت دَ پاره ده يعني دغه برخے دَ عذاب سبب دے دَ پاره دَ هلاکت دَ دوي. يا مراد دَ يَوْمِهِمُ نه ورځ دَ قيامت ده او فا دَ پاره دَ عطف ده يعني روستو دَ عذاب دَ دنيا نه عذاب دَ ورځ دَ قيامت دے.

ختم شو تفسير دَ سورة ذاريات په فضل دَ ربِّ موجودات.

سُوْرَةُ الطُّوْرِ ٥٢ مَكِّيَّةٌ ٧٦	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰيَاتُهَا ٤٩ رُكُوْعَاتُهَا ٢

وَالطُّوْرِ ﴿١﴾ وَكِتٰبٍ مَّسْطُوْرٍ ﴿٢﴾ فِيْ رَقٍّ مَّنْشُوْرٍ ﴿٣﴾

قسم دے په طور باندے، او په کتاب لیکلے شوی په پاڼړو خورو وروکښ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة الطور.

ربط دَ دے سورت دَ ماقبل سره په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه داده چه په سورة ذاریات کښ خبر ورکول وو په صدق دَ وعدے او واقع کیدل دَ جزاء وو نو په دے سورت کښ یو صورت دَ جزا ئے ذکر کړے دے چه هغه عذاب دے دویمه وجه داده چه هلته کښ افتتان په اور باندے ذکر کړے وو نو په دے سورت کښ مصیبتونه دَ اور ذکر کوی. دریمه وجه داده په هغه سورت کښ اجمالی بشارت وو متقیانو ته او په دے کښ تفصیلی بشارت دے. څلورمه وجه داده په هغه سورت کښ مختصر زجر ذکر کړے وو او په دے سورت کښ زجرونه په کثرت سره ذکر کړے دی.

دعویٰ دَ سورت اثبات دَ قیامت دے په ذکر دَ وقوع دَ عذاب سره. او بیان دَ توحید هم دے په رد دَ شرک فی الدعا او اتخاذ دَ ولد سره په ۲۸ ۳۹ ۴۳ ۴۶ ۴۷ کښ.

خلاصه دَ سورت داده چه دا سورت تقسیم دے دوه بابونو ته اول باب تر ۲۹ پورے دے په دے کښ پنځه شواهد دی په دعوی دَ سورت باندے بیا دعویٰ ئے ذکر کړے ده بیا تخویف اخروی دے په تهه طریقو سره بیا بشارت تفصیلیه دے په اتلس وجوهو سره، سرهٔ دَ ذکر دَ سبب دَ دخولِ جنت ته په ۲۸ کښ.

تفسیر ۱ نه تر ۶ دا ټول قَسَمونه دی په طریقه دَ شهادت دَ پاره دَ اثبات دَ دعوے چه وروستو ذکر کړے شویده. الطُّوْرِ هر هغه غرته ویلے کیږی چه اونے او بوټی پکښ وی او مشهور دے په دے نوم سره هغه غرچه موسیٰ علیه السّلام سره الله تعالیٰ کلام کړے وو دَ هغې په خواکښ. او دَ هغې په خواکښ په اودیا کسانو باندے عذاب راغلے وو دَ وجے دَ بے ادبے کولو نه دَ دے وجے په شهادت دَ عذاب کښ ذکر کیږی او مشرکینِ عرب په تقلید دَ اهلِ کتابو کښ دَ دے واقعاتو

وَّالْبَيْتِ الْمَعْمُوْرِ ﴿٤﴾ وَالسَّقْفِ الْمَرْفُوْعِ ﴿٥﴾

او په کور آبادکړے شوی باندے، او په چت پورته کړے شوی باندے.

وَالْبَحْرِ الْمَسْجُوْرِ ﴿٦﴾ اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ

او په سمندر ډک کړے شوی باندے چه یقینًا عذاب دَ رب ستا

او دَ طور دَ شرافت قائل وو. وَكِتَابٍ مَّسْطُوْرٍ فِيْ رَقٍّ مَّنْشُوْرٍ. غوره داده چه مراد دَ دے نه تورات دے چه په تختو کښ لیکلے شوے موسٰی علیه السّلام ته ورکړے شویوؤ لکه په سورة اعراف ۱۴۵ کښ تیر شویدی فِيْ رَقٍّ هغه ترۓ څرمن او کاغذ چه په هغے باندے لیکل کیدے شی او مَنْشُوْرٍ دلالت کوی چه هغه خورے ریعنی اوګسے او پلنې تختے وے. او په کتاب دَ موسٰی علیه السّلام کښ په اقوام مکذبه مخکنو باندے او په بنی اسرائیلو باندے دَ نزول دَ عذاب ډیر ذکر دے، دَ دے وجے نه دَ عذاب په شهادت کښ ذکر کیږی. وَالْبَيْتِ الْمَعْمُوْرِ په حدیث دَ معراج کښ ذکر شویدی چه په اُوم آسمان کښ رسول الله صلّی الله علیه وسلّم ته بیت المعمور ښکاره کړے شو چه هره ورځ هغے ته اویا زره ملائیک داخلیږی او بیا دوباره دَ هغوی نمبر نه دے راغلے. نو هغه آباد دے په طوافونو او عبادتونو دَ ملائکو سره. او دَ هغے سره ملائک دَ مؤمنانو دَ پاره دَ عذاب نه دَ بچ کیدلو دَ پاره دُعا ګانے هم غواړی لکه سورة مؤمن ۷ کښ دی دَ دے وجے نه په شهادت دَ عذاب کښ ذکر کیږی یا مراد دَ دے نه کعبة الله ده چه هغه هم په حاجیانو او عمره کوؤنکو سره همیشه آباده ده او ابراهیم علیه السّلام دَ هغے تعمیر کړیدے او دَ هغے په خوا کښ په اصحاب فیل باندے عذاب راغلے وؤ دَ دے وجے په شهادت دَ عذاب کښ ذکر کیدے شی. وَالسَّقْفِ الْمَرْفُوْعِ مراد دَ دے نه آسمان دے په قرینه دَ سورة الانبیاء ۳۲. او دَ آسمان دَ طرف نه ډیر عذابونه په منکرینو باندے راغلی دی دَ دے وجے نه ئے په شهادت کښ ذکر کړے دے. وَالْبَحْرِ په دریاب او طوفان کښ قوم فرعون او قوم دَ نوح علیه السلام هلاک شویدی نو دا هم شهادت دے په عذاب باندے. الْمَسْجُوْرِ په معنٰی دَ ډک سره او په معنٰی دَ بل کړے شوی په اور سره یعنی دَ قیامت په ورځ به وریاندے اور بل شی لکه سورة تکویر ۶ کښ نو دَ اوبو نه به خالی شی. او په معنٰی دَ خالی کړے شوی سره هم راځی. او په معنٰی دَ بند کړے شوے دَ مخ دَ زمکے نه چه په ټوله زمکه باندے خور نه شی دا ټولے معانی ابن کثیر او قرطبی ذکر کړے دی.

لَوَاقِعٌ ﴿٧﴾ مَّا لَهُ مِن دَافِعٍ ﴿٨﴾ يَوْمَ تَمُورُ السَّمَاءُ

ضرور واقع کیږی، نیشته هغه لره هیڅ دفع کوونکے ، په هغه ورځ چه اوبه چورلی اسمان

مَوْرًا ﴿٩﴾ وَتَسِيرُ الْجِبَالُ سَيْرًا ﴿١٠﴾ فَوَيْلٌ

په چورلیدلو، او روان به شی غرونه په روانیدلو . نو تباهی ده

يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿١١﴾ الَّذِينَ هُمْ فِي

په دغه ورځ تکذیب کوونکو لره ، هغه کسان چه دوی دی په

خَوْضٍ يَلْعَبُونَ ﴿١٢﴾ يَوْمَ يُدَعُّونَ إِلَىٰ نَارِ

باطله مشغوله کښی لوبے کوی . په هغه ورځ به په دیکو بوتللے شی اور د

وقف لازم

ف ۸ داجواب دَ قسم دے او دَ قسم او جواب په مینځ کښی مناسبت مخکښی بیان شو هغه دا چه په دے ټولو کښی دَ عذاب واقعاتو ته اشاره ده۔ مَا لَهُ مِن دَافِعٍ یعنی تیر شوی عذابونه هیچا نه دی دفع کړی نو دَ دے نه روستو هم دفع کولے نشی لکه چه په سورة معارج ف ۱ ف ۲ کښی راغلے دی مفسرینو لیکلی دی چه دا آیاتونه دَ جبیر بن مطعم رض دَ ایمان راوړلو دَ پاره سبب اوګرځیدل او ابن کثیر لیکلی دی چه دَ دے په اوریدلو سره عمر رضی الله عنه دا سے غم زده شو چه شل ورځے یا یو میاشت ئے خلقو بیمار پُرسی کوله۔

ف ۹ ف ۱۰ په دیکښی وخت دَ وقوع دَ عذاب ذکر کړے دے یعنی ورځ دَ قیامت. او دَ هغه ورځ هیبتونه ذکر کوی دَ آسمان او دَ غرونو حالات. تَمُورُ السَّمَاءُ مَوْرًا په لغت دَ عرب کښی مَوْرٌ تلو راتلو، اوګرځیدل اوچورلیدل دَ جرندے پشان دے ټولو معانیو ته شامل دے او دلته هم ټولے معانی صحیح دی او حال دَ غرونو په سَيْرًا سره ذکر دے یعنی دَ مخ دَ زمکے نه به روان کړے شی لکه سورة تکویر ف ۳ کښی دی.

ف ۱۱ ف ۱۲ په دے کښی ذکر دَ مستحقینو دَ عذاب دے او دَ عذاب دوه اسباب ذکر کوی۔ حرف دَ فَا دلالت کوی په شرط مقدر باندے یعنی هرکله چه دغه حالات راشی نو هلاکت دَ مکذبینو به شوروشی۔ خَوْضٍ دا سبب سورة مدثر ف ۴۵ کښی هم ذکر کړے دے مراد دَ دے نه په باطل بحثونو کښی مشغولیدل او په دین باندے اعتراضونو او طعنو ته کول دی لکه چه دَ دهریانو او غټو فاسقانو مجلسونه وی.

جَهَنَّمَ دَعًّا ﴿۱۳﴾ هٰذِهِ النَّارُ الَّتِي كُنْتُمْ بِهَا

دَ جهنم ته په ډيکو ديکو. (او به ويلے شی) دا هغه اُور دے چه تاسو وُ ئے دَ دے

تُكَذِّبُونَ ﴿۱۴﴾ أَفَسِحْرٌ هٰذَا أَمْ أَنْتُمْ لَا

تکذيب کوؤنکی . آيا نو دا جادو دے يا تاسو هيڅ

تُبْصِرُونَ ﴿۱۵﴾ اِصْلَوْهَا فَاصْبِرُوا أَوْ لَا تَصْبِرُوا سَوَاءٌ

نه وينئ . ورننوځئ اُور ته که صبر کوئ او که نه کوئ برابره خبره ده

عَلَيْكُمْ إِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿۱۶﴾

په تاسو باندے يقيناً بدلے درکيدلے شی تاسو ته دَ هغه عملونو چه تاسو کول .

يَلْعَبُوْنَ يعنی دا بحثونه دَ حق معلومولو او دَ تحقيق دَ پاره نه کوی بلکه دَ لوبو کولو په طريقه صرف وخت تيروی ـ

سے ۱۳ سے ۱۴ دا يَوْمَ بدل دے دَ يَوْمَ تَمُوْرُ يا دَ يَوْمَئِذٍ نه دا دَ هغه ورځے نور هيبتونه ذکر کوی ـ يُدَعُّوْنَ يعنی اور ته به ئے په زور باندے او په ډيکو ورکولو سره داخلوی ـ كُنْتُمْ بِهَا په دے کښ اشاره ده دوام تکذيب ته ـ

سے ۱۵ سے ۱۶ دَ دے نه وړاندے يَقُوْلُ الْمَلٰٓئِكَةُ پټ دے ملائک دَ جهنم به ورته اُوائی ـ

أَفَسِحْرٌ، دا ډيره زورنه ده ـ يعنی تاسو به په دنيا کښ معجزاتو الٰهيو په باره کښ ويل چه دا سحر دے او کله به موخيال کوو چه دا نظر بندی ده نو آيا نن هم دَ اور په باره کښ ستاسو دا خيال دے ـ

يا أَمْ أَنْتُمْ لَا تُبْصِرُوْنَ أَمْ په معنیٰ دَ بَلْ سره دے او دا حکايت دَ حال دَ دنيا دے چه تاسو په دنيا کښ دَ بصيرت او پوهے نه کار نه اغستلو ـ

سَوَآءٌ عَلَيْكُمْ لکه چه سورة ابراهيم سے ۲۱ کښ تير شويدی ـ

إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّٰتٍ وَنَعِيمٍ ﴿١٧﴾ فَٰكِهِينَ

یقینًا متقیان به په باغونو او نعمتونو کښې وی، خوشحالی به کوی

بِمَآ ءَاتَىٰهُمْ رَبُّهُمْ وَوَقَىٰهُمْ رَبُّهُمْ عَذَابَ

په هغه نعمتونو چه ورکړیدی دوی ته رب دَ دوی او بچ ساتلی دی دوی رب دَ دوی دَ عذاب

الْجَحِيمِ ﴿١٨﴾ كُلُوا۟ وَٱشْرَبُوا۟ هَنِيٓـًٔۢا بِمَا كُنتُمْ

دَ جهنم نه۔ خورئ او څښئ په خوشحالئ سره په سبب دَ هغه عملونو

تَعْمَلُونَ ﴿١٩﴾ مُتَّكِـِٔينَ عَلَىٰ سُرُرٍ مَّصْفُوفَةٍ

چه تاسو کول، تکیه به یئ وهلی وی په کټونو باندے چه صف په صف به پراته وی

وَزَوَّجْنَٰهُم بِحُورٍ عِينٍ ﴿٢٠﴾ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟

او جوړے به ورکړو مونږ دی به دَ دوی سره حورے ښائسته سترګو والا۔ او هغه کسان چه ایمان ئې راوړے دے

۱۷ تا ۱۸ دَ دے نه تفصیلی بشارت دَ متقیتو دَ پاره شورو شو په دے دواړه آیاتونو کښې په خلور ځیزونو سره زیرے دے۔ فَٰكِهِينَ په معنیٰ دَ مُتَفَكِّهِينَ دے یعنی "مزے اغستونکی به وی" او قرطبی ویلی دی چه فَٰكِهِينَ په معنیٰ دَ "خاوندان دَ ډیرو میوو به وی" دے یعنی دا فاعل ذوکتا دے لکه تامِرٌ او لابِنٌ پشان۔

وَوَقَٰهُمْ دا مستقل نعمت دے یعنی جنت ته دَ ابتدا نه داخل شول او دَ اور نه بالکل بچ ساتلے شویدی۔ رَبُّهُمْ اشاره ده چه بچ کیدل دَ وجے دَ احسان دَ الله تعالیٰ نه دی په عمل سره نه دی۔

۱۹ تا ۲۰ په دے آیاتونو کښې په ظاهری محسوسی نعمتونو سره زیرے ذکر کوی هَنِيٓـًٔۢا دا دَ خوراك ښناك دواړو سره تعلق لری لیکن ښنکل اکثر تابع دَ خوراك وی دَ دے وجے نه یو کرت ئې ذکر کړے دے مراد دَ دے نه دا دے چه خوراك ښناك کښې به هیڅ نقصان یا مرض او آفت نه وی۔

وَزَوَّجْنَٰهُم لکه چه سورة فرقان ۵۴ کښې تیر شویدی۔

وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُم بِإِيمَانٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ

او تابعداري کړې ده د دوی بچو د دوی په ایمان سره یو ځائے به کړو مونږ د دوی سره

ذُرِّيَّتَهُمْ وَمَا أَلَتْنَاهُم مِّنْ عَمَلِهِم مِّن

بچي د دوی او نه به ئې کمې کړو مونږ د عملونو د دوی نه هیڅ

شَيْءٍ ۚ كُلُّ امْرِئٍ بِمَا كَسَبَ رَهِينٌ ﴿٢١﴾

څیز هر سړے به د هغه عمل چه کړے وی انتظار کوونکے وی.

وَأَمْدَدْنَاهُم بِفَاكِهَةٍ وَلَحْمٍ مِّمَّا يَشْتَهُونَ ﴿٢٢﴾

او زیاتوو مونږ دوی لره میوے او غوښے د هغه قسم نه چه دوی ئې اشتها لری.

۲۱ په دے کښې زیرے دے په نورو طریقو سره. بِإِيمَانٍ مراد د ذُرِّيَّةٌ نه عام دے
واړه بچی وی او که بالغ وی که واړه وی نو مراد د ایمان ایمانِ تبعی دے یعنی د مور او پلار د ایمان
د وجے نه دوی هم مؤمنان دی او که بالغ وی نو مراد د ایمان نه ایمان تکلیفی او اختیاری
دے یعنی اگرچه دا اولاد په عمل کولو کښې د پلارانو نه کم دی لیکن د پلارانو . د
خوشحالۍ د پاره به د هغوی سره په جنت کښې یو ځائے کړے شی . او سراج المنیر کښې
ذکر کړے دی چه ذریة لفظ د اولاد نه عام دے اباؤ او اولاد او تابعداری کوونکو
ملگرو شاګردانو دِے ټولو ته شامل دے په دے دلیل د "اَلْمَرْءُ مَعَ مَنْ اَحَبَّ" سره
وَمَا اَلَتْنَاهُمْ په دے سره وهم دفع کوی چه کیدیشی چه د پلارانو درجه به کوزه
کړے شی تو اولاد به ورسره یو ځائے کړے شی نو جواب اوشو چه معامله به برعکس وی
د پلارانو په جزا کښې به هیڅ نقصان نه راولی. کُلُّ امْرِئٍ په دے کښې جواب د وهم دے
هغه دا دے لکه چه د پلار د نیک عمل په وجه سره اولاد ته فائده او رسیدله نو کیدے
شی چه د پلار د گناه په وجه یا د اولاد د گناه په وجه سره یو بل ته نقصان اورسی نو جواب
اوشو چه بد عمل د هر نفس ځان له دے. بیا دا جمله عامه ده هر نیک او بد عمل ته شامل
ده او رَهِينٌ عام دے په معنیٰ د انتظار کوونکے د جزاءِ خیر یا جزاءِ شر یا مراد د دے
نه صرف مشرکان او گناه ګار دی په قرینه د سورة مدثر ۳۸ سره چه په هغې کښې
د اصحاب الیمین استثناء ذکر کرده.

۲۲ په دیکښې بشارت په بله طریقه سره دے او دفع د وهم ده (پاتے په بل مخ)

يَتَنَازَعُوْنَ فِيْهَا كَاْسًا لَّا لَغْوٌ فِيْهَا وَلَا تَاْثِيْمٌ ﴿۲۳﴾

راخلی به دَ یو بل نه په هغې کښې کاسې دَکې نه به وی بې فائدې خبرې په هغې کښې او نه ګناه.

وَيَطُوْفُ عَلَيْهِمْ غِلْمَانٌ لَّهُمْ كَاَنَّهُمْ

او ځي راځي به دَ دوی دَ خدمت دَ پاره هلکان دَ دوی ګویا که دوی

لُؤْلُؤٌ مَّكْنُوْنٌ ﴿۲۴﴾ وَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ

ملغلرې پټې ساتلې شوې دی. او مخامخ به شی بعضې دَ دوی په بعضو باندې

وهم دادے چه هرکله اولادئې ورسره یوځائے کړل نو کیدے شی چه دَ هغوی دَ وجے نه په نعمتونو کښې کمے راشی نو جواب اوشو چه وخت په خوراکونه زیاتیږی او په دے کښې ترتیب پشان دَ سورة واقعه دے چه په ۲۰ ۲۱ کښې راغلے دی یعنی اول میوے او بیا غوښې په خلاف دَ ترتیب دَ دُنیا نه او وجه دا ده چه په جنت کښې خوراک دَ غوښے هم دَ تفکّه او دَ مزے دَ پاره دے نه دَ لوګے دَ وجے نه.

۲۳ يَتَنَازَعُوْنَ تنازع په اصل کښې دَ یو بل نه خیز رابښکل دی مراد دَ دے نه یو بل ته ورکول دی لیکن رابښکل هم رابښکل دَ مزے او خوشطبعې دی دَ حرص او دَ جګړے په طریقه سره نه دی. كَاْسًا هغه لوښے دے چه ډک وی، چه تش وی نو هغې ته کاس نه ویلے کیږی. لَا لَغْوٌ فِيْهَا دا ضمیر راجع دے جنت ته یا راجع دے کأس ته ځکه هغه مؤنث او مذکر دواړه مستعملیږی یا راجع دے تنازع ته په تأویل دَ حالت. لَغْوٌ هغه کلام دے چه هیڅ فائده پکښې نه وی اګرچه نقصان هم پکښې بل چاته نه وی تَاْثِيْمٌ هغه کلام دے چه په هغې کښې ګناه وی لکه چه دَ دنیا په شرابو څښلو سره نشه راځی او بیا کنځل او فحش کارونه کوی دا سے به دَ جنت په مشروباتو کښې نه وی. او تأثیم تشے ته هم ویلے کیږی.

۲۴ هرکله چه خوراک او څښاک ذکر شول نو اوس دَ هغې دَ پاره دَ خادمانو ذکر کوی او سورة واقعه ۱۷ او سورة دهر ۱۹ کښې وِلْدَانٌ ذکر کړے دی. نو هلته مراد دَ دوی اولاد دے چه دَ دوی سره به په جنت کښې وی او دَ دوی په خوا کښې به هر وخت ګرځی او دلته مراد خدمتګاران دی چه دا به په جنت کښې پیدا شوی وی لکه دَ حورو پشان یا دا چه غلمان ئې ورته اُویل په اعتبار دَ خدمت کولو او ولدان ئې ورته اُویل په اعتبار دَ نابالغ کیدلو سره. لَهُمْ کښې اشاره ده چه

يَّتَسَآءَلُوْنَ ﴿۲۵﴾ قَالُوْٓا اِنَّا كُنَّا قَبْلُ فِيْٓ اَهْلِنَا

تپوسونه به کوی دَ یو بل نه۔ وائی به دوی یقینًا مونږ وُ دے نه مخکښ پخپله کورنئ کښ

مُشْفِقِيْنَ ﴿۲٦﴾ فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَيْنَا وَوَقٰىنَا عَذَابَ

ویره کوونکی وُ دَ الله تعالیٰ نه۔ نو احسان اوکړو الله تعالیٰ په مونږ باندے او بچ ئے کړو مونږه دَ عذاب

السَّمُوْمِ ﴿۲۷﴾ اِنَّا كُنَّا مِنْ قَبْلُ نَدْعُوْهُ ؕ اِنَّهٗ

دَ ګرمے هوا نه۔ یقینًا مونږ دَ دے نه مخکښ وُ چه الله تعالیٰ ته به مو دعا غوختله یقینًا هغه

هُوَ الْبَرُّ الرَّحِيْمُ ﴿۲۸﴾ فَذَكِّرْ فَمَآ اَنْتَ

ډیر احسان کوونکے رحم کوونکے دے۔ نو بیان کړه قرآن نه ئے ته

هرچا پورے به خپل غلامان خاص وی. مَكْنُوْنٌ چه په صدف کښ پټه وی یا په جنت کښ محفوظ ساتلے شوی وی او هرکله چه دَ خادمانو دا سے حال دے نو دَ مخدومانو حال خو به دَ دے نه اوچت وی۔

۲۵ دا بشارت دے په بله طریقه سره یعنی په کوم سبب سره چه جنت ته راؤ رسیدل په هغے باندے خوشحالی کوی۔ يَتَسَآءَلُوْنَ مراد دا چه څه سبب دے چه دا نعمتونه دَ جنت مونږ ته حاصل شول یا دا چه دَ دنیا دَ سترړیوالی او عملونو دَ یو بل نه تپوسونه کوی لکه چه سورة صافات سنه کښ تیر شوی دی۔

۲٦ دا حاصل دَ جواب دَ ټولو دے فِيْٓ اَهْلِنَا اشاره ده چه سرهٔ دَ دے نه چه دَ اهلِ وعیال په شغل کښ نورو خلقو دَ الله تعالیٰ دَ عذاب نه غفلت کوؤ لیکن هغه شغل زمونږ دَ پاره سبب دَ غفلت نه دے ګرځیدلے۔ مشفقین اشفاق هغه ویره ده چه سرهٔ دَ رغبت او دَ مینے نه وی یعنی هم ویره او هم امید ساتل۔

۲۷ فَمَنَّ اللّٰهُ مراد دَ دے نه توفیق دَ هدایت دے په دنیا کښ یا جنت او مغفرة مراد دے په آخرت کښ۔ السَّمُوْمِ هغه ګرمه هوا چه دَ بدن په مسامانو کښ ورننوځی او دلته مراد ګرمه هوا دَ جهنم ده۔

۲۸ دا علت دے دَ وَقٰىنَا دَ پاره یعنی دَ عذاب دَ جهنم نه بچ کیدل په دے سبب سره وُ چه مونږ الله تعالیٰ ته به عاجزی کوله او په دُعا کولو کښ مو شرك نه دے کړے اَلْبَرُّ هغه ذات چه بخشش او انعام دَ هغه ډیر فراخه دے۔

بِنِعۡمَتِ رَبِّكَ بِكَاهِنٍ وَّلَا مَجۡنُوۡنٍ ﴿۲۹﴾

په نعمت دَ رب ستا سره ته ویتی او نه لیونے.

اَمۡ يَقُوۡلُوۡنَ شَاعِرٌ نَّتَرَبَّصُ بِهٖ رَيۡبَ الۡمَنُوۡنِ ﴿۳۰﴾

آیا دوی وائی دے شاعر دے انتظار کوؤ مونږ په ده باندے دَ حادثے دَ مرګ.

۲۹ دَ دے ایت نه دویم باب دے تر اخر دَ سورت پورے. په دے کښ تسلی او تشجیع ده رسول الله صلی الله علیه وسلم ته بیا پنځلس زجرونه دی په انکار دَ رسول او په انکار دَ قرآن او په شرك کولو باندے. او تخویف دنیوی دے په ۴۷ کښ او بیا تسلی او امر دے دعوت کوؤنکی ته سره دَ ذکر دَ توحید نه په آخری درے آیاتونو کښ.
په دے ۲۹ کښ ترغیب دے په بیان کولو دَ قرآن سره. فَذَكِّرۡ. فاء راوړل اشاره ده چه هر کله دَ متقیانو دَ بحث نه معلومه شوه چه دَ قرآن نه فائده اغستونکی خلق شته دے نو که یل طرف نه خلق تا ته کاهن او مجنون وائی خو دَ هغوی دَ وجے بیان دَ قرآن مه پریږده او په دے ایت کښ اثبات دَ صداقت دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دے. بِنِعۡمَتِ رَبِّكَ قرآن نازلول په نبی باندے خاص نعمت دے.
كَاهِنٍ هغه دے چه دعوے دَ علم دَ غیبو کوی او اکثر دروغ وی او مجنون هغه دے چه بے نظمه او بے فائدے خبرے کوی یعنی په کلام دَ نبی کښ دروغ نیشته او دعویٰ دَ علم غیب هم نه کوی او ګډے وډے خبرے هم نه کوی.
۳۰ دا زجر دے منکرینو دَ رسول ته او اَمۡ په کلام دَ عربو کښ استعمالیږی دَ پاره دَ انتقال دَ یو خبرے نه بلے خبرے ته او ور سره زور نه هم وی. او دَ خلیل نه روایت دے چه په سورة طور کښ ام دَ استفهام (دَ زورنے) دے عطف نه دے.
رَيۡبَ الۡمَنُوۡنِ. مَنُوۡن زمانے او شپه او ورځ ته ویلے کیږی ځکه چه دَ انسان عمر کم وی او کمزورے کوی او مرګ ته هم ویلے کیږی. او ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دے چه ریب په قرآن کښ په نورو ځایونو کښ په معنیٰ دَ شک سره دے او په دے ځائے کښ په معنیٰ دَ حوادثو سره دے چه هغه هم دَ شک په شان په ځائے نه تینګیږی او انسان لره پریشان کوی. او دوی دا دَ دے وجے نه ویل چه دَ شاعر نه به دوی ویره کوله هسے چه په شعرونو جوړولو زمونږ بدنامی اوکړی نو دَ هغه مرګ به یئے غوښتلو چه دَ ده نه به په مرګ سره خلاصے مومو.

قُلْ تَرَبَّصُوا فَإِنِّي مَعَكُم مِّنَ الْمُتَرَبِّصِينَ ﴿۳۱﴾

ته اوايه انتظار كوئے يقيناً زهٔ تاسو سره دَ انتظار كوؤنكو نه يم .

أَمْ تَأْمُرُهُمْ أَحْلَامُهُم بِهَٰذَا أَمْ هُمْ قَوْمٌ

اٰيا حكم كوی دوی ته عقلونه دَ دوی پهٔ دے باندے بلكه دوی قوم

طَاغُونَ ﴿۳۲﴾ أَمْ يَقُولُونَ تَقَوَّلَهُ بَل لَّا

سركشان دی - اٰيا دوی وائی دَ ځان نه ئے جوړ كړيدے بلكه دوی

يُؤْمِنُونَ ﴿۳۳﴾ فَلْيَأْتُوا بِحَدِيثٍ مِّثْلِهِ إِن كَانُوا

ايمان نه راوړی . نو دوی دِ راوړی يوه خبره دَ دے پشان كه چرے دوی

صَادِقِينَ ﴿۳۴﴾ أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ

رشتنی وی . اٰيا دوی پيدا كړے شويدی بغير دَ څه فائيدے نه اٰيا

۳۱ تَرَبَّصُوا دا امر دَ تهديد (زورنے) دَ پاره دے مَعَكُمْ په دے كښ اشاره ده چه دَ مرګ په انتظار كښ ټول برابر يو .

۳۲ دا بل زجر دے حاصل دا چه دا خبرے دَ رسول الله صلی الله عليه وسلم په باره كښ دَ عقل والو خبرے نه دی ليكن سببِ طغيان او سركشی ده دويم اَمْ په معنیٰ دَ بَلْ سره عاطفه دے . اَحْلَامُ جمع دَ حُلم ده عقل ته ويلے كيږی ځكه عقل دَ انسان روستو دَ احتلام او دَ بلوغ نه او دَ حِلم (صبر) نه پوره معلوميږی .

۳۳ ۳۴ دا بل زجر دے متعلق دے دَ انكار دَ قرآن سره بَلْ لَا يُؤْمِنُونَ يعنی تقوّل (افتراء) نيشته ليكن سبب دَ انكار دَ قرآن كفر عنادی دَ دوی دے . فَلْيَأْتُوا دا اٰيت دَ تحدی دے متعلق دے دَ تَقَوَّلَهُ سره . بِحَدِيثٍ هر كلام چه په هغے باندے تلفظ كيدے شی كه قديم او كه حادث وی نو هغے ته حديث ويلے كيږی او اكثر استعمال ئے منقول كلام كښ كيږی نو دَ دے وجے نه قرآن ته حديث ويلے كيږی او قرآن كښ اطلاق دَ حديث په قرآن باندے تهه كړته كړے شوے دے . او حديث په معنیٰ دَ نوی باندے په قرآن كښ نه دے راغلے نو قول دَ معتزلو باطل دے چه هغوی وائی چه لفظ دَ حديث نه معلومه شوه چه قرآن مخلوق او حادث دے .

هُمُ الْخٰلِقُوْنَ ﴿٣٥﴾ أَمْ خَلَقُوا السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ ۚ

او زمکه اسمانونه پیدا کړیدی ایا دوی پیدا کوونکی (دَ ځانونو دی)۔ دوی

بَلْ لَّا يُوْقِنُوْنَ ﴿٣٦﴾ أَمْ عِنْدَهُمْ خَزَآئِنُ رَبِّكَ

بلکه دوی یقین نه کوی۔ ایا دَ دوی سره خزانے دَ رب ستا دی

أَمْ هُمُ الْمُصَيْطِرُوْنَ ﴿٣٧﴾ أَمْ لَهُمْ سُلَّمٌ

یا دوی مقرر کړے شویدی (دَ هغے په تقسیم باندے) ایا دوی لره پاوړے شته دے

يَّسْتَمِعُوْنَ فِيْهِ ۚ فَلْيَأْتِ مُسْتَمِعُهُمْ بِسُلْطٰنٍ

چه غوږ ږدی په هغے کښ ورختونکی نو راد وړی دعویٰ کوونکے دَ اوریدلو دَ دوی دلیل

۳۵ ۳۶ دا زجر دے په شرك دَ دوی باندے او رد دے په زعم دَ مشرکانو باندے چه گمان کوی چه مونږ ته الله تعالیٰ دَ توحید او دَ رسالت او دَ قرآن دَ منلو په باره هیڅ امر او تکلیف نه دے راکړے او نه راکوی حاصل دَ دواړو ایاتونو دا دے چه دا گمان خو هله صحیح کیدے شی چه په دے درے خبرو کښ یوه خبره وی اول دا چه ستاسو پیدائیش عبث او بے فائدے وی دویم دا چه تاسو ځان پخپله پیدا کړے وی دریم دا چه تاسو اسمانونه او زمکے وغیره پیدا کړے وی لیکن په دے درے واړو کښ یوه خبره هم نیشته نو ولے انکار کوئے۔ مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ یعنی بغیر دَ دے نه چه دوی ته څه امر و نهی اوکړے شی۔ الْخٰلِقُوْنَ أَمْ خَلَقُوا السَّمٰوٰتِ په دے کښ یو فرق دا دے چه "دوی مستقل پیدا کوونکی دی یا په اشتراك دَ الله تعالیٰ سره"، دویم دا چه "ځان ئے پیدا کړے دے او که اسمانونه او زمکه ئے پیدا کړے دی"۔

۳۷ دا زجر هم دَ مخکښ سره متعلق دے یعنی که خالق نه دی نو ایا دَ الله تعالیٰ دَ خزانو اختیارمند دی "خزانے دَ رزق باران وغیره یا خزانے دَ نبوت تقسیم کولو"۔ أَمْ هُمُ الْمُسَيْطِرُوْنَ دا هم زجر دے یعنی که اختیارمند دَ خزانو نه دی نو ایا په هغے باندے دَ څوکئ کولو او انتظام او تقسیم کولو دَ پاره مقرر دی؟

حاصل دا چه په دے دواړو خبرو کښ یوه خبره هم نیشته نو دوی ولے دَ توحید او رسالت نه انکار کوی۔

مُّبِيْنٍ ﴿۳۸﴾ اَمْ لَهُ الْبَنٰتُ وَلَكُمُ الْبَنُوْنَ ﴿۳۹﴾

ښکاره . آیا هغه لره لونړه دي او تاسو لره ځامن دي .

اَمْ تَسْـَٔلُهُمْ اَجْرًا فَهُمْ مِّنْ مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُوْنَ ﴿۴۰﴾

آیا ته غواړې د دوی نه عوض نو دوی د وجې د تاوان نه درانه شوي دي .

اَمْ عِنْدَهُمُ الْغَيْبُ فَهُمْ يَكْتُبُوْنَ ﴿۴۱﴾ اَمْ

آیا د دوی سره غیب (وحي) شته نو دوی د هغې نه لیکل کوي . آیا

يُرِيْدُوْنَ كَيْدًا ۭ فَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا هُمُ

غواړي دوی مکر کول (چلونه) نو هغه کسان چه کفر ئې کړے دے هم دوی به

الْمَكِيْدُوْنَ ﴿۴۲﴾ اَمْ لَهُمْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ ۭ سُبْحٰنَ

په مکر کښې کمزوري کړیشي . آیا دوی لره حقدار د بندګۍ سیوا د الله تعالیٰ نه شته دے پاک دے

۳۸ دا زجر هم متعلق دے د انکار رسالت سره . یعني آیا دوی په څه ذریعه آسمان ته ختلے شي چه وحي او څه خبر د غیب ځان له راوړي لکه چه دے نبي صلی الله علیه وسلم ته وحي جبرئیل راوړي . مُسْتَمِعُهُمْ یعني که یو شخص دعوی په دروغه سره اوکړي چه زۀ د آسمان خبرے اورم نو د هغه دا خبره بغیر د دلیل نه منظوره نه ده لکه د کاهنانو خبرے .

۳۹ دا هم زجر دے او رد دے په مشرکین بالملائکه بانات او دا رنګ اشاره ده د دوی بے عقلئ ته .

۴۰ دا زجر تعلق لري د انکار د رسالت سره مَغْرَمٍ بالفرض که ته د دوی نه څه تاوان غواړے نو دوی برداشت نشي کولے یا د مطلق تاوان برداشت هم نه شي کولے او په دیکښې اشاره ده اخلاص د پیغمبر ته چه بے اجرته تبلیغ کوي .

۴۱ دا هم متعلق دے د انکار د رسالت سره او د الْغَيْبُ نه مراد وحي ده او يَكْتُبُوْنَ نه مراد لیکل دي یا د الغیب نه مراد لوح محفوظ دے او يَكْتُبُوْنَ نه مراد حکمونه او فیصلے کول دي .

۴۲ كَيْدًا مکرونه کول د پاره د قتل د نبي یا د هغه نه خلق اړول (پاتے په بل مخ)

اللّٰہِ عَمَّا یُشْرِکُوْنَ ﴿۴۳﴾ وَاِنْ یَّرَوْا کِسْفًا مِّنَ

اللہ تعالیٰ دَ هغې نه چه دوی ورله شریک جوړوی۔ او که چرے دوی اووینی یو ټکړه دَ

السَّمَآءِ سَاقِطًا یَّقُوْلُوْا سَحَابٌ مَّرْکُوْمٌ ﴿۴۴﴾

اسمان نه راپریوتونکے دوی به اوائی وریځ ده لاندے باندے.

فَذَرْهُمْ حَتّٰی یُلٰقُوْا یَوْمَهُمُ الَّذِیْ فِیْهِ

نو پریږده دوی ترد ے پورے چه مخامخ به شی دَ هغه ورځ سره چه په هغې کښ به دوی

یُصْعَقُوْنَ ﴿۴۵﴾ یَوْمَ لَا یُغْنِیْ عَنْهُمْ کَیْدُهُمْ

بے هوشه کړیشی ، په هغه ورځ چه نه به شی دفع کولے دَ دوی نه مکرونه دَ دوی

او منع کول په مختلفو حیلو سره . فَالَّذِیْنَ کَفَرُوْا داځے ذکر کړو دَ پاره دَ تعمیم ټول کافرانو ته. هُمُ الْمَکِیْدُوْنَ یعنی دَ دوی دَ کیدونو دَ واپسئ بد اثر به په دوی باندے راشی لکه چه فرمائیلے دی وَلَا یَحِیْقُ الْمَکْرُ السَّیِّئُ اِلَّا بِاَهْلِهٖ۔

۴۳ دا زجر دے په شرك دَ دوی باندے یعنی دَ دوی اِله نیشته چه دَ مغلوب کیدلو نه ئے بچ اوساتی یا دَ دوی کیدونو لره کامیاب کړی. ترد ے پورے لفظ دَ اَمْ خوارلس کرته ذکر شو دویم اَمْ په معنیٰ دَ بَلْ سره دے لکه چه مخکښ ذکر شول او باقی ټول استفهام دَ زورَنے او دَ توبیخ دَ پاره دی۔

۴۴ دا زجر دے په عناد کولو سره دَ تخویف دنیوی ته او دا جواب دَ هغه مطالبے دَ دوی دے چه په سورة بنی اسرائیل ۹۲ کښ ذکر شویدے. کِسْفًا په سکون دَ سّ سره واحد دے او په فتحه دَ سّ سره جمع ده یَقُوْلُوْا قرطبی ویلے دی چه دا قول دَ دوی دَ وجے دَ عناد نه دے یا دَ وجے دَ تقلید نه دے او دا دواړه وجے په هغوی کښ موجود دی۔ مَرْکُوْمٌ دا وائی په دفع دَ وهم کښ چه دا خوو ریځ نه ده وریځ خو نرئے وی نو دوی اُویل چه دا مرکوم دے۔

۴۵ دا تفریع ده په مخکښ ټولو زجرونو باندے چه بنا دی په عناد دَ دوی فَذَرْهُمْ مراد دَ دے نه زورنه او تخویف دَ عذاب دے مقصد دا نه دے چه هیڅ ورته مه وایه نو دا په ایت دَ قتال سره منسوخ نه دے.

حَتّٰی یُلٰقُوْا یَوْمَهُمْ مراد دَ دے نه ورځ دَ عذاب دَ دنیا ده په هغه چا باندے چه

شَيْئًا وَّلَا هُمْ يُنْصَرُوْنَ ﴿٤٦﴾ وَاِنَّ لِلَّذِيْنَ

هیڅ ضرر او نه به دَ دوی سره مدد کیدیشی. او یقینًا هغه کسانو لره

ظَلَمُوْا عَذَابًا دُوْنَ ذٰلِكَ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ

چه ظلم ئے کړے دے عذاب دے مخکښ دَ قیامت نه او لیکن اکثر دَ دوی

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَاِنَّكَ

نه پوهیږی. او صبر کوه فیصلے دَ رب ستا ته یقینًا ته

بِاَعْيُنِنَا وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ حِيْنَ

زمونږ په سترګو کښ ئے او تسبیح وایه سرهٔ دَ حمد دَ رب ستا نه په هغه وخت

چه په دنیا کښ ورځے عذاب راځی او ورځ دَ قیامت دَ عامو منکرینو عنادیانو دَ پاره ده.
يُصْعَقُوْنَ دَ هیبت دَ عذاب یا دَ قیامت دَ وجے نه به بے هوشه شی یا دَ صعق نه مراد
مړکیدل دی په عذاب دَ دنیا سره.
٤٦ په دے کښ ذکر دَ هیبت دَ ورځے دَ عذاب او دَ قیامت دے يَوْمَ دا بدل دے
دَ يَوْمَهُمْ نه.
٤٧ دا هم تخویف دے دُوْنَ ذٰلِكَ، دُوْنَ په معنیٰ دَ مخکښ یا په معنیٰ دَ سیوا سره دے
ذٰلِكَ اشاره ده یوم ته چه په مخکښ ایت کښ ذکر دے او دَ دے عذاب نه مراد دَ دنیا
نور عذابونه دی لکه لوګه مرضونه قحطونه دَ ژوند تنګ والے وغیره او دا رنګ
عذاب قبر مراد دے لکه چه قرطبی او خطیب شربینی ویلے دی.
وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ یعنی چه عذابونه دَ دنیا ورباندے راشی لیکن دوی
نه پوهیږی چه دا عذاب دے او دَ څه مقصد دَ پاره دے لکه چه حدیث کښ
وارد دی چه منافق ناجوړه شی او بیا جوړ شی نو دَ دهٔ مثال دَ اوښ دے نه پوهیږی چه
دَ څه دَ پاره ئے دے تړلے وؤ او دَ څه دَ پاره ئے پرانستلو.

تَقُومُ ﴿۴۸﴾ وَمِنَ الَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَإِدْبَارَ النُّجُومِ ﴿۴۹﴾ ع

چه اودریږې، او دَ شپې نه هم تسبیح وایه او په وخت دَ شاګرځولو دَ ستورو کښې.

ﷺ ۴۸ ﷺ ۴۹ دا عطف دے په قدرهم باندے. لِحُكْمِ رَبِّكَ فیصله دَ عذاب ده چه مخکښې ایت کښې ذکر شوه.

فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا دا صفت دَ الله تعالیٰ په ظاهری معنیٰ باندے دے او کیفیت باندے ئې الله تعالیٰ پوهیږی خو اشاره ده چه الله تعالیٰ تا لره وینی او ستا حفاظت هم کوی نو ویره مه کوه.

وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ دا دَپاره دَ دفع کولو دَ حزن دے لکه چه دَ سورة حجر په ﷺ ۹۷ ﷺ ۹۸ کښې تیر شویدی او په دے کښې دعویٰ دَ توحید هم ده.

حِينَ تَقُومُ دا عام دے هر قیام ته شامل دے که دَ خوب نه بیداریدل دی او که دَ یو مجلس نه پاسیدل دی او که مونځ ته اودریدل دی او که دعوت او تبلیغ ته اودریدل دی په دے ټولو حالتونو کښې مسنون اذکار نقل کړے شویدی.

وَمِنَ الَّيْلِ فَسَبِّحْهُ، تسبیح عام دے مونځ کول تلاوت دَ قران او تسبیح ویل او توحید بیانول ټولو ته شامل دے لفظ دَ مِنْ په بعض (ټکړه) باندے دلالت کوی ماښام او ماسخوتن او وخت دَ تهجد ته اشاره ده.

وَإِدْبَارَ النُّجُومِ ادبار مصدر دے یعنی وخت دَ شا ګرځولو دَ ستورو او هغه وخت دَ صبا ښکاره کیدلو دے چه په دغه وخت کښې ستوری په پټیدلو باندے شروع شی او مراد دَ دے نه دوه رکعتونه سنت دَ فجر دی او دا په حدیث دَ ترمذی کښې وارد دی یا مراد ترینه سنت او فرض دَ فجر دی.

تنبیه لفظ دَ اِدبار مصدر دے او مفرد دے نو یو وخت ترینه مراد دے او ادبار السجود (قٓ ﷺ ۴۰) کښې ادبار جمع ده ډیرو وختونه ترینه مراد دی لکه په تفسیر دَ سورة قٓ کښې تیر شویدی.

(الحمد لله چه ختم شو تفسیر دَ سورة الطور په فضل دَ الله تعالیٰ سره)

سُوْرَةُ النَّجْمِ ۵۲ مَکِّيَّةٌ ۲۳	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰيَاتُهَا ۶۲ ۳ رُكُوْعَاتُهَا

وَالنَّجْمِ اِذَا هَوٰى ① مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ

او قسم دے په ستوری کله چه راکوزشی (دَ ځیل ځائے نه). نه دے بے لارے شوے ستاسو ملگرے

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة النجم

ربط دَ دے دَ مخکښ سورت سره په ډیرو وجوهو سره دے . اوله وجه دا ده چه په مخکښ سورت کښ ډیر زجرونه وو په منکرینو بانے نو په دے سورت کښ زجر دے دَ هغوی په دلیل بانے چه اتباع دَ ظن او دَ هوٰی ده. دویمه وجه دا ده مخکښ سورت کښ وقوع دَ عذاب ذکر وه نو په دے کښ سبب دَ عذاب ذکر کوی. دریمه وجه دا ده مخکښ سورت کښ زجرونه په انکار دَ رسول بانے نو په دے سورت کښ اثبات دَ صداقت دَ رسول دے .

دعویٰ دَ سورت . اثبات دَ صداقت دَ رسول دے چه دا رسول په شرکیاتو بانے رد کوی په دلیل دَ وحی سره او مشرکان دلیل نیسی په گمان او په خواهش سره. او رد دے په مشرکین بالملائکه والجن او انس او ستورو بانے او په شرک فی العلم او عبادت او شفاعت شرکیه بانے او دعوی دَ توحید په ۶۲ کښ ذکر ده.

خلاصه دَ سورت - دا سورت تقسیم دے دوه بابونو ته اول باب تر ۲۹ پورے دے په دیکښ شهادت دے په صدق دَ رسول صلی الله علیه وسلم په ذکر دَ نهه احوالو دَ هغه سره دَ نهه حالاتو دَ جبرئیل علیه السّلام . بیا زجر دے په مشرکینو بانے په نهه طریقو سره او رد دے په مشرکین بالملائکه او جن او انس بانے او رد دے په دلیلونو دَ مشرکانو بانے .

تفسیر :- وَالنَّجْمِ دا قسم دے دَ پاره دَ شهادت ذکر کولو دَ مابعد دَ پاره . په دیکښ ډیر اقوال دی اول قول دا دے چه النجم ثُرَيَّا (ترلے پیروته) ستوری دی چه هغه اُوه ستوری دی په یو ځائے راجمع وی . دویم قول مراد ټول ستوری دی . په دے دواړو قولونو کښ النَّجْمِ مفرد جنس دے او مراد ترینه جمع ده. دریم قول هغه خاص ستورے چه شیطان په هغے سره اُویشتلے شی . (پاتے په بل مخ)

وَمَا غَوٰی ② وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰی ③

او نه دَ حد نه تیر وتلے دے. او خبرے نه کوی دے دَ خواهش نه.

او الف لام په النجم کښ عهدِ ذهنی دی څلورم قول نجم قرآن دے ځکه چه نجم قِسط (حصه) ته وئیلے کیږی او قرآن په ډیرو قسطونو سره نازل شویدے او په ډیرو حصو باندے مشتمل دے. اِذَا هَوٰی په اول او دویم سره مراد دَ دے ته غائب کیدل دی. او په دریم قول سره مراد دَ دے نه ښکته راویشتل دی په شیطان پسے او په څلورم قول سره مراد دَ دے نه نازلیدل دَ قرآن دی. او مناسبت دَ قسم دَ مقسم لهٗ سره دا دے، هرکله چه مراد ثریّا ستوری شی نو ثریا په ټولو ستورو کښ لیدونکو ته ښهٔ ښکاریږی او دا ماسخوتن ښکاره کیږی کله چه میوے پخے شی. نو دا رنګ آخری نبی په ټولو انبیاؤ کښ ډیر ښکاره دے خصوصًا په معجزه دَ قرآن سره میوے دَ حکمتونو پورهٔ پخے شوے او دَ شکونو شبهاتو بیخ اوتلو. او هرکله چه مراد ټول ستوری شی نو مناسبت دا دے چه ټول ستوری غائب شی نو رڼرا دَ صبا او بیا نمر ښکاره شی دا رنګ نور رسولان دَ الله تعالی غائب شول او آخری رسول دَ صبا او دَ نمر دَ رڼرا پشان ښکاره شو. او په دریمه توجیه سره مناسبت دا دے چه ستوری ویشتلے کیږی دَ پاره دَ شړلو دَ شیطانانو دَ دے دَ پاره چه کاهنان په قرآن کښ تلبیس پیدا نه کړی او دَ دے رسول صداقت پورهٔ ښکاره شی او دا نښه (چه شیطانان تړلے کیږی دَ آخری رسول دَ راتللو په زمانه کښ) په سورة جن کښ هم ذکر کړے شویده. او په څلورمه توجیه باندے مناسبت ښکاره دے یعنی چه قرآن نازل شو نو دَ دے نبی صلی الله علیه وسلم په باره کښ دَ ګمراهئ او سرکشئ هیڅ تصوّر او ګمان پاتے نه شو.

۲ دا جوابِ قسم دے. فرق په مینځ دَ ضلال او غوایت کښ په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه ضلال دا دے چه مقصد ته دَ رسیدلو بالکل لاره نه وی او غوایت دا دے چه مقصد ته طریقِ مستقیم نه وی. دویمه وجه دا ده چه ضلال عام دے عقیدے او عملونو دواړو ته شامل دے او غوایت خاص دے په عقیده فاسده پورے. دریمه وجه دا ده چه ضلال دا دے چه دَ لارے نه خطا شی او غوایت دا دے چه دَ مقصد نه محرومه شی. څلورمه وجه دا ده چه ضلال ګمراه کیدل دی په بے علمئ سره او غوایت ګمراهی ده سره دَ علم نه عنادًا.

۳ دا دویم جوابِ قسم دے یعنی کلام دَ دے رسول دَ هر قسم دَ خواهشاتو نفسانیو

إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ ﴿۴﴾ عَلَّمَهُ شَدِيدُ

نه ده دا مګر وحي چه وحي کيدیشي ، خود ته کړيده ده ته سخت

الْقُوَىٰ ﴿۵﴾ ذُو مِرَّةٍ فَاسْتَوَىٰ ﴿۶﴾ وَهُوَ

قوتونو والا ، خائست والا نو برابر شو ، او حال دا چه دے

بِالْأُفُقِ الْأَعْلَىٰ ﴿۷﴾

وو په اوچته غاړه باندے .

نه پاک دے. يَنْطِقُ هر هغه خبره چه دَ خُلے نه راوځي، او دا شامل دے قرآن ته په وخت دَ تلاوت کولو کښ او شامل دے احاديثو ته چه دا دواړه دَ اتباع هوٰی نه نه دي صادر شوي.

ت ۴ :. دا دريم جوابِ قَسم دے او هُوَ نه مراد ټول هغه کلام دے چه نبي صلّی الله عليه وسلّم ئې دَ خپلے خُلے نه را اوباسي " قرآن او احاديث " بلکه دَ هغه افعالو او احوالو ته هم شامل دے لکه چه په سراج المنير کښ ليکلے دي. بعضِ اهل علمو دَ دے ايت نه دليل ذکر کړے دے چه نبي صلی الله عليه وسلّم لره اجتهاد کول منع وو ليکن جواب دا دے چه دَ هغه دَ اجتهاد (چه عمل به ور باندے کيدے شو) به هم په وحي سره تائيد کيدے شو نو هغه هم په وحي کښ داخل وو.

ت ۵ ت ۶ ت ۷ په دے کښ ذکر دَ صداقت دَ رسول الله صلّی الله عليه وسلّم دے په بله طريقه چه دَ هغے حاصل په غوره تفسير سره دا دے چه دے رسول ته جبرئيل عليه السلام تعليم ورکړيدے او دَ هغه سره ليدل هم شويدي.

مراد دَ شديد القوی نه جبرئيل عليه السّلام دے په دليل دَ سورة تکوير ت ۲۰ سره او بعضِ مفسرينو دَ دے نه الله تعالٰی مراد اخستے دے ليکن هغه قول صحيح نه دے.

ذُو مِرَّةٍ . مِرّه صحت او قوت دَ بدن ته ويلے کيږي لکه چه په حديث کښ راغلے دي (لا تحلّ الصدقة لغنيّ ولا لذي مِرّةٍ سويّ) او مرّه خائسته صورت ته هم ويلے کيږي.

وَهُوَ بِالْأُفُقِ الْأَعْلَىٰ دا ضمير هم جبرئيل عليه السلام ته راجع دے او په دے کښ واقعه دَ ابتداء دَ وحي ته اشاره ده چه رسول الله صلی الله عليه وسلّم ته جبرئيل عليه السّلام په مکه کښ ابطح مقام کښ په اصلي شکل کښ (پاتے په بل مخ)

ثُمَّ دَنَا فَتَدَلّٰى ﴿٨﴾ فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ

بیا نزدے شو نو ښه نژدے شو نو شو په مقدار د پاتو د دوه لیندو

أَوْ أَدْنٰى ﴿٩﴾ فَأَوْحٰى إِلٰى عَبْدِهٖ مَا أَوْحٰى ﴿١٠﴾

بلکه زیات نزدے۔ نو وحی ئے اوکړه بنده د الله تعالیٰ ته هغه چه وحی ئے اوکړه۔

ښکاره شو چه د هغه شپږ سوه وزرے وے او د اسمان کنارے ئے پټے کړے وے
الافق هغه طرف د اسمان ته وئیلے کیږی چه صبا او نمر تر ینه ښکاره کیږی.
ابن جریر وئیلے دی چه دا ضمیر محمد صلی الله علیه وسلم ته راجع دے او په یکښ
اشاره ده واقعے د معراج سماوی ته چه دواړه د معراج په شپه د زمکے نه ملګری
شول او د اسمان افق ته اورسیدل. بیا ابن کثیر په دے قول پانړے رد کړے
دے لیکن د توجیه په لحاظ سره دا قول صحیح دے.
۸ ۔ ۹ ضمیرونه په اول تفسیر جبرئیل علیه السلام ته راجع دی او په دویمه توجیه
رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راجع دی او نزدیکت الله تعالیٰ ته مراد دے.
فَتَدَلّٰى په اصل کښ د بره طرف نه کوز طرف ته اویزان کیدلو ته وئیلے کیږی یعنی
جبرئیل علیه السلام راکوز شو د افق نه او په معنیٰ د ښه نزدیکت سره هم استعمالیږی.
قَابَ قَوْسَيْنِ. قاب په عرف د عرب کښ د قوس (کمان) د مقبض (د نیولو ځائے)
نه تر سره پورے ته وئیلے کیږی. او نیول خو په مینځ کښ وی نو هر طرف ته
یو یو قاب شو نو معلومه شوه چه په هر قوس کښ دوه قابَ دی لکه لسان العرب
کښ هم داسے وئیلے دی نو په دے مقام کښ د دوه قوسونو یو یو طرف مراد دے نو په
اصل کښ قابا قوسین وؤ او بعضو وئیلے دی چه په عبارت کښ قلب دے یعنی قَابَا
قَوْسٍ د یو قوس دوه قابونه. بل قول دا دے چه قاب دلته په معنیٰ د فقط مقدار
سره دے لکه چه ابن اثیر وئیلے دی بیا دا تشبیه عرب د نزدیکت د پاره
استعمالوی په دے وجه چه د دوه دشمنانو صلحه به او شوه نو هر یو به خپل
قوس راوړلو او د دواړه قوسونو قابونه به ئے د یو بل سره پیوست کړل نو مطلب
به ئے داوؤ چه ائینده د پاره به مونږ د مخالف دشمن په مقابله کښ د یو طرف نه
حمله کوؤ او مونږ به یو یو.
۱۰ ۔ عبده ضمیر الله تعالیٰ ته راجع دے برابره خبره ده که اوحی ضمیر جبریل ع

مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَاٰى ⑪ اَفَتُمٰرُوْنَهٗ

انکار نه دے کړے زړه، دَ هغې نه چه لیدلے دے. ایا تاسو جګړه کوئ د ده سره

عَلٰى مَا يَرٰى ⑫ وَلَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰى ⑬

په هغه څیز باندے چه ده لیدلے دے. او یقیناً ده لیدلے وو هغه لره بل ځل،

ته راجع وی او که الله تعالیٰ راجع وی. په اوله توجیه سره مراد دَ وحی نه ابتداء دَ سورة

مدثر ده یا نور اقوال هم دی او په دویمه توجیه سره وحی مبهم ده.

۱۱ تا ۱۲ په دیکښ صداقت دَ رسول الله صلّی الله علیه وسلّم په رؤیت سره ذکر کوی برابره

خبره ده چه رؤیت (لیدل) دَ جبریل علیه السلام دی لکه چه دا غوره او ظاهره توجیه

ده یا لیدل دَ الله تعالیٰ مراد دی لکه چه روستو تحقیق کیږی. هر کله چه جبریل مراد

شی نو مراد دَ رؤیت نه لیدل په سترګو سره دی او مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مطلب دا دے چه

زړه هم دَ سترګو سره موافقت کړیدے یعنی لیدل ئے یقینی دی. او اَفَتُمٰرُوْنَهٗ کښ

خطاب مشرکانو ته دے چه دَ جبرئیل علیه السّلام په لیدلو کښ دَ دے نبی صلّی الله علیه

وسلّم سره جنګ مه کوئ. او هر کله چه مراد لیدل دَ الله تعالیٰ وی نو دَ عبد الله بن

عباس رضی الله عنهما دَ قول مطابق مراد دَ دے نه لیدل دی په زړه سره دا روایت امام مسلم

په روایت دَ ابو العالیه سره دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل کړیدے په دیکښ ویلے دی رَاٰهُ

بفؤاده مرتین (په زړه سره ئے دوه کرته لیدلے دے) او په روایت دَ ترمذی کښ دَ

ابن عباس رضی الله عنهما نه رای محمد رَبَّهٗ مطلق ذکر کړیدے او ترمذی ویلے دی چه دا حدیث

حسن غریب دے او مراد دَ دے مطلق نه مقید (په زړه سره) دے او فرّاء بغوی دَ انس

رضی الله عنه او دَ حسن او عکرمه نه دا لفظ نقل کړے دے چه راه بعینه چه الله تعالیٰ

ئے په سترګو سره لیدلے دے او ابن کثیر دَ هغې باره کښ ویلے دی چه وَفِيْهِ نَظَرٌ.

حاصل دا دے چه لیدل دَ الله تعالیٰ په شپه دَ معراج کښ مسئله اختلافیه ده غوره دا

ده چه یقینی ثبوت ئے نیشته. ابن کثیر او ډیرو محدثینو غوره کړیده چه لیدل ئے نه دی شوی

او خطیب شربینی او بعضو مفسرینو دویم قول غوره کړیدے او قرطبی دَ مَا رَاٰى او عَلٰى مَا يَرٰى په تفسیر

کښ دا قول هم نقل کړیدے چه مراد دَ دے نه هغه ټول اسمانی حالات او بیت المقدس دے

چه رسول الله صلی الله علیه وسلّم دَ معراج په شپه کښ لیدلی وو او په هغې کښ مشرکانو شک او جدال کوو.

۱۳ په دیکښ هم دوه قولونه دی اول دا چه ضمیر راجع دے (پاتے په بل مخ)

عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰى ﴿۱۴﴾ عِنْدَهَا جَنَّةُ

دَ سدرة المنتهٰى په خوا کښ . چه دَ هغې سره نزدے جنت

الْمَاْوٰى ﴿۱۵﴾ اِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ مَا يَغْشٰى ﴿۱۶﴾

الماوٰى دے . کوم وخت چه پټ کړو بيرے لره هغه څيزونو چه پټ يئے کړو،

جبرئيل عليه السلام ته دويم داچه الله تعالىٰ ته راجع دے او نَزْلَةً په معنىٰ دَمَرَّةً سره دے ليکن تعبير يئے په نَزْلَةً سره کړيدے (يعني راکوځيدل) نو مراد داچه نبي صلّى الله عليه وسلّم دَ عرش دَ طرف ته راکوز شو او دَ هغه په هغه شپه کښ ختل راکوځيدل په آسمانونو کښ ډير کرته وُو لکه چه په حديث معراج کښ دی چه موسىٰ عليه السلام (شپږم آسمان) ته ډير کرته تلے راغلے دے. يا مراد دَ دے نه راکوځيدل دَ جبريل دی. يا مراد دَ دے نه نزول دَ الله تعالىٰ دے او نزول صفت دَ الله تعالىٰ په صحيح حديث کښ راغلے دے (چه دَ شپے په آخر کښ الله تعالىٰ نزدے آسمان ته نزول کوی) ليکن دَ کيفيت په لحاظ سره متشابه دے په هغے باندے الله تعالىٰ عالم دے او که هر يو احتمال شي خو په آيت کښ آسماني معراج ته اشاره ده ځکه دَ سدرة المنتهٰى سره ليدل او دَ هغې حالات کتل په شپه دَ معراج پورے خاص دی په سبب دَ احاديثو دَ معراج سره، نو څوک چه وائي چه آسماني معراج دَ قرآن نه ثابت نه دے نو هغوی جاهلان دی.

۱۴ ۱۵ ۱۶ ظاهر داده چه دا ظرف دَ رائ دے يعني ليدونکے (چه رسول الله صلى الله عليه وسلّم وُو) دَ سدرة المنتهٰى سره وُو او دَ مرئي (يعني جبريل يا الله تعالىٰ) سره دَ تعلق هم احتمال لری سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰى اضافت دے مکان ته يعني په منتهٰى مکان کښ دغه او نه ده يا اضافت دَ محل دے حال ته يعني دَ ونے سره منتهٰى ده. او دَ دے وجه دَ تسميه کښ ډير اقوال دی يو داچه دَ ملائکو دَ ختلو دَ پاره منتهٰى ده دويم داچه ارواح دَ مؤمنانو هغے ته ور رسيږی دريم دا چه منتهٰى دَ علمونو ده او دَ ماوردی نه نقل کړے شويدی چه تخصيص دَ بيرے ئے دَ دے وجے نه کړيدے چه په هغې کښ درے صفتونه دی ۱ اوګد سورے ۲ مزيدار خوند ۳ خائسته بوئي، نو دارنګ ايمان هم مشتمل دے په قول او عمل او نيت باندے نو بوئي دَ دے په شان دَ قول دَ ايمان دے او سورے دَ دے

مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغٰی ﴿۱۷﴾ لَقَدْ رَاٰی مِنْ اٰیٰتِ

نه دے کوږ شوے نظر دَده او نه دَحد نه تیر شویدے. یقینًا دهٔ اولیدلے دَ نخښو دَ قدرت

رَبِّهِ الْكُبْرٰی ﴿۱۸﴾ اَفَرَءَیْتُمُ اللّٰتَ

دَ رب خپل نه لوئے نخښے . ایا تاسو سوچ کړے دے په حال دَ لات

پشان دَ عمل دَ ایمان دے او خوند دَ دے پشان دَ نیت دَ ایمان دے دَ دے وجے نه دا محل دار دا دَ مؤمنانو دے. عِنْدَهَا جَنَّةُ الْمَاْوٰی دا تعریف دَ مکان دَ جنت دے چه جنت اوس په اُوم اسمان کښ دَ سدرة المنتهیٰ سره دے اگرچه وسعت دَ جنت خو دَ اسمانونو او زمکے نه لوئے دے لکه چه سورة ال عمران ۳۳۱ او سورة حدید ۲۱ کښ ذکر دی لیکن الله تعالیٰ قادر دے چه په لږ ځائے کښ لوئے خیز ځائے کړی لکه چه په یوه سترګه کښ ډیره دُنیا په نظر کولو کښ ځائے کولے شی یعنی په یو وړه سترګه باندے بنده خومره دنیا ته نظر کولے شی.

اِذْ یَغْشَی السِّدْرَةَ مَا یَغْشٰی په حدیث صحیح کښ راغلے دی چه هغه پتنګان دَ سرو زرو وؤ او اکثر اهلِ علم وائی چه مراد دَ دے نه ملائک دی او په حدیث دَ معراج کښ وارد دی چه په شپه دَ معراج کښ څه سدرة المنتهیٰ ته بوتللے شوم نو دَ هغے پاڼے پشان دَ غوږونو دَ هاتیانو وے او دَ هغے بیرے پشان دَ مټکو دَ هجر مقام وے او هر کله چه امر دَ الله تعالیٰ هغے لره پټه کړه نو داسے بدله شوه چه هیڅوک دَ مخلوق دَ الله تعالیٰ نه دَ هغے دَ ستائینے کولو طاقت نه لری. او لفظ دَ مَا یَغْشٰی مبهم دے چه دلالت کوی په عظمت دَ هغه خیزونو باندے.

۱۷ په دے کښ صفت دَ نبی صلی الله علیه وسلم دے چه هغه دَ دغه مقام ډیر ادب کړے دے او دَ خپل مقصد نه علاوه بل طرف ته نظر نه دے کړځولے. دَ مقصد نه نظر بل طرف ته په کرځولو کښ دوه طریقے دی یو دا چه دَ هغه مقصد نه ښی طرف یا کس طرف ته اوګوری یا دَ مقصد دَ ځائے نه نظر ور تیر کړی دَ نبی صلی الله علیه وسلم نه ئے دَ دے دواړو نفی کړیده، په مَا زَاغَ سره دَ اول قسم نفی ده او په مَا طَغٰی سره دَ دویم قسم نفی ده.

۱۸ مِنْ لفظ دلالت کوی چه په ټولو ایاتو ئے احاطه نه ده کړے بلکه بعض ئے لیدلے دی او اٰیٰتِ الْكُبْرٰی لفظ عام دے هغه ټولو ایاتو ته په بل مخ)

وَالْعُزّٰى ﴿۱۹﴾ وَمَنٰوةَ الثَّالِثَةَ الْاُخْرٰى ﴿۲۰﴾

او دَ عزیٰ ، او دَ منات چه دریم یٔ دوستو دے.

حالتونو ته شامل دے چه په شپه دَ معراج کښ یٔ لیدلے وو، دَ انبیاء علیهم السلام سره ملاقات کول، جنت او جهنم لیدل او په هغے دواړو کښ دَ هغے اهل متشکل کیدل او دَ هغوی لیدل او جبرئیل علیه السلام په شکل دَ رفرق (شین فرش) کښ لیدل او نور ملائک لیدل. او ابن کثیر ویلے دی چه مِنْ اٰیٰتِ رَبِّهِ لفظ دلیل دے چه الله تعالیٰ یٔ نه دے لیدلے. لیکن څوک چه دَ الله تعالیٰ لیدل ثابتوی نو دَ تیر شوی (ما کذب الفؤاد ما رای) ایت نه ثابتوی او په دے ایت کښ دَ هغے نفی صراحتًا نیشته.

۱۹ تر ۲۰ هرکله چه صداقت دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم ذکر کړو چه دَ دهٔ خبرے ټوله وحی ده دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه په واسطه دَ جبرئیل سره نو اوس مقصد دَ وحی ذکر کوی چه هغه رد دے په شرك دَ مشرکانو باندے یعنی دَ مشرکانو دلیل په شرک کولو ظن او اتباع دَ هویٰ دے او دلیل دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم وحی ده.

اَفَرَءَیْتُمْ دا زجر دے مشرکانو ته یعنی تاسو سره علم او دلیل شته دے چه دا معبودان ستاسو مالک دَ نفع او دَ ضرر دی او حقدار دَ الوهیت دی؟

اللّٰتَ دَ دے دریو تخصیص یٔ دَ دے وجے نه او کړو چه دوی دَ مشرکانو په نیز ډیر مشهور او لوئے معبودان وو. امام بخاری دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت ذکر کړے دے چه لات یو سړے وو چه دَ حاجیانو دَ پاره به یٔ ستوان دَ غوړو یا او بو سره لړل او هغوی ته به یٔ دَ خوراک دَ پاره ورکول یعنی سخی او بزرګ وو. او قرطبی ویلے دی، هرکله چه مړ شو نو مشرکانو به دَ هغه دَ قبر عبادت کوؤ او هغه چه په کومه ګټه باندے ناست وو او ستوان به یٔ اوړه کول نو ثقیف قبیلے دَ هغه ګټے عبادت شورو کړو او دَ هغے دَ پاره یٔ یو کوټه جوړه کړه او هغه به یٔ په غِلافونو باندے پټه کړے وه او طواف نه به یٔ دَ هغے کول او هرکله چه طائف فتح کړے شو نو رسول الله صلی الله علیه وسلّم مغیره بن شعبه رضی الله عنه او ابو سفیان اولیږلو او هغه یٔ اونړولو او کوټه یٔ او سیزله او لات په شد دَ تا سره دے او تخفیف یکښ هم جائز دے.

وَالْعُزّٰى امام نسائی روایت نقل کړے دے چه هرکله مکه فتح کړے شوه نو

رسول الله صلی الله علیه وسلم خالد بن الولید نخله مقام ته (په مینځ د مکه او طائف کښې) ته اولیږلو چه هغه ځائے کښې عزّٰی وه نو خالد ورته راغے او په هغه ځائے کښې د کیکر درے اونے وے او یو کوټه وه (چه په هغې کښې به د عزّٰی عبادت کیدلو) هغه اونے ئې پریکړے او کوټه ئې اونړوله او بیا راغے رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ئې خبر ورکړو هغه ورته اوفرمائیل واپس لاړ شه تا هیڅ کار نه دے کړے (یعنی عزّٰی درنه پاتے شویده) هرکله چه واپس راغے نو مُجوران د عزّٰی ورته راجمع شول او چغے کړے یا عزّٰی یا عزّٰی (یعنی خالد بن الولید ئې په هغې سره ویرولو) ناسا په یو زنانه بربنډه بیر سرے راښکاره شوه او په سرئې خاورے اچولے نو خالد رضی الله عنه هغه په توره باندے قتل کړله بیا واپس راغے نو رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل دغه عزّٰی وه او بیا به ئې عبادت اونکړے شی نو معلومه شوه چه داپیرے وه او قریش او بنی کنانه داپه دویمه مرتبه کښې معبوده ګڼړله او د هغې د کوټې نه به ئې طوافونه کول او د هغې په نوم باندے ئې نذرونه ورکول. نو په دے لفظ کښې رد دے په مشرکین بالجن باندے.

وَمَنٰوةَ دا هم د یو انسان نوم وو (چه د دوی په نیز باندے بزرګ وو) او په قدید مقام کښې اوس او خزرج د هغه په نوم یوه کوټه جوړه کړے وه او په هغې باندے غلافونه اچولے وو د هغې طوافونه ئې کول او په هغه ځائے کښې ډیر خاروی د منات په نوم سره ذبح کول.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ابو سفیان یا علی بن ابی طالب اولیږلو او هغه ئې اونړوله.

الثَّالِثَةَ دا صفت مؤکّد دے وجه نه ذکر کړلو چه جاهلیت والو منات په دریمه درجه کښې معبود ګڼړلو.

الْأُخْرٰى سوال :- عادت د عربو دا دے چه اخرئ د دویم په صفت کښې ذکر کوی او دلته خو د دریم په صفت کښې ذکر کړے شوے دے؟

جواب :- اخرئ په معنیٰ د متاخره سره دے یعنی دے د مخکنو دواړو نه په مرتبه کښې روستو دے. اُخرٰی د عدد مراد نه دے، نور جوابونه هم شته لیکن هغه غوره نه دی په ذکر د لات او منات سره رد دے په مشرکین بالانس باندے.

أَلَكُمُ الذَّكَرُ وَلَهُ الْأُنثَىٰ ﴿٢١﴾ تِلْكَ إِذًا قِسْمَةٌ

ایا تاسو له دے نارینه بچی وی او هغه لره دے لور وی - دا خو تقسیم دے

ضِيزَىٰ ﴿٢٢﴾ إِنْ هِيَ إِلَّا أَسْمَاءٌ سَمَّيْتُمُوهَا

نقصانی - نه دی دا مگر نومونه دی چه کیخودلے دی

أَنتُمْ وَآبَاؤُكُم مَّا أَنزَلَ اللَّهُ بِهَا مِن

تاسو او ستاسو پلارانو نه دے نازل کړے الله تعالیٰ په دے باندے هیڅ

سُلْطَانٍ ۚ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَمَا تَهْوَى

دلیل تابعداری نه کوی دوی مگر د گمان او د هغه خیزچه غواړی

الْأَنفُسُ ۖ وَلَقَدْ جَاءَهُم مِّن رَّبِّهِمُ الْهُدَىٰ ﴿٢٣﴾

نفسونه او یقیناً راغلے دے دوی ته د طرف د رب د دوی نه هدایت -

۲۱ ۲۲ دارد دے په مشرکین بالملائکه باندے ځکه دوی الله تعالیٰ ته نسبت کوؤ چه ملائک د هغه لونړه دی او د هغوی عبادت ئے هم کوؤ او ځان د پاره به ئے لوربده گنړله - او بعض مفسرینو لیکلے دی چه لات، عزّیٰ او منات هم مؤنث نومونه دی او دوی به الله تعالیٰ ته نسبت کوؤ چه دا د الله تعالیٰ لونړه دی -
قِسْمَةٌ ضِيزَىٰ یعنی داسے تقسیم که چرے د بندګانو په مینځ کښ اوکړے شی نو هغوی به ورته ظلم او د نقصان تقسیم اوائی نو څه رنګ داسے تقسیم د رب العزت جل شانهٔ سره کوئے ځکه چه تاسو پدیکښ د ډیرا نقص او ادنیٰ (چه ستاسو په نیز دی) څیز نسبت لوئے او اعلی او اکبر ذات ته کوئے -
۲۳ روستو د زجر نه ردِّ شبهه دے په دلیلو تو د مشرکانو باندے - اسماء مراد د دے نه نومونه د الوهیت دی اصلی نومونه مراد نه دی هغه خو مور او پلار ایخودلے وی - نومونه د الوهیت داسے وی چه دا فلان بزرګ مشکل کشاد ے او فلان غوث اعظم دے او فلانے د فلانی مرض ذمه وار دے او فلانے د فلانی حاجت پوره کولو د پاره دے لکه چه مشرکانو د خپلو معبودانو باطلو د پاره داسے نومونه (صفتی) کیخودلے وی - وَآبَاؤُكُمْ کښ اشاره ده چه دوی په دے کښ د مشرانو تقلید کوی -

أَمْ لِلْإِنْسَانِ مَا تَمَنّٰى ﴿۲۴﴾ فَلِلّٰهِ الْاٰخِرَةُ

ایا شته دے دَپاره دَ انسان هغه چه ارمان کوی. نو خاص الله تعالیٰ لره دے اٰخرت

وَالْاُوْلٰى ﴿۲۵﴾ وَكَمْ مِّنْ مَّلَكٍ فِي السَّمٰوٰتِ

او دنیا. او ډیر ملائک شته په اسمانونو کښں

مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ بِهَا مِنْ سُلْطٰنٍ اشاره ده چه دَ عقیدے دَ اثبات دَپاره منزل دلیل ضروری دے. اِنْ یَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ مراد دَ دے نه حسنِ ظن دے په خپلو مشرانو باندے لکه چه ابن کثیر ویلے دی یا دَ ظن نه مراد ظنی دلیلونه دی چه په هغے سره عقیدے نه ثابتیږی. وَمَا تَهْوَى الْاَنْفُسُ رومبے په باطلو عقیدو کښں استعمالیږی او دا په باطلو عملونو کښں استعمالیږی یعنی شرکی عملونه دَ دوی دَ نفسونو په خواهشاتو باندے بنا دی او دا رنګ ظن کله دَ دلیل نه حاصل شویوی چه په هغے باندے بعض مسائلو کښں عمل کیدے شی نو مَا تَهْوَى الْاَنْفُسُ دَ دے دَپاره ذکر کړو چه دا ظن صرف په خواهشاتو دَ نفسونو دَ دوی باندے بنا دے. وَلَقَدْ جَآءَهُمْ اٰه اشاره ده چه دَ دوی عذر الله تعالیٰ زائله کړے دے چه قران او سنت دَ رسول ﷺ رالیږلی دی.

۲۴ یعنی هر کله چه معلومه شوه چه دَ دوی دَ پاره هیڅ دلیل شرعی نیشته نو اوس په طریقه دَ زجر سره فرمائی چه ایا بے دلیله خیرو پسے تلل دَ انسان دَپاره جائز دی (استفهام انکاری دے) یعنی نه دی جائز! او بعضِ دَ تمنا دَ انسان نه دا ده چه دَ غیرالله عبادت کوی او وائی چه دا دَ خیر کار دے او نور بدعات او رسمونه کوی او وائی چه دا ثواب دے. دا رنګ په دے کښں عجز دَ انسان ته اشاره ده هغه دا چه انسان ډیر ارمانونه کوی دَ مال وجاه وغیره لیکن هغه نه حاصلیږی. (مَا كُلُّ مَا يَتَمَنَّى الْمَرْءُ يُدْرِكُهُ).

۲۵ دا رد دے په ټولو مشرکانو باندے یعنی متصرف دَ دنیا او اٰخرت صرف الله تعالیٰ دے. لات منات عزیٰ وغیره لره تصرف او اختیار نیشته او دا رنګ دَ انسان دَ تمناګانو پوره کولو اختیار او تصرف خاص دَ الله تعالیٰ سره دے دَ خپل مشیت او ارادے موافق چا لره چه اوغواړی نو تمنا پوره کړی او چا لره چه او غواړی نو تمنا دَ هغه نه پوره کوی.

لَا تُغْنِىْ شَفَاعَتُهُمْ شَيْـًٔا اِلَّا مِنْۢ بَعْدِ

چه فائده نه شي درکولے سفارش دَدوی هیڅ فائده مگر روستو دَ دے نه

اَنْ يَّاْذَنَ اللّٰهُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَرْضٰى ﴿٢٦﴾

چه اجازت به اوکړی الله تعالیٰ هغه چاته چه اوغواړی الله تعالیٰ او رضا ئے شی ۔

اِنَّ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ لَيُسَمُّوْنَ

یقیناً هغه کسان چه ایمان په آخرت باندے نه لری ضرور نومونه اخلی

الْمَلٰٓئِكَةَ تَسْمِيَةَ الْاُنْثٰى ﴿٢٧﴾ وَمَا لَهُمْ بِهٖ

دَ ملائکو په نومونو دَ زنانو سره ۔ او نیشته دوی لره په دے باندے

مِنْ عِلْمٍ ؕ اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ ۚ وَاِنَّ الظَّنَّ

هیڅ دلیل تابعداری نه کوی دوی مگر دَ گمان او یقیناً گمان چه دے

٢٦ دا رد دے په مشرکین بالملائکه باندے یعنی عجز دَ ملائکو ذکر کوی چه مقربین ملائک سفارش بے دَ اجازت نه نشی کولے تو لات منات عزّی وغیره به ستاسو څه حاجت پوره کړے شی. فِى السَّمٰوٰتِ کښ اشاره ده مقرّب ملائکو ته او دارنګ اشاره ده چه دَ ټولو ملائکو اصل اوسیدل په اسمانونو کښ دی زمکے ته په امر دَ الله تعالیٰ دَ بعض کارونو دَ پاره راکوزیږی. لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَرْضٰى مشیت اراده ده او رضا خوښه ده په دواړو کښ فرق دے نو اشاره ده چه سفارش دَ ملائکو دَ پاره یو شرط اراده دَ الله تعالیٰ ده او دویم شرط رضا ده دَ مشفوع له نه یعنی چه ایمان او توحید والا دی.

٢٧ دا بل رد دے په مشرکین بالملائکه باندے چه ملائک مؤنث ګڼړی او مؤنث نومونه ورته وائی او بنات الله ورته وائی دَ دے نه علاوه په فارسئ ژبه کښ فرشته او پښتو ژبه کښ ملائکه (ریوته) ویل منع دی هاں په عربئ ژبه کښ صیغه دَ ملائکة جمع ده په هغے سره تانیث نه لازمیږی۔ او دارنګ په سورة صافات ١٥٠ او سورة زخرف ١٩ کښ تیر شویدی ۔

لَا يُغْنِیْ مِنَ الْحَقِّ شَیْئًا ﴿۲۸﴾ فَاَعْرِضْ عَنْ

فائده نه ورکوی دَ حق (دَ ثابتولو) په باره کښ هیڅ فائده. نو مخ اوګرځوه دَ

مَّنْ تَوَلّٰی عَنْ ذِكْرِنَا وَلَمْ يُرِدْ اِلَّا الْحَيٰوةَ

هغه چانه چه اوړی دَ ذکر زمونږ نه او نه غواړی مګر ژوند

الدُّنْيَا ﴿۲۹﴾ ذٰلِكَ مَبْلَغُهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ ط اِنَّ

دنیوی - دا اخری مقصد دے دَ علم دَ دوی یقیناً

رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيْلِهٖ

ستا رب بنهٔ پوهه دے په هغه چا باندے چه اوړی دَ لارے دَ هغهٔ نه

وَهُوَ اَعْلَمُ بِمَنِ اهْتَدٰی ﴿۳۰﴾ وَلِلّٰهِ مَا فِی

او هغه بنهٔ پوهه دے په هغه چا چه هدایت مومی . او خاص الله تعالیٰ لره اختیار دَ هغه څیزونو دے

الربع

ف۲۸ دا بل زجر دے په مشرکین بالملائکه باندے چه دَ دوی دغه عقیده دے دَ شفاعت دَ ملائکو او دَ بنات الله کیدلو او دَ مؤنث والی دَ ملائکو بے دلیله عقیده دی صرف ظن او ګمان دے . په ف۲۳ کښ هوٰی دَ نفس ئے هم ذکر کړے وه او دلته ئے ذکر نه کړه ځکه چه هلته دَ لات منات او عزّٰی په باره کښ دَ مشرکانو په عقیده او مشرکانه عملونو دواړو باندے تردید وو او دلته خو دَ ملائکو په باره کښ دَ دوی په مشرکانه عقیده باندے رد دے او په دے باره کښ دَ دوی عملونه نه وو . اِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِیْ مِنَ الْحَقِّ شَيْئًا دا رنګ سورة یونس ف۳۶ کښ تیر شویدی . په عقیده او اصولو کښ خو دلیل ظنی هر قسم هیڅ فائده نه ورکوی او په اعمالو او فروعو کښ هم هغه وخت فائده ورکوی چه دَ اصولو نه مستنبط وی .

او هر کله چه دلیل ظنی دَ پاره په اصولو کښ سند صحیح نه وی نو په اعمالو کښ هم فائده نه ورکوی .

ف۲۹ ف۳۰ دَ دے ایت نه تر اخره دَ سورت پورے دویم باب دے په دے کښ امر دے په اعراض کولو سره او درے اسباب دَ اعراض کولو او درے صفات ئے دَ اعراض کوونکو ذکر کړے دی . بیا زجر دے (پاتے په بل مخ)

السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ لِيَجْزِيَ الَّذِيْنَ

چه په آسمانونو کښې دی او هغه چه په زمکه کښې دی د دے دپاره چه بدله به ورکوی الله تعالیٰ هغه چاته

اَسَاءُوْا بِمَا عَمِلُوْا وَيَجْزِيَ الَّذِيْنَ

چه بدی ئے کړے ده په سبب دَ عملونو دَدوی او بدله به ورکوی هغه کسانو ته

اَحْسَنُوْا بِالْحُسْنٰى ﴿۳۱﴾ اَلَّذِيْنَ يَجْتَنِبُوْنَ

چه خائسته کارونه ئے کړے دی خائسته بدله - دا هغه کسان دی چه ډه ډه کوی

په پریخودونکی دَ دین باندے او دلیل نقلی دَ صحف ابراهیم او موسیٰ ته ذکر کړے دے بیا لس صفتونه دَ الله تعالیٰ ذکر کوی په رد دَ شرک کښې او تخویف دنیوی په ذکر دَ خلورو اقوامو مکذبینو سره بیا صداقت دَ رسول او دَ قیامت دے او زجر دے په انکار دَ قران باندے او اخر کښې تفریع دَ توحید ده په ټول سورت باندے۔

په دے (۲۹) کښې تفریع ده په مخکښې بیان باندے چه هرکله دلیل دَ حق وحی ده او دلیل دَ مشرکانو ظن او دَ خواهش تابعداری ده نو لازم ده په حق والو باندے چه دَ هغوی نه مخ واړوی او مراد دَ اعراض نه دَ هغوی دَ دین او مسلک نه ځان ساتل دی۔ او په دے ایاتونو کښې دَ باطل پرستو درے قبائح ئے ذکر کړیدی او دا اسباب دَ اعراض دی۔ ذِكْرِنَا مراد دَ دے نه توحید او قران دے ۳۰ ذٰلِكَ مَبْلَغُهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ یعنی دوی صرف په دنیا او دَ دنیا په طلب باندے پوهیږی لکه په سورة روم ۷ کښې تیرشوی دی یا دا چه دَ دنیا علمونه حاصلوی او په دین باندے نه پوهیږی یا دا چه دَ دین علم سبب دَ دُنیا دَ حصول دپاره اوګرځوی اِنَّ رَبَّكَ اه علت دے دَ امر دَ اعراض دپاره یعنی الله تعالیٰ دَ دواړو حالات جدا جدا پیژنی دَ دے وجے نه دَ اعراض او دَ جدا لئے امر ئے هدایت والو ته کړے دے۔

۳۱ ۳۲ دا عطف دے په معنیٰ دَ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ اه یعنی دَ هرچا په حال باندے عالم دے نو دا رنګ هرڅه دَ هغه په تصرف او اختیار کښې دی۔ لِيَجْزِيَ دَ مخکښې دواړو جملو سره تعلق لری او لام دَ عاقبت دے یعنی دَ الله تعالیٰ دَ دغه دواړه ذکر شوے صفتونو عاقبت او انجام دا دے چه په عدل او انصاف سره هر فریق له دَ هغه مناسبه جزا ورکوی او په دے ایت کښې ذکر دَ فریقینو دے۔ اَلَّذِيْنَ اَسَاءُوْا بِمَا عَمِلُوْا دَ دوی درے په تیرشوی ایت کښې ذکر شویدی۔ اَلَّذِيْنَ اَحْسَنُوْا دا ذکر دَ دویم

كَبٰٓئِرَ الْاِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ اِلَّا اللَّمَمَ ؕ اِنَّ

دَ غټو ګناهونو نه او دَ ښکاره بدکارونو نه سیوا دَ دے نه چه په زړه کښې ئې تیرشی یقینًا

رَبَّكَ وَاسِعُ الْمَغْفِرَةِ ؕ هُوَ اَعْلَمُ بِكُمْ

ستا رب فراخ بخشش والا دے هغه ښه پوهه دے په تاسو باندے

فریق دے او احسان نه مراد سورت کښې اتباع دَ وحی ده په مقابله دَ ظن او دهوٰی کښې. اَلَّذِيْنَ يَجْتَنِبُوْنَ دا تفسیر دَ الذین احسنوا دے اول صفت ثبوتیه وُو او دا صفت سلبیه دے. كَبٰٓئِرَ الْاِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ دا دواړه ګناهونه کبیره دی لیکن فرق ئې په صفت کښې دا دے چه کبائر نه مراد هغه ګناهونه دی چه قرآن او سنت دَ هغې نه منع کړے وی او دَ هغې سزا دنیوی یا اخروی ئې ذکر کړے وی اګرچه عقل یا طبیعت دَ هغې نه نفرت نه کوی لکه اقسام دَ شرک او لوئې بدعات شول او الْفَوَاحِشَ نه مراد هغه دی چه دَ هغې نه ټول عقلمند او سلیم طبیعت والا نفرت کوی او په شرع کښې دَ هغې نه منع کړے شوی وی نو عقل والا ئې هم بد ګڼړی لکه زنا، دروغ، بهتان، حقوق دَ بندګانو ضائع کول ظلم په بندګانو باندے وغیره. اِلَّا اللَّمَمَ دَ دے په تفسیر کښې درے اقوال دی اول دا دے چه دا ټولو ګناهونو ته شامل دے که صغیره وی او که کبیره وی بغیر دَ شرك او کفر نه په دے شرط چه یو کرت ارتکاب اوکړی او بیا توبه اوکړی دوباره ئې نه کوی. بنا په دے قول باندے اِلَّا استثناء متصله ده او مراد دَ دے نه غیر انبیاء دی ځکه چه انبیاء علیهم السلام معصوم دی دَ هر قسم ګناه کولو نه. دویم قول دا دے چه اللمم نه مراد صغیره ګناهونه دی یعنی چه په قرآن او حدیث کښې په هغې باندے حد او عذاب نه وی ذکر کړے او په حسناتو سره معاف کیږی بنا په دے باندے استثناء منقطع ده ځکه چه دا دَ کبائرو دَ جنس نه نه دی یا اِلَّا په معنیٰ دَ غیر سره دے او دَ دے نه هم انبیاء علیهم السلام خارج دی ځکه چه غوره قول دا دے چه هغوی دَ صغیره ګناهونو نه هم مطلقًا پاک دی. دریم قول دا دے چه مراد دَ دے نه خطراتِ قلبیه دی یعنی بے اختیاره وسوسے چه په زړه کښې تیریږی لیکن عمل پرے نه کوی بنا په دے باندے هم استثناء منقطع ده او په دے ایت کښې انبیاء علیهم السلام هم داخل دی په قرینه دَ حدیث سره چه په هغې کښې دا شعر نقل کړے شوے دے (پاتے په بل مخ)

اِذْ اَنْشَاَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ وَاِذْ اَنْتُمْ اَجِنَّةٌ

کله چه تاسو ئې پیدا کړی ئې دَ زمکې نه او کله چه تاسو پټ وئے

فِیْ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ فَلَا تُزَكُّوْۤا اَنْفُسَكُمْ

په ګېډو دَ مائندو ستاسو کښ نو ستائنې مه کوئے دَ ځانونو خپلو

هُوَ اَعْلَمُ بِمَنِ اتَّقٰى ﴿۳۲﴾ اَفَرَءَيْتَ الَّذِیْ ع ۲

هغه ښهٔ پوهه دے په هغه چا چه تقویٰ کوی - ایا ته خبر ئې دَ هغه چا په حال باندے

تَوَلّٰى ﴿۳۳﴾ وَاَعْطٰى قَلِيْلًا وَّاَكْدٰى ﴿۳۴﴾

چه مخ ئې اړولے دے، او ادا کړے دے حق لږ او بند شوے دے.

اِنْ تَغْفِرِ اللّٰهُمَّ تَغْفِرْ جَمًّا ۞ وَاَیُّ عَبْدٍ لَّكَ لَا اَلَمَّا

اِنَّ رَبَّكَ وَاسِعُ الْمَغْفِرَةِ دا تسلی دهٔ اصحابِ لمم ته یا ترغیب دے ټولو ګناهګارو ته په توبه او استغفار کولو سره. هُوَ اَعْلَمُ بِكُمْ روستو دَ ترغیب نه ترهیب دے چه خپل صفتونه مکوئے بلکه دَ الله تعالیٰ نه بخنه غواړئے او دا تمهید دے دَ فَلَا تُزَكُّوْا دَپاره حاصل دا دے چه الله تعالیٰ هر انسان لره چه دَ خاورے نه جوړ کړے دے نو الله تعالیٰ ته معلومه دهٔ چه دَ سختې خاورے نه دے او که دَ نرمے نه او دَ طیبې خاورے نه دے او که دَ خبیثې نه یعنی چه دے به نیک عمل والا وی او که بد عمل والا او نیک بخت به وی او که بد بخت به وی او کله چه دَ مور په خیټه کښ دا انسان دَ ابتدا دَ نطفې نه تر پیدائش پورے موجود وو او په کتاب دَ ملائکو کښ دَ دهٔ عمر، اجل، روزی، عمل او نیک بختی او بد بختی لیکلے دهٔ په هغے باندے صرف الله تعالیٰ عالم دے نو هر کله چه انسان دَ خپل حال دَ عاقبت نه خبر نه دے نو فَلَا تُزَكُّوْۤا اَنْفُسَكُمْ دَ خپلو ځانونو صفتونه مکوئے چه زهٔ لوئے مرتبے والا یم او زهٔ بخلے شوے یم او زهٔ جنتی یم داسے ستائینې کول حرام دی.

۳۳-۳۴ ربط دا دے لکه چه خپله ستائینه کول حرام دی نو دا رنګ امید ساتل چه لګ صالح عمل کول او بیا دین پریخودل کافی دی دَ نجات دَ پاره نو دا عقیده ساتل هم منع دهٔ هیڅ فائده نه ورکوی او په دے ایاتونو کښ زجر دے په یو خاص صفت باندے که په هر چا کښ وی هغه دا دے که یوه سجده الله تعالیٰ ته اوکړی او نور

أَعِندَهُۥ عِلْمُ ٱلْغَيْبِ فَهُوَ يَرَىٰٓ ﴿٣٥﴾ أَمْ لَمْ

ایا د دهٔ سره علم دے د پټو خبرو نو دے وینی ایا نه دے

يُنَبَّأْ بِمَا فِى صُحُفِ مُوسَىٰ ﴿٣٦﴾ وَإِبْرَٰهِيمَ

خبر کړے شوے په هغه مضمون چه په صحیفو د موسیٰ علیه السلام کښ دے، او د ابراهیم علیه السلام کښ

توحید او رسالت نه منی او دا د نجات د پاره پوره ګنړی لکه چه مشرکین مکه د دے سورت د تلاوت په وخت کښ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یو ځائے سجده کړے وه او حال دا چه توحید او رسالت ئے نه منلو یا یو شخص صرف مونځ کوی او نور دین نه منی او دا د نجات د پاره کافی ګنړی یا یو عالم دعوت د حق څه زمانه اوکړی او بیا ئے پریګدی او یا دعوت د یو مسئلے کوی او نورے مسئلے د حق نه بیانوی او دا پوره ګنړی او شیطان انسی یا جنی ورله دهوکه ورکړے وی چه نور دین ته حاجت نیشته ازار ګناه زما په غاړه دے یا ورته اوائی چه ستا پلار نیکه ډیر عمل کړے دے هغه ستا د پاره پوره دے نو په دے ایاتونو کښ دا سے انسانانو ته زورنه ورکوی او دغه دواړه شبهات هم دفع کوی. تَوَلّٰی د پوره دین نه مخ ګرځوی. وَأَعْطَىٰ قَلِيلًا د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه لګ اطاعت اوکړی او بیا بند شی وَأَكْدَىٰ دا اغستلے شوید ے د کدیة نه په طریقه د مثال سره یعنی چه څوک کوهی کنی او مخ ته ئے کا ګره راشی نو کنستل پریګدی او عاجز شی نو دا رنګ دغه انسان لګ کار د دین اوکړو او نور ورته سخت مشکل ښکاره شو نو پریخودلو.

۳۵ دا استفهام انکاری دے فَهُوَ يَرَىٰ رویة په معنیٰ د علم سره دے یعنی دهٔ ته د غیب او د وحی نه معلومه شویده چه لږ دین کښ نجات دے ټول دین ته حاجت نیشته خو دا سے نه ده.

۳۶، ۳۷ صحف موسیٰ نه مراد تورات دے ځکه چه هغه مشتمل وُ په مختلفو حصو باندے لکه چه قران ته هم صحف مکرمه ویلے شوید ے یا مراد د دے نه نور واړه کتابونه وُ چه موسیٰ علیه السلام ته د تورات نه مخکښ ورکړے شوی وُ او د هغے تعداد په صحیح قول سره ثابت نه دے او دا رنګ صحیفے د ابراهیم علیه السلام د هغے هم پوره شمار معلوم نه دے په روایت صحیحه سره. الَّذِي وَفَّىٰ صفت دے د ابراهیم علیه السلام لکه چه سورة بقره ۱۲۴ کښ راپاتے په بل مخ)

الَّذِي وَفّٰى ﴿۳۷﴾ اَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ﴿۳۸﴾

هغه چه پوره ئې ادا کړے دے حق، چه نشي اوچتولے یو پیټي والا پیټے د بل چا.

وَاَنْ لَّيْسَ لِلْاِنْسَانِ اِلَّا مَا سَعٰى ﴿۳۹﴾

او چه نیشته انسان د پاره مګر هغه چه ده کوشش کړے وی.

ذکر شویدی یا صفت دے د هر یو د موسٰی او ابراهیم علیه السلام نه. او دواړه قسم صحیفے د دے وجے ذکر کړے چه مشرکینو به د موسٰی علیه السلام د کتاب تصدیق کوؤ د وجے د دوستانے او د اعتماد نه په یهودیانو باندے او د ابراهیم علیه السلام د تابعدارئ خو دعوه دار وؤ. نو په دے دواړو کښ په دوی باندے الزام حجت دے.

س۳۸ د دے ایت نه تر س۵۵ پورے مضمون د دے صحیفو دے او یو قول دا دے چه تر س۴۲ پورے دے او په دے جمله کښ تردید دے د اولے وسوسے چه هغه خوک چه دین ئې نیمګړے پریخودلو هغه ته شیطان انسی او جنّی وسوسه ورکړیده چه د باقی دین پریخودلو کښ څه ګناه وی نو زه د هغے ذمه واریم او دا سے تیر شویدی په سورة انعام س۱۶۴ او سورة اسراء س۱۵ او سورة فاطر س۱۸ او سورة زمر س۷ کښ.

س۳۹ په یکښ جواب دے د دویمے وسوسے هغه دا چه عمل د مشرانو پوره دے نو په هغے سره کشران بچ کیدے شی نو د کشرانو عمل کولو ته څه ضرورت نیشته نو په دے جمله کښ د دے تردید دے او ترغیب دے چه انسان دِ د ځان د فائدے د پاره د عمل کولو کوشش اوکړی.

فائده ۱:- په دے ایت سره معتزلو استدلال کړے دے چه هیڅ بنده د خپل عمل ثواب بل چا لره نشی بخلے او نه هغه بل ته په دے سره څه فائده رسیږی. لیکن دا قول ئې باطل دے او خطیب شربینی د ابن تیمیه رحمة الله علیه نه یو ویشت وجوه نقل کړے دی چه انتفاع په عمل د غیر سره ثابت ده یو د هغے نه حدیث دے چه نبی صلی الله علیه وسلم د خپل امت د طرف نه اضحیه (قربانی) کړے وه دویم د هغے نه حدیث د سعد دے چه د مور د طرف نه ئې صدقه کړے وه په امر د نبی صلی الله علیه وسلم سره دریم انتفاع د اولاد په عمل د پلار سره ده لکه چه سورة طور کښ تیر شویدی او دا سے په واقعه د خضر علیه السلام په باره د یتیمانو کښ په سورة کهف کښ تیر شویدی). نو د دے وجوهو په بنا باندے

په دے ایت کښې دَ اهل سنت والجماعت یوڅو توجیهات دی. اول دا چه دَ سعی نه مراد ایمان دے او دَ عمل دَ غیر نه فائده هم مؤمن ته رسیږی دَ ایمان دَ وجے نه نو دا سے شوه لکه چه دا عملونه ده پخپله کړے وی. دویمه وجه دا چه دا ایت خاص دے په یهودو او نصاریٰ پورے. دریمه دا چه لام په معنیٰ دَ ملکیت او اختیار سره دے یعنی هر انسان لره په خپل عمل کښې ملکیت او اختیار دے که پخپله تربیه فائده اخلی او که یل چا ته ئے ثواب بخی. څلورمه دا چه دلته دَ انسان نه مراد کافر دے. پنځمه دا چه حکم دَ دے ایت په اعتبار دَ عدل دَ الله تعالیٰ سره دے او دَ بل چا دَ عمل فائده یا زیات دَ عمل نه ثوابونه په فضل دَ الله تعالیٰ سره دی. شپږمه دا چه سعی په معنیٰ دَ نوی سره دے یعنی دارومدار په نیت سره دے. اُومه توجیه دا ده چه ایت خاص دے په باره دَ ګناهونو کښې دا توجیهات تفسیر روح المعانی او قرطبی او سراج المنیر وغیره کښې ذکر کړے دی.

فائده ع۲:- دَ امام شافعی او امام مالک رحمهما الله مسلک دا دے چه عبادتِ مالیه بل چا ته فائده ورکولے شی لیکن دَ عبادت بدنیه (مونځ، روژه، تلاوت) ثواب بل چا ته نشی بخلے کیدلے ځکه چه دَ دعوی په نیز دَ عبادت مالیه په باره کښې صحیح احادیث شته لیکن دَ عباداتِ بدنیه په باره کښې صحیح احادیث نه دی ثابت. او دَ امام ابوحنیفه رحمة الله په نیز دَ عباداتِ بدنیه ثواب هم غیر ته بخلے کیدے شی بو دلیل عمومات دی چه انتفاع په عمل دَ غیر سره ثابت ده لکه چه مخکښې دَ تفسیر سراج المنیر حواله هم ورکړے ده دویم حدیث دَ ختعمیه دے په باره دَ حج عن الغیر کښې چه حج عبادتِ بدنیه او مالیه دواړو نه مرکب دے دریم قیاس کول دی په عبادتِ مالیه باندے څلورم قرطبی روایت کړے دے چه عائشه رضی الله عنها اعتکاف کړے وو دَ طرف دَ رور نه او دَ دے سند ئے نه دے ذکر کړے پنځم حدیث دَ مسند احمد دے چه عمر رضی الله عنه ته رسول الله صلّی الله علیه وسلّم فرمائیلے وو که ستا پلار اقرار دَ توحید کړے وے او تا دَ هغه دَ طرف نه روژه نیولے وے او تصدّق دِ کړے وے نو هغه له به ئے نفع ورکړے وه دا روح المعانی نقل کړے دے پنځم حدیث دَ ابوداؤد دے چه ابوهریره رضی الله عنه اهلِ اُبلّه ته ویلے وو څوک شته چه زما دَ پاره په مسجد عشار کښې دوه رکعته یا څلور رکعته مونځ اوکړی او اُوائی چه دا دَ ابوهریره دَ پاره دی دا مشکوٰة باب الملاحم کښې راوړے دے (رپاتے په بل مخ)

وَاَنَّ سَعْيَهٗ سَوْفَ يُرٰى ﴿٤٠﴾ ثُمَّ يُجْزٰىهُ

او يقيناً كوشش دَ دهٔ زر دے چه او به ليدلے شي . بيا به بدله وركيدے شي

الْجَزَآءَ الْاَوْفٰى ﴿٤١﴾ وَاَنَّ اِلٰى رَبِّكَ

بدله بشهٔ پوره ، او يقيناً ستا رب ته

او البانى ويلے دی چه اسناد دَ دے ضعيف دی.

فائده ع۳ :- په عبادتِ بدنيه كښ تلاوت دَ قرآن كريم هم داخل دے دَ هغے ثواب بل چاته د. مخلو دَپاره هم خصوصی نص صحيح نيشته صرف په عموما توكښ دَ احنافو په نيز بانددے داخل دے ليكن دَ ختم قرآن دَ كولو دَپاره خاص هئيت جوړول چه ډير كسان جمع شي او سپارے تقسيم كړی او په جمع سره قرآن لولی څوك ئے په اوچت آواز سره لو لی او څوك په پټه سره دا هئيت جوړول دَ ختم دَپاره په هيڅ نص سره ثابت نه دے لكه چه فتاویٰ بزازيه هم ليكلے دی - وَيُكْرَهُ اِتِّخَاذُ الطَّعَامِ فِي الْيَوْمِ الْاَوَّلِ وَالثَّالِثِ وَبَعْدَ الْاُسْبُوْعِ وَالْاَعْيَادِ وَنَقْلُ الطَّعَامِ اِلَى الْقَبْرِ فِي الْمَوَاسِمِ وَاِتِّخَاذُ الدَّعْوَةِ لِقِرَاءَةِ الْقُرْاٰنِ وَجَمْعِ الصُّلَحَاءِ وَالْقُرَّاءِ لِلْخَتْمِ اَوْ لِقِرَاءَةِ سُوْرَةِ الْاَنْعَامِ او الْاِخْلَاصِ. مك۸ حاشيه دَ عالمگيری (ترجمه او مكروهه دے طعام تيارول په مړی پسے په اوله او دريمه ورځ او روستو دَ هغے نه او په اخترونوكښ او طعام اوړل قبر ته په موسم دَ اخترونوكښ او مكروهه دے دعوت جوړول دَپاره دَ قرآن لوستلو او جمع كول دَ نيكانو او قاريانو دَ ختم دَپاره يا سورة انعام او اخلاص دَ لوستلو دَپاره) او ابن كثير ويلے دی چه دَ هغے عبارت ترجمه داده "او دَدے آيت نه امام شافعی او دَ هغه تابعدارو دليل نيولے دے چه قراءة چه دے دَ هغے ثواب مړوته نه رسيږی ځكه دا عمل او كسب دَ صحابه كرامو نه دے او دَ دے وجے نه نبی صلی الله عليه وسلم دَ خپل امت دَپاره نه دے بيان كړے او نه ئے ترغيب وركړے او نه ئے ديته په نص او اشاره سره ارشاد كړے او دَ هيڅ يو صحابی نه نقل نه دے شوے او كه دا دَ خير كار وے نو صحابه كرامو به زمونږ نه مخكښ كړے وے او په باب دَ عباداتو كښ په نصوصو باندے اقتصار كيدے شی او نه هغے ته په قياسونو او آراؤ سره گرځيدل كيدے شی" او په روح المعانی كښ ليكلے دی چه هركله قراءت په اجرت سره وی لكه چه اوس ئے اكثر خلق كوی حافظانو ته اجرت وركوی دَ دے دَپاره چه دَ دوی په مړو پسے قرآن او لولی نو دَ دے ثواب هغوی ته نه رسيږی ځكه چه دَ هغے ثواب نيشته دَ وجے دَ حرام والی دَ اجرت اخستلو نه په قراءة ش۲۰ سك۴ لكه چه سورة زلزال كښ راغلے دی او ظاهر دَ آيت نه داده چه عملونه (په خاص شكل كښ) ليدلے كيدے شي.

د قرآن ختم ع

الْمُنْتَهٰى ﴿۴۲﴾ وَاَنَّهٗ هُوَ اَضْحَكَ وَاَبْكٰى ﴿۴۳﴾ وَاَنَّهٗ

اخری رسیدل دی، او یقیناً هغه خندا پیدا کوی او ژړا پیدا کوی، او یقیناً هغه

هُوَ اَمَاتَ وَاَحْيَا ﴿۴۴﴾ وَاَنَّهٗ خَلَقَ الزَّوْجَيْنِ

مره کول کوی او ژوندی کول کوی، او یقیناً هغه پیدا کړیدی جوړے

الذَّكَرَ وَالْاُنْثٰى ﴿۴۵﴾ مِنْ نُّطْفَةٍ اِذَا تُمْنٰى ﴿۴۶﴾

نارینه او زنانه، د نطفے نه کله چه واچولے شی په رحم کښ۔

وَاَنَّ عَلَيْهِ النَّشْاَةَ الْاُخْرٰى ﴿۴۷﴾ وَاَنَّهٗ هُوَ

او یقیناً د هغه په ذمه بائندے پیدائش بل دے، او یقیناً هغه

۴۲ د دے ایت نه صفات د الله تعالیٰ ذکر کیږی د پاره د اثبات د توحید په دے ایت کښ یو صفت ذکر کړے دے۔ الْمُنْتَهٰى یعنی رجوع د ټولو خلقو او د ټولو عملونو الله تعالیٰ ته ده د پاره د حساب کولو او د جزا ورکولو۔ یا انتها د امیدونو یو الله تعالیٰ ته ده د بل هیچا نه امید د نفع او نقصان نیشته۔ یا انتها د فکرونو الله تعالیٰ پورے ده یعنی هر څیز ته فکر کیدے شی لیکن د الله تعالیٰ په ذات کښ فکر نه چلیږی یعنی هر کله چه شیطان وسوسه شورو کړی چه الله تعالیٰ چا پیدا کړے دے او څنګه دے نو دغه وخت اعوذ بالله اوائے او منع شئ د فکر کولو نه او دا په حدیث صحیح کښ راغلے دی۔

۴۳ نه تر ۴۹ پورے په دے ایاتونو کښ نهه صفتونه د الله تعالیٰ ذکر کوی د پاره د اثبات د توحید۔ او په دے کښ دوه دوه متضاد څیزونه ذکر کوی دے ته په علم بدیع کښ الطِّبَاقُ الْمُتَضَادُ ویلے کیږی۔ او په یکښ مفعولونه نه دی ذکر کړی ځکه مراد د دیته تخصیص په یو مفعول پورے نه دے بلکه ذکر د صفتونو د قدرت د الله تعالیٰ مراد دے۔ فائده: په دے صفتونو کښ چه په کومو کښ هیڅ وهم د شرکت د غیر الله نیشته نو په هغے کښ هُوَ ضمیر فصل ئے نه دے ذکر کړے لکه خَلَقَ مذکر او مونث د نطفے نه مشرکانو هم د دے اقرار کوؤ۔ او په کومو صفتونو کښ چه وهم د شرک وؤ نو په هغے کښ هُوَ ضمیر فصل ئے د پاره د تاکید د توحید ذکر کړے دے۔ اَضْحَكَ وَاَبْكٰى یعنی خندا او ژړا او د دے اسباب (غمونه او خوشحالئے) الله تعالیٰ پیدا کوی۔ اَمَاتَ وَاَحْيَا د بعض منکرینو سرکشانو دعویٰ دا ده چه دا ر پاڼے په بل مخ)

اَغْنٰى وَاَقْنٰى ﴿۴۸﴾ وَاَنَّهٗ هُوَ رَبُّ الشِّعْرٰى ﴿۴۹﴾

مالدار جوړوی او غریب جوړوی، او یقیناً هغه رب دَ شعریٰ ستوری دے،

تصرف او اختیار زما دے چه څوک مړ کوم او څوک ژوندے پریګدم لکه نمرود چه دعویٰ کړے وه او ابراهیم علیه السلام په هغه باندے حجت قائم کړو سورة بقره کښ تیر شویدی.

اَغْنٰى وَاَقْنٰى په دے کښ ډیر اقوال دی ۱ اَغْنَاء په مطلق مال ورکولو سره او اَقْنَاء په هغه مال سره چه خزانه کیږی او ساتلے کیږی.

۲ اَغْنَاء په نقودو سره او اقناء په څاروؤ سره.

۳ اغناء په مالونو ډیرو سره او اقناء په خادمانو او نوکرانو ورکولو سره.

۴ اغناء مال ورکول او اقناء راضی کول.

۵ اغناء مالدار کول او اقناء فقیر کول.

۶ اغناء دَ ځان او اقناء فقیر کول دَ مخلوق.

رَبُّ الشِّعْرٰى. شعری دوه دی یو شعری القبور دے او دیته مرزم الجوزاء او شعری یمانیه او کلب الجبّار هم وییلے کیږی او دویم قسم شعری الغمیصا او شعری الشامیه دے اول قسم دَ جوزاء میاشت ته روستو دَ ګرمئ په موسم کښ ښکاره کیږی. حمیر او خزاعه قبیلو دَ اول قسم شعری عبادت شورو کړے وو او دَ دے اوله ابتداء ابو کبشه کړے وه چه هغه دَ رسول الله دَ مور دَ طرف نه لرے نیکه وؤ او ماسیوا دَ خزاعه او حمیر نه نورو قبیلو دَ عربو دَ هغه نه مخالفت کوؤ او ویل ئے چه دے صابی دے نوے دین ئے ایجاد کړے دے او دَ دے وجه نه به قریش مکه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته هم ابن ابی کبشه ویل یعنی دهٔ هم دَ هغه په شان نوے دین راوړے دے او رسول الله صلی الله علیه وسلم او دَ هغه صحابو ته به دوی صابیان ویل. او دَ شعرٰی دَ عبادت خاص کولو وجه دوی دا سے ذکر کوله چه نور ستوری په آسمان کښ په عرض (پلن والی) باندے مزل کوی او شعری پکښ په طول (اوږد والی) سره مزل کوی او ویل ئے چه دے په دنیا کښ تاثیر کوؤنکے دے! خو الله تعالیٰ دَ هغوی په رد کښ اوفرمائیل چه په شعری کښ تاثیر اچولو والا او دَ هغه چلوؤنکے خو الله تعالیٰ دے نو شعرٰی مربوب دے نو تاسو دهٔ لره معبود ولے ګنړے؟.

وَأَنَّهُ أَهْلَكَ عَادًا الْأُولَىٰ ﴿٥٠﴾ وَثَمُودَ فَمَا

او یقینًا هغه هلاک کړیدی عادیان زاړه ، او ثمودیانو نو

أَبْقَىٰ ﴿٥١﴾ وَقَوْمَ نُوحٍ مِّن قَبْلُ إِنَّهُمْ كَانُوا

باقي ئې نه دے پرېخودے هیڅوک، او تباه کړیدي قوم دَ نوح علیه السّلام دَ ټولو نه مخکښ یقینًا دوی وُو

هُمْ أَظْلَمَ وَأَطْغَىٰ ﴿٥٢﴾ وَالْمُؤْتَفِكَةَ أَهْوَىٰ ﴿٥٣﴾

ډیر ظلم کوؤنکي او ډیر سرکش او مؤتفکه کلي دَ برے نه ئې اوغورځولو هغه،

فَغَشَّاهَا مَا غَشَّىٰ ﴿٥٤﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكَ

نو پټ کړو هغې لره هغه څيز چه پټ ئې کړو. نو په کوم یو دَ نعمتونو دَ رب ستا باندے

تَتَمَارَىٰ ﴿٥٥﴾ هَٰذَا نَذِيرٌ مِّنَ النُّذُرِ

شک کوئے. دا ویره ورکوؤنکے دے دَ ویره ورکوؤنکو

۵۰ ۵۱ ۵۲ ۵۳ ۵۴ په دے ایاتونو کښ هم ذکر دَ تصرف دَ الله تعالیٰ دے په اهلاک دَ لویو قومونو سره او ورسره تخویف دنیوی دے په ذکر دَ عذاب دَ خلورو قومونو چه تکذیب دَ انبیاء علیهم السّلام ئې کړے وُو. الْأُولَىٰ قبیله عاد دوه وُو یو اولیٰ یعني عادِ ارم او بل عاد ثمودیانو ته ویلے کیدلو. یا اولیٰ نه مراد هغه دی چه ډیر مخکښ تیر شویدی چه دَ هغوی نه وړاندے بل عاد نه وُو. أَظْلَمَ وَأَطْغَىٰ دا خاص دے په قوم دَ نوح علیه السلام پورے یا متعلق دے په ماقبل درے واړو پورے. أَظْلَمَ په عقیده کښ او أَطْغَىٰ په عمل کښ یا اول په حقوقو الٰهیو کښ او دویم په حقوقو دَ بندګانو کښ. وَالْمُؤْتَفِكَةَ په سورة الحاقة ۹ کښ جمع ذکر کړے ده ځکه چه ډیر کلي وُو او دلته مفرد په معنیٰ دَ جنس دے. مَا غَشَّىٰ ابهام ئې اوکړو اشاره ده ډیر والي دَ کانړو ته چه دَ انسانانو په شمار کښ او په علم کښ نشي راتللے. او دلته ئې پنځم قوم یعني قوم فرعون ذکر کړے نه دے کیدے شي چه مخکښ صحف موسیٰ کښ هغه قوم ته اشاره وه نو دَ دے وجې نه ئې بیا ذکر نه کړو.

۵۵ هر کله چه مخکښ بعضے نعمتونه ذکر کړے شو (پاتے په بل مخ)

الْأُوْلٰى ﴿۵۶﴾ أَزِفَتِ الْاٰزِفَةُ ﴿۵۷﴾ لَيْسَ لَهَا مِنْ

مخکنو نه - رانژدې شو نژدې راتلونکې آفت - نيشته هغې لره سيوا

دُوْنِ اللّٰهِ كَاشِفَةٌ ﴿۵۸﴾ أَفَمِنْ هٰذَا الْحَدِيْثِ

د الله تعالیٰ نه هیڅوک ښکاره کوونکې - آیا د دې خبر نه

تَعْجَبُوْنَ ﴿۵۹﴾ وَتَضْحَكُوْنَ وَلَا تَبْكُوْنَ ﴿۶۰﴾

تاسو تعجب کوئ ، او خندا کوئ او نه ژاړئ ،

نو اوس زجر ورکوی انسان مکذب ته لکه چه دا سے سورة رحمٰن کښ هم راغلی دی یا استفهام انکاری دے او عام خطاب دے یعنی کوم یو نعمت د الله کښ شک کیدے شی ؟

سے ۵۶ دا صداقت د رسول دے او اشاره ده تخویف د منکرینو ته یعنی څنګه چه د مخکنو رسولانو په تکذیب کوونکو عذاب راغے نو دا سے به د دے رسول په منکرینو هم عذاب راځی یا دنیوی یا اخروی۔ هٰذَا اشاره ده محمّد رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یا اشاره ده تیر شوی ذکر د رسولانو او د قومونو د هغوی ته او بنا په دویمه توجیه سره نذیر مصدر دے په معنیٰ د انذار سره۔

سے ۵۷ سے ۵۸ دا تخویف اخروی دے الْاٰزِفَةُ نوم دے د نومونو د قیامت نه په معنیٰ د الساعة او الاٰزفة القریبة یعنی نژدے راتلونکے دے او نژدے دے خلقو ته۔ کَاشِفَةٌ اسم فاعل دے او موصوف ئے حذف دے یعنی نفس کاشفة او د کاشفة معنیٰ ښکاره کوونکے (واقع کوونکے دے) یا په معنیٰ د تفصیلی بیان کوونکے یا په معنیٰ د لرے کوونکے د خلقو نه کله چه په دوی باندے راشی۔ یا کاشفة په معنیٰ د مصدر سره دے او اوله معنیٰ مراد ده۔

سے ۵۹ سے ۶۰ سے ۶۱ دا زجر دے په انکار د قرآن سره مراد د حدیث نه قرآن دے او خلورو قباحتونه د منکرینو ئے ذکر کړے دی۔ تَعْجَبُوْنَ تعجب په طریقه د انکار سره دے لکه سورة یونس سے ۲ او سورة ص سے ۵ کښ۔ وَتَضْحَكُوْنَ دا په طریقه د استهزاء سره مراد دے خوشحالی مراد نه ده۔ وَلَا تَبْكُوْنَ ژړا کول په دے سره د نیکانو خلقو صفت دے لکه سورة اسراء سے ۱۰۹ کښ دی یا مراد د حدیث نه خبر د ازفت الاٰزفة دے۔ وَأَنْتُمْ سَامِدُوْنَ د سمود معنٰے اعراض، غفلت، استکبار لهو ولعب کول او غزلے

ع۳ السجدة ۱۲

وَاَنْتُمْ سٰمِدُوْنَ ﴿۶۱﴾ فَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ وَاعْبُدُوْا ﴿۶۲﴾ ع السجدة

او تاسو غفلت کوونکي یئ. نو سجده کوئ الله تعالیٰ ته او بندګي کوئ دغه.

شعرونه ویل په طریقه دَ سرودونو سره"۔ اشاره ده چه دَ قرآن په مقابله کښ سرودونه ویل دَ کافرانو کار دے او دا جمله حالیه ده۔ یا جمله مستانفه مستقله ده۔

۶۲ دا تفریع ده په ټول سورت باندے یعنی هرکله چه ثابت شوه چه دَ دے رسول دلیل وحی ده او تاسو سره صرف ظن او اتباع دَ هوئ ده بیا ثابت شوه چه الله تعالیٰ انعامات کوونکے دے او رسول او قرآن یئ حق رالیږلے دی نو فرض ده په تاسو باندے چه سجده او تمام عبادات الله تعالیٰ لره خاص کړئ. اول امر یئ دَ سجدے اوکړو دَ ډیرو وجوهو نه اول دا چه سجده په ټولو ارکانو دَ مونځ کښ ډیر اهم رکن دے. دویم دا چه دَ سجدے په وخت کښ الله تعالیٰ ته قربت ډیر حاصلیږی دریم دا چه دا سجده دَ تلاوت ده او هغه مستقل عبادت دے۔

لِلّٰهِ لام دَ پاره دَ تخصیص دے ځکه چه الله تعالیٰ ته سجده خو مشرکانو هم کوله لیکن دَ الله تعالیٰ نه سیوا نورو خپلو معبودانو ته یئ هم کوله۔

وَاعْبُدُوْا دا تعمیم بعد التخصیص دے او لفظ دَ لِلّٰهِ په دے کښ هم مراد دے په قرینه دَ معطوف علیه سره دَ دے امر دَ ذکر کولو وجه دا وه چه صرف سجده مشرکانو هم کوله لکه چه حدیث کښ راغلی دی چه دَ دے سورت په تلاوت سره رسول الله صلی الله علیه وسلم او مؤمنانو او مشرکانو او پیریانو ټولو سجده اوکړه لیکن نور عبادتونه یئ نه کول نو امر ورته اوکړے شو چه ټول عبادتونه الله تعالیٰ لره خاص کوئ۔

ختم شو تفسیر دَ سورة نجم په توفیق دَ الله تعالیٰ سره

سُوْرَةُ الْقَمَرِ ۵۴ مَكِّيَّةٌ ۳۷	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰيَاتُهَا ۵۵ رُكُوْعَاتُهَا ۳

اِقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ ۝۱ وَاِنْ يَّرَوْا

ډیر نزدے شو قیامت او اوچود له سپوږمۍ - او که چرے اُوینی دوی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة القمر

ربط دَ دے سورت دَ مخکښ سورت سره په څو وجوهو سره دے اوله وجه دا چه مخکښ زجرونه دَ مشرکانو په عقیده او دلیل باندے نو په دے سورت کښ تخویف اخروی دے. دویمه وجه دا چه اول ذکر شو چه مشرکان دَ خواهش تابع داروی په عقیده کښ نو اوس ذکر کوی چه دَ وجے دَ خواهش نه دَ معجزاتو انکار کوی. دریمه وجه دا چه تیر شوی سورت کښ دَ اقوام مکذبو ذکر اجمالی وؤ نو په دے سورت کښ دَ هغوی ذکر تفصیلی دے. څلورمه دا چه دَ هغه سورت په اخر کښ ازفت او دَ دے سورت په اول کښ اقتربت الساعت دے.

دعوىٰ دَ دے سورت. تخویف اخروی په ذکر دَ اقتراب دَ ساعت او سبب دَ تخویف تکذیب دے او هغه سبب دَ عذابونو وؤ په پنځه قومونو مکذبینو باندے. او په سورت کښ رد دَ شرک فی الدعاء او فی التصرف او ۴۹ کښ ایمان بالتقدیر ذکر دے او په هغے کښ رد دے په شرک فی البرکات باندے یعنی دَ الله تعالیٰ مقرر اندازه هیڅوک نشی بدلولے.

خلاصه دَ دے سورت. تخویف اخروی سرهٔ دَ معجزے نه بیا زجر دے دَ منکرینو په ذکر کولو دَ پنځه حالتونو دَ هغوی او تخویف اخروی دے په ذکر دَ پنځه هیبتونو دَ قیامت سره بیا تخویف دنیوی دے په ذکر دَ پنځه قومونو تیر شوؤ سره بیا زجر دے په پنځه حالاتو دَ موجوده منکرینو سره بیا تخویف اخروی دے په پنځه احوالو سره بیا ذکر دَ قدرت دَ الله تعالیٰ دے په پنځه طریقو سره دَ پاره دَ اثبات دَ قیامت او اخر کښ بشارت دے په پنځه طریقو سره.

تفسیر ۱ دا تخویف اخروی دے اِقْتَرَبَتِ باب افتعال په ډیر نزدیکت باندے

اٰيَةً يُّعْرِضُوْا وَيَقُوْلُوْا سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ ۝۲

نښه نو مخ اړوي او وائي دوی دا جادو پوخ دے .

وَكَذَّبُوْا وَاتَّبَعُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ وَكُلُّ اَمْرٍ

او دروغژن ګڼړي حق لره او تابعداري کوي دَ خواهشاتو خپلو او هر کار

دليل دے اَلسَّاعَةُ نوم دے دَ تومونو دَ قيامت ته اومراد دَ دے ساعت نه فنا کيدل دَ عالم دي يا ساعت دَ بعث بعدالموت دے په شپيلئ وهلو سره .

وَانْشَقَّ الْقَمَرُ دا جمله حاليه ده يعني انشقاق دَ قمر دليل دے په صداقت دَ دے رسول صلّى الله عليه وسلّم باندے اوراتلل دَ ده دُ دنيا ته اوله نښه ده دَ قرب دَ ساعت او دارنګ انشقاق دَ قمر دليل دے په قدرت دَ الله تعالیٰ باندے چه دارنګ هغه قادر دے دَ ټول عالم په فنا کولو باندے .

او انشقاق القمر معجزه وه چه ښکاره کړے شوے وه مکے والو ته او دا حديث امام بخاري، امام مسلم، ترمذي بيهقي او ډيرو محدثينو په صحيح اسانيدو سره ذکر کړے دے او دَ انس او ابن عباس او ابن عمر او ابن مسعود او جبير بن مطعم رضی الله عنهم نه روايت کړے شويدے انکار کول دَ دے نه بدعتي اعتقاديه دے نو که په دے ايت کښې مفسرين نور اقوال ذکر کوي دَ دے لفظ دَ عموم دَ وجے نه نو جائز دي او که چا دَ معجزے دَ انکار دَ وجے نه نور اقوال ذکر کړے وي نو هغه مردود دے . په دَ دے کښې دويم قول دا دے چه فعل ماضي په معنیٰ دَ مضارع ده يعني دَ قيامت قائم کيدلو په وخت کښې به سپو ړمۍ اوچوي دريم قول دا دے چه خه ښکاره شوحال دَ صداقت دَ دے پيغمبر. ليکن روستو ايا تو هم ښکاره دلالت کوي چه دلته بحث دے په باره دَ معجزه کښې .

۲ دَ دے ايت نه تر ۷ پورے زجرونه دي او دَ منکرينو پينځه حالات ذکر کوي په دے ايت کښې زجر دے او دَ منکرينو دوه حالتونه ذکر کړے دي .

مُسْتَمِرٌّ په دے لفظ کښې دَ اختلاف دَ مادے دَ وجے نه ډير اقوال دي .

دَ مِرَّة نه په معنیٰ دَ قوي محکم سره دے دَ مرور نه په معنیٰ دَ زائل کيدونکے او ختم کيدونکے سره دے دَ مرارة نه په معنیٰ دَ تريخ والی سره دے يعني ډير تيز اثر کوونکے دے دَ اِسْتِمْرَارْ نه دَ دوام او هميش والی په معنیٰ سره دے. (پاتے په بل مخ)

مُّسْتَقِرٌّ ﴿۳﴾ وَلَقَدْ جَآءَهُمْ مِّنَ الْاَنْۢبَآءِ مَافِيْهِ

په یو وخت کیدونکے دے. او یقیناً راغلی دے دوی ته دَ خبرونو نه هغه چه په هغے کښ

مُزْدَجَرٌ ﴿۴﴾ حِكْمَةٌۢ بَالِغَةٌ فَمَا تُغْنِ النُّذُرُ ﴿۵﴾

پوره زورَنه وی ، پخے خبرے انتها ته رسیدونکی دی نو څه فائده به ورکړی ویره ورکوؤنکی ،

اودا رنگ په معنیٰ دَ مشابه دَیو بل سره او په معنیٰ دَ تیریدونکے دَ زمکے ته اسمان ته.

۳ په دے کښ هم دَ منکرینو دوه حالتونه په زجر سره ذکر دی. كَذَّبُوْا یعنی دوی اُویل چه دا انشقاق دَ قمر دلالت نه کوی په صداقت دَدے نبی باندے. وَاتَّبَعُوْٓا اَهْوَآءَهُمْ یعنی دوی اویل چه دا سحر دے یا دا نظر بندی ده.

مُّسْتَقِرٌّ یعنی قیامت به په خپل وخت قائم کیږی او جنت والا به په جنت کښ او جهنم والا به په جهنّم کښ قرار ے او مومی یا مراد استقرار نه واقع کیدل دَ هر څیز دی پخپله نیټه مقرره باندے.

۴ دا هم زجر دے چه دوی ته دَدے معجزے نه مخکښ هم انباء راغلی دی او دوی ترینه انکار کړے دے او ترغیب دے قرآن ته.

مُزْدَجَرٌ مصدر میمی دے او دال بدل دے دَ تا نه او ماده دَ دے زجر دے یعنی منع کول دَ دوی دَ کفر او شرک او تکذیب نه.

۵ مراد دَ دے نه قرآن دے او خبر دے دَ مبتدا محذوف یعنی هو حكمة یا بدل دے دَ حرف دَ ما نه په تیر شوی ایت کښ. بَالِغَةٌ یعنی انتها ته رسیدلے دے په مواعظو او دلیلونو او لطائفو او احکامو او فصاحت و بلاغت کښ.

فَمَا تُغْنِ ما نافیه او استفهامیه دواړه کیدے شی تُغْنِ په اصل کښ تغنی دے یا حذف کړے شوے دے په رسم خط دَ قرآن کښ اگرچه دَ دے دَ حذف کیدلو ظاهری سبب نیشته او په دے کښ اشاره ده لکه چه دَ دے لفظ دَ اخر نه یا حذف شوے ده داسے دَ دے خلقو نه فائده دَ انذار ختم شوے ده او په دے جمله کښ زجر دے او بتحم حالت دَ دوی ذکر کوی.

النُّذُرُ مصدر دے په معنیٰ دَ انذار یا جمع دَ نذیر ده او دَ دے مثال په سورة یونس ۱۰۱ کښ تیر شوید ے.

فَتَوَلَّ عَنْهُمْ يَوْمَ يَدْعُ الدَّاعِ إِلَىٰ شَيْءٍ

نو مخ وا ړوه ته د دوی په هغه ورځ کښې چه آواز به اوکړی آوازکوونکے یو خیز

نُّكُرٍ ۝٦ خُشَّعًا أَبْصَارُهُمْ يَخْرُجُونَ مِنَ

ناکاره ته (سخت) کوزے به وی سترگے د دوی راوځی به دوی د

الْأَجْدَاثِ كَأَنَّهُمْ جَرَادٌ مُّنتَشِرٌ ۝٧ مُّهْطِعِينَ

قبرونو نه گویا که دوی ملخان دی خواره واره، منډے به وهی

إِلَى الدَّاعِ ۖ يَقُولُ الْكَافِرُونَ هَٰذَا يَوْمٌ عَسِرٌ ۝٨

آوازکوونکی طرف ته وائی به کافران دا ورځ سخته ده۔

ت ۶ ت ۸ هرکله چه د منکرینو قبائح ذکر شول نو اوس په حرف د فا سره تفریع ذکر کوی او تسلی ورکوی رسول صلی الله علیه وسلم ته او مراد په دے سره د دوی نه بے پرواه کیدل دی۔ يَوْمَ يَدْعُ د دے نه تخویف اخروی ذکر کوی په بیان د پنځه حالتونو سره۔ د يَوْمَ نه مخکښې لفظ د اذکر پټ مراد دے الدَّاعِ نه مراد اسرافیل علیه السلام دے او د دعوت نه مراد شپیلئ وهل دی د پاره د بعث بعد الموت۔ شَيْءٍ نُّكُرٍ په دے کښې حشر، حساب، میزان ټولو حالتونو ته اشاره ده۔ خُشَّعًا أَبْصَارُهُمْ ذلت او عاجزی د سترګو نه معلومیږی چه د شرم نه خکته ګوری د دے وجے نه د أَبْصَارُ تخصیص یې اوکړو لکه په سورة قلم ۴۳ او سورة شوریٰ ۴۵ کښې ذکر دی۔ جَرَادٌ مُّنتَشِرٌ تشبیه د ملخانو سره په ډیر والی کښې او جمع کول د لویو وړو کښې مُّنتَشِرٌ کښې اشاره ده چه په صفونو او قطارونو سره به نه وی۔

فائده:۔ سورة القارعه کښې تشبیه د پتنګانو سره ده او دلته د ملخانو سره نو په د یکښې دوه حالتونو مختلفو ته اشاره ده اول حال دا چه د قبرونو نه راوځی نو اول به ډیر پریشان وی نو ورتللو طرق به ورته معلوم نه وی لکه چه د پتنګانو یو طرق ته دے اونګ وخت روستو به په یو طرق (د داعی) باندے راشی لکه ملخان چه په یو طرق باندے الوځی مُّهْطِعِينَ په دیکښې ډیرے معانی دی، تیز تلونکی، سترګو نه اوچتوونکی، قصد کوونکی، سیده نظر کوونکی، غوږونه د پاره د آواز پیدا لوګهلے ورونکی۔ او دا یو بل ته نږدے معانی دی۔ هَٰذَا يَوْمٌ عَسِرٌ لکه سورة فرقان ۲۶ او سورة مدثر ۹ ۱۰ کښې دی۔

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوْحٍ فَكَذَّبُوْا عَبْدَنَا

تکذیب کړے وؤ دَ دوی نه وړاندے قوم دَ نوح علیه السّلام نو دروغژن ئے اوګڼلو بنده زمونږ

وَقَالُوْا مَجْنُوْنٌ وَّازْدُجِرَ ⑨ فَدَعَا رَبَّهٗٓ اَنِّیْ

او دوی اوویل لیونے دے او او زورلے شو. نو دُعا ئے اوغوختله دَ رب خپل نه چه یقیناً زهٔ

مَغْلُوْبٌ فَانْتَصِرْ ⑩ فَفَتَحْنَآ اَبْوَابَ السَّمَآءِ

کمزورے یم نو ته بدله واخله دَ دوی نه ۔ نو را پرانستلے مونږ دروازے دَ اسمان

سـ۹ دَ دے ایت نه پنځه واقعات ذکر کوی دَ پاره دَ تخویف دنیوی یعنی تکذیب دَ قیامت سبب دَ عذاب دے نو دا متعلق دے دَ سـ۳ سره۔ کَذَّبَتْ دا اوله واقعه ده دَ قوم دَ نوح علیه السّلام۔

کَذَّبَتْ، فَکَذَّبُوْا دوه کرته ئے تکذیب ذکر کړو اشاره ده کثرت دَ تکذیب او استمرار ته یا دَ اول نه مراد تکذیب دَ توحید او دَ قیامت دے او دویم نه تکذیب دَ رسالت دَ هغهٔ دے۔

وَازْدُجِرَ دا دَ زجر نه ماخوذ دے او دال په اصل کښ تا وه دَ تاکید او مبالغے دَ زجر دَ پاره صیغه دَ باب افتعال او صیغه دَ فعل مجهول ئے ذکر کړے ده او دا عطف دے په قَالُوْا باندے نو دا قول دَ الله تعالیٰ دے یعنی دوی منع کړے وؤ هغه لره دَ دعوت کولو نه لکه په سورت شعراء سـ۱۱۶ کښ دی یا عطف دے په مجنون باندے او قول دَ منکرینو دے یعنی جناتو دَ دهٔ دماغ خراب کړے دی۔

سـ۱۰ دا اجمالی دُعا ده او تفصیلی دعا دَ هغه په سورت نوح کښ ذکر کړے ده۔

مَغْلُوْبٌ سوال:۔ دا خلاف دے دَ سورة مجادله سـ۲۱ او سورة صافات سـ۱۷۳ ته؟

جواب:۔ دا دے چه دغه ایاتونه روستو دَ نصرت دَ الله تعالیٰ ته دی او په دے کښ مخکښ دَ نصرت نه مغلوبیت مراد دے۔

دویم جواب دا دے چه په هغه ایاتو نو کښ غلبه دَ حجت او دَ دلیل مراد ده او په دے ایت کښ غلبه دَ قوت او دَ زور مراد ده او دریم جواب ابن عطیه کړے دے چه مغلوب نه مراد دا دے چه دُعاءِ شر غوختلو کښ مجبور یم۔

بِمَآءٍ مُّنْهَمِرٍ ﴿١١﴾ زصلے وَّفَجَّرْنَا الْاَرْضَ عُيُوْنًا فَالْتَقَى

په اوبو رابهیدونکو سره. او را او یستلے مونږ د زمکے نه چینے نو یو ځائے شوے

الْمَآءُ عَلٰٓى اَمْرٍ قَدْ قُدِرَ ﴿١٢﴾ ج وَحَمَلْنٰهُ عَلٰى

تولے اوبه په هغه کار چه مقرر کړے شوے وؤ. او سور کړو مونږ ده لره په

ذَاتِ اَلْوَاحٍ وَّدُسُرٍ ﴿١٣﴾ لا تَجْرِيْ بِاَعْيُنِنَا ج جَزَآءً

(کشتئ) تختو والا او میخونو والا، روانه وه په سترګو زمونږ بدل اخستل دی

لِّمَنْ كَانَ كُفِرَ ﴿١٤﴾ وَلَقَدْ تَّرَكْنٰهَآ اٰيَةً فَهَلْ

دپاره د هغه چا چه ناشکری کړے شوې وه. او یقینًا پرېخودله مونږ دغه قصه نښه نو آیا

۱۱-۱۲ په دے کښې قبولیت د دُعا ته اشاره ده اَبْوَابَ السَّمَآءِ په حقیقت باندے حمل دے چه دا اوبه ئے د آسمان نه را او ورولے یا کنایه ده د ډیرو وریځو نه. مُّنْهَمِرٍ چه ډیرے وی او په توپونو سره رابهیږی الْاَرْضَ مراد د دے من الارض دے لیکن د مبالغے دپاره ئے مِنْ حذف کړے دے فَالْتَقَى الْمَآءُ مراد د دے نه جنس ماء دی یعنی اوبه د آسمان او د زمکے ځکه چه التقاء په مینځ د دوؤ یا ډیرو کښې راځی.
عَلٰٓى اَمْرٍ قَدْ قُدِرَ. اَمْرٍ نه مراد مقدار د اوبو دے یا مراد د دے نه حال دے یعنی هلاکت د دغه قوم چه په تقدیر کښې د مخکښې نه لیکلے شوے وؤ چه دوی به په دا سے طوفان سره تباه کولے شی او دا اشاره ده مسئلے د تقدیر ته.
۱۳-۱۴ په دے کښې طریقه د نجات د نوح علیه السّلام او د هغه د ملګرو مراد ده. دُسُرٍ جمع د دسار ده هغه څیز ونه چه په هغے سره کشتئ کلکیګی میخونه، او سپنه، لرګی، رسے کانے وغیره. او دا رنګ سینه د کشتئ چه په هغے سره اوبه دفع کیږی او شلیګی. بِاَعْيُنِنَا دا د متشابهاتو نه دے او اشاره ده حفاظت ته د الله تعالیٰ د طرف نه. جَزَآءً لِّمَنْ كَانَ كُفِرَ د مَنْ نه مراد نوح علیه السّلام دے چه د هغه نه انکار کړے شوے وؤ او هغه ډیر صبر کړے وؤ نو جزاء په معنیٰ د ثواب یا د بدل اخستلو ده یا مراد د دے نه الله تعالیٰ دے چه د هغه د احکامو نه کفر کړے شوے وؤ او جزاء په معنیٰ د عقاب او سزا ده او لام په معنیٰ د مِن سره دے.

مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿۱۵﴾ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِىْ وَنُذُرِ ﴿۱۶﴾

شته څوک نصیحت قبلونکے. نو څه رنګ شو عذاب زما او ېرول زما.

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿۱۷﴾

او یقینًا آسان کړے دے موږ قرآن دپاره د نصیحت اخستلو آیا شته دے څوک نصیحت قبلونکے.

ف۱۵ ف۱۶ ف۱۷ په دے آیاتونو کښ تنبیه ده دپاره د نصیحت اخستلو د واقعے د نوح علیه السلام نه په عذاب د منکریتو او په نجات د مؤمنانو. تَرَكْنٰهَا دا ضمیر راجع دے ټولے قصے ته یا راجع دے کشتئ ته او په دویم احتمال سره مراد د کشتئ نه امثال د هغے دی لکه په سورة یٰس ف۴۲ کښ دی یا هغه کشتئ چه د دے امت مخکنو خلقو لیدلے وه او روستو هم د هغه کشتئ تختے په کوهستان ارارط کښ لیدے شویدی. مُدَّكِرٍ دا صیغه د اسم فاعل ده د باب افتعال ته دلیه اصل کښ مذتکر وو تا په دال سره بدل شوه بیا ذال په دال کښ مدغم کړے شو او په دے تبدیل او ادغام کښ اشاره ده مبالغے ته په نصیحت اخستلو هغه دا چه په ځان کښ انقلاب پیدا کړی په عقیده او عمل کښ پشان د تبدیلے د دے صیغے. فَكَيْفَ دا استفهام تقریری دے سره د تعظیم نه. عَذَابِىْ وَنُذُرِ اول دپاره د منکریتو د قوم نوح علیه السلام او دویم دپاره د روستو خلقو او نذر مصدر دے په معنیٰ د انذار سره دے.

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ مراد د ذکر نه نصیحت اخستل دی او آسانتیا دا ده چه واقعات د تیر شوؤ قومونو او رسولانو په آسان لفظونو سره بار بار په مختلفو طریقو سره ذکر کړے شوے دی چه هر ذی لسان (چه په عربے ژبه پوهیږی) هغه ترینه نصیحت اخستلے شی او دا آیت ئے د څلورو قصو سره ذکر کړے دے اشاره ده چه هره قصه د دے قصو نه د تذکر دپاره آسانه کړے شویده. نو د الْقُرْاٰنَ نه مراد هره قصه ده چه د قرآن په عبارت سره لوستلے کیږی. یا مراد د ذکر نه حفظ دے ځکه د سلف صالحینو نه نقل دی چه تورات انجیل او زبور سیوا د انبیاء علیهم السّلام نه امتیانو په یادو سره نه شو یادولے دا د قرآن کریم خصوصیت دے چه واړه لوئے او نارینه زنانه ئے ټول یا بعضے سورتونه او آیاتونه یادولے شی. لکه سورة عنکبوت ف۴۹ کښ تیر شوے دی.

كَذَّبَتْ عَادٌ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿١٨﴾

تکذیب کړے وو عادیانو نو څه رنګه وو عذاب زما او یره ول زما.

إِنَّا أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا صَرْصَرًا فِي يَوْمِ

یقیناً را اولیږله مونږ په دوی باندے سیلۍ تیزه په ورځ

نَحْسٍ مُّسْتَمِرٍّ ﴿١٩﴾ تَنزِعُ النَّاسَ كَأَنَّهُمْ

سپیره همیشه کښې ، را ښکل یې خلقو لره ګویا دوی دی

أَعْجَازُ نَخْلٍ مُّنقَعِرٍ ﴿٢٠﴾ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي

تنے د کجورو د بېخه وتلے شوے. نو څه رنګ وو عذاب زما

ف ۱۸ دا دویمه واقعه ده چه قوم عاد د هود علیه السّلام تکذیب کړے وو هرکله چه
د تکذیب د قوم نوح علیه السلام اوګده زمانه وه نو هغه تکذیب یې مکرر ذکر کړے وو نو د
عادیانو تکذیب د هغوی په نسبت سره لګه زمانه وه نو مختصر ذکر یې اوکړیشو.
اوکذبت یې مؤنث ذکر کړے ځکه چه قبیله د عادیانو مراد ده او اشاره ده د دوی
توهین او تذلیل ته.

ف ۱۹ ت ۲۰ دا تفصیل د عذاب د عادیانو دے او دا سے په سورة حٰم سجده ف ۱۶ کښې هم
تیر شویدے. صَرْصَرًا تیز آواز (شغار) والا یا سخته یخه یا ډیر وخت چلیدونکے
سیلۍ. یَوْمِ هغه اووه شپې او اته ورځے وے لکه په سورة الحاقه ف ۷ کښې دی نو د لته
د یوم نه مراد جنس ورځ یا مطلق وخت مراد دے. نَحْسٍ نحوست یې په دوی
پورے خاص وو د دوی د عذاب د وجے نه. مُسْتَمِرٍّ یعنی د دے عذاب اثر تر
برزخ پورے او بیا حشر پورے همیشه دے. او د نحوست د ورځې د شورو (چارشنبه)
په باره کښې حدیث صحیح مرفوع متصل ثابت نه دے.
تَنزِعُ النَّاسَ په دیکښې اشاره ده چه دوی دا سے مضبوط وو او را ویستلے شول
لکه چه اونه په جړو سره په زمکه کښې کلکه اولاړه وی او بیا د جړو سره د وېخ
نه را اوویستلے شی. أَعْجَازُ نَخْلٍ، عَجُزْ د څیز د پټ لاندے حصے ته ویلے
کیږی نو په دے کښې اشاره ده چه د هغوی نه سرونه جدا شول او په سیلۍ سره
والوتل او صرف ویخونه پاتے شول. نَخْلٍ دا لفظ اسم جمع ده (پاتے په بل مخ)

وَنُذُرِ ﴿۲۱﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ

او ویرول زما. او یقینًا آسان کړی دے مونږ قرآن د پاره د نصیحت نو آیا

مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿۲۲﴾ كَذَّبَتْ ثَمُوْدُ بِالنُّذُرِ ﴿۲۳﴾ ع ۱/۸

شته دے نصیحت قبلوونکے. دروغژن ګڼړلے وو ثمودیانو ویره ورکوونکو لره.

فَقَالُوْٓا اَبَشَرًا مِّنَّا وَاحِدًا نَّتَّبِعُهٗٓ اِنَّآ اِذًا لَّفِيْ

نو دوی اوویل آیا یو بنده لره چه زمونږ نه دے تابعداری دے اوکړو د هغه یقینًا مونږ به دغه وخت کښې په

ضَلٰلٍ وَّسُعُرٍ ﴿۲۴﴾ ءَاُلْقِيَ الذِّكْرُ عَلَيْهِ مِنْۢ

ګمراهئ او لیونتوب کښې یو. آیا رالیږلے شویده وحی په ده باندے د

بَيْنِنَا بَلْ هُوَ كَذَّابٌ اَشِرٌ ﴿۲۵﴾ سَيَعْلَمُوْنَ

مینځ زمونږ نه بلکه دے دے ډیر دروغژن لوئے کوونکے. زر دے دوی ته به معلوم شی

مذکر او مؤنث دواړو ته استعمالیږی د دے وجے نه د دے صفت کله مذکر او کله مؤنث راځی.

۲۱ تا ۲۲ په دے قصه کښې اوله جمله مکرره راوړے ده د پاره د اظهار د عظمت د عذاب د دوی یا اول ئے ذکر کړے دے د سبب (تکذیب) سره او دویم ئے ذکر کړو روستو د تفصیل د عذاب نه د پاره د نصیحت اخستلو.

۲۳ دا دریمه قصه ده نُذُرِ جمع د نذیر په معنیٰ د رسول نو ځکه چه تکذیب د یو رسول پشان د تکذیب د ټولو رسولانو دے لکه سورة شعراء ۱۰۵ کښې تیر شویدی یا نذیر په معنیٰ د مصدر دے هغه اندارات ترینه مراد دی چه صالح علیه السّلام وخت په وخت دوی ته بیان کړے وو.

۲۴ تا ۲۵ دا تفصیل د تکذیب د هغوی دے او اوو تعبیرونه د تکذیب دی اول دا چه دے بشر دے د جنس زمونږ نه، دویم دا چه وَاحِدًا یعنی په مقابل کښې ډیر خلق دی او دے یو ائے دے، دریم د ده تابعداری سبب د ضلال دے، څلورم دا چه سبب د لیونتوب دے په دنیا کښې او سبب د اور د جهنم دے په آخرت کښې. پنځم اُلْقِيَ الذِّكْرُ عَلَيْهِ مِنْۢ بَيْنِنَا یعنی مونږ د ده نه مالدار او غوره یو نو دے ولے

غَدًا مَّنِ الْكَذَّابُ الْأَشِرُ ﴿٢٦﴾ إِنَّا مُرْسِلُوا

صبا چه څوک دے ډیر دروغژن لوئی کوونکے . یقیناً مونږ لیږونکی یو

النَّاقَةِ فِتْنَةً لَّهُمْ فَارْتَقِبْهُمْ وَاصْطَبِرْ ﴿٢٧﴾

او ښه دَ پاره دَ ازمائش دَ دوی نو انتظار اوکړه دَ دوی او صبر اوکړه .

وَنَبِّئْهُمْ أَنَّ الْمَاءَ قِسْمَةٌ بَيْنَهُمْ كُلُّ

او خبر ورکړه دوی لره چه اوبه تقسیم ری دَ دوی په مینځ کښ هر

شِرْبٍ مُّحْتَضَرٌ ﴿٢٨﴾ فَنَادَوْا صَاحِبَهُمْ فَتَعَاطَى

نمبر دَ اوبو ته به حاضری کیدلے شی . نو دوی آواز ورکړو خپل مشرته نو راواغستله ئے توره

خاص کړے شو په وحی سره شپیږم دے کذاب دے اووم دا چه اشر دے اشر تکبر کوونکے او بے پرواهئ سره خبرے کوونکی ته وائی .

٢٦ دا زجر او تخویف دے غَدًا مراد دَ دے ته راتلونکے وخت دے یعنی عذاب دَ دُنیا یا ورځ دَ قیامت .

٢٧ ٢٨ دا ذکر دَ معجزے دے دَ پاره دَ اثبات دَ صدق دَ صالح علیه السّلام فِتْنَةً امتحان دَ چه په هغے سره دَ مصدّق او دَ مکذب فرق معلومیږی او دا رنګ تکذیب دَ دے دَ سبب دَ عذاب وی . وَاصْطَبِرْ باب افتعال کښ اشاره ده تاکید دَ صبر کوولو ته او هر کله چه ارتقاب (انتظار) کول ډیر وخت غواړی او په ډیر وخت کښ دَ دشمنانو دَ طرف نه مصیبتونه هم ډیروی دَ دے وجے نه ارتقاب نه روستوئے امر دَ اصطبار ذکر کړو .

وَنَبِّئْهُمْ دا هم طریقه دَ فتنے (امتحان) ده او طریقه دَ دے تقسیم سورة شعراء ١٥٥ کښ ذکر شویده او دَ دے تقسیم یو وجه دا وه چه اوبه لګے وے په یو ورځ دَ ناقے او دَ نورو حیواناتو نه رسیدلے دویمه وجه دا وه چه دَ دوی حیوانات به دَ هغه ناقے نه ویریدل دَ هغے سره یو ځائے کیدلے نه شو .

كُلُّ شِرْبٍ مُّحْتَضَرٌ دا هم دلالت کوی په دویمه وجه باندے چه هر یو به خپل نمبر ته حاضری کوی دَ بل په نمبر کښ شرکت نه شی کولے .

فَعَقَرَ ﴿۲۹﴾ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿۳۰﴾ إِنَّا

نو قتل ئې کړه (اوښه) نو څه رنګ وو عذاب زما او ويره ول زما - يقيناً

أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ صَيْحَةً وَّاحِدَةً فَكَانُوا

مونږ رااوليږله په دوی باندې چغه يوه نو شول

كَهَشِيمِ الْمُحْتَظِرِ ﴿۳۱﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ

پشان دَ ذرې ذرې شوی شپول دَ شپول جوړوونکی - او يقيناً اسان کړې دې مونږ قرآن

لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿۳۲﴾ كَذَّبَتْ قَوْمُ

دَ ياره دَ نصيحت آيا شته دې څوک نصيحت قبلوونکے - دروغژن کړې وو قوم

۲۹ تا ۳۰ په دې کښ ذکر دَ سبب دَ عذاب دَ هغوی دې فَنَادَوْا په دې کښ اشاره ده چه دوی په دې سبب کښ شريک وو دَ يو بل سره ئې مدد کوو- صَاحِبَهُمْ او هغه ته اشقیٰ ويلې شويدې په سورة الشمس ۱۲ کښ او مشهور دې په قُدار څوئې دَ سالف سره-

فَتَعَاطَىٰ زړه ورتيا ئې اوکړه په نيولو دَ اوښې سره يا دهٔ اونيوله تورې لره دَ ياره دَ ټکړې کولو دَ هغه اوښې.

فَكَيْفَ دَ دې نه وړاندې فَعَاقَبَهُمْ پټ دې (يعنی دوی له ما سزا ورکړه) او دا تپوس دَ ياره دَ عظمت دَ عذاب دې.

۳۱ تا ۳۲ دا تفصيل دَ عذاب دَ هغوی دې. كَهَشِيمِ الْمُحْتَظِرِ محتظر دَ حظيرة نه ماخوذ دې او حظيره هغه ځائے ته ويلې کيږی چه راګير کړې شی په شپول دَ غنو يا په ديوال سره او محفوظ وی او اکثر دَ ګډو بيزو چارې ته ويلې کيږی نو محتظر دَ هغې جوړوونکی ته ويلې شی.

هَشِيمِ دَ هشم نه دې او هشم ماتول او ذرې ذرې کولو ته ويلې کيږی نو هشيم په معنیٰ دَ مهشوم سره دې يعنی هغه اوچ غتې دَ شپول دَ چارې چه ګډې بيزې ئې په خپلو خپو سره ذرې ذرې کړی- په يکښ اشاره ده چه په دغه چغه دَ عذاب سره دَ دوی اډوکی پوره اوچ شول او بيا دَ يو بل نه جُدا جُدا شول.

لُوْطٍۭ بِالنُّذُرِ ﴿٣٣﴾ اِنَّآ اَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ حَاصِبًا

دَ لوط علیه السلام ویره ورکوونکی. یقینًا را اولیږلو مونږ په دوی باندے باران دَ کانړو

اِلَّآ اٰلَ لُوْطٍ ؕ نَجَّيْنٰهُمْ بِسَحَرٍ ﴿٣٤﴾ نِّعْمَةً مِّنْ

سیوا دَ کور رنځ دَ لوط علیه السلام نه. بچ کړل مونږ هغوی په وخت دَ پیشمنی کښ، دَ وجے دَ احسان دَ طرف

عِنْدِنَا ؕ كَذٰلِكَ نَجْزِيْ مَنْ شَكَرَ ﴿٣٥﴾ وَلَقَدْ

زمونږ نه دغه شان بدله ورکوو هغه چا ته چه شکر کوی. او یقینًا

اَنْذَرَهُمْ بَطْشَتَنَا فَتَمَارَوْا بِالنُّذُرِ ﴿٣٦﴾

ویره ئے ورکړے وه دوی ته دَ نیولو زمونږ نه نو دوی شک اوکړو په ویرولو کښ.

وَلَقَدْ رَاوَدُوْهُ عَنْ ضَيْفِهٖ فَطَمَسْنَآ اَعْيُنَهُمْ

او یقینًا دوی غوختنے کړیوے دَ هغه نه په باره دَ میلمنو دَ هغه کښ نو ورانے کړے مونږ سترګے دَ هغوی

۳۳ تا ۳۴ تا ۳۵ داخلورمه قصه ده دَپاره دَ تخویف دنیوی په سبب دَ تکذیب سره بِالنُّذُرِ هغه امور مراد دی چه په هغے سره دَ دوی انذار کړے شوے وؤ یا داجمع دَ نذیر ده مراد دَ دے نه رسولان دی ځکه چه تکذیب دَیو رسول پشان دَ تکذیب دَ ټولو رسولانو دے. اِلَّآ اٰلَ لُوْطٍ دا استثناء منقطع ده ځکه چه په دوی باندے عذاب نه وؤ نازل شوے او دَ دوی درے حالتو ته ذکر کوی اول نجات دویم نعمت دریم جزا دَ شکر کولو بِسَحَرٍ دَ شپے آخری شپږمے حصے ته ویلے شی او دغه وخت دَ برکاتو دے. او دا ئے نکره ذکر کړے ده اشاره ده چه هغه شپه مونږ ته معلوم نه ده نو سحر هم معلوم نه دے. نِعْمَةً اشاره ده چه دَ دوی نجات دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه احسان وؤ، په الله تعالیٰ باندے دَ هغے هیڅ زور نه وؤ نو دا دلیل دے چه جزا دَ نیک اعمالو په الله تعالیٰ باندے واجب نه ده لکه چه معتزله دا سے وائی.

مَنْ شَكَرَ مراد دَ شکر نه توحید او پوره اطاعت دے او دا سبب دَ نجات دے په هر زمانه کښ دَ دے وجے نه كَذٰلِكَ ئے اوفرمائیل.

۳۶ تا ۳۷ تا ۳۸ په دے کښ درے حالات دَ منکرینو ذکر کوی. وَلَقَدْ اَنْذَرَهُمْ پسے کښ دَ دفع دَ عذر دَ منکرینو ده فَتَمَارَوْا دا دَ دوی اول حال دے رپاتے په بل مخ)

فَذُوْقُوْا عَذَابِیْ وَنُذُرِ ﴿۳۷﴾ وَلَقَدْ صَبَّحَهُمْ

نو اوڅکئ عذاب زما او ویرول زما - او یقیناً صبا راغې دَ

بُكْرَةً عَذَابٌ مُّسْتَقِرٌّ ﴿۳۸﴾ فَذُوْقُوْا عَذَابِیْ

وخته په دوی باندې عذاب چه همیشه وو - نو اوڅکئ عذاب زما

وَنُذُرِ ﴿۳۹﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْاٰنَ لِلذِّكْرِ

او ویرول زما - او یقیناً اسان کړے دے مونږ قرآن دپاره دَ نصیحت

فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ﴿۴۰﴾ وَلَقَدْ جَآءَ اٰلَ فِرْعَوْنَ

آیا شته څوک نصیحت قبلوونکے . او یقیناً راغلے وو فرعونیانو ته

او دَ مریة نه ماخوذ دے په معنیٰ دَ شک کولو یا دَ مِراءٌ نه دے په معنیٰ دَ جګړے کولو. وَلَقَدْ رَاوَدُوْهُ دا دویم حال دے. ضَیف اسم جنس دے په معنیٰ دَ جمع سره دے او مراد دَ دے نه ملائک دی او دا دَ دوی لوئے خباثت وو- ابن کثیر ذکر کړیدی چه جبریل میکائیل او اسرافیل په شکل دَ خائسته ځوانانو کښ راغلل نو ښځے دَ لوط علیه السّلام هغه قوم لره خبر ورکړو نو هغوی راغلل دَ لوط علیه السلام ته دَ هغه میلمنو طلب ئے شوروکړو دپاره دَ بد فعلے کولو نو هغه دروازه بنده کړه نو دوی اراده اوکړه چه هغه دروازه ماته کړی نو جبریل علیه السّلام طرف دَ وزر دَ دوی په مخونو باندے راکاګلو نو سترګے دَ دوی بندے شوے۔ فَذُوْقُوْا دا خطاب دے دوی ته په ژبه دَ ملائکو سره یا دا امر په معنیٰ دَ اخبار سره دے یعنی اَذَقْتُهُمْ (او څکوؤما دوی ته) او تعبیر په لفظ دَ ذوق (څکلو) سره اشاره ده درد دَ عذاب ته چه دَ دوی په ټول بدن باندے احاطه ئے اوکړه وَنُذُرِ مراد دَ دے نه تاوان او ناکاره عاقبت دَ انذار دے. وَلَقَدْ صَبَّحَهُمْ دا دریم حال دَ دوی دے هر کله چه صباح راتلونکے تولے ورځے ته هم ویلے کیږی نو بُكْرَةً ئے اوفرمائیل چه صبا وختی ترینه مراد دے. مُّسْتَقِرٌّ دوام او همیش والے دَ عذاب دا دے چه په دغه عذاب سره هلاک شول او وروستو پسے متصل عذاب دَ برزخ دے او په هغے پسے متصل عذابونه دَ جهنم دی چه دَ هغے انتها نیشته.

س۳۹ ت ۴۰ اوله جمله (فذوقوا) دَ عذاب دَ طمس سره متعلق ده او دا جمله دَ عذاب مستقر سره متعلق ده چه هغه په ټولو باندے احاطه کوونکے عذاب وو زمکه

النُّذُرُ ﴿۴۱﴾ كَذَّبُوا بِاٰيٰتِنَا كُلِّهَا فَاَخَذْنٰهُمْ

ویره ورکوونکی ۔ دروغژن اوګڼل دوی ایاتو ته زمونږ ټول نو اونیول مونږ دوی

اَخْذَ عَزِيْزٍ مُّقْتَدِرٍ ﴿۴۲﴾ اَكُفَّارُكُمْ خَيْرٌ مِّنْ

په نیولو دَ زورا ور ذات چه پوره قدرت والا دے۔ آیا کافران ستاسو دَ زمانے غوره دی

اهول. چخه. کانړی راوریدل ۔ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا اه دَ دے په تکرار کښ اشاره ده چه هره یوه قصّه دَ دے قصّو نه دَ عبرت او نصیحت اخستلو دَ پاره کافی ده او اسانه ده ۔

فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ کښ اشاره ده چه دا سے نصیحت قبول کړی چه په هغے سره دَ عذاب دَ تیر شوی منکرینو نه بچ شی. معلومه شوه چه سبب دَ بچ کیدلو دَ عذاب نه صرف تذکر دَ قرآن دے۔

۴۱-۴۲ په دے کښ پنځمه واقعه ذکر کوی دَ هلاکت دَ فرعونیانو په سبب دَ تکذیب سره. په اول ایت کښ په دوی باندے الزام حجت ذکر کوی په راتیږلو دَ منذرینو سره او په دویم ایت کښ سبب دَ عذاب او بیا ئے عذاب ذکر کړے دے. النُّذُرُ مراد ترینه موسٰی او هارون علیهما السلام دی او دَ جمع اطلاق په تثنیه باندے کیدے شی یا مراد دَ دے نه انذارات دی. كَذَّبُوا په واو عاطفه سره نه دے ذکر کړے ځکه چه په اوله جمله او دویمه کښ په مضمون کښ مخالفت دے او په فاء سره هم نه دے ذکر کړے ځکه چه اول سبب دَ دویم نه دے. بِاٰيٰتِنَا كُلِّهَا مراد دَ دے نه هغه نهه معجزات دی چه په سورة اعراف کښ ذکر شویدی. عَزِيْزٍ مُّقْتَدِرٍ په دے کښ اشاره ده چه فرعون دَ ځان دَ پاره دَ عزت او اقتدار دعوٰی کوله لیکن هغه دعوٰی باطله وه ځکه چه مغلوب او تباه شو نو معلومه شوه چه عزت والا (غالب) قدرت والا صرف الله تعالٰی دے۔

فائده:- پدے قصه پسے ولقد یسرنا القرآن اه نه دے ذکر کړے ځکه چه دَ مخکنو څلورو قومونو نه هیڅوک نه دی پاتے شوی نو دَ هغوی قصّے صِرف تاریخی اوګرځیدلے چه دَ قرآن کریم نه په اسانه سره معلومیږی او دَ قوم دَ موسٰی علیه السّلام نه بنی اسرائیل پاتے وُو چه هغوی دَ هلاکت دَ فرعون اقرار کوؤ دَ هغے دَ تفصیل او دَ تذکیر دَ پاره دَ کتاب ضرورت نیشته (والله اَعْلَمُ بِمَا فِی کِتَابِه)۔

أُولَٰئِكُمْ أَمْ لَكُم بَرَاءَةٌ فِي الزُّبُرِ ﴿۴۳﴾ أَمْ يَقُولُونَ

دَ دغه تیر شوی کافرانو نه آیا شته تاسو لره بچ والے دَ عذاب نه په کتابونو کښې. بلکه دوی وائی

نَحْنُ جَمِيعٌ مُّنتَصِرٌ ﴿۴۴﴾ سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ

مونږ غټه ډله یو بدله اخستونکی. زر دے شکست به ورکړیشی دے ډلے ته

وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ ﴿۴۵﴾ بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ

او دوی به اوګرځوی شاګانے. بلکه قیامت وخت مقرر شوی دَ دوی

۴۳ ۴۴ ۴۵ پسے آیاتو کښې دَ روستنو منکرینو ښځه حالات ذکر کوی او حاصل دا دے
چه په مخکنو قومونو دَ عذابونو ذکر تاسو واوریدلونو په دے موجود و بانی دے
دَ عذاب دَ راتللو سبب خوشته چه کفر دَ دوی دے لیکن دَ عذاب دَ راتللو نه هیڅ مانع نیشته
په اول آیت کښې نفی دَ دوه موانعو ذکر کړے ده یا په دوی دَ مخکنو نه غوره وی یا په په
مخکنو کتابونو منزلو کښې دَ دوی دَ پاره براءت (امن دَ عذاب) ذکر کړے شوے وی لیکن
دا دواړه خبرے نیشته او استفهام انکاری دے. خَیْرٌ مراد دَ خیریت نه قوت دَ مال
او دَ بدنونو او دَ حکومت دے. او په دویم آیت کښې یو مانع په طریقه دَ زجر سره
ذکر کړے دے یعنی دوی وائی مونږ غټه جماعت یو او دَ دشمن نه بدله اغستلے
شو آیا دَ دے وجے نه په دوی عذاب نشی راتللے نو دَ دے ګمان رد په دریم آیت
کښې دے په دوه طریقو سره اول هزیمت (شکست) دَ دوی دویم شاګانے
ګرځول یعنی عاجز کیدل دَ مقابلے نه. جَمِیْعٌ په معنی دَ جماعت سره دے مبالغه
ده په جمع او یوځائے کیدلو کښې دَ یو بل سره چه په هیڅ طریقے سره نه جدا کیږی
او دا دَ دوی دعوئ وه لکه فرعون چه دعوئ کړے وه سورة شعراء ۵۴ کښې.
سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ په لفظ دَ الجمع کښې رد دے دَ دوی په دعوئ باندے یعنی جماعت دے
لیکن دَ یو بل سره دا سے انضمام نیشته چه دَ یو بل نه نه جدا کیږی بلکه قلوبهم
شتّٰی. او په دے کښې تخویف دنیوی دے په طریقه دَ پیشنګوئے سره او دا پیشنګوئی
په ورځ دَ بدر کښې رښتیا شوله لکه حدیث بخاری کښې راغلی دی چه نبی صلی
الله علیه وسلم په ورځ دَ بدر په قبّه (دَ خرمنے خیمه) کښې وو او دعائے او غوښتله
چه یا الله غواړم ستا عهد او وعده اے الله که ته غواړے چه ستا بندګی دِ او
نه شی دَ نن نه روستو هیچرے، نو ابوبکر رضی الله عنه دَ هغه لاس اونیوو

وَالسَّاعَةُ اَدْهٰى وَاَمَرُّ ﴿۴۶﴾ اِنَّ الْمُجْرِمِيْنَ فِىْ

او قيامت ډير هيبت ناک او ډير تريخ دے - يقيناً مجرمان په

ضَلٰلٍ وَّسُعُرٍ ﴿۴۷﴾ يَوْمَ يُسْحَبُوْنَ فِى النَّارِ عَلٰى

گمراهۍ او په اور کښ دی. په هغه ورځ چه را ښکلے کيږی په دوی په اور کښ په

وُجُوْهِهِمْ ؕ ذُوْقُوْا مَسَّ سَقَرَ ﴿۴۸﴾ اِنَّا كُلَّ

مخونو خپلو باندے او څکئ خوند دَ سقر (سوځيدلو). يقيناً مونږ هر

وقف لازم

اواويل ئے پوره ده تالره اے رسول دَ الله تعالیٰ" او پيدُعا کښ ډير زور اوکړو نو رسول الله صلی الله عليه وسلم را اوتلو نو پوهه ئے وهل (خوشحاليدو) په زغره کښ او دا آيت ئے اولوستلو سيهزم الجمع ويولون الدبر او ابن عباس رضی الله عنه نه نقل دے چه دَ دے آيت دَ نزول نه تر واقعے دَ بدر پورے اُوه کاله فاصله وه:

۴۶ تا ۴۸ په دے آيا تونو کښ تخويف اخروی دے په اول آيت کښ خاص دَ بدر مشرکانو دَ پاره او روستو دوه آيا تونو کښ دَ ټولو مجرمانو دَ پاره او دا تخويف هم په پنځه طريقو سره دے. اَدْهٰى وَاَمَرُّ اسم تفضيل په نسبت دَ عذاب دَ بدر دے او دا رنګ دَ دُنيا دَ ټولو مصيبتونو او عذابونو په نسبت سره دا تفضيل دے. اَدْهٰى دَ داهيه نه ماخوذ دے هغه مصيبت ته ويلے کيږی چه دَ هغے لرے کولو هيڅ علاج او تدبير نه وی او فرق دَ ادهٰی او امرّ يو دا دے چه دَ اول اثر باطنی او روحانی دے او دَ دويم اثر ظاهری او بدنی دے دويم دا دے چه دَ امر اثر په خوراک څښاک کښ دے او دَ ادهٰی اثر په نورو حواسو باندے دے.

اِنَّ الْمُجْرِمِيْنَ ابن کثير ويلے دی چه دا هر کافر او بدعتی ته شامل دے.

ضَلٰلٍ وَّسُعُرٍ ضلال په دنيا کښ دے او سُعُرٍ جمع دَ سعير په آخرت کښ دے يا سعر په معنیٰ دَ جنون دے نو دواړه په دنيا کښ دی يا ضلال په معنیٰ او ړيدل دَ لارے دَ جنت نه په آخرت کښ نو دواړه په آخرت کښ دی.

مَسَّ سَقَرَ مسّ سبب دَ رد دے نو ذکر دَ سبب مراد مسبب دے سَقَرَ په اصل کښ سوځولو ته ويلے شی او دا نوم دَ جهنّم دے. او ذُوْقُوْا نه مخکښ يُقَالُ لَهُمْ پټ دے.

شَیْءٍ خَلَقْنٰهُ بِقَدَرٍ ﴿۴۹﴾ وَمَآ اَمْرُنَآ اِلَّا وَاحِدَةٌ

خیز پیدا کړي دي موږ هغه په تقدیر سره - او نه دے حال دَ قیامت مګر یوه شپیلۍ ده

۴۹ دَ دے ایت نه تر ۵۳ پورے دَ الله تعالیٰ دَ تصرف او قدرت نه پنځه نمونے ذکر کیږي او دا ټول دَ سورت دَ دعوے سره تعلق لري چه هغه اثبات دَ قیامت دے. او دَ دے ایت ربط دَ مخکښ سره دا دے چه ساعت (قیامت) کښ دَ دے منکرینو شک دے نو زړونو ته راځي حاصل دَ جواب دا دے چه الله تعالیٰ دَ دنیا دَ وجود او دَ فنا او دَ قیامت دَ راتللو دَپاره تقدیر دَ اوقاتو کړے دے دَ هغې نه خلاف نه واقع کیږي. اِنَّا کُلَّ شَیْءٍ دَ کل شي دَپاره فعل مخکښ پټ دے نو دلالت کوي په خلق مطلق او عام خلق باندے خلقناه بقدر دا اشاره خلق ته ده چه مقید دے په تقدیر سره نو معلومه شوه چه خلق دَ تقدیر نه غیر دے. دا ایت صریح نص دے په مسئله دَ تقدیر کښ ابن کثیر وایي دي چه تقدیر علم دَ الله تعالیٰ په ټولو خیزونو باندے مخکښ دَ وجود دَ هغې نه او لیکل دَ هغې دي مخکښ دَ پیدا کیدلو نه او خطیب شربیني وایي دي چه قَدَرٍ قضاء او حکم مضبوط او تقسیم محدود او پوره قوت او کلک تدبیر په وخت معلوم او مکان معین دے چه لیکلے شوي دي په لوح محفوظ کښ مخکښ دَ واقع کیدلو نه. او کُلٌّ فِیْ کِتٰبٍ مُّبِیْنٍ او کُلَّ شَیْءٍ اَحْصَیْنٰهُ فِیْٓ اِمَامٍ مُّبِیْنٍ او دا سے نور ایات ښکاره دلیل دے چه تقدیرات لیکلے شوي دي او صحیح احادیث په کثرت سره ابن کثیر دَ دے ایت په تفسیر کښ لیکلے دي چه په هغې کښ لیکل دَ مقدراتو ثابت دي نو معلومه شوه چه چا وایلے دي چه تقدیر صرف دَ علم دَ الله تعالیٰ مخکښ دَ وجود دَ خیزونو نه عبارت دے یا څوک وائي چه تقدیر صرف پیدا کول دي دا اقوال غلط دي او دا رنګ دَ دے ایت په تفسیر کښ عام مفسرینو دَ سلفو صالحینو دَ اقوالو نه ثابت کړیده چه دا ایت نازل شوے دے په رد دَ منکرینو دَ تقدیر کښ چه هغه معتزله وو او په دے زمانه کښ منکرین حدیث (پرویزیان) او دهریان خلق دي. لیکن سره دَ تقدیر نه الله تعالیٰ انسانانو ته څه قدرت دَ کسب ورکړیدے او توفیق هم ورکوي چه دَ هغې دَ وجے نه جزاء او سزاء به ورکوي او په دے باندے هم ډیر نصوص دَ قران او سنت شاهد دي.

كَلَمۡحٍۭ بِالۡبَصَرِ ﴿۵۰﴾ وَلَقَدۡ اَهۡلَكۡنَاۤ اَشۡيَاعَكُمۡ

په شان د رپ د سترګې. او يقينًا هلاک کړيدي مونږ ملګري ستاسو

فَهَلۡ مِنۡ مُّدَّكِرٍ ﴿۵۱﴾ وَكُلُّ شَیۡءٍ فَعَلُوۡهُ

نو ايا شته دے نصيحت قبلوونکے. او هر څيز (کار) چه کوی دا خلق

فِی الزُّبُرِ ﴿۵۲﴾ وَكُلُّ صَغِيۡرٍ وَّكَبِيۡرٍ مُّسۡتَطَرٌ ﴿۵۳﴾

نو په صحيفو د ملائکو کښ دی او هر وړوکے عمل او لوئے عمل ليکلے شويدے.

اِنَّ الۡمُتَّقِيۡنَ فِیۡ جَنّٰتٍ وَّنَهَرٍ ﴿۵۴﴾ فِیۡ مَقۡعَدِ

يقينًا متقيان به په باغونو او نهرونو کښ وی. په مجلس

ف۵۰ دا هم ذکر د تصرف کلی د الله تعالیٰ دے وَمَاۤ اَمۡرُنَاۤ دا عام دے هر يو کار ته او قيام د قيامت ته هم شامل دے لکه سورة نحل ۷۷ کښ تير شويدی. اِلَّا وَاحِدَةٌ يعنی امر د يو کار د کيدلو د پاره يو ځل کوؤ بيا بيا تاکيد ته حاجت نه وی نو هغه کار په اراده د الله تعالیٰ پسے داسے زر موجود شی لکه د سترګے رپ نو واحدة نه مراد مرّة واحدة دے يا مراد دے ته کلمهٌ واحدة ده چه هغه کلمه د کُنۡ ده په نورو اياتونو کښ ذکر شويده.
او په باره د قيام د قيامت کښ خوډيره مبالغه مقصد وه نو سورة نحل کښ اقرب هم ذکر کړے دے.

ف۵۱ دا ذکر د بل تصرف الٰهی دے او تخويف دنيوی دے اَشۡيَاعَكُمۡ په معنیٰ د اشباه يعنی ستاسو په شان تير شوی کافران او مشرکان. او اتباع مراد اغستل د دے نه خطا دی.

ف۵۲ ف۵۳ په دے کښ د الله تعالیٰ دوه تصرفات نور ذکر کړے دی. فَعَلُوۡهُ ضمير تولو انسانانو ته راجع دے يا اشياعکم ته راجع دے او د زُبُرِ نه مراد صحيفے د ملائکو (کراماً کاتبين) دی دا غوره قول دے او صَغِيۡرٍ وَّكَبِيۡرٍ مراد د دے نه تول انسانان او عملونه او ګناهونه دی بلکه تول څيزونه دی چه په هريو کښ لوئے او وړوکے شته دے مُسۡتَطَرٌ ليکلے شوے دے په لوح محفوظ کښ چه کتاب د تقدير دے د دے نه تقدير ثابت شو.

ف۵۴ ف۵۵ روستو د تخويف او د ذکر د حال د منکرينو نه حال د متقيانو رياتے په بل مخ)

صِدْقٍ عِنْدَ مَلِيْكٍ مُّقْتَدِرٍ ﴿۵۵﴾ ع

د رشتیاؤ کښې په نیز د لوئے بادشاه پوره قدرت والا -

اوبشارت د هغوی ذکر کوی په پنځه طریقو سره - نَهَرٍ اسم جنس دے مراد تریئه ډیر انهار دی خو ډیر اتصال د هغه نهرونو د یو بل سره په شان د یو نهر دی نو مفرد ئے ذکر کړو یا د نهر نه معنیٰ لغوی مراد ده یعنی وسعت او فراخی -

مَقْعَدِ مجلس او مکان ته ویلی کیږی - مجلس صرف د کیناستلو ځائے ته ویلے کیږی او مَقْعَدِ هغه ځائے دے چه ډیر وخت پکښې حصاروی نو په دے لفظ کښې مبالغه ده په نسبت د لفظ مجلس سره -

صِدْقٍ دا صفت د مکان او قول او فعل ټولو د پاره استعمالیږی - دلته مراد د دے نه جنت دے چه لغو او گناهونه پکښې نیشته او حاصلیږی په سبب د صدق سره نو اضافت د مسبب دے سبب ته -

عِنْدَ مَلِيْكٍ مُّقْتَدِرٍ دا دواړه صیغے د مبالغے دی یعنی پوره بادشاهے او پوره تصرف او قدرت والا چه هیڅ قسم نقصان او عجز ورباندے نه راځی او دغه ذات صرف الله جل جلاله دے -

ختم شو تفسیر د سورة قمر په توفیق او فضل د الله تعالیٰ سره -

سُوْرَةُ الرَّحْمٰنِ مَدَنِيَّةٌ ۵۵ ۹۷	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰيَاتُهَا ۷۸ رُكُوْعَاتُهَا ۳

اَلرَّحْمٰنُ ﴿۱﴾ عَلَّمَ الْقُرْاٰنَ ﴿۲﴾ خَلَقَ الْاِنْسَانَ ﴿۳﴾

هغه رحمان دے تعلیم ئے ورکړے دے دَ قران پیدا کړے یے انسان

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة الرحمٰن۔ او بل نوم ئے سورة عروس القران دے

ربط دَدے دَ ماقبل سره په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه مخکښ سورت کښ دَ الله تعالیٰ خاص او عام تصرفات ئے ذکر کړل دلته په هغے باندے تفریع کوی دَ اثبات رحمانیة دَ الله تعالیٰ۔ دویمه وجه دا ده چه په هغه سورت کښ تخویف او بشارت اجمالی ذکر کړے وۇ نو په دے سورت کښ دَ هغے دواړو تفصیل دے.

دریمه وجه دا چه په هغه سورت کښ تفسیر دَ قران ئے ذکر کړو نو په دے سورت کښ دَ هغے وجه ذکر کوی په تعلیم دَ قران او دَ بیان سره۔ څلورمه وجه دا ده چه دَ هغه سورت اختتام وۇ په ملیک مقتدر سره نو ګویا که سوال اوکړے شو چه هغه څوک دے نو دَدے سورت په اول کښ جواب اوشو چه الرحمٰن۔

دعویٰ دَ سورت دا ده۔ اثبات دَ رحمانیت دَ الله تعالیٰ سرهٔ د رد دَ شرک فی البرکات نه په اول او اخر کښ په ذکر دَ دیرش لویو نعمتونو دنیویو سره تفصیلاً او په ذکر دَ لفظ الآء سره یو دیرش کرته اجمالاً۔ ځکه چه الآء غټو غټو نعمتونو ته ویلے کیږی۔

خلاصه دَ سورت دا ده۔ اول دعویٰ دَ سورت ده په الرحمٰن سره په ذکر دَ دیرش انعاماتو دنیویه باطنی روحانی او ظاهری سره او دا عقلی دلیلونه هم دی او په دیکښ فبأی الآء ربکما تکذبان جمله اته کرته ذکر کړے ده بیا په تخویف اخروی سره ذکر دَ انعاماتو دے او په هغے کښ دغه جمله اووه ځله ذکر کړے ده بیا په بشارت اخرویه سره ذکر دَ انعاماتو اخرویو دے او په هغے کښ شپاړس کرته دغه جمله ذکر شوے ده۔

فائده اوله دا ده: چه حدیث کښ راغلے دی (دَ ابن کثیر دَ کلام نه معلومیږی چه حدیث حسن دے) چه رسول الله صلی الله علیه وسلم (پاتے په بل مخ)

دا سورت پیریاتو ته لوستلے وؤ او هغوی دَ هرے جملے (فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ) سره دا جواب کوؤ چه (لَا بِشَيْءٍ مِنْ نِعَمِكَ رَبَّنَا نُكَذِّبُ فَلَكَ الْحَمْدُ) چه په هیڅ یو نعمت دَ نعمتونو ستا نه اے ربه زمونږ انکار نه کوؤ مونږ. تو ستا دَ پاره صفتونه دَ الوهیت دی. نو بیا ئے صحابه کرامو ته هم دَ دے جواب کولو ترغیب ورکړو. دَ دے وجے دَ دے جملے دَ لوستلو په وخت کښ دا جواب کول سنت دی لیکن په مونځ کښ هر کله که موقع موی چه په ژبه ویلے شی نو ښه ده او که نه نو زړه کښ ئے دِ وائی.

دویمه فائده: دا جمله یو دیرش کرته په دے سورت کښ راغلے ده اګرچه دَ لفظ په لحاظ سره تکرار دے لیکن دَ مقصد په لحاظ سره تکرار نیشته ځکه چه په هر ځائے کښ دَ دے جملے جدا جدا مقصد دے لکه چه روستو به معلومه شی.

دریمه فائده: دا جمله دَ نعمتونو سره اته کرته ذکر کړے ده ځکه چه اصول دَ نعمتونو اته قسمونه دی. ۱ باطنی ۲ ظاهری ۳ انفسی ۴ افاقی ۵ بری ۶ بحری ۷ علوی ۸ او سفلی. او دا ټول قسمونه دلته ذکر شوی دی او دا جمله ئے دَ تخویف اخروی سره اووه ځله ذکر کړے ده اشاره ده چه دَ جهنم اووه دروازے دی دَ ټولو نه دَ بچ کیدلو سبب دَ تکذیب نه ځان ساتل دی او دَ بشارت سره ئے اول اته کرته او ثانیا هم اته کرته ذکر کړے ده اشاره ده چه دَ جنت اته دروازے دی. که اول قسم جنتونه دی او که دویم قسم دی.

څلورمه فائده: دا سورت دَ لفظ رحمان تفسیر دے او دَ دے په وجه سره دا صفت په الله تعالیٰ پورے داسے خاص کړے چه لفظی اطلاق ئے هم په غیر الله باندے منع دے لکه چه دا تحقیق په تفسیر دَ سورة فاتحه کښ ډیر مفسریتو ذکر کړے دے.

تفسیر ۱ دا خبر دے دَ مبتدا محذوف یعنی هو الرحمٰن او دا دعویٰ دَ سورت ده. یا الرحمٰن مبتدا ده او روستو ایاتونه ئے خبر دے لیکن هر کله چه الرحمٰن په نیز دَ اکثرو قراؤ باندے ایت مستقله دے نو معلومه شوه چه اول قول غوره دے او دا رد دے په مشرکینو باندے چه هغوی به مسیلمة الکذاب ته رحمان ویل.

۲ دا ذکر دَ اول نعمت دے. دا نعمت دینیه روحانیه دے او دَ ټولو نعمتونو نه ډیر لوے نعمت دے. او تعلیم دَ قران دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه نازلول او اسانول دَ پاره دَ لوستلو او نصیحت اخستلو دی.

عَلَّمَهُ الْبَيَانَ ﴿۴﴾ اَلشَّمْسُ وَالْقَمَرُ بِحُسْبَانٍ ﴿۵﴾ مں

خودلے دہ هغه ته طریقه دَ مقصد ښکاره کولو. نمر او سپوږمۍ (چلوی) دَ پاره دَ حساب.

رسوال) په قرآن کښې بعضې متشابهات شته چه دَ هغې په حقیقت صرف الله تعالیٰ پوهیږی لکه سورة آل عمران کښې تیر شوی دی نو دَ دے آیت سره دَ هغې څه موافقت دے؟ جواب اول دا دے چه دَ چا په اکثره حصّه دَ کتاب باندے علم حاصل شی نو ویلے کیدیشی چه فلانی شخص په هغه کتاب باندے عالم دے نو قرآن کریم کښې اکثر محکمات دی دَ هغې علم ته علم دَ قرآن ویلے کیدیشی. دویم جواب دا دے چه متشابهات هم الله تعالیٰ دَ لوستلو او دَ معنیٰ په لحاظ سره آسان کړیدی اګر چه کیفیت ئې معلوم نه وی او اشکال په مسلک دَ هغه چا باندے دے چه معنیٰ دَ متشابهاتو مجهوله ګنړی.

۳ سے په دے کښې دوه نعمتونه ذکر دی. خَلَقَ په ماقبل باندے عطف نه دے ځکه چه دا کلام متسانف دے جواب دَ سوال دے! چه څوک اهل دَ قرآن دے؟ نو جواب اوشو چه جنس انسان. او بله وجه دَ نه عطف کولو دا ده چه دا دَ تعداد دَ نعمتونو په طریقه دے او په تعداد کښې حرف عطف نه راځی. الْإِنسَانَ ظاهر دا ده چه جنس انسان دَ دے نه مراد دے آدم علیه السّلام او نبی صلی الله علیه وسلم په کښې هم داخل دی. عَلَّمَهُ الْبَيَانَ مراد دَ بیان نه قوت دَ نطق کیخودل په ژبه او شونډو او مرئ دَ انسان په داسے طریقه چه خپل مقصد ښکاره کولے شی او قرآن هم لوستلے شی او بیانولے شی. په انسانی صفتونو او قوتونو ئې دا صفت په ذکر کولو سره دَ دے وجے نه خاص کړو چه تمیز دَ انسان دَ نورو حیواناتو نه په قوت دَ بیان سره دے او دَ دے وجے نه ئې په عطف سره نه دے راوړے دیکښې اشاره ده چه پیدائش دَ انسان په حقیقت کښې عبارت دے دَ هغه دَ قوةِ ناطقه نه، دَ دے وجے نه ویلے شویدی چه که ژبه نه وی نو انسان نه وی مګر خاروے یا بُت وی.

۵ سے په دے کښې ئې دوه انعامات ذکر کړے دی. تیر شوی انعامات باطنیه سبب دَ نُورِ باطنی وو او دا انعامات ظاهریه سبب دَ نُورِ ظاهری دے. بِحُسْبَانٍ دا مصدر دے او په نیز دَ اخفش جمع دَ حساب ده او حسبان په ډیر معنو سره دے حساب کول، اندازه، عذاب، دلته اوله یا دویمه معنیٰ مراد ده او په دیکښې رد دے په هغه مشرکینو باندے چه دَ نمر یا سپوږمۍ عبادت کوی.

وَّالنَّجْمُ وَالشَّجَرُ يَسْجُدٰنِ ﴿٦﴾ وَالسَّمَآءَ رَفَعَهَا

او بوټي او ونې سجدې کوي . او اسمان الله تعالیٰ پورته کړيدې

وَوَضَعَ الْمِيْزَانَ ﴿٧﴾ اَلَّا تَطْغَوْا فِي الْمِيْزَانِ ﴿٨﴾

او ايښې ده تله (ويلې دي) چه د حد نه مه تيريږئ په تول کولو کښې .

س ٦ دا هم دوه انعامات دي . نَجْمُ هغه بوټي دي چه ټنډې يا ندې ولاړ نه وي او شجر هغه بوټي دي چه په خپلې ټنډې تنې باندې ولاړ وي . نو دا دواړه د زمکې نعمتونه دي روستو د ذکر کولو د اسماني نعمتونو نه . او په النَّجْمُ کښې دويم احتمال هم شته چه ستوري ترينه مراد کړے شي او دا رد دے په هغه مشرکانو چه عبادت د ستورو او د اونو کوي . يَسْجُدٰنِ سجده کول د هر مخلوق د هغوي د شان سره مطابق وي او دلالت کوي په انقياد او تابعدارئ کولو د حکمونو د الله تعالیٰ . او په دے دواړه آيا تونو کښې تقدير د عبارت دے يعني بحسبانه . يسجدان له ضمير د دواړو الرحمٰن ته راجع دے .

س ٧ دا نور دوه انعامات ذکر کوي . رَفَعَهَا رفع مکاني مراد ده لکه سورة غاشيه ١٨ کښې دي او رفع د مرتبې هم کيدے شي . وَ وَضَعَ الْمِيْزَانَ . مِيْزَانَ په معنیٰ مشهور سره دے يعني تله . او په معنیٰ د عدل ، او په معنیٰ د شريعت او په معنیٰ د قرآن سره هم مفسرينو ذکر کړے دے او ميزان د آخرت ترينه هم مراد کيدے شي هرکله چه په معنیٰ د شريعت او د قرآن سره وي نو مناسبت يې د آسمان سره ظاهر دے ځکه چه آسمان محل د وحي او د شريعت دے او د هغې نه ښکته نازليږي . او په نورو معنو سره مناسبت بعيد دے هاں مناسبت د پاره دا کافي ده چه حکم د عدل او د وزن کولو د څيزونو د آسمان نه نازل شويدے او د دے تول اهل عقل د دے په حسن باندې اتفاق کوي که عمل پرے کوي او که نه کوي .

س ٨ س ٩ په دې کښې په باره د ميزان کښې درې آداب ذکر کوي اول اَلَّا تَطْغَوْا په دې کښې امر کم پټ دے يا لام اجليه پټ دے . هرکله چه مراد د ميزان نه قرآن او شريعت وي نو طغيان په هغې کښې تحريف کول دي او مخالفت کول دي په طريقه د انکار تر دے پورې چه عنادي او دهري کافر شي . او چه د ميزان نه

وَاَقِيْمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ وَلَا تُخْسِرُوا

او برابر وئ تلل (تول کول) په انصاف سره او کمے مه کوئ په

الْمِيْزَانَ ۝٩ وَالْاَرْضَ وَضَعَهَا لِلْاَنَامِ ۝١٠

تول کولو کښ - او زمکه الله تعالیٰ ایښے ده د پاره د خلقو

فِيْهَا فَاكِهَةٌ ۙ وَّالنَّخْلُ ذَاتُ الْاَكْمَامِ ۝١١

په هغے کښ میوے دی او کجورے کسوړو والا -

عدل مراد دی نو طغیان په هغے کښ جور او ظلم کول دی او چه مراد د میزان ته تله وی نو طغیان په هغے کښ زیاتے کول دی د پاره د ځان په دهوکے کولو سره -

او دویم ادب وَاَقِيْمُوا الْوَزْنَ بیا په اول بانډے وزن د دلیلونو قرآنیه دے د پاره د اثبات د توحید او عمل او عقیده برابر کول په ایاتونو د قرآن او په شریعت سره - او بیا په دویم وزن د حقوقو د خلقو او د خالق دے د پاره د قائم کولو د عدل او بیا په دریم اقامت د وزن په لاس سره تله برابر کول او قِسط په زړه سره -

دریم ادب وَلَا تُخْسِرُوا الْمِيْزَانَ - نو بیا په اول بانډے په دلیلونو او ایاتِ قرآنیه کښ نقصان کول په طریقه د شرک کولو او فِسق کولو، دا نقصان کول دی په حقوقو د الله تعالیٰ کښ او په طریقه د ظلم کولو نو دا نقصان دے په حقوقو العباد کښ او بیا په دویم نقصان د عدل کښ ظلم کول دی او بیا په دریم بالله بخس (کمے) کول په تللو کښ د بل چا د پاره او میزان ئے درے کرته په اسم صریح سره ذکر کړے دے وجه ئے دا ده چه ډیر تاکید ثابت شی او اخر د ایاتونو هم برابر شی او بل د دے وجه نه چه د اول میزان نه آله د تللو یعنی تله مراد ده او د دویم نه معنیٰ مصدری مراد ده او دریم په معنیٰ د مفعول سره موزون مراد دے - فائده: د میزان په دے معانیو او درے ادابو سره رعایت کول لوئے نعمت د الله تعالیٰ دے چه په هر یو سره ظلمونه او جګړے د انسانانو ختمیږی.

---

۱۰ - ۱۱ په دے ایاتونو کښ درے انعامات ذکر کوی وَضَعَهَا لِلْاَنَامِ هر کله چه په زمکه کښ ډیرے فائدے دے ما سیوا د میوو او کجورو نه د دے وجے وضع للانام ئے مستقل ذکر کړے دے (پاتے په بل مخ)

وَالْحَبُّ ذُو الْعَصْفِ وَالرَّيْحَانُ ﴿۱۲﴾ فَبِأَيِّ
او دانے دی بوسو والا او خوشبو یئ دی ۔ نو دَ کوم یو
اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۱۳﴾ خَلَقَ الْاِنْسَانَ
دَ احسانونو دَ رب خپل انکار کوئے تاسو دواړه ۔ پیدا کړے دے انسان (آدم علیه السلام)

اَنَامِ انسانانو او پیریانو دواړو ته شامل دے او ټولو ژوندو سرو ته هم ویلے کیږی ماخوذ دے دَ نوم نه یعنی هغه مخلوق چه اوده کیږی یا ماخوذ دے دَ ونیم نه په معنیٰ دَ آواز کولو یعنی هغه مخلوق چه آواز والا وی لکه چه خطیب شربینی ذکر کړے دی ۔ وَالنَّخْلُ دائے دَ فاکهة نه جدا ذکر کړو دَ دوه وجو نه اول دا چه نخل کښ فاکهه او غذا دواړه دی دویمه دا چه نخل کښ دَ ټولو اونو او میوؤ نه زیاتے فائدے دی لرگے څانگے او میوه دَ دے دَ اول ښکاره کیدلو نه تر پوره پخیدلو پورے چه هغے ته جمار او بیا طلع بیا یسر بیا رطب بیا تمر په مختلف حالتونو کښ ویلے کیږی او مختلف فائدے ورکوی.

اَلْاَكْمَامِ هغه کسوړے دَ لستونړی په شکل سره چه په اول حالت کښ دانے دَ کجورے پکښ پټے وی بیا اوچوی نو دانے (غنچکونه) ترینه ښکاره شی یا مراد په دے سره هغه نرے پوستکے دے چه دَ اونے دَ کجورے دَ ښانگو او دَ تنے په مینځ کښ چاپیره دی. سـ۱۲: په دے کښ درے نعمتونه ذکر کړے دی. الْعَصْفِ هغه پانړے دَ فصلونو چه اوچ شی او څاروی یئ خوری. وَالرَّيْحَانُ رزق او کشمالو او هر بوټے چه خوشبوئی کوی او پانړے دَ بوټی چه دَ تنے دَ هغے سره پیوست وی په دے ټولو کښ جدا جدا فائدے دی او دا ټولے معانی دلته مراد کیدے شی.

سـ۱۳ تکرار دَ دے جملے دَ وجے دَ اختلاف دَ نعمتونو نه دے او دَ تاکید دَ الزام دَ حجت دَ پاره دے. او مخاطب په دے سره هغه پیریان او انسانان دی چه کفر او شرك او ناشکری کوی په قرینه دَ تکذبان سره یعنی اے خلقودا سے نعمت اوښایئ چه هغه الله تعالیٰ نه وی پیدا کړی او ستاسو معبودانو پیدا کړے وی یا الله تعالیٰ هغه نعمت په ملکرتیا دَ دے معبودانو سره پیدا کړے وی او دَ هغے وجے نه تاسو هغوی لره شریکان جوړوئ. اٰلَآءِ جمع دَ اَلْیٌ او اِلْیٌ ده په معنیٰ دَ ښکاره نعمت سره دے او په معنیٰ دَ قدرت سره

مِنْ صَلْصَالٍ كَالْفَخَّارِ ﴿۱۴﴾ وَخَلَقَ الْجَآنَّ

ذ کرنګار کوډنګے خټے نه چه پشان دَ ټکری ده | او پیدا کړیدے | جان

هم قرطبی راوړے دے او ا لاء جمع راوړلو کښ اشاره ده چه مخکښ چه کوم نعمت ذکر کړے دے هغه په اصل کښ په ډیر نعمتونو باندے مشتمل دے. رَبِّكُمَا په لفظ دَ رب کښ تاکید دے دَ احسان چه الله تعالیٰ پیدا کوونکے دَ خیزونو دَ پالنے او پالنه کوونکے دے. او خطاب پیریانو او انسانانو دواړو ته دے ځکه چه په لفظ انام کښ دواړه داخل وُو او دا رنګ روستو هم صریح خطاب راځی په ایها الثقلان او یا معشر الجن والانس سره. تُكَذِّبَانِ یو تکذیب دا دے چه هغه نعمت نعمت نه ګنړی لکه نزول دَ قرآن دویم دا چه نعمت دَ الله تعالیٰ طرف ته نه ګنړی، دریم دا چه په هغه نعمت پیدا کولو کښ دَ الله تعالیٰ سره شریک ګنړی لکه نعمتونه ظاهریه دنیویه او په عنوان دَ تکذیب سره یُے دَ دے وجے نه ذکر کړے دے چه الله تعالیٰ دا نعمتونه په جمله خبریه صادقه سره ذکر کړے دی او دَ هغے نه منلو ته تکذیب ویلے کیږی.

۱۴ دا ذکر دَ خاص نعمت دے روستو دَ عام نه یعنی په ۳ کښ عام انسان مراد وُو او په دے ایت کښ خاص ادم علیه السلام مراد دے او دلیل (نعمت) انفسی دے روستو دَ نعمتونو افاقیو نه. صَلْصَالٍ هغه خټه چه اوچه شی کړنګ کوی. كَالْفَخَّارِ هغه اوچه خټه چه په اور کښ سره شی هغے ته ټیکرے او کودرے ویلے کیږی حرف دَ کاف کښ اشاره ده چه عین ټیکرے ترینه نه وُو جوړ کړے نو معلومه شوه چه دَ اور اثر پکښ نه وُو فطرت دَ انسان بالکل جدا دے دَ فطرت دَ جن نه. (تنبیه) ترتیب دَ خلق دَ ادم علیه السلام دا دے چه خاوره دَ زمکے یُے دَ مختلفو رنګونو نه راجمع کړه لکه سورة العمران ۵۹ کښ ذکر دی خَلَقَهُ مِنْ تُرَابٍ بیا یُے دا خاوره په اوبو سره واغږله نو خټه یُے جوړه کړه او خالصه یُے او ګرځوله لکه سورة سجدة ۷ او سورة مؤمنون ص ۱۲ کښ ذکر کړے دی بیا یُے خټه وخت پورے پریخودله نو سلیخ پکښ پیدا شو لکه سورة صافات ۱۱ کښ دی بیا یُے ډیر وخت او ساتله نو رنګ یُے بدل شو او بنه یُے خمیره شوه لکه سورة حجر ۲۸ کښ ذکر دی بیا یُے بنه اوچه کړه چه په ګوته ټکولو سره کړنګار کوی او هغے ته صلصال وائی او دا یُے اخری حالت وُو لکه چه په دے رپاتے په بل مخ)

مِنْ مَّارِجٍ مِّنْ نَّارٍ ﴿۱۵﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

دَ خالصے لمبے دَ اور نه۔ نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل

تُكَذِّبٰنِ ﴿۱۶﴾ رَبُّ الْمَشْرِقَيْنِ وَرَبُّ الْمَغْرِبَيْنِ ﴿۱۷﴾

انکار کوئے تاسو۔ رب دَ دوؤ مشرقونو او رب دَ دوؤ مغربونو دے۔

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۱۸﴾ مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ

نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل نه انکار کوئے تاسو گډ ئے روان کړی دی دوه دریابونه

سورت کښ ذکر دے او دائے اخری حالت دے نو بیا ئے ترینه غوښنه هډوکی خرمن جوړ کړه او روح ئے پکښ واچوؤ۔ نو دَ رحمانیت دَ مناسبت دَ وجے نه په دے سورت کښ اخری حالت ئے ذکر کړو نو معلومه شوه چه انسان دَ درے عناصرو نه جوړ کړے شوے دے خاوره۔ اوبه او هوا۔

سـ۱۵ په دیکښ بل خاص نعمت ذکر کوی۔ الجانّ ابوالجن دے ظاهر دادہ چه دے غیر دے دَ ابلیس نه هغه خو ابوالشیاطین دے۔ مَارِجٍ لمبه دَ اور چه درے رنګونه پکښ ښکاره کیږی سور، زیړ او شین او دَ دے سره لوګے ګډ نه وی او دا په تیز اور کښ وی دَ دے وجے نه سورة حجر سـ۲۷ کښ دے ته نارالسموم ویلے شوی دے مِنْ اول دَ پاره دَ ابتداء دے او دویم مِنْ دَ بیان یا دَ تبعیض دَ پاره دے۔

سـ۱۶ په اٰلآء کښ اشاره ده چه دواړه ایاتونو کښ ډیر نعمتونه ذکر دی۔ پیدائش دَ ادم او دَ نوع دَ انسان او دَ صلصال نه په خاص کیفیت سره پیدا کول او دا سلسله جاری ساتل۔ او پیدائش دَ جان او دَ نوع دَ جن او دَ مارج نه په خاص کیفیت سره پیدا کول۔ او دَ نسل جاری ساتل۔ او دَ دواړو په ماده دَ خلقت کښ فرق کول او دَ هغے په وجے سره دَ دوی په اخلاقو او طبیعتونو کښ فرق پیدا کول دا ټول بے شماره نعمتونه دی په انسانانو او په پیریانو دواړو باندے پدے انعاماتو کښ یو هم سبب دَ انکار او دَ شرک نشی کیدے۔

۱۷ سـ۱۸ په اول ایت کښ مشرقین او مغربین پیدا کول او دَ هغوی جدا جدا صفات او احوال او دَ هغے ربوبیت (انتظام چلول) ذکر دے او په هغے کښ هم ډیر نعمتونه دَ الله تعالیٰ دی او پنځه امور ذکر شول، رب دوه مشرقونه او دوه مغربونه۔

يَلْتَقِيٰنِ ﴿١٩﴾ بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيٰنِ ﴿٢٠﴾

چه یو ځائے چلیږی، په مینځ ئے د دواړو کښ ناآشنا پرده ده چه په یو بل باندے زیاتے نه کوی.

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٢١﴾ يَخْرُجُ

نو د کوم یو د احسانونو د رب خپل انکار کوئے تاسو . را اوځی

مَشْرِقَيْنِ د موسم د اوړی او د ژمی جُدا جُدا مشرق وی او دارنګ مغربونه ئے هم جُدا جُدا وی یا مشرق او مغرب د شمس جُدا دے او د قمر جدا دے یا د ایشیا د ملکونو مشرق او مغرب جُدا دے او د امریکے وغیره مشرق او مغرب جدا دے یعنی په اعتبار د اوقاتو سره چه په دے ملکونو کښ نمر ښکاره شی نو هلته کښ غروب شی او دارنګ برعکس. او په دے نظام کښ د موسمونو تبدیلی او هغے وجه سره د فصلونو پیدا کیدل او د رنړا او د تیرے پیدا کیدل دا ډیر نعمتونه دی.
فائده: په دے سورت کښ اکثر خطابات په صیغه د تثنیه سره دی نو د هغے د مناسبت د وجے نه دا دواړه لفظونه هم تثنیه ذکر کړے شول.
س۱۹ تـ۲۰ روستو د برّی نعمتونو نه بحری انعامات ذکر کوی. اَلْبَحْرَیْنِ خوږے اوبه چه د آسمان نه راوریږی او په زمکه کښ ئے د هغے نه نهرونه سیندونه خوړونه جوړ کړیږی او اکثر د هغے نه یو ځائے شی او آخر ئے مالګین سمندر ته اورسوی او دواړه قسمونه ئے یو ځائے روان کړی دی د دے دواړو په مینځ کښ ابتداء نه د زمکے او د آسمان پرده ده او هرچه یو ځائے روان شی نو د دوی په مینځ کښ معنوی قدرتی پرده ده او دا سے تیر شوی دے په سورة الفرقان س۵۳ کښ او سورة فاطر س۱۲ کښ او په دے تفصیل سره ډیر اقوال د مفسرینو جمع شول او بل قول دا دے چه مراد د دے نه بحیره فارس او روم دے او التقاء د دوی نه دا ده چه اول او آخر ئے یو بل سره یو ځۓ دی او پردے نه مراد زمکه د حجاز ده لیکن دا قول د سورة فرقان او د سورة فاطر نه مخالف دے. لَا يَبْغِيٰنِ په یو بل باندے بغی نشی کولے د پاره د دے چه او به ئے ګډے وډے نشی او د دواړو نه چه کومے فائدے مقصود دی هغه خرابے نشی او دارنګ دوی په خلقو باندے بغی نشی کولے یعنی په ټوله دُنیا (زمکه) باندے نشی راخوریدلے اګرچه په ډیره زمکه باندے د دوی سطحه اوچته ده.
س۲۱ آلاء په مخکښ کښ نیځ نعمتونه ذکر شول. (پاتے په بل مخ)

مِنْهُمَا اللُّؤْلُؤُ وَالْمَرْجَانُ ﴿۲۲﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ

دَ دے دواړو نه ملغلرے غټے او نرۍ . نو دَ کوم یو دَ احسانانو دَ رب

رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۲۳﴾ وَلَهُ الْجَوَارِ الْمُنْشَئٰتُ

خپل انکار کوئے تاسو . او خاص دَ الله تعالیٰ په اختیار کښ دی روانے کشتۍ چه اوچتے کړے شوے

فِى الْبَحْرِ كَالْاَعْلَامِ ﴿۲۴﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

په دریاب کښ پشان دَ غرونو . نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل

مرج، دوه قسمه اویه، التقا، برزخ، عدم بغی او دَ دے نه علاوه په خوږو اوبو کښ بے شماره منافع دِی دَ مخلوق دَ پاره او په بحر مالح (مالګین) کښ هم ډیرے فائدے دی په ډیرو ملکونو کښ دَ دے نه تیل (پټرول) راوځی چه په هغے کښ بیا ډیر منافع دی.

۲۲ تا ۲۳ په دیکښ دوه انعامات ذکر کوی او دَ فائدو دَ بحرین ئے دا فائده جُدا ذکر کړه ځکه چه دَ لؤلؤ مرجان فائدے هم دَ عامو فوائدو نه جدا دی. دَ کاڼرو دَ خواصو علم لرونکی اکثر دا فائدے پیژنی او دَ دے نه دوایانے او کُشتے هم دَ علاج دَ بیمارو دَ پاره جوړیږی. مِنْهُمَا دا ضمیر تثنیه پخپله معنی باندے دے یعنی دا لؤلؤ مرجان یقینًا دَ دواړو اوبو دَ اختلاط نه پیدا کیږی مثال ئے دَ نر او دَ مادے دے. ابن جریر وایی دی چه اوبه دَ باران دَ سمندر په کهلاؤ صدفونو کښ را اُوریږی او صدفونه بند شی نو په هغے کښ ملغلرے جوړے شی یوه یا ډیرے او دَ دے مشاهده هم بعض خلقو کړیده.

او ابوحیان ذکر کړیدی چه په کوموځایونو کښ دَ خوږو اوبو سیندونه دَ سمندر سره یوځائے کیږی نو تجربه دَ غواصانو (غوپے وهونکی خلقو) سره ثابت ده چه په دغه ځایونو کښ دا ملغلرے ملاویږی. دَ دے وجے نه دا توجیه (چه بعض مفسرینو) ذکر کړے ده چه دلته ضمیر تثنیه په معنیٰ دَ مفرد سره دے نو دا بے ضرورته تاویل دے او دا رنګ مخالف دے دَ ظاهر دَ سورة فاطر ۱۲ نه هم.

۲۴ تا ۲۵ دَ بحری نعمتونو نه بل لوے نعمت ذکر کوی. لَهٗ په دیکښ تخصیص دَ تصرف دَ الله تعالیٰ ته اشاره ده دَ پاره دَ اثبات دَ توحید. الْجَوَارِ جمع دَ

تُكَذِّبَانِ ﴿۲۵﴾ ع كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ﴿۲۶﴾

انکار کوئ تاسو - ټول هغه څوک چه په زمکه باندے دی فنا کیدونکی دی.

وَّيَبْقٰى وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلٰلِ وَالْاِكْرَامِ ﴿۲۷﴾

او باقی به وی ذات دَ رب ستا چه خاوند دَ لوئ شان او دَ عزت دے.

جاریت ده. فلک دَ دے نوم وو مخکښ دَ جوړولو نه لکه وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِاَعْيُنِنَا (هود) بیا روستو دَ چلیدلو دَ دے نه په دریاب کښ او پس دَ نجات نه دَ دے نوم کیخودلے شو سفینه لکه فانجیناه واصحاب السفینة (عنکبوت) او په دریاب کښ دَ گرځیدلو په وخت کښ دَ دے نوم دے جاریت. په اسے وخت کښ مؤمنان او مشرکان دواړه اقرار کوی چه دا په قدرت دَ الله تعالیٰ چلیږی دَ دے وجے نه مشرکانو به هم په اسے وخت چه خطره به پیښه شوه الله تعالیٰ ته اواز کوؤ. او دا حالت دلالت کوی په اِنعام باندے دَ دے وجے نه دَ دے تخصیص ئے اوکړو. الْمُنْشَاٰتُ ماخوذ دے دَ انشاء نه په معنیٰ دَ پیدا کولو یعنی پیدا کړے شوی دی. یا ماخوذ دے دَ نَشُوٴ نه په معنیٰ دَ ارتفاع یعنی غاړے ئے اوچتے دی پشان دَ غرونو او په دیکښ اشاره ده لویو لویو بحری جهازونو ته او دا اعجاز دَ قرآن دے ځکه چه دا سے لوے لوے جهازونه خو روستو زمانو کښ پیدا شول او قرآن دَ هغے ذکر مخکښ کړے وؤ او دا سے په سورة شوریٰ ۳۲ کښ ذکر شوی دی. الآء په دیکښ پنځه نعمتونه ذکر دی - له ، الجوار ، المنشئات، فی البحر ، کالاعلام او نور نعمتونه پکښ ډیر دی په دریاب کښ سفر کول دَ پاره دَ تجارتونو ، جهاد او حج کولو او په هغے کښ ښکار کول او دَ ملغلرو وغیره دَ راویستلو دَ پاره کشتئ استعمالول وغیره -

۲۶ تر ۲۷ ۲۸ په دیکښ بله نوعه دَ نعمتونو ذکر کوی چه هغه پنځه دی. فناء دَ کل ، بقاء ، وجه دَ رب ، جلال ، اکرام او په دویم ایت کښ پنځه صفتونه دَ الله تعالیٰ ذکر کړے دی. كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا مراد دَ مَنْ نه پیریان او انسانان ټول دی ځکه چه په دے سورت کښ مخاطبه دَ دوی سره ده اګر چه دَ دوی نه علاوه نور مخلوق هم فنا کیږی په دلیل دَ ۸۸ دَ سورة قصص سره په مشهور تفسیر باندے - وَجْهُ رَبِّكَ دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت په بل مخ)

فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۲۸﴾ یَسْـَٔلُهٗ مَنْ

نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل انکار کوئے تاسو. محتاج دی الله تعالٰی ته هغه څوک

فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ کُلَّ یَوْمٍ هُوَ فِیْ

چه په اسمانونو او زمکه کښې دی. هر وخت هغه په جدا جدا

شَاْنٍ ﴿۲۹﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۳۰﴾

کار کښې دے. نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل انکار کوئے تاسو.

قرطبی نقل کړے دی چه وجه نه مراد ذات او وجود دَ الله تعالٰی دے او شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمة الله نه نقل دے چه لفظ وجه مشترك دے کله په یو معنٰی وی او کله په بله معنٰی سره او توله حقیقی معانی دی نو دے ته تاویل دَ متشابه نه ویلے کیږی. رَبِّكَ (سوال) په سورت کښې نور خطابات دَ تثنیے دی او دا خطاب ئے په مفرد سره ذکر کړو؟ (جواب) دا دے چه په دے کښې هر یو کس ته خطاب دے دَ پاره دَ دے چه هر یو شخص په خپله فنا او دَ رب تعالٰی په بقا باندے عقیده اوساتی.
ذُوالْجَلٰلِ مراد دَ دے نه عظمت او کبریا ده چه مستلزم ده استحقاق دَ مدح دَ الله تعالٰی لره. وَالْاِکْرَامِ دا مستلزم دے. پاك کنړلو الله تعالٰی لره دَ شریك او دَ هر قسم نقصاناتو نه. اٰلَآءِ په دے کښې ډیر نعمتونه دی. ع۱ فنا چه په سبب دَ هغے سره مؤمنان نعمتونو دَ جنت ته ور رسیږی. ع۲ او تذکیر په فنا سره او په هغے کښې ډیرے فائدے دی په عبادت کولو باندے ترغیب، دَ دُنیا محبت دَ زړه نه ویستل. دَ تکبر او ریا او حسد وغیره نه پاك کیدل. په مصیبتونو باندے صبر کول. دَ شرك او کفر او گناهونو نه ویره کول ع۳ او دَ ټولو په فنا کښې برابروالے. ع۴ او همیشه بقاء دَ الله تعالٰی چه سبب دَ اطمینان دَ زړونو دے. ع۵ او جلال او اکرام چه دلیلونه دَ توحید دَ ذات او دَ صفاتو دی.
۲۹ تا ۳۰ هر کله چه دَ فنا دَ مخلوق او بقا دَ الله تعالٰی ذکر شوه نو په دے ایت کښې دَ الله تعالٰی استغناء او احتیاج دَ مخلوقاتو هغه ته ذکر کوی. کُلَّ یَوْمٍ مراد دَ یوم نه هر وخت دے. شَاْنٍ مراد دَ دینه هغه کارونه او تصرفات دَ الوهیت دی چه الله تعالٰی ئے ښکاره کوی روستو دَ تقدیر نه دا نه چه اوس ئے شورو کوی او دا مقصد دے دَ هغه قول چه (شُئُوْنٌ یُبْدِیْهَا لَا شُئُوْنٌ

سَنَفْرُغُ لَكُمْ اَيُّهَ الثَّقَلٰنِ ﴿۳۱﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

زر دے چه اوزګار به شم تاسو ته اے دوؤ درنو . نو دکوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل

يَتَبَدَّيُهَا) او هغه کارونه، شپه او ورځ بدلول راېدلول څوک ژوندی کول څوک مړه کول، دَ چا نه غم او مصیبت لرے کول او په چا باندے راوستل دَ مصیبت او غم، دَ چا ګناهونه معاف کول، چا له عزت ورکول، چا له ذلت ورکول، څوک فقیر کول، څوک مالدار کول، دَ چا دُعا قبلول، او دَ چا رد کول، چا له ځوئے ورکول، چا له لور ورکول، دغه شان بے شماره کارونه چه دَ هغے نه هیڅ وخت خالی نه وی.

اٰلَآءِ. دَ ټول مخلوق دَ حاجاتو دَ پوره کولو ذات یو دے او هر وخت دَ هر یو شخص خه کار کول او دا مشتمل دے په بے شماره نعمتونو باندے. او په دیکښ هم پنځه امور ذکر شول. ۱ یسئله، ۲ من فی السموات، ۳ والارض ۴ کل یوم، ۵ فی شان. او په دے کښ دَ دُنیا ټولو نعمتونو ته اشاره اوشوه.

۳۱ ۳۲ دَ دنیوی نعمتونو نه روستو اخروی حالات ذکر کوی چه په هغے کښ هم نعمتونه دی او (وعدے تخویفات رویرے ورکول) هم دی. په دے ایت کښ وعد او وعید دواړه دی کله چه سَنَفْرُغُ معنیٰ دا شی اوشی چه ستاسو ثوابونه یا عذابونه به څه پوره درکړم، او یا وعید دے صرف کله چه معنیٰ دا وی زر دے چه زه به ستاسو سره حساب اوکړم. او دَ زجاج نه نقل دے چه فراغ دوه قسمه دے یو قسم دَ یو شغل نه اوزګار یدل دی دا معنیٰ دَ الله تعالیٰ په باره کښ صحیح نه ده ځکه چه هغه له یو کار دَ بل کار نه نشی مشغول کولے هغه په یو وخت کښ په هر کار باندے قادر دے دویم قسم فراغ قصد کول او توجه کول دی یو کار ته دلته دا مراد دے.

امام بخاری ذکر کړی دی چه مراد دَ دے نه حساب کول دی.

الثَّقَلٰنِ مراد دَ دے نه جن او انس دی دَ دے نوم (ثقلان) ډیرے وجے دی اول دا چه دَ دوی دواړو شان دَ نورو حیواناتو نه اوچت دے ځکه چه مکلف دی په عبادت کولو سره دویمه وجه دا چه دَ دوی دَ بدنونو بوج په زمکه باندے ډیر دے په نسبت دَ نورو څیزونو سره دریمه وجه دا چه مراد دَ دے نه ګناهګاران دی چه په بوجونو دَ ګناه سره درانه دی. ۱ اٰلَآءِ په دیکښ نعمتونه دا دی. ۱ خبر ورکول دَ پاره دَ دے چه حساب ته ځان تیار کړی. ۲ په اطاعت باندے وعده دَ ثواب ورکولو. ۳ او په ګناهونو باندے رپاتے په بل مخ)

تُكَذِّبٰنِ ﴿٣٢﴾ يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ اِنِ اسْتَطَعْتُمْ

انکار کوئے تاسو. اے ډلے دَ پیریانو او دَ انسانانو که چرے وَس لرئے تاسو

اَنْ تَنْفُذُوْا مِنْ اَقْطَارِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

دَ وَتلو دَ غاړو دَ اسمانونو او زمکے نه

فَانْفُذُوْا ۭ لَا تَنْفُذُوْنَ اِلَّا بِسُلْطٰنٍ ﴿٣٣﴾

نو اوځئ. نه شئ وتلے مګر په زور سره.

فَبِاَيِّ اٰلَاۗءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٣٤﴾ يُرْسَلُ

نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل نه انکار کوئے تاسو. دالیږلے کیدے شی به

سزا ورکول. ۳۲ او دَ دواړو په مینځ په بدله ورکولو کښ فرق کول، ۳۳ او دَ دے دواړه نوعو (جن او نس) دَ نور مخلوق نه جدائي کول په مکلف کولو او په خطاب کولو سره.
سوال:. لکم جمع ده او ثقلان تثنیه ده؟
جواب:. اشاره ده چه په دواړو نوعو کښ ډیر ډیر افراد دی. او دا رنګ دوؤنه هم خطاب دَ جمع صحیح دے.
۳۳ داخطاب به په آخرت کښ وی. او مراد دا دے چه دَ جزانه په هیڅ طریقه نشی خلاصیدلے او اسمانونه او زمکه دَ آخرت مراد دی. یا دا خطاب اوس په دنیا کښ دے اشاره ده چه تاسو اوس هم عاجز یئ دَ الله تعالیٰ دَ قضا او تقدیر نه په ټول عالم کښ، دَ تختیدلو هیڅ طرق نه شئ موندلے او نه دَ دے نه بهر وتلے شئ نو بیا ولے دَ الله تعالیٰ طاعت نه کوئ. اِلَّا بِسُلْطَانٍ دا استثناء فرضی ده ځکه چه دَ انسانانو او پیریانو دَ پاره په الله تعالیٰ باندے قوت او غلبه ممتنع او محال ده ځکه دَ دے نه روستو وَاَنّٰى لَکُم پټ دے یا داچه بِسُلْطَانٍ کښ باء په معنیٰ دَ لام سره ده یعنی هر طرف ته چه اوځئ نو هلته بادشاهی دَ الله تعالیٰ ده. اٰلآء دلته مراد دَ نعمتونو نه. دَ ټولو انسانانو او پیریانو په عجز کښ برابرول او تنبیه تحذیر ورکول او سره دَ لوئے قدرت دَ الله تعالیٰ نه معافی کول. او دوی لره محدود طاقت ورکول دَ پاره دَ دے چه بغاوت اونکړی او نظام دَ دُنیا خراب نشی او ټولو لره دَ اسمان دَ لاندے او دَ زمکے دَ پاسه ځائے ورکول دی.

عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ مِّنْ نَّارٍ ۙ وَّنُحَاسٌ فَلَا تَنْتَصِرٰنِ ﴿۳۵﴾

په تاسو بانددې خالصه شغله د اورنه او تور لوګے نو بیا به په تاسو بانددې خالص شغلے د اورنه او تور لوګے نو بیا به نشئ اغستلے تاسو.

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۳۶﴾ فَاِذَا انْشَقَّتِ

نو د کوم یو د احسانونو د رب خپل انکار کوئے تاسو. نو کوم وخت چه اوشلیږی

السَّمَآءُ فَكَانَتْ وَرْدَةً كَالدِّهَانِ ﴿۳۷﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ

اسمانونه نو شی به سور ګلاب پشان د خرمنے رنګ کړے شوے. نو د کوم یو د احسانونو

رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۳۸﴾ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُسْئَلُ عَنْ

د رب خپل انکار کوئے تاسو. نو په دغه ورځ به تپوس نه شی کیدے د

۳۵-۳۶ دا مستقل تخویف اخروی دے د مکذبینو د پاره خاص دے یا متعلق دے د فانفذوا سره یعنی که چرے بالفرض تاسو اوتښتئ نو را لیږی به په تاسو بانددے لمبے د اور یعنی د وتلو طاقت نشئ لرلے. شُوَاظٌ شنے لمبے د اور چه لوګے ورسره خلط نه وی او سرو لمبو ته هم ویلے کیږی. وَنُحَاسٌ هغه لوګے تور چه لمبے ورسره نه وی او تانبه ویلے کړے شوے ته هم ویلے کیږی. اٰلَآءِ دا تهدید دے مخکښ د را تللو د عذاب ته او د مطیع او ګناهګار جدائی په جزا سزا کښ او د مکذبینو د پاره قسما قسم عذابونه او مؤمنانو لره د هغے نه بچ ساتل او په دُنیا کښ د اور لمبے او لوګی پیدا کول د پاره د یاداشت د اور د آخرت دا ټول نعمتونه دی.

۳۷-۳۸ دا هم تخویف دے په ذکر د هیبت د قیامت سره. او په دیکښ جواب د وهم دے هغه دا چه دا اسمانونه او زمکے منع کوُنکی دی انسان لره د نفوذ نه که دا لرے کړے شی نو بیا نفوذ کولے شی حاصل د جواب دا دے اسمانونه به اوچوی لیکن بیا هم دا انسانان نفوذ نشی کولے. فَاِذَا حرف د فَا دلالت کوی چه تیر شوی آیاتونه د دنیا سره متعلق وُو لکه چه مخکښ یو تفسیر ذکر شو او اوس د دُنیا د فنا حال ذکر کوی او د آبادئ ورانیدل د بره طرف نه شورو کیږی د دے وجے نه ئے اول د اسمان انشقاق ذکر کړو او دا سے په سورة الحاقه ۱۶ او سورة فرقان ۲۵ او سورة انشقاق ۱ کښ هم ذکر کړے دی. وَرْدَةً سور ګلاب ته ویلے کیږی او سور اس ته هم ویلے کیږی. كَالدِّهَانِ سرے خرمنے ته (رباتے په بل مخ)

ذَنْبِهٖۤ اِنْسٌ وَّلَا جَآنٌّ ﴿۳۹﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

گناه د دیو مجرم د بل انسان او نه د پیری نه - نو د کوم یو د احسانونو د رب خپل

تُكَذِّبٰنِ ﴿۴۰﴾ یُعْرَفُ الْمُجْرِمُوْنَ بِسِیْمٰهُمْ

انکار کوئ تاسو - پیژندلے کیدے به شی مجرمان په نښو د هغوی سره

ویلے شی یا جمع د دُهن د ه تیلو ته ویلے شی یعنی اسمانونه به سره شی پشان د گلاب او ویلے به شی او بهیږی به پشان د تیلو - او سور کیدل د اسمان به د دے وجے نه وی چه اور د جهنم ته به نزدے کړے شی او ماوردی ویلے دی چه اصلی رنگ د اسمان سور دے او د لرے والی د وجے نه شین ښکاره کیږی او چه نزدے شی نو په اصل رنگ به سور ښکاره کیږی. اٰلآء - تنبیه په فنا سره - او د اسمانونو تر اوسه پورے د فنا نه بچ ساتل او بیا د قدرت په مظاهرے سره د هغے رنگ او حالت بدلول دا تذکره ټول نعمتونه دی.

س ۳۹ تا ۴۰ دا هم تخویف اخروی دے حرف د فا دلالت کوی چه د اسمان د حالت بدلولو نه روستو به قیامت او ورځ د حساب شوروشی.

ابن کثیر ویلے دی چه مراد د دے نه د عذرونو دروازه بندول دی لکه په سورة مرسلات س ۳۶ کښ دی یعنی د لا یُسْئَلُ نه مراد د عذر کولو تپوس دے یا مراد دا دے چه په اول وخت د حشر او دا رنگ په اُورکښ دننه د دوی د گناهونو تپوس نه کیږی بلکه په موقف د حساب کښ تپوس کیدے شی. او ابو العالیه نه نقل دے چه د یو مجرم د گناهونو تپوس به د بل مجرم نه نشی کیدے او اکثر مفسرینو ویلے دی چه د استعلام (یعنی د ځان خبرولو) د پاره تپوس نیشته بلکه د زورنے د پاره به تپوسونه وی او د ابن قیم رحمه الله نه نقل دے چه د گناه د کولو تپوس به نه وی بلکه د هغے وجه او علت او د کیفیت د عمل تپوس به کیږی پدے توجیها تو سره د ایت د فَلَنَسْئَلَنَّ الَّذِیْنَ اُرْسِلَ اِلَیْهِمْ (اعراف س ۶) سره تعارض دفع کیږی او دا سے سورة قصص س ۷۸ کښ هم تیر شوی دی.

اٰلآء نعمتونه دا دی چه تپوس په مجرم پورے خاص دے - او د غیر مجرم تپوس صرف عرض دے او بیا معاف کول دی - او په تپوس کولو کښ مقصد تمیز د مجرم او د غیر مجرم دے - او پدے تپوس کښ مقصد الزام دے په مجرم باندے او اظهار د صفت د عدل د الله تعالیٰ دے.

فَيُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِي وَالْأَقْدَامِ ﴿۴۱﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ

نو نیولے کیدے بہ شی دَ تندی د ویښتو نه او دَ خپو نه . نو دَ کوم یو دَ احسانا تو

رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿۴۲﴾ هَٰذِهِ جَهَنَّمُ الَّتِي

دَ رب خپل انکار کوئے تاسو . دا جهنم دے هغه جهنم چه

يُكَذِّبُ بِهَا الْمُجْرِمُونَ ﴿۴۳﴾ يَطُوفُونَ بَيْنَهَا

انکار کوؤ دَ دے نه مجرمانو . ځی راځی به دوی په مینځ دَ دے

وقف لازم

۴۱ تا ۴۲ دا تخویف اخروی دے یعنی روستو دَ سوال (حساب) نه سزا شورو کیږی۔

بِسِيمَاهُمْ یعنی هغه گناهونه به مصور شی دَ مجرمانو په بدنونو باندے او دا رنګ تور والے دَ مخونو لکه سورة آل عمران ۱۰۶ یونس ۲۷ ملک ۲۷ کښ او زرقت دَ سترګو لکه چه سورة طٰه ۱۰۲ کښ او ړوند کونړ ګونګے او په مخونو باندے روانیدل لکه سورة اسراء ۹۷ او فرقان ۳۴ کښ دی دا ټولے دَ دوی نښے به وی۔

فَيُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِي دا جمع دَ نَاصِيَةٌ ده هغه ویښته چه په تندی باندے آویزان وی او دا سے ویښته ساتل طریقه دَ مجرمانو ده دَ سنت دَ نبی صلی الله علیه وسلم نه مخالف ده او دا سے په سورة علق ۱۵ کښ دی۔ دا نیول به زبانیه ملائک کوی یا به ناصیه او قدمونه ور یو ځائے کړی او یو ملک به یے اونیسی او جهنم ته به یے اوغورځوی یا دا چه یو ملک به یے دَ ناصیه نه اونیسی او بل ملک به یے دَ قدمونو نه اونیسی لکه سورة ق ۲۴ کښ تثنیه تیره شویده کله چه هغه بخیله معنیٰ مراد کړے شی۔

آلاء نعمتونه دا دی چه دَ مجرمانو نښے یے دَ غیر مجرمانو نه جدا کړے دی۔ او طریقه دَ عذاب دَ مجرمانو یے سخته کړے ده۔ او دَ امتیاز دَ نښو دَ وجے نه ملائک به غیر مجرم لره نه نیسی۔

۴۳ تا ۴۴ تا ۴۵ هر کله چه ذکر شو نیول دَ مجرمانو دَ سر او خپو نه نو اوس ذکر کوی محل دَ ګذارولو دَ هغه چه جهنم دے۔ او يُقَالُ دَ دے نه مخکښ مراد دے يُكَذِّبُ بِهَا دا حکایت دَ حال ماضیه دے لیکن په مضارع راوړلو کښ اشاره ده که دوی له بیا مهلت ور کړے شی نو ائینده به هم تکذیب کوی۔ (پاتے په بل مخ)

وَبَيْنَ حَمِيْمٍ اٰنٍ ﴿۴۴﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

او په مینځ دَ خوټکیدلو اوبو سختو ګرمو کښې. نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل نه

تُكَذِّبٰنِ ﴿۴۵﴾ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتٰنِ ﴿۴۶﴾

انکار کوئ تاسو. او هغه چا دَ پاره چه ویریږی دَ پیش کیدلو دَ رب خپل نه قسما قسم باغونه دی.

بَيْنَهَا وَبَيْنَ حَمِيْمٍ یعنی جهنم چه طبقه دَ اور ده او ځائے دَ حمیم طبقه دَ خوراك څښناك ده دَ دے دواړو په مینځ کښې ډیر ځی راځی یعنی دَ اوبو نه به نه مړیږی نو بیا بیا به ځی راځی او آرام به ورته نه ملاویږی. اٰنٍ په دیکښې درے توجیه دی اوّل دا چه په معنیٰ دَ هغه اوبو چه ډیرے سختے ګرمے به وی چه هغه به پشان دَ مهل ګرځیدلے وی دویمه وجه دا په معنیٰ دَ پخے کړے شوے په اور یا تند ے ځکه چه اَنِي پخولو ته ویلے کیږی. دَ کوم وخت نه چه جهنم پیدا کړے شوے دے دَ هغه وخت نه دا اوبه په اور باندے پخیږی. دریمه وجه اٰنٍ په معنیٰ دَ حاضر دے یعنی دا اوبه به جهنم والو ته هر وخت حاضرے وی.

اٰلَآءِ په دے تخویف کښې نعمتونه دا دی. چه په دے سره څوك نصیحت واخلی نو دَ شرك او کفر او ګناهونو نه ځان بچ کوی. او دارنګ دَ دے په وجه سره په طاعت کولو کښې رغبت کوی. او دارنګ په دیکښې ایمان بالغیب دے. او په دیکښې تمیز دے په مینځ دَ مجرمانو او غیر مجرمانو کښې او دا عدل دَ الله تعالیٰ دے. او اشاره ده چه اور دَ دنیا او اوبه دَ دنیا لوے نعمت دے لیکن دَ ناشکرئ کولو په وج سره په جهنم کښې دغه نعمتونه په شکل دَ عذاب کښې دی.

۴۶ تا ۷۸ په دیکښې بشارت دے روستو دَ ذکر دَ تخویف اخروی نه او دا ټول دَ جنت نعمتونه ذکر کوی. دوه قِسمه جنتونه ذکر کوی ځکه چه دَ رب العزت نه خوف کوونکی دوه قِسمه مؤمنان دی یو السابقون او دویم اصحاب الیمین او هر قِسم جنت سره یوؤلس یوؤلس نعمتونه ئے ذکر کړی دی.

وَلِمَنْ خَافَ په تقدیم دَ لِمَنْ کښې اشاره ده چه جنتونه بغیر دَ خوفِ الٰهی نه نشی حاصلیدے او دا سے په سورة ابراهیم ۱۴ او سورة نازعات ۴۰ کښې هم ذکر دی. او دا خوف حاصلیږی په اطاعت کولو سره فرائض ادا کول او دَ ګناهونو نه اجتناب کول او ډیر استغفار او توبه کول. او لفظ دَ مَنْ عام دے

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۴۷﴾ ذَوَاتَآ اَفْنَانٍ ﴿۴۸﴾

نو د کوم یو د احسانونو د رب خپل انکار کوئے تاسو ، ډیرو ښانګو والا به وی

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۴۹﴾ فِيْهِمَا عَيْنٰنِ

نو د کوم یو د احسانونو د رب خپل ته انکار کوئے تاسو ۔ په هغے کښ قسما قسم چینے دی

جن او انس دواړو ته شامل دے او په دے سورت کښ دواړه مخاطب دی نو ابن کثیر ذکر کوی چه دا دلیل دے چه پیریان مؤمنان به هم جنت ته داخلیږی پشان د انسانانو۔ مَقَامَ رَبِّهٖ مقام په زور د میم سره مصدر میمی او ظرف دواړه راځی نو چه مصدر میمی وی نو یا مضاف دے فاعل ته یا مفعول ته او چه رَبِّهٖ فاعل شی نو مراد د قیام د رب ته علم او قدرت او تدبیر د هغه دے مخلوق لره لکه سوره رعد ۳۳ کښ دی او که مفعول شی نو په تقدیر د عند یا بین یدی سره دے یعنی قیامه عند ربه یا بین یدی ربه یعنی او دریدل د بنده د رب العزت په مخکښ په ورځ د قیامت او که صیغه د ظرف مکان شی نو اضافت په تقدیر د لام سره دے یعنی ځائے د او دریدلو د بنده چه د رب د پاره دے او هغه پورے خاص دے۔

جَنَّتَانِ په دے تثنیه کښ ډیر اقوال مفسرینو ذکر کړے دی لیکن غوره دا ده چه دا تثنیه د تکرار او د کثرت د پاره ده یعنی ډیر جنتونه دی د یو قسم نه او د دے وجه نه روستو فیهن ضمیر د جمع ذکر کړے دے۔ او هر یو جنت په بے شماره نعمتونو باندے مشتمل دے چه په هغے باندے لفظ اٰلآء دلالت کوی۔

۴۸ تا ۴۹ د دے ایت نه صفتونه د دے جنتونو ذکر کوی۔ دا اول صفت دے اَفْنَانٍ جمع د فنن ده ښانګو ته ویلے کیږی یا جمع د فن ده رنګ او نوع او قسم ته ویلے کیږی په دویم احتمال سره معنیٰ دا چه قسما قسم نعمتونه پکښ دی۔

اٰلآء هر کله چه دغه ښانګے په پاڼو او په میوو او سورو او په زینت او په ډیرو فائدو باندے مشتمل دی د دے وجه نه هغے ته یے په اٰلآء سره اشاره اوکړه۔

تَجْرِيٰنِ ﴿۵۰﴾ فَبِأَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۵۱﴾

چه بهیږی به ۔ نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل ته انکار کوئے تاسو ۔

فِيهِمَا مِن كُلِّ فَاكِهَةٍ زَوْجٰنِ ﴿۵۲﴾ فَبِأَيِّ اٰلَآءِ

په دوی کښې به دَ هرے میوے نه ډیر قسمونه وی ۔ نو دَ کوم یو دَ احسانونو

رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۵۳﴾ مُتَّكِـِٔينَ عَلٰى فُرُشٍۢ

دَ رب خپل ته انکار کوئے تاسو ۔ ارام به کوی دوی په بسترو بانده

بَطَآئِنُهَا مِنْ اِسْتَبْرَقٍ ؕ وَجَنَا الْجَنَّتَيْنِ

چه استرونه دَ هغے به دَ غټو ریښمونو نه وی او میوے راټولول دَ دے باغونو

۵۰ ۔ ۵۱ په دے کښې دویم صفت ذکر کوی ۔ دَ حسن بصری په روایت سره یو چینه دَ تسنیم او بله دَ سلسبیل ده یا دلته هم تثنیه دَ پاره دَ تکثیر ده ۔
تَجْرِيٰنِ یعنی دَ جنت په ټولو مکانونو او بوټو او باغونو کښې به همیشه بهیږی او هیڅرے به نه کمیږی او نه به اوچیږی او په دے کښې بے شماره نعمتونه دی چه هغے ته ئے په لفظ آلاء سره اشاره اوکړه ۔

۵۲ ۔ ۵۳ په دے کښې دریم صفت ذکر کوی ۔
زَوْجَانِ بعض مفسرینو دَ دے مثال په رطب او یابس سره ذکر کړے دے او بعض صرف په دوه قسمونو پورے تخصیص کړے دے لیکن صحیح دا ده چه تثنیه کښې معنیٰ دَ کثرت ده او مراد دَ دے نه بے شماره قسمونه دی یعنی په یو قسم میوه (لکه انګور) کښې به بے شماره قسمونه وی، دا رنګ په انار او کجورو وغیره کښې چه دَ هغه قسمونو شمار او کیفیت بانده یو الله تعالیٰ علم لری ۔

(مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ وَلَا خَطَرَ عَلٰى قَلْبِ بَشَرٍ)

دَ دے وجے نه لفظ آلاء ئے ورپسے ذکر کړے دے ۔

دَانٍ ﴿۵۴﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۵۵﴾ فِیۡهِنَّ

نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل نه انکار کوئے تاسو۔ پس بے باغونو کښ به نزدے دی۔

قٰصِرٰتُ الطَّرۡفِ ۙ لَمۡ یَطۡمِثۡهُنَّ اِنۡسٌ قَبۡلَهُمۡ

(زنانه) خکته کوونکی وی سترگے خپلے نه به وی رسیدلے دوی ته هیڅ انسان مخکښ دَ دوی نه

وَ لَا جَآنٌّ ﴿۵۶﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿۵۷﴾

او نه هیڅ پیرے۔ نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل نه انکار کوئے تاسو۔

ب۵۴ ت۵۵ پدیکښ خلورم نعمت (مُتَّکِئِیۡنَ) او پنځم (عَلٰی فُرُشٍۭ) او شپږم (بَطَآئِنُهَا) او اُوم (وَجَنَا الۡجَنَّتَیۡنِ) ذکر کړے دے۔ هر کله چه یو خوړونکی له خوراك دَ میوؤ پوره مزه هغه وخت ورکوی چه تکیه ئے په ښائسته فراشونو باندے وهلے وی دَ دے وجے نه په طریقه دَ حال سره ئے متکئین ذکر کړو۔ اِتِّکَاء دَ روغ رمټ او بے غمه شخص حالت وی په ډډه وهلو یا په پرلت وهلو سره۔ بَطَآئِنُهَا دَ دے مقابل ظهائر دی او هغه ئے ذکر نه کړو یا خو هغه دَ سندس نه جوړ دی لکه سورة کهف ۳۱ او سورة دخان ۵۳ کښ اشاره ده یا دا چه بطائن (استرونه) چه عادةً په دنیا کښ دَ معمولی کپړے نه جوړیږی لیکن په جنت کښ به هغه دَ اعلی کپړے نه وی چه استبرق دے نو دَ ظهائرو علم دَ الله تعالیٰ سره دے هغه دَ انسان په علم کښ اوس نشی راتلے۔ وَجَنَا الۡجَنَّتَیۡنِ۔ جَنیٰ یا مصدر سره دے راټولول دَ میوؤ یا مبنی للمفعول دے یعنی میوے راټولے کړے شوے۔

دَانٍ یعنی هغه اونه او غنچکونه او میوے دَ هغے به جنتی شخص ته رانژدے کیږی لکه سورة الحاقه ۲۳ او سورة الدهر ۱۴ کښ دی او دَ اِتکاء سره ئے یو ځائے ذکر کړو دَ دے دَ پاره چه څوک وهم اونکړی چه میوے راخستلو سره به دوی ته تکلیف وی ور پسے به ورځی او تکیه به ترینه پاتے شی لکه دَ دنیا حال چه دے نو دا وهم ئے دفع کړو۔ او دے ډیرو نعمتونو ته ئے په اٰلَآءِ سره اشاره اوکړه۔

ب۵۶ ت۵۷ پدیکښ اتم او نهم نعمت ذکر کوی۔ فِیۡهِنَّ دا ضمیر راجع دے جنتان ته ځکه چه مراد په هغے سره جمع ده لکه چه مخکښ بیان شو او بعض مفسرینو دا ضمیر راجع کړے دے فرش ته لیکن هغه مناسب نه دے (پاتے په بل مخ)

كَأَنَّهُنَّ الْيَاقُوتُ وَالْمَرْجَانُ ﴿۵۸﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ

گویا که دوی دی یاقوت (په رنګ کښې) او مرجان (په صفائي کښې). نو د کوم یو د احسانونو

ځکه چه هغه سره علی یکار وو. قَاصِرَاتُ الطَّرْفِ د دے موصوف حذف دے یعنی نِسَاءٌ یا حُوْرٌ لیکن هر کله چه عادت دادے چه د لویو خلقو زنانه په صفاتو سره ذکر کیدے شی د دے وجې نه دلته یئے هم صفات ذکر کړل. قَاصِرَاتُ یعنی په غیر د خپلو خاوندانو نه په بل چا ته نظر نه کوی د ډیرے حیا د وجې نه او دا خائسته صفت د زنانو دے او الطَّرْفِ یئے ذکر کړو العین یئے ذکر نه کړو اشاره ده چه طرف د نظر بل چا ته نه اړوی نو ټوله سترګه خو په طریقه اولی سره نه اړوی.

لَمْ يَطْمِثْهُنَّ. طمث په اصل کښې هغه دم (وینے) ته ویلے شی چه په وخت د جماع د پکرے سره بسکاره کیږی نو مراد دادے چه دوی به پکرے وی د دے خاوندانو نه وړاندے هیڅ پیری او انسان د دوی سره جماع نه ده کړے او اشاره ده چه هر وخت د جماع کولو کښې به دوی پکرے وی.

او ابن کثیر ویلے دی دا دلیل دے چه پیریان به هم جنت ته داخلیږی او د هغوی د پاره د جنس د هغوی نه بیبیانے دی ځکه که د دوی جنت ته داخلیدل نه وے نو د دوی د جماع د کولو بیا هیڅ فائده نیشته.

او قرطبی ویلے دی چه دا دلالت کوی چه جنات د انسانانو د زنانو سره هم جماع کولے شی لکه بعض احادیث ظاهره هم پدے باندے دلالت کوی. او دا صفتونه حورو د جنت او دنیوی زنانو (چه جنت ته داخلے شی) ته شامل دی. او پدیکښې هم بے شماره نعمتونه دی د دے وجې نه آلاءِ یئے ذکر کړے دے.

۵۸ ۵۹ پدے تشبیه کښې دوه نعمتونو ته اشاره ده (رسم او یؤ لسم) یاقوت قیمتی جوهر دے ډیر صفا او سور رنګ والا او ویلے شوی دی چه هغه په اور سره نه سوزیګی. او مرجان ترئے ملغلرے چه ډیرے سپینے او صفا وی. نو پدیکښې مراد ډیر خائست او صفائي د هغوی ده د یاقوت سره تشبیه په صفائي کښې او د مرجان سره په سپین والی کښې ده یا د یاقوت سره په سور والی او د مرجان سره مشابهت په صفا والی کښې دے. او په دے باره کښې صحیح احادیث ابن کثیر او شربینی نقل کړے دی. او پدیکښې ډیر نعمتونو ته اشاره ده. د هغوی خائست، او صفائي، او حیا او ادب، او د خاوندانو خوشحالی په هغوی

رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٥٩﴾ هَلْ جَزَآءُ الْإِحْسَانِ

دَرب خپل نه انکار کوئ تاسو. نه دہ بدله دَ توحيد (اخلاص)

إِلَّا الْإِحْسَانُ ﴿٦٠﴾ فَبِأَيِّ آلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٦١﴾

مگر جنت دے. نو دَ کوم يو دَ احسانونو دَرب خپل نه انکار کوئ تاسو.

وَمِنْ دُونِهِمَا جَنَّتٰنِ ﴿٦٢﴾ فَبِأَيِّ آلَآءِ رَبِّكُمَا

او سيوا دَ دوی نه نور قسما قسم باغونه دی. نو دَ کوم يو دَ احسانونو دَرب خپل نه

سره. او په هغوی په عمر تيريدلو سره بدلی نه راتلل وغيره دَ دے وجے نه لفظ دَ آلآءِ ئے ذکر کړو.

٦٠ ـ ٦١ په دیکښ ذکر دَ علت دَ ماقبل نعمتونو دے په اول لفظ چه احسان دے دَ انس او جن دَ طرف نه او دا رنګ په دیکښ په دويم لفظ احسان کښ تو رو بے شماره نعمتونو او احسانا نو دَ الله تعالیٰ ته اشاره ده. ځکه چه په روايت دَ ابن عباس رضی الله عنهما کښ راغلی دی چه نيشته جزاء دَ هغه چا چه لا الٰه الا الله وائی او عمل کوی په سنت دَ نبی صلّی الله عليه وسلّم مگر جنت دے دا خطيب شربينی ذکر کړے دے او فراء په تفسير معالم التنزيل کښ په سند سره مرفوع حديث راوړے دے چه رسول الله صلی الله عليه وسلم دا آيت اولوستلو بيائے تپوس اوکړو چه تاسو پوهيږئ چه ستاسو رب څه فرمائيلی دی دوی اُويل الله تعالیٰ او رسول ښۂ پوهه دے نو هغه اوفرمائيل چه الله تعالیٰ فرمائيلی دی چه نيشته جزاء دَ هغه چا چه ما انعام کړے دے په هغه باندے په توحيد سره مگر جنت دے. او لفظ آلآء کښ هغه نعمتونو ته اشاره ده چه دويم لفظ احسان په هغے باندے دلالت کوی.

٦٢ ـ ٦٣ دَ دے آيت نه دويم قِسم جنتونه په بشارت کښ ذکر کوی دَ دويم قسم مؤمنانو دَ پاره او دَ دے هم يؤلس صفات راوړی. وَمِنْ دُونِهِمَا لفظ دَ دُونِ ښکاره دلالت کوی چه دا جنتونه دَ مخکنو نه په فضيلت او درجاتو کښ کم دی. او ابن کثير دا دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل کړے دے او وجه دَ کم والی به روستو ذکر کړے شی ان شاء الله تعالیٰ. او حکيم ترمذی او بعض (پاتے په بل مخ)

تُكَذِّبٰنِ ﴿۶۳﴾ مُدْهَآمَّتٰنِ ﴿۶۴﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

انکار کوئے تاسو، تک شنه به وی ۔ نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل نه

تُكَذِّبٰنِ ﴿۶۵﴾ فِیْهِمَا عَیْنٰنِ نَضَّاخَتٰنِ ﴿۶۶﴾

انکار کوئے تاسو. په دے کښں چینے دی فوارے وهونکے به وی (اوبه راویستونکی په زور سره)

فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۶۷﴾ فِیْهِمَا

نو دَ کوم یو دَ احسانونو دَ رب خپل نه انکار کوئے تاسو ۔ په دے کښں

علماؤنه نقل کړے شوے ده چه ۔

دُوَن په معنیٰ دَ نزدے دے عرش دَ الله تعالیٰ ته او دا جنتونه دَ مخکنونه افضل او غوره دی لیکن دا قول دَ ظاهر دَ قرآن نه خلاف دے. جَنَّتٰنِ دلته هم تثنیه دَ پاره دَ تکرار او دَ ډیروالی ده یعنی دا قِسم جنتونه هم ډیر دی او ډیرو نعمتونو بانـدے مشتمل دی او لفظ "الاء" کښں دیته اشاره ده ۔

سـ۶۴ ۶۵ دا اول صفت دَ جنتان دے هر کله چه اونے بوټی او چمنونه ډیر شنه او تازه وی نو تور بشکاره کیږی دیته اد هیمام ویلے کیږی. نو په دے کښں اشاره ده ډیروالی دَ اونو او بوټو او چمنونو ته او ډیره تازګی او ډیر شین والی ته او دا سبب دے دَ خوشحالئ او تازګئ دَ نظر او بیا دَ زړه دَ پاره. نو دا ډیر نعمتونه دی دیته اشاره ده په لفظ دَ "الاء" سره.

سـ۶۶ ۶۷ دا بل صفت دَ جنتونو دے.

نَضَّاخَتٰنِ نضخ په خَا سره ډیره مبالغه ده دَ نضح نه په حَا سره ځکه نضح صرف شیندل او ترمکیا ته ویلے کیږی او نضخ په خَا سره فوّارے دَ اوبو ته ویلے کیږی چه هغه په تیزئے سره راوځی ۔

نو دا چینے به ډیرے اوبه او مشک او خوشبوئ او خیر او برکت په جنتیانو بانـدے راتولی او دا هم ډیر نعمتونه دی دَ دے وجے نه دلته هم لفظ "الاء" اُویلے شو ۔

فَاكِهَةٌ وَّنَخْلٌ وَّرُمَّانٌ ﴿۶۸﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا

میوے دي او کجورے او انار دي . نو د کوم یو د احسانونو د رب خپل نه

تُكَذِّبٰنِ ﴿۶۹﴾ فِيْهِنَّ خَيْرٰتٌ حِسَانٌ ﴿۷۰﴾

انکار کوئے تاسو . په دے کښ به غوره بیبیانے خائسته شکلونو والا وی .

فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۷۱﴾ حُوْرٌ مَّقْصُوْرٰتٌ

نو د کوم یو د احسانونو د رب خپل انکار کوئے تاسو . حورے دی بندے ساتلے شوے

۶۸ ـ ۶۹ دا بل صفت دے او په دے کښ درے انعامات ذکر کوی .

وَنَخْلٌ وَّرُمَّانٌ داعطف دے په فاکهة باندے او عطف مغایرة غواړی نو معلومه شوه چه دا دواړه فواکه نه دی او دا قول د امام ابوحنیفه رحمه الله دے په باب د قسم کولو کښ او صاحبان د هغه او نور باقی ائمه محدثین وائی چه دا خو اعلیٰ د فواکهو نه دی او دا عطف تخصیص بعد التعمیم دے او داسے په قرآن کښ ډیر واقع دے او د دے د تخصیص د پاره ډیرے وجے دی اوله وجه دا چه په زمانه د نزول قرآن کښ حجاز علاقه کښ دا دواړه ډیر موجود وو کجورے به د پاره د غذا او انار به د پاره د میوے استعمالیدل . دویمه وجه دا ده چه دا دواړه په اوړی او ژمی کښ موجود وی او پکښ ډیرے فائدے دی . دریمه وجه دا ده چه په کجوره کښ د تفکه سره غذائیت هم دے او په انار کښ د تفکه سره دوائی هم ده او په دے ټولو کښ بے شماره نعمتونه دی د دے وجے نه ورسره تعبیر په اٰلَآءِ سره اوکړے شو .

۷۰ ـ ۷۱ دا بل صفت دے په ذکر کولو د نورو نعمتونو سره . خَيْرٰتٌ صفت دے د ازواج (ریت) د پاره جمع د خیرت په تخفیف د یاء سره نو معنیٰ دا ده چه ذوات الخیرات یعنی خاوندانے د خیر او د فائدو دی یا جمع د خیّرت ده په تشدید د یاء سره بیا پکښ تخفیف کړے شوے دے نو معنیٰ دا چه غوره اخلاقو او صفاتو والا دی او حِسَانٌ په معنیٰ د دے چه بد نوته او مخونه به یئے ډیر خائسته وی او هر کله چه الله تعالیٰ چه خالق د حسن دے د هغوی د حسن صفت ذکر کړو نو معلومه شوه چه د هغه حسن انتها او مثال نیشته او په دے کښ د هغه ازواجو ډیر باطنی او ظاهری صفتونو او نعمتونو اشاره ده چه هغه ته اٰلَآءِ ویلے کیدے شی .

فِي الْخِيَامِ ﴿٧٢﴾ فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧٣﴾

په خیمو (د ملغلرو کښې). نو د کوم یو د احسانونو د رب خپل ته انکار کوئ تاسو.

لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنْسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَانٌّ ﴿٧٤﴾

ته به وی رسیدلے دوی ته هیڅ انسان مخکښ د دوی نه او نه پیرے

فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧٥﴾ مُتَّكِئِينَ عَلَىٰ

نو د کوم یو د احسانونو د رب خپل ته انکار کوئ تاسو . آرام به کوی دوی په

٧٢ ـ ٧٣ دا نور صفات د هغه ازواجو دی. مبتدا محذوف ده یعنی هُنَّ حُوْرٌ جمع د حوراء ده ښځه سپین رنګ والا ته ویلے کیږی چه د سترګو تورے ښځه تور وی او سپین والے ښه سپین وی. مَقْصُوْرَاتٌ بنده ساتل د حفاظت او د اکرام د پاره دی او مدح د زنانو په ستر او پردے سره کیږی او چه پخپل کور کښ اوسی او بے ضرورته په لاروکوڅو کښ نه ګرځی. فِي الْخِيَامِ مراد د دے نه د هغوی کورونه او محلونه دی. او خطیب شربینی ویلی دی چه څلور لرګی اودرولے شی او د پاسه وربانده څه څانګے او بوټی واچولے شی نو دیته خیمه ویلے کیږی.

او چه د وړئ او وریښم وغیره نه جوړه شی نو هغے ته خباء ویلے کیږی، لیکن د جنت د هغے خیمے تفسیر په حدیث صحیح کښ راغلی دے او د دے نه هغه مراد دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی، چه د مؤمن د پاره په جنت کښ خیمه ده د یو ملغلرے ډډے ته چه اوږدوالے د هغے شپیته میلونه دے او د دے مؤمن به په هغے کښ اهل وی چه دے به په هغوی بانده چکر لګوی او هغوی به یو بل له نه وینی، دا د مسلم روایت دے او په دے آیت کښ د حور ډیر صفتونه ذکر شول او دا نعمتونه هم دی چه هغے ته په لفظ د آلاء سره اشاره شویده.

٧٤ ـ ٧٥ دا صفت د مخکنو او د دوی دواړو شریک دے ځکه چه د دے وصف په نیشتوالی سره په لذتونو کښ ډیر کمے طبعًا او عادةً محسوس کیږی او دا هم په ډیرو آلاء بانده مشتمل دے لکه چه مخکښ تیر شویدی.

مُتَّكِـِٔينَ عَلٰى رَفْرَفٍ خُضْرٍ وَّعَبْقَرِيٍّ حِسَانٍ ﴿۷۶﴾ فَبِاَيِّ

نو دَ کوم یو ... خائسته بانده ... او قالینونو شنو ... ځادرونو

اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۷۷﴾ تَبٰرَكَ اسْمُ رَبِّكَ

دَ احسانونو دَ رب خپل ته انکار کوئے تاسو - برکتونو والا دے نوم دَ رب ستا

۷۶ ۷۷ دا نور صفتونه دَ جنتیانو ذکر کوی یعنی تیر شوی نعمتونه به دوی ته حاصلیږی سره دَ ارام نه رَفْرَفٍ خُضْرٍ رفرف په اصل کښ ماخوذ دے دَ رَفّ نه په معنیٰ دَ اوچت والی او حرکت کولو سره دے او په معنیٰ دَ تازګئ سره هم راځی - او مراد دَ دے نه هغه ځادرونه دی چه په بستره بانده غوړولے شی یا بالختونه یا چمنونه دَ جنت - وَعَبْقَرِيٍّ کل دار ځادرونه یا بسترے چه ډیرے نااشنا وی. خلیل ویلے دی چه هر کامل او نفیس او عمده څیز ته ویلے شی که انسان (سړے) وی او که کپړه جامے وی وغیره. ابن الانباری ویلے دی چه عبقر یو ځائے دے چه په هغے کښ به ډیر پیریان وو نو هغه ځائے نااشنا ګنړلے کیدلو نو دَ هر عجیبه او نااشنا څیز به دوی عبقر ته نسبت کوؤ یا په یمن کښ یو ښار وو چه په هغے کښ دَ کپړو کلونه کیدل.

دا هم په ډیرو نعمتونو او دَ زړه په خوشحالو بانده مشتمل دے دَ دے وجے نه دے نه ئے الاء او فرمائیل -

فائده:- دَ ذکر کړے شوو نعمتونو دَ تقابل نه په ډیرو وجهو سره معلومیږی چه روستنی جنتونه دَ مخکنو ذکر کړے شوو نه کم دی - اوله وجه دا ده چه دَ مخکنو دَ پاره ذواتا افنان ذکر وؤ چه دلالت کوی په ډیر او نو بانده او روستو کښ مدهامّتان چه صرف شین والی ته اشاره ده دویمه وجه دا ده چه په مخکنو کښ تجریان ذکر کړے وؤ او دَ روستنو په باره کښ نضاختان وو او جاری کیدل غوره دی په نسبت دَ فوّارے وهلو په یو ځائے بانده - دریمه وجه هلته من کل فاکهة زوجان ذکر وؤ او دلته فاکهة ونخل ورمان ذکر دے لفظ دَ کل او دا رنګ زوجیت دَ میوؤ دلالت کوی په ډیروالی دَ اقسامو او فاکهة نکره دلالت کوی په کم والی بانده -

څلورمه وجه هلته دَ حورو په صفت کښ قاصرات الطرف دے نو هغه افضل صفت دے په نسبت دَ مقصورات بانده - (پاتے په بل مخ)

ذِی الۡجَلٰلِ وَالۡاِکۡرَامِ ﴿۷۸﴾ ع

چه لوئے شان والا دے او عزتونو والا دے.

پنځمه وجه هلته دَ هغوی حسن او جمال او صفائی دَپاره دَ تشبیه وه دَ یاقوت او مرجان سره او دلته صرف خیراتٌ حسان ذکر دے.

شپږمه وجه هلته دَ تکیه دَپاره فرش او دَ هغې دَ بطائنو صفت ذکر کړے وؤ او دلته صرف رفرف (ځادرے یا بالختونه) ذکر کړے دی. لیکن دا ټول په اعتبار دَ ظاهر سره ترجیحات دی په دے کښ داسے احتمالات هم شته دے چه په هغې سره دَ روستنو ترجیح ثابتیږی. (والله اعلم)

۷۸ دا تفریع ده په ټول سورت باندے او تفصیل دَ دعوے دَ سورت دے. په لفظ دَ تَبَارَكَ کښ اشاره ده چه دا مخکښ ذکر کړے شوی نعمتونه پیدا کول او هغې له ترقی او بقا ورکول دا صفت خاص دَ الله تعالیٰ دے او دا رنگ دا ټول انعامات دلالت کوی په عظمت او لوئیئ دَ الله تعالیٰ باندے نو صفت دَ ذی الجلال ئے ذکر او دا انعامات دلالت کوی په سخاوت او مهربانئ دَ الله تعالیٰ باندے نو صفت دَ الاکرام ئے ذکر کړو.

اسۡمُ رَبِّكَ مراد دَ اسم نه پدے مقام کښ الرّحمٰن دے چه دَ سورت په اول کښ دے او دا رنگ هر اسم دَ اسماءِ حسنیٰ نه موصوف دے په تبارک سره. یعنی دا نوم چه الرّحمٰن دے او تشریح دَ هغې په دے سورت کښ ذکر شوه ډیر دَ برکتونو والا دے نو په دے کښ اشاره ده لکه چه ذات دَ الله تعالیٰ موصوف دے په تبارک سره دَ قرآن کریم په اته ایاتونو کښ نو دا رنگ اسم دَ هغه هم دے.

ذِی الۡجَلٰلِ وَالۡاِکۡرَامِ صفت دَ رب دے یعنی جلیل دے په اعتبار دَ ذات سره او اکرام والا دے په اعتبار دَ افعالو سره داسے قرطبی ذکر کړے دی یا اهل دے دَ اجلال چه عصیان ئے اونکړے شی او اهل دے دَ اکرام چه بندګی دَ هغه خاص کړے شی دا معنیٰ ابن کثیر ذکر کړے ده.

فائده:- قاسمی په تفسیر کښ ذکر کړے دی چه برکات نومونو دَ الله تعالیٰ له واجب دی (په هغه الفاظو سره چه حروفو جملے نه مرکب وی) مونږ تبرک حاصلوؤ دَ هغې په ذکر او په تعظیم سره او دَ هغه دَ نوم اجلال او اکرام

بہ کوؤ کہ دغہ نومونہ پہ کاغذ کښ لیکلی شوی وی یا پہ دیوال وغیرہ کښ منقوش وی یا پہ ژبہ باندے ذکر کیږی. او چاچہ دَ نوم دَ اللہ تعالیٰ اکرام او اجلال اونہ کړو (بلکہ توهین ئے دَ هغې قصدًا اوکړو) نو هغہ بیشکہ کافر دے نو ایت پہ خپل ظاهر باندے حمل دے پہ غیر دَ تاویل نہ (ردائے دَ ابن حزم رحمہ اللہ نہ نقل کړے دے).

ختم شو تفسیر دَ سورة رحمٰن پہ فضل او کرم دَ اللہ تعالیٰ سرہ

او اے ذالجلال والاکرام مونږ ستا نہ خاص

او عام رحمتونہ هر وخت غواړو پہ

وسیلہ دَ نوم ستا چہ

رحمٰن دے

سُوْرَةُ الْوَاقِعَةِ مَكِّيَّةٌ ۵۶ ۴۶	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰيَاتُهَا ۹۶ رُكُوْعَاتُهَا ۳

إِذَا وَقَعَتِ الْوَاقِعَةُ ﴿۱﴾ لَيْسَ لِوَقْعَتِهَا

کوم وخت چه واقع شي واقع کيدونکے، نيشته دَ واقع کيدلو دَ هغے نه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة الواقعه

ربط دَ دے سورت دَ سورة رحمٰن سره په ډيرو وجو سره دے اوله وجه دا چه په هغه سورت کښ اثبات دَ رحمانيت او برکاتو دَ الله تعالىٰ دَپاره وو نو په دے سورت کښ رد دَ شرك في البركات کوی په طريقه دَ تسبيح سره. دويمه وجه دا چه په هغه سورت کښ تخويف اخروی او بشارت اخرويه ذکر کړے شو نو په دے سورت کښ دَ هغے اهل ذکر کوی. دريمه وجه دا چه هلته ئے دَ جنتونو دوه قسمونه ذکر کړل نو په دے سورت کښ دَ اهل جنت دوه قسمونه ذکر کوی السابقون او اصحاب اليمين. څلورمه وجه دا چه دَ هغه سورت په ابتدا کښ نعمت دَ قران ذکر کړے دے او دَ دے سورت په اخر کښ عظمت دَ قران ذکر کوی.

دعوىٰ دَ دے سورت :- تسبيح دَ الله تعالىٰ ده چه په دوه کرته ئے ذکر کوی په ۷۴ او ۹۶ کښ لکه سورة رحمان کښ دوه صفتونه ذکر شول، يو الرحمان دويم تبارك. او اثبات دَ دے تسبيح کوی په ذکر دَ انعاماتو دَ تربيت دَ انسان سره او په انزال دَ قران سره.

خلاصه دَ سورت، دا سورت تقسيم دے دوه بابونو ته اول باب تر ۵۶ پورے دے په دے باب کښ اته حالات دَ قيامت ذکر کوی تر ۷ پورے بيا تقسيم دَ اهل حشر ذکر کوی درے ډلو ته په ۸ ۹ ۱۰ کښ بيا دَ فريق اول چه سابقون دی دَ هغوی لس بشارات ذکر کوی تر ۲۶ پورے بيا دَ دويم فريق چه اصحاب اليمين دی اته بشارات ذکر کوی تر ۴۰ پورے بيا دَ دريم فريق چه اصحاب الشمال دی شپږ عقوبات (تخويفًا) ذکر کوی او په مينځ دَ هغے کښ درے علتونه دَ عذاب راوړی.

كَاذِبَةٌ ﴿٢﴾ خَافِضَةٌ رَّافِعَةٌ ﴿٣﴾ إِذَا رُجَّتِ الْأَرْضُ

هیڅ انکار۔ خکته کوی به بعضو خلقولره پورته کوی به بعضو لره، کوم وخت چه او جړ قولے شی زمکه

وقف لازم

تفسیر ۱ اِذَا ظرفیه دے یا شرطیه دے که ظرفیه شی نو په هغے کښ دوه احتمالونه دی اول احتمال دا دے چه لفظ دَ اذکر مقدر دے دویم دا چه مابعد دَ دے په تاویل دَ مصدر سره مبتدا ده او دویم اِذَا سره دَ مابعد نه په تاویل دَ مصدریت سره خبر دے نو معنیٰ دا ده چه وخت دَ واقع کیدلو دَ واقعے چه موصوف په مابعد صفتونو سره دے وخت دَ جړ قیدلو دَ زمکے دے سرهٔ دَ روستو حالاتو ذکر شوؤنه او که شرطیه شی نو په جزاء کښ دوه احتمالونه دی اول احتمال دا چه روستو اذا دَ دے نه بدل دے او فاصحاب المیمنة دَ دے جزاء ده دویم احتمال دا دے چه دَ دے جزاء محذوف ده (لَتُجَازُنَّ حَسَبَ حَالَاتِكُمْ)۔

اَلْوَاقِعَةُ دا نوم دے دَ نومونو دَ قیامت نه لکه چه سورة الحاقه ۱۵ کښ هم ذکر دی الف لام دَ پاره دَ کمال او تآ دَ پاره دَ مبالغے ده او دے ته واقعه په دے وجه ویلے کیږی چه وقوع دَ دے یقینی دے یا دا چه په دیکښ ډیرے سختے واقع کیدونکی دی.

او بعضو علماؤ ویلے دی چه الواقعه نه مراد دویمه شپیلئ وهل دی۔

۲ په دیکښ تاکید دَ وقوع دَ واقعه دے۔ لِوَقْعَتِهَا لام وقتیه دے یعنی په کوم وخت چه واقعه واقع شی۔ یا دا لام صله دَ كَاذِبَةٌ دے او دا اسم فاعل دے دَ مکذبة په معنیٰ سره نفسٌ مكذبةٌ دا په اول توجیه باندے دے یا كاذبة په معنیٰ دَ مصدر (کذب) سره دے او تاء دَ پاره دَ مبالغے ده او دا په دویمه توجیه باندے دے.

۳ دا خبر دَ مبتداء محذوف دے یعنی هی او خَفِضَ او رفع صفتونه دَ مکان او دَ مرتبے او دَ آواز دَ پاره راځی. په اعتبار دَ مکان سره معنیٰ دا ده چه ښکته کوی بعض قومونه جهنم ته او پورته کوی به بعض قومونه جنت ته او جهنم کوز دے او جنت پورته دے او په اعتبار دَ مرتبے سره معنیٰ دا ده کوزوی به دشمنان دَ الله تعالیٰ (یعنی په ذلت سره) او اوچتوی به دوستان دَ الله تعالیٰ (یعنی په عزت سره)، او په دے دواړو توجیهاتو سره اسناد دَ خفض او رفع قیامت ته اسناد مجازی دے او په اعتبار دَ آواز سره معنیٰ دا ده چه دا (شپیلئ) به ښکته آواز ورکوی نزدے خلقو ته او اوچت آواز به ورکوی لرے خلقو ته.

رَجًّا ④ وَّبُسَّتِ الْجِبَالُ بَسًّا ⑤ فَكَانَتْ

په سختو جړقولو سره، او ذرے ذرے به کړے شی غرونه په ذرے ذرے کولو سره، نو شی به

هَبَآءً مُّنْۢبَثًّا ⑥ وَّكُنْتُمْ اَزْوَاجًا ثَلٰثَةً ⑦

دوړه الوځولے شوے او شئ به تاسو درے قِسمونه .

فَاَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ ۙ مَآ اَصْحٰبُ الْمَيْمَنَةِ ⑧

نو ښی لاس والا خلق څه لوئے شان دے دَ ښی لاس والو .

سے اِذَا بدل دے دَ مخکښ اِذَا نه یا ظرف دے دَ پاره دَ خافضة رافعة یا اذا شرطیه اوجزاء یئے فاصحاب المیمنة ده . رُجَّتِ رجّه هغه سخت خوځیدل دی چه دَ هغے سره آواز اوریدلے کیدیشی او مراد ترینه زلزله ده په ټوله زمکه باندے لکه سورة زلزال کښ او دَ سورة حج په اول آیت کښ ذکر شوے ده .

ف سے داحال دَ غرونو ذکر کوی چه دا وهم او نکړے شی چه په زمکه باندے غرونه دَ میخونو پشان دی نو دا به څه رنګے ټوله او خوزیګی نو او فرمائیل شو چه غرونه به هم ختم شی . بسًّا ذرے ذرے کیدل او کړه وړه کیدل دَ یو بل سره . یا چلیدل دَ مخ دَ زمکے نه . یا دَ ویلی نه ویستل دے ټولو معانو ته شامل دے . هَبَآءً مُّنْۢبَثًّا هغه دوړه چه دَ خپو دَ اسونو نه په وخت دَ تیز رفتارئے دَ هغوی کښ را اوچته شی او بیا خوره او روکه شی . دا رنګ هغه شعاع دَ نمر چه په یو سُوری کښ داخل شی نو ذرات پکښ ښکاری او دا رنګ هغه . بخری دَ اور چه اوچت شی نو بیا ورک شی . او دا دلیل دے په فنا کیدلو دَ غرونو سره .

سے دا تقسیم دَ خلقو دے په اعتبار دَ عقیدے او دَ عملونو سره نو دا رنګ بیا په اعتبار دَ جزاء سره لیکن په دُنیا کښ دوی مخلوط وو او هر یو دَ خپلے طریقے تعریف کوؤنو تقسیم په دنیا کښ پوره ښکاره شوے نه وو او په آخرت کښ به پوره ښکاره شی . اَزْوَاجًا هر یو کس به دَ خپل مِثل سره (په عقیده او عمل کښ) یو ځائے کړیشی دَ دے وجے نه ازواج ورته اُویلے شول مراد ترینه قِسمونه دی .

ف سے دا تفصیل دَ اقسام ثلٰثه دے نو په دیکښ اول فریق ذکر کوی . الْمَيْمَنَةِ دَ یمین نه ماخوذ دے یعنی ښے طرف . مراد دا دے چه په ښی لاس

وَأَصْحَٰبُ ٱلْمَشْـَٔمَةِ مَآ أَصْحَٰبُ ٱلْمَشْـَٔمَةِ ﴿٩﴾

او کینړ لاس والا خلق خومره بد دے حال دَ کینړ لاس والا.

وَٱلسَّٰبِقُونَ ٱلسَّٰبِقُونَ ﴿١٠﴾ أُو۟لَٰٓئِكَ

او مخکښ کیدونکی ایمان ته (په دنیا کښ) مخکښ داخلیدونکے به وی جنت ته (په آخرت کښ)، دغه کسان

ٱلْمُقَرَّبُونَ ﴿١١﴾ فِى جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴿١٢﴾ ثُلَّةٌ

پوره نزدے کړے شویدی. په جنتونو دَ نعمتونو کښ به وی. ډلے دی

کښ عمل نامه به ورکیدے شی یا داچه ښی طرف دَ میدان حشر ته به روان کړے شی ځکه چه ښی طرف ته جنت دے. یا داچه په عالم الذر او په شپه دَ معراج کښ دَ ادم علیه السلام ښی طرف ته وو. یا دا دَ یُمن نه اغستلے شویدے یعنی خیر او برکت والا دی او نیک بخت دی. مَا استفهام دے دَ یاره دَ تعظیم دَ حال دَ هغوی او اصحاب المیمنة مبتدا ده او ما اصحاب المیمنة خبر دے اصل عبارت دا سے وو اصحاب المیمنة ما هم نو دَ ضمیر په ځائے باندے اسم ظاهر کیخودو دَ بیان دَ عظمتِ شان دَ یاره.

۹ ـ ۱۱ په دے کښ دویم فریق ذکر کوی. اَلْمَشْـَٔمَةِ شمال (کس) طرف ته ویلے کیږی یعنی دوی له به په کس لاس کښ عمل نامه ورکیدے شی یا داچه په کس طرف دَ میدان حشر به روان کړے شی ځکه چه هغه طرف ته جهنم دے یا دا چه دوی په عالم الذر او په شپه دَ معراج کښ دَ ادم علیه السلام کس طرف ته وو. یا ماخوذ دے دَ شُؤم نه بد بختے ته ویلے کیږی یعنی دوی شقیان او بد بخت دی.

۱۲ دا دریم فریق دے. والسابقون مبتدا او دویم ئے خبر دے یا دویم تاکید دے او اولئك المقربون ئے خبر دے اوله توجیه غوره ده خو فرق دَ مبتدا او خبر دا دے چه دَ اول نه مراد سبقیت کوونکی دی دَ خیر کارونو ته په دنیا کښ او دَ دویم نه مراد وړاندے داخلیدونکی جنت ته په ورځ دَ قیامت کښ.

وَالسَّابِقُوْنَ په دے کښ ډیر اقوال دی دَ مفسرینو. ۱ انبیاء علیهم السلام دی. ۲ په هر امت کښ صحابه دَ انبیاؤ علیهم السلام. ۳ زمونږ دَ امت صحابه کرام. ۴ هغه صحابه چه قبلتین ته ئے مونځونه کړے وو. ۵ سبقیت کوونکی (پاتے په بل مخ)

ثُلَّةٌ مِّنَ الْأَوَّلِينَ ﴿١٣﴾ وَقَلِيلٌ مِّنَ الْآخِرِينَ ﴿١٤﴾

دَ مخکنو امتونو نه او لږ دی دَ روستنو نه.

عَلَىٰ سُرُرٍ مَّوْضُونَةٍ ﴿١٥﴾ مُّتَّكِئِينَ عَلَيْهَا

په تختونو باندے به وی چه اودلے شوے به وی دَ تارونو دَ سرو زرو نه، تکیه به وهی په هغے باندے

مُتَقَابِلِينَ ﴿١٦﴾ يَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ

یو بل ته مخامخ به وی. ځی راځی به په دوی باندے هلکان

پنځه مونځونو ته، ۶ سبقیت کوونکی جهاد ته، ۷ هغه شخص چه دَاول ځوانئ دَ عمر نه په صحیح دین کښ لګیدلے دے ترمرګه پورے.

ابن کثیر ویلے دی چه دا ټول اقوال صحیح دی. یعنی دا لفظ دے ټولو ته شامل دے.

الْمُقَرَّبُونَ دَ دوی درجے به عرش ته او الله تعالی ته ډیرے نزدے وی.

فِي جَنَّاتِ النَّعِيمِ متعلق دے په المقربون پورے یعنی دَ دوی نزدیکت به په جنت کښ وی یا دا مستقله جمله ده په تقدیر دَ مبتدا سره (ریه خلون).

۱۳ تا ۱۴ په اولین او آخرین کښ دوه اقوال دی اول دا چه دَاولین نه دَ تیرشوو پیغمبرانو (سابقون) صحابه مراد دی او انبیاء علیهم السلام ډیر وو نو دَ هغوی دَ صحابو مجموعه شمار ډیر دے او آخرین نه مراد زمونږ دَ امت صحابه کرام دی دوی اګرچه فی نفسه ډیر دی لیکن په نسبت دَ مجموعه تیرشوؤ باندے کم دی. دویم قول دا چه دَاولین نه مراد زمونږ دَ امت سابقون (صحابه) دی او دَ آخرین نه مراد په دے امت کښ هغه خلق دی چه ایمان او اتباع دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یئ سبقت کړے دے او دَ صحابه کرامو په نقشِ قدم باندے روان دی، نو دوی دَ صحابه کرامو نه لږ دی.

او ابن کثیر روستو قول غوره کړے دے او ډیر احادیث یئ دَ دے امت په فضیلت باندے ذکر کړے دی.

۱۵ تا ۱۶ مبتدا حذف ده (هم) موضونة او دَلے شوی دَ سرو زرو نه او ملغلرو او یاقوتو نه مراد دَ دے نه مصفوفة دے. مُتَقَابِلِينَ مجلس کښ به یو بل ته مخامخ دی مینځ کښ به یئ پرده نه وی او اشاره ده چه دَ یو بل نه به چرے نه خفه کیږی او مرتبے به یئ هم یو بل ته نزدے وی.

مُّخَلَّدُوْنَ ﴿۱۷﴾ بِأَكْوَابٍ وَّأَبَارِيْقَ ۙ وَكَأْسٍ

چه همیشه به هلکان وی په ګلاسونو او جګونو سره او پیالے ډکے دَ

مِّنْ مَّعِيْنٍ ﴿۱۸﴾ لَّا يُصَدَّعُوْنَ عَنْهَا وَلَا يُنْزِفُوْنَ ﴿۱۹﴾

شرابو خالصو نه ، نه به سر درد راځی په دوی باندے دَ هغے نه او نه به اُلټے (قی) کوی

۱۷، ۱۸ وِلْدَانٌ مراد دینه دَ مشرکانو هغه بچی دی چه مخکښ دَ بلوغ نه مړه شوی دی او په بل قول کښ ورسره واړه دَ مسلمانانو هم مراد دی. یا مراد هغه دی چه په جنت کښ دَ خدمت دَ جنتیانو دَ پاره پیدا کړے شوے دی. مُخَلَّدُوْنَ همیشه به وی فنا به ورباندے نه راځی او نه به زړیږی او نه به دَ حالت ځیل نه بدلیږی. او هغه هم دی چه هغوی ته کالی (زیورات) اچولے شوی وی. بِأَكْوَابٍ دا متعلق دے په یطوفون پورے. اکواب جمع دَ کوب ده هغه لوښے دَ څښلو دَ پاره چه دَ هغے کړے او سنت نه وی یعنی څښل دَ هغے نه په یو طرف پورے خاص نه وی بلکه دَ هر طرف دَ هغے نه څښل کیدے شی او دَ هغے مثال ګلاسونه دی. او أَبَارِيْقَ جمع دَ ابریق ده هغه لوښے دے چه دَ هغے کړے او سنت یو طرف ته وی نو نیول ئے اسان وی او دَ هغے مثال جګونه دی او دَ برق نه ماخوذ دے یعنی دَ هغے رنګ به بریښنا او چمک کوی.

وَكَأْسٍ دائے مفرد ذکر کړو اشاره ده چه شراب به په ډیرو ګلاسونو او جګونو کښ تیار وی لیکن دَ محبت دَ وجے نه به دوی په یو کاسه باندے څښل کوی.

مَّعِيْنٍ دَ چینے پشان جاری به وی یا ښکاره او ډیر به وی یعنی نچوړولو ته به ئے حاجت نه وی.

۱۹ لَا يُصَدَّعُوْنَ عَنْهَا ماخوذ دے دَ صداع نه دردِ سر ته ویلے کیږی. یا ماخوذ دے دَ تصدع نه په معنیٰ دَ تفرّق سره یعنی دغه شراب به دَ دوی دَ تفرق دَ پاره سبب نه وی.

وَلَا يُنْزِفُوْنَ نزف بے هوشی او عقل زائل کیدلو ته ویلے کیږی او قے کولو ته هم ویلے کیږی. دَ ضحاك نه روایت کړے شوے دے چه په خمر دَ دنیا کښ څلور ناکاره اوصاف دی. دردِ سر، قے کول، نشه کیدل، بول راتلل، او شراب دَ جنت دَ دے ټولو قبائحو نه پاک دی.

وَفَاكِهَةٍ مِّمَّا يَتَخَيَّرُونَ ﴿٢٠﴾ وَلَحْمِ طَيْرٍ

او په میوو کښې به وی د هغه قسم نه چه دوی یې خوخوی ، او په غوښو د مارغانو کښې به وی

مِّمَّا يَشْتَهُونَ ﴿٢١﴾ وَحُورٌ عِينٌ ﴿٢٢﴾ كَأَمْثَالِ

د هغه قسم نه چه دوی یې غواړی۔ او (دوی لره به وی) حورې ښائسته سترګو والا، پشان د

اللُّؤْلُؤِ الْمَكْنُونِ ﴿٢٣﴾ جَزَاءً بِمَا كَانُوا

ملغلرو پټو ساتلې شوو . بدله ورکیدې شی په سبب د هغه عملونو سره

۲۰ دا عطف دے په اکواب باندے او یا جاره محذوف ده.

يَتَخَيَّرُونَ مراد دا چه ډیرے میوے او ډیر قسمونو یه وی نو هر څوک به د خپلے خوښے مطابق د هغې نه خوری یا مراد د دے نه غوره او بهتر ده.

او ابن کثیر ویلے دی چه د دے نه معلومه شوه چه هر کله طعام کښې مختلف اقسام وی او په شریکه سره خوړے کیږی نو هرچاله جائز دی چه د خپلے خوښے د بل چا د مخې نه راواخلی۔ هاں هر کله چه یو قسم طعام وی نو بیا به صرف د خپلے مخې نه خوراک کوی او دا رنګ په سنت د نبی صلی الله علیه وسلم کښې هم راغلے دی۔

۲۱ سوال :۔ څه حکمت دے چه د فواکه سره یتخیرون او د لحم سره یې یشتهون ذکر کړو؟

جواب : په دنیا کښې چه هر کله دا دواړه خیزونه اوګی شخص ته وړاندے کړیشی نو د دۀ غوښې ته اشتها کیږی او هر کله چه موړ شخص ته پیش کړے شی نو د هغه میلان فواکه ته کیږی۔ او اهل جنت خو خوراک د لوږے د وجه نه نۀ کوی بلکه د تفکه د وجه نه کوی نو د دے وجه نه فاکهه یې د لحم نه وړاندے ذکر کړه په خلاف د ترتیب د دُنیا سره۔

۲۲ ۲۳ دا معطوف دے په ولدان باندے یا خبر د مبتدا محذوف دے (لهم)۔

الْمَكْنُونِ چه پټه ساتلے شوے وی او دوړو باندے نه وی لګیدلے او لاسونه ورته نه وی رسیدلی۔ او اشاره ده چه په زنانو کښې بهتر صفت پټ ساتل دی یعنی ستر کول او محفوظ کیدل دی ۔

يَعْمَلُوْنَ ﴿۲۴﴾ لَا يَسْمَعُوْنَ فِيْهَا لَغْوًا وَّ لَا

چه دوی کول . نه به اوري دوی په هغې کښې بې فائدې خبرې او نه دَ

تَأْثِيْمًا ﴿۲۵﴾ إِلَّا قِيْلًا سَلٰمًا سَلٰمًا ﴿۲۶﴾ وَأَصْحٰبُ

گناه خبرې مګر وينا به وي سلام سلام . او ښي لاس

الْيَمِيْنِ ۵ مَآ أَصْحٰبُ الْيَمِيْنِ ﴿۲۷﴾ فِيْ سِدْرٍ

والا خلق څه لوئې شان دے دَ ښي لاس والو . (دوي به دوي) په بېرو

۲۴ جَزَآءً مفعوله دے يا مفعول مطلق دے دَ فعل محذوف دَپاره او په دې کښې اشاره ده چه دَ دوی دَپاره خوراک او حُورے خائسته او صفا دَ دے وجے نه دی چه دَ دوی عملونه هم خائسته او صفا وُو ځکه چه جزاء دَ جنس دَ عمل نه وي.

بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ اعمال ظاهري سبب دے دَ جزاء دَپاره او رحمت دَ الله تعالی سبب حقيقي دے دَ دے وجے نه دواړو ته نسبت دَ جزاء صحيح دے.

۲۵-۲۶ مخکښې جزاء ثبوتي وه او دا جزاء سلبي ده دَ دے وجے نه دَ دے عطف ئې په مقابل باندے نه دے کړے او په دے سلب کښې اتمام دَ نعمتونو ته اشاره ده هغه دا چه دَ خوراک څښاک او بيبيانو په نعمت سره خو انسان خوشحاله وي ليکن چه دَ چا نه بده خبره واوري نو هغه ټوله خوشحالي ورباندے اوړشي دَ دے وجے نه ئې دا صفتِ سلبيه په آخر کښې دَ اتمامِ نعمت په طور سره ذکر کړو.

لَغْوًا لکه سورة غاشيه ۱۱ کښې دی لغو هغه کلام دے چه په هغې کښې هيڅ فائده نه وي برابره خبره ده که ګناه پکښې وي او که نه وي او تَأْثِيْمًا هغه کلام دے چه په هغې سره انسان ګنهګار ګرځي لکه دروغ، بهتان، غيبت وغيره. او دا رنګ تأثيم يو بل ته دَ ګناه (فسق وفجور وغيره) نسبت کول.

سَلٰمًا سَلٰمًا تکرار نه مراد تکثير او ډير والے دے. سَلٰمًا مراد دَ دينه هغه خبرے دی چه سالم وي دَ عيب او دَ نقصان او دَ ګناه نه. يا مراد دے نه سلام کول دی دَ طرف دَ الله تعالی او ملائکو نه او دَ يو بل دَ طرف نه او دَ إِلَّا قِيْلًا استثناء منقطع ده.

۲۷ دا ذکر دَ دويم قِسم مؤمنانو دے يعنی عام مؤمنان. او دَ دوی اته بشارتونه ذکر کوی. اصحاب اليمين ورته دَ دے وجے نه ويلے کيږی (پاتے په بل مخ)

مَّخۡضُوۡدٍ ﴿۲۸﴾ وَّطَلۡحٍ مَّنۡضُوۡدٍ ﴿۲۹﴾ وَّظِلٍّ

بے ازغو کښې | او په کیلو کښې چه لاندے باندے جوختے به وی، | او په سورو

مَّمۡدُوۡدٍ ﴿۳۰﴾ وَّمَآءٍ مَّسۡكُوۡبٍ ﴿۳۱﴾ وَّفَاكِهَةٍ

اوږدو کښې | او په اوبو روانے کړے شوے په مخ دَ زمکه باندے، | او په میوؤ

كَثِيۡرَةٍ ﴿۳۲﴾ لَّا مَقۡطُوۡعَةٍ وَّلَا مَمۡنُوۡعَةٍ ﴿۳۳﴾

ډیرو کښې | چه نه به ختمیږی | او نه به ترینه منع کیدے شی

چه په ښی لاسونو کښې ورته عملنامه ورکیدے شی یا دَ دے وجے نه چه دَ میدانِ حشر ښی طرف ته به جنت وی. په ابتداء کښې ورته اصحاب المیمنه ویلے وُځکه چه یُمن (سعادت) سبب دے دَ اصحاب الیمین کیدلو دَ پاره نو اول ئے سبب اوبیا ئے مسبب ذکر کړو. مَآ اَصۡحٰبُ الۡيَمِيۡنِ دَ دوی دَ عظمت شان دَ پاره دے.

۲۸ ۲۹ ۳۰ ۳۱ خبر دَ مبتدا محذوف دے. مَّخۡضُوۡدٍ چه ازغی پکښې نه وی یا چه ډیر بار والا وی. طَلۡحٍ جمع دَ طلحة ده اونے دَ کیلے ته ویلے کیږی.

مَّنۡضُوۡدٍ یعنی میوے به په هغه اونه پورے داسے لاندے باندے انختے وی چه تنه به ئے ټوله پټه وی.

مَّمۡدُوۡدٍ په حدیث صحیح (ابن کثیر ورته متواتر ویلے دی) سره ثابت ده چه سور شخص په هغه سوری کښې سل کاله مزل اوکړی نو هم ئے "اخر ته نشی رسیدلے" یا دا چه همیشه سورے به وی په تمر سره نه ختمیږی. دَ دے ذکر په سورة نساء ۵۷ او سورة رعد ۳۵ او سورة مرسلات ۴۱ کښې هم دے.

مَّسۡكُوۡبٍ چه دَ دوی په کورونو او باغونو کښې به هر وخت جاری وی او دَ زمکے په سر باندے به بهیږی نو نه به اوچیږی او نه به بوتے او رسئ ته ضرورت وی.

۳۲ ۳۳ كَثِيۡرَةٍ اقسام او افراد دَ هغے به ډیر وی لَا مَقۡطُوۡعَةٍ یعنی په اوړی یا ژمی وغیره سره به نه ختمیږی بلکه همیشه به وی لکه په سورة رعد ۳۵ کښې دی. وَلَا مَمۡنُوۡعَةٍ یعنی دَ هغے نه به هیڅ قسم منع کوؤنکے نه وی بلکه ازغی به هم نه وی او لرے به هم نه وی چه کوم وخت غواړی نو راغستلے به شی. مراد دَ دے ټولو صفتونو دا دے چه دَ دُنیا دَ میوؤ نه بالکل په صفتونو کښې جدا دی.

وَفُرُشٍ مَّرْفُوعَةٍ ﴿۳۴﴾ إِنَّآ أَنشَأْنَٰهُنَّ إِنشَآءً ﴿۳۵﴾ فَجَعَلْنَٰهُنَّ أَبْكَارًا ﴿۳۶﴾ عُرُبًا أَتْرَابًا ﴿۳۷﴾

او په بسترو اوچتو درجو والا کښې به وی. یقیناً پیدا به کړو مونږ زنانو لره په نوی پیدائش سره، نو جوړے به کړو دَ دوی نه جینکے محبت ښکاره کوونکے همزولے

۳۴ مراد دَ دے نه فراشونه (قالینونه) دی. مَّرْفُوعَةٍ اوچت به وی مکان دَ هغے اګر چه په وخت دَ کیناستلو کښې به کوزیګی یا قدر او شان ئے اوچت دے یا مراد دَ فُرُشٍ نه بیبیانے دی ځکه چه عرب خلق دَ زنانو نه کله تعبیر په فرش او کله په لباس سره کوی او دَ هغوی حسن جمال او شان به اوچت وی. او مراد دَ دیته دنیوی بیبیانے دی او دَ دے وجے نه صفت دَ فراشیت په دنیا کښې په هغوی کښې ښکاره وؤ او په دے تفسیر باندے روستو جمله هم دلالت کوی.

۳۵، ۳۶، ۳۷ إِنشَآءً نوے پیدائش نه مراد دا چه دنیوی صفات او اخلاق (چه بدلګنړے کیږی) هغه به ترینه زائله کړے شی.

فَجَعَلْنَٰهُنَّ أَبْكَارًا دا په زنانه کښې ډیر افضل صفت دے دَ دے وجے نه مستقل ئے ذکر کړو. یعنی اګرچه په دُنیا کښې بوډئ شوے او زړه شوے وی لیکن په جنت کښې به هغه نوے جینئ وی. او په حدیث دَ ترمذی کښې هم راغلے دی چه نبی صلی الله علیه وسلم په طریقه دَ مزاح سره اوفرمائیل چه بوډے ګانے به جنت ته نه داخلیږی نو یو بوډئ چه واؤریدل نو په ژړا شوه نو نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل آیا دے دا آیت نه دے اوریدلے. اشاره ده چه په نصوصو کښې اکثر اوصاف مقصد وی. لکه چه حدیث راځی چه جنت ته به نمام قتات (چغلخور) نه داخلیږی نو مراد دا چه په دے صفت سره به نه داخلیږی دا صفت به ترینه په مغفرت دَ الله تعالیٰ سره لرے شی یا به په جهنم کښې څه وخت دَ پاره داخل شی نو په سزا سره به دا صفت دَ هغه نه لرے شی.

(مزاح کول خوشطبعی کول سرهٔ دَ رشتیا ویلو نه دا دَ نبی صلی الله علیه وسلم په ښائسته اخلاقو کښې داخل دی).

عُرُبًا دا دَ عُرُبَ نه اغستلے شوے دے په معنیٰ دَ ښکاره کولو یعنی دا زنانه به خپل محبت خاوند ته ښکاره کوی دَ مینے په خبرو سره (پاتے په بل مخ)

لِّأَصْحَٰبِ ٱلْيَمِينِ ﴿۳۸﴾ ثُلَّةٌ مِّنَ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿۳۹﴾ ع

ښی لاس والو لره. دوی ډلې دی د مخکنو امتونو نه

وَثُلَّةٌ مِّنَ ٱلْءَاخِرِينَ ﴿۴۰﴾ وَأَصْحَٰبُ ٱلشِّمَالِ

او ډلې دی د روستنو نه. او کینړ لاس والا.

مَآ أَصْحَٰبُ ٱلشِّمَالِ ﴿۴۱﴾ فِى سَمُومٍ

څومره بد دے حال د کینړ لاس والو. په ګرمو هواګانو کښې

وَحَمِيمٍ ﴿۴۲﴾ وَظِلٍّ مِّن يَحْمُومٍ ﴿۴۳﴾ لَّا بَارِدٍ

او خوټکیدلو اوبو کښې به وی، او په سوری کښې د لوګی نه نه به یخ وی

او په نازکولو او په ځان خائسته کولو سره د دے وجے نه مفسرینو دا ټولے معانے ذکر کړے. أَتْرَابًا په زنانو کښې اتراب او په نارینو کښې اقران استعمالیږی. نو دا زنانه به ټولے د یو بل سره هم عمر وی او دا رنګ د خاوندانو سره به هم همزولے وی او په حدیث کښې وارد دی چه د درے دیرش کالو په عمر باندے به وی. او دا صفتونه به په دوی کښې همیشه وی.

۳۸ ۳۹ ۴۰ لِّأَصْحَٰبِ ٱلْيَمِينِ دا متعلق دے د انشانهن سره یا د اترابا سره ځکه چه په حدیث سره ثابت دی چه نارینه د جنت به هم د درے دیرش کالو په عمر کښې وی. یا خبر دے د مبتدا محذوف (هذه النعم) دا ټول نعمتونه به د دوی د پاره وی. ٱلْأَوَّلِينَ مخکښې امتونه یا د دے امت نه زمانه د صحابو مراد ده او الآخرین نه دا امت ټول یا د دے امت روستو خلق مراد دی.

۴۱ د دے نه تخویف اخروی شورو دے په ذکر د شپږ حالات د هغوی سره د درے علتونو نه. ٱلشِّمَالِ عملنامه به ګس لاس کښې ورکیدیشی او جهنم به هم د میدانِ حشر ګس طرف ته وی د دے وجے نه ئے دوی ته اصحاب الشمال اُویل روستو د اصحاب المشئمه وئیلو نه یعنی شُوُم سبب دے د کیدلو د دوی د شمال والو نه.

۴۲ ۴۳ ۴۴ سَمُومٍ هغه هوا ده چه ډیره ګرمه وی او په مساماتو د بدن کښې ورننوځی. ظِلٍّ سورے ئے ورته استهزاءً ویلے دی یعنی تور لوګی به پشان د سوری ښکاره کیږی.

وَلَا كَرِيمٍ ﴿۴۴﴾ إِنَّهُمْ كَانُوا قَبْلَ ذَٰلِكَ

او نه به فائده منده وي - يقيناً دوي وو مخکښ د دے نه

مُتْرَفِينَ ﴿۴۵﴾ وَكَانُوا يُصِرُّونَ عَلَى الْحِنثِ

ډیر مست په مالونو دَ دنیا - او وو دوی چه همیش والے کوو په ګناه

یابه دَدوی په ګمان کښ دَ اول وخت نه سورے ښکاریږی - یَحْمُومٍ ډیر تور لوګے داماخوذ دے دَ حمم نه سکارو ته ویلے کیږی یا دَ حمّه ډپوټے دَ واز دے چه په اور باندے ویلے کړیشی او تور شی اشاره ده چه جهنم هم تور او لوګے یې هم تور او دَ جهنمیانو مخونه به هم تور وی ځکه چه په دنیا کښ دَ دوی عقیدے او اعمال ظلمات او تور وو - او په دے ترتیب کښ اشاره ده سخت او همیشه عذاب ته ځکه چه دوی دَ اور دَ ګرمئ نه تنګ شی نو هوا به غواړی نو هغه به سموم وی نو بیا به اوبه غواړی نو هغه به هم حمیم وی نو سورے به غواړی نو هغه به هم ګرم او بے فائدے وی نو معلومه شوه چه دوی له په هیڅ وخت کښ دَ عذاب نه خلاصے نیشته - او دَ ظل تفصیل په سورة مرسلٰت ۳۰ ۳۱ ۳۲ ۳۳ کښ هم شته - وَلَا كَرِيمٍ بے فائدے ته ویلے کیږی او دا رنګ خوک او خائسته منظر والا به نوی یعنی دَ اصلی سوری صفتونه به پکښ نه وی -

۴۵ دا اول سبب دَ عذاب دَ دوی دے مُتْرَفِينَ اتراف دَ دنیا په نعمتونو او مزو او شهواتو سره ډیر مشغولتیا ته ویلے کیږی تر دے پورے چه دَ دین نه بالکل ناخبره شی او دَ توحید او سنت نه تکبر کوی - او قرطبی اتراف په حرام مال پورے خاص کړے دے او په دے کښ سرمایه دارانه نظام ته اشاره ده چه هغه جړ دَ ټولو کفریاتو دے -

فائده :- دَ دے فریق دَ عذاب اسباب تفصیلاً او دَ فریقِ اول دَ جزاء سبب اجمالاً یې ذکر کړے دے او دَ اصحاب الیمین دَ جزاء سبب یې نه دے ذکر کړے دَ دے په حکمت کښ ویلے شویدی چه مجرمانو له سزا ورکول عدل دے نو که چرے اسباب یې ذکر نه کړے شی نو خلق به وهم او کړی چه دا ظلم دے او صالحینو ته جزاء ورکول خو فضل دَ الله تعالی دے لیکن بیا هم وهم راتلو چه په السابقون او اصحاب الیمین باندے دَ فضل کولو په ریلتے په بل مخ)

الْعَظِيمِ ﴿٤٦﴾ وَكَانُوا يَقُولُونَ أَئِذَا مِتْنَا وَكُنَّا

لویئ بانده. او دوی به ویل ایا کوم وخت چه مونږ مړه شو او شو

تُرَابًا وَعِظَامًا أَإِنَّا لَمَبْعُوثُونَ ﴿٤٧﴾

خاورے او هډوکی ایا مونږ به دوباره ژوندی کیدلے شو.

أَوَآبَاؤُنَا الْأَوَّلُونَ ﴿٤٨﴾ قُلْ إِنَّ الْأَوَّلِينَ

او ایا پلاران زمونږ زاړه - ته اویه یقیناً مخکښ خلق

وجه سره فرق اوکړے شو نو دَ اول فریق سره ئے اجمالی سبب په ۲۴ کښ ذکر کړو اشاره ده چه دَ فضل سره تفاوت دَ عملونو ته هم اعتبار دے او عملونه دَ فریق اول ډیر اوچت او قابل ذکر وو او دَ فریق ثانی جزاء خو صرف په فضل دَ الله تعالیٰ سره ده.

۴۶ دا دویم سبب ذکر کوی او دا مرض دَ عامو مشرکانو دے که مالداروی او که فقیر وی. يُصِرُّونَ اصرار نه مراد همیش والے په گناه کولو بانده دے چه توبه دَ هغے نه نه اوباسی او دَ ثواب کار ئے گنړی عَلَى الْحِنْثِ دا لفظ دَ ذنب نه زیاته معنیٰ لری ځکه چه په دیکښ معنیٰ دَ ماتولو دَ لوظ ده نو گناهِ کبیره پورے خاص دے صغیره بانده اطلاق نه کیږی. او په بلوغ بانده دَ حنث اطلاق مجازی دے ځکه چه بلوغ وخت دَ گناهګار کیدلو دے او تحنّث په معنیٰ دَ ډډه کول دَ گناه او دَ گنهګارو نه دے نو عبادت کولو ته ویلے کیږی.

الْعَظِيمِ هر کله چه گناه کبیره کښ مرتبے دی نو دا لفظ ئے دَ دے وجے ذکر کړو چه دلالت اوکړی چه اکبر الکبائر مراد دے چه هغه شرک دے. او هر کله چه اتراف سبب دَ اصرار دے (توبه کولو ته فارغ نه دی) دَ دے وجے نه مترفین ئے په یصرون بانده مخکښ ذکر کړے دے.

۴۷ ۴۸ دا ذکر دَ دریم سبب دے انکار کول دَ بعث بعد الموت نه او دا دَ لویو جاهلانو عقیده ده ځکه چه دَ الله تعالیٰ دَ قدرت او دَ علم نه انکار کوی. او په دیکښ همزه دَ استفهام درے کرته دَ ډیر استبعاد دَ پاره ذکر کړے دے چه دا دَ عقل او عادت نه لرے خبره ده.

الْأَوَّلُونَ کښ اشاره ده چه هغوی به ذرے ذرے شوے وی. او دا سے

وَالْاٰخِرِيْنَ ﴿۴۹﴾ لَمَجْمُوْعُوْنَ ۙ اِلٰى مِيْقَاتِ يَوْمٍ

او روستو خلق ضرور راغونډ به کړے شی مقرر وخت د ورځے ته

مَّعْلُوْمٍ ﴿۵۰﴾ ثُمَّ اِنَّكُمْ اَيُّهَا الضَّآلُّوْنَ

معلوم دی (صفتونه) د هغے. بیا به یقیناً تاسو اے ګمراهانو

الْمُكَذِّبُوْنَ ﴿۵۱﴾ لَاٰكِلُوْنَ مِنْ شَجَرٍ مِّنْ

انکار کوونکو ضرور خوړونکی به د اونے د

زَقُّوْمٍ ﴿۵۲﴾ فَمَالِـُٔوْنَ مِنْهَا الْبُطُوْنَ ﴿۵۳﴾

زقوم نه نو ډکه وئے به د هغے نه خیټے خپلے.

استفهام د دوی په ډیرو سورتونو کښ تیر شوے دے لکه (سورة مؤمنون ۸۲
سورة صافات ۱۶ ۱۷)
۴۹ ۵۰ په دے کښ جواب د استفهام د هغوی دے او په دے جواب کښ تاکید او
ترقی ده په حرف د اِنَّ سره او په ذکر د اٰخِرِيْنَ سره او په ذکر د لام قسم سره او په
تعبیر د مجموعون سره او په لفظ میقات او یومٍ او معلوم سره یعنی صرف بعث
به نه وی بلکه جمع د ټولو خلقو په یو میدان په یو وخت او په یو ورځ کښ به وی.
مَّعْلُوْمٍ نه مراد په علم د الله تعالیٰ کښ هغه ورځ معیّنه ده یا مراد دا چه صفتونه د
هغے په قرآن کښ بیان شوی دی.
۵۱ ۵۲ ۵۳ روستو د اسبابو ذکر کولو نه درے عذابونه ذکر کوی د دے نه مخکښ
ئے درے عذابونه ذکر کړے وو په هغے کښ اشاره وه چه هوا ګانے او اوبه او
سوری د جهنم فائده نه ورکوی او په دے کښ اشاره ده چه خوراک څښاک
د هغے هم څه فائده نه ورکوی. الضَّآلُّوْنَ په یکښ اشاره ده مرض د شرک ته
چه په الحنث العظیم کښ ذکر شو او الْمُكَذِّبُوْنَ کښ اشاره ده انکار د بعث بعد
الموت ته چه مخکښ ذکر شو.
مِنْ شَجَرٍ مِّنْ زَقُّوْمٍ د هغے صفات په سورة صافات ۶۲ او سورة دُخان ۶۲
کښ ذکر دی.
فَمَالِـُٔوْنَ په دے کښ اشاره ده چه د مړیدلو فائده به ورپاتے په بل مخ)

فَشٰرِبُوْنَ عَلَيْهِ مِنَ الْحَمِيْمِ ﴿۵۴﴾ فَشٰرِبُوْنَ

نو څښونکي به د هغې د پاسه د خوټېدلو اوبو نه. نو څښونکي به

شُرْبَ الْهِيْمِ ﴿۵۵﴾ هٰذَا نُزُلُهُمْ يَوْمَ

پشان د ښبلو د جل وهلو اوښانو. دا میلمستیا د دوی ده په ورځ

الدِّيْنِ ﴿۵۶﴾ نَحْنُ خَلَقْنٰكُمْ فَلَوْلَا تُصَدِّقُوْنَ ﴿۵۷﴾

د جزا. مونږ تاسو پیدا کړي یئ نو ولې تصدیق نه کوئ.

نه ورکوی او نقصان به پکښ ډیر وی په سبب د ډکیدلو د خیټو سره. مِنْهَا شجر جمع د شجرة وه د دے وجے نه مؤنث ضمیر یې راجع کړو او په تانیث کښ دوی ته ډیره زورنه ده ځکه دوی به د تانیث نه نفرت کوؤ.

۵۴ ۵۵ روستو د خوراک نه د ښبلو حال ذکر کوی. عَلَيْهِ ضمیر راجع دے خوراک ته یا زقوم ته او فا دلالت کوی چه دا خوراک د زقوم سبب دے د اوبو ښبلو د پاره د دے وجے نه چه زقوم به ډیر تریخ او ډیر گرم وی او د دوی په مرئی کښ به په اسانه سره نه تیریږی نو د دے وجے نه به دوی اوبه ښبلو ته محتاج شی فَشٰرِبُوْنَ اشاره ده چه پشان د خوړلو د زقوم دا ښبل هم هیڅ فائده نه ورکوی د پاره د تندے لرے کولو. الْهِيْمِ د هیام نه ماخوذ دے یو مرض دے د اوښانو چه اوبه ښبی او نه مړیږی هغې ته جل وهلی وائي او هِيْم جمع د هیمان ده جل وهلے اوښ ته ویلے کیږی یا جمع د هیام ده هغه ډیرے د شگو چه اوبو سره نه سیراب کیږی او نه مړیږی. او په دے تشبیه کښ د دوی ډیر قباحت ته اشاره ده. ځکه چه تشبیه د اوښ سره او هغه اوښ چه مرضی وی او د حالت د ښبلو سره دا ټول بد گنړلے کیږی.

۵۶ نُزُلُ هغه خوراك ښناک چه میلمه ته اول پیش کیږی او بیا روستو ورته مقصدی خوراک ښناک په عزت سره پیش کیدیشی نو چه نُزُلُ یې دومره قبیح دے نو روستو خوراک ښناک حال خو یه د دے نه هم ناکاره وی او په نُزُلُ سره تعبیر په دوی پورے تهکم او مسخره کول دی.

۵۷ د دے ایت نه دویم باب دے تر اخره پورے پدیکښ څلور عقلی دلیلونه د تربیت سره متعلق ذکر کوی او د هر نعمت سره زوال ته هم

أَفَرَءَيْتُمْ مَّا تُمْنُونَ ﴿۵۸﴾ ءَأَنتُمْ تَخْلُقُونَهُ

ایا سوچ کړے دے تاسو په هغه نطفه باندے چه اړوئے په رحم کښ - ایا تاسو شکل جوړوئے دَ هغے نه

أَمْ نَحْنُ الْخَالِقُونَ ﴿۵۹﴾ نَحْنُ قَدَّرْنَا بَيْنَكُمُ

او که مونږ شکل جوړونکی یو . مونږ مقرر کړیدے ستاسو په مینځ کښ

الْمَوْتَ وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوقِينَ ﴿۶۰﴾ عَلَىٰ

مرګ او نه یو مونږ عاجز کړے شوی ، په

اشاره کوی. دَ پیدائش سره مرګ. دَ فصلونو سره حُطام کیدل. دَ اوبو سره اُجاج کیدل. او دَ اور سره ئے دَ آخرت اور ته اشاره کول ذکر کړے دی. او په دے دلیلونو باندے دعوٰی دَ توحید متفرع ده بیا عظمت دَ قرآن ئے په ښیږ حالاتو سره ذکر کړے دے چه په هغے کښ زجرهم دے بیا تخویف دے په ذکر دَحال دَ نزع سره او عجز دَ مخلوق دَ واپس کولو دَ روح نه. بیا ذکر دَ دریے اقسامو دَ خلقو دے په باره دَ مړو کښ او تفریع دَ دعوے دَ توحید ده په آخر کښ. په ۵۷ کښ اول دلیل ذکر کوی سره دَ زجر نه. تُصَدِّقُونَ عام دے تصدیق دَ توحید او دَ بعث بعد الموت او دَ رسالت او قرآن ټولو ته شامل دے.

۵۸ ۵۹ دا تفصیل دَ خلق دے. تُمْنُونَ دَ اِمناء نه دے منی رحم کښ اچول په طریقه دَ جماع کولو سره او أَأَنتُمْ تَخْلُقُونَهُ دا خطاب دے ټول مخلوق ته که انبیاء او اولیاء وی او که عام وی ټول دَ دے خلق نه عاجز دی.

تَخْلُقُونَهُ نه مراد هغه مختلف حالات جوړول او بدلول دی چه په سورة حج ۵ او سوره مؤمنون ۱۳ ۱۴ کښ ذکر دی.

۶۰ ۶۱ روستو دَ نعمت دَ خلق نه زوال ذکر کوی په ذکر دَ مرګ سره دَ پاره دَ دے چه په دے نعمت سره تکبر او نه کړی. قَدَّرْنَا دلیل دَ تقدیر دے بَيْنَكُمُ په دے کښ عبارت پټ دے یعنی (یدور بَيْنَكُمْ) ګرځی دا مرګ ستاسو په مینځ کښ. وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوقِينَ. مسبوق هغه چا ته ویلے کیږی چه بل څوک تری نه مخکښ کیدے شی یعنی مغلوب او عاجز وی. او دَ دے متعلق محذوف دے یعنی (عَنْ تَقْدِيرِ الْمَوْتِ) یا مطلق دے. یا متعلق دَ دے دا لفظ دے چه عَلَىٰ أَن نُّبَدِّلَ أَمْثَالَكُمْ. نو عَلَىٰ (راتے په بل مخ)

أَنْ نُبَدِّلَ أَمْثَالَكُمْ وَنُنْشِئَكُمْ فِي

دے خبرہ بانذے چه بدل کړو مونږ شکلونه ستاسو او پیدا کړو تاسو لره په

مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٦١﴾ وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ النَّشْأَةَ

هغه شکلونو کښې چه تاسو به ئې نه پیژنئې. او یقیناً پوهه ئې تاسو په پیدائش

الْأُولَىٰ فَلَوْلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٦٢﴾ أَفَرَأَيْتُمْ مَا

مخکنی باندے نو ولے نصیحت نه قبلوئے تاسو. ایا سوچ کړے دے تاسو په هغه

په معنیٰ دَ عن سره دے او که علیٰ په خپله معنیٰ شی او مسبوقین پورے متعلق شی نو دَ دے نه به مخکښ قادِرون پټ مراد شی. اَمْثَالَكُمْ مراد دَ دینه صورتونه او شکلونه دی یعنی دَ انسانیت نه خلاف نور شکلونه به تاسو له درکړی یا دَ اَمْثَالَكُمْ نه مراد اولاد دی یعنی چه تاسو مړه کړی او ستاسو اولاد ستاسو په بدله کښې راولی لکه چه دا نظام الٰهی جاری دے.

وَنُنْشِئَكُمْ فِي مَا لَا تَعْلَمُونَ په اوله معنیٰ سره مراد دَ دے نه نور شکلونه (چه مسخ کړیشی) پیدا کول دی. او په دویمه معنیٰ سره په قیامت کښې شکلونه بدلول دی یعنی دَ چا مخونه سپین خائسته او دَ چا تک تور بد شکلونه جوړول یا مراد دا دے چه روستو دَ مرګ نه بعض انسانانو لره درندګان اوخوری نو دَ هغوی په بدن کښې مخلوط او بدل شی او بعض انسانان خاورے شی او دَ هغه خاورو نه بوټی او نے پیدا شی او بعض انسانان په معدنیاتو کښې خلط شی نو دَ هغوی نه هغه معدنیات جوړ شی نو دا امثال او اشکال مختلفه دی چه انسانانو ته دَ هغے علم نیشته او دیته اشاره وه په سورة اسراء ۵۰ کښې دا توجیه خطیب شربینی لیکلے ده.

۶۲ دَ خلق او دَ مرګ دَ ذکر نه روستو دَ دوباره ژوند اثبات په دلیل سره کوی چه هغه قیاس کول دی په اول ژوندی کولو باندے او دا استدلال په قران کریم کښې ډیر ذکر شوے دے لکه سورة روم ۲۷ مریم ۶۷ یٰس ۷۷ القیامة ۳۶. النَّشْأَةَ په دمه دمه پیدا کولو ته وائی نو اول ژوند هم په مختلفو اطوارو سره وو. فَلَوْلَا تَذَكَّرُونَ مراد دَ دینه دوباره ژوند یا دول دی په طریقه دَ قیاس کولو سره په اول ژوند باندے.

تَحْرُثُوْنَ ﴿۶۳﴾ ءَاَنْتُمْ تَزْرَعُوْنَهٗٓ اَمْ نَحْنُ

او كه مونږ . ايا تاسو زرغونه وئے هغه چه كرئے يې تاسو .

الزّٰرِعُوْنَ ﴿۶۴﴾ لَوْ نَشَآءُ لَجَعَلْنٰهُ حُطَامًا

زرغونوونكي يو . كه چرے اوغواړو مونږ ضرور اوګرځوو به دا ګيا ذرے ذرے

فَظَلْتُمْ تَفَكَّهُوْنَ ﴿۶۵﴾ اِنَّا لَمُغْرَمُوْنَ ﴿۶۶﴾

نو بيا به غموته ښكاره كوئے . چه يقيناً مونږ تاوانيان شو ،

۶۳ ـ ۶۴ دا دويم دليل دے چه پيدائش پسے دَ تربيت كولو ذكر دے .

تَحْرُثُوْنَ حرث ويلے كيږي زمكه شلول او دَ هغے اړول او تخم پكښ اچول دا

خوانسانان كوي . دَ مَا نه مراد تخم دے . اَفَرَءَيْتُمْ مقصود پدے كښ ترغيب

دے فكر او سوچ كولو ته په تخم باندے او هغه فكر ئے ذكر كړے دے پدے

قول سره ءَاَنْتُمْ تَزْرَعُوْنَهٗ زرع نه مراد تيغونه او فصل راويستل

دي دَ تخم نه او دا په قدرت دَ هيچ مخلوق كښ نيشته دے . او پدے سره

دَ توحيد اثبات دے چه تاسو ټول (انبياء، اولياء) دَ دے نه عاجزيئ نو معلومه

شوه چه مخلوق دَ خالق سره شريك نشي كيدے او دا رنګ په دے سره دَ

قيامت اثبات دے چه الله تعالیٰ دَ تخم نه شين بوټي را اوباسي نو تاسو به هم

دَ زمكے نه دوباره راژوندي كړي . او دَ دے ايت نه معلومه شوه چه دَ حرث

نسبت انسانانو ته كيدے شي او دَ زرع نسبت انسانانو ته حقيقةً نشي كيدے

دَ دے وجے نه حديث مرفوع كښ ذكر دي چه هيڅ څوك به دا سے نه وائي

چه زَرَعْتُ بلكه حَرَثْتُ دِ وائي .

ابن كثير او ابن جرير دا په سند سره نقل كړيدے او په سورة فتح ۲۹ ـ

كښ الزُّرَّاعَ انسانانو ته مجازاً ويلے شويدے مراد تربينه حُرَّاث دي .

ابن كثير ذكر كړيدي چه دَ دے نه روستو بَلْ اَنْتَ يَا رَبِّ ويل دَ بعض سلفو

عمل دے او قرطبي دلته څه كلمات ذكر كړيدي چه دَ كروندے كولو نه روستو

زميندار هغه اُوائي نو الله تعالیٰ هغه فصل لره دَ هر افت نه محفوظ او ساتي .

۶۵ ـ ۶۶ ـ ۶۷ دَ نعمت دَ ذكر كولو نه روستو دَ هغے زوال ذكر كوي دَ دے دَ پاره چه

انسان په فصلونو او باغونو باندے تكبر او نه كړي (باقي په بل مخ)

بَلْ نَحْنُ مَحْرُوْمُوْنَ ﴿۶۷﴾ اَفَرَءَيْتُمُ الْمَآءَ

بلکه مونږ بدنصیبه یو ۔ ایا تاسو سوچ کړے دے په هغه اوبو

الَّذِیْ تَشْرَبُوْنَ ﴿۶۸﴾ ءَاَنْتُمْ اَنْزَلْتُمُوْهُ

بانددے چه تاسو یې څښئ ایا تاسو راکوزے کړے دی دا

مِنَ الْمُزْنِ اَمْ نَحْنُ الْمُنْزِلُوْنَ ﴿۶۹﴾

دَ سپینو وریځو نه اوکه مونږ راکوځوونکی یو ۔

حُطَامًا دَ برابریدلو دَ بوټی او دَ لوکولو نه مخکښ چه اوچ شی او ذرے ذرے شی دیته حطام ویلے کیږی. فَظَلْتُمْ تَفَكَّهُوْنَ تفکه دَ اضداد و نه دے خوشحالی کول او غم کول دواړو ته ویلے کیږی دلته دویمه معنیٰ مراد ده او پښیمانتیا کول تعجب کول او بے فائدے خبرو کولو ته هم تفکه ویلے کیږی. اِنَّا لَمُغْرَمُوْنَ دا بیان دَ تفکه دے یا تقولون پټ دے دَ غرام نه ماخوذ دے په معنیٰ دَ عذاب او هلاکت سره یا دَ غرامت نه دے په معنیٰ دَ تاوان او نقصان سره.
مَحْرُوْمُوْنَ یعنی زمونږ نه هغه ذات روزی منع کړه چه دَ هغه سره مقابله نشی کیدے او دیته بدنصیبی ویلے کیږی او په بَلْ دَ ترقیٔ سره یې ذکر کړو اشاره ده چه غرامت صرف دَ تخم او دَ نور خرچ (چه په فصل باندے کړیږی) بربادی وه او حرمان دا دے چه دَ تخم او دَ فصل دَ فائدو نه هم ور سره محرومه شو نو په یکښ دَ ما قبل نه ترقی ده.
س۶۸-۶۹ دا دریم دلیل دے دَ پاره دَ اثبات دَ توحید او دَ اثبات دَ بعث بعد الموت. او دویمه ماده دَ تربیت ذکر کوی چه اوبه دَ باران دی. ځکه اکثر خلق آسمانی اوبه څښی. الْمُزْنِ مطلق وریځ ته یا خاص سپینے وریځ ته ویلے کیږی ځکه چه باران اکثر دَ سپینو وریځو نه وریږی. دا آیت دلیل دے چه تمام مخلوق (انبیاء اولیاء وغیره) دَ باران ورولو قدرت نه لری نو افسوس دے دَ هغه جاهلانو په حال باندے چه هر کله سوکړه شی نو دوی بعضِ قبرونو ته ځی او په جاهلانه طریقو سره دَ قبرونو والا نه باران غواړی یا دَ هغوی په برکت سره یې غواړی دا ټول شرک او دَ شرک طریقے دی.

لَوۡ نَشَآءُ جَعَلۡنٰهُ اُجَاجًا فَلَوۡلَا تَشۡکُرُوۡنَ ۝

که چیرے او غواړو مونږ او به گرځوؤ دا ترخې نو ولے شکر نه کوئ تاسو۔

ف په دے کښې تخویف دَ زوال دَ نعمت ذکر کوی دَ دے دَ پاره چه انسان غرور او تکبر او نه کړی۔

اُجَاجًا سخت مالګین چه مړے کښې اتخلی او معده سیزی په شان دَ اُور تو تنده نه سړوی او فصلونه په هغے سره سوزی۔

فَلَوۡلَا تَشۡکُرُوۡنَ دَ شکر مقصد دا چه دا نعمت (او به) په بندګئ دَ الله تعالیٰ کښې صرف کړے شی او صرف دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دا احسان اوګڼړلے شی۔

او ابن کثیر مرفوع روایت نقل کړے دے چه نبی صلی الله علیه وسلم به او به اوڅښلے نو ورپسے به ئے اُوئیل: اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِیۡ سَقَانَا عَذۡبًا فُرَاتًا بِرَحۡمَتِهٖ وَلَمۡ یَجۡعَلۡهُ مِلۡحًا اُجَاجًا بِذُنُوۡبِنَا۔ نو دا په ژبه باندے کلمات دَ شکر اداکول دی۔

فائده ۱:- دَ نعمت طعام په زوال کښې لام دَ تاکید داخل کړے دے لجعلناه حطامًا او په زوال دَ نعمت دَ اوبو کښې لام نه دے داخل کړے جعلناه اجاجا۔ مفسر قاسمی دَ ابن اثیر نه وجه نقل کړیده چه دَ اوبو خوند بدلیدل په عرف او عادت کښې ډیر او اسان دی او دارنګ مالګینے اوبه په دُنیا کښې دَ خوګو اوبو نه ډیرے دی نو په دے کښې دَ لام تاکید راوړلو ضرورت نیشته۔ او دَ طعام نه حطام جوړول کله کله وی په اسبابو غیر عادیو سره (طوفان کلئ وغیره) او دارنګ هغه اثر دَ غضب دَ الله تعالیٰ وی نو دَ هغے په ذکر تاکید ته ضرورت دے دَ پاره دَ پوره تذکیر۔

فائده ۲:- دَ اول نعمت چه نَشۡاَۃِ اولیٰ دے نه روستو فلولا تذکرون ذکر کړے دے او دَ اوبو دَ نعمت نه روستو فلولا تشکرون ذکر دے؟ وجه دا ده چه هلته کښې مقصد دَ دوباره ژوند قیاس کول دی په اول ژوند باندے او قیاس او عبرت ته تذکر ویلے کیږی۔ او دلته خو نعمت دَ خوراک او څښاک ذکر دے او دا ښکاره نعمتونه دی او تذکر دَ نعمت شکر کول دی او دَ دے وجه نه په سنت کښې دَ خوراک او څښاک دواړو نه روستو الحمدلله ویل دَ پاره دَ شکر کولو ثابت او ضروری دی۔

أَفَرَءَيْتُمُ النَّارَ الَّتِي تُورُونَ ﴿۷۱﴾ ءَأَنتُمْ

ایا تاسو سوچ کړیدے په هغه اور باندے چه بلوئے ئے تاسو۔ ایا تاسو

أَنشَأْتُمْ شَجَرَتَهَا أَمْ نَحْنُ الْمُنشِئُونَ ﴿۷۲﴾

پیدا کړیده او نه دَ اور اوکه موږ پیدا کوونکی یو۔

نَحْنُ جَعَلْنَاهَا تَذْكِرَةً وَمَتَاعًا لِّلْمُقْوِينَ ﴿۷۳﴾

موږ ګرځولے ده دا یاداشت (دَاور دَجهنم) او فائدے دَپاره دَ صحرا والو۔

۷۱ دا څلورم دلیل دے دَاثبات دَ توحید او دَ تذکیر دَ قیامت دَپاره او د تربیت موادو نه دریمه ماده ده. تُورُوْنَ دَبعضِ اونو دَ پانړو او څانګو نه په مخلو سره اور راوځی لکه دَ بعضِ ګټو په زګړولو سره اور پیدا کیږی او دا رنګ تیلے را بشکل په د بی پورے دَ دے نه هم اور پیدا کیږی دے ټولو ته دا لفظ عام شامل دے۔
۷۲ په دے کښ عجز دَ ټول مخلوق ذکر کوی چه هغوی دَ اُور مواد نشی پیدا کولے نو ولے دَ الله تعالیٰ سره ئے شریک جوړوئے. شَجَرَتَهَا دَ مرخ او عفار اونے چه عربو به دَ هغے دَ پانړو او څانګو مخلونه اُور راویستلو یا هره شنه او نه مراد ده ځکه چه عقل سره ثابت شویده چه په هره شنه او نه کښ الله تعالیٰ دَ اور ماده پیدا کړیده یا دَ دینه مطلق اونے مراد دی چه شنے یا اوچ لرګی چه په اور کښ سوزی او اُور پرے بلیږی. دا سے په سورة یس ۸۰ کښ تیر شوی دی۔
۷۳ په دے کښ دوه لوئے فائدے دَ اُور ذکر کوی اول تَذْكِرَةً یعنی په دے سره اور دَ جهنم یادیږی نو دَ هغے نه پناه غوختلے کیږی او ویره تر ینه کیدیشی. دا رنګ دَ اونو نه په اور راویستلو سره بعث بعد الموت هم معلومیږی یعنی چه الله تعالیٰ په دے اور پیدا کولو قادر دے نو انسانانو لره هم دوباره پیدا کولے شی. او دا رنګ دا تذکره ده دَپاره دَ توحید چه په دے کار باندے دَ الله تعالیٰ نه سیوا بل هیڅوک قدرت نه لری۔
دویمه فائده :- وَمَتَاعًا لِّلْمُقْوِينَ دَ اُور فائدے، طعام پخول، ځان ګرمول په یخنے کښ، رنړا حاصلول، او سپنے وغیره ویلے کول او دَ هغے نه څیزونه جوړول وغیره. لِلْمُقْوِيْنَ دَ قواء نه ماخوذ دے خالی صحراء ته ویلے کیږی یعنی هغه خلق چه په بیابانونو کښ اوسی هلته دیره وی یا مسافروی دوی دَ اُور نه

فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ ﴿٧٤﴾ فَلَا أُقْسِمُ

نو پاکي وايه دَ نوم دَ رب ستا چه لوئے شان والا دے. دا سے نه ده زه قسم کووم

بِمَوَاقِعِ النُّجُومِ ﴿٧٥﴾ وَإِنَّهُ لَقَسَمٌ لَّوْ تَعْلَمُونَ

په ځايونو دَ ستورو باندے ، او يقيناً دا قسم که چرے تاسو پوهيږے

فائده اغستلو ته ډير محتاج وی- او مقوين فائده ے اغستونکو ته هم ويلے کيږی. او لوګے والا ته هم ويلے کيږی - او هغه چا ته ويلے کيږی چه توښه ورسره ختم شی. او دَمطرب نه نقل دے چه فقير او غنی دواړو ته ويلے کيږی نو دا لفظ دے ټولو معنو ته شامل او عام دے.

فائده :- په دے دليلونو کښ خائسته ترتيب دے اول ئے پيدائش ذکر کړو سره دَياداشت دَ مرګ او دَ قيامت نه. بيائے دَ تربيت درے مواد ذکر کړل ځکه چه تربيت په خوراک سره دے نو فصلونه پيدا کول ئے ذکر کړل بيا خوراک بغير دَ اوبو نه نشی کيدے ځکه فصل اوبو ته محتاج دے، بيا اوړه اخل اوبو ته محتاج دی بيا دوډئے خوړلو کښ اوبو ځنبلو ته ضرورت دے او هرکله چه ډوډئے او دَ خوراك ځناك ځيزونه بغير دَ اور نه نشی تياريدلے تو اور ئے ذکر کړو نو معلومه شوه چه ټول انسانان دَ الله تعالىٰ دَ لنګر نه خوراک کوی هغه ته په ټول تربيت کښ محتاج دی دَ تربيت ځيزونه هغه پيدا کړيدی نو بيا ولے مشرکانو نور معبودان اولياء پيران وغيره نيولے دی چه دَ الله تعالىٰ سره ئے شريک کړے دی.

٧٤ دا تفريع ده دَ تيرشوی دليلونو په مسئله دَ توحيد سره. بِاسْمِ رَبِّكَ هر اسم دَ الله تعالىٰ دَ خاص نومونو دَ هغه نه پاک دے هر عيب او نقصان او دَ شريک نه نو دا رد دے په مشرکين فی الاسماء والصفات باندے. الْعَظِيمِ دا صفت دَ اسم او دَ رب دواړو کيدے شی رب عظيم شان والا او نومونه ئے هم لوئے شان والا دی.

٧٥ هرکله چه عقلی دليلونه دَ اثبات دَ توحيد او دَ قيامت دَ پاره ذکر شو اوس ترغيب ورکوی قران ته چه دا وحی دليل دے. او اشاره ده چه تربيت بدنيه سره تربيت روحانيه په قران کريم سره ضروری دے. فَلَا أُقْسِمُ په لفظ دَ لا کښ خلور اقوال دی اول دا چه زيائی دے بنا په رياتے په بل مخ)

عَظِيْمٌ ﴿۷۶﴾ اِنَّهٗ لَقُرْاٰنٌ كَرِيْمٌ ﴿۷۷﴾ فِيْ كِتٰبٍ

لوئے دے یقیناً دا قرآن دے عزت مند په کتاب

عادت دَ عربو باندے نو معنیٰ په اثبات دَ قسم سره. دویم قول دا چه لا نافیه دے نفی دَ قسم مراد ده لیکن دَ دے قول ضعف ښکاره دے په سبب دَ دے چه روستو ئے وَ اِنَّهٗ لَقَسَمٌ ذکر کړے دے یعنی دا قسم دے نو نفی دَ دَ قسم خونشی کیدلے. دریم قول دا دے چه لا نافیه دے او دَ مخکښ نه انکار دَ منکرینو معلومیږی (فَلَوْلَا تُصَدِّقُوْنَ، فَلَوْلَا تَذَكَّرُوْنَ، فَلَوْلَا تَشْكُرُوْنَ) نو معنیٰ دا چه دا درے واړه کارونه (تصدیق نه کول. تذکر نه اخستل. شکر نه کول) نه دی مناسب بلکه اُقْسِمُ. دا قول ابوحیان دَ سعید بن جبیر نه نقل کړے دے او دَ دے توثیق ئے کړے دے. څلورم قول لا په اصل کښ لام دَ تاکید دے او دَ زور دَ اشباع نه الف پیدا شو معنیٰ دا چه خامخواه قسم کوؤم. غوره قول پدے ټولو کښ زمونږ په نیز دریم قول دے او دا سے په سورة قیامت ۱ ۲ سورة تکویر ۱۵ سورة بلد ۱ سورة الحاقه ۳۸ سورة المعارج ۴۰ سورة انشقاق ۱۶ کښ هم راغلے دے. بِمَوٰقِعِ النُّجُوْمِ دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه ابن کثیر روایت کړے دے چه مراد دَ دے نه نجوم دَ قرآن دی یعنی نجوم جمع دَ نجم ده قِسط او حصّے ته ویلے کیږی او قرآن لږ لږ په حِصو حِصو سره نازل کړے شویدے نو مراد دَ مواقع نه ایاتونه او سورتونه دی. او دَ مجاهد نه نقل دے چه مراد دَ دے نه نجوم (ستوری) دَ اسمان دی او دَ مواقع نه مراد منازل دَ ښکاره کیدلو دَ هغے دی. یا ځایونه دَ غائب کیدلو دَ هغے دی یا غورځیدل دَ هغے په ورځ دَ قیامت راتللو دی.

۷۶ دا جمله معترضه ده او په مینځ دَ هغے کښ بله جمله معترضه ده. یعنی دَ قسم او دا جواب قسم چه روستو ایت کښ دے دا ټوله جمله معترضه ده او دَ دے قسم دَ عظمت دَ پاره ئے ذکر کړے ده او دَ موصوفِ (لقسم) او صفت (عظیم) په مینځ کښ لو تعلمون بله جمله معترضه شرطیه ده او جزاء ئے حذف ده (لَوْ تَعْلَمُوْنَ عِظَمَتَهٗ لَعَظَّمْتُمُ الْمُقْسَمَ عليه) یعنی که چرے تاسو دَ دے په عظمت باندے علم لرلے نو دَ دے مقسم علیه (چه کرامت دَ قرآن دے) تعظیم به مو کولے

۷۷ ۷۸ دا جواب قسم دے او مناسبت دَ قسم او جواب دَ هغے په اوله توجیه سره

مَّكْنُوْنٍ ﴿٧٨﴾ لَّا يَمَسُّهٗۤ اِلَّا الْمُطَهَّرُوْنَ ﴿٧٩﴾

محفوظ ساتلے شوے کښ دے، لاس نه وروړی دیته مګر پاکان خلق

دادے چه دَ قرآن کریم ایاتونه او سورتونه چه لګ لګ نازل شویدی شهادت کوی په کرامت دَ قرآن باندے او په دویمه توجیه باندے مناسبت دادے چه ستوری دَ اسمان ښکاره شی او بیا غائب شی نو دارنګ تیرشوی کتابونه الهیه او انبیاء علیهم السّلام چه دَ ستورو پشان رنړا کوونکی وو دَ ښکاره کیدلو نه روستو غائب شول او قرآن کریم (چه نمر دَ رنړا دے) راښکاره شو. او قسم دَ پاره دَ شهادت دے لکه چه تحقیق دَ ھغے په ابتدا دَ سورة یٰس کښ تیرشویدے.

کَرِیْمٌ کرامت دَ قرآن په ډیر وجوهو سره دے. کلام دَ الله تعالیٰ دے. په واسطه دَ جبریل نازل کړے شوے دے. سحر او کهانت او افتراء نه ده. مخلوق نه دے. دَ ډیرو فائدو او علومو نه ډک دے. معجز دے. مشتمل دے په کریم اخلاقو او احکامو باندے. لوستونکے دَ دے مکرم او عزت مند دے په نیز دَ الله تعالیٰ.

فِیْ کِتٰبٍ مَّکْنُوْنٍ مراد ترینه لوح محفوظ دے لکه په سورة بروج ۲۲ کښ دی یا مراد دَ دے نه صحیفے دَ ملائکو دی او کتاب جنس. په معنیٰ دَ جمع سره دے لکه په سورة عبس ۱۳ کښ یا مراد دَ دے دا مصحفونه دی چه زمونږ په لاسونو کښ دی.

۷۹ په دے کښ ډیر احتمالات دی. مَس حقیقی او مس مجازی (پوهه) ة ضمیر راجع دے قرآن ته یا لوح محفوظ ته. اَلْمُطَهَّرُوْنَ طهارت ظاهریه مراد دے یا باطنیه، تفصیل یے دا دے. اول احتمال دا دے چه دا جمله صفت دَ قرآن دے ځکه چه بحث په باره دَ قرآن کښ دے. او دَ مس نه مراد لاس لګول دی او مطهرون نه مراد پاک بدن والا چه جنب او بے اودسه نه وی او دا جمله خبریه په معنیٰ دَ انشاء ده نو معنیٰ دا ده چه لاس دِ نه لګوی دَ قرآن سره بے اودسه او پلیت شخص. دویم احتمال دا دے چه مس په معنیٰ مجازی سره دے او طهارت نه باطنی پاکوالے مراد دے یعنی مؤحد متقی نو معنیٰ دا شوه چه نه پوهیږی په قرآن باندے مګر پاکے عقیدے او عمل والا یا نه پوهیږی په خوند دَ قرآن باندے مګر مؤمن مؤحد. (پاتے په بل مخ)

یعنی مشرکان دَ قران په حقیقت باندے علم نه لری لکه دیته اشاره ده په سورة اعراف ۱۴۶ کښې.

دریم احتمال دا دے چه دا صفت دَ لوح محفوظ دے او مس حقیقی مراد دے او مطهرون نه مراد ملائک دی نو معنیٰ دا ده چه لاس نشی لګولے دَ لوح محفوظ سره مګر صرف ملائک.

څلورم احتمال دا دے چه دَ مس نه معنیٰ مجازی مراد ده معنیٰ دا چه علم نه لری په لوح محفوظ باندے مګر ملائک. په دے دواړو احتمالونو کښې رد په هغه متصوفو باندے دے چه هغوی وائی چه اولیاء هم په لوح محفوظ باندے عالمان دی او دوی هغے ته رسیږی او دَ هغے نه علم حاصلوی دا باطله عقیده ده.

پنځم احتمال چه کتاب مکنون نه صحف دَ ملائکو مراد دی او مس ظاهری دے نو معنیٰ دا ده چه لاس نه لګوی دَ دغه پاکو صحیفو سره (چه قران پکښې ملائکو لیکلے دے) مګر ملائک لیکونکی دَ قران لکه چه په سورة عبس ۱۵ ۱۶ کښې دی.

فائده :- دَ قران کریم دَ لوستلو دَ پاره اودس کول بالاتفاق ضروری نه دی او مستحب دی او په حالت دَ حیض او جنابت کښې لوستلو کښې اختلاف دَ اهلِ علمو دے او دَ قران دَ مسه کولو دَ پاره اودس شرط دے او که نه؟ په دیکښې دَ اهل علمو اختلاف دے قرطبی ویلے دی چه اکثر اهل علم په منع باندے قائل دی او دا مذهب دَ علی او ابن مسعود او سعد بن وقاص رضی الله عنهم او سعید بن زید او عطاء او زهری او نخعی حکم. حماد، مالک شافعی او قول دَ امام ابوحنیفه رحمهم الله دے او دوی دلیل نیولے دے په حدیث دَ مسلم چه زمکے دَ دشمن ته قران مه اوړئ او په حدیث موطا امام مالک دَ ابن حزم کښې دی چه قران به نه مسح کوی مګر پاک شخص او دا حدیث ابوداؤد هم په مراسیل کښې ذکر کړے دے. او په حدیث دَ دارقطنی په واقعه دَ اسلام دَ عمر رضی الله عنه کښې هم دی چه خور ورته ویلے وُ چه ته پلیت یے قران ته لاس نشے لګولے.

لیکن ابن کثیر او ابن حجر په تلخیص الحبیر کښې ویلے دی چه دَ دے په سندونو کښې نظر او مقال دے سیوا دَ حدیث دَ مسلم نه او هغه هم په مدعا باندے ښکاره دلیل نه دے ځکه چه مراد دَ هغے حدیث دا دے

تَنۡزِيۡلٌ مِّنۡ رَّبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۸۰﴾ اَفَبِهٰذَا

نازل کړے شوے دے دَ طرف دَ رب العالمین نه . آیا په دا سے

الۡحَدِيۡثِ اَنۡتُمۡ مُّدۡهِنُوۡنَ ﴿۸۱﴾ وَتَجۡعَلُوۡنَ

خبرو تاسو سُستی کوئے او گرځوئے

چه قرآن زمکے دَ دشمن ته مه اوړئے دَپاره دَ دے چه بے عزتی ئے اونه کړی. نو حاصل دا دے چه دا دلیلونه په دے مسئله کښ قطعی نه دی لیکن احتیاط دا دے چه دَ قرآن دَ مسح کولو دَ پاره دِ دَ اودس کولو اهتمام اوکړیشی.

۸۰ دا صفت دَ لِقرآن دَپاره دے یا خبر دے دَ مبتدا محذوف (هو).

تَنۡزِيۡلٌ په معنیٰ دَ منزّل سره دے. په رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ کښ اشاره ده چه لکه تربیت دَ بدن الله تعالیٰ کوی په غِذا سره چه مخکښ ذکر شو نو دا رنگ تربیت دَ روح په قرآن سره کوی او دا رد دے په هغه چا باندے چه قرآن ته سحر او کهانت او افتراء وائی.

۸۱ دا ایت زجر دے منکرینو ته روستو دَ بیان دَ صداقت دَ قرآن نه.

مُدۡهِنُوۡنَ ادهان او مداهنة نرم والی او تغافل او میلان کول تجاوز ته ویلے کیږی. قرطبی ویلے دی مداهن هغه څوک دے چه ظاهر ئے دَ باطن نه خلاف وی او دَ مؤرّج نه ئے نقل کړے دے چه مداهن منافق او کافر دے چه خپل جانب نرم کړی دَ دے دَپاره چه خپل کفر پټ ساتی. نو حاصل دا دے چه مداهن او مداهن په مسلمانانو کښ هغه څوک دے چه دَ باطل پرستو سره موافقت کوی او حق ورته نه ښکاره کوی او په کافرانو کښ هغه دے چه دَ مسلمانانو نه خپل کفر پټوی په دے وجه مداهنون تکذیب کوونکو، اعراض کوونکو، دَ کافرانو سره موافقت کوونکو، او په باره دَ حق منلو کښ بهلنے کوونکو ټولو ته شامل دے. ابو بکر بقاعی ویلے دی چه "په دے ایت کښ رد دے په هغه چا باندے چه دَ قرآن په باره کښ دَ چا نه نامناسبے خبرے واؤری (ټوقے کول یا تحریف معنوی کول وغیره) او بیا هم دَ هغه سره ښکاره دُشمنی نه کوی او نرمی ورسره کوی. او اهل الحاد لکه ابن عربی صاحب دَ فصوص الحکم او ابن الفارض صاحب دَ تائیه اول هغه (پاتے په بل مخ)

رِزْقَكُمْ اَنَّكُمْ تُكَذِّبُوْنَ ﴿۸۲﴾ فَلَوْلَآ اِذَا بَلَغَتِ

برخه ستاسو دا خیره چه دروغژن یئ گڼرئ . تو ولې نه ده چه کوم وخت اورسی

الْحُلْقُوْمَ ﴿۸۳﴾ وَاَنْتُمْ حِیْنَئِذٍ تَنْظُرُوْنَ ﴿۸۴﴾

روح مرئ ته او تاسو په دغه وخت کښ گورئ

کسان دی چه دا ایت هغوی ته شامل دے ځکه چه هغوی دَ قرآن په باره کښ په داسے طریقه کلام کړے چه دین لره دَ ویخ نه اوباسی او خوک چه دَ هغوی دَ پاره تاویلونه کوی دَ هغوی دَ طرف نه مدافعت کوی نو هغه دَ اجماع دَ امت نه خلاف کوونکے دے دَ دوی نه په گندگئ کښ زیات دے" (انتهٰی) . نو معلومه شوه چه دَ قرآن کریم دَ مخالفت کوونکو سره هیڅ قسم نرمی پکار نه ده .

۸۲ دا هم زجر دے . رِزْقَكُمْ هرکله چه تکذیب دَ حق او دَ قرآن خوراک نه دے دَ دے وجے نه په دے ایت کښ دَ مفسرینو ډیر توجیهات دی . اوله توجیه دا چه رزق په معنٰی دَ شکر دے ځکه چه شکر سبب دَ رزق دے نو ذکر دَ مسبب او مراد ترینه سبب دے . دویمه داچه مضاف حذف دے شکر رزقکم او دَ رزق نه مراد عام رزق دے او خوراک دے یا دَ رزق نه مراد باران دے یعنی هرکله چه باران اوشی نو ایا ستاسو شکریه کول دا دی چه دَ هغے نسبت ستورو ته کوئے لکه چه جاهلیت والو به ویل مُطِرْنَا بِنَوْءِ كَذَا او قرطبی ویلے دی که دا نسبت په دے عقیدے سره وی چه دا ستورے (نوء) پیدا کوونکے دَ وریځ او دَ باران دے نو دا صریح کفر دے او که دا عقیده وی چه دَ دے نوء (ستوری) په وخت کښ الله تعالٰی باران راوروی نو په دیکښ هم کفر دے په نعمت دَ الله تعالٰی باندے او کلمه دَ جهل ده او موهمه کلمه ده . خطیب شربینیؒ تفصیل کړیدے . دریمه توجیه داچه رزق په معنٰی دَ برخے سره دے نو معنٰی دا چه تاسو خپله حصّه دَ قرآن نه دا گرځولے ده چه تکذیب کوئے .

څلورمه توجیه داچه رزق په خپله معنٰی سره دے او معنٰی داچه تاسو په تکذیب باندے همیش والے کوئے گویا که دا ستاسو خوراک او غذا ده .

۸۳ ۸۴ ۸۵ روستو دَ زجر نه ذکر کوی تخویف سرهٔ دَ بل قسم زجر نه او دا تخویف دے په مرگ سره . فَلَوْلَآ دا لفظ دَ پاره دَ زور نے استعمالیږی دلته

وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مِنْكُمْ وَلٰكِنْ لَّا

او مونږ خه نزدے یو ده ته ستاسو نه او لیکن نه

تُبْصِرُوْنَ ﴿۸۵﴾ فَلَوْلَآ اِنْ كُنْتُمْ غَيْرَ

وینئ تاسو . نو ولے نه ده که چرے تاسو نه یئ

پدے کښې شرطی معنیٰ نیشته دے. اِذَا بَلَغَتِ اذا شرطیه دے جزا ئے محذوف ده (فردد تم الروح او امسکتم) یعنی هرکله چه روح غټې مرئے ته اورسیږی نو تاسو دا روح ولے نه حصاروئ یا ولے ئے نه واپس کوئ.

الْحُلْقُوْمَ حلق عام دے ټولے مرئے ته ویلے کیږی او حلقوم خاص دے په هغے پورے چه روح پکښې ځی رائی او کله ډیوبل په معنیٰ سره هم استعمالیږی او دا حالت په سورة القیامة ۲۶ کښې ذکر دے.

وَاَنْتُمْ حِيْنَئِذٍ تَنْظُرُوْنَ خطاب دے حاضرینو د مړی ته چه اکثر د هغه رشته داروی. تَنْظُرُوْنَ مړی ته او د هغه حالت د نزع ته ګورئ یا دا په معنیٰ د انتظار د مرګ دے.

وَنَحْنُ اَقْرَبُ اِلَيْهِ مراد د دے وجود د ملائکة الموت دے چه په هغه وخت کښې حاضروی یا مراد د دے نه قرب د الله تعالیٰ دے په اعتبار د علم او قدرت سره. وَلٰكِنْ لَّا تُبْصِرُوْنَ مفعول پټ دے یعنی ملائکو لره نه وینئ. نظر په محسوساتو کښې او بصر په غائب څیزونو معقولاتو کښې اکثر استعمالیږی د دے وجے نه اول ئے نظر ثابت کړو په تنظرون سره او بیا ئے بصر نفی کړو په لا تبصرون سره. تر دے ځائے پورے څلور حالات ذکر شول.

۸۶ تا ۸۷. فَلَوْلَآ په اصل کښې داخل دے په تَرْجِعُوْنَهَا باندے. فراء ویلی دی چه دویم فَلَوْلَآ د اول د پاره اعاده ده او جواب د دواړو یو دے او بعضو علماؤ ویلی دی چه اول فلولا د پاره جواب پټ دے لکه چه مخکښې مونږ ذکر کړے دے. او فلولا ترجعونها جزاء ده او په دے پورے دوه شرطونه متعلق دی (اِنْ كُنْتُمْ غَيْرَ مَدِيْنِيْنَ او اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ). مَدِيْنِيْنَ ماخوذ دے د دَانَ يَدِيْنُ نه په معنیٰ د جزاء او حساب او په معنیٰ د ملکیت هم رائی. نو معنیٰ د دے جزاء ورکړے شوے، حساب کړے شوے. (پاتے په بل مخ)

مَدِيْنِيْنَ ﴿۸۶﴾ تَرْجِعُوْنَهَآ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۸۷﴾

کمزوری ، چه واپس را او گرځوئ دا روح که چرې تاسو رشتني يئ .

فَاَمَّآ اِنْ كَانَ مِنَ الْمُقَرَّبِيْنَ ﴿۸۸﴾ فَرَوْحٌ

نو که چرې وی دا روح والا دَ زیات نزدې خلقو نه، نو دهٔ لره راحت دې

وَّرَيْحَانٌ ۙ وَّجَنَّتُ نَعِيْمٍ ﴿۸۹﴾ وَاَمَّآ اِنْ كَانَ

او خوږ رزق دې او جنتونه دَ نعمتونو دی. او که چرې دې وی

او مملوک او کمزوری، حاصل دَ معنیٰ دا دے که چرے تاسو رشتیا کمزوری نه يئ او حساب در سره نشی کیدلے نو بیا خو دغه روح په بدن کښ واپس را اوګرځوئ لیکن نشئ را ګرځولے نو معلومه شوه چه تاسو په تکذیب دَ قرآن او په انکار دَ توحید او قیامت کښ دروغژن يئ .

او دا ایت ښکاره دلیل دے چه الله تعالیٰ دَ چا نیته پوره کړی او روح يئ بدن نه اوباسی نو هیڅ مخلوق (ملک، نبی، ولی او ډاکټر وغیره) هغه روح بدن ته نشی واپس کولے هاں دَ معجزے په طور سره چه عیسیٰ علیه السّلام واپس کړے دے هغه خو دَ الله تعالیٰ اِذن او اختیار وو دَ عیسیٰ علیه السلام په هغے کښ هیڅ قدرت او اختیار نه وو .

۸۸ تا ۸۹ دا تقسیم دَ هغه خلقو دے درے قسمونو ته چه په هغوی باندے ځنکدن راغے او مړه شول ۔ لکه چه دَ سورت په ابتداء کښ يئ دا سے ذکر کړے وو لیکن فرق دا دے چه هغه حالات په آخرت کښ په جنت یا په جهنم کښ وو او دلته حالات دَ وخت دَ ځنکدن دی لکه چه قرطبی دَ ربیع بن خیثم او دَ ابو الجوزاء او دَ ابو العالیه نه نقل کړیدی ۔ الْمُقَرَّبِيْنَ دَ دے نه مراد السابقون دی کامل ایمان والا مؤمنان ۔ فَرَوْحٌ وَّرَيْحَانٌ (له) لفظ پټ دے ۔ ابن کثیر ویلے دی چه دَ مرګ په وخت کښ ملائک دوی ته دا بشارت ورکوی او دَ ابو العالیه نه روایت دے چه ملائک به دوی ته په ځنکدن کښ دوه څانګے پیش کوی یو روح او بله ریحان ۔ رَوْحٌ په معنیٰ دَ راحت او خوشحالئ، او رحمت، دین دَ الله تعالیٰ دے او دا ټولے معانی اراده کیدے شی ۔ رَيْحَانٌ خائسته رزق، ګل دَ کشمالو، او دَ لذت په خبرو دَ الله تعالیٰ سره دے ټولو معانیو ته شامل دے .

مِنْ اَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ ﴿٩٠﴾ فَسَلٰمٌ لَّكَ

دَ ښي لاس والو نه نو روغبړ (کيږي) سلام دے په تا بانديے

مِنْ اَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ ﴿٩١﴾ وَاَمَّآ اِنْ كَانَ

ته دَ ښي لاس والو نه يئے۔ او که چرے وي هغه

مِنَ الْمُكَذِّبِيْنَ الضَّآلِّيْنَ ﴿٩٢﴾ فَنُزُلٌ

دَ تکذيب کوونکو گمراهو نه نو دَه لره ميلمستيا ده

مِّنْ حَمِيْمٍ ﴿٩٣﴾ وَّتَصْلِيَةُ جَحِيْمٍ ﴿٩٤﴾ اِنَّ

دَ خوټکيدلو اوبو نه او سوځيدل دي په جهنم کښ۔ يقيناً

—

٩٠ تا ٩١ دا دويم قسم دے يعني عام مؤمنان۔ فَسَلٰمٌ لَّكَ يعني ملائک به ورته سلام دَ خپل طرف يا دَ الله تعالىٰ دَ طرف نه پيش کوي او ورته به وائي چه اَنْتَ مِنْ اَصْحٰبِ الْيَمِيْنِ. يا معنىٰ دا چه په تا باندے سلام دَ طرف دَ اصحاب اليمين دے چه ته به دَ هغوي سره په برزخ کښ او بيا جنت کښ ملگرے کيږے۔ او امام بخاري معنىٰ ذکر کړے ده چه مسلّم (منلے شوے) ده ستا دَ پاره چه ته دَ اصحاب اليمين نه يئے۔ او قرطبي ليکلے دي چه دا سلام به په دريے وختونو کښ وي په وخت دَ قبض دَ روح کښ دويم په وخت دَ راتللو دَ منکر نکير کښ او دريم په وخت دَ بعث بعد الموت کښ۔

٩٢ تا ٩٣ تا ٩٤ په دے کښ دريم قِسم ذکر کوي چه مخکښ ئے هغوي ته اصحاب المشئمه او اصحاب الشمال ويلے وو ليکن دلته ئے هغه صفت ذکر نه کړو ځکه چه په وخت دَ نزع او دَ قبر کښ دوي اصحاب الشمال نه نه دي يعني عملنامه په شمال کښ ورکول يا جهنم ته بوتلل خو په ورځ دَ قيامت کښ دي۔ او هرکله چه تکذيب سبب دَ ضلال دے دَ دے وجے نه مکذبين ئے مقدم کړل په ضالين باندے۔

فَنُزُلٌ مِّنْ حَمِيْمٍ دلته هم (لهم) پټ دے نُزُلٌ هغه خوراک څښاک دے چه دَ ميلمه دَ پاره تيار کړے شوي وي او دلته استعمال په طريقه دَ تهکم سره دے۔ تَصْلِيَةٌ داخليدل دَ پاره دَ سوځولو (پاتے په بل مخ)

هٰذَا لَهُوَ حَقُّ الْيَقِيْنِ ﴿٩٥﴾ فَسَبِّحْ بِاسْمِ

دا پوره يقيني خبرے دی ۔ نو پاکی وايه دَ نوم

رَبِّكَ الْعَظِيْمِ ﴿٩٦﴾

دَ رب ستا چه لوئے شان والا دے ۔

او دا اضافت دے مفعول ته ۔

فائده :- قاسمی دَ اکليل نه نقل کړيدی چه دا آيا تونه دلالت کوی چه ارواح چه دَ بدنونه جدا شی نو يا به په خوشحالوکښی وی او يا به عذاب کښی وی او ارواح دَ مؤمنانو په جنت کښی وی او ارواح دَ کافرانو په جهنم کښی دی ۔

۹۵ :- دا تائيد دَ ماقبل دے او خاص تنبيه ده هٰذَا اشاره ده ماقبل ټول مضمون دَ دے سورت ته يعنی قيامت واقع کيدل او په هغے کښی دَ زمکو او غرونو مختلف حالات او اخرت کښی دَ دريے ډلو حالات او دَ الله تعالىٰ دَ طرف نه غلور لوئے انعامات او بالخصوص نعمت دَ قرآن کريم او حالت دَ مرګ او په نزع او قبر کښی تنعيم او عذاب دِ دے ټولو ته اشاره ده په هٰذَا سره ۔

لَحَقُّ الْيَقِيْنِ دا اضافت دَ موصوف دے صفت ته يا په عکس سره دے يا اضافت دَ عام دے خاص ته ۔ يا اضافت دَ شئ دے خپل نفس ته يعنی حق او يقين يو څيز دے ۔ يا اليقين صفت دے دَ موصوف محذوف يعنی لحق الخبر اليقين او داسے په سورة الحاقه ۵۱ کښی دَ ټول قرآن په باره کښی هم ذکر دے ۔

۹۶ داسے په ۷۴ کښی هم تير شو وجه دَ تکرار دا ده اولًا چه دَ عقلی دليلونو نه روستو دا امر وُ يعنی عقل دلالت کوی په تسبيح دَ الله تعالىٰ باندے۔ او ثانيًا دَ قرآن دَ صداقت نه روستو او دَ قرآن سره متعلق دَ دريے ډلو دَ حالاتو دَ بيان نه پس ۔ يعنی قرآن هم دليل دے په تسبيح دَ الله تعالىٰ باندے ۔

حديث دَ ابو داؤد کښی راغلی دی چه دا آيت نازل شو نو رسول الله صلى الله عليه وسلم او فرمائيل چه په دے باندے په رکوع کښی عمل اوکړئ ۔ يعنی په رکوع کښی سبحان ربی العظيم وائی ۔

بِاسْمِ رَبِّكَ بآء زیاتی دَپاره دَتاکید ده یا معنیٰ دا چه یاد کړه اسم ربك یعنی پاکی وایه په یادولو دَ نوم دَ رب ستا۔

فائده:- په دے کښې بآ داخل کړې شوې ده او په سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰی کښې بآء نه ده ذکر کړے وجه دا چه عظیم صفت دَ ذات او دَ اسم دواړو دَپاره استعمالیږی نو اشاره ده چه دَ تسبیح دَ ذات سره ئے تسبیح دَ نومونو او دَ صفتونو دَ الله تعالیٰ ملګرے کړه او اعلیٰ صرف صفت ذات دَپاره استعمالیږی نو هلته کښې مقصود تسبیح دَ ذات ده فقط بغیر دَ ملګرے کولو دَ تسبیح دَ نومونو او صفتونو نه او بآ دلالت کوی په مصاحبت (ملګرتیا) باندے۔

والله اعلم بحکم کتابه۔

(الحمد لله ختم شو تفسیر دَ سورة واقعه په توفیق دَ الله تعالیٰ سره)

سُوْرَةُ الْحَدِيْدِ ۵۷ مَدَنِيَّةٌ ۹۴	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰيَاتُهَا ۲۹ رُكُوْعَاتُهَا ۴

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ج

پاکی وائی الله تعالیٰ لره هغه څیزونه چه په آسمانونو او زمکه کښ دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة الحدید

دَدے سورت نه تر سورة ملک پورے مدنی مضامین دی چه هغه جهاد انفاق فی سبیل الله او زجرونه په منافقت کوؤنکو او نور اصلاحی امور دی.
ربط دَدے سورة دَ ما قبل سره په ډیرو وجوهو سره دے۔ اوله وجه دا ده چه مخکښ سورت کښ مسئله دَ توحید دوه کرته ذکر کړه نو پدے سورت کښ ترغیب دے خرچ کولو دَ مالونو او استعمال دَ او سپنے دَ پاره دَ اشاعت دَ دے مسئلے۔
دویمه وجه دا ده چه تیر شوی سورت کښ امر په تسبیح سره او شو نو دَ دے سورت په اول کښ تسبیح دَ مخلوقاتو ذکر کوی ګویا که دا علت دے دَ پاره دَ امر بالتسبیح۔ دریمه وجه دا ده چه په هغه سورت کښ امروؤ په تسبیح دَ اسم دَ رب سره او اسم خواسم جنس دے ډیرو اسمونو او صفتونو ته شامل دے نو دَ دے سورت په ابتداء کښ دَ الله تعالیٰ ډیر نومونه او صفتونه ذکر کړل۔
دعویٰ دَ سورت۔ ترغیب انفاق فی سبیل الله ته په پنځه طریقو سره دَ ترغیب دَ جهاد او قتال ته دَ پاره دَ توحید، هغه توحید چه ثابت کړے دے په ذکر دَ اتلس اسماؤ حسنیٰ سره او په صفاتو سره۔
خلاصه دَ سورت۔ دا سورت دوه بابونو ته منقسم دے اول باب تر ۲۵ پورے دے پدیکښ اول اثبات دَ توحید دے په ذکر دَ دوویشت اسماء او صفات الٰهیه سره او بیا ترغیب دے انفاق فی سبیل الله تعالیٰ ته په پنځه طریقو سره په ۷ کښ او ۸ ۹ په دے پورے متعلق دی بیا په ۱۰ کښ۔ بیا په ۱۱ کښ او تر ۱۹ پورے په دے پورے متعلق دی بیا به ۲۰ کښ

وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ① لَهُ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ

او خاص هغه زور اور حکمتونو والا دے. خاص هغه لره بادشاهي دَ اسمانونو

وَالْأَرْضِ ۚ يُحْيِي وَيُمِيتُ ۚ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ

او دَ زمکے ده ژوندی کول کوی او مړه کول کوی او هغه په هر

شَيْءٍ قَدِيرٌ ② هُوَ الْأَوَّلُ وَالْاٰخِرُ وَالظَّاهِرُ

خیز باندے قدرت لرونکے دے. هغه اول دے او روستو دے او ښکاره

او ۲۱ دَ دے سره متعلق دے بیا په ۲۲ کښې او ۲۳ ۲۴ دَ دے سره تعلق لري.
تفسیر ۱ په دے کښې دعوی دَ توحید ذکر ده په سَبَّحَ سره او الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ دلیلونه دَ هغې دی. تسبیح نه مراد قولي تسبیح ده لکه چه دلالت کوی په دے باندے سورة اسراء ۴۴ او تسبیح حالي ته هم شامل ده. او معنٰی دَ تسبیح دَ شریك او ولد او دَ کفر او عجز او احتیاج او مثل ومشابه او دَ ټولو نقصانونو نه پاکوالے. او الْعَزِيزُ کښې اشاره ده چه ټول مخلوق دَ الله تعالٰی په مقابله کښې عاجز او مغلوب دے دَ دے وجے نه دَ الله تعالٰی تسبیح وائی څوك طوعًا او څوك کرهًا نو دا دلیل دے دَ تسبیح قولي دَ پاره.
الْحَكِيمُ اشاره ده چه دا ټول عالم ئے په خاص ترتیب سره پیدا کړے دے دا خاصته ترتیب دلالت کوی په تسبیح باندے نو دا دلیل شو دَ تسبیح حالي.
۲ دا دویم دلیل دے لَهُ دا دلالت کوی په تخصیص باندے.
مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ مراد دَ ملك نه دَ هغه حکم چلیدل دی په ټولو موجوداتو کښې طوعًا او کرهًا. او دا حکم چلیدل په اسمانونو او زمکو کښې یو شان دی دَ دے وجے نه وَالْأَرْضِ سره ئے مَا ذکر نه کړو.
يُحْيِي وَيُمِيتُ دا دَ حکم چلیدلو دَ پاره یو مثال دے څکه دا تصرف دَ الله تعالٰی نه سیوا هیڅوك نشي کولے.
وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ دا مستقل دلیل دے یعنی بادشاهي ئے سره دَ کامل قدرت نه ده.

وَالْبَاطِنُ ۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿٣﴾

او پټ دے او هغه په هر څیز باندے پوره علم لري.

هُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ

خاص هغه داسے ذات دے چه پیدا کړی دی اسمانونه او زمکه

فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ ۚ

په شپږ ورځے کښ بیا برابر شو هغه په عرش باندے

يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ

پوهه دے په هغه څه چه ننوځی په زمکه کښ او هغه چه راوځی

مِنْهَا وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وَمَا يَعْرُجُ

د زمکے نه او هغه چه ښکته راځی د اسمان نه او هغه چه بره ورخیژی

۳ دا بل مستقل دلیل دے دَ دے وجے نه ئے حرف عاطف نه دے راوړے او په مینځ دَ دے صفتونو کښ حرف عطف ذکر کړے دے اشاره ده جمع دَ دے صفتونو ته په الله تعالیٰ کښ.

دَ دے ایت تفسیر په حدیث صحیح دَ مسلم وغیره کښ ذکر شوے دے ویلے دی، "الْاَوَّلُ، فلیس قبلك شیءٌ یعنی دَ ټولو موجوداتو نه ته مخکښ ئے په وجود کښ او ټول عالم لره ته وجود ورکوونکے ئے وَالْاٰخِرُ، فلیس بعدك شیءٌ یعنی هغه ته وجود دَ هر څیز منتهی کیږی او باقی دے روستو دَ فنا دَ هر څیز نه. وَالظَّاهِرُ، فلیس فوقك شیءٌ یعنی اوچت دے دَ هر څیز نه دَ هغه نه بره هیڅ څیز نیشته او ښکاره دے وجود دَ هغه په دلیلونو یقینیو سره. وَالْبَاطِنُ، فلیس دونك شیءٌ یعنی په اعتبار دَ ذات او ماهیت سره دَ هغه نه پټ نیشته او عالِم دے په باطن دَ هر څیز باندے".

او ابن جریر ویلی دی چه مراد دا دے چه هر څیز ته نښه نزدے دے یا دا چه دَ زمکو دَ لاندے هم دَ هغه قدرت او علم دے لکه په حدیث دَ ترمذی کښ دی اګرچه منقطع حدیث دے چه په هغے کښ لهبط علی الله راغلے دے.

فِيهَا ۖ وَهُوَ مَعَكُمۡ أَيۡنَ مَا كُنتُمۡ ۚ وَاللَّهُ

هغے ته. او هغه ستاسو سره دے هر ځائے چه یئ تاسو. او الله تعالیٰ

بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ﴿٤﴾ لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ

ستاسو عملونو لره لیدونکے دے. خاص هغه لره بادشاهي دَ اسمانونو

ف۴ دا بل دلیل عقلي مستقل دے او پنځه صفات دَ الله تعالیٰ په کښې ذکر دي. خلق، استواء، علم، معیّت، بصیر۔ تفصیل دَ ستة ایام په سورة اعراف ۵۴ یونس ۳ هود ۷ فرقان ۵۹ سجده ۴ ق ۳۸ سورة حٰم سجده ۹ کښې تیر شویدے او مسئله دَ استواء هم په سورة اعراف ۵۴ سورة یونس ۳ سورة رعد ۲ طٰه ۵ فرقان ۵۹ السجده ۴ کښې تیره شویده حاصل دَ هغې دادے چه عرش او علیٰ او استواء درے واړه لفظونه په معنیٰ حقیقي سره مراد دي لیکن دَ هغې کیفیت مونږ ته معلوم نه دے مونږ به هغه بغیر دَ تمثیل او تشبیه دَ مخلوق نه منو او تاویل به یې نه کوؤ۔ یَعۡلَمُ مَا یَلِجُ فِی الۡاَرۡضِ داسے په سورة سبا ۲ کښې تیر شویدی هلته دا دلیل دَ حمد دَ پاره وؤ او په دے سورت کښې دلیل دَ تسبیح دے وَهُوَ مَعَكُمۡ (سوال) په مینځ دَ استواء علی العرش او معیت دَ مخلوق سره تعارض دے (جواب) بعض اهلِ علمو ویلے دي چه تعارض په دے دواړو کښې په صفاتو دَ مخلوق کښې دے او صفات دَ خالق هیڅ مشابهت دَ صفتونو دَ مخلوق سره نه لري یعني استواء او معیت دواړه په حقیقت باندے حمل دي او کیفیت دَ دواړو مجهول دے او اکثر اهل علم وائي چه مراد دَ معیت نه معیت په علم او په قدرت سره دے او شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله په شرح دَ حدیث النزول کښې او په مجموعه فتاوی ص ۱۳۶/۳ ص ۱۴۲/۳ ص ۱۱۳/۵ کښې دَ دے تشریح کړیده او امام ذهبي دَ امام ابوحنیفه رحمه الله نه په کتاب مختصر العلو ص ۱۳۵ کښې هم داسے نقل کړیدی او ابن عبد البر ذکر کړیدی چه دا اجماع دَ صحابو او دَ تابعینو ده او دا منقول ده دَ ابن عباس او ضحاك او مقاتل او سفیان ثوري او احمد بن حنبل رحمهم الله نه ابن جریر هم په تفسیر کښې ویلي دي چه الله تعالیٰ عالم دے په تاسو او په عملونو ستاسو باندے او سره دَ دے هغه په عرش باندے دَ اسمانونو دَ پاسه دے۔ (سوال) داخو تاویل دے (پاتے په بل مخ)

وَالْاَرْضِ ؕ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ﴿۵﴾ يُوْلِجُ

او د زمکے ده ۔ او خاص الله تعالیٰ ته گرځولے شی ټول کارونه ۔ ننه باسے ته

الَّيْلَ فِى النَّهَارِ وَيُوْلِجُ النَّهَارَ فِى الَّيْلِ ؕ

شپه په ورځ کښ او ننه باسے ته ورځ په شپه کښ ۔

وَهُوَ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۶﴾ اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ

او هغه پوره عالم دے په هغه خبرو چه په سینو کښ دی ۔ ایمان راوړئ په الله تعالیٰ باندے

وَرَسُوْلِهٖ وَاَنْفِقُوْا مِمَّا جَعَلَكُمْ مُّسْتَخْلَفِيْنَ

اوپه رسول د هغه باندے او خرچ کوئ د هغے مال نه چه جوړ کړی ئے تاسو وارثان

فِيْهِ ؕ فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَاَنْفَقُوْا لَهُمْ

په هغے کښ. نو هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے ستاسو نه او خرچ ئے کړیدے دوی لره

په معنیٰ د مع کښ او تاویل خو په صفاتو د الله تعالیٰ کښ خلاف دے د مذهب د سلف صالحین نه او بدعت دے ؟ (جواب) ابن قدامه المقدسی په کتاب ذم التاویل کښ جواب ذکر کړے دے چه دا تاویل نه دے ځکه چه تاویل اړول د لفظ دی د ظاهر خپل نه او د معیت ظاهری معنیٰ هم داده چه په علم او قدرت سره د دوی سره دے ځکه چه لفظ د مع د اختلاط (د یو ذات د بل سره) د پاره نه دے وضع شوے او که ومنلے شی چه دا تاویل د سلفو صالحینو نه نقل دے نو دے ته تاویل محمود ویلے کیږی ۔ او هغه تاویل مذموم دے چه د سلف صالحین نه نقل نه وی ۔

ف۵ دا بل دلیل مستقل دے په دویم آیت کښ اشاره وه ملك د دُنیا ته او په دے کښ اشاره ده ملك د آخرت ته د دے وجے نه دلته د آخرت ذکر ئے کړے دے په والی الله ترجع الامور سره ۔

ف۶ دا هم مستقل دلیل عقلی دے په تصرف کولو سره په زمانه کښ او دا ایلاج په اکثرو طرفونو د زمکه کښ دے چه کله ورځ اوږده وی او کله شپه. ترد دے ځائے پورے خلاصه د دلیلونو داده چه تصرف کوونکے په هر څه کښ او عالِم

أَجْرٌ كَبِيرٌ ﴿٧﴾ وَمَا لَكُمْ لَا تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ ۚ

ثواب لوئے دے. او څه وجه ده تاسو لره چه ایمان نه راوړئے تاسو په الله تعالیٰ باندے

وَالرَّسُولُ يَدْعُوكُمْ لِتُؤْمِنُوا بِرَبِّكُمْ

او (حال دا چه) رسول دعوت درکوی تاسو ته دَپاره دَدے چه ایمان راوړئے په رب خپل باندے

وَقَدْ أَخَذَ مِيثَاقَكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٨﴾

او یقیناً اخستے دے الله تعالیٰ لوظ ستاسو که چرے تاسو مؤمنان یئے .

په هر څیز باندے صرف الله تعالیٰ دے او په دے کښ دَهغه هیڅ شریک نیشته نو دا دلیل شو په تسبیح دَ هغه باندے.

ف په دے ایت کښ دَ ترغیب الی الانفاق اوله وجه ده حاصل ئے دا دے چه دا مالونه په حقیقت کښ ستا سو نه دی تاسو په دے کښ وکیلان او نائبان دَ خپلو مشرانو ئے نو دا مالونه په صحیح مصرف کښ خرچ کړئے چه فائده درکړی. اٰمِنُوْا امر په ایمان سره ئے مخکښ ذکر کړو یو خو دَ دے وجے نه چه بغیر دَ ایمان نه انفاق کول برباد دی. دویمه وجه دا ده چه په صحیح ایمان سره انفاق کول اسانیږی او هر کله چه تیر شوی دلیلونه مقتضٰی دَ ایمان دی دَ دے وجے نه په طریقه دَ نتیجے سره بغیر دَ عطف نه اٰمنوا ئے ذکر کړو. وَاَنْفِقُوْا مراد دَ دے نه عام دے زکوٰة او صدقات واجبه ته شامل دے او بالخصوص خرچ کول دَپاره دَ اشاعت دَ توحید اول مراد دی.

مِمَّا جَعَلَكُمْ مُّسْتَخْلَفِيْنَ فِيْهِ حسن بصری نه روایت دے چه مراد دَ دے نه استخلاف دے په وراثت سره دَ پلارانو نه نو اشاره ده چه دا مالونه لکه چه ستاسو دَ مشرانو نه میراث کښ پاتے شوی دی نو دا شان به ستاسو نه هم پاتے کیږی او دا احتمال هم شته چه مراد دَ دے نه استخلاف من الله تعالیٰ دے یعنی مالونه په حقیقت کښ دَ الله تعالیٰ دی لیکن تاسو ئے دَ لګ وخت دَپاره په دے کښ عارضی مالکان ګرځولے ئے نو دا دَ هغه د حکم مطابق خرچ کړئے. فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اه اول په امر سره ایجاب وؤ او س په بشارت سره ترغیب ذکر کوی.

ف ۸ دا هم متعلق دے دَ تیر شوی ترغیب سره یعنی اول (پاتے په بل مخ)

هُوَ الَّذِیْ یُنَزِّلُ عَلٰی عَبْدِہٖۤ اٰیٰتٍۭ بَیِّنٰتٍ

الله تعالیٰ هغه ذات دے چه نازلوی په بنده خپل باندے ایاتونه ښکاره

لِّیُخْرِجَکُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَی النُّوْرِ ؕ

دَ دے دَپاره چه اوباسی تاسو دَ تیارو نه رڼا ته .

وَاِنَّ اللّٰہَ بِکُمْ لَرَءُوْفٌ رَّحِیْمٌ ⑨

او یقینًا الله تعالیٰ په تاسو باندے ضرور ډیر شفقت کوونکے رحم کوونکے دے .

داچه رسول صلّی الله علیه وسلّم ایمان او انفاق ته داعی وو او دویم داچه ستاسو ته لوظ اغستلے شوے دے او دریم داچه دَ ایمان تقاضا ده . وَمَا لَکُمْ په دیکښ عدم دَ عذر مراد دے یعنی دَ ایمان نه هیڅ مانع نیشته او اسبابِ داعیه شته دَ دے وجے نه ایمان فرض دے . لَا تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰہِ په دیکښ اشاره ده هغه ایمان ته چه سبب دَ انفاق وی لکه چه مخکښ ایت کښ تیر شو . وَالرَّسُوْلُ یَدْعُوْکُمْ دا اول سبب دَ ایمان او انفاق دے او اشاره ده چه وجوب په شرع باندے موقوف دے . وَقَدْ اَخَذَ مِیْثَاقَکُمْ مراد دَ میثاق نه میثاق فطری او دلیلونه قائمول او میثاق ایمانی دے نو دا دویم سبب دے دَ ایمان او انفاق . اِنْ کُنْتُمْ مُّؤْمِنِیْنَ که مؤمنانو ته خطاب وی نو اِنْ په معنیٰ دَ اِذْ سره دے یا تاکید مراد دے یعنی تقاضا دَ ایمان دا ده چه انفاق اوکړئ او که خطاب کافرانو ته وی نو ان پخپله معنیٰ سره دے.

۹ دا هم دَ ترغیب سره متعلق دے یعنی دَ ایات بینات (په باره دَ ایمان او انفاق کښ) تابعداری کول سبب دَ اخراج دے دَ ظلماتو نه نور ته او سبب دَ رأفت او رحمتِ الٰهیه دے .

عَلٰی عَبْدِہٖۤ چه هغه محمد رسول الله صلی الله علیه وسلّم دے او په دے وصف سره ئے ځکه ذکر کړو اشاره ده چه هغه هم عبدیت دَ الله تعالیٰ کوی په ایمان او انفاق کولو سره اٰیٰتٍۭ بَیِّنٰتٍ مراد دَ دے نه قران کریم دے ځکه چه قران کښ دلیلونه او احکام الٰهیه ښکاره او یقینیه دی . لِیُخْرِجَکُمْ ضمیر فاعل الله تعالیٰ ته راجع دے یا عبد ته راجع دے اَلظُّلُمٰتِ جهل ، کفر ، شرک ، خواهشاتِ متفرقه او بخل . اِلَی النُّوْرِ علم ، توحید ، ایمان هدایت او یقین . لَرَءُوْفٌ رافت کښ اشاره ده چه ستاسو نه ظلمات دفع کوی . رَحِیْمٌ رحمت کښ اشاره ده رڼا ورکولو ته .

وَمَا لَكُمْ أَلَّا تُنفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلِلَّهِ

او څه وجه ده ستاسو چه خرچه نه کوئ په لار د الله تعالیٰ کښې او خاص الله تعالیٰ لره

مِيرَاثُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ لَا يَسْتَوِي

میراث د اسمانونو او د زمکے دے برابر نه دی

مِنكُم مَّنْ أَنفَقَ مِن قَبْلِ الْفَتْحِ وَقَاتَلَ ۚ

ستاسو نه هغه څوک چه خرچ ئے کړیدے مخکښې د فتحے نه او جنګ ئے کړیدے

أُولَٰئِكَ أَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ الَّذِينَ

دغه کسان ډیر لوئے درجے والا دی د هغه کسانو نه

أَنفَقُوا مِن بَعْدُ وَقَاتَلُوا ۚ وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ

چه خرچ ئے کړیدے روستو او جنګ ئے کړیدے۔ او هر یو سره وعده کړیده الله تعالیٰ

الْحُسْنَىٰ ۚ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴿١٠﴾ ع

ښائسته (جنت) او الله تعالیٰ ستاسو په عملونو باندے پوره خبردارے دے

ف دادویمه وجه ده د وجوهو د ترغیب الی الانفاق نه په ترقی سره په بیان کښ. یعنی که او منلے شی چه تاسو بالفرض اصلی مالکان د دے اموالو ئے لیکن ټول به مړه کیږے او مالونه به ټول الله تعالیٰ ته پاتے کیږی نو پکار دادی چه اوس ئے د مرګ نه وړاندے د الله تعالیٰ په لار کښ خرچ کړئ۔
وَلِلَّهِ مِيرَاثُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ دا سے په سورة العمران ۱۸۰ کښ هم شته۔ میراث په اصل کښ استحقاق بے عوضه او بے تکلیفه ته ویلے کیږی. تو اشاره ده چه دا ټول عالم به د انسانانو نه یو ځل خالی شی او صرف الله تعالیٰ به باقی وی او د هغه سره به د بل هیڅ حق او تصرف نه وی۔
لَا يَسْتَوِي مِنكُمْ الخ په دے کښ تفاوت د درجاتو د مجاهدینو او د انفاق کوونکو ذکر کوی او دے دواړو درجو ته په سورة واقعه کښ اشاره ده چه یو سابقون دی او بل اصحاب الیمین دی او دا په صحابه کرامو کښ هم وو (یا تے په بل مخ)

ربع ۷

مَنْ ذَا الَّذِیْ یُقْرِضُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا

څوک دے هغه کس چه قرض ورکړی الله تعالیٰ ته قرض خائسته (په اخلاص)

فَیُضٰعِفَهٗ لَهٗ وَلَهٗۤ اَجْرٌ كَرِیْمٌ ﴿۱۱﴾ یَوْمَ

نو زیات به کړی هغه (قرض) دهٔ لره او دهٔ لره ثواب دے عزت والا - په هغه ورځ

ځکه چه الفتح نه مراد صلح حدیبیه یا فتح مکه ده او دا رنګ په روستو امت کښ هم دا موجود دی ځکه چه الفتح نه عام فتحه مراد کیدیشی یعنی په یو ملک کښ چه دَ توحید او اسلام فتح او غلبه نه وی راغلے او په دغه وخت کښ چه څوک جهاد او انفاق کوی نو هغوی غوره دی دَ هغه چا نه چه روستو دَ غلبے نه جهاد او انفاق کوی۔ دَ لَا یَسْتَوِیْ مقابل محذوف دے یعنی مَنْ لَمْ یَفْعَلْ كَذٰلِكَ یا مِنَ الَّذِیْنَ اَنْفَقُوْا اه دَ دے مقابل دے معنیٰ۔ وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى او دا سے په سورة النساء ۹۵ کښ ذکر شوید ی او په حدیث دَ مسلم کښ راغلی دی اَلْمُؤْمِنُ الْقَوِیُّ خَیْرٌ وَّاَحَبُّ اِلَى اللّٰهِ مِنَ الْمُؤْمِنِ الضَّعِیْفِ وَفِیْ كُلٍّ خَیْرٌ۔ او دا جمله دَ دے دَ پاره ذکر شوه چه دَ دویم جانب ذَمْ او بدی او نکړے شی۔

۱۱ دا دریمه وجه ده دَ وجوهو دَ ترغیب الی الانفاق نه په ترقیٔ سره۔ یعنی قرض کړه چه مالونه ستا همیشه دی لیکن دَ قرض په طور سره ئے ورکړه دا مروّت او انسانیت دے۔ قرض په اصل کښ پریکولو ته ویلے کیږی۔ لیکن په عرف کښ مال ورکول بل چا ته بغیر دَ عوض نه دَ پاره دَ دے چه فائده ترینه واخلی او بیا واپس ادا کړے شی او په عرف دَ عربو کښ هرے نیکیٔ کولو ته هم ویلے کیږی نو بنا په اول معنیٰ عرفی سره صدقه او انفاق فی سبیل الله ته قرض مجازًا او ترغیبًا ویلے کیدیشی ځکه دا دَ الله تعالیٰ دَ دین سره امداد کول دی۔ قَرْضًا حَسَنًا۔ قرطبی دَ قشیری نه نقل کړیدی چه دَ قرض حسن لس شرطونه دی۔ اخلاص دَ نیت، طلب دَ رضا دَ الله تعالیٰ، دَ حلال مال نه، کره مال ورکول، مخکښ دَ حال دَ ځنکدن نه ورکول، پټ ورکول، احسان او اذی نه کول، ورکړے شوے صدقه لګه ګڼړل۔ محبوب مال ورکول، ډیر قیمت والا ورکول، دا ټول سبب دَ حُسن دے په انفاق کښ۔

تَرَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ يَسْعٰى نُوْرُهُمْ

چه وینې به ته مؤمنان سړی او مؤمنې زنانه چه منډې به وهي رڼا د دوی

بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَبِاَيْمَانِهِمْ بُشْرٰىكُمُ الْيَوْمَ

مخې د دوی ته او په ښي طرفونو د دوی کښې (وئیلے کیږي به) زیرے ستاسو نن

جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ

جنتونه دي چه بهیږي به لاندې د هغې نه ویالې همیشه به وي

فِيْهَا ؕ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۱۲﴾ يَوْمَ

په هغې کښې دا کامیابي لویه ده . په هغه ورځ

يُضٰعِفُهٗ لَهٗ ضِعف دوه چنده وي بیا باب مفاعله د پاره د مبالغې ده نو د هغې دوچنده کولو انتها معلومه نه ده او مراد د دې ثواب په ډیروچندونو سره زیاتي ورکول دي لیکن ضمیراول یې قرض ته راجع کړو اشاره ده ګویا چه هغه مال (قرض ورکړے شوے) ورله ډیر کړي نو د هغې د وجې ثواب یې هم ډیر شي. وَلَهٗ اَجْرٌ كَرِيْمٌ دا نورو ثوابونو ته اشاره ده بغیر د صدقې ورکولو نه چه د هغې سره کرامت او عزت کول هم دي.

۱۲ دا بشارت اخرویه دے مؤمنانو انفاق کوونکو ته. يَوْمَ ظرف متعلق دے په وَلَهٗ اَجْرٌ كَرِيْمٌ پورې یا لفظ اذکر مقدر دے. تَرَى هر هغه چا ته خطاب دے چه لیدل به کولے شي په ورځ د قیامت کښې.

نُوْرُهُمْ دا نُور حقیقتًا به وي په سبب د ایمان او اتباع سنت او انفاق في سبیل الله سره او دا نُور د هغه نور نه سیوا دے چه د دوی په مخونو او لاسونو او خپو باندې ښکاریږي په سبب د ایمان او اودسونو کولو سره.

بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَبِاَيْمَانِهِمْ دا دواړه طرفونه د نیک بختو د پاره خاص دي دوی ته به د مخې طرف نه په ښي لاسونو کښې عملنامې هم ورکیدیشي نو رڼا به هم پیدا دواړه طرفونو کښې وي. خطیب او رازي وئیلې دي چه د ایمان او عمل صالح په سبب سره رڼا به مخې طرف ته وي او د انفاق د وجې نه به رڼا په ښي طرف باندې وي ځکه انفاق یې په ښي لاس سره کړے دے د سنت مطابق. په دې معنی سره بَا په بِاَيْمَانِكُمْ کښې په معنی د عن سره ده او د ضحاك نه روایت دے په بل مخ)

يَقُوْلُ الْمُنٰفِقُوْنَ وَالْمُنٰفِقٰتُ لِلَّذِيْنَ

چه وائي به منافقان سړي او منافقانې زنانه هغه کسانو ته چه

اٰمَنُوا انْظُرُوْنَا نَقْتَبِسْ مِنْ نُّوْرِكُمْ ۚ قِيْلَ

ايمان ئې راوړے دے انتظار اوکړئ زمونږ چه واخلو مونږ ستاسو د رڼا نه او به وئيلے شي

ارْجِعُوْا وَرَآءَكُمْ فَالْتَمِسُوْا نُوْرًا ۭ فَضُرِبَ

اوګرځئ واپس شاګانو ستاسو ته نو اولټوئ رڼا نو جوړ به شي

بَيْنَهُمْ بِسُوْرٍ لَّهٗ بَابٌ ۭ بَاطِنُهٗ فِيْهِ الرَّحْمَةُ

د دوی په مينځ کښ يو ديوال چه د هغه به دروازه وی دننه به په هغې کښ رحمت وی

وَظَاهِرُهٗ مِنْ قِبَلِهِ الْعَذَابُ ۭ ﴿۱۳﴾ يُنَادُوْنَهُمْ

او د بهر د طرف د هغې نه به عذاب وی۔ آوازونه به کوی هغوی ته

روايت دے چه بآ په معنیٰ د فی سره ده او دا خبر مقدم دے او مبتدا ئې پټه ده يعنی وَفِي اَيْمَانِهِمْ كُتُبُ اَعْمَالِهِمْ. (د دوی په ښی لاسونو کښ به عملنامے وی او رڼا به صرف مخے طرف ته وی، والله اعلم) او دا سے په سورۃ تحريم ۸ کښ دی. بُشْرٰىكُمُ الْيَوْمَ جَنّٰتٌ، يُقَالُ لَهُمْ په اول کښ دُخُوْلُ لفظ د جنات نه مخکښ پټ مراد دے يا دا جمله حاليه ده په تقدير د يُبَشِّرُوْنَ سره۔

۱۳ دا تخويف اخروی دے منافقينو ته دا هغه خلق دی چه هسے دعوے د ايمان ئې کولے او حقيقت کښ ئې ايمان نه وؤ او انفاق ئې هم نه کوؤ بلکه بخل ئې کوؤ او نورو خلقو ته ئې هم په بخل سره امر کوؤ۔ يَوْمَ بدل دے د مخکښ يوم نه يا اذکر مقدر دے يا متعلق دے په الفوز العظيم پورے۔

انْظُرُوْنَا په معنیٰ د نظر کولو په نظر د شفقت سره دے يا په معنیٰ د انتظار کولو دے۔ نَقْتَبِسْ اقتباس د بلے شوے رڼا نه ځان د پاره ليت بلول ګمراد ترينه رڼا حاصلول دی۔ او پديکښ دوه قولونه د مفسرينو دی اول قول دا چه منافقانو له به هم څه نُور ورکړے شي او بيا به مړ کړے شي دويم قول دا چه دوی له نُور نيشته صرف اميد ئې دا دے چه د مؤمنانو په نُور سره

أَلَمْ نَكُنْ مَّعَكُمْ ط قَالُوْا بَلٰى وَلٰكِنَّكُمْ فَتَنْتُمْ

ايا مونږ ستاسو ملګری نه وو! دوی به اوائی هاؤ لیکن تاسو ګمراه کړی وو

أَنْفُسَكُمْ وَتَرَبَّصْتُمْ وَارْتَبْتُمْ وَغَرَّتْكُمُ

خپل ځانونه او انتظار هم کوؤ او یوځ شک کښ پراته وئ او دهوکه کړی وئ تاسو

الْأَمَانِيُّ حَتّٰى جَآءَ أَمْرُ اللّٰهِ وَغَرَّكُمْ بِاللّٰهِ

خپلو خواهشاتو ترد ے پورے چه راغی حکم دَ الله تعالیٰ او دهوکه کړی وئ تاسو په الله تعالیٰ

الْغَرُوْرُ ﴿۱۴﴾ فَالْيَوْمَ لَا يُؤْخَذُ مِنْكُمْ

باندے دهوکه درکوونکی. نو ننن به نشی اخستلے کیدے ستاسو نه

به مونږ په صراط باندے لاړ شو لیکن هغوی خو ډیر تیز په صراط باندے تیر شول نومنافقان دَ رنړا نه بالکل محروم شول. قِيْلَ ارْجِعُوْا وَرَآءَكُمْ دا قول دَ مؤمنانو یا دَ ملائکو دَ طرف نه دے او مراد ارجعوا نه نا امیده کول دی دَ رنړا نه وَرَآءَكُمْ دَدے نه مراد دنیا ده ځکه چه نُور په توحید او انفاق سره په دُنیا کښ حاصلیدلو. یا مراد ترینه میدان حشر دے چه په هغے کښ مؤمنانو ته نُور حاصل شوے دے. بِسُوْرٍ او دے ته حجاب او اعراف هم ویلے شویدے په سورة اعراف ۴۶ کښ بَاطِنُهٗ فِيْهِ الرَّحْمَةُ مراد دَ رحمت نه جنت دے. الْعَذَابُ دَ دے نه مراد جهنم دے یعنی یو دغه دروازه باندے صرف جنّت والا داخلیږی او منافقانو ته په هغے کښ اجازت دَ داخلیدلو نه ملاویږی نو هغوی به جهنم ته نزدے کړے شی.

۱۴ يُنَادُوْنَهُمْ نِداء دَ لرے دَ پاره وی اشاره ده چه مؤمنان به دَ دوی نه لرے لرے لاړ شی او دروازه به بنده شی نو منافقان به په چغو سره آواز ورکوی. مَعَكُمْ په جماعاتو او غزواتو او ټولو واجباتو کښ. وَلٰكِنَّكُمْ فَتَنْتُمْ الخ دَ منافقانو پنځه اوصاف ئے ذکر کړے دی چه په سبب دَ هغے دغه عملونه برباد شویدی. اول وصف فَتَنْتُمْ په فتنه دَ شرك او نفاق کښ ئے ځان غورځولے دے او دا سبب دَ تباهئ دے ځکه ئے ورته فتنه اُویل. دویم وَتَرَبَّصْتُمْ دَ نبی صلی الله علیه وسلم او دَ مؤمنانو په باره کښ دَ حوادثو انتظار کوئ (پاتے په بل مخ)

فِدْيَةٌ وَّلَا مِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مَاْوٰىكُمُ النَّارُ

هیڅ جرمانه او نه دَ هغه کسانو نه چه کفر ئې کړے دے ځائے دَ ورتللو ستاسو اُور دے

هِيَ مَوْلٰىكُمْ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿۱۵﴾ اَلَمْ يَاْنِ

هغه ستاسو سره لائق دے، او بد ځائے دَ ورتللو دے دا اُور - آیا وخت نه دے نزدے شوے

لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ

مؤمنانو ته چه عاجزی اوکړی زړونه دَ دوی

لِذِكْرِ اللّٰهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ وَلَا يَكُوْنُوْا

دَ الله تعالیٰ یاداشت ته او هغه حق ته چه نازل شوے دے اوچه نشی دوی

چه دوی ختم شی نو تاسو به بیا کفر ښکاره کړئے لکه سوره توبه ۹۸ ۵۲ - اودا رنګ په توبه کولو سره روستو والے کول هم تربص دے. دریم وَارْتَبْتُمْ په توحید اوصداقت دَ رسول او بعث بعد الموت او په وعده دَ الله تعالیٰ کښ تاسو شکونه کوئے. څلورم وَغَرَّتْكُمُ الْاَمَانِيُّ بے دلیله مسئلے اوخبرے چه ناکاره ملایانو اوپیرانو دَ ځان نه جوړے کړیدی اودا رنګ اوګډه امیدونه او ارمانونه په دے سره تاسو دهوکه شویوئے اوپه دے وجے سره مو په توحید اورسالت باندے په زړه کښ یقین نه کوو. حَتّٰى جَآءَ اَمْرُ اللّٰهِ دا غایه ده دَ څلورو واړو حالتونو او اَمْرُ اللّٰهِ نه مراد مرګ او قیامت دے. پنځم وَغَرَّكُمْ بِاللّٰهِ الْغَرُوْرُ دا سبب دے دَ مخکښ ټولو وصافو دَ پاره دَ دے وجے نه ئې روستو مستقل ذکر کړو او دَ دے تفسیر په سورة لقمان ۳۳ او سورة فاطر ۵ کښ تیر شوید ے.

۱۵ دا تخویف اخروی دے اودا داخل دے لاندے دَ قول دَ مؤمنانو نه منافقانو ته یا دا قول دَ الله تعالیٰ یا دَ ملائکو دے دوی ته.

فِدْيَةٌ هیڅ قسم فدیه نه په مال او نه په نفس سره او نه په لګ مال او نه په ډیر مال سره. او په دے کښ دَ دوی امید قطع کول دی دَ نجات نه. مَوْلٰىكُمْ په معنیٰ دَ اولیٰ سره دے یا په معنیٰ دَ مددګار دے په طریقه دَ تهکم سره یا په معنیٰ دَ متولّی دے یعنی الله تعالیٰ به دَ دوی عذاب اُور ته اوسپاری او هغه به دَ دوی دَ عذاب متولّی شی.

كَالَّذِيْنَ أُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ

دَ هغه کسانو چه کتاب ورکړے شوے دے دَ دے نه مخکښ نو اوګډه شوه پشان

عَلَيْهِمُ الْاَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوْبُهُمْ وَكَثِيْرٌ

په دوی باندے موده نو سخت شول زړونه دَ دوی او ډیر

مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿۱۶﴾ اِعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يُحْيِ

دَ دوی نه پوره نافرمان دی۔ پوهه شئ چه یقیناً الله تعالیٰ ژوندے کوی

۲۷ په دے ایت کښ زجر دے منافقانو ته روستو دَ تخویف نه۔ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا هغه کسان چه په ژبه باندے دَ ایمان دعوے کوی او انفاق فی سبیل الله هم نه کوی۔ او دارنګ هغه مؤمنان په دے کښ داخل دی چه په ګناهونو کښ اخته دی او توبه کولو او قرآن اوریدلو ته التفات نه کوی۔ او کوم روایت چه ابن مسعود رضی الله عنه نه نقل دے چه دا خطاب مونږ (صحابو) ته دے نو دائے دَ وجے دَ تواضع او دَ انکسار نه ویلے دی کنه صحابه کرامو خشوع نه ده پریخودے او زړونه ئے سخت شوے نه دی لکه چه نور نصوص او تاریخ دَ صحابو دَ هغوی په محبت دَ قرآن او په خشوع باندے دلالت کوی لکه سورة زمر ۲۳ کښ۔

اَنْ تَخْشَعَ قُلُوْبُهُمْ مراد دَ خشوع نه په قرآن کریم سره زړه مطمئن کیدل او دَ ایمان زیاتیدل او ویریدل او نرم کیدل او ژړا کول او په اندامونو کښ تابعداری پیدا کیدل دی ځکه چه خشوع دَ زړه سره خشوع دَ ټولو اندامونو لازمه ده۔ لِذِكْرِ اللّٰهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ دواړو نه مراد قرآن کریم دے لیکن په اول لفظ کښ اشاره ده مسائلو دَ ایمان او دَ عقیدے ته او په دویم لفظ کښ انفاق فی سبیل الله او نورو عملونو ته چه قرآن کښ نازل کړے شویدی۔

وَلَا يَكُوْنُوْا دا عطف دے په تخشع باندے په حالت دَ نصب کښ دے او وجه دَ ترتیب ئے داده چه خشوع دَ زړه مانع دے دَ مشابهت دَ یهود او نصاریٰ سره او دَ قسوة دَ قلب نه۔ یا دا مستقله نهی ده ابن کثیر لیکلے دی چه په دے کښ منع ده دَ مؤمنانو دَ تشبیه دَ کتابیانو سره چه هر کله په هغوی باندے عمر ډیر تیر شو او کتاب دَ الله تعالیٰ ئے بدل کړو او په هغے باندے دُنیا ګټله او کتاب دَ الله ئے شاته اوغورځوو او په رایاتے په بل مخ)

الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا ۚ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْآيَاتِ

زمکه روستو د اوچیدلو د هغې نه۔ یقیناً ښکاره بیان کړیدی مونږ تاسو ته ایاتونه

لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿۱۷﴾ إِنَّ الْمُصَّدِّقِينَ

د دے دپاره چه د عقل نه کار واخلے۔ یقیناً تصدیق کوونکی سړی

وَالْمُصَّدِّقَاتِ وَأَقْرَضُوا اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا

او تصدیق کوونکے زنانه او چه قرض ورکوی الله تعالیٰ ته قرضه په اخلاص سره

يُضَاعَفُ لَهُمْ وَلَهُمْ أَجْرٌ كَرِيمٌ ﴿۱۸﴾

زیاتی کیدے شی (دا قرض) دپاره د دوی او دوی دپاره ثواب عزتمند دے۔

مختلفو اراؤ او اقوالو پسے تابع شول او تقلید ئے شورو کړو او ملایان او پیران ئے ارباب او کنټرول نو په زړونو د هغوی کښ قسوة پیدا شو. نو نه وعظ قبلوی او نه په وعدا او وعید سره د هغوی زړونو کښ نرمی راځی۔ فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْأَمَدُ مراد دا چه په غفلت کښ ډیر وخت تیر شو او دوی ته هیڅ عذاب رانغی بلکه نعمتونه د دُنیا ورته ډیر حاصلیدل۔ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ فَاسِقُونَ یعنی قسوة د قلب په ټولو کښ پیدا شو لیکن لږو کسانو بیا توبه اُویستله یا د کفر نه ئے ځان بچ او ساتلو او ډیرو کفر اوکړو تر دے پورے چه قرآن او آخری رسول نه ئے انکار اوکړو یعنی د فِسق نه مراد کفر کول دی۔

سلا په دے کښ ترغیب دے قرآن ته په طریقه د مثال سره یعنی څرنګه چه الله تعالیٰ اوچه زمکه کښ تازګی پیدا کوی په باران سره نو دا رنګ سخت زړونو لره هم نرموی په قرآن سره کله چه د هغوی هدایت اوغواړی۔

الْآيَاتِ نه مراد قرآن دے۔ دا رنګ دا ایت تخویف دے یعنی لکه چه الله تعالیٰ زمکه تازه کولے شی دا رنګ به تاسو روستو د مرګ نه دوباره ژوندی کړی او د قسوة قلب سزا به درکړی او الْآيَاتِ نه مراد دلیلونه د بعث بعد الموت دی۔

سلا ۱۸ روستو د زجر او تخویف نه بخلاؤ نه ، بشارت او ترغیب دے اتفاق کوونکو ته الْمُصَّدِّقِينَ اه د تاکید دپاره صیغه مذکر او مؤنث دواړه ذکر دی دا رنګ تعبیر د تصدّق او د قرض دواړه دپاره د ترغیب دی په اول تعبیر کښ اشاره ده

وَالَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ أُولَٰئِكَ

او هغه کسان چه ایمان ئې راوړے دے په الله تعالیٰ او په رسولانو دَ هغه بانددے دغه کسان

هُمُ الصِّدِّيقُونَ ۖ وَالشُّهَدَاءُ عِندَ رَبِّهِمْ ط

دوی صدیقین دی او شهداء دی په نیز دَ رب دَ دوی

لَهُمْ أَجْرُهُمْ وَنُورُهُمْ ۖ وَالَّذِينَ كَفَرُوا

دوی دَ پاره ثواب دَ دوی دے او رنړا دَ دوی ده او هغه کسان چه کفر ئې کړے دے

وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ ﴿١٩﴾ ع ۲ ۱۸

او دروغژن گڼړی ایاتونه زمونږ دغه کسان جهنم والا دی۔

نظر کولو مسکینانو فقراؤ ته او په دویم تعبیر کښ اشاره ده لحاظ کولو دَ الله تعالیٰ ته بغیر دَ ریا او سُمعة وغیره ته دا رنګ اول کښ اشاره ده زکوٰة او نورو واجباتو او نفلی خیراتونو ته او په دویم کښ اشاره ده انفاق په لار دَ دعوت او دَ اشاعت د دین کښ او جهاد او قتال دَ پاره۔

ف ۱۹ دَ مؤمنانو یو قسم ذکر شو چه هغوی ته صالحین ویلے کیږی نو په دے ایت کښ باقی نور اقسام دَ اهلِ ایمان ذکر کوی، رسل، صدیقون، شهداء، او دَ دوی دَ پاره بشارت ذکر کوی او دا اقسام دَ سعداؤ دی او بیا اشقیاء هم ذکر کوی او دَ هغوی دَ پاره تخویف اخروی۔ الصِّدِّيقُونَ صدیق مبالغه ده په صدق او په تصدیق کولو کښ او ابن قیم په طریق الهجرتین کښ په مضمون دَ طبقاتو دَ انسانانو کښ لیکلے دی چه مرتبه دَ نبوت پسے مرتبه دَ صدیقیت ده او دوی ربانیون او راسخون فی العلم دی او واسطے دی په مینځ دَ رسول او دَ امت دَ هغه کښ او دوی دعوت کوؤنکی دی طریقے دَ رسول صلی الله علیه وسلم ته۔ او دَ مجاهد نه روایت دے چه هر مؤمن بِاللهِ والرُّسُل صدیق دے نو دا په عامه معنیٰ سره مراد دے۔

وَالشُّهَدَاءُ۔ ع۱ شهادت کوؤنکی په توحید او رسالت سره۔ ع۲ شهادت کوؤنکی په ورځ دَ قیامت په خلقو بانددے په دعوت او تبلیغ سره۔ ع۳ دعوت او بیان کوؤنکی په دنیا کښ۔ ۴ او قتل کړے شوی فی سبیل الله۔ (ریاکے پہ بل مخ)

اِعْلَمُوْٓا اَنَّمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ وَّ

پوهه شئ يقيناً ژوند دنيوى لوبے او مشغله ده او

زِيْنَةٌ وَّتَفَاخُرٌۢ بَيْنَكُمْ وَتَكَاثُرٌ فِى الْاَمْوَالِ

ډول دے او لويئ كول دى په مينځ خپل كښ او سيالى د ډيرو مالونو

وَالْاَوْلَادِ ؕ كَمَثَلِ غَيْثٍ اَعْجَبَ الْكُفَّارَ نَبَاتُهٗ

او د اولاد ده (د دے مثال) پشان د حال د فائده مند باران دے چه خوشحاله كړى زميندارو لره بوټى د هغے

ثُمَّ يَهِيْجُ فَتَرٰىهُ مُصْفَرًّا ثُمَّ يَكُوْنُ

بيا اوچ شى نو ته وينے هغه زيړ بيا شى

حُطَامًا ؕ وَفِى الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ شَدِيْدٌ ۙ

ذرے ذرے او په آخرت كښ عذاب سخت دے

په دے كښ دا ټول احتمالات جائز دى۔

فائده :۔ په دے كښ د سلف مفسرينو نه دوه قولونه نقل كړے شويدى اول دا چه والشهداء معطوف دے په الصديقون باندے يعنى هر مؤمن صديق او شهيد دے لكه چه دا سے قول د مجاهد نه روايت دے بنا په دے توجيه باندے چه شهداء كښ درے اولے معانے چليدلے شى ليكن څلورمه معنىٰ مناسب نه ده دويم قول دا دے چه والشهداء د سر نه كلام دے او مبتداء ده او ولهم اجرهم د دے خبر دے بنا په دے باندے د شهداء څلور واړه معانے مراد كيدلے شى او مقصد په كلام كښ اقسام او مرتبے د مؤمنانو ذكر كول دى۔

عِنْدَ رَبِّهِمْ د شهداؤ نه چه اوله معنىٰ يا دريمه معنىٰ مراد شى نو د عند نه مراد حكم د رب دے يعنى حكم په دنيا كښ ، او چه د شهداء دويمه معنىٰ مراد شى نو عند نه مراد ورځ د قيامت ده او كه د شهداء نه څلورمه معنىٰ مراد شى نو د عند نه مراد نزديكت دے رب ته او جنت مراد دے۔

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا په دے كښ ذكر د اشقياؤ دے د پاره د تقابل او دوى ته تخويف دے۔

وَمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانٌ ۚ وَمَا الْحَيٰوةُ

او بخشش دے دَ طرف دَ اللّٰه تعالیٰ نه او رضا دَ هغه ده او نه دے ژوند

الدُّنْيَآ اِلَّا مَتَاعُ الْغُرُوْرِ ﴿۲۰﴾ سَابِقُوْٓا

دنیوی مگر سامان دهوکه ورکوونکے . وړاندے شئ دَ یو بل نه

۲۰ په دے کښ څلورمه طریقه ده ترغیب الی الانفاق ته حاصل دا چه دَ دنیا په مالونوکښ هیڅ باقی فائده نیشته بلکه زر فنا کیدونکی دی نو ضرور ده چه په دے سره مغفرت او جنت اوګټے په انفاق فی سبیل اللّٰه سره. اِعْلَمُوْٓا په دے کښ تزهید فی الدنیا دے په پنځه طریقو سره او په هغے کښ احسن ترتیب دے هغه دا دے چه اَلْحَيٰوةُ الدُّنْيَا نه مراد سامانونه دَ دُنیا دی یا عمر دَ دُنیا دے چه په وړوکوالی کښ هر یو خیزو رته دَ لوبو خیزونه ښکاریږی بیا چه لګ لوئے شی نو ټول خیزونه ورته تماشے او مشغلے ښکاره کیږی بیا چه ځوانئ ته نزدے یا ځوان شی نو دَ ډول ډهال سره ئے محبت وی بیا چه پوخ عمر ته اورسی نو په دے خیزونو سره په یو بل باندے فخر او لوئی کوی بیا چه بوډاوالی ته اورسیږی نو په مال باندے حرص شوروکړی او دَ هغے په جمع کولوکښ کوشش کوی نو دا عمر په دے پنځو حالتونوکښ تیر شی بیا وریسے مرګ او فناده نو هغه په طریقه دَ مثال سره ذکر کوی کَمَثَلِ غَيْثٍ حاصل دَ مثال دا دے چه باران اوشی نو بوټی خائسته پیدا شی بیا او چ شی بیا ئے رنګ بدل شی نو بیا ذرے ذرے بوس شی دا رنګ انسان اول چه پیدا شی نو څه زمانه پورے تازه او خوشحاله وی بیا وربانده دَ دنیا غمونه شوروشی نواوچیږی او رنګ ئے زیړ شی او بیماریٔ وربانده راشی بیا بوډا شی نو مړ شی.

وَفِي الْاٰخِرَةِ اه یعنی هغه ژوند دَ دنیا چه په دا سے طریقه باندے تیر شی چه دَ دین دَ پاره صرف نشی نو په اخرت کښ سبب دَ عذاب اوګرځی.

وَمَغْفِرَةٌ اه یعنی که ژوند دَ دُنیا دَ اخرت او دَ دین دَ پاره خرچ کړے شی نو سبب دَ مغفرت او دَ رضوان دے.

وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اه په دے جمله کښ دَ ماقبل دَ پاره سبب ذکر کوی یعنی محبت دَ خیزو نو دَ دُنیا انسان لره په دهوکه کښ واچوی (پاتے په بل مخ)

إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا

بخشش دَ رب ستاسو ته او جنت ته چه وسعت دَ هغې

كَعَرْضِ السَّمَآءِ وَالْأَرْضِ أُعِدَّتْ

پشان دَ وسعت دَ اسمانونو او دَ زمکې دے تيار کړے شوے دے

لِلَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ ذَٰلِكَ

هغه چالره چه ايمان راوړی په الله تعالیٰ او په رسولانو دَ هغه باندے دا

فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَآءُ وَاللَّهُ

فضل دَ الله تعالیٰ دے ورکوی ئے هغه چاته چه اوغواړی او الله تعالیٰ

ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ ﴿٢١﴾ مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ

خاوند دَ لوئے فضل دے. نه رسيږی هيڅ مصيبت

نو دغه تيرشوی حالات (رنځه) دَ هغې نه پيدا شی - أَعْجَبَ الْكُفَّارَ غوره داده چه مراد دَ دے نه کافران دی ځکه چه اعجاب تکبر ته ويلے کيږی او دَ دنيا په څيزونو باندے تکبر کول دَ کافرانو کار دے -

س۲۱ روستو دَ تزهيد فی الدنيا نه ترغيب الی الآخرة دے يعنی دَ دُنيا دَ ژوند او دَ مال په ذريعه مغفرة او جنت اوګټئ په انفاق فی سبيل الله سره -

إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ ذکر دَ مسبب مراد دَ دے نه سبب دے هغه ځان بچ کول دی دَ غرور دَ دنيا نه او توبه کول دی - وَجَنَّةٍ اول مغفرة دَ ګناه دے نو ورپسے دخول دَ جنت دے ځکه ئے په دے ترتيب سره ذکر کړو - عَرْضُهَا عرض مقابل دَ طول وی او عادت داد ے چه عرض کم وی دَ طول نه چه هرکله دَ عرض اندازه دَ اسمانونو او زمکے پشان ده نو دَ طول خو اندازه نه معلوميږی يا عرض په معنیٰ دَ صِرف وسعت دے - او دا ګيو جنتی دَ جنت اندازه ده دا قول قرطبی ذکر کړے دے -

كَعَرْضِ السَّمَآءِ وَالْأَرْضِ دَ مفرد نه مراد جنس دے يعنی ټول اسمانونه او زمکے چه دَ يو بل سره پيوست کړے شی او يو تخته تريته جوړه کړے شی -

فِي الْاَرْضِ وَلَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مِّنْ

په زمکه کښې او نه په ځانو نو ستاسو کښې مګر هغه دے په تقدیر (لیکو) کښې

قَبْلِ اَنْ نَّبْرَاَهَا ۭ اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ

مخکښې د موجود کولو د هغې نه یقیناً دا په الله باندے

اُعِدَّتْ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اه په دے کښې د الله د رحمت لوئے امید دے اشاره ده چه د ایمان سره ئے بل قید نه دے لګولے یعنې په صرف ایمان سره دا جنت حاصلیږی. هاں د عذاب ذکر ورسره نیشته هغه د الله تعالیٰ خوښه ده چه ګنهګار مؤمن له سزا ورکوی اوکه نه ورکوی خو جنت به ورکوی.

ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ اه دا دلیل دے چه جنت په فضل او رحمت د الله تعالیٰ سره حاصلیږی. هاں ایمان او عمل صالح الله تعالیٰ بشکاره سبب ګرځولے دے.

فائده:- دا سے ایت په سورة آل عمران ۱۳۳ کښې تیرشوے دے لیکن فرق ئے په درے طریقو سره دے.

اول دا چه هلته سارعوا دۀ او دلته سابقوا دے.

دویم دا چه هلته السمٰوٰت والارض په جمع سره بغیر د حرف تشبیه نه ذکر دی او دلته مفرد سره ئے د کاف تشبیهی نه ذکر دے.

دریم دا چه هلته متقیانو ذکر دے او دلته مؤمنان ذکر دی. وجه د فرق دا ده چه سارعوا دلالت کوی چه په مرتبه کښې برابر دی لیکن د یو بل سره د په کارونو د خیر کښې جلتی اوکړی او سابقوا دلالت کوی چه د دوی په مرتبو کښې د یو بل سره مسابقت او فرق دے او دا رنګ مسابقت بنا دے په مسارعت باندے چه جلتی د یو بل نه کوی نو هله مخکښې کیدے شی.

نو په سورة آل عمران کښې د متقیانو حال ذکر کولو او هغوی کامل مؤمنان دی نو هغوی په مرتبه د تقویٰ کښې یو بل سره برابر دی نو د هغوی سره لفظ د مسارعت مناسب دے دا رنګ د هغوی په بشارت کښې د تاکید د وجے نه سموات لفظ جمع ذکر کړو بغیر د حرف د تشبیهه نه او په دے ایت کښې د عامو مؤمنانو ذکر دے چه د هغوی په مراتبو کښې فرق دے نو د دوی سره د مسابقت تعبیر مناسب دے (والله اعلم).

يَسِيرٌ ﴿٢٢﴾ لِّكَيْلَا تَأْسَوْا عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ

اسان دے ۔ (رد اعقیدہ) دَ دے دَپارہ دہ چہ غمژن نہ شئ پہ هغه نعمت چه فوت شی ستاسو نه

وَلَا تَفْرَحُوا بِمَا آتَاكُمْ ۗ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ

او لوئی او نکرئ پہ هغه نعمت چه درکړیئ تاسو ته او الله تعالیٰ نه خوښوی

۲۳ پہ دے ایت کښ پنځمه وجه دَ ترغیب الی الانفاق ده پہ طریقه دَ دفع کولو دَ وهم سره یعنی که څوک وهم اوکړی چه مالو نه خرچ کول پکار نه دی بلکه مصیبتونو دَ دفع کولو دَپاره مالونه ساتل پکاردی نو پہ دے ایت کښ جواب کوی چه مصیبتونه دَ مخکښ نه پہ تقدیر کښ مقرر دی هغه پہ مالونو سره نشی دفع کیدے۔

او دارنګ چه تیرشوی ایت کښ امر اوشو پہ سابقوا سره نو وهم راغے چه پہ دے مسابقت کښ تکلیفونه راځی نو دَ دے نه ځان ساتل پکار دی؟

جواب دا دے چه تقدیر کښ مقرر وی نو هغه پہ ضرور واقع کیږی۔

فِي الْأَرْضِ قحط، وباء، ګرانی، سیلابونه، زلزلے، فصلونه خرابیدل وغیره

وَلَا فِي أَنفُسِكُمْ مرضونه، فقیری، اولاد مره کیدل، تنګسیا دَ ژوند وغیره۔

إِلَّا فِي كِتَابٍ دا دلیل دے چه تقدیر صرف علم دَ الله تعالیٰ ته عبارت نه دے بلکه ورسره لیکل دی پہ لوح محفوظ کښ۔ او پہ تعبیر دَ کتابت سره پہ ډیر ایاتونو کښ ذکر دے لکه پہ سورة العمران ۱۵۴ سورة توبه ۵۱ سورة مجادله ۲۱ سورة حشر ۳ سورة مائده ۲۱ سورة انعام ۳۸، ۵۹ او نور ډیر ایاتونه دی او احادیث هم پہ دے باب کښ ډیر دی نو څوک چه دَ تقدیر نه انکار کوی یا کتابت دَ تقدیر نه منی بلکه صرف علم دَ الله تعالیٰ منی دواړه پہ باطله عقیده کښ مبتلا دی اګرچه پہ دواړو کښ فرق شته دے۔

مِّن قَبْلِ أَن نَّبْرَأَهَا ضمیر مصیبت ته راجع دے یا زمکے او نفسونو ته راجع دے۔

إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ پہ دے سره هغه وهم دفع کوی چه الله تعالیٰ پہ راتلونکی حالاتو باندے څه رنګ علم لری او دا رنګ دا بے شماره څیزونه ئے څرنګے اولیکل پہ دے جمله سره ئے جواب اوکړو چه دَ الله تعالیٰ دَ علم او قدرت پہ نسبت دا ټول اسان دی، دا پہ مخلوق باندے قیاس کول جائز نه دی۔

كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُوْرٍ ﴿۲۳﴾ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ

هر ځان لوئے ګڼړونکے او خپل ستائینه کوونکے ، هغه کسان چه شومتیا کوی

وَيَأْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ ؕ وَمَنْ يَّتَوَلَّ

او حکم کوی نورو خلقو ته په شومتیا کولو سره او چا چه مخ اوګرځوؤ

فَإِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ﴿۲۴﴾ لَقَدْ

نو یقیناً الله تعالیٰ هغه بے حاجته دے ستائیلے شویں دے . یقیناً

۲۳ په دیکښ فائدے دَ ایمان بالتقدیر ذکر کړیدی - لِکَیْلَا اه متعلق دَ محذوف دے (اَعْلَمْنَاکُمْ) یعنی خبر درکړو مونږ تاسو ته چه هر مصیبت او دا رنګ هر نعمت دَ مخکښ نه مقرر کړے شوید دے نو اوله فائده دا ده چه دَ انسان نه څه نعمت فوت شی عافیت ، روزی ، صحت ، مال وغیره نو په هغے پسے به خفګان نه کوی او به وائی چه دا خیز که زما دَ پاره مقرر وے نو زما نه به نه فوت کیدلو - دویمه فائدہ دا ده چه وَلَا تَفْرَحُوْا اه یعنی چا ته چه څه نعمت او رسیږی عافیت ، فراخی دَ مال وغیره نو هغه به په هغے باندے لوئی او تکبر نه کوی بلکه او به وائی چه دا زما په کوشش سره نه دے حاصل شوے بلکه الله تعالیٰ مقرر کړے وؤ - یعنی انسان اکثر دَ مصیبت په وخت کښ خفه او پریشان وی او دَ نعمت په وخت خوشحال او غافل او متکبروی خو چه په تقدیر باندے ایمان لری نو دَ دے دواړو مرضونو نه به بچ وی . بلکه هر وخت به الله تعالیٰ یادوی او هر څه به دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه ګڼړی نو مخلوق ته به خپل حاجات نه پیش کوی - وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُوْرٍ دا ذکر دَ صفاتو قبیحو دے چه په انکار دَ تقدیر نه پیدا کیږی بیا په مینځ دَ دے دواړو کښ فرق په ډیرو وجو سره دے - اول دا چه مختال هغه دے چه خپل ځان لوئے ګڼړی او فخور هغه دے چه بل چا باندے خپله لوئی ښکاره کوی - دویم دا چه ځان ته دَ لوئے په نظر سره ګوری نو مختال دے او چه نورو خلقو ته په سپک نظر سره ګوری نو فخور دے - دریم دا چه مختال چه دفع کول دَ مصیبتو نو دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه ګڼړی او فخور هغه دے چه حصول دَ نعمت پخپل طاقت او قدرت کښ ګڼړی.
۲۴ دا زجر دے بخلاؤ ته او دَ تقدیر نه منلو اثار ذکر کوی - (پاتے په بل مخ)

أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنٰتِ وَأَنْزَلْنَا

رالیږلی دی مونږ رسولان خپل په ښکاره حکمونو سره او نازل کړیدی مونږ

مَعَهُمُ الْكِتٰبَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ

دَ دوی دَ ملګرتیا دَپاره کتابونه او دَ تللو څیز دَپاره دَ دے چه اودریږی

النَّاسُ بِالْقِسْطِ ۚ وَأَنْزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ

خلق په انصاف سره او پیدا کړیده مونږ (په اسمانی تدبیرونو) سره او سپنه چه په هغے کښ

بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعْلَمَ

(سامان) جنګ سخت دے او نورے نفعے دی خلقو لره او دَ دے دَپاره چه ښکاره کړی

اللّٰهُ مَنْ يَنْصُرُهُ وَرُسُلَهُ بِالْغَيْبِ ۚ

الله تعالیٰ هغه چا لره چه مدد کوی دَ هغه او دَ رسولانو دَ هغه سره سره دَ نه لیدلو نه ۔

إِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴿٢٥﴾ وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا

یقیناً الله تعالیٰ قوت والا زورآور دے ۔ او یقیناً لیږلی دی مونږ

يَبْخَلُونَ دا عام دے بخل کول په علم او په مال او په احسان کښ ټولو ته شامل دے بلکه ابن کثیر وئیلی دی چه هر فعل دَ منکر ته شامل دے ۔ وَيَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ یعنی بخیله هم ګمراه دے او نور خلق هم ګمراهئ ته بلی ضَال او مضِل دے لکه سورة منافقون کښ راځی ۔ وَمَنْ يَتَوَلَّ دا اعراض کول دی دَ ایمان نه او دَ انفاق فی سبیل الله نه او دَ ایمان بالتقدیر نه دے ټولو ته شامل دے ۔

۲۵ دَ دے ایت نه تر اخره دَ سورت پورے دویم باب دے خلاصه ئے دا ده چه په دے کښ ترغیب دے جهاد ته په طریقه دَ دعوت بالکتاب او په قتال دَ استعمال دَ حدید سره او دَ دواړو فائدے ذکر کړے دی بیا دلیل نقلی دے دَ نوح او ابراهیم او عیسیٰ علیهم السلام نه چه دَ دے ټولو دغه طریقه وه بیا زجر دے په بدعت دَ رهبانیت سره ۔ بیا ترغیب دے کتابیانو ته په ایمان راوړلو په اخری رسول باندے په حصول دَ دوچنده اجر او په حصول دَ فضل دَ الله تعالیٰ سره ۔

نُوحًا وَّاِبۡرٰهِيۡمَ وَجَعَلۡنَا فِىۡ ذُرِّيَّتِهِمَا

نوح علیه السلام او ابراهیم علیه السلام او ورکړل مونږ په اولاد د دوی کښې

په دے رکوع کښې د انفاق نه روستو جهاد ته اشاره کوی او دا رنګ په دے کښې مدافعت د هغه کسانو مقصد دے چه هغوی یا مرون الناس بالبخل سره موصوف دی۔ بِالۡبَيِّنٰتِ دا لفظ ښکاره احکام د عقیدے او دلیلونه او معجزاتو ته شامل دے وَاَنۡزَلۡنَا مَعَهُمُ الۡكِتٰبَ کتاب اِسم جنس دے ډیرو کتابونو ته اشاره ده او مَعَهُمۡ کښې اشاره ده چه په هر رسول باندے اګرچه کتاب نه وو نازل کړے شوے لیکن مخکنے کتاب به ورسره وو لکه تورات نازل کړے شوے وو په موسیٰ علیه السّلام باندے لیکن د هغه نه روستو تر عیسیٰ علیه السّلام پورے دغه کتاب نورو رسولانو سره وو۔ وَالۡمِيۡزَانَ دا عطف د صفت دے په صفت باندے یعنی هغه کتاب میزان وو د پاره د فرق د حق او باطل یا مراد د دے نه حکم دے په عدل سره او ابن کثیر وئیلے دی چه مراد په دے سره هغه دے چه صحیح عقلونه په هغے باندے شهادت کوی۔ یا مراد د دے نه هغه شرائع دی چه په سنت د انبیاؤ سره ښکاره شویدی۔

لِيَقُوۡمَ النَّاسُ بِالۡقِسۡطِ ۔ حاصل دا چه رسولانو اول دعوت کوؤ خلقو ته په کتاب او په سنت سره د دے د پاره چه خلق په دین د توحید او د اسلام باندے پاخه او درېږی۔ وَاَنۡزَلۡنَا الۡحَدِيۡدَ مناسبت د مخکښې جملے سره دا دے چه اول خو دعوت دے په کتاب او سنت سره او وروستو قتال کول دی په استعمال د آلاتو د او سپنے سره۔ د دے وجے نه اوله فائده د دے ئے په فِيۡهِ بَاۡسٌ شَدِيۡدٌ سره ذکر کړه مراد ترینه آلات د جنګ جوړول دی په هره زمانه کښې چه څومره اسباب د جنګ دی نو د او سپنے نه جوړیږی او د دے ترتیب ته ابن کثیر هم په تفسیر کښې اشاره کړیده۔

فائده:۔ لفظ د انزال په اصل کښې په معنیٰ د راکوځولو سره دے لیکن دلته مراد پیدا کول دی په آسمانی تدبیرونو سره ځکه چه د بارانونو په ذریعه الله تعالیٰ په زمکه او غرونو کښې معدنیات پیدا کوی او او سپنه هم د معدنیاتو نه ده۔ او په کومو روایتونو کښې چه راغلے دی چه او سپنه آدم علیه السلام د خپل ځان سره د آسمان نه راکوزه کړے وه نو قاسمی په (رپاتے په بل مخ)

النُّبُوَّةَ وَالْكِتٰبَ فَمِنْهُمْ مُّهْتَدٍ ۚ وَكَثِيرٌ

پیغمبری او کتابونه نو بعضې د دوی نه هدایت موندونکي دي او ډیر

مِّنْهُمْ فٰسِقُونَ ﴿٢٦﴾ ثُمَّ قَفَّيْنَا عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ

د دوی نه پوره نافرمان دي بیا پرله پسې اولیږل مونږ د دوی نه روستو

بِرُسُلِنَا وَقَفَّيْنَا بِعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ

رسولان زمونږ او په دوی پسې اولیږلو مونږ عیسی ځوئے د مریم

وَاٰتَيْنٰهُ الْاِنْجِيلَ ۙ وَجَعَلْنَا فِي قُلُوبِ

او ورکړو مونږ هغه ته انجیل او واچوله مونږ په زړونو

تفسیر کښې ذکر کړے دی چه دا دروغ او حدیث موضوعی دے۔ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ په دے کښې ډیرو خیزونو ته اشاره ده چه په انسانی ژوند کښې پکار یږی تبر، ترخن، اره، چاړه، چاقو، پاله، نورے مشینرئے وغیره۔ وَلِيَعْلَمَ اللّٰهُ مَنْ يَّنْصُرُهٗ وَرُسُلَهٗ عطف دے په معنیٰ دَ فِيهِ بَأْسٌ وَّمَنَافِعُ باندے تقدیر دَ عبارت داسے دے يَسْتَعْمِلُهُ النَّاسُ فِي الْحَرْبِ وَيَسْتَنْفِعُوا بِهٖ وَلِيَعْلَمَ اه۔ یعنی چه په اوسپنه سره جهاد اوکړئ نو الله تعالیٰ به امداد اوکړی۔ یا عطف دے په لِيَقُومَ النَّاسُ باندے۔ يَنْصُرُهٗ کښې اشاره ده جهاد کولو ته د پاره دَ توحید او دَ سنت دَ رسول ﷺ نو۔
بِالْغَيْبِ یعنی الله تعالیٰ او رسول ﷺ ئے لیدلے نه دی او دَ هغوی دَ پاره جهاد کوی یا غیب په معنیٰ دَ اخلاص دَ زړه سره دے۔ اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ په دے کښې اشاره ده نصرت او مدد دَ الله تعالیٰ ته۔
٢٦ دَ اجمال نه روستو تفصیل دے او دا دواړه ئے خاص ذکر کړل ځکه چه دعوت په طریقه دَ رد دَ مشرکانو سره او جهاد دَ وخت دَ نوح علیه السلام نه شورو دے او دَ دوی په اولاد کښې پیغمبران راغلی دی۔ یعنی نوح علیه السلام دویم ابوالبشر دے او ابراهیم علیه السلام خو ابوالانبیاء والرسل دے دَ دے وجے نه سورة عنکبوت ٢٧ کښې صرف دَ دهٔ ذکر شوے دے۔
فَمِنْهُمْ ضمیر ذریة ته راجع دے او په دے کښې اشاره ده چه دوی دعوت جاری اوساتلو لیکن بعضو کسانو دَ هغوی دعوت او منلو او بعضو انکار اوکړو۔

الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ رَاْفَةً وَّرَحْمَةً ؕ وَرَهْبَانِيَّةَ

ذهغه چا کښې چه دده تابعداران وو نرمي په یوبل باندے اورحم کول او په ګوتو توکښې کیناستل

ابْتَدَعُوْهَا مَا كَتَبْنٰهَا عَلَيْهِمْ اِلَّا ابْتِغَآءَ

چه نوے جوړه کړه دوی دا طریقه نه وه فرض کړے داموږ په دوی باندے مګر لټول

رِضْوَانِ اللّٰهِ فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا ۚ

د رضا د الله تعالیٰ نو دوی لحاظ اونکړو د هغے پوره لحاظ د هغے

فَاٰتَيْنَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْهُمْ اَجْرَهُمْ ۚ

نو ورکړو موږ هغه کسانو ته چه ایمان ئے راوړے وو د دوی نه ثواب د هغوی

وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿۲۷﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

او ډیر د دوی نه وو پوره نا فرمان . اے ایمان

۲۸ دا ایت هم د مخکښې تفصیل سره متعلق دے قَفَّيْنَا دا د قفا نه ماخوذ دے روستو والے په یوبل پسے باندے دلالت کوی۔ عَلٰی اٰثَارِهِمْ اشاره ده چه دین د ټولو یو دے او هغے دین ته ټولو دعوت کوے او اخری په ټولوکښې (زموږ د نبی صلی الله علیه وسلم نه مخکښې) عیسیٰ علیه السّلام دے هغه هم د ابراهیم علیه السّلام په اولاد کښې د طرف د مور نه وو او د دے تخصیص ئے په دے وجے سره کړے دے چه دهٔ دعوت او مجاهده په ډیر محنت سره کړے وه۔

وَجَعَلْنَا فِیْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ رَاْفَةً وَّرَحْمَةً ؕ وَرَهْبَانِيَّةَ اه په دے کښې اشاره ده درے فریقو د نصاریٰ ته لکه چه حدیث د ابن مسعود رضی الله عنه کښې راغلے دی حاصل د مضمون ئے دا دے چه روستو د رفع د عیسیٰ علیه السلام نه بنی اسرائیل دوه اویا ډلے شول د هغوی نه درے فرقو نجات اومندلو او بل روایت کښې دی چه په دوی باندے داسے بادشاهان مقرر شول چه هغوی د دوی په دین کښې تحریف اوکړو نو د هغوی په مقابله کښې یو فرقے قتال شروع کړو تردے پورے چه هغوی شهیدان شول (پاتے په بل مخ)

دویمے فرقے صِرف دعوت او تبلیغ شورو کړو نو هغوی ئے په آرو پاندے اره کړل او په اور باندے او سیزل - دریمه فرقه غرونو او غارونو ته لاړل دَ خپل دین دَ حفاظت دَپاره او دَ الله تعالیٰ بندګی ئے کوله -
ابن کثیر وئیلے دی دا حدیث اګرچه دَ داؤد بن المحبر راوی (چه وضّاع دے) بے اعتباره دے لیکن دَ دے تقویت کړے شوے دے په بل سند سره چه ابو یعلیٰ راوړے دے - نو معلومه شوه چه رأفةً کښ اوله فرقه چه قتال کوونکے وه مراد ده او په رحمةً کښ دویمه فرقه چه دعوت کوونکی وو مراد دی او دریمه فرقه په رهبانیت سره مراد ده -
وَرَهْبَانِيَّةً کښ دَ مفسرینو دوه قولونه دی اول قول دا چه په ما قبل باندے معطوف دے او دَ جعلنا دَ لاندے داخل دے بنا په دے باندے رهبانیت دَ هغوی دَپاره جائز وو او دویم قول دا دے چه ورهبانيةً منصوب دے په طریقه دَ اضمار علیٰ شرط التفسیر سره یعنی اِخْتَرَعُوا رَهْبَانِيَّةً ابتدعوها نو بنا په دے قول رهبانیت په هغوی کښ هم جائز نه وو - اِبْتَدَعُوْهَا په دے کښ دوه توجیه دی اول دا چه رهبانیت که چرے په دوی کښ جائز وو نو دَ ابتداع نه مراد دَ هغے کیفیت او طریقه بدلول او مقصد بدلول دی او دیته بدعتِ اضافیه وئیلے کیږی دویمه توجیه دا ده چه رهبانیت په دوی کښ دَ اصل نه منع وو نو ابتداع نه ابتداع حقیقی مراد ده. اِلَّا ابْتِغَاءَ رِضْوَانِ اللهِ په دے استثناء کښ هم دوه احتماله دی اول احتمال دا دے چه استثناء متصله ده او دا په اوله توجیه باندے بنا ده یعنی رهبانیت په اصل کښ جائز وو او په دوی باندے فرض نه وو مګر صِرف دَ الله تعالیٰ دَ رضا دَپاره یعنی رهبانیتِ مقیّده جائز وو. فَمَا رَعَوْهَا ضمیر رهبانیت ته راجع دے یعنی دوی په رهبانیت کښ دَ الله تعالیٰ دَ رضا حاصلول پریخودو دَ هغے لحاظ ئے او نکړو او دَ دُنیا دَ حصول دَپاره ئے ذریعه اوګرځوله دَ دے دَپاره چه خلق دَ دوی مریدان شی او دَ هغوی نه هدایا (تحفے) نذرانے راجمع کوی او حق ورته نه بیانوی بلکه هغوی دَ خپلے بندګئ په حیثیت سره ساتی - دویم احتمال دا چه استثناء منقطع ده او دا په دویمه توجیه باندے بنا ده یعنی چه رهبانیت دَ اصل نه ناجائز وو معنیٰ دا چه رهبانیت مونږ دوی لره نه وو جائز کړے

لیکن فرض کړے وه مونږ په دوی بانـدے دَ الله تعالیٰ رضا حاصلول په طریقه دَ جهاد او دَ دعوت۔ فَمَا رَعَوْهَا ضمیر رضوان ته راجع دے په تاویل دَ خصلت سره۔ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْهُمْ که رهبانیت جائز مراد وی نو الذین امنوا کښ دواړه فرقے داخل دی او كَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فَاسِقُوْنَ کښ هغه داخل دی چه رهبانیت ئے برباد کړو او دَ آخری رسول نه ئے انکار اوکړو او که رهبانیت ناجائز وی نو الذین امنوا نه اول دواړه فریق مراد دی او فاسقون ټول مبتدعین او منکرین مراد دی۔ دلته دوه ضروری فائدے دی.

اوله فائده په تحقیق دَ رهبانیت کښ۔ رهبانیت په لغت کښ ویره کولو ته ویلے کیږی لکه په دے قول کښ وَ اَضْمُمْ اِلَيْكَ جَنَاحَكَ مِنَ الرَّهْبِ. او په اصطلاح دَ قرآن کښ دَ الله تعالیٰ نه ویره کول او دَ هغے ویرے دَ وجے دَ الله تعالیٰ دَ منهیاتو نه ځان ساتل۔ لکه په دے قول کښ وَ اِيَّايَ فَارْهَبُوْنِ۔ او په عرف کښ دَ الله تعالیٰ دَ ویرے دَ وجے نه دَ خپل دین دَ حفاظت دَ پاره غار ته یا صحرا ته تلل او دَ تلـد ذاتِ مباحه نه ځان ساتل او دَ الله تعالیٰ بندګی کول۔ او په دے کښ دوه حالتونه دی یو حالت دَ ضرورتِ شرعی دَ وجے نه جُدائی اختیارول دی لکه چه فتنے ډیرے شی او جهاد او دعوت بالکل نشی کیدے او په خپل دین بانـدے ویره راشی نو پدا سے وخت کښ دَ خلقو نه ډډه کول او صحرا یا غار ته تلل او دیته فرار للدین او هجرت ویلے کیدے شی لکه واقعه دَ اصحاب کهف او دا رنګ حدیث دَ ابو سعید خدری چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه نزدے ده چه داسے وخت به راشی چه غوره مال دَ مسلمان به ګډے بیزے وی او دَ باران ځایونو نه به ئے بوځی سرونو دَ غرونو ته چه تیخته به کوی په خپل دین سره دَ فتنو نه (بخاری)۔

دا رنګ هغه حدیث چه دَ ټولو فرقو نه ډډه اوکړه اګرچه چک او لګوے په وېخ دَ یو ونے پورے۔ لیکن په دے بانـدے دَ رهبانیت اطلاق لغةً یا مجازاً دے په شرع کښ دیته رهبانیت نه ویلے کیږی دارنګ غارِ حرا ته تلل دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم مخکښ دَ قرآن شورو کیدلو او دَ نبوت نه۔ دویم حالت بغیر دَ ضرورتِ شرعیه نه دَ خلقو نه جدائی اختیارول او عبادت کول او په ځان بانـدے تکلیفونه او ریاضتونه تیرول دا زمونږ پاتے په بل مخ)

په شریعت کښې قطعًا منع دی لکه په حدیث دَ مسند احمد کښې راغلې دی چه رسول الله صلّی الله علیه وسلّم فرمائیلې دی دَ هر امت دَپاره رهبانیت دے او رهبانیت دَ امت زما جهاد فی سبیل الله دے دا حدیث ابن کثیر ذکر کړیدے. او په شریعت دَ عیسیٰ علیه السلام کښې دَ دے په باره کښې اختلاف دے.
یو قول دا دے چه دَ هغوی په شرع کښې دا جائز وؤ او دَ دے یو دلیل هغه توجیه ده چه دَ رهبانیت عطف دے په رأفةً ورحمةً باندے او دا بدعتِ حقیقیه نه دے. دویم دلیل هغه حدیث دَ ابن مسعود رضی الله عنه دے چه مخکښې موتږ ذکر کړے دے او په هغے کښې درے ډلے دَ نجات والو ذکر کړے دی یو پکښې رهبانیت والا دی او دَ دے قول په بِنا سره ویلے شو یدی چه په دے آیت کښې دَ نصاریٰ قباحت په سبب دَ رهبانیت دَ وجے دَ بدعتِ اضافیه نه دے یعنی دَ رهبانیت کیفیت او طریقے او مقصد ئې بدل کړے دے. دویم قول دا دے چه رهبانیت دَ هغوی په دین کښې منع وؤ پشان دَ شریعت زمونږ او دَ دوی یو دلیل دا دے چه رهبانیةً په مخکښې باندے عطف نه دے بلکه اخترعوا او ابتدعوا دَپاره مفعول دے او دا بدعتِ حقیقیه دے او دویم دلیل قول دَ ابن کثیر دے چه هغه ویلے دی چه دا آیت ذم دَ هغوی دے دَ دوؤ وجو نه یو په دے وجے سره چه په دین دَ الله تعالیٰ کښې ابتداع دَ هغه څیز کړیده چه په هغې باندے امر دَ الله تعالیٰ نیشته او دویم دا چه کم څیز چه دوی ګمان کوؤ چه دا قربت دے په هغے باندے قیام اونکړو او دَ هغې لحاظ ئې اونکړو.
دریم دلیل دا دے چه قاسمی دَ مسیحینُ نه نقل کړیدے او دَ هغوی دَ کتاب ریحانة النفوس نه چه رهبانیت په کتاب مقدس کښې نیشته او نه په دے باندے امر شرعی شته دا روستو خلقو دَ خپل وهم نه جوړ کړے دے (دا حاصلِ مضمون دَ هغه دے).
او رهبانیت په روستنی عرف کښې دا دے چه دَ خلقو نه کناره کشی اوکړی او نکاح هم په ځان حرام کړی او نور حلال طیبات هم حرام ګڼړی تر دے پورے چه مونځ دَ جماعت نه کوی غسل هم نه کوی بعضِ ختنه هم نه کوی نشے کوی په غزلو سرودونو سره دَ روح غذا حاصلوی رقص کوی وغیره دا رهبانیت په هر دین کښې حرام قطعی دے. لیکن راهبانو دَ نصاریٰ او

دا رنګ صوفیا او پیرانو دَ دے امت دا طریقه ایجاد کړه او په دے ذریعے سره دَ خلقو نه دنیا حاصلوی او دا هغه دی چه قرآن کریم کښ دَ دوی حالت ئے ذکر کړے دے إِنَّ كَثِيرًا مِّنَ الْأَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ (سورة توبه ۳۴) او په دوی باندے رد دے په سورة مائده ۸۷ کښ۔

دویمه فائده :- په تحقیق دَ بدعت کښ۔ ابْتَدَعُوهَا دَ بدعت نه ماخوذ دے او دا لفظ عربی دے نو په لغت دَ عرب کښ بدعت "پیدا کول دَ هر هغه څیز چه مخکښ ئے نمونه موجوده نه وی" که دنیوی څیز وی او که دینی وی، خه وی او که بد وی ذات وی او که طریقه وی او په دے معنیٰ سره په صفت دَ الله تعالیٰ کښ راغلے دے. بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ۔ او بدعت په اصطلاح دَ شریعت کښ پیدا کول دی په دین کښ دَ هر هغه څیز چه په دلیل شرعی سره دَ دین نه ثابت نه وی او دا تعریف ماخود دے دَ دے حدیث نه مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هَٰذَا مَا لَيْسَ مِنْهُ فَهُوَ رَدٌّ نور عبارتونه دَ علماؤ ډیر دی په تعریف دَ بدعت کښ لیکن دا غوره دے ځکه چه دَ حدیث صحیح دَ الفاظو نه ثابت دے.

بیا دغه څیز (پیدا کړے شوے په دین کښ) عام دے که عمل وی او که قول وی او که عقیده وی او که ذات وی او که کیفیت وی او که مقدار وی او که وخت وی۔ بیا دَ دے تعمیم په وجے سره بدعت دو قسمه دے یو بدعتِ حقیقیه دویم بدعت اضافیه (دَ دے پوره تحقیق سرهٔ دَ مسئلے دَ رهبانیت نه الشاطبی په کتاب الاعتصام ص ۲۸۶ کښ ذکر کړے دے۔

بدعتِ حقیقیه هغه دے چه اصل دَ یو څیز دَ دین نه او ګنړلے شی او حال دا چه هغه دین نه وی لکه رهبانیت په دین زموږ کښ او بنا په یو قول سره په دین دَ عیسیٰ علیه السلام کښ او لکه رقص سرود و نه دوړه باجه وهل دا دَ دین نه نهٔ دے بلکه معصیت دے لیکن بعضِ متصوفه ورته دین او ثواب وئیلے دے۔ او میلاد کښ خو شحالی مناوول او عرسونه کول.

او بدعتِ اضافیه هغه دے چه اصل ئے دَ دین نه وی لیکن کیفیت او طریقه او مقدار او وخت دَ هغے دَ ځان نه جوړ کړے شی او هغے ته ثواب اُوئیلے شی لکه رهبانیت مخترعه په دین دَ عیسیٰ السلام کښ (ر یاتے به بل مخ)

اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَاٰمِنُوْا بِرَسُوْلِهٖ يُؤْتِكُمْ

والو ویره کوئ دَ الله تعالیٰ نه او ایمان راوړئ په رسول دَهغه باندے نو در به کړي تاسو ته

كِفْلَيْنِ مِنْ رَّحْمَتِهٖ وَيَجْعَلْ لَّكُمْ نُوْرًا

دوه اتڼي دَ رحمت خپل نه او پیدا به کړي تاسو لره رڼړا

تَمْشُوْنَ بِهٖ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۸﴾

چه ګرزئ به تاسو په هغے سره او بخنه به اوکړي تاسو ته او الله تعالیٰ بخنه کوونکے رحم کوونکے دے.

په دویم قول سره. او نور مثالونه دَ دے په دے ملت کښ ډیر دی لکه دُعا کانے په هیئتِ اجتماعیه سره په فرض او سنت مونځ پسے یا په جنازو پسے. ختم دَ قرآن دَپاره هیئتِ اجتماعیه جوړول. صدقاتو دَپاره دَ وخت او ورځو تعیین کول لکه دَ جمعے شپه، څلویښتمه یا کال (کلیزه) وغیره.

دیته بدعتِ اضافیه دَ دے وجے نه ویلے کیږي چه دَ اصل دَپاره دلیل شرعي وي لیکن دَ هیئت او کیفیت دَپاره دلیل نیشته او دَ اصل په اثبات سره دَ کیفیت اثبات نه لازمیږي بلکه دَ هغے دَپاره مستقل دلیل ضروري وي لکه دُعا او درود لوستل په شرع کښ ثابت دي لیکن په هغے کښ هیئت اجتماعیه جوړول دَ ثواب دَپاره په شرع کښ ثابت نه دي دَ دے وجے نه دَغه هیئت اجتماعیه ته بدعت اِضافیه ویلے کیږي دَ دے وجے نه ابن مسعود رضی الله عنه په هغه چا باندے رد کړے وو او هغه کار ته ئے بدعت ویلے وو چا چه دَ ذکر کولو خاص هیئت او حلقه جوړه کړے وه لکه اعتصام ص۳۲ ج۱ کښ شامي ص۲۵۵ ج۵ کښ مصنف عبد الرزاق ص۲۲۲ ج۳ کښ لیکلے دي.

۲۸ هر کله چه حال دَ کتابیانو مخکنوئے ذکر کړو په دے قول سره چه وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ فَاسِقُونَ نو په دے ایت کښ هغوی ته دعوت بالرسول ورکوي دَپاره دَ دے چه دَ فسق نه بچ شي. نو يَا أَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوْا نه مراد زاړه مؤمنان دي چه په موسیٰ او عیسیٰ علیهما السلام باندے ایمان راوړے دے او په زمانه دَ اخري رسول کښ موجود وي او دا قول دَ ابن عباس او دَ اکثر سلف صالحینو دے په قرینه دَ سوره قصص ۵۴ سره او حدیث صحیح سره چه په هغے کښ راغلي دي چه درے کسانو ته دوه اجرونه ورکیدلے شي نو یو په هغے

لِّئَلَّا يَعْلَمَ أَهْلُ الْكِتٰبِ أَلَّا يَقْدِرُوْنَ

دَ دے دَپاره چه پوهه نشي كتاب والا چه دوي قدرت نه مومي

عَلٰى شَيْءٍ مِّنْ فَضْلِ اللّٰهِ وَأَنَّ الْفَضْلَ

په هيڅ خيز باندے دَ فضل دَ الله تعالىٰ نه او يقينًا فضل خو

بِيَدِ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ ۭ وَاللّٰهُ

په لاس دَ الله تعالىٰ كښ دے وركوي ئے هغه چاته چه اوغواړي او الله تعالىٰ

كښ كتابي دے چه په خپل نبي ئے ايمان راوړے وي او په آخري نبي صلى الله عليه وسلم باندے هم راوړي. اتَّقُوا اللّٰهَ مراد دَ دے نه دَ عقيدے دَ شرك او تثليث او تشبيه نه ځان ساتل دي كوم چه يهوديانو او نصارىٰ دَ ځان نه جوړ كړے دي وَاٰمِنُوْا بِرَسُوْلِهٖ دا اضافت دَ عهد دَپاره دے معهود په دے سره آخري رسول صلى الله عليه وسلم دے.

يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ كفل په اصل كښ هغه زړے شړئے ته ويلے كيږي چه دَ اوښ په شا باندے غوړوي دَ دے دَپاره چه بنه پرے دَ سورلئے نه او نه غورځيږي او بيا ويلے كيږي برخے او حصے دَ ثواب ته چه انسان لره دَ بد بختے نه بچ ساتي. مراد تر ينه دوچند ثواب دے.

(سوال) دا خو دوه كاره دي ايمان په مخكښ نبي باندے او ايمان په آخري نبي باندے او په دوه نيك عملو خو ضرور دوه ثوابونه ملاويږي نو دَ دوي خصوصيت په څه وجه سره دے؟

(جواب) په دے كښ په هر ايمان باندے مستقل دوه ثوابونه دي ليكن په دے شرط سره چه دويم ايمان ورسره پيوست شي نو گويا كه په دواړه ايمانونو باندے څلور ثوابونه شول. وَيَجْعَلْ لَّكُمْ نُوْرًا مراد دَ دينه هغه نور دے چه په قرآن كريم سره حاصليږي په دُنيا كښ په علومو قرآنيو سره او په آخرت كښ هغه دے چه په دے سورت كښ دوه كرته ذكر شو په ۱۲ او ۱۹ كښ. تَمْشُوْنَ بِهٖ مشي نه مراد په دنيا كښ ژوند تيرول موافق دَ قرآن او سنت سره دي او په مشي كښ اشاره ده بشارت دنيويه ته چه ستاسو دين به غالب وي او شهرت او عزت به مو هم وي او دا سے په سورة انعام ۱۲۲ كښ هم دي. او مثال دَ دے نور ئے په سورة نور ۳۵ كښ هم ذكر كړے دے.

رکوع ۲

ذُوالْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿۲۹﴾ ع

خاوند دَ فضل لوئے دے۔

س۲۹ په دے ایت کښ درے توجیهات دی اوله دا متعلق دَ دے دَ مضمون ایت مخکښی
سره هغه دا چه که چرے تاسو ایمان په دے رسول باندے راوړو نو هغه درے
فائدے به در کړی (چه مخکښ ذکر شوے) دَ دے دَ پاره چه پوهه شی هغه کتابیان
چه ایمان ئے نه دے راوړے چه دوی قادر نه دی په هیڅ فضل دَ الله تعالیٰ یعنی
دغه تیر شوے فائدے۔ بنا په دے توجیه باندے لِئَلَّا کښ حرف دَ لَا زیاتی
دے او دَ فضل الله نه مراد هغه ثوابونه دی چه مخکښ ایت کښ ذکر شویدی
او دَ اهل الکتاب نه مراد هغه کسان دی چه ایمان په اخری رسول باندے نه
راوړی والا یقدرون ضمیر راجع دے دغه کتابیانو ته۔ دَ دویمه توجیه دا ده
چه دا متعلق دے په مقدّر سره چه اَرْسَلْنَا هٰذَا الرَّسُوْلَ فی القرب مِنْ غَيْرِ
اَهْلِ الْكِتَابِ۔ او لَا زیاتی نه دے او ضمیر دَ لا یقدرون نبی صلی الله علیه وسلم
او صحابه کرامو ته راجع دے او دَ فضل نه مراد رسالت او فضیلت دے او نفی چه
په نفی داخله شی نو په معنیٰ کښ اثبات پیدا کوی۔ نو معنیٰ دا شوه چه (دا رسول م په غیر
دَ اهل کتابو کښ) را اولیږلو دَ پاره دَ دے چه پوهه شی کتابیان ټول چه دا نبی او امت دَ
ده وس لری په فضل دَ الله تعالیٰ باندے چه رسالت او فضیلت دے۔ دریمه توجیه
دا ده چه متعلق دے په مقدّر پورے چه دَعَوْنَا اَهْلَ الْكِتَابِ لِلْاِيْمَانِ بِهٰذَا الرَّسُوْلِ۔
او لَا زیاتی نه دے او ضمیر دَ لا یقدرون کتابیانو ته راجع دے خو دَ فضل نه مراد
توفیق دَ جهاد او قتال فی سبیل الله دے او لا په لا باندے داخل شویدے نو ثبوت فائده
کوی او په دیکښ مقصد رد دے په کتابیانو نصاریٰ باندے نو هغوی رهبانیت اختیار
کولو دَ پاره دا بهانه کوله چه اوس خو رسول نیشته او ویل به ئے مشرکینِ عرب
ته چه هرکله اخری رسول را اولیږلے شی نو مونږ به دَ هغه په اقتدا کښ ستاسو سره
جهاد او قتال کوؤ (لکه چه په تفسیر دَ يَسْتَفْتِحُوْنَ عَلَى الَّذِيْنَ كَفَرُوْا کښ تیر
شویدی) نو معنیٰ دا شوه چه (مونږ تاسو له دعوت درکړو چه په دے اخری رسول
باندے ایمان راوړئے) دَ پاره دَ دے چه خبر شی کتابیان (راهبان) چه دوی دَ وس او طاقت
او منډلو په جهاد فی سبیل الله کولو باندے او دا توفیق دَ الله تعالیٰ په لاس کښ دے، ورکوی چه الله تعالیٰ او غواړی۔ ع
ختم شو تفسیر دَ سورة الحدید په توفیق او فضل دَ الله تعالیٰ سره۔

سُوْرَةُ الْمُجَادِلَةِ ۵۸ مَدَنِيَّةٌ ۱۰۵	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰيَاتُهَا ۲۲	رُكُوْعَاتُهَا ۳

قَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّتِيْ تُجَادِلُكَ فِيْ

یقیناً اوریدله الله تعالیٰ وینا دَ هغه زنانه چه بحث ئې کوؤ تا سره په

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة المجادله (په زیر دَ دال او په زور دَ دال دواړو سره) او سورة الظهار او سورة قد سمع هم ورته ویلے کیږي۔

ربط دَ دے سورت دَ ما قبل سره په یو څو طریقو سره دے اوله وجه دا ده چه مخکښ سورت کښ ترغیب وۇ انفاق او جهاد کولو ته دَ پاره دَ اصلاح دَ عالم نو په دے سورت کښ زجر دے په فساد کوؤنکو باندے۔ دویمه طریقه دا ده چه په هغه سورت کښ مختصر ذکر وۇ دَ منافقینو سرهٔ دَ تخویف دَ هغوی نه نو په دے سورة کښ تفصیلي خبائث دَ هغوی ذکر کوی۔ دریمه طریقه په هغه سورت کښ رد وۇ په بدعت دَ کتابیانو باندے نو په دے سورت کښ رد دے په بدعت دَ عوامو دَ جاهلیت باندے چه هغه تحریم دَ ښځے دے په سبب دَ ظهار سره۔

دعوی دَ سورت. زجر او منع ده دَ طریقو دَ فساد چه هغه ئې شپږ ذکر کړے دی۔ ع۱ تحریم په ظهار سره، ع۲ محادّه دَ الله تعالیٰ او دَ رسول سره، ع۳ نجوی په گناه او عدوان سره، ع۴ تحیّه کول په غیر شرعي طریقے سره، ع۵ قسم کول په دروغو سره، ع۶ صد عن سبیل الله۔ او ماخذ دَ دعوے په ۵ او ۲۰ کښ دے۔ او په دے سورت کښ رد دے په شرک فی العلم باندے۔ او اسماء حسنیٰ ئې یوولس ذکر کړے دی۔

خلاصه دَ سورت. دا سورت تقسیم دے دوه بابونو ته اول باب تر ۱۴ پورے دے۔ پدیکښ سبب دَ رد په تحریم بالظهار باندے ذکر کوی۔ بیا رد په تحریم بالظهار او دَ هغې کفّاره ذکر کوی۔ بیا رد دے په محادّه کوؤنکو باندے سرهٔ دَ تخویف نه۔ بیا ئې ذکر کړیدے عموم (پاتے په بل مخ)

الجزء ۲۸

زَوۡجِهَا وَتَشۡتَكِىٓ إِلَى ٱللَّهِ وَٱللَّهُ يَسۡمَعُ

دَ خاوند خپل کښې او ګیله ئې کوله الله تعالیٰ ته (دَ خاوند نه) او الله تعالیٰ اوریدے

تَحَاوُرَكُمَآۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعُۢ بَصِيرٌ ①

خبرے اترے ستاسو یقیناً الله تعالیٰ هر څه اوری هر څه وینی.

دَ علم دَ الله تعالیٰ دَ پاره دَ تخویف دَ نجویٰ کوونکو او ردکوی په نجویٰ غیر شرعی بانسے او په تحیه غیر شرعی بانسے چه ټول اسباب دَ فساد دی بیا ذکرکوی درے قوانین دَ پاره دَ اصلاح دَ ایمان والو چه هغه متعلق دی دَ نجویٰ سره. اول قانون فرق کول په مقصد دَ نجویٰ کښې. دویم ادب دَ مجلس دَ نجویٰ په اکرام دَ ملګرو سره دریم شرط دَ نجویٰ په تصدق مالی سره دَ پاره دَ اخلاص او په هغې کښې تخفیف.

تفسیر: قَدۡ سَمِعَ. سمع صفت دَ الله تعالیٰ دے په معنیٰ ظاهری سره او تشبیه او تمثیل او تکییف او تاویل ته هیڅ حاجت نه لری. او دلته سمع مستلزم دَ قبولیت مراد ده لکه سمع الله لمن حمده کښې. امام بخاریؒ دَ عائشه رضی الله عنها قول ذکرکریدے چه اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِىۡ وَسِعَ سَمۡعُهُ الۡاَصۡوَاتَ لَقَدۡ جَاءَتِ الۡمُجَادِلَةُ تَشۡكُوۡ اِلٰى رَسُوۡلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ وَاَنَا فِىۡ نَاحِيَةِ الۡبَيۡتِ مَا اَسۡمَعُ مَا تَقُوۡلُ فَاَنۡزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰى قَدۡ سَمِعَ الۡاٰيَةَ.

بل روایت کښې دی چه دے اُویل اَللّٰهُمَّ اِنِّىۡ اَشۡكُوۡ اِلَيۡكَ.

قَوۡلَ الَّتِىۡ تُجَادِلُكَ فِىۡ زَوۡجِهَا نوم دَ دے زنانه خولة بنت ثعلبه دے او خولة بنت مالک بن ثعلبه ورته هم ویلے کیږی او دَ خاوند نوم ئے اَوۡس بن صَامِت رضی الله عنه وو او جدال ئے دَ نبی صلی الله علیه وسلم سره په سوال وجواب سره وو چه دے اُویل خاوند ما سره ظهار کړے دے نو رسول الله صلی الله علیه وسلم جواب ورکړو چه ماته په دے باره کښې هیڅ وحی نه ده راغلے بیا هغے اویل چه تاته دَ هرڅیز په باره کښې وحی کیږی نو په دے باره کښې درته ولے وحی نه ده شوے هغه ورته اُویل چه دغه خبره ده چه ما درته اویل.

وَتَشۡتَكِىٓ إِلَى ٱللَّهِ اشتکاء نه مراد خپل غم ښکاره کول دی لکه چه

الَّذِينَ يُظٰهِرُونَ مِنكُم مِّن نِّسَآئِهِم

هغه کسان چه ظهار کوی ستاسو نه دَ زنانو خپلو سره

مَّا هُنَّ أُمَّهٰتِهِمْ ۖ إِنْ أُمَّهٰتُهُمْ إِلَّا الّٰٓئِى

نه دی دوی مائندے دَ هغوی نه دی دَ دوی مائندے مگر هغه دی

وَلَدْنَهُمْ ۚ وَإِنَّهُمْ لَيَقُولُونَ مُنكَرًا مِّنَ

چه زیګولے دی دوی لره. او یقیناً دوی ضرور وائی بد دَ

الْقَوْلِ وَزُورًا ۚ وَإِنَّ اللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٌ ۝٢

وینا نه او دروغ او یقیناً الله تعالیٰ ضرور معافی کوونکے بخنه کوونکے دے.

یعقوب علیه السلام فرمائیلی وو انما اشکوا بثی وحزنی الی الله سورۃ یوسف ۸۶
دارنګ مخکښ یو روایت کښ ذکر شول چه دے زنانه هم ویلی وو اللهم اشکوا لیك
نومعلومه شوه چه دَ بخاری په روایت کښ تشکوا الیٰ رسول الله مجازاً ویلے شویدی
مراد دَ هغے نه جدال کول دی دَ نبی صلی الله علیه وسلم سره.
والله یسمع تحاورکما دا قرینه ده چه مراد دَ تجادلك نه محاوره کول دی جګړه کول
مراد نه دی. لیکن هرکله چه دَ زنانه دَ طرف نه په لهجه کښ سختی ده دَ وجے دَ
خفګان دَ هغے نه دَ دے وجے نه هغے ته جدال اُویلے شو.
۲ په دیکښ رد دے په رسم دَ جاهلیت باندے او هغه سبب دَ فساد او دَ تفرق
وو هغه دا چه چا به خپلے ښځے ته اُویل چه ته په ما باندے زما دَ مور دَ شا پشان یې
نو هغه به دوی پشان دَ مور همیشه حرامه ګنړله او طلاق ایدی به یې ګنړلو او
رد یې په درے طریقو سره کړیدے یو دا چه اِنْ اُمَّهٰتُهُمْ الخ دویم مُنكَرًا مِّنَ
الْقَوْلِ، دریم زُورًا - يُظٰهِرُونَ دا دَ ظهار نه ماخوذ دے او ظهار دَ ظهر نه دے
ظهر په اصل کښ ملا (شا) ته ویلے شی او دا کنایه وی دَ سورلئ نه او دَ سورلئ
نه مراد جماع کول وو. او دَ دے الفاظ اتفاقیه دا وی چه اُوائی ښځے ته انتِ
عَلَیَّ کظهر اُمّی او دارنګ دَ مور په ځائے چه نیا ذکر کړی. او که چرے لور یا خور
یا نور محرومات سره تشبیه ورکړی نو په هغے کښ دَ اهلِ علم اختلاف دے
ابن کثیر ویلے دی چه صحیح دا ده چه په هغے سره هم ظهار (پاتے په بل مخ)

وَالَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْ نِّسَآئِهِمْ ثُمَّ

او هغه کسان چه ظهار کوي د زنانو خپلو سره بيا

يَعُوْدُوْنَ لِمَا قَالُوْا فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مِّنْ

واپس کيږي (ماتولو د) هغه خبرے ته چه دوي ويلے وي نو ازادول د مريئ دي

قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا ؕ ذٰلِكُمْ تُوْعَظُوْنَ

مخکښ د يو ځائے کيدلو د دوي نه دا وعظ درکيديشي تاسو ته

بِهٖ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ۝۳ فَمَنْ لَّمْ

پدے سره او الله تعالیٰ ستاسو په عملونو باندے خبردارے دے. نو څوک چه نه

لاندميږي مِنْكُمْ دالفظ دليل دے چه ظهار صرف د سړي حق دے پشان د طلاق، اوهغه قول صحيح نه دے چه څوک وائي چه د ښځے د جانب نه هم ظهار کيدے شي. مِنْ نِّسَآئِكُمْ مراد ترينه زوجات دي نو دا دليل دے چه د خپلے وينځے سره ظهار نشي کيدے. منكرا من القول يعني دا شرعًا ناجائز دے او اهل عقل هم بدګڼړي وَزُوْرًا يعني د حقيقت (واقع) نه مخالف دے ځکه دا چه جمله خبريه شي نو ښځه خو مور نه ده او که جمله انشائيه شي تو ښځه مستقبل کښ هم د خاوند د پاره مور نشي کيدے. وَاِنَّ اللّٰهَ لَعَفُوٌّ غَفُوْرٌ، عفو په مقابل د منكر او غفور په مقابل د زور کښ دے په دے شرط سره چه کفاره ورکړي او توبه اوباسي.

۳ پدے ايت کښ تفصيل د کفارے د ظهار دے يعني په ظهار سره ابدي تحريم نه راځي بلکه کفاره فقط لاذميږي.

ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ لِمَا قَالُوْا پديکښ احتمالات مفسرينو ليکلے دي اول دا چه ددے لفظ تکرار اوکړي دا عود دے دويم دا چه جاهليت کښ ئے کړے وي او بيا ئے په اسلام کښ اوکړي. دريم دا چه اراده د جماع اوکړي د پاره د تحليل او مراد د لِمَا قَالُوْا نه لِنَقْضِ ما قالوا دے يا په عبارت کښ تقدير دے يعني يَعُوْدُوْنَ لِتَحْلِيْلَ مَا حَرَّمُوْا. څلورم دا چه عود دا دے چه دومره زمانه ئے روستو د ظهار نه اوساتي چه طلاق پکښ ورکيديشي ليکن طلاق ورنکړي.

يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ مِنْ

مخکښې پسے پـرله دوه میاشتې نیول دی روژے نو د وس د سړی (ازادولو)

قَبْلِ أَنْ يَتَمَاسَّا ۚ فَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ

د یوځائے کیدلو د دواړو نه نو څوک چه وس نه لری (د روژو نیولو)

فَإِطْعَامُ سِتِّينَ مِسْكِينًا ۚ ذَٰلِكَ لِتُؤْمِنُوا

نو خوراک ورکول دی شپیته مسکینانو ته دا د دے دپاره چه ایمان راوړئے تاسو

بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ۚ وَتِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ ۗ وَلِلْكَافِرِينَ

په الله تعالیٰ او په رسول د هغه باندے او دا پولے د الله تعالیٰ دی او خاص کافرانو له

عَذَابٌ أَلِيمٌ ۝٤ إِنَّ الَّذِينَ يُحَادُّونَ اللَّهَ

عذاب دردناک دے. یقیناً هغه کسان چه خلاف کوی د پولو د الله تعالیٰ

مِنْ قَبْلِ أَنْ يَتَمَاسَّا مراد د مس نه جماع ده او قُبُل او لمس په لاس سره هم پدیکښې داخل دی. لیکن که چرے جماع وغیره ئے د کفارے نه وړاندے کړے وی نو صحیح دا ده چه استغفار دِ غواړی او کفاره به یوه وی.

تُوعَظُونَ بِهِ اه وعظ زجر او منع ته ویلے کیږی یعنی کفاره کښې مقصد زجر هم دے او مغفرت هم دے.

کفاره په دے ترتیب سره ضروری ده اول تحریر د رقبے چه په هغے باندے قدرت نه وی نو روژے دوه میاشتے او چه د هغے وس نه وی نو طعام ورکول شپیته مسکینانو ته. تفصیلی مسائل د دے تفسیر قرطبی کښې او دا رنګ په کتابونو د محدثینو او فقهاؤ کښې ذکر دی.

فائده:۔ د تحریر رقبه سره فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ او د صیام سره ئے فَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ ذکر کړے دے ځکه وَجَدَ اکثر د مالی قوت سره ذکر کیږی لکه سورة طلاق کښې او استطاعت اکثر ذکر کیږی په بدنی طاقت کښې.

ذَٰلِكَ لِتُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ. کفاره ورکول په دے ترتیب سره. او دا رنګ د ظهار د قول نه ځان بچ کول. او د وخت د کفارے راپاتے په بل مخ)

وَرَسُوْلَهٗ كُبِتُوْا كَمَا كُبِتَ الَّذِيْنَ مِنْ

او دَ رسول دَ هغه نه ذلیل کړے شویدی لکه چه ذلیل کړے شویدی هغه کسان چه

قَبْلِهِمْ وَقَدْ اَنْزَلْنَاۤ اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ ؕ وَلِلْكٰفِرِيْنَ

دَ دوی نه مخکښ وو او یقیناً نازل کړے دی موږ ایاتونه واضح او خاص کافرانو لره

عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ۚ ⑤ يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ

عذاب رسوا کوونکے دے. په هغه ورځ چه راپورته به کړی دوی لره الله تعالیٰ

پورے ځان دَ مِساس (جماع) نه ساتل دا ټول یئے ذکر کړه په تعبیر دَ ایمان سره نو معلومه شوه چه اعمال هم ایمان دے. وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ حد هغه وی چه تعین یئے کړے شوے وی او دَ هغے دَ وجې نه زیاتے او کمے کول په هغے کښ منع وی نو احکامو دَ الله تعالیٰ کښ هم زیاتے کول په ابتداع سره او کمے کول په فِسق سره حرام دی.

وَلِلْكٰفِرِيْنَ یعنی څوک چه دَ حدودو دَ الله تعالیٰ نه انکار کوی نو هغه کافر حقیقی دے او څوک چه انکار نه کوی لیکن په هغے باندے عمل نه کوی نو کافر حکمی دے په دے لفظ کښ دواړو مرتبو دَ کفر ته اشاره ده.

ف۵ دَ حدودو دَ ذکر نه روستو مخالفت کوونکی دَ حدودو ته تخویف ورکوی. يُحَآدُّوْنَ محادّه مخالفت کول دَ حدودو شرعیه او دَ ځان نه حدود مقرر کولو ته ویلے کیږی او حدود لفظ عام دے هغه سزاګانو ته شامل دے چه شرع مقرر کړیدی لکه حد دَ زِنا په سَل دورو وهلو یا په رجم کولو او حد دَ سرقے (غلا) په لاس پریکولو او حد دَ قذف (تهمت دَ زنا کارئے) په اتیا دورو وهلو او قصاص او دا رنګ شامل دے ټولو احکامو ته چه په کتاب الله او په صحیح حدیث سره ثابت وی. مفسر آلوسی په روح المعانی کښ تفصیلی بحث لیکلے دے چه دَ هغے حاصل دا دے چه په دے ایت کښ سخت وعید دے بادشاهان او اُمراء سوء لره چه مخالف دَ حدود شرعیو نه دَ ځان نه احکام مقرره وی او هغے ته دَ قانون نوم ورکوی. بیا یئے ویلے دی چه هر کله دَ قانون او شرع په مینځ کښ مقابله راشی نو هغه څوک چه قانون غوره ګڼړی نو هغه کافر دے لیکن په دے شرط سره چه قانون ته خائسته وائی او دَ

جَمِيْعًا فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا ۗ اَحْصٰىهُ اللّٰهُ

تول نو خبر به ورکړی دوی لره په عملونو د دوی ، راګیر کړے دی هغه الله تعالیٰ

حکمت سره موافق او فائده مند ګڼړی او امر شرعی ته بد ګوری او وائی دا د انسانی مصلحت سره موافق نه دے۔ هاں هغه امور سیاسیه انتظامیه د تعزیرات یا د فوجی نظام باره کښ چه اصحاب الرای ئے جوړوی او د شریعت د اصولو سره ئے مصادمة (ټکراؤ) نه وی یا صرف د فقهی اجتهادی اصولو نه مخالف وی نو هغه جائز دی۔ په دے باب کښ د شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله کتاب السیاست الشرعیه کتل پکار دی۔

فائده:۔ محادہ اکثر په باره د منافقینو کښ ذکر کیږی لکه سورة توبه ۶۳ ځکه چه په دے کښ مخالفت کول دی لیکن په پټه بانده او مشاقه اکثر په باره د ښکاره کفر کوؤنکو کښ ذکر کیږی لکه سورة حشر ۴ کښ او سورة انفال ۱۳ کښ۔ او مبتدعین هم د دے ایت په مصداق کښ داخل دی ځکه چه مبتدع هم وخت یا کیفیت او مقدار د عبادا تو د خپل ځان نه دا سے جوړوی چه په شریعت کښ د هغے ثبوت نه وی۔ کُبِتُوْا اه کبت په معنیٰ د ذلت او د شرمنده کیدے او د هلاکت او د لعنت او پرمخے غورځیدلو راځی۔ او دا جمله خبریه ده په معنیٰ د مستقبل سره یا جمله دُعائیه ده په طریقه د تعلیم بندګانو ته۔ کَمَا كُبِتَ الَّذِيْنَ اه مراد د دے نه هغه یهودیان دی چه د هغوی د ذلیل کیدلو ذکر سورة بقرا و سورة نساء کښ تیر شوید ے او سورة حشر کښ هم راځی۔

وَقَدْ اَنْزَلْنَا اٰيٰتٍ بَيِّنٰتٍ مراد د دے نه احکام او حدود الٰهیه دی چه محادین د هغے مخالفت کوی۔

وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ تیر شوی ایت کښ الکافرین نه مراد منکرین د حکم شرعی د ظهار وؤ او دلته مراد ترینه منکرین د حدود الله عموماً دی او په دے ایت کښ ذلت دنیویه د هغوی ئے ذکر کړے دے نو د هغے په مناسبت سره عذاب مهین ذکر کړے شو۔

وَنَسُوْهُ ۭ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ۝ ع

او دوی هیر کړیدی او الله تعالیٰ په هر څیز باندے حاضر دے.

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ

آیا ته نه ګورے چه یقیناً الله تعالیٰ عالم دے په هغه څیزونو چه په آسمانونو کښ دی

وَمَا فِي الْاَرْضِ ۭ مَا يَكُوْنُ مِنْ نَّجْوٰى

او په هغه څیزونو چه په زمکه کښ دی نه کیږی هیڅ جرګه

ثَلٰثَةٍ اِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ وَلَا خَمْسَةٍ اِلَّا هُوَ

د درے کسانو مګر الله تعالیٰ څلورم د هغې دے او نه د پنځه کسانو مګر هغه ئې

سَادِسُهُمْ وَلَآ اَدْنٰى مِنْ ذٰلِكَ وَلَآ اَكْثَرَ

شپږم دے او نه کم د دے نه او نه زیات

اِلَّا هُوَ مَعَهُمْ اَيْنَ مَا كَانُوْا ۚ ثُمَّ يُنَبِّئُهُمْ

مګر هغه د دوی سره وی هر ځائے چه دوی وی بیا به خبر ورکړی دوی لره

ے دا هم تخویف کښ داخل دے فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا عَمِلُوْا اشاره ده چه محادینو اګر چه په دُنیا کښ مخالفت پټ کوؤ لیکن په ورځ د قیامت به ئې الله تعالیٰ ښکاره کړی۔ اَحْصٰىهُ اللّٰهُ اه دا دلیل د ینبئهم دے احصاء په معنیٰ د شماره کښ راګیرولو دے چه یو ترینه هم پاتے نشی.

وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ د مشاهدے نه ماخوذ دے په معنیٰ د نظر کوؤنکی یا د شهود نه ماخوذ دے په معنیٰ د حضور او د علم یعنی حاضر ناظر او عالم دے.

بِمَا عَمِلُوْا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ

په هغه عملونو چه دوی کړیدی په ورځ دَ قیامت یقیناً الله تعالیٰ په هر څیز بانده

عَلِيْمٌ ۞ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ نُهُوْا عَنِ النَّجْوٰى

پوهه دے. ایا ته نه ګورے هغه کسانو ته چه منع کړے شویدی دَ جرګو کولو نه

ے دا تائید دے دَ ماقبل (وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ) او تنبیه ده چه نجوی کولو کښ دَ الله تعالیٰ نه ویره کوئے یعنی په ګناه سره جرګے مکوئے الله تعالیٰ تاسو بانده عالم دے. په دے ایت کښ په اوله جمله کښ عمومی علم دَ الله تعالیٰ ئے بیان کړو په اعتبار دَ مکانا تو سره یعنی علم دَ الله تعالیٰ په یو مکان پورے خاص نه دے او په دویمه جمله کښ عموم دَ علم دَ الله تعالیٰ ذکر کوی په اعتبار دَ شمار دَ خلقو سره په وخت دَ جرګه کولو کښ. او په دریمه جمله کښ تنبیه ده په جزا ورکولو سره په ورځ دَ قیامت کښ او په څلورمه جمله کښ عموم دَ صفت دَ الله تعالیٰ دے هر څیز ته که مکان وی که زمان وی که عدد وی که قول وی او که عمل وی که ماضی وی او که حال وی یا مستقبل وی وغیره.

مَا يَكُوْنُ مِنْ نَّجْوٰى مَا نافیه دے. يَكُوْنُ دا كان مَا ته په معنیٰ دَ وجود دے. مِنْ نَّجْوٰى مِنْ دَ تعمیم دَ نفی دَ پاره دے نَجْوٰى مصدر دے جرګه کولو ته ویلے کیږی. او مضاف دے ثَلٰثَةٍ ته یا مضاف محذوف دے یعنی اهل نجویٰ او ثلثة صفت دے او نجویٰ او سِر کښ یو فرق دے چه سِرّ پټ راز ساتل دَ ځان سره او نجویٰ مشوره کول دَ بل چا سره په پټه بانده دَ نورو خلقو نه. بل فرق دا دے چه سِر دَ دوه کسانو په مینځ کښ او نجویٰ دَ دوؤ نه دَ ډیرو کسانو په مینځ کښ کیدیشی.

ثَلٰثَةٍ او خَمْسَةٍ تخصیص ئے دَ دے وجے نه اوکړو چه اکثر وخت جرګه کښ دوه طرفونه وی او یو پکښ فیصله کوؤنکی پکار وی نو دَ هغے ادنیٰ عدد درے شول او ورپسے پنځه شول او که کم وی او که زیات وی په سبب دَ ضرورت سره نو هغه ئے په وَلَا اَدْنٰى مِنْ ذٰلِكَ وَلَا اَكْثَرَ سره ذکر کړو او بله وجه دا ده چه غوره عدد وتر دے په نسبت دَ زوج سره.

اِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ الخ ثَالِثُهُمْ ئے نه دے ویلے اشاره ده (رپاتے په بل مخ)

ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ لِمَا نُهُوْا عَنْهُ وَيَتَنَاجَوْنَ

بیا راګرځي هغه کار ته چه منع شوي دي دَ هغې نه او جرګې کوي

بِالْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَمَعْصِيَتِ الرَّسُوْلِ

په ګناه او ظلم او په نافرمانئ دَ رسول سره

وَإِذَا جَآءُوْكَ حَيَّوْكَ بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ اللّٰهُ

او هر کله چه دوی تا ته راځي نو سلام کوي تا ته په هغه طريقه چه سلام نه دے خودلے په هغې سره الله تعالیٰ

وَيَقُوْلُوْنَ فِيْٓ أَنْفُسِهِمْ لَوْلَا يُعَذِّبُنَا اللّٰهُ

او دوی وائي په خپلو زړونو کښ ولے سزا نه راکوي مونږ ته الله تعالیٰ

بِمَا نَقُوْلُ ۭ حَسْبُهُمْ جَهَنَّمُ ۚ يَصْلَوْنَهَا ۚ

دَ هغه چه مونږ وايو. پوره دے دوی لره جهنم ورننوځي به دوی هغې ته

فَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿۸﴾ يٰٓأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا

نو بد ځائے د ورتللو دے - اے ايمان والو

چه الله تعالیٰ دَ مخلوق دَ جنس نه نه دے بلکه دَ دوی نه غير دے لکه څلورم چه دَ دريو نه غير وی او مراد دَ دے نه عدد کښ واقع کيدل نه دی بلکه معيت مراد دے لکه چه ورپسے مَعَهُمْ ئے ذکر کړے دے او پدے ذکر کولو کښ اشاره ده چه په جرګه دَ ثلاثه کښ (مثلاً) دوه تنه خبرے کوی او دريم يو ځائے پاتے شی نو الله تعالیٰ هغه ته تسلی ورکوی چه څه تا سره ملګرے يم - او تفصيل دَ معيت په تفسير دَ سورة حديد کښ تير شويدے او دَ دے په تفسير کښ ابن جرير ليکلی دی چه ضحاکؒ ويلی دی چه الله تعالیٰ دَ عرش دَ پاسه دے او علم ئے دَ مخلوق سره وی کے په هر ځائے کښ دوی موجود وی او ابن کثيرؓ ويلی دی اجماع ده په دے خبره باندے چه مراد پدے ايت سره معيّت دَ علم دَ الله تعالیٰ دے او پديکښ شک نيشته او سمع دَ الله تعالیٰ سره ئے دَ علم نه محيط ده په دوی باندے او بصر دَ هغه نافذ دے په ټول مخلوق کښ. او امام احمدؒ ويلی دی چه دا ايت ئے په علم سره شورو کړيدے او په علم سره ئے ختم کړيدے.

۸ هر کله چه تير شوی ايت کښ تنبيه ذکر کړه چه جرګے کولو کښ الله تعالیٰ حاضر ناظر

إِذَا تَنَاجَيْتُمْ فَلَا تَتَنَاجَوْا بِالْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ

هر کله چه جرگے کوئے تاسو نو جرگے مه کوئے په گناه او ظلم سره

وَمَعْصِيَتِ الرَّسُولِ وَتَنَاجَوْا بِالْبِرِّ

او په نافرمانے دَ رسول سره او جرگے کوئے په نیکئ کولو

اوګڼړئ یعنی ناجائز جرگے مه کوئے نو اوس پدیکښ زجر دے په څلورو کارونو دَ مفسدانو سره. اول عود نجویٰ منهی عنه ته. دویم تناجی دَ پاره ناجائز کارونو. دریم سلام کول خلاف دَ سنت ته. څلورم ځان دَ ګناه او دَ عذاب نه پاک ګڼړل. او دا کارونه منافقانو یهودیانو فاسقانو کافرانو ټولو کښ موجودیږی نو ایت ټولو ته شامل دے نُهُوا عَنِ النَّجْوٰی دا نهی په سورة نساء ۱۱۴ کښ هم ده او دا رنګ ابن کثیر حدیث ذکر کړے دے چه په هغے کښ نهی دَ نجویٰ نه موجود ده او النجوی کښ الف لام عهدی دی یعنی نجوی دَ معصیت او دَ مؤمنانو دَ خفه کولو دَ پاره.

بِالْإِثْمِ مراد دَ دے نه هر هغه ګناه ده چه دَ حقوق الله سره تعلق لری لکه کفر، شرك، دروغ ویل او بدکاری وغیره.

وَالْعُدْوَانِ هغه ګناه ده چه حقوق دَ بندګانو سره تعلق لری لکه ظلم کول، بهتان تړل، غیبت کول، مال دَ غیر غصب کول وغیره.

وَمَعْصِيَتِ الرَّسُولِ هر هغه ګناه ده چه حق دَ پیغمبر سره تعلق لری لکه دَ هغه دَ سنت نه مخالفت کول، دَ هغه بے ادبی کول، بدعات او رسمونه رواجونه کول.

حَيَّوْكَ بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ اللهُ دا شامل دے هغه الفاظ او طریقے دَ سلام ته چه دَ شرع نه خلاف وی لکه لفظ السَّامُ عَلَيْكَ، په خیر راغلے، په خه چارشے. أَنْعِمْ صَبَاحًا (صبا دِ خه شه)، ورځ دِ خه شه یا په ګوتو او په لاس اوچتولو سره سلام کافی ګڼړل او ابتداء په السّلام علیکم سره نه کول. او په دا سے حالت کښ هغه حقدار دَ جواب دَ سلام نه دے. يُحَيِّكَ بِهِ اللهُ الله تعالی تحیه په لفظ دَ سلام سره ذکر کړیده لکه سَلٰمٌ عَلٰی عِبَادِهِ الَّذِیْنَ اصْطَفٰی. وَسَلٰمٌ عَلَى المرسلين. وَيَقُولُونَ لَوْلَا اه مقصد دا دے چه دا (بے ادبی دَ نبی صلی الله علیه وسلم) ګناه نه ګڼړی ځکه چه تر اوسه پورے په دوی باندے عذاب نه دے راغلے. بِمَا نَقُولُ مراد دَ دے نه ناجائز تناجی، او تحریف په سلام کښ دے.

وَالتَّقْوٰى ۖ وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْٓ اِلَيْهِ

او تقویٰ سره ۔ او ویره کوئ د الله تعالیٰ نه هغه ذات چه هغه ته به

تُحْشَرُوْنَ ⑨ اِنَّمَا النَّجْوٰى مِنَ الشَّيْطٰنِ

جمع کړے شئ تاسو ۔ یقینًا دا قسم جرګے د شیطان (په وسوسے سره دی)

لِيَحْزُنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَيْسَ بِضَآرِّهِمْ

د دے د پاره چه غمژن کړی مؤمنانو لره او نه دی ضرر ورکوونکی مؤمنانو ته

سو روستو د زجر ورکولو نه مفسدانو ته په ناجائز تناجی کولو مؤمنانو لره اول قانون اصلاحی د تناجی په باره کښ ذکر کوی ۔ حاصل دا دے چه کله مؤمنان یو جرګه، اجلاس، میټنګ کوی یا یو اجلاس ته راوبللے شی نو ضروری دا ده چه د ناجائز اجلاس کولو او د هغے د شرکت نه د ځان بچ او ساتی ۔ اِذَا تَنَاجَيْتُمْ په دے شرطګولو کښ اشاره ده چه تناجی کول مامور به نه ده لیکن که چرے ضرورت پریوځی نو تناجی کښ د ادب لحاظ اوکړئ ۔ بِالْبِرِّ وَالتَّقْوٰى بِرّ اشاره ده امتثال د ماموراتو ته او تقوی اشاره ده اجتناب د منهیاتو ته یا بِرّ احسان کول د مخلوق سره او تقویٰ حقوق الله ته اشاره ده ۔

فائده ۱: په سورة نساء ۱۱۴ کښ استثناء ئے کړے ده په نجویٰ کولو کښ د درے ماموراتو نه او په دے ایت کښ امر دے په دوه اعمالو سره وجه دا ده چه په سورة النساء کښ (يُبَيِّتُوْنَ مَا لَا يَرْضٰى مِنَ الْقَوْلِ) ذکر کړے دے یعنی د منافقانو جرګے په باره د اقوالو کښ او امر کول هم د قبیلے د اقوالو نه دے نو هغه سورت کښ (اِلَّا مَنْ اَمَرَ) سره درے مامورات ذکر کړل او په دے سورت کښ ئے محادده ذکر کړے ده او محادده کول عمل دے او بِرّ او تقوی د محادے نه خلاف عمل کول دی نو دلته دا دواړه عملونه د تناجی د پاره خاص کړل ، بیا وجه د فرق دا ده چه په هغه سورت کښ د منافقانو په نجویٰ کولو باندے رد کول مقصد دے او د منافقانو عادت دا دے چه امر کوی په بخل کولو او په منکر سره او د خلقو په مینځ کښ فساد پیدا کوی نو هلته ئے د هغے مقابل خیزونه ذکر کړل یعنی امر په صدقه کولو او معروف او اصلاح کول ۔ او په دے سورت کښ مؤمنانو ته خطاب دے او د ایمان سره مناسب دوه کارونه دی بِرّ او تقویٰ ۔

شَيْـًٔا اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ ۭ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ

هیڅ ضرر مګر په حکم دَ الله تعالیٰ سره او خاص په الله تعالیٰ باندے توکّل کوی

الْمُؤْمِنُوْنَ ⑩ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا قِيْلَ

مؤمنان - اے ایمان والو کوم وخت چه اویلے شی

لَكُمْ تَفَسَّحُوْا فِي الْمَجٰلِسِ فَافْسَحُوْا

تاسو ته ځائے پریږدئے یو بل ته په ځایونو دَ ناسته کښں نو ځائے پریږدئے

يَفْسَحِ اللّٰهُ لَكُمْ ۚ وَاِذَا قِيْلَ انْشُزُوْا

ځائے به فراخ کړی الله تعالیٰ تاسو لره او کوم وخت چه اویلے شی پاسے دَ خپل ځائے نه

فَانْشُزُوْا يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ ۙ

نو پاسے او چتوی الله تعالیٰ مؤمنانو لره ستاسو نه

وَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ ۭ وَاللّٰهُ

او هغه کسان چه علم ورکړے شویدے په ډیرو درجو سره او الله تعالیٰ

ف: په دے کښں رد دے په بے ضرورته جرګے کولو باندے او هغه جرګے کول د منافقانو دی په مخالفت دَ مؤمنانو کښں۔ اِنَّمَا النَّجْوٰى الف لام عهدی دی یعنی نجوی مذمومه چه اثم، عدوان او معصیت سره وی او داخل ده په دے کښں هغه چه په حدیث مسلم کښں دَ هغے نه نهی کړے شویده چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلے دی "چه هر کله تاسو درے کسان یئ نو دوه تنه دِ بغیر دَ دریم نه تناجی (جرګه) نه کوی دے دَ پاره چه هغه دریم غمژن نه شی"۔ او قرطبی ویلے دی چه تخصیص په درے پورے نیشته ډیرو ته هم شامل دے۔ لِيَحْزُنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا یعنی منافقان چه هر کله جرګه کوی نو ضرور دَ مؤمنانو په مخالفت کښں یئے کوی هغوی ته دَ ضرر رسولو دَ پاره یئے کوی۔ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ اه یعنی هر کله چه مؤمنان دَ هغوی دَ جرګو نه خه ویره محسوسه کړی نو دَ هغوی دَ شر نه دِ پناه غواړی او په الله تعالیٰ باندے دِ ځان اوسپاری او دَ الله تعالیٰ دَ مدد انتظار دِ ے کوی۔

بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ⑪ يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

ستاسو په عملونو باندے خبردار دے. اے ایمان والو

سلا دا دویم ادب دَ مؤمنانو دَپاره دَ مجلس دَ تناجی سره متعلق دے چه په دیکښ امر دے په اکرام او عزت دَ ملګرو دَ ایمان دَ وجے نه او دَ اهل علمو زیات اکرام او عزت کول - او په دیکښ اشاره ده چه دَ مجلس او جماعت شرکاء به مساوی نه ګڼړئ بلکه علم والو له به افضله مرتبه او عهده ورکیدیشی -
اِذَا قِيْلَ لَكُمْ تَفَسَّحُوْا فِي الْمَجٰلِسِ اه تَفَسَّحُ نه مراد دا دے چه په خپل ځائے باندے داسے کینی چه دَ بل ملګری ځائے بند نه کړی دا معنیٰ نه ده چه فراخ او کھلاؤ کینی او دَ بل چا دَ کیناستلو ځائے بند کړی - الْمَجٰلِسِ دَ دے نه مراد عام مجالس دَ ذکر او دَ خطبے او ریدلو دی او مجلس دَ مشورے کولو او مجلس دَ درسونو وغیره دی - يَفْسَحِ اللهُ لَكُمْ فراخئ دَ دُنیا او آخرت ته شامل دے او هر کله چه جزاء دَ عمل دَ جنس نه وی نو دَ جزا نه ئے تعبیر او کړو په یفسح سره - او حدیث صحیح کښ هم راغلی دی چه یو شخص دِ بل چا لره دَ مجلس نه په دے مقصد باندے نه پاسوی چه دَ هغه په ځائے باندے پخپله کینی - او بل حدیث کښ وارد دی چه هر کله یو شخص دَ خپل ځائے نه (دَ څه ضرورت) دَ پاره پاسیږی او اراده دَ واپسے لری نو بل شخص دِ دَ هغه په ځائے باندے نه کینی -
وَاِذَا قِيْلَ انْشُزُوْا اه مراد دَ دے دا دے چه امیر مجلس چا ته امر او کړی چه دَ خپل ځائے نه پورته شه دَ دے دَ پاره چه مشر سړی له ځائے ورکړی نو دا شخص به دا امر منی او دا رنګ چه امر او کړی دَ مانځه دَ پاره ، جهاد دَ پاره ، بل څه کار خیر دَ پاره چه دَ خپل ځائے نه اودریږئ نو دا امر به هم منلے کیږی -
فائده :- راتلونکی شخص دَ پاره اودریدلو کښ اختلاف دے دَ اهل علمو - دَ وجے دَ احادیثو مختلفو نه بعض اهل علم دَ جواز مطلقاً قائل دی او بعض مطلقاً منع کوی او بعضو پکښ تفصیل کړیدے او دا غوره دے تفصیل دا دے چه دَ سفر نه راشی یا حاکم په ځائے دَ ولایت خپل کښ وی نو هغوی ته قیام جائز دے او نورچا ته نه دے جائز - او دا رنګ څوک چه په دے قیام خوشحالیږی یا څوک چه دَ دے نه دَ خپل ځان دَ پاره منع کوی او په هغے خفه کیږی لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم نو هغه دَ پاره قیام منعه دے - دا رنګ چه یو شخص دَ ځان دَ پاره منع کړے وه

إِذَا نَاجَيْتُمُ الرَّسُولَ فَقَدِّمُوا بَيْنَ يَدَيْ

هر کله چه جرګه کول غواړئ د رسول صلی الله علیه وسلم سره نو اولیږئ مخکښ دَ

ناست وی او بل شخص ورته بے ضرورته ولاړ وی او دے په هغے باندے خوشحاله وی نو دا ناجائز دے او دا رنګ دَ دے عادت جوړول هم منع دی او ابن حجر دَ ابن رشد نه نقل کړیدی چه قیام په څلور قسمه دے اول قسم حرام دے هغه داچه یو شخص غواړی دَ وجے دَ تکبر نه چه ما ته دِ قیام اوکړے شی دویم قسم مکروه دے هغه داچه یو شخص قیام په دے وجے سره بد ګڼړی چه متکبرینو سره تشبیه راشی او یا زما په زړه کښ تکبر پیدا شی دریم قسم جائز دے هغه داچه یو شخص قیام دَ خلقو نه نهٔ غواړی او دَ هغه دَ اکرام او دَ پِرّ دَ وجے نه هغه ته قیام اوکړے شی څلورم قِسم مستحب دے هغه قیام دَ هغه چا دَ پاره دے چه دَ سفر نه راشی یا هغه خوک چه هغه ته په څه نعمت باندے مبارکی ورکیدے شی یا په څه مصیبت کښ تعزیه ورکیدے شی. (زیات تفصیل فتح الباری صـ۵۴ جلد ۱۱ کښ دے)

يَرْفَعِ اللهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا دا جواب دَ امر (فانشزوا) دے او جزاء دَ جنس دَ عمل نه وی یعنی چه تاسو په امر دَ شرع پورته شئ نو الله تعالیٰ به تاسو په شرط دَ ایمان سره پورته کړی او اشاره ده چه ایمان سبب دَ رفعت دے ۔

وَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ په دے کښ دوه توجیه دی اول داچه په کلام کښ تقدیر دے يَرْفَعُ اللهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فِي الْكَرَامَةِ فِي الدُّنْيَا وَالثَّوَابِ فِي الْاٰخِرَةِ وَيَرْفَعُ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ كَثِيْرَةٍ عَلٰى عَامَّةِ الْمُؤْمِنِيْنَ۔ یعنی اول رفعت په ایمان سره دے بیا ډیرے درجے او رفعت په علم سره دے. او اشاره ده چه رفعت په نیز دَ الله تعالیٰ په ایمان او په عِلم سره دے نه په سبقیت دَ مجالسو سره ۔

دویم توجیه داچه والذین رو ستنے عطف دے په والذین مخکنی باندے او یوه جمله ده معنیٰ دا چه پورته کوی الله تعالیٰ هغه کسان چه ایمان ئے راوړے وی او عالمان هم وی په ډیرو درجاتو سره ، لیکن اوله توجیه غوره ده په سبب دَ تکرار دَ موصول سره ۔ او دَ دے ایت په تفسیر کښ ابن کثیر، قرطبی، شربینی ، الوسی دَ علم فضیلت په تفصیل (راتے په بل مخ)

نَجْوٰىكُمْ صَدَقَةً ۚ ذٰلِكَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَاَطْهَرُ ۚ

جرګے ستاسو نه خیرات دا غوره ده تاسو لره او پاکوونکے ده

فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۲﴾

نو که تاسو نه مومئ (صدقه) نو یقیناً الله تعالیٰ بخنه کوونکے رحم کوونکے دے.

ءَاَشْفَقْتُمْ اَنْ تُقَدِّمُوْا بَيْنَ يَدَيْ نَجْوٰىكُمْ

آیا اویریدئے تاسو چه اولیږئے مخکښې د جرګے ستاسو نه

صَدَقٰتٍ ۚ فَاِذْ لَمْ تَفْعَلُوْا وَتَابَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ

خیراتونه نو کله چه او نکړئ (د عجز د وجے نه) او اسانتیا راوستله الله تعالیٰ په تاسو بانده

سره لیکلے دے او محمود کرمانی په غرائب التفسیر کښې د ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت ذکر کړیدے چه اے خلقو ځان پدے ایت بانده پوهه کړئ دپاره د دے چه په علم کښې رغبت اوکړئ. او قرطبی لیکلے دی چه مراد د اوتوا العلم نه علماء د قرآن دی.

۱۲ دا دریم قانون او ادب د نجویٰ کولو دے او مقصد په دے کښې تخفیف وو په نبی صلی الله علیه وسلم بانده او ښکاره کول وو د اخلاص د مناجات کوونکو. وجه دا وه چه منافقینو خلقو به بے ضرورته د نبی صلی الله علیه وسلم سره جرګے کولے او د هغه وخت به ئے ضائع کولو او نورو مسلمانانو له به ئے د نجویٰ کولو وخت نه ورکوؤ نو دا قانون الله تعالیٰ مقرر کړو چه څوک د نبی صلی الله علیه وسلم سره نجویٰ کول غواړی نو وړاندے به صدقه اوکړی دپاره د دے چه اخلاص ئے معلوم شی او دا حکم مختص وو په نجویٰ د نبی صلی الله علیه وسلم پورے. فَقَدِّمُوْا ! اه ظاهر دا ده چه دا دپاره د وجوب د دے.
ذٰلِكَ خَيْرٌ لَّكُمْ وَاَطْهَرُ دا فائدے د دے حکم دی. خَيْرٌ یعنی ډیر اجر او ثواب دے او د مسکینانو فقراء سره همدردی ده او ذریعه ده دپاره د فائدے اغستلو د مشورے د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه. وَاَطْهَرُ پاکوونکے د بخل او د محبت د دنیا نه او د ارنګ د نفاق نه. فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا مراد د دینه عدم طاقت مالیه دے یعنی مسکین او فقیر بانده دا صدقه واجب نه ده.

فَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ وَءَاتُوا الزَّكَوٰةَ وَأَطِيعُوا اللَّهَ

نو پابندی دَ مونځ کوئ او ورکوئ زکوٰة او اطاعت کوئ دَ الله تعالیٰ

ع ۲ ۲ وَرَسُولَهُۥ ۚ وَاللَّهُ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿۱۳﴾

او دَ رسول دَ هغه او الله تعالیٰ خبردار دے په هغه عملونو باندے چه تاسو کوئ.

۱۳ ءَأَشْفَقْتُمْ خطاب عام دے مؤمنانو او منافقانو ته۔ منافقان او یریدل دَ صدقے ورکولو نه په سبب دَ بُخل سره۔ او مؤمنان او یریدل دَ دوام دَ دے حکم نه یعنی دوی اُویل که چرے دا حکم همیشه پاتے شی او مونږ خو فقراء یو هر وخت دَ صدقے طاقت نه لرو نو دَ نبی صلی الله علیه وسلم سره به دَ نجویٰ کولو نه محرومه پاتے شو۔ فَإِذْ لَمْ تَفْعَلُوا منافقانو په دے باندے عمل اونکړو دَ وجے دَ نفاق نه۔ لیکن مؤمنانو عمل او نکړو دَ دے وجے نه چه فرصت دَ صدقے ورکولو ورته ملاؤ نشو ځکه چه حکم کښې تبدیلی ډیره زر راغله او مفسرینو په تفسیر دَ دے ایت کښې دوه روایتونه دَ علی رضی الله عنه نه نقل کړیدی یو دا چه هغه عمل کړے وو په دے ایت باندے او نورو صحابو ته موقع ملاؤ نشوه لیکن هغه روایت د دے لفظ فاذلم تفعلوا نه مخالف دے او قرطبی ویلے دی چه هغه روایت ضعیف دے۔ او دویم روایت په سند دَ امام ترمذی او ابن جریر سره نقل دے چه په هغے کښې ثابت شوے ده چه علی رضی الله عنه خو په دے عمل نه دے کړے لیکن نبی صلّی الله علیه وسلّم ته ئے مشوره ورکړه چه دا صحابه کرام خو دَ دے طاقت نشی لرلے نو الله تعالیٰ دَ هغه دَ وجے نه تخفیف راوستلے دے۔ وَتَابَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ دلته توبه په معنیٰ دَ تخفیف سره ده لکه سورة مزمل ۲۰ کښې هم توبه په معنیٰ دَ تخفیف ده ځکه دلته دَ گناه صدور نه دے ثابت شوے.

فَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ اه یعنی که چرے په مستحباتو باندے عمل نه شے کولے نو پرواه نیشته خو فرائضو باندے همیشه عمل جاری ساتے او په هغے کښې نسخ یا تخفیف نه راځی۔

فائده:۔ مشهوره دا ده چه اول ایت په دویم سره منسوخ شویدے او ویلے شویدی چه دَ منسوخیت دَ پاره په اول حکم باندے عمل (پاتے په بل مخ)

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ تَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللَّهُ

آيا نه گورے ته هغه كسانو ته چه دوستانه كوى دَ داسے قوم سره چه غضب كړيدے الله تعالىٰ

عَلَيْهِمْ مَا هُمْ مِنْكُمْ وَلَا مِنْهُمْ وَيَحْلِفُونَ

په هغوى باندے نه دى هغوى ستاسو نه او نه دَ دوى نه او قسمونه كوى

عَلَى الْكَذِبِ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ۝١٤ أَعَدَّ اللَّهُ

په دروغو باندے او دوى پوهيږى . تيار كړے دے الله تعالىٰ

كول هم شرط نه وى په سبب دَ دے واقع سره. ليكن تحقيق دا دے چه دَ متقدمينو علماؤ په نيز نسخ صرف تبديلے ته ويلے كيږى، نو دا نسخ دے ليكن دَ متأخرينو په اصطلاح كښ دا نسخ نه دے نو بيا په دے كښ دوه قولونه دى اول دا چه دا تخفيف دَ حكم دے دَ وجوب نه استحباب ته لكه چه سورة انفال ۶۶ كښ تير شويدى او دويم قول دا دے چه دويم ايت شرح دَ اول ايت ده يعنى معلومه شوه په دويم ايت سره چه په اول ايت كښ هم امر دَ وجوب دَ پاره نه وو دَ دے وجے نه هيڅ چا په هغے باندے عمل نه دے كړے صرف دَ دے دَ پاره حكم وو چه دَ منافقانو او دَ مخلصانو په مينځ كښ فرق راشى. ليكن اول قول په دے دواړو قولونو كښ غوره دے چه دا تخفيف دے. نسخ هم نه دے او صرف شرح هم نه ده.

۱۴ دَ دے ايت نه تر اخره پورے دويم باب دے په دے كښ زجرونه دى منافقينو مفسدينو ته او دَ هغوى پنځلس قبائح ذكر كوى او تخويف ور كوى په ۱۵ او ۱۷ كښ او په اخر كښ صفت دَ مؤمنانو دے په ذكر دَ براءت دَ هغوى دَ محادينو مفسدينو نه او بشارت دے مؤمنانو ته. په دے (۱۴) كښ درے قبائح دَ منافقينو ذكر كړے دى.

اول قباحت تَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ مراد دَ دے نه يهوديان دى ځكه چه په دوى كښ اسباب دَ غضب الهى موجود دى ډير ايا تونه دَ قران كريم په دے باندے شاهد دى لكه سورة بقره ۶۱ ، ۹۰ او سورة ممتحنه ۱۳.

دويم قباحت مَا هُمْ مِنْكُمْ وَلَا مِنْهُمْ لكه چه سورة نساء ۱۴۳ كښ تير شويدى.

دريم قباحت وَيَحْلِفُونَ عَلَى الْكَذِبِ په دعوىٰ دَ ايمان او اسلام كښ

لَهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا ۭ اِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُوْا

دوی لره عذاب سخت یقیناً دوی ناکاره دی هغه عملونه

يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۵﴾ اِتَّخَذُوْٓا اَيْمَانَهُمْ جُنَّةً

چه دوی کوی - جوړ کړے دی دوی قسمونو خپل ډال

فَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَلَهُمْ عَذَابٌ

نو بند شول (یا بندول کوی) دَ لارے دَ الله تعالیٰ نه نو دوی لره عذاب

مُّهِيْنٌ ﴿۱۶﴾ لَنْ تُغْنِىَ عَنْهُمْ اَمْوَالُهُمْ

رسوا کوونکے دے - هیچرے به دفع نه کړی دَ دوی نه مالونه دَ دوی

اوشهادت دَ رسالت دَ دے رسول کښې دروغژن وی او حال دا چه قسمونه هم کوی. په صیغه دَ مضارع کښې تجدد ته اشاره ده او لفظ دَ علیٰ کښې جراءت او زړورتیا ته اشاره ده یعنی مُجْتَرِئِيْنَ عَلَى الْكَذِبِ. (زړورتیا کوونکی دی په دروغو او په قسم کولو کښې). وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ یعنی سرهٔ دَ علم او دَ قصد نه دروغ وائی او قسم کوی نو دا یمین غموس دے.

سـ۱۵ دَ دے ایت په اوله جمله کښې تخویف دے او دویمه جمله کښې یل قباحت دَ دوی ذکر کوی چه هغه علت دَ عذاب دے.

سـ۱۶ دا جمله مستانفه ده په جواب دَ سوال کښې ده چه که څوک اُووائی چه دوی سرهٔ دَ پوهے وے په دروغه قسم کوی نو جواب ورکوی. او دا رنګ دا جمله تفصیل دَ سَآءَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ دے او په دیکښې دَ دوی دوه قباحتونه نور ذکر کړیدی او په اخری جمله کښې تخویف دے. اَيْمَانَهُمْ مراد ترینه دروغ قسمونه دَ دوی دی. جُنَّةً ډال ته وئیلے کیږی چه په هغے سره ځان دَ ګزار دَ تورے، توپک وغیره نه بچ کوی نو دا رنګ دوی په دے قسمونو سره ځان دَ مؤمنانو دَ زجر او هرے شرمندګئ نه بچ کوی. فَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ دا لازمی دے یعنی بند شول دَ حق نه، یا متعدی دے یعنی خلق منع کوی دَ لارے دَ الله تعالیٰ نه، فآ دلالت کوی چه دا قسمونه دَ دوی سبب دے دَ پاره دَ صَدَّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ. فَلَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ دا فآ هم دلالت کوی (پاتے په بل مخ)

وَلَآ اَوْلَادُهُمْ مِّنَ اللّٰهِ شَيْئًا ؕ اُولٰٓئِكَ

او نه اولاد دَ دوی دَ (عذاب) دَ اللّٰه تعالیٰ نه هیڅ څیز - دغه کسان

اَصْحٰبُ النَّارِ ؕ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ⑰

اُور والا دی دوی به په هغې کښې همیشه وی -

يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ جَمِيْعًا فَيَحْلِفُوْنَ لَهٗ

په کومه ورځ چه راپورته به کړی الله تعالیٰ دوی ټولو لره نو قسمونه به کوی دوی هغه ته

كَمَا يَحْلِفُوْنَ لَكُمْ وَيَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ

لکه چه قسمونه کوی تاسو ته او ګمان کوی دوی چه یقینًا دوی

عَلٰى شَيْءٍ ؕ اَلَآ اِنَّهُمْ هُمُ الْكٰذِبُوْنَ ⑱

په څیز (فائده مند) باندے دی خبر شئ یقینًا دوی دروغژن دی -

چه صَدٌّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰه علت دے دَپاره دَعذاب دَ دوی. او هر کله چه دوی په دروغ قسم کښې توهین کوی دَ نوم دَ الله تعالیٰ او دا رنګ دَ مؤمنانو اهانت کوی دَ دے وجے نه عذاب مُهين ئے ذکر کړو۔

سـ۱۷ دا تخویف اخروی دے په ذکر دَ دوه قباحاتو دَ دوی سره۔ او رد دے په زَعم دَ هغه چا باندے چه په مالونو او په اولاد سره لوئی او تکبر کوی۔ اَمْوَالُهُمْ په فدیه ورکولو او په رشوت ورکولو سره فائده نه ورکوی۔ وَلَآ اَوْلَادُهُمْ لفظ دَ لَآ ئے دَ تاکید دَ نفی دَپاره مکرر راوړے دے۔ اولاد په مدد کولو او دا رنګ په دنیا کښې په دُعاګانو غوختلو او په نیک عملونو سره مور او پلار (مشرکانو) ته فائده نشی ورکولے مِنَ اللّٰهِ دَ عذاب دَ الله تعالیٰ نه۔ شَيْئًا مفعول به دے یا مِنَ اللّٰه په معنیٰ دَ عندالله دے او شیئًا مفعول مطلق دے یعنی شَيْئًا مِنَ الْاِغْنَاءِ دا رنګ ایت په سورت العمران سـ۱۰ سـ۱۱۶ کښې هم تیر شوی دے۔

سـ۱۸ په دے کښې دَ دوی درے قباحات ذکر کوی۔ يَوْمَ متعلق دے په اصحاب النار پورے یا په اذکروا پټ پورے فَيَحْلِفُوْنَ لَهٗ قسمونه به کوی چه مونږ په هدایت باندے وؤ او مونږ هیڅ کفر نه دے کړے پشان دَ مشرکانو به قسم کوی لکه

اِسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطٰنُ فَاَنْسٰىهُمْ ذِكْرَ اللّٰهِ ؕ

غلبه کړېده په دوی باندې شیطان نو هېر ئې کړو د دوی نه ذکر د الله تعالیٰ

اُولٰٓئِكَ حِزْبُ الشَّيْطٰنِ ؕ اَلَآ اِنَّ حِزْبَ

دغه کسان ډله د شیطان ده خبر شئ یقینًا ډله

الشَّيْطٰنِ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۱۹﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ

د شیطان دوی تاوان والا دی . یقینًا هغه کسان

سورة انعام ۲۳ کښ . كَمَا يَحْلِفُوْنَ لَكُمْ یعنی دوی په دُنیا کښ په دروغ قسمونو باندې عادت وو .

ابن کثیر وئیلي دی چه څنګ په کم عمل باندې ژوند تېر کړې وی نو په هغې باندې مړ کیږی او په هغې باندې بیا ژوندې کیږی .

يَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ عَلٰى شَيْءٍ عطف دې په اول يحلفون یا په دویم باندې یعنی په دُنیا او اخرت دواړو کښ د دوی ګمان دې چه په دروغه قسم کول په مونږ د پاره فائده مند وی او دا دوی خپل کمال ګڼړی . اَلَآ اِنَّهُمْ هُمُ الْكٰذِبُوْنَ یعنی دوی په دې قسم د ورځ د اخرت او ګمان کولو کښ دروغژن دی لکه چه په دُنیا کښ دروغژن وو او هرکله چه دوی په قسم کولو سره خپل دروغ پټوی نو الله تعالیٰ په اثبات د کذب د دوی کښ تاکید اوکړو په لفظ د اَلَآ او اِنَّ او هُمْ ضمیر فصل ، او لام تاکیدی سره او په جملې اسمیه سره .

۱۹ په دې ایت کښ نور درې قبائح د دوی ذکر دی . اِسْتَحْوَذَ دا د تېر شوې قبائحو د پاره علت دې د دې وجې نه په عطف سره نه دې ذکر کړې .

اِسْتَحْوَذَ د حوذ نه ماخوذ دې په معنیٰ د راګیرولو ، او په تیزئې او اسانتیا سره شړلو ته وئیلې کیږی او دا مستلزم دې غلبې او قوّت لره یعنی شیطانانو په دوی باندې داسې قوت او غلبه په وسوسې کولو او ګمراه کولو سره موندلې ده لکه چه هغه د دوی بادشاه دې او دوی ئې رعیّت دی .

فَاَنْسٰىهُمْ فا دلالت کوی چه ماقبل سبب دې د پاره د مابعد . اِنْسَاء په معنیٰ د غافل کولو او د ترک سره دې ذِكْرَ اللّٰهِ او امر او نواهی د الله تعالیٰ او قران کریم او توحید ټولو ته دا لفظ شامل دې . (پاتې په بل مخ)

يُحَآدُّوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗٓ اُولٰٓئِكَ فِي

چه خلاف کوی دَ حدود دَ الله تعالیٰ او دَ رسول دَ هغه ته دغه کسان په

الْاَذَلِّيْنَ ﴿۲۰﴾ كَتَبَ اللّٰهُ لَاَغْلِبَنَّ اَنَا

ډیرو ذلیلانو کښ دی . لیکلے دی الله تعالیٰ (په تقدیر کښ) چه ضرور غالب کیږم به زهٔ

وَرُسُلِيْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ عَزِيْزٌ ﴿۲۱﴾

او رسولان زما یقینًا الله تعالیٰ قوت والا زور آور دے .

حِزْبُ الشَّيْطٰنِ حزب هغه تابعداری کوؤنکی ته ویلے کیږی چه اتباع دَ متبوع کښ کلک او تعصب کوؤنکی وی بل طرف ته په آسانه سره نه آوړی او نه دَ بل چا خبره آوری.

ف۲۰ په دے آیت کښ سخت زجر دے محادّه کوؤنکو ته عمومًا (که په هره زمانه کښ وی) او په ف۵ کښ زجر وُ محادّه کوؤنکو دَ دے امت ته دَ دے وجے نه په هغه آیت کښ دَ هغوی تشبیه ئے دَ مخکنو سره ورکړے وه دا یو فرق دے دَ دواړه آیاتونو دویم فرق دا دے چه هلته کښ دُعاءِ شر (خیرے وے) وه او په دے آیت کښ خبر او حکم کول دی دَ دوی په ذلت سره - دریم فرق دا دے چه په هغه آیت کښ دَ ښکاره کافرانو ذکر مراد وُو او په دے آیت کښ منافقان مراد دی نو معلومه شوه چه تکرار نیشته دے اُولٰٓئِكَ فِي الْاَذَلِّيْنَ په دے کښ ډیر تاکید دے په ذکر دَ اولئك سره او په ذکر دَ حرف فِي سره چه دلالت کوی په استغراق او انغماس باندے او په ذکر دَ جمع دَ اذلين سره یعنی دوی غرق او ډوب دی په جماعت دَ ذلت والو کښ.

ف۲۱ روستو دَ تخویف نه بشارت دے ایمان والو ته په غلبه او نصرت الٰهیه سره. كَتَبَ مراد دَ دے نه لیکل دی په کتاب دَ تقدیر کښ او په هغے کښ هیڅ قسم تبدیلی نه راځی . او دیته سبقیت دَ کلمے ویلے شوی دے په سورة صافات ف۱۷ کښ. لَاَغْلِبَنَّ اَنَا دا ئے دَ تاکید دَ پاره ذکر کړی دے غلبه په مخلوق او په دُشمنانو باندے خو دَ الله تعالیٰ صفتِ حقیقیه دے. وَرُسُلِيْ یعنی هغه رسولان چه جنګ کوی دَ دشمنانو سره نو غالب به وی په جنګ کښ په

لَا تَجِدُ قَوْمًا يُّؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ

او به نه مومے ته داسے قوم چه ایمان لری په الله تعالٰی او په ورځ روستنۍ

يُوَآدُّوْنَ مَنْ حَآدَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَلَوْ كَانُوْٓا

چه دوستانه کوی دَ هغه چا سره چه خلاف ئے کړیدے دَ حدود دَ الله تعالٰی او دَ رسول دَ هغه ته اگرچه هغوی وی

اٰبَآءَهُمْ اَوْ اَبْنَآءَهُمْ اَوْ اِخْوَانَهُمْ اَوْ عَشِيْرَتَهُمْ ؕ

دَ دوی پلاران یا دَ دوی ځامن یا دَ دوی رونړه یا دَ دوی قبیله

اُولٰٓئِكَ كَتَبَ فِىْ قُلُوْبِهِمُ الْاِيْمَانَ وَاَيَّدَهُمْ

دغه کسان لیکلے دے (پوخ) په زړونو دَ دوی کښ ایمان او کلک کړے دی دوی

بِرُوْحٍ مِّنْهُ ؕ وَيُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِىْ

په روح سره دَ هغه دَ طرف نه او داخل وی دوی لره جنتونو ته چه بهیږی

مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ رَضِىَ اللّٰهُ

لاندے دَ هغے نه ویالے همیشه به وی دوی په هغے کښ رضا دے الله تعالٰی

عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ؕ اُولٰٓئِكَ حِزْبُ اللّٰهِ ؕ

دَ دوی نه او دوی رضا دی دَ هغه نه دغه کسان ډله دَ الله تعالٰی ده

اعتبار دَ عاقبت سره او په حجت کښ به خو ټول غالب وی او داسے په سورة صافات ۱۸۲ کښ ذکر شوید ی.

قَوِیٌّ په نصرت دَ دوستانو باندے.

عَزِیْزٌ دے په مقابله دَ دُشمنانو کښ غالب دے او داغلبه او قوت سبب دے دَ پاره دَ تذلیل دَ دُشمنانو چه په ایت تیر شوی کښ ذکر شویدے.

أَلَآ إِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۲۲﴾ ع

خبر شئ یقیناً | ډله | د الله تعالیٰ خاص دوی | کامیاب دی۔

۲۲ هر کله چه په سورت کښ د محادینو مفسدینو اوصاف ذکر کړے شول نو په دے ایت کښ ترغیب ورکوی مؤمنانو ته په براءت کولو سره د هغوی نه په ډیر تاکید سره۔ لَا تَجِدُ قَوْمًا الخ یعنی د ایمان والو او د دوستانے کولو د دُشمنانو د الله تعالیٰ او د رسول ﷺ په مینځ کښ جمع نشي کیدلے او د نه موندلو نه مراد نه کول د دے دی په طریقه د مبالغے سره۔ یُوَآدُّوْنَ مؤدّة په اصل کښ په باطن کښ وی او اثر ئے په ظاهر کښ موجود وی یعنی باطنی او ظاهری دواړه دوستانے کول، او صرف بِرّ او قسط خو د بعضو کافرانو سره جائز دے چه هغوی اهل ذمّه دی لکه په سورة ممتحنه ۸ کښ به راشی۔ وَلَوْ كَانُوْٓا اٰبَآءَهُمْ الخ یعنی د هیڅ نسب او قرابت لحاظ نه کوی په باره د براءت کولو کښ د محادّینو نه۔ او په دے کښ اشاره ده چه په دالسے حالت کښ د صِلہ رحمۍ ساتلو حکم نیشته دے او مفسرینو لیکلے دی چه د دے ایت اول مصداق صحابه کرام دی ځکه چه ابو عبیده رضی الله عنه خپل پلار لره په ورځ د بدر کښ قتل کړے وۀ او عبد الله رضی الله عنه ځوئے د عبد الله بن اُبَیْ د خپل پلار د قتل کولو اجازت د رسول الله صلی الله علیه وسلّم نه طلب کړے وۀ او ابو بکر رضی الله عنه خپل پلار لره په سخته سپیره سره وهلے وۀ هر کله چه هغه نبی صلی الله علیه وسلّم ته کنځل کړے وۀ او دا رنګ ابو بکر رضی الله عنه د خپل ځوئي د قتل اراده کړے وه په ورځ د بدر کښ او مصعب بن عمیر رضی الله عنه خپل رور لره په ورځ د بدر کښ قتل کړے وۀ او عمر رضی الله عنه او دا رنګ حمزه، علی او عبیده بن الحارث رضی الله عنهم ډیرو خپلوانو لره په دغه ورځ قتل کړیوۀ۔ أُولٰٓئِكَ كَتَبَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الْإِيْمَانَ اشاره ده یقین کامل ته چه هغه په محبت د غیر الله سره نه محو کیږی لکه چه یوخ خط لیکلے شوے په اوبو وغیره سره نه ورانیږی۔ وَأَيَّدَهُمْ بِرُوْحٍ مِّنْهُ مراد د روح نه قران کریم او علم د قران دے په روایت د ربیع سره۔ نو اشاره ده چه تقویت د ایمان په قران کریم سره راځی۔ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ اشاره ده چه دوی د الله تعالیٰ د وجے نه ناراض وۀ د مخلوق نه نو د هغے په عوض کښ دوی ته رضا ملاؤ شوه۔ أُولٰٓئِكَ حِزْبُ اللّٰهِ دائے په مقابل د

حزب الشیطان کښې ذکر کړے دے اشاره ده چه ولې دَ الله یادَ انسان سړی کول هغه ته ویلے کیږی چه دَ دوست دَ رضا کولو دَ وجے نه خپل خپلوان او خپل دوستان پریګدی او دَ هغوی سره هیڅ محبت او نصرت نه کوی۔

فائده ۱ :- قرطبی دَ امام مالک نه نقل کړیدی چه دا آیت دلیل دے چه دَ منکرینو دَ تقدیر سره دوستانه لرل او دَ هغوی په مجلس کښې شرکت کول منع دی. او دا رنګ دا حکم دَ ټولو ظالمانو او بدعتیانو دے او شربینی ذکر کړیدی چه چا میلان او کړو هغه چاته چه دَ دین نه منحرف وی یا ئے مداهنت او کړو دَ عقیدے دَ بدعتی سره نو الله تعالیٰ نُور دَ توحید لره دَ هغه دَ زړه نه او باسی۔ او په فضیلت دَ دے سورت کښې لیکلے دی چه دا دَ قرآن دَ سورتونو دَ شمارے په لحاظ سره دویم نصف دے یعنی اته پنځوسم دے او دَ دے په هر ایت کښې دَ الله تعالیٰ ذکر یو کرت یا دوه کرته موجود دے۔

فائده ۲ :- په سورة مائده ۵۶ کښې فان حزب الله هم الغالبون ذکر دے او دلته ئے المفلحون ذکر کړیدے وجه دا ده چه سورة مائده ۵۶ کښې صرف ولاء ذکر کړیده او په دے سورت کښې براء ذکر کړیده دَ حزب الشیطان سره او براء اکمل ایمان دے په نسبت دَ صرف ولاء سره نو دَ صرف ایمان سره غلبه دنیویه ذکر کړه او دَ اکمل ایمان سره ئے چه براء ده اکمله نتیجه ذکر کړه چه هغه فلاح اخروی ده. (والله اعلم)

الحمد لله ختم شو تفسیر دَ سورة مجادله په فضل دَ الله تعالیٰ

سُورَةُ الْحَشْرِ ۵۹ مَدَنِيَّةٌ ۱۰۱	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰيَاتُهَا ۲۴ رُكُوْعَاتُهَا ۳

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ج

پاکی وائی الله تعالیٰ ره هغه څیزونه چه په اسمانونو کښ دی او هغه څیزونه چه په زمکه کښ دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة حشر او دَ دے بل نوم سورة بنی نضیر دے۔

ربط دَ دے دَ مخکښ سورت سره په ډیرو وجوهو سره دَ اوله وجه دا ده چه په سورة مجادله کښ زجرونه وُو مفسدینو ته او په دے سورة کښ تخویف دنیوی دے۔ دویمه وجه دا ده چه په هغه سورت کښ ئے محادّه ذکر کړے وه نو په دے سورت کښ مشاقه ذکر کوی۔ دریمه وجه دا ده چه په هغه سورت کښ دَ منافقانو یو قسم قبائح وُو او په دے سورت کښ دَ هغوی بل قسم قبائح دی۔

دعویٰ دَ سورت۔ تخویف دنیوی مشا قینو دَ الله تعالیٰ او دَ رسول صلی الله علیه وسلم ته په تمثیل دَ بنی نضیر سره په ۱ کښ او ذکر دَ توحید دے دَ پاره دَ امن دَ عذاب نه په ذکر دَ دویشت اسماء حسنیٰ دَ الله تعالیٰ سره په اول او په آخر دَ سورت کښ۔

خلاصه دَ سورت۔ دا سورت تقسیم دے دوه بابونو ته اول باب تر ۱۱ پورے دے په یکښ دعوی دَ توحید دَ په ذکر دَ تسبیح دَ پاره دَ دفع کولو دَ وهم یعنی که څوک اعتراض اوکړی چه بنی نضیرو ته عذاب ورکول په اخراج سره ظلم دے نو جواب اوکړے شو چه الله تعالیٰ دَ ظلم کولو نه پاک دے هغه چه څه کوی نو دَ خپل عزت دَ حاصلولو دَ پاره ته کوی هغه خو عزیز دے او بے فائدے هم نه کوی هغه حکیم دے۔ بیا ذکر دَ عذاب دَ بنی نضیرو دے په ۲ کښ بیا تخویف اخروی ذکر دے په ۳ کښ بیا سبب دَ دے دَ عذاب ذکر کوی په ۴ کښ او دا دعویٰ دَ سورت ده بیا جواب دَ یو سوال دے په ۵ کښ بیا حکم دَ مالِ فئ دَ او دَ هغے مصارف در دے قسمونه ذکر کوی تر ۱۰ پورے۔

وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ① هُوَ الَّذِي أَخْرَجَ

او خاص هغه دے زور اور حکمتونو والا . خاص هغه داسے ذات دے چه اُویستل ئے

الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ مِنْ

کافران د کتابیانو دَ

دِيَارِهِمْ لِأَوَّلِ الْحَشْرِ ۚ مَا ظَنَنتُمْ

کورونو دَ هغوی نه په اول راغونډولو سره گمان نه کوو تاسو

أَن يَخْرُجُوا ۖ وَظَنُّوا أَنَّهُم مَّانِعَتُهُمْ

چه دوی به او ځی او دوی گمان کوو چه یقیناً بچ کوونکی دی دوی لره

حُصُونُهُم مِّنَ اللَّهِ فَأَتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ حَيْثُ

قلعه گانے دَ دوی دَ الله تعالیٰ نه نو راغے دوی ته الله دَ داسے ځائے نه

لَمْ يَحْتَسِبُوا ۖ وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ الرُّعْبَ

چه دوی گمان نه کوؤ او واچوله ئے دَ دوی په زړونو کښې ویره

يُخْرِبُونَ بُيُوتَهُم بِأَيْدِيهِمْ وَأَيْدِي الْمُؤْمِنِينَ

ورانول دوی کورونه خپل په لاسونو خپلو او په لاسونو دَ مؤمنانو

تفسیر ۱ دا دعوی دَ توحید ده په ذکر دَ تسبیح سره مخکښې دَ واقعے دَ بنی نضیرو نه دَ پاره دَ جواب دَ اعتراض کوم چه مونږ په خلاصه کښې ذکر کړیدے الْعَزِيزُ په دے کښې اشاره ده عذاب دَ بنی نضیرو ته چه هغوی دُشمنان دَ الله تعالیٰ وو او الله تعالیٰ په دشمنانو باندے زور اور دے. او الْحَكِيمُ یعنی دَ دوی په عذاب ورکولو کښې ډیر حکمتونه وو.

وقف النبي صلى الله عليه وسلم

فَاعْتَبِرُوْا يٰٓاُولِي الْاَبْصَارِ ۝۲ وَلَوْلَآ اَنْ كَتَبَ اللّٰهُ

نو عبرت واخلئ اے د پوهے خاوندانو - اوکه چرے نو ے لیکلے الله تعالیٰ (په تقدیر کښ)

۲ تفسیر سراج المنیر او ابن کثیر کښ دَ بنی نضیر و تفصیلی واقعه ذکر کړے ده. حاصل ئے دا دے چه دوی دَ نبی صلی الله علیه وسلم سره اول عهد کړے وو چه مونږ به یو بل سره جنګ نه کوؤ او نه به دَ یو بل دَ دشمن سره ملګرتیا کوؤ لیکن دَ اُحد دَ غزوه نه روستو دوی دَ مشرکینِ مکه سره دَ ملګرتیا وعده اوکړه او دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ وژلو اراده ئے اوکړه نو نبی صلی الله علیه وسلم اول کعب بن اشرف دَ محمد بن مسلمة رضی الله عنه په ذریعه قتل کړو او بیا ئے سرۀ دَ صحابه کرامو نه دَ بنی نضیرو دَ قلعے نه یو ویشت یا شپږ ورځے محاصره اوکړه نو دوی دَ صلح کولو مطالبه اوکړه نو نبی صلی الله علیه وسلم دَ صلح کولو نه انکار اوکړو او امر ئے اوکړو دَ دوی په جلا وطن کولو سره او اجازت ئے ورکړو چه په اوښ باندے څومره سامان څوک اوړلے شی نو هغه ته اجازت دے دَ اوړلو، نو هغوی خپلے کوټے په خپل لاسونو سره اونړولے او مؤمنانو ته ئے پریکښ مدد طلب کړو او لرګی وغیره ئے په اوښانو باندے بار کړل او اکثر کسان دَ دوی په شام کښ اذرعات او اریحا مقام ته لاړل او دوه کورنۍ دَ دوی (ال دَ بنی حقیق او ال دَ حی بن اخطب) خیبر ته لاړل او څوک حیره مقام ته لاړل او دَ هغوی باقی منقول او غیر منقول جائیداد نبی صلی الله علیه وسلم ته په مال فئ کښ پاتے شو او منافقانو دَ مدینے دَ هغوی سره دَ مدد کولو لوظ کړے وو لیکن هر کله چه هغوی دَ مدینے نه اوشړلے شول نو منافقانو ورسره هیڅ امداد او نکړو او مؤمنانو ته دَ هغوی منافقت هم ښکاره شو.

مِنْ دِيَارِهِمْ دَ وطنِ اصلی نه شړل ډیر لوئے عقوبت دے او دَ اخراج نسبت الله تعالیٰ ته شوے دے ځکه چه دا امر دَ الله تعالیٰ وو خپل رسول ته.

لِاَوَّلِ الْحَشْرِ دَ دوی څلور حشرونه وو. یو حشر دَ مدینے نه خیبر ته. دویم حشر په زمانه دَ عمر رضی الله عنه کښ دَ خیبر نه شام ته. دریم حشر په نزدے دَ قیامت کښ په واسطه دَ اُور سره (یا به حقیقة" او روی یا مراد ترینه فتنه ده) چه هغه په علاماتو دَ قیامت کښ ذکر شوے ده

عَلَيْهِمُ الْجَلَآءَ لَعَذَّبَهُمْ فِي الدُّنْيَا ۖ وَلَهُمْ

په دوی باندے دَ وطن نه شړل نو یل عذاب به ئے دوی ته ورکړے وے په دُنیا کښ او دوی لره

څلورم حشر په ورځ دَ قیامت کښ دے نو معلومه شوه چه په دے واقعه کښ اول حشر دے۔ یا مراد دَ اول نه هغه اول دے چه ثانی ورله نه وی یعنی په اوله فوج کشئ سره دوی کمزوری شول۔

مَا ظَنَنْتُمْ اه اشاره ده چه دوی کمزوری نه وو خو دَ دوی اخراج دَ الله تعالیٰ دَ قدرت او عظمت نښه ده۔

حُصُوْنُهُمْ جمع دَ حِصن ده او دَ دوی څلور قلعه گانے مشهورے وے، وطیح، نطاة، سُلالم، کُتیبه۔ او په دے جمله کښ مانعتهم اسم فاعل دَ مضاف دے هم مفعول دے او حصونهم دَ دے فاعل دے۔

فاتاهم الله اه اِتیان دَ صفاتو دَ الله تعالیٰ نه دے په غیر دَ تاویل او تشبیه نه لکه په سورة بقره ۲۱۰ کښ دے۔

مِنْ حَيْثُ لَمْ يَحْتَسِبُوْا دَ دوی گمان وو چه منافقان به زمونږ امداد کوی او مؤمنان مونږ سره مقابله نشی کولے او قعله گانے زمونږ مضبوطے دی نو دَ دے گمانونو نه خلاف کار اوشو۔

وَقَذَفَ فِي قُلُوْبِهِمُ الرُّعْبَ تعبیر په قذف سره ډیر تشدید ته اشاره ده یعنی رعب ئے دَ دوی په زړونو کښ داسے اُویشتلو لکه چه گټے ویشتلے کیږی۔ او دا فعل او قدرت دَ الله تعالیٰ دے او معجزه دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم ده لکه چه صحیح حدیث کښ چه رسول الله صلّی الله علیه وسلّم فرمائیلے دی "ما سره امداد کړے شوے دے په رعب زما سره په دُشمن باندے دَ یو میاشتے په مزل سره"۔ يُخْرِبُوْنَ اه دا تخریب دَ دے دَ پاره وو چه کوم لرگی او دروازے چه دَ دوی خوښے وے نو ځان سره ئے اوړلے په اجازت دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم سره او دا رنگ دَ دے دَ پاره ئے هم تخریب کوو چه په دے کښ بیا مؤمنان او نه اوسیږی۔ وَاَيْدِي الْمُؤْمِنِيْنَ یعنی دَ دوی نه چه کوم دیوالونه چتونه وغیره پاتے وو هغه به دَ دوی په وړاندے مؤمنانو نړول دے دَ پاره چه دوی ښهٔ غصّه او ذلیل شی۔

فَاعْتَبِرُوْا يَا اُولِي الْاَبْصَارِ اعتبار دَ ع ب ر دَ مادے نه دے راپاتے په یل مخ)

فِي الْاٰخِرَةِ عَذَابُ النَّارِ ③ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ

په اخرت کښ عذاب دَ اور دے۔ دا پدے وجه سره چه دوی

عِبْرَةً دلالت کوی په انتقال باندے لکه عبور (تیریدل په اوبو کښ او چ ته) (راوښکے چه دَ سترګو نه مخ ته او بهیږی) نو دا رنګ اعتبار او عبرت اغستل انتقال دے دَ یو معلوم نه (چه په اوریدلو یا په لیدلو سره معلوم شی) غیر معلوم ته په طریقه دَ فکر کولو سره او دیته قیاس هم ویلے کیږی لیکن لفظ شرعی (چه قران او سنت سره ثابت وی) پریخودل او غیر منقول استعمالول نامناسبه کار دے.

الْاَبْصَارِ دا لفظ عام دے نظر په بصر او په بصیرت سره دواړو ته شامل دے ځکه چه په عبرت اغستلو کښ اکثر سترګے هم استعمالیږی سرهٔ دَ بصیرت دَ زړه نه او بصائر خاص دے په بصیرت دَ زړه پورے۔ او په دیکښ اشاره ده چه دَ قران کریم قصّے او واقعات صرف دَ افسانو په طور سره اوریدل مقصد نه دے بلکه دَ هغے نه عبرت اغستل مقصد دے او هغه په غَور او فکر کولو سره حاصلیږی.

دلته یو عبرت دا دے چه که یو انسان یا قوم علم والا وی او مالدار هم وی او بنګلے او قلعه ګانے ئے هم وی لیکن چه دَ الله تعالیٰ او دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ دین خلاف کوی نو دَ عذاب دَ دنیا نه او ذلت نه نشی بچ کیدلے. دویم عبرت دا دے چه دَ منافقانو او کافرانو په ملګرتیا او په وعدو باندے اعتماد پکار نه دے دریم عبرت دا دے چه په خپل دنیوی قوّت او مالدارئ باندے هم غرور جائز نه دے۔

۳ پدے ایت کښ تاکید دے په تخویف دنیوی سره او تخویف اخروی هم دے۔ لَوْلَا اَنْ كَتَبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمُ یعنی دَ عذاب دنیوی په اجلاء پورے خاص نه دے نورے ډیرے نمونے دَ دنیوی عذابونو په مخکنو قومونو کښ تیر شویدی لیکن پدے قوم باندے خو دَ اجلاء تقدیر کړے شوے وُو او تقدیر خو بدلیږی نه دا جمله هم صراحةً دلیل دے په تقدیراتو لیکلو باندے. الْجَلَاءَ فرق دَ اخراج او جلاء دا دے چه جلاء خاص ده په جماعت (ډیرو کسانو) پورے او اخراج عام دے که دَ یو شخص وی او که ډیر وی او دا رنګ جلاء هغه ده چه سرهٔ دَ اهل وعیال نه وی او اخراج عام دے لَعَذَّبَهُمْ په بل عذاب سره لکه قتل او قید کول پشان دَ مشرکین بدر یا طوفانو نه، سیلئ، قحطونه وغیره۔

شَآقُّوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ۚ وَمَنْ يُّشَآقِّ اللّٰهَ

خلاف کړے دے دَ الله تعالٰی او دَ رسول دَ هغه او چا چه خلاف اوکړو دَ الله تعالٰی

فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۴﴾ مَا قَطَعْتُمْ

نو یقینًا الله تعالٰی سخت عذاب ورکوونکے دے. هغه چه تاسو پرے کړے دی

مِّنْ لِّيْنَةٍ اَوْ تَرَكْتُمُوْهَا قَآئِمَةً عَلٰٓى

څه اونے دَ کجورو یا پرېخودلے دی تاسو هغه اولاړے په

اُصُوْلِهَا فَبِاِذْنِ اللّٰهِ وَلِيُخْزِيَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿۵﴾

ویخو تو خپلو باندے نو دا په حکم دَ الله تعالٰی سره دی او دَ دے دَ پاره چه شرمنده کړی پوره نافرمانو لره.

سے دا سبب دَ عذاب دے او دعویٰ دَ سورت ده. او مشاقّه دَ شق نه ماخوذ دے چودل او دوه ټکړے کیدلو ته وائي او دا په ښکاره مخالفت کولو کښې استعمالیږی. او دا سے په سورة انفال ۱۳ کښې هم تیر شوی دی.

فائده:. سورة انفال کښې یے وَمَنْ يُّشَاقِقِ بغیر دَ ادغام نه او په دے سورت کښې په ادغام سره ذکر کړے دے وجه دا ده چه مخالفت کول دَ کتابیانو ډیر سخت دی په نسبت دَ عوامو کافرانو نو په سورة انفال کښې دَ عوامو کافرانو ذکر دے او په دے سورت کښې دَ کتابیانو ذکر دے ادغام دلالت کوی په شدت باندے او فکِّ ادغام په تخفیف باندے.

ھ دا جواب دَ سوال دے هغه دا چه تاسو دَ فساد نه منع کوئے او حال دا دے چه تاسو (اے صحابو) دَ بنی نضیرو دَ کجورو اونے اوسیزلے او پرے مو کړلے نو دا هم فساد دے؟

حاصل دَ جواب دا دے چه دا په حکم دَ الله تعالٰی سره شوی دی او نورے فائدے پکښې هم دی نو دا شرعًا جائز دی. مَا قَطَعْتُمْ مِّنْ لِّيْنَةٍ قرطبی پدے کښې لس اقوال ذکر کړی دی. حاصل دا چه ټولو قسمونو دَ کجورو ته ویلے کیږی یا په هغوی کښې خاص قِسم دے او دا په بویره مقام کښې وے او دَ دے په باره کښې یهودیانو او مشرکینِ مکه شعرونه ویلے وو او حسان بن ثابت رضی الله عنه دَ هغے په جواب کښې دا شعرونه جوړ کړے وو. زیاتے په بل مخ)

وَمَآ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْهُمْ فَمَآ اَوْجَفْتُمْ

او هغه مالونه چه واپس کړیدی الله تعالیٰ په رسول خپل باندې دَ دوی نه نو نه دی زغلولې تاسو

عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَّلَا رِكَابٍ وَّلٰكِنَّ اللّٰهَ

په هغې باندې هیڅ اسونه او نه اوښان او لیکن الله تعالیٰ

يُسَلِّطُ رُسُلَهٗ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ ۭ وَاللّٰهُ عَلٰى

زور آورکوی رسولان خپل په هغه چا باندې چه اوغواړی او الله تعالیٰ په

كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝۶ مَآ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ

هر څیز باندې قدرت والا دے. هغه چه واپس کړے دی الله تعالیٰ خپل رسول ته

تَعَاقَدَ مَعْشَرٌ نَصَرُوا قُرَيْشًا . وَلَيْسَ لَهُمْ بِبَلَدِهِمْ نَصِيْرٌ . هُمُوا اُوْتُوا الْكِتَابَ فَضَيَّعُوْهُ . وَهُمْ عُمْيٌ مِنَ التَّوْرَاةِ بُوْر . كَفَرْتُمْ بِالْقُرْاٰنِ وَقَدْ اُبِيْتُمْ . بِتَصْدِيْقِ الَّذِيْ قَالَ النَّذِيْرُ . وَهَانَ عَلٰى سَرَاةِ بَنِيْ لُؤَيٍّ . حَرِيْقٌ بِالْبُوَيْرَةِ مُسْتَطِيْرٌ .

وَلِيُخْزِيَ الْفَاسِقِيْنَ دا یو حکمت دَ دغه عمل دے لیکن امتثال دَ امرِ شرعی دَ حکمت دَ هغې نه مخکښ وی . یعنی په شرعی حکم به عمل ضرور کیدیشی اګرچه حکمت ئې معلوم نه وی .

ف ۶ هر کله چه مالونه پاتې شوے دَ بنی نضیرو نه مالِ فئ وو نو په دے ایت کښ دَ هغې او دَ مالِ غنیمت په مینځ کښ فرق ذکر کوی .

وَمَآ اَفَآءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ فئ په اصل کښ واپس کیدل دی خپل زوړ مکان ته لکه فئ دَ زوال . نو اشاره ده چه دَ دے مالونو اصل مستحق نبی صلی الله علیه وسلم او مؤمنان دی لیکن کافرانو په زور او ظلم سره قبضه کړیدی یا دا چه الله تعالیٰ دوی ته لګ وخت دَ امتحان دَ پاره ورکړیدی او بیا ئې ترینه واپس اخلی .

فَمَآ اَوْجَفْتُمْ دا علت قائم دے په ځائے دَ جزاء محذوف یعنی فَلَا اِسْتِحْقَاقَ فِيْهِ لِلْمُجَاهِدِيْنَ (په دے کښ حق دَ عامو مجاهدینو نیشته) ځکه چه تاسو زور دَ جنګ سره دَ کافرانو نه نه دی اغستلے . نو کوم مال چه دَ کافرانو نه بغیر دَ جنګ نه حاصل شی نو هغه مالِ فئ وی لکه مالونه دَ بنی نضیر . دا رنګ چه دَ کافرانو نه جزیه او اخراج حاصل شی یا دَ هغوی نه څه مال بے وارثه پاتے شی

مِنْ اَهْلِ الْقُرٰى فَلِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ وَلِذِى

دَ کلو والو نه نو خاص دَ الله تعالیٰ دَپاره دی او دَ رسول صلے الله علیه وسلم دَپاره او دَ

الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ

خپلوانو دَ هغه دَپاره او دَ یتیمانو او مسکینانو او مسافرو دَپاره دی

كَیْ لَا يَكُوْنَ دُوْلَةًۢ بَيْنَ الْاَغْنِيَآءِ مِنْكُمْؕ

دَ دے دَپاره چه نه وی ادل بدل کیدونکے په مینځ دَ مالدارو کښی ستاسو نه

وَمَآ اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُۗ وَمَا نَهٰىكُمْ

او هغه څیز چه درکړے دے رسول صلی الله علیه وسلم نو او نیسئ هغه او هغه څیز چه منع کړی ئے تاسو

عَنْهُ فَانْتَهُوْاۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَؕ اِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ

دَ هغے نه نو منع شئ او ویره کوئ دَ الله تعالیٰ نه یقیناً الله تعالیٰ سخت

الْعِقَابِ ۝۷ لِلْفُقَرَآءِ الْمُهٰجِرِيْنَ الَّذِيْنَ

عذاب ورکوونکے دے. (دا مالونه) دَپاره دَ فقیرانو مهاجرینو دی هغه کسان

وقف لازم

نو دیته هم مالِ فئ ویلے کیږی او کوم مال چه دَ کافرانو نه په جنګ سره حاصل شی نو هغے ته مالِ غنیمت ویلے کیږی دَ هغے تقسیم ئے په سورة انفال ۱۰ کښی ذکر کړے دے. وَلَا رِكَابٍ جمع دَ راكبة ده او په عرف دَ عربو کښی دَ دے اطلاق صرف په راکب دَ اوښ باندے کیږی او دَ آس راکب ته فارس وائی. معلومه شوه چه صحابه کرام دَ بنی نضیرو کلو ته پیاده تللی وو مګر نبی صلی الله علیه وسلم په اوښ یا په حمار باندے سور ورغلے وو. يُسَلِّطُ رُسُلَهٗ یعنی دَ رعب دَ رسول دَ وجے نه هغه خلقو خپل مالونه پریښودلے دی لکه چه مخکښ تیر شوی دی.

ٹ په دے ایت کښی مصارف دَ مالِ فئ ذکر کوی روستو دَ ذکر دَ غیر مستحقینو او رد دے په طریقه دَ جاهلیت باندے. مِنْ اَهْلِ الْقُرٰى کلی دَ بنی نضیر او فدك او بعضِ کلی دَ بنی قریظه او (ړاپکے په بل مخ)

أُخْرِجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ وَأَمْوَالِهِمْ يَبْتَغُونَ

ویستلے شوے دی دَ کورونو خپلو او مالونو خپلو نه لټوی دوی

خیبر وغیره. فَلِلّٰهِ مراد دَ دے نه اختیار او تصرف دَ الله تعالیٰ دے او لام
دَ تصرف مستقل دَ پاره دے. وَلِلرَّسُوْلِ دا لام دَ استحقاق او دَ اختیار دَ تقسیم
دَ پاره دے. یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل خرچ او دَ اهل خرچه
به دَ دے مال نه کوله او باقی به ئے تقسیمولو. وَلِذِی الْقُرْبٰی دا لام صرف
دَ استحقاق په طور دَ مصرف سره دے او مراد دَ دوی نه مؤمنان دَ بنی هاشم
او بنی مطلب دی اګرچه اغنیاء وی دَ الْيَتٰمٰی نه مراد نا بالغ مذکر او مؤنث دی
چه پلار ئے مړ وی اګرچه مور ئے ژوندے وی. وَالْمَسٰكِیْنِ دا لفظ فقراء
ته هم شامل دے د او کله چه دواړه لفظونه په یو ځائے کښې ذکر کړے شی نو بیا ئے فرق
کیدیشی لکه په سورۃ توبه ۶۰ کښې. وَابْنِ السَّبِیْلِ مراد دَ دینه مسافر دے
اګرچه په وطن کښې مالدار وی لیکن په سفر کښې محتاج ګرځیدلے وی.
دا مصارف ئے په سورۃ انفال کښې هم ذکر کړے دی لیکن هلته دَ دوی حق
صرف په خمس دَ غنیمت کښې وو یعنی په ټول غنیمت کښې حق
نه لری او په مالِ فیٔ کښې دَ دوی حق مطلق دے روستو دَ تخمیس نه یعنی
خمس دَ نبی صلی الله علیه وسلم او باقی څلور حصے دَ دے څلورو قسمونو
دَ پاره دی. او دا قول غوره دے اګرچه بل قول دا دے چه دلته دَ دوی
حق پشان دَ خمس دَ غنیمت دے یعنی خمس الخمس خو هغه قول
مرجوح دے. کَیْ لَا یَکُوْنَ دُوْلَةً بَیْنَ الْاَغْنِیَآءِ مِنْکُمْ پدے جمله کښې
رد دے په رسم دَ جاهلیت باندے په باره دَ مالِ فیٔ کښې ځکه چه په جاهلیت
کښې مالِ فیٔ او مال غنیمت کښې به پوره څلورمه حصه دَ رئیس دَ هغوی وه دَ دے
وجے نه هغه ته به مرباع یا ربیع القوم ویلے کیدلو او باقی دریے حصو کښې به
هم دَ هغه اختیار وو که چا له به ئے ورکولے او که نه ورکولے او اکثر به ئے
مالدارو کښې تقسیمولے او دا دلالت کوی چه په اسلام کښې سرمایه دارانه نظام
نیشته لکه چه پدے کښې سوشلسټ نظام هم نیشته بلکه هرچا ته به که مالدار
وی او که غریب وی دَ هغه حق شرعی ورکیدلے شی. دُوْلَةً په پیښ دَ دال
سره هغه مالونه چه اوړی راوړی په مینځ دَ خلقو کښې او دا اسم دے. او په

فَضْلًا مِّنَ اللّٰهِ وَرِضْوَانًا وَّيَنْصُرُوْنَ اللّٰهَ

فضل	دَ	الله تعالیٰ	او	رضا	دَ هغه	او مددکوی دوی	دَ الله تعالیٰ

زوَر دَ دال سره په جنګ کښې غالب کیدل او تسلّط او بادشاهیٔ ته ویلے کیږی او دا مصدر دے۔ وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ الاٰية دا لفظ عام دے ټولو اوامرو دَ قرآن او سنت ته او مال فئ پکښې داخل دے.

او مَا اَمرکم یُے نه دی ویلے دَ پاره دَ دے چه شامل شی هر هغه قول او فعل او حال ته چه دَ صحیح حدیث نه ثابت وی نو کوم عمل چه نبی صلی الله علیه وسلّم همیشه دَ پاره ترک کړے وی نو مونږ به هغه ترک کوؤ دغه حال هم په ما اٰتاکم کښې داخل دے لکه چه ملا علی قاری په مرقات شرح مشکوٰة ص۱/۱۴۱ کښې لیکلی دے لکه هر قسم بدعات چه نبی صلی الله علیه وسلّم کړے نه وی او هغے ته یُے خصوصی ترغیب هم نه دے ورکړے نو دَ هغے پریخودل سنت دی او دَ دے تعمیم دَ پاره دلیلونه دادی، اول دلیل حدیث دَ صحیحین دَ ابوهریره رضی الله عنه دے چه رسول الله صلّی الله علیه وسلّم فرمائیلے دی "هرکله چه څه تاسو ته څه امر اوکړم نو په هغے باندے دَ خپل استطاعت موافق عمل کوئے او دَ کوم څیز نه چه مانهی کړے ده نو دَ هغے نه ځان بچ اوساتے" (بخاری کتاب الاعتصام او مسلم کتاب الفضائل باب توقیر رسول الله صلّی الله علیه وسلّم)۔ دویم حدیث دَ ابن مسعود رضی الله عنه دے چه صحیح مسلم کښې راوړے دے چه هغه په خالونو لګوونکو زنانو او دَ مخ نه ویښته ویستونکو او غاښونه فراخوونکو زنانو باندے لعنت دَ الله تعالیٰ ذکر کړو نو یو زنانه دَ بنی اسد قبیلے چه نوم یُے ام یعقوب وه ورپسے راغله ورته یُے اُویل چه تا ولے لعنت کړے دے په فلانکے زنانه باندے هغه اوفرمائیل "ایا څه به لعنت نه کوم په هغه چا چه رسول الله صلی الله علیه وسلّم په هغوی باندے لعنت کړے وی او دَ الله تعالیٰ په کتاب کښې وی نو هغے اویل چه ما خو ټول قرآن لوستلے دے او دا مسئله مِ پکښې نه ده موندلے هغه ورته اُویل که تا (صحیح) لوستلے وے نو تا به پکښې دا مسئله موندلے وه "ایا دا ایت تا نه دَے لوستلے وما اٰتاکم الرسول فخذوه الاٰية۔ دریم دلیل هم دَ ابن مسعود رضی الله عنه روایت دے په باره دَ حکم دَ محرِم کښې (پاتے په بل مخ)

وَرَسُولَهٗ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ الصّٰدِقُوْنَ ۚ ﴿۸﴾

او دَ رسول دَ هغه دغه کسان دوی رشتني دي -

چه کنړلے جاۓ ویستل په هغه باندے لازم دي او دا ایت ئے په دلیل کښ ذکر کړیدے دا قرطبی ذکر کړیدے۔ څلورم قول دَ امام شافعی رحمة الله علیه په باره دَ جواز دَ قتل کولو د محرم کښ مچ لره دائے دَ دے ایت او دَ یو حدیث نه ثابت کړیدے چه په هغے کښ اتباع دَ قول دَ عمر رضی الله عنه سره ئے اثبات کړیدے او دَ دے ایت دَ لاندے داخل کړیدے دا قرطبی ذکر کړیدی۔

پنځم دلیل نسائی کښ حدیث دَ ابن عمر او ابن عباس رضی الله عنهما راوړے دے او ابن کثیر نقل کړیدے۔ شپږم دلیل دَ ما اتاکم په مقابله کښ مانهاکم راوړے دے دلیل دے چه تمام اوامر دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم مراد دی۔ دا ټول دلیلونه دلالت کوی چه څوک ما اتاکم لره په مالِ فئ پورے خاص کوی او دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ اتباع دَ حدیث نه انکار کوی لکه منکرین حدیث نو دوی ګمراه دی او دَ دوی دا استدلال باطل دے چه دوی وائی چه ایتاء صرف په مالونو او محسوساتو کښ استعمالیږی وجه دا ده چه استعمال دَ ایتاء په غیر دَ مالونو کښ هم شوید لکه په سورة اعراف ۱۳۲ او ۲۰۳ سورة انبیاء ۳ غافر ۸۳ انعام ۸۲ او نورهم ډیر دی) او په دے ایت کښ رد دے په بدعاتیانو باندے چه هغوی دَ بدعاتو دَ جواز دَ پاره وائی چه سنت دَ نبی صلی الله علیه وسلم امر دے او نهی ده او په بدعاتو کښ (چه دوی ئے کوی) نهی نیشته حاصل دَ رد دا دے چه سنت دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ امر و نهی نه علاوه ترک ته هم شامل دے نو ترک دَ نبی صلی الله علیه وسلم یو عمل لره دلیل دے دَ هغے په نهی باندے او دا دَ ما اتاکم دَ لاندے داخل دے لکه چه مخکښ ذکر کړے شول۔

۸ په دیکښ اصل مستحقین دَ مالِ فئ ذکر کوی چه هغه درے قسمه دی او علت دَ استحقاق ته اشاره کوی او صفات دَ مهاجرینو پنځه ذکر کوی۔

للفقراء بدل دے دَ لِذِی القربیٰ نه یا مبتدا محذوف ده یعنی اَمْوَالُ الْفَئِ لِلْفُقَرَاء او دا صفات دَ مهاجرینو په اول وخت کښ وُو روستو اکثر مالداره شول۔ الَّذِیْنَ اُخْرِجُوا اه په دے وصف کښ اشاره ده چه حقیقی مهاجرین

وَالَّذِيْنَ تَبَوَّؤُ الدَّارَ وَالْاِيْمَانَ مِنْ قَبْلِهِمْ

او هغه کسان چه اباد شویدی په کورونو کښ (او حاصل کړیدے) ایمان مخکښ د راتللو د مهاجرینو نه

يُحِبُّوْنَ مَنْ هَاجَرَ اِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُوْنَ

مینه کوی د هغه چا سره چه هجرت کوی دوی ته او دوی نه مومی

فِيْ صُدُوْرِهِمْ حَاجَةً مِّمَّآ اُوْتُوْا وَيُؤْثِرُوْنَ

په خپلو سینو کښ خفگان د هغه څیز نه چه ورکړے شی (مهاجرینو ته) او غوره کوی

عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ ۭ وقف

په خپلو ځانونو باندے (مهاجرینو لره) اگر چه دی په دوی باندے لوږه

وَمَنْ يُّوْقَ شُحَّ نَفْسِهٖ فَاُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۹

او څوک چه بچ او ساتلے شو د حرص د نفس نه نو دغه کسان دوی کامیاب دی.

مراد دی ځکه چه مهاجر خو هغه چاته هم ویلے شی چه د گناهونو نه ځان ساتی.
مِنْ دِيَارِهِمْ وَاَمْوَالِهِمْ اشاره ده چه کورونه او مالونه د دوی وو لیکن د هغے نه په هجرت کولو سره دوی فقیران شول ځکه چه د دوی د قبضے او د تصرف نه بهر شول، او ملکیت د دوی د هغے نه زائل شویدے یا ته د زائل شوے دا د دے نه ته معلومیږی - او اهل اول د خو اکثر د مهاجرینو سره یو ځائے وو په هجرت کښ د دے وجے نه د هغوی ذکر ئے او نکړو.
يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا اه مراد د دے نه اجر او ثواب دے او رضوان د الله تعالیٰ مستقل نعمت دے - وَيَنْصُرُوْنَ اه یعنی روستو د هجرت نه دعوت او جهاد کول ئے نه دی پریخودلی بلکه هغه جاری ساتی.
اُولٰۗىِٕكَ هُمُ الصّٰدِقُوْنَ معلومه شوه چه هجرت او نصرت د دین د الله تعالیٰ دلیل د صدق د ایمان دے.
ف دا عطف دے په المهاجرین باندے او په یکښ پنځه صفات د انصارو ذکر کوی او دوی لره هم حصه ده په مال فئ کښ - تَبَوَّؤُ الدَّارَ الف لام عهدی دی یعنی دار د هجرت او د نصرت - (د یاتے په بل مخ)

وَالَّذِيْنَ جَآءُوْ مِنْ بَعْدِهِمْ يَقُوْلُوْنَ

او هغه کسان	چه راغي	روستو	دَ دوی	نه	دوی	وائي

وَالْاِيْمَانَ هركله چه تبوّ دَ ايمان سره تعلق نه لري نو معلومه شوه چه دلته فعل پټ دے يعني حصلوا الايمان يا تبوّ په معنیٰ دَ لزوم سره دے نو ايمان سره مناسبت لري. مِنْ قَبْلِهِمْ مراد دَ دے نه قَبْلَ هِجْرَتِهِمْ دے يعني دَ مهاجرينو مدينے ته دَ راتللو نه وړاندے انصارو مدينه کښ سکونت کوؤ او اکثرو ايمان راوړے وؤ ځکه دَ دوی دوه وفدونو مکے کښ دَ نبی صلی الله عليه وسلم سره بيعت دَ عقبے کړے وؤ او بيا دَ هغوی په دعوت سره اکثرو مدينے والو ايمان راوړے وؤ. يُحِبُّوْنَ مَنْ هَاجَرَ اِلَيْهِمْ دا جمله ئے په طريقه دَ حال سره ذکر کړله اشاره ده چه دَ ايمان سره محبت دَ مهاجرينو ملګرے وؤ او مراد دَ محبت نه محبت دَ زړونو دو او امداد کول دَ هغوی سره په نفسونو او مالونه سره دے.

وَلَا يَجِدُوْنَ فِيْ صُدُوْرِهِمْ حَاجَةً مراد دَ حَاجَةً نه حسد، بغض او غش او خفګان دے. مِمَّآ اُوْتُوْا ضمير راجع دے مهاجرينو ته يعني مهاجرينو ته چه مالِ فئ زکوٰة وغيره ډير ورکړيشي او عزت او مرتبه ورکړے شويده نو انصار په هغے باندے هيڅ خفګان او حسد نه کوی يا دا ضمير راجع دے انصارو ته يعني چه دوی لره هرڅومره مال فئ وغيره ورکړيشي اګر چه لګ وی ليکن دوی په هغے سره خفګان نه کوی.

وَيُؤْثِرُوْنَ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ دا دليل دَ محبت او عدم حسد او دَ اخلاص دَ انصارو دے. يعني حاجتونه دَ مهاجرينو په خپلو حاجتونو باندے مخکښ کوی. ايثار مخکښ کول دَ بل شخص دی په ځان باندے په دنيوی برخو کښ دَ پاره دَ حاصلولو دَ اخروی برخو او دا دليل دے دَ کمال يقين او دَ پوره محبت. عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ کښ اشاره ده چه دَ دوی نفسانی خواهشات په دے ايثار کښ بالکل مغلوب شويدی، خَصَاصَةٌ نفس احتياج او ضرورت او لوږے ته ويلے کيږی يعني دَ دوی

رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا

اے ربه زمونږ. بخښنه اوکړے مونږته او رونړو زمونږ ته هغه چه مخکښ زمونږنه ئے حاصل کړے دے

ایثار دَ وجے دَ استغناء نه نه دے بلکه سرهٔ دَ احتیاج نه دَ محبت دَ وجے نه دے او دَ انصارو دَ ایثار ډیر واقعات په احادیثو کښ راغلی دی او مفسرینو ډیرے قصے لیکلے دی او دَ یؤثرون مفعول ئے حذف کړے دے دَ تعمیم دَپاره یعنی یؤثرون باموالهم وانفسهم. او ایثار دَ نفس ډیر اوچت دے په ایثار دَ مال باندے لکه چه ابو طلحه رضی الله عنه په خپل لاس سره په اُحد کښ نبی صلی الله علیه وسلم لره بچ کوؤ او غشی دَ دشمنانو به دَ هغه په لاس باندے لګیدل نو لاس ئے شل شویوؤ.

او قرطبی دَ ابویزید البسطامی نه نقل کړیدے چه دَ بلخ یو نوجوان په ما باندے غالب شویوؤ هغه ځ له راغلے وؤ نو ما نه ئے تپوس اوکړو چه ستاسو په نیز زُهد څه ته ویلے کیږی نو ما ورته اُویل چه خوراک مونږ ته ملاؤ شی نو خورو او که نه ملاویږی نو صبر کوؤ نو هغه راته اُویل چه داسے خو په بلخ کښ سپی هم دی نو ما ورته اُویل چه ستاسو په نیز زهد څه ته ویلے شی نو هغه راته اویل چه مونږ ته ته ملاویږی نو هم شکر کوؤ او چه ملاؤشی نو ایثار کوؤ یعنی بل محتاج ته ئے ورکوؤ.

وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ په دے کښ اشاره ده چه دا تیر شوی اوصاف دلیل دے چه انصارو کښ شح او بخل نوؤ او دوی مستحق دَ فلاح دی.

شح او بخل کښ فرق دا دے چه. بخل عام دے که طبیعت کرځیدلے وی یا نه وی او شح دا چه حرص دَ انسان طبیعت اوګرځی. دَ دے وجے نه سورة النساء ۱۲۸ کښ واحضرت الانفس الشُّحَّ فرمائیلے دی. او ابن جریر ویلے دی شح دا دے چه پردی مالونه په ظلم سره خوری او بُخل دا دے چه خپل مال بل چا له نه ورکوی. شربینی دَ ابن عمر رضی الله عنهما نه نقل کړیدی چه شح دا دے چه پردی مالونو ته ګوری چه په څه طریقے سره ئے حاصل کړی. طاؤس ویلے دی چه شح دا دے چه خپل مال نه ورکوی او دَ پردی مالونو حاصلولو کوشش کوی. ابن کثیر حدیث دَ امام احمد نه نقل کړیدے چه شح او ایمان په زړه دَ بنده کښ چرے نه جمع کیږی.

بِالْاِیْمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِیْ قُلُوْبِنَا غِلًّا

ایمان لره او مه اچوے په زړونو زمونږ کښ خفګان

لِّلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا رَبَّنَآ اِنَّكَ رَءُوْفٌ رَّحِیْمٌ ﴿۱۰﴾ ع

ډ هغه چا ته چه ایمان ئے راوړے ډاے ربه زمونږ یقیناً ته شفقت کوونکے رحم کوونکے ئے۔

ف: په دے کښ دریم قسم خلق ذکر کوی چه ډ هغوی په مال فئ کښ حق دے چه هغه تابعداری کوونکی او دُعاء کوونکی دی صحابه کرامو (مهاجرینو او انصارو) ته ترقیامته پورے او دا درے واړه قسمونه په سورة توبه ف: کښ هم ذکر کوی. وَالَّذِیْنَ جَآءُوْ راتلل وجود ته یا راتلل ایمان ته مراد دی.
وَلِاِخْوَانِنَا الَّذِیْنَ سَبَقُوْنَا بِالْاِیْمَانِ مراد ډ اخوت نه ایمانی اخوّت دے په دلیل ډ الذین سبقونا بالایمان سره او دا لفظ شامل دے ټولو مؤمنانو ته عموماً چه ډ هر نبی په امت کښ وی او خصوصاً صحابه کرامو زمونږ ډ نبی صلی الله علیه وسلم ته. غِلًّا طبعی خفګان ته ویلے کیږی او دا ادنیٰ څیز دے په نسبت ډ حسد او بغض سره نو ازاله ډ ادنیٰ مستلزم ده ازالے ډ اعلیٰ لره. لِلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا په دے کښ قید ډ سبقونا نه دے ذکر کړے اشاره ده زیات عموم ته که تیر شوی مؤمنان وی او که موجوده وی. قرطبی ویلے دی چه دا ایت دلیل دے چه محبت ډ صحابه کرامو سره واجب دے ځکه چه شرط ډحق ډ فئ ډ پاره ډ هغوی استغفار او عدم غِل ئے ګرځولے دے نو څوک چه ټولو صحابو یا یو ډ هغوی ته بد وینا کوی یا ورسره بغض کوی نو هغه لره په مالِ فئ کښ حق نیشته او امام مالک رحمة الله علیه ډ دے ایت نه ځانته استدلال کړے دے ویلے دی چه څوک ډ یو صحابی سره بغض کوی یا په زړه کښ غِل لری نو په فئ ډ مسلمانانو کښ ډ هغه هیڅ حق نیشته.
او ابن کثیر او قرطبی ډ عائشه رضی الله عنها نه روایت نقل کړے دے ”چه تاسو ته امر کړے شوید ے چه صحابو ډ پاره استغفار غواړئ نو تاسو ورته کنځل او بد رد وئیل شورو کړل“ او دا ایت ئے اولوستلو.
او امام شعبی نه نقل دے چه یهود او نصاریٰ ډ شیعګانو نه په یو خصلت سره غوره دی هغه دا دے چه یهود یانو نه تپوس اوکړے شو

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ نَافَقُوا يَقُولُونَ

ایا نه گورے هغه کسانو ته چه منافقت یئ کړیدے وائی

لِإِخْوَانِهِمُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ

رونړو خپلو ته هغه کسان چه کفر یئ کړیدے دَ کتابیانو نه

الْكِتَابِ لَئِنْ أُخْرِجْتُمْ لَنَخْرُجَنَّ مَعَكُمْ

که چرے اُویستلے شوئے تاسو ضرور مونږ به اُوځو تاسو سره

وَلَا نُطِيعُ فِيكُمْ أَحَدًا أَبَدًا وَإِن قُوتِلْتُمْ

او خبره نه منو مونږ ستاسو په باره کښ دَ هیچا هیڅ چرے او که تاسو سره جنګ کیدے شی

لَنَنصُرَنَّكُمْ وَاللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ⑪

ضرور به مونږ ستاسو مدد کوؤ۔ او الله تعالیٰ ګواهی کوی چه یقیناً دوی دروغژن دی۔

چه ستاسو په ملّت کښ څوک غوره دی هغوی اُویل اصحاب دَ موسٰی علیه السّلام او دَ نصاری نه تپوس اوکړے شو چه ستاسو په ملّت کښ څوک غوره دی نو هغوی اُویل اصحاب دَ عیسٰی علیه السّلام او دَ روافضو نه تپوس اوکړے شو چه ستاسو په ملّت کښ شریان څوک دی نو دوی وائی اصحاب دَ محمّد صلّی الله علیه وسلّم. او دَ مصعب بن سعد نه روایت دے چه خلق په درے قسمه دی (مهاجرین، انصار) دا دواړه خو تیر شویدی او دریم قسم (تابعون باحسان) دا اوس هم باقی دی نو ځان په دے قسم کښ داخل کړئے یعنی دَ صحابه کرامو سره بغض مه کوئے او دَ هغوی تابعداری کوئے او دا سے قول دَ ابن ابی لیلی نه هم نقل دے۔

۱۱ دَ دے ایت نه دویم باب دے دَ اخر دَ سورت پورے په دے باب کښ دیارلس قبائح دَ منافقینو ذکر کوی دا هغه قبائح دی چه دَ اجلاء دَ بنی نضیرو په وخت کښ منافقانو کښ ښکاره شول۔ او زجرونه دَ منافقانو ته او دَ دوی دَ قباحت ښکاره کولو دَ پاره دوه مثالونه ذکر کوی۔ بیا امر دے مؤمنانو ته په تقوی سره او تحذیر دے دَ مشابهت (رپاتے په بل مخ)

لَئِنْ اُخْرِجُوْا لَا يَخْرُجُوْنَ مَعَهُمْ ۚ وَلَئِنْ

که چرے اُویستلے شی هغوی نو دوی نه اوځی دَ هغوی سره او که چرے

قُوْتِلُوْا لَا يَنْصُرُوْنَهُمْ ۚ وَلَئِنْ نَّصَرُوْهُمْ

جنګ کیدیشي دَ دوی سره نو دوی مدد نه کوی دَ هغوی سره او که چرے دوی ورسره مدد اوکړی

لَيُوَلُّنَّ الْاَدْبَارَ ۙ ثُمَّ لَا يُنْصَرُوْنَ ⑫

خامخا او به ګرځوی شا ګانے بیا به دَ دوی سره امداد نشی کیدے ۔

دَ منافقانو او کافرانو سره او بیان دَ فرق دَ دوی دے بیا ترغیب دے قران ته دَ پاره دَ حصول دَ خشیت او اختتام دے په ذکر دَ مسئلے دَ توحید سره په اسماء او صفاتو دَ الله تعالیٰ، او دا مقصد دَ خشیت دے۔ هر کله چه دَ مؤمنانو احوال یئے ذکر کړل نو اوس په (سا) کښ زجر دے منافقانو ته په ذکر دَ درے قبائحو دَ هغوی اول نفاق۔ دویم وعده دَ موافقت او نصرت دَ یهودیانو سره دریم کذب دَ دوی۔

نافقوا په دے کښ اشاره ده چه دا دوستو اوصاف ټول دَ نفاق دَ وجے نه دی لِاِخْوَانِهِمْ هغوی سره اخوت دَ اعتقاد او دَ دوستانے دَ وجے نه دے۔ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ مراد دَ دینه بنو نضیر دی۔

اَحَدًا مراد دَ دے نه محمد صلی الله علیه وسلم دے یعنی که چرے دے مونږ ته ستا سو دَ قتال یا اخراج یا تذلیل په باره کښ امر کوی نو مونږ دَ ده امر نه منو لَكٰذِبُوْنَ کذب په دے وجے سره دے چه دوی دا وعده په خُلے سره کوی او په زړه کښ اراده دَ وفا نیشته یا دَ دے وجے نه چه دوی دا کار نشی کولے هسے وائی۔

۱۲ په دے کښ اثبات دَ کذب دَ دوی دے او دَ منافقانو څلور حالات ذکر کوی۔ دَ اُخْرِجُوْا او قُوْتِلُوْا او مَعَهُمْ او هُمْ ضمیرونه یهودیانو ته راجع دی او ضمیرونه دَ لَا يَخْرُجُوْنَ او لَا يَنْصُرُوْنَ او نَصَرُوْهُمْ لَيُوَلُّنَّ او لَا يُنْصَرُوْنَ راجع دی منافقانو ته۔

او لَا يَنْصُرُوْنَ وَلَئِنْ نَّصَرُوْهُمْ کښ فرق دا دے چه په خوشحالئ سره دَ دوی مدد نه کوی او که مجبوره کړے شی دَ هغوی مدد کولو نه

لَاَنْتُمْ اَشَدُّ رَهْبَةً فِیْ صُدُوْرِهِمْ

خامخا تاسو ډیر سخت رعب والا یئ په سینو دَ دوی کښې

مِّنَ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا یَفْقَهُوْنَ ⑬

دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دا په دے وجه چه دوی داسے قوم دے چه صحیح پوهه نه لری۔

لَا یُقَاتِلُوْنَكُمْ جَمِیْعًا اِلَّا فِیْ قُرًى مُّحَصَّنَةٍ

جنګ نشی کولے دوی تاسو سره په یو ځائے مګر چه کلو قلعه بند و کښې وی

اَوْ مِنْ وَّرَآءِ جُدُرٍ ؕ بَاْسُهُمْ بَیْنَهُمْ شَدِیْدٌ ؕ

یا شاته دَ دیوالونو نه جنګ دَ دوی (ډوزے) په کورنئے دَ دوی کښې ډیر سخت دے

تَحْسَبُهُمْ جَمِیْعًا وَّ قُلُوْبُهُمْ شَتّٰى ؕ ذٰلِكَ

ګمان کوئے تاسو په دوی باندے یو خلق او حال دا چه زړونه دَ دوی دَ یو بل نه خلاق دی دا دَ دے

نو شا ګانے به اوګرځوی یا دا چه ضمیر فاعل دَ لَئِنْ نَّصَرُوْهُمْ راجع دے یهودیانو ته او ضمیر دَ هُمْ راجع دے منافقانو ته یعنی که چرے یهودیان دَ منافقانو امداد اوکړی نو دا یهودیان به په شا اوګرځی. ثُمَّ لَا یُنْصَرُوْنَ مراد دَ دے نه نفی ده دَ دوی دَ هر جانب نه.

۱۳ دا علت دَ پاره دَ ما قبل دے او په دے کښې دَ منافقانو دوه صفتونه ذکر کوی فِیْ صُدُوْرِهِمْ ضمیر منافقانو او یهودیانو دواړو ته راجع دے.

مِنَ اللّٰهِ لکه چه سورة نساء ۷۷ کښې دی. ځکه چه عذاب دَ الله تعالیٰ روستو وی دا رنګ په الله تعالیٰ باندے یقین نه لری نو دَ دے وجے دَ هغے نه دومره نه و یریږی لکه څنګه چه ستا نه و یریږی.

رَهْبَةً هغه سخته ویره ده چه سره دَ اضطراب او دَ غم نه وی.

لَا یَفْقَهُوْنَ دا رنګ سورة نساء ۷۸ او سورة توبه ۸۷ کښې دی.

فقه دَ کلام په ظاهری مفهوم او دَ هغے په اشاراتو او حکمتونو باندے پوهیدل دی. او دا دَ علم او معرفت او فهم نه اوچته درجه ده.

بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُونَ ﴿۱۴﴾ كَمَثَلِ الَّذِينَ

وجه نه چه دوی داسے قوم دے چه عقل نه لری ۔ (حال د دوی) پشان د حال د هغه کسانو دے

سلا دا نتیجه ده د رهبت د دوی او په دے کښ د دوی څلور قبائح ذکر کوی.
لَا يُقَاتِلُونَكُمْ ضمیر منافقانو او یهودیانو دواړو ته راجع دے۔
جَمِيعًا یعنی یو ائے خو بالکل قتال نشی کولے لیکن که چرے ټول یو ځائے
شی نو هم نشی کولے۔
إِلَّا فِي قُرًى اه یعنی د ډیرے ویرے او بزدلے د وجے نه دوی مؤمنانو سره
مخامخ قتال نشی کولے. او په خیبر کښ د دوی قتال په قلعه ګانو کښ او د دیوالونو
نه شاته وو د هغے استثناء ئے ځکه اوکړله. لیکن افسوس دے چه په
اوس زمانه کښ مسلمانان د کافرانو نه ویریږی او جنګ ورسره نشی کولے
دا د دے وجے نه چه اکثر مسلمانان هم د منافقانو په صفت او د مشرکانو
په شان په شرک کښ اخته شویدی۔
بَأْسُهُمْ بَيْنَهُمْ شَدِيدٌ یعنی د دوی کورنئ کښ دشمنی او اختلاف د یو بل سره
ډیر دے یا دا چه کورنئ کښ د جنګ خبرے او ځان لره د جنګ کولو سخت
صفتونه کوی۔
تَحْسَبُهُمْ جَمِيعًا وَّقُلُوبُهُمْ شَتّٰى یعنی د مؤمنانو په مخالفت کښ متفق
دی لیکن د دوی په عقیده و او خواهشاتو او ارادو کښ ډیر تفاوت
او اختلاف دے. لیکن اختلاف د زړونو سره ظاهری اتحاد هیڅ فائده
نه ورکوی لکه چه په نن زمانه کښ مختلف مسلکونو والا د یو بل سره
اتحاد ظاهری اوکړی لیکن د هغے هیڅ صحیح نتیجه نه راوځی۔
لَا يَعْقِلُونَ اشاره ده چه اختلاف د عقیده و او د مسلکونو او د خواهشاتو
د وجے د نقصان د عقل نه دے. هرکله چه آراء او نظریے د عقل
سره تعلق لری نو د دے سره ئے لا یعقلون ذکر کړو او رهبت د
عظمت او عذاب د طرف د الله تعالیٰ نه د کمال علم سره تعلق لری نو
مخکښ ئے لا یفقهون ذکر کړے وو۔

مِنْ قَبْلِهِمْ قَرِيبًا ذَاقُوا وَبَالَ أَمْرِهِمْ ج

چه دَ دوی نه مخکښ وُو په نزدے زمانه کښ او څکله هغوی سزا دَ کار خپل

وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿۱۵﴾ كَمَثَلِ الشَّيْطٰنِ

او دوی لره عذاب درد ناک دے. (حال دَ دوی) پشان دَ حال دَ شیطان دے

إِذْ قَالَ لِلْإِنسَانِ اكْفُرْ ج فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ

کله چه اوائی انسان ته کفر کوه نو هر کله چه هغه کفر اوکړی دے ورته اُوائی

إِنِّي بَرِيءٌ مِّنكَ إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ رَبَّ الْعٰلَمِينَ ﴿۱۶﴾

یقیناً زهٔ جدا یم ستا نه یقیناً زهٔ ویره کووُم دَ الله تعالیٰ نه چه رب العالمین دے.

ف۱۵ دا مثال دَ پاره دَ تخویف دَ نیوی دے منافقانو ته. او مَثَلُهُمْ لفظ پټ دے او الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ نه مراد کفار قریش دی په بدر کښ او بنو قینقاع دَ یهودو چه دَ بنو نضیر نه مخکښ په دوی باندے دَ الله تعالیٰ عذاب راغے. وَبَالَ أَمْرِهِمْ امر نه مراد دَ دوی کفر او دَ حق سره دشمنی او دَ نبی صلی الله علیه وسلّم سره لوظ ماتول دی. وَبَالَ نه مراد قتل دَ کفار قریش دے په بدر کښ او اُویستل دوی دَ کورونو نه بنی قینقاع لره.

ف۱۶ دا دویم مثال دے لیکن نه دے عطف کړے په ما قبل باندے ځکه اول مثال دَ عذاب دنیوی دے او دا مثال دَ دهوکے دَ منافقانو دے دَ یهودو (بنی نضیرو) سره. یا دا چه اول مثال دَ یهودیانو دے او دویم مثال دَ منافقانو دے نو دا دواړه مستقل مثالونه دی. شبه پدے مثال کښ دا ده چه منافقانو یهودیانو ته اُویل چه دَ دے نبی مخالفت کوئے او قتال ورسره کوئے مونږ به ستاسو مدد کوؤ او تاسو سره به دَ وطن نه اوځو لکه چه په ۱۱ کښ ذکر شول او یهودیان پدے قول دَ هغوی باندے دهوکه شول او په کفر باندے کلک شول او چه هر کله اویستلے شول نو منافقانو ترینه براءت اوکړو. او مشبه به په دے په قول دَ مجاهد سره هر انسان دے چه کفر او شرك او نفاق کوی په وسوسه دَ شیطان انسی یا جنّی سره او هر کله چه انسان کفر کښ کلک شی نو شیطان ترینه (پاتے په بل مخ)

فَكَانَ عَاقِبَتَهُمَآ أَنَّهُمَا فِى النَّارِ خَالِدَيْنِ

نو شو عاقبت دَ دواړو چه یقینًا دوی به په اور کښ وی همیشه به وی

فِيهَا ۚ وَذَٰلِكَ جَزَآؤُا الظّٰلِمِينَ ﴿۱۷﴾ ع ۲ع۷ ۵

په هغې کښ او دا سزا دَ ظالمانو ده .

يٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَلْتَنْظُرْ

اے ایمان والو ویره کوئے دَ الله تعالیٰ نه او فکر دِ کوی

نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۚ

هر نفس دَ هغه عمل چه لیږی ئے دَ صبا دَ پاره او ویره کوئے دَ الله تعالیٰ نه

إِنَّ اللّٰهَ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿۱۸﴾ وَلَا

یقینًا الله تعالیٰ خبردار دے په هغه عملونو چه تاسو ئے کوئے . او مه

براءت اوکړی په دے ویرے چه ما لره دَ دهٔ په عذاب کښ شریک نه کړی لیکن دا براءت شیطان ته هیڅ فائده نه ورکوی بلکه دَ دواړو عاقبت به اور دَ جهنم وی۔ او دویم قول دا دے چه مراد دَ الْإِنْسَانِ نه کفار قریش دی او شیطان لمسولے دی په قتال دَ ورځ دَ بدر باندے لکه چه سورة انفال ۴۸ کښ تیرشویدی او پدے دواړه توجیها تو باندے الانسان نه مراد جنس دے هر واحد او ډیرو ته شامل دے۔ او دریم قول دا دے چه مراد دَ انسان نه برصیصا راهب دے او دَ هغه واقعه ابن جریر او ابن کثیر قرطبی وغیره مفسرینو لیکلے ده اسرائیلی روایت دے تصدیق یا تکذیب ئے نه کوؤ لیکن اول قول غوره دے۔ إِنِّيٓ أَخَافُ اللّٰهَ رَبَّ الْعٰلَمِينَ دے قول دَ شیطان کښ خوف ایمانی مراد نه دے بلکه خوف طبعی یا خوف په دروغ دعویٰ سره دے ۱۸ روستو دَ بحث دَ منافقانو نه خطاب کوی مؤمنانو ته دِ دے دَ پاره چه ځان بچ کړی دَ صفاتو دَ نفاق نه او پدیکښ درے اوامر او یو نهی ذکر کوی۔ اول اتَّقُوا اللّٰهَ مراد دَ دے نه تقویٰ دَ ایمانیاتو ده یعنی دَ هر قسم شرک او کفر نه ځان ساتل۔ دویم وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ یعنی دَ ځان سره

تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ نَسُوا اللّٰهَ فَاَنْسٰهُمْ

کیږئ د هغه کسانو پشان چه هیر کړے دے الله تعالیٰ نو هیر کړل الله تعالیٰ د دوی نه

اَنْفُسَهُمْ ؕ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ⑲

نفسونه د دوی د غه کسان هم دوی پوره نافرمان دی ۔

لَا يَسْتَوِيْٓ اَصْحٰبُ النَّارِ وَاَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ؕ

نه دی برابر اور والا او جنت والا

حساب کول او تمیز کول په مینځ د حق او باطل کښ لِغَدٍ مراد ترینه ورځ د حساب ده ۔ غد په محاوره د عرب کښ راتلونکی ورځ ته ویلے کیږی او اشاره ده چه دا ټول عمر د دُنیا پشان د یوے ورځے دے او صباله قیامت دے ۔ دریم وَاتَّقُوا اللّٰهَ مراد د دے نه تقویٰ د اعمالو ده یعنی د اوامرو پابندی کول او د نواهی نه ځان ۔ بچ کول او په دے دواړه اقسامو د تقوی کښ د صفاتو د یهودیانو او منافقانو نه ځان ۔ بچ کول داخل دی ۔ خَبِیْرٌ دا صفت علم د باطن او ظاهر دواړو ته شامل دے ۔

١٩ دا خلورم خطاب دے ۔ مراد د دے نه مشابهت د کافرانو منافقانو مشرکانو نه په هره طریقے سره ځان ساتل دی که مشابهت په عقیده کښ وی او که په عمل او په اخلاقو کښ او که په صورت کښ او که په سیرت کښ وی او په غم او ښادے کښ او په لباس وغیره کښ ۔ لکه چه د تشبیه د دوی نه منع کړیده په سورة آل عمران ۱۵۶ او په سورة احزاب ۶۹ کښ ۔ نَسُوا اللّٰهَ مضاف حذف دے یعنی ذکر الله یا عذاب الله او نسیان په معنیٰ د ترک عمداً سره دے لیکن هر کله چه د الله تعالیٰ ذکر پریخودلے شی او غفلت ترینه اوکړے شی نو بیا هیر شی د دے وجے نه تعبیر ترینه په نسیان سره شویدے ۔ فَاَنْسٰهُمْ اَنْفُسَهُمْ جزا د جنس د عمل نه وی د دے وجے نه دا تعبیر اوکړے شو مراد د دے نه دا چه الله تعالیٰ دوی له توفیق د نیک عمل نه ورکوی او که نیک عمل وی نو ورسره شرک بدعت او ریاء وغیره کړی نو د دوی نفسونو ته به په قیامت کښ هیڅ نفع ورنکړی ۔ اَلْفٰسِقُوْنَ پوره فاسق هغه دے چه په عقیده او عمل دواړو کښ د دین د الله تعالیٰ نه وتلے وی او اشاره ده چه نسیان د ذکر الله سبب د فسق دے ۔

أَصْحٰبُ الْجَنَّةِ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ﴿٢٠﴾

جنت والا خاص دوی مرادونه حاصلوونکی دی (کامیاب دی).

لَوْ اَنْزَلْنَا هٰذَا الْقُرْاٰنَ عَلٰى جَبَلٍ لَّرَاَيْتَهٗ

که چرے مونږ نازل کړے وے دا قرآن په غر بانده ضرور تا به لیدلے وو هغه

خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ ؕ وَتِلْكَ

عاجزی کوونکے ټکړے کیدونکے د وجے د ویرے د الله تعالیٰ نه او دا

الْاَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ ﴿٢١﴾

مثالونه بیانوؤ مونږ د پاره د خلقو د دے د پاره چه دوی فکر اوکړی.

ف٢٠ دا علت د ماقبل دے یعنی مؤمنان دِ د مشابهت د کافرانو نه ځان د دے وجے نه بچ کړی چه د دوی عاقبت کښ پوره فرق دے. اَصْحٰبُ النَّارِ هغه دی چه الله تعالیٰ ئے هیر کړے دے او د یهودیت او منافقت اوصاف پکښ موجود دی.
وَاَصْحٰبُ الْجَنَّةِ هغه کسان چه ځان ئے د اوصافو او د تشبیه د کافرانو او منافقانو نه بچ ساتلے دے او دا عدم مساوات د فریقینو په سورة غافر ف٥٨ او سورة جاثیه ف٢١ او سورة ص ف٢٨ او سورة سجده ف١٨ کښ ذکر شوید دے.
فائده :- ابو سعود تفسیر کښ وئیلے دی چه اصحاب النار ئے د دے وجے نه مخکښ ذکر کړو چه سبب د عدم مساوات یعنی کوتاهی د جانب د دوی نه ده چه دوی په ځان کښ صفات د جنت والو نه دی پیدا کړی او دا رنګ اکثرًا ایاتونو د نفی د مساوات کښ جانب د نقصان والا مخکښ ذکر کړے دی او کله چه برعکس ذکروی نو هلته بل حکمت وی چه په خپل ځائے ذکر کیدے شی. اَلْفَآئِزُوْنَ دا په مقابله د الخاسرون کښ استعمالیږی نو معلومه شوه چه په تیر شوی ایت کښ فِسق چه سبب د خسران دے د خسران په ځائے ذکر شوید دے.
ف٢١ په دے ایت کښ درے توجیهات دی اول دا چه عظمت د قرآن کریم ذکر کوی سره د زجر نه منکرینو ته حاصل دا چه که یو غر ته الله تعالیٰ فهم او عقل د انسان پشان ورکړے وے او په قرآن کریم سره ئے مکلف کړے وے او قرآن ئے ورته اورولے وے نو هغه به د خشوع او خشیت د

هُوَ اللّٰهُ الَّذِیْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ عٰلِمُ الْغَیْبِ

خاص هغه الله تعالیٰ دے داسے ذات چه نیشته حقدار د بندگۍ سیوا د هغه نه عالم دے په هر پټ

وجے نه ټکړے شویوے اگرچه د ډیرو سختو ګټو نه ډک دے لیکن انسان اعراض کوؤنکے دومره سخت زړے دے چه په قرآن سره په دۀ کښ اثر نه پیدا کیږی او مضمون د دے پشان د آیت د سورت بقرے ۷۴ دے. دویم توجیه دا ده چه په دیکښ ثقل د قرآن او احسان په نبی صلّی الله علیه وسلّم باندے ذکر کوی یعنی د قرآن کریم بوج او درونډ والے خو دومره دے چه غرونه د هغې برداشت نه شی کولے لیکن الله تعالیٰ خپل نبی صلّی الله علیه وسلّم له دومره قوّت ورکړے دے چه هغه د قرآن کریم د ثقل د نزول او د بوج د تبلیغ برداشت کوی لکه په سورة مزمل ۵ کښ ثقل ذکر دے او په سورة مریم ۹۷ او سورة دُخان ۵۸ کښ یُسر (آسانتیا) ئے ذکر کړے دے.
دریمه توجیه داده چه په دے کښ ثقل د قرآن کریم او جواب سوال ذکر کوی سوال د مشرکینو او د یهودیانو دا وو چه دا قرآن په یوځل ولے په نبی باندے نه نازلیږی؟ حاصل د جواب دا دے چه په یوځل (په جمع) دا قرآن په غر باندے نازل شی نو هم ئے برداشت نه شی کولے ځکه چه د غر قوت د جسم ډیر زیات دے نو نبی صلّی الله علیه وسلّم د هغې برداشت څه رنګ کولے شی؟ د دے وجے نه الله تعالیٰ لګ لګ نازل کړو سره د دے نه چه بیا یه هم په نبی صلّی الله علیه وسلّم باندے په سخته یخنۍ کښ خوَلے راتللے. او په دے ټولو توجیهاتو سره ربط د آیت د ماقبل سره دادے چه کافران یهود او منافقان وغیره د اصحاب النار د ډلے نه په دے قرآن سره وتلے شی په دے شرط چه په دے کښ فکر اوکړی او ایمان پرے راؤړی او د قرآن په سبب الله تعالیٰ ته خشوع اوکړی او خشیت اوکړی.
او بیا په دریمه توجیه باندے د القرآن نه ټول قرآن په جمع سره مراد دے. خَاشِعًا مُّتَصَدِّعًا مِّنْ خَشْیَةِ اللّٰهِ یعنی په قرآن سره اول خشیت د الله تعالیٰ نه پیدا کیږی بیا د خشیت د وجے نه خشوع پیدا کیږی بیا خشوع چه ترقی اوکړی نو تصدّع پیدا کیږی. خشوع نه مراد تذلل کول دی په طاعت سره او تصدع نه مراد (پاټے په یل مخ)

وَالشَّهَادَةِ ۚ هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ ﴿٢٢﴾

او ښکاره پانده خاص هغه پوره مهرباني کوونکے خاص رحمت والا دے .

څوک دَ ویرے دَ ګناه او دَ عذاب نه-
فائده :. په مؤمنانو کښې دَ دے مصداق په ترتیب سره دا دے چه په قیام دَ مونځ کښې قران لولی پخپله او دَ امام نه ئے اوری په خشیت سره نو دَ هغے نه روستو خشوع اوکړی په رکوع کولو سره لکه چه حدیث کښې دَ خشوع اطلاق په رکوع باندے شوے دے او بیا دَ خشوع نه روستو تصدّع پیداشی په سجده کولو او په ژړا کولو سره -
وَتِلْكَ الْاَمْثَالُ اه په دے کښې اشاره ده چه ذکر دَ حال دَ غر په وخت دَ انزال کښې دَ تمثیل دَ پاره دے او دَ مثال دَ پاره امکان دَ هغه څیز کافی وی اګر چه وقوع او وجود کښې نه وی راغلے - لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُوْنَ تفکّر په مثال کښې دا دے چه په هغے کښې مُمَثَّلٌ لَهٗ او مُمَثَّلٌ بِهٖ او وجه دَ تمثیل معلومه کړی او بیا دَ هغے نه عبرت او وعظ حاصل کړی-
٢٢ شربینی په باره دَ ربط کښې ویلے دی چه عظمت دَ قران کریم ذکر شو او قران صفت دَ الله تعالیٰ دے نو اوس عظمت دَ موصوف (چه الله تعالیٰ دے) ذکر کوی ځکه چه عظمت دَ صفت دَ وجے دَ عظمت دَ موصوف نه دے.
دویم ربط دا دے چه خشیت او خشوع په قران سره هله حاصلیږی چه دَ الله تعالیٰ اسماءِ حسنیٰ او صفاتِ عُلیا او پیژنی او په دے درے ایاتونو کښې دَ الله تعالیٰ اسماء او صفات ئے په حذف دَ تکرار سره ذکر کړے دی.
هُوَ ضمیر راجع دے نازلونکی دَ قران ته یا مرجع دَ دے هغه ذات دے چه موجود دے په ټولو ذهنونو او فکرونو کښې او غائب دے په اعتبار دَ عظمت شان خپل.
اَللّٰهُ دا خبر دَ هُوَ دے او دا اسمِ ذات دَ الله تعالیٰ دے چه موصوف دے په راتلونکو صفتونو سره- اَلَّذِىْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ دا اول صفت دے او مقصود په دے کښې اثبات دَ الوهیت په طریقه دَ اختصاص سره دے دَ پاره دَ الله تعالیٰ په دلیل دَ علم دَ الله تعالیٰ سره په هر څیز باندے چه دَ هغه دَ علم نه هیڅ څیز بهر نیشته دَ دے وجے نه وروستو صفت دَ علم ئے ذکر کړے دے .
عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ دا دویم صفت دے الغیب او الشهادة مصدرونه دی

هُوَ اللّٰهُ الَّذِیْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ اَلْمَلِكُ

خاص هغه الله دے دا سے ذات دے چه نیشته حقدار د بندګۍ سیوا د هغه نه پوره بادشاه دے

الْقُدُّوْسُ السَّلٰمُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَیْمِنُ الْعَزِیْزُ

ډیر پاک دے بچ دے د هر نقصان نه امن ورکوونکے ساتنه کوونکے دے عزت والا دے

الْجَبَّارُ الْمُتَکَبِّرُ ؕ سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا یُشْرِکُوْنَ ﴿۲۳﴾

زور کوونکے دے خاوند د لویۍ دے پاکی ده الله تعالیٰ لره د هغې نه چه دوی ورسره شریک جوړوی

په معنیٰ د اسم فاعل دی یعنی هغه خیزونه چه غائب دی د مخلوق نه او حاضر دی مخلوق ته۔ هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِیْمُ دا دوه صفتونه یعنی تقسیم د عامو نعمتونو په دُنیا کښې او د خاص نعمتونو په دُنیا او آخرت کښې په علم د هغه سره دی د دے مناسبت په وجه سره دا صفتونه ئې په یو ځائے ذکر کړل۔

۲۳ په دے کښې مقصد اثبات د الوهیت سره د اختصاص نه د الله تعالیٰ د پاره دے په دلیل د قدرت او تصرف د هغه سره په هر خیز کښې په هر جهت سره د دے وجے نه روستو صفتونه د تصرف ئې ذکر کړیدی نو معلومه شوه چه د الوهیت د اثبات د پاره دوه قسمه صفتونه ضروری دی صفت د علم بکل شئ او صفت د قدرت علی کل شئ او دا دواړه خلاصه ده د صفتونو د الله تعالیٰ. اَلْمَلِكُ تصرف او تدبیر کوونکے دے په تمام مخلوق کښې په امر و نهی سره او په ښائسته نظام او ترتیب سره۔ اَلْقُدُّوْسُ ډیر پاک دے د هر نقصان او عیب نه په ذات او تمام صفاتو کښې او خصوصًا په خپله بادشاهۍ چلولو کښې اَلسَّلٰمُ سالم او بچ دے د عارض کیدلو د هر نقصان او عیب نه په ذات او صفاتو کښې نو فرق د قدوس او سلام دادے چه ذاتی او اصلی نقصان پکښې نیشته نو قدوس دے او عارضی نقصان او عیب هم پکښې نشی راتللے نو سلام دے، یا سلامتیا ورکوونکے بندګانو ته هر کله چه او غواړی، یا سلامتیا ورکوونکے د ظلم کولو نه یعنی ظلم په هیڅ نه کوی۔ اَلْمُؤْمِنُ امن ورکوونکے دوستانو خپلو ته د عذاب نه او ټولو خلقو ته د خوف د ظلم کولو نه۔ نو فرق د السلام په روستے معنیٰ سره او المؤمن دادے چه السلام کښې اشاره ده چه معامله د ظلم د هیڅ سره نه کوی او المؤمن کښې اشاره ده چه د خوف د ظلم (پاتے په بل مخ)

هُوَ اللّٰهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ لَهُ الْاَسْمَاءُ

خاص هغه الله تعالی دے پیدا کوونکے دے جدا جدا کوونکے شکلونه ورکوونکے دے خاص هغه لره نومونه دی

نه ئے امن ورکړیدے - یا الْمُؤْمِنُ بنکاره کوونکے د توحید خپل دے په خپل شهادت سره چه (شهد الله انه لا اله الا هو) او په دلیلونو سره ، دا معنی د مجاهد نه نقل ده - یا تصدیق کوونکے د رسولانو خپلو په معجزاتو سره او د مؤمنانو په ثواب ورکولو سره - الْمُهَيْمِنُ ساتنه کوونکے د ټول مخلوق او د هغوی د عملونو دے لکه "اَفَمَنْ هُوَ قَآئِمٌ عَلٰى كُلِّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ" (رعد ۳۳).

یعنی سلامتیا او امن د دے وجے نه ورکولے شی چه حافظ او ساتنه کوونکے د مخلوق دے - الْعَزِيْزُ ، ساتنه څکه کولے شی چه غالب دے په هغه کار چه اوغواړی او هیڅوک هغه لره د خپلے ارادے نه نشی منع کولے عزت والا دے بے مثاله بے نظیره دے - الْجَبَّارُ ابن قیم په قصیده نونیه کښ د دے درے معانی ذکر کړیدی او هغے ته قرطبی هم اشاره کړیده - اوله معنیٰ جبر په معنیٰ د اصلاح سره یعنی د خپل مخلوق د کمزورئے او د بیمارو اصلاح کوی - دویمه معنیٰ زورآور دے په ټول مخلوق باندے چه په زور سره خپله اراده په مخلوق کښ نافذ کولے شی - دریمه معنیٰ اوچت دے د ټول مخلوق نه (په صفت د علو سره) د چالاس (او طاقت) ورته نشی رسیدلے او بله څلورمه معنیٰ دا ده چه جبار هغه ذات دے چه د هغه د پاره د هیچا قانون او حکم او زور نشی چلیدلے او دغه معنیٰ مراد ده په سورة مریم ۳۲ کښ او جبار د الله تعالیٰ په باره کښ صفت د مدح دے او د مخلوق په صفت کښ صفت د ذم دے - الْمُتَكَبِّرُ بنکاره کوونکے دے خپلے کبریاء لره په دلیلونو عقلیو او وحییو سره - ډیر لوئے دے په ټول مخلوق باندے په ذات او صفتونو سره - فرق په مینځ د مستکبر او متکبر کښ دا دے چه استکبار همیشه په ناحق لوئی کښ استعمالیږی د دے وجے نه دا په صفت د الله تعالیٰ کښ نه راځی او تکبر کله په حق سره وی لکه په صفت د الله تعالیٰ کښ او کله په ناحقه سره وی لکه په صفت د مخلوق کښ.

سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ دا جمله هم په طریقه د صفت د الله تعالیٰ سره ده یعنی په دے صفتونو ذکر کړے شوی کښ او نورو صفتونو د

الْحُسْنٰى ۭ يُسَبِّحُ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ

خائسته پاکی وائی هغه لره هغه څیزونه چه په اسمانونو کښې دی او زمکه کښې دی

وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۲۴﴾ ع

او خاص هغه زوراور حکمتونو والا دے.

دَ الوهیت کښې دَ الله تعالیٰ سره هیڅوک شریک نشی کیدے۔
۲۴ دا صفات هم په تصرف او قدرت باندے دلالت کوی۔ اَلْخَالِقُ دَ خلق نه دے او په معنیٰ دَ تقدیر دے لکه "خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيٰوةَ" یا په معنیٰ دَ قدّر دے یا په معنیٰ دَ نطفے نه جوړول دَ بدن۔ اَلْبَارِئُ هر یو لره دَ بل نه په فرق او تفاوت سره جوړوونکے۔ اَلْمُصَوِّرُ شکل او صورت دَ مخ او دَ اندامونو جوړوونکے۔ لَهُ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى دا هم صفت دَ الله تعالیٰ دے په اجمالی ذکر سره او اسماء نه اسماء صفتیه مراد دی په صیغه دَ اسمِ فاعِل او صفتِ مشبه او اسم تفضیل سره۔ او دا اسماء په قرآن کریم کښې غیر اضافی ع۹۲ دی او اضافی ع۲۶ دی او دَ دے نه علاوه په احادیثو صحیحو کښې دی او دا اسماء په دوه قسمه دی ثبوتیه لکه چه مخکښې ذکر شول او سلبیه هغه په قرآن کریم کښې دوه قسمه دی ع۱ سلبِ کلی سره هغه ع۵ دی ع۲ او سلبِ خاصّه سره هغه ع۲۶ دی او دَ اهل السنت والجماعت په نیز باندے دا ټول توقیفی دی یعنی په قرآن او حدیث صحیح کښې چه کوم دَ الله تعالیٰ دَ پاره ثابت دی یا په هغے کښې سلب شوی نو دَ هغے په ثبوت باندے یا په سلب باندے عقیده ساتل ضروری دی او دَ اسماءِ حسنیٰ حصر په خاص عدد کښې نیشته دے او کوم چه په حدیث صحیح کښې ذکر دی چه الله تعالیٰ لره یو کم سل نومونه دی نو دَ هغے مطلب دَ محدثینو په نیز باندے داد ے چه ثواب خاصّه (چه مَنْ اَحْصَاهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ) په دے یو کم سلو پورے دے۔
فائده:۔ حُسن په اسماء دَ الله تعالیٰ کښې په ډیرو وجوهو سره دے۔ اوله وجه داده چه دا خاص دی په الله تعالیٰ پورے دَ هغے په حقیقت کښې هیڅوک شریک نیشته دویمه وجه هر اسم رپاتے په بل مخ)

په خپله معنیٰ حقیقی کښې په طریقه دَ کمال سره ماخوذ دے ۔
دریمه وجه دا چه الله تعالیٰ په دے صفاتو کښې هیڅ چا ته حاجت نه لری۔
څلورمه وجه داده چه دا اسماء موقوف دی په نقل باندے عقل لره په دے کښې دخل نیشته دے۔
پنځمه وجه داده چه دا ټول قدیم دی هیڅ حدوث پکښې نیشته۔
[او نور تفصیلی بحث دَ دے اسماؤ ما په یو رساله کښې لیکلے دے امید دے چه هغه رساله به په کتاب الایمان کښې چاپ شی انشاءالله تعالیٰ]
يُسَبِّحُ لَهٗ دا هم صفت دَ الله تعالیٰ دے۔
او حدیث صحیح کښې راغلی دی چه چا صبا او بیګاه درے ځله "اعوذ بالله السمیع العلیم من الشیطان الرجیم" اُوئیلو بیا دا درے ایاتو نه یو ځل اولولی نو الله تعالیٰ په دهٔ باندے اویا زره ملائیک مقرر کړی دُعا ورله غواړی او که مړ شی په دغه شپه یا ورځ کښې نو مرګ به ئے دَ شهادت وی (اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنَا مَوْتَ الشَّهَادَةِ فِيْ سَبِيْلِكَ)

الحمد لله ختم شو تفسیر دَ سورة حشر په فضلِ الله تعالیٰ سره

سُوْرَةُ الْمُمْتَحِنَةِ ۶۰ مَدَنِيَّةٌ ۹۱	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰيَاتُهَا ۱۳ رُكُوْعَاتُهَا ۲

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا عَدُوِّيْ

اے ایمان والو مه نیسئ دُشمن زما

وَعَدُوَّكُمْ اَوْلِيَآءَ تُلْقُوْنَ اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ

او دُشمن ستاسو دوستان چه غورځوئ تاسو هغوی ته خبرے دَ دوستانے

وَقَدْ كَفَرُوْا بِمَا جَآءَكُمْ مِّنَ الْحَقِّ ج

او حال دا چه هغوی کفر کړے دے په هغه چه راغلے دے تاسو ته دَ حق نه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة الممتحنه دَ حَا زوَر او زیر دواړه ثابت دی او نور نومونه ئے سورة المودّة او سورة المرءة او سورة الامتحان دی۔

ربط دَ دے دَ مخکښ سورت سره په درے وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه په هغه سورت کښ تخویف دنیوی وو دَ پاره دَ مشاقینو او په دے سورت کښ امر دے مؤمنانو ته دَ هغوی په براءت باندے دویمه وجه دا ده چه دَ تیر شوی سورت په آخر کښ تفصیلی توحید ذکر کړے شو نو په دے سورت کښ منکرینو دَ توحید سره اظهار دَ دُشمنئ دے۔ دریمه وجه دا ده چه په هغه سورت کښ دَ مؤمنانو اقسام ذکر کړل نو په دے سورت کښ دَ کافرانو اقسام ذکر کوی۔

دعوی دَ سورت۔ نهی ده دَ دوستانے دَ کافرانو نه په ت ۱۳ کښ۔ او یوولس اسماء حسنیٰ ذکر دی دَ پاره دَ معرفة الٰهیه۔

خلاصه دَ سورت۔ دا سورت دوه بابونو ته تقسیم دے اول باب ترک پورے دے په دے کښ منع ده مؤمنانو لره دَ دوستانے دَ کافرانو نه په ذکر کولو دَ اوو علتونو سره په ت ۱ ت ۲ کښ او جواب دَ عذر دے په ت ۳ کښ او ترغیب دے په براءت کولو کښ او اقتداء دَ ابراهیم علیه السلام او دَ تابعدارو دَ هغه ته په براءت کولو او په دُعاګانو غوختلو کښ۔

يُخْرِجُوْنَ الرَّسُوْلَ وَاِيَّاكُمْ اَنْ تُؤْمِنُوْا

او باسي دوی رسول صلّی الله علیه وسلم لره او تاسو لره ددے وجے نه چه تاسو ایمان راوړے دے

بِاللّٰهِ رَبِّكُمْ ؕ اِنْ كُنْتُمْ خَرَجْتُمْ جِهَادًا

په الله تعالیٰ چه رب ستاسو دے که چرے تاسو وتلي یئ (د وطن نه) د پاره د جهاد

فِيْ سَبِيْلِيْ وَابْتِغَآءَ مَرْضَاتِيْ ۖ تُسِرُّوْنَ

په لار زما کښې او د پاره د لټولو د رضا زما پټے لیږے تاسو

اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ ۖ وَاَنَا اَعْلَمُ بِمَآ اَخْفَيْتُمْ

هغوی ته دوستانے او زه ښه پوهه یم په هغه څه چه تاسو پټوئے

وَمَآ اَعْلَنْتُمْ ؕ وَمَنْ يَّفْعَلْهُ مِنْكُمْ فَقَدْ

او هغه څه چه تاسو ښکاره کوئے او چا چه اوکړو دا کار (په ائینده وخت کښې) ستاسو نه نو یقینًا

ضَلَّ سَوَآءَ السَّبِيْلِ ① اِنْ يَّثْقَفُوْكُمْ

گمراه شو د برابر لارے نه . که چرے د دوی وس برشي په تاسو باندے

تفسیر ۱ په دیکښې مؤمنانو لره منع کوی د دوستانے د کافرانو نه او د هغوی سره په دشمنئ کولو باندے راپورته کوی او د هغے د پاره څلور وجے د هغوی د دُشمنئ د مؤمنانو سره ذکر کوی او درے صفات یئے د مؤمنانو ذکر کړیدی. ایمان او جهاد او طلب د رضا د الله تعالیٰ او دا صفتونه منع کوونکی دی د دوستانے د کافرانو نه. او دا مسئله په سورة مائده ۵۱ تر ۵۷ او سورة نساء ۱۴۴ او سورة آل عمران ۲۸ کښې هم تیر شویدی. اَوْلِيَآءِ د ولایت درے مرتبے دی. اوله مرتبه د کافرانو سره ملگرتیا کول په عقیده او په کار د کفر او شرک کښې دا خو کفر دے. دویمه مرتبه د هغوی سره په کارونو د کفر کښې مالی یا بدنی امداد کول اگرچه په کفر او شرک کښې ورسره شرکت نه کوی دا هم گناه کبیره دے دریمه مرتبه د هغوی توقیر او عزت کول د هغوی نه مشر جوړول او د هغوی د اکرام د پاره او دریدل وغیره (پاتے په بل مخ)

يَكُونُوا لَكُمْ أَعْدَاءً وَيَبْسُطُوا إِلَيْكُمْ

نو کیږي دوی ستاسو دښمنان او اوګدوي دوی تاسو ته

أَيْدِيَهُمْ وَأَلْسِنَتَهُمْ بِالسُّوءِ وَوَدُّوا

لاسونه خپل او ژبې خپلې په بدې سره او دوی غواړي

لَوْ تَكْفُرُونَ ۝٢ لَنْ تَنْفَعَكُمْ أَرْحَامُكُمْ

چه تاسو کفر اوکړئ . هیچرې نفع نه درکوي تاسو ته خپلوان ستاسو

داهم ګناه دے اودا ټولے مرتبے په دے نهي کښ داخل دي.

تُلْقُونَ إِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ بآ دَ تاکید دَپاره زیاتي ده او مفعول دَ تلقون دے یا بآ سببیه ده مفعول حذف دے یعني یلقون الیهم الاسرار (ایلے هغوي ته پټ رازونه) په سبب دَ موَدّت سره. قرطبي ویلے دي چه مراد دَ موَدت نه تعلق ظاهري دے ځکه چه زړه دَ حاطب بن ابي بلتعه (چه دا ایت دَ هغه په باره کښ نازل شوید ے) دَ هغوي دَ دوستانے نه پاک وؤ په دلیل دَ قول دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم سره "اَمَّا صَاحِبُكُمْ فَقَدْ صَدَقَ".

يُخْرِجُونَ الرَّسُولَ دا استیناف دے علت دے دَپاره دَ وَقَدْ كَفَرُوا نو تفسیر دے دَ کفر دَ هغوي. أَنْ تُؤْمِنُوا بِاللهِ رَبِّكُمْ یعني بل جرم ستاسو نه وؤ ماسیوا دَ دَے نه چه تاسو مؤحدین یئ اودا دلیل دے چه څوک یو مؤمن لره دَ هغه دَ ایمان او دَ توحید اوحق پرستۍ دَ وجے نه دَ ملک نه شړي یا ورته څه تکلیف رسوي نو هغه کافر دے اودا ١ په سورة بروج ٨ اوسورة حج ٤٠ کښ هم شته. تسرون الیهم بالمودة دا جمله مستانفه ده په تقدیر دَ أَنْتُمْ (مبتدا) سره یا بدل دے دَ تلقون نه په بدل اشتمال سره او المودة نه مراد النصیحة (خیرخواهي) ده. وَمَنْ يَفْعَلْهُ مِنْكُمْ صیغه دَ فعل مستقبل یئ دَ دے دَپاره راوړله چه دا کار چا وړاندے زمانه کښ کړے دے (لکه چه حاطب رض بن بلتعه کړے وؤ) نو هغه ګمراه اوګنهګار نه دے.
قرطبي ویلے دي چه دا ټول عتاب دے لکه چه یو دوست بل دوست ته کوي نو دلالت کوي په فضیلت اوشرافت دَ حاطب رضي الله عنه باندے.
٢ په دے ایت کښ درے علتونه (یعني اوصاف دَ کافرانو) (راتے په بل مخ)

وَلَآ اَوْلَادُكُمْ ۚ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۚ يَفْصِلُ

او نه اولاد ستاسو پهٔ ورځ دَ قیامت جدائي به اوکړي

بَيْنَكُمْ ۭ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ③

په مینځ ستاسو کښ او الله تعالیٰ ستاسو عملونو لره لیدونکے دے .

مع ۲ عند المتاخرین ۱۲ السماء ع الوقف علی القیمة ع ج ۱۲

ذکر کوی دَپاره دَ براءت کولو دَ هغوی نه۔

اِنْ يَّثْقَفُوْكُمْ دا لفظ استعمالیږی په موندلو کښ سرهٔ دَ غلبے نه يَكُوْنُوْا یعنی سرهٔ دَ دے نه چه تاسو ورته خطونه لیکے لیکن دَ هغے لحاظ نه کوی۔

وَاَلْسِنَتَهُمْ په کنځلو او طعنونو ویلو سره، او اید یکم ئے مخکښ ذکر کړو اشاره ده ډیرے دُشمنئ کولو ته .

وَوَدُّوْا دا ئے په فعل ماضی سره ذکر کړو یعنی دا تمنّا دَ دوی دَ زړه ده لکه سورة بقره ۱۰۹ کښ۔

۳ په دے کښ جواب دَ عذر دے چه حاطب رضی الله عنه ذکر کړے وۀ ("ویلے وۀ چه ما دوی ته خط دَ دے وجے نه لیږلے وۀ چه په دوی باندے زما احسان راشی نو په مکه کښ به زما دَ اهل او قرابت والو او مالونو حفاظت اوکړی") حاصل جواب دا دے چه دَ قرابت او اولاد په سبب دَ عذابِ الٰهی نه بچ کیدل نشی کیدلے .

دَ بخاری په روایت کښ په معذرت دَ دهٔ کښ قرابت ذکر دے او نورو روایتونو کښ مال او اهل او اولاد هم ذکر کړے دے . او هر کله چه اُمید دَ نفع ورکولو په سختے کښ دَ خپلوانو سره اول کیدے شی نو دَ هغوی ذکر ئے مخکښ راوړو۔ او کیا هراسی نه نقل دی چه دَ دے ایت نه معلومه شوه چه دَ خوف دَ مال او اولاد دَ وجے نه فتنه دَ دین قبلول نشی جائز کیدے۔

يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَفْصِلُ بَيْنَكُمْ هر کله چه امید دَ نفع دَ وصل دَ وجے نه دے نو الله تعالیٰ دَ هغے په مقابله کښ فصل ذکر کړو .

يَوْمَ الْقِيٰمَةِ متعلق دے په لَنْ تَنْفَعَكُمْ پورے او يَفْصِلُ مستقل کلام دے یا يَوْمَ الْقِيَامَةِ ظرف دَپاره دَ يُفْصِلُ دے او دَ دے نه جمله مستقله شوروشوی ده۔

قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِيٓ إِبْرَٰهِيمَ

یقینًا شته دے ستاسو دپاره نمونه د تابعدارے خائسته په ابراهیم علیه السّلام

وَالَّذِينَ مَعَهُۥٓ إِذْ قَالُوا۟ لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَءَٰٓؤُا۟

او په هغه کسانو کښ چه د هغه سره وو کله چه دوی اُویل قوم خپل ته یقینًا مونږ ویزاره یو

مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ ز

ستاسو نه او د هغه څانه چه تاسو یې بندګی کوئے سیوا د الله تعالیٰ نه

كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ ٱلْعَدَٰوَةُ

انکار کوو ستاسو د طریقے نه او ښکاره ده په مینځ زمونږ او ستاسو کښ دُشمنی

وَٱلْبَغْضَآءُ أَبَدًا حَتَّىٰ تُؤْمِنُوا۟ بِٱللَّهِ

او کینه همیشه تر دے پورے چه ایمان راوړئے تاسو په الله تعالیٰ

ک په دے کښ جواب سوال دے یعنی که اویلے شی چه د خپلو انو رشته دارانو سره براءت کول دا خو بے دینی ده نو جواب او شو چه دا خو دین د ابراهیم علیه السّلام دے چه هغه او ملګرو د هغه د مشرکانو نه براءت کړے وو اګر چه د هغوی پلاران او اولاد وغیره وو نو د هغوی اقتداء کول لازم دی.

أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ تفسیر د دے په سورة احزاب کښ تیر شوے دے.

وَالَّذِينَ مَعَهُ مراد د دے نه د هغه تابعداران وو او دا رنګ ټول رسولان او اولیاء مراد دی ځکه چه ټول رسولان د هغه ملګری دی په دین کښ او په براءت کولو کښ د دین د دشمنانو نه. إِنَّا بُرَءَٰٓؤُا مِنكُمْ یعنی تاسو سره زمونږ هیڅ تعلق نیشته نه خپلولی کول نه دوستانه کول نه غم بنادی کول.

وَمِمَّا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ یعنی هغوی ته مونږ هیڅ حق د معبودیت نه ورکوو عبادت بدنیه مالیه هغوی لره نه کوو.

كَفَرْنَا بِكُمْ دا علت د ماقبل دے یا تفسیر د براءت دے. كُفْر په معنیٰ لغوی سره دے یعنی انکار کول. یعنی انکار کوو مونږ ستاسو د معبودانو او ستاسو د دین د حقانیت نه یا ستاسو سره د تعلق ساتلو نه. (پاتے په بل مخ)

وَحْدَهٗٓ اِلَّا قَوْلَ اِبْرٰهِيْمَ لِاَبِيْهِ لَاَسْتَغْفِرَنَّ

چه يو دے (په معبوديت كښ) مگر وينا دَ ابراهيم عليه السلام پلار خپل ته ضرور به زه بخنه غواړم

لَكَ وَمَآ اَمْلِكُ لَكَ مِنَ اللّٰهِ مِنْ شَيْءٍ ؕ

تا لره او وَس نه لرم ستا دَ پاره (بچ كولو دَ عذاب دَ) الله تعالىٰ نه هيڅ قسم.

رَبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا وَاِلَيْكَ اَنَبْنَا وَاِلَيْكَ

اے ربه زمونږه په تا باندے مونږ خان سپارلے دے او خاص تا ته مونږ راګرځو په بندګے سره او خاص تا ته

الْمَصِيْرُ ④ رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلَّذِيْنَ

ګرځيدل دى دَ پاره دَ جزاء. اے ربه زمونږه مه ګرځوے مونږ ازمائش دَ پاره

وَبَدَا بَيْنَنَا داهم داخل دے په تفسير دَ براءت كښ. او لفظ دَ بدا دليل دے چه دَ دے دُشمنئ اظهار كول لازم دى دَ دے وجے الْعَدَاوَةُ ئے مخكښ راوړو. عداوت په معنىٰ دَ عملى دُشمنئ كولو او الْبَغْضَآءُ په زړه كښ كينه ساتل دى. او دېته بغض فى الله ويلے كيږى چه دا كمال ايمان دے.

حَتّٰى تُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ وَحْدَهٗٓ اشاره ده چه سبب دَ براءت او دشمنئ كولو دَ توحيد نه انكار كول دى نو معلومه شوه چه دَ موحد سره براءت كول حرام دى. هاں هجران كول دَ يو معصيت دَ وجے نه جائز دى ليكن دَ براءت او دَ هجران كولو په مينځ كښ فرق دے. براءت كول په مشرك پورے خاص دى لكه سورة توبه ١ تا ٣ او سورة انعام ١٩ تا ٧٨ سورة هود ٣٥ تا ٥٤.

اِلَّا قَوْلَ اِبْرٰهِيْمَ دا استثناء متصله ده دَ لفظ دَ اُسْوَةٌ نه يا دَ لفظ ابراهيم نه. يعنى دَ ابراهيم عليه السّلام اقتداء په ټولو اقوالو او افعالو دَ هغه كښ ضرورى ده مګر په دے قول كښ تابعدارى مه كوئے يعنى دَ مشرك دَ پاره دَ استغفار وعده مه كوئے او استغفار ورله مه غواړئے او هغه چه استغفار غوښتلو دَ هغے تفصيل په سورة توبه ١١٤ كښ تير شوے دے او دا قول دَ ابراهيم عليه السلام په سورة مريم ٤٧ كښ ذكر شويدے. او قرطبى ويلے دى چه دا آيت دليل دے په فضيلت دَ نبى صلى الله عليه وسلم په ټولو انبياؤ عليهم السّلام باندے ځكه چه په اتباع دَ ابراهيم عليه السّلام كښ استثناء شته او اتباع دَ نبى

كَفَرُوْا وَاغْفِرْ لَنَا رَبَّنَا ۚ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ

دَ كافرانو او بخنه اوكړې مونږ ته اے ربه زمونږ يقيناً ته خاص ته زورآور

الْحَكِيْمُ ۝ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْهِمْ اُسْوَةٌ

حكمتونو والا يې - يقيناً شته ستاسو دَ پاره په دوی كښې نمونه دَ تابعدارئ

صلى الله عليه وسلم كښې استثناء نيشته دے - وَمَآ اَمْلِكُ لَكَ اه داهم په
قول ابراهيم كښې داخل دے حاصل دا چه دَ استغفار نه علاوه نور مدد ستا
نشم كولے چه دَ عذاب دَ الله تعالیٰ نه دِ خلاص كړم - رَبَّنَا عَلَيْكَ په تقدير
دَ يقولون سره دے او په قول دَ ابراهيم عليه السلام او دَ هغه دَ ملګرو كښې
داخل دے - يا قولو مقدر دے يعنى دَ مشرك قوم نه براءت كول او دَ
هغوى سره دُشمنى كول خو مشكل عمل دے ليكن په الله تعالیٰ باندے په
توكل كولو سره هر مشكل اسانيږى - اَنَبْنَا په دے كښې اشاره ده چه براءت
دَ دوى سره دَ الله تعالیٰ دَ وجې دے دَ ذاتى بغض دَ وجې نه نه دے .
انابة طلب دَ حق دے بغير دَ ضد او تعصب نه .
۵ داهم دُعا دَ ابراهيم عليه السّلام ده يا امر دے په دے سره مؤمنانو
دَ دے امت ته - فِتْنَةً مراد دَ دے نه عذاب دے او په معنىٰ دَ مفعول
سره دے يعنى مُعَذَّبًا بِاَيْدِى الْكَافِرِيْن (دَ كافرانو په لاس باندے
مونږ له عذاب مه راكوئے) يا فتنة په معنىٰ دَ امتحان او په شرك باندے
پوخ پاتے كيدلو ته ويلے كيږى او ذكر دَ مسبب او مراد ترينه سبب دے
چه هغه عذاب يا تسلط دَ كافرانو دے په مؤمنانو باندے يعنى اے ربه
په مونږ باندے عذاب دَ خپل طرف يا دَ كافرانو دَ طرف نه مه راولے چه
هغه به سبب او ګرځى دَ پاره دَ پخ دلو دَ كافرانو په شرك باندے يعنى هغوى
به ګمان اوكړى چه مونږ په حقه باندے يو نو دَ دے وجې نه په مؤمنانو باندے
عذاب راغے يا زمونږ غلبه او تسلط وړباندے راغے - يا سبب په دے
ځائے كښې دوستانه ساتل دى دَ كافرانو سره لكه چه په واقعه دَ
حاطب رضى الله عنه كښې اوشوه) يعنى زمونږ نه دَ كافرانو سره دَ
دوستانے ساتلو كار مه بنكاره كوے چه دا به سبب شى (دَ پاتے په بل مخ)

حَسَنَةٌ لِّمَنْ كَانَ يَرْجُوا اللّٰهَ وَالْيَوْمَ

خائسته دپاره دَ هغه چاچه امید لری دَ ملاقات دَ الله تعالیٰ او دَ ورځ دَ

الْاٰخِرَ ؕ وَمَنْ يَّتَوَلَّ فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْغَنِيُّ

روستئ او چاچه مخ اوګرځوو نو یقیناً الله تعالیٰ هغه بے حاجته

الْحَمِيْدُ ⑥ عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّجْعَلَ بَيْنَكُمْ ع ١

ستائیلے شوید ے. امید دے چه الله تعالیٰ به جوړه کړی په مینځ ستاسو

وَبَيْنَ الَّذِيْنَ عَادَيْتُمْ مِّنْهُمْ مَّوَدَّةً ؕ

او په مینځ دَ هغه کسانو کښ چه تاسو ورسره دشمنی کوئے دَ دوی نه دوستانه

دَ دوی دَ فتنے دَپاره یعنی دوی به اُوائی چه مونږ په حقه یانن ے یو دَ دے وجے نه مؤمنان زمونږ سره دوستانه ساتی.

وَاغْفِرْ لَنَا یعنی زمونږنه که داسے عملونه سرزد شوی وی چه سبب دَ عذاب وی نو دَ هغے راته مغفرت اوکړے بغیر دَ عذاب نه.

سے دائے دوباره ذکر کړو. یو وجه دَ تکرار دا ده چه په دے کښ قید ئے اولګوؤ دَ لِمَنْ كَانَ يَرْجُوا اللّٰهَ اه چه دا اقتداء په صحیح عقیده او نیت سره پکار ده هغه وخت به فائده ورکوی.

دویمه وجه دا ده چه مخکښ حکم دَ اقتداء وؤ په براءت عن المشرکین کښ فقط او په دے کښ ترغیب دے په اقتداء سره په ټول ملتِ ابراهیمیه کښ چه پوره توحید دے او دَ دے وجے نه دلته ئے دَ تاکید دَپاره لام دَ قد سره یو ځائے ذکر کړو او لمن کان یرجوا الله تفسیر په سورة احزاب کښ تیر شوید ے.

وَمَنْ يَّتَوَلَّ یعنی چاچه اعراض اوکړو دَ اقتداء دَ ابراهیم علیه السلام نه یعنی براءت دَ مشرکانو نه نه کوی او دَ هغوی سره عداوت نه ښکاره کوی نو دهٔ ځان ته ضرر او رسوؤ ځکه چه الله تعالیٰ خو غنی ذات دے.

وَاللّٰهُ قَدِيْرٌ ۭ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۷

او الله تعالیٰ قدرت والا دے او الله تعالیٰ بخنه کوونکے رحم کوونکے دے.

لَا يَنْهٰىكُمُ اللّٰهُ عَنِ الَّذِيْنَ لَمْ

نه منع کوی تاسو لره الله تعالیٰ دَ هغه کسانو نه چه نه ئے دے کړے

يُقَاتِلُوْكُمْ فِي الدِّيْنِ وَلَمْ يُخْرِجُوْكُمْ

جنګ تاسو سره په دین اسلام کښ او نه ئے ویستلے تاسو

مِّنْ دِيَارِكُمْ اَنْ تَبَرُّوْهُمْ وَتُقْسِطُوْٓا

دَ کورونو ستاسو نه چه نیکی کوئے تاسو دَ هغوی سره او ورکوئے حق په انصاف سره

ک دَ دے ایت نه دویم باب دَ سورت دے تر اخر پورے. په دے کښ اول تسلّی ده په لرے کولو دَ دُشمنئ بیا تقسیم دَ کافرانو دے دوو قسمونو ته اول قسم سره تعلق دنیوی جائز دے او دَ دویم قسم سره مطلق تعلق ساتل منع دی. بیا دوه قانونه دی دَ پاره دَ دخول دَ زنانو په اسلام کښ اول قانون په وخت دَ مصالحت پورے خاص دے او دویم عام دے او په اخری ایت کښ بیا دعویٰ دَ سورت ذکر کوی.

په دے (ک) کښ تسلی ده مؤمنانو ته روستو دَ امر کولو دَ براءت نه کافرانو سره (چه دشمنان دَ دین دی) اشاره ده چه براءت کول چه په حکم دَ الله تعالیٰ سره او دَ الله تعالیٰ دَ پاره وی نو بنهٔ نتیجه ورکوی. عَسٰی دا لفظ اګر چه امید دَ پاره وی لیکن الله تعالیٰ خو امید ونو لرلو نه پاک دے دَ دے وجے دا په معنیٰ دَ تحقیق سره دے خو دا تعبیر ئے دَ دے وجے نه ذکر کړو چه مخاطبین دِ دَ دے امید اولری او دا وعده الله تعالیٰ په فتح مکه کښ پوره کړه ډیر سخت کافران مسلمانان شول او دَ دے وعدے پوره کیدل دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه په سورة العمران ۱۰۳ او سورة انفال ۶۳ کښ ذکر دی. وَاللّٰهُ قَدِيْرٌ قادر دے په انقلاب دَ زړونو دَ کفر نه ایمان ته. وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ یعنی دغه کافرانو ته په سبب دَ توبے دَ دوی بخنه کوی ځکه حدیث کښ راغلے دی چه په اسلام سره ټول ګناهونه معاف شی.

إِلَيۡهِمۡ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُقۡسِطِينَ ۝٨ إِنَّمَا

هغوی ته یقیناً الله تعالیٰ مینه کوی د انصاف کوونکو سره (په حق ورکولو کښې). یقیناً

يَنۡهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ قَٰتَلُوكُمۡ

منع کوی تاسو لره الله تعالیٰ د هغه کسانو نه چه جنګ کوی تاسو سره

فِي ٱلدِّينِ وَأَخۡرَجُوكُم مِّن دِيَٰرِكُمۡ

په دین کښې او ویستلی ئې تاسو د کورونو ستاسو نه

وَظَٰهَرُواْ عَلَىٰٓ إِخۡرَاجِكُمۡ أَن تَوَلَّوۡهُمۡ ۚ

او امداد ئې کړے دے په ویستلو ستاسو باندے چه دوستانه کوئے تاسو د هغوی سره

ف په دے ایت کښې د کافرانو او مشرکینو هغه قسم ذکر کوی چه هغوی په مؤمنانو باندے هیڅ ظلم نه دے کړے نو د دوی سره دنیوی تعلقات په بِرّ او قِسط ورکولو سره جائز دی اګرچه موالات ورسره منع دے او دا حکم اوس هم جاری دے لکه چه ابن جریر په تفصیل سره ذکر کړے دی او رد ئې کړے دے په هغه چا باندے چه دے حکم ته منسوخ وائی او دارنګ قرطبی هم د اکثر مفسرینو قول ذکر کړے دے چه دا ایت محکم دے۔

أَن تَبَرُّوهُمۡ دا بدل دے د الذین نه. د بِرّ نه مراد دنیوی او انسانی حسن سلوک کول او چه هغوی سره قرابت د نسب وی نو صله رحمی ساتل مراد دی لکه حدیث د اسماء بنت ابی بکر رضی الله عنها کښې راغلی دی چه نبی صلی الله علیه وسلم هغې ته اجازت ورکړے وو چه د مور سره صله رحمی اوکړه کله چه مور ئې مشرکه وه۔

وَتُقۡسِطُوٓاْ إِلَيۡهِمۡ د اقساط نه مراد د مال څه حصه ورکول په طور د احسان یا د صله رحمئ سره دی عدل کول مراد نه دے ځکه عدل په مؤمن باندے د هر کافر سره واجب دے او په بِرّ او اقساط کښې هغوی ته دعوت د توحید او سنت هم داخل دے په نرمه لهجه سره۔ او د دے ایت په حکم کښې اهل ذمه کافران داخل دی او دارنګ هغه زنانه او بوډاګان او بچی د کافرانو چه قتال نه شی کولے هغه هم داخل دی۔

وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ⑨

او چاچه دوستانه اوکړه دَ هغوی سره نو دغه کسان دوی ظالمان دی۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا جَآءَكُمُ الْمُؤْمِنٰتُ

اے ایمان والو هرکله چه راشی تاسو ته مومنے زنانه

مُهٰجِرٰتٍ فَامْتَحِنُوْهُنَّ ؕ اَللّٰهُ اَعْلَمُ

هجرت کوونکے نو امتحان واخلے دَ هغوی (دَ ایمان) الله تعالیٰ ښه پوهه دے

بِاِيْمَانِهِنَّ ۚ فَاِنْ عَلِمْتُمُوْهُنَّ مُؤْمِنٰتٍ

په ایمان دَ هغوی نو که ستاسو علم راغے چه دوی مؤمنے دی

فَلَا تَرْجِعُوْهُنَّ اِلَى الْكُفَّارِ ؕ لَا هُنَّ حِلٌّ

نو مه واپس کوئے دوی لره کافرانو ته . نه هغوی حلالے دی

الْمُقْسِطِيْنَ هغه کسان چه په برّ او احسان کولو سره اراده لری چه ظلم ختم شی او عدل قائم شی۔

ف۹ په دے ایت کښ دویم قسم دَ کافرانو ذکر کوی چه دَ هغوی سره هر قسم احسان او موالات کول حرام دی او هغه مقاتلین ظالمان دی. او دَ دوی دشمنی په درے طریقو سره ښکاره ده قتال کول دَ مؤمنانو سره ، دَ وطن نه ویستل، او نورو دشمنانو سره مدد کول په دے درے واړو کښ اګرچه یو عمل موجود وی نو هم په دے قسم کښ داخل دے۔

اَنْ تَوَلَّوْهُمْ دا بدل دے دَ الذین نه. مراد دَ ولایت نه هغوی سره مطلق تعلق ساتل دی که دنیوی وی او که دینی وی دا ټول حرام دی. او داسے په سورة العمران ۲۸ او سورة مائده ۵۱ کښ تیر شوی دی.

الظّٰلِمُوْنَ په مقابل دَ الْمُقْسِطِيْنَ کښ دے یعنی دوی ظلم کوی او ظلم سره مدد کوی۔

لَّهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّونَ لَهُنَّ ۖ وَآتُوهُم مَّا

دوی لره او نه دوی حلال دی هغوی لره - او ورکوئ دوی ته هغه

أَنفَقُوا ۚ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ أَن تَنكِحُوهُنَّ

خرچ چه کړے وی هغوی (په زنانو باندے) او گناه نیشته په تاسو باندے چه نکاح اوکړئ تاسو دَ هغوی سره

إِذَا آتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ ۚ وَلَا تُمْسِكُوا

کله چه ورکوئ تاسو مهرونه دَ هغوی او مه راټینگوئ

بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ وَاسْأَلُوا مَا أَنفَقْتُمْ

نکاحونه دَ کافرو ښځو او غواړئ تاسو هغه چه خرچ کړیوی تاسو

وَلْيَسْأَلُوا مَا أَنفَقُوا ۚ ذَٰلِكُمْ حُكْمُ اللَّهِ ۖ

او هغوی دِ هم غواړی هغه چه هغوی خرچ کړے وی. دا فیصله دَ الله تعالیٰ ده

يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ ۚ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ⑩

فیصله کوی په مینځ ستاسو کښ او الله تعالیٰ عالم دے په هرڅه حکمتونو والا دے.

سنا هر کله چه حکم اوکړیشو په براءت دَ کافرانو سره په اول دَ سورت کښ نو تقاضا دَ براءت دا ده چه دَ کافرانو او مؤمنانو په مینځ کښ تعلق دَ نکاح هم ختم کړے شی نو په دے ایت کښ دا حکم ذکر کوی.

او حاصل دَ دے ایت دا دے اول امتحان دَ مهاجراتو، دویم کافرانو ته واپس کول، دریم حرمت دَ نکاح دَ مؤمنے زنانه په کافر نارینه باندے او برعکس هم، څلورم دَ مشرکانو مهر او مال واپس کول، پنځم مشرکے زنانه دَ نکاح نه ویستل، شپږم دَ مشرکانو نه خپل مالی حق طلب کول. او سبب دَ دے احکامو دا وو چه په صلح حدیبیه کښ یو شرط دا مقرر کړے شو چه دَ مشرکانو نه څوک مؤمنانو ته راشی (هجرت اوکړی) نو هغه به کافرانو ته واپس ورکیدلےشی.

وَإِنْ فَاتَكُمْ شَيْءٌ مِّنْ أَزْوَاجِكُمْ إِلَى الْكُفَّارِ

اوکه چرے پاتے شی ستاسو څه مال دَ بیبیانو ستاسو نه کافرانو ته

نو هرکله چه په دغه وخت کښې دَ مکے نه بعضِ زنانو هجرت اوکړو مدینے متورے ته نو کافرانو دَ هغوی دَ واپسئ مطالبه اوکړه نو الله تعالیٰ دا ایت نازل کړو او په دے کښې تشریح اوشوه چه شرط دَ واپسئ په نارینو پورے خاص دے زنانو ته شامل نه دے دَ دوه وجونه اول دا چه دَ هغوی نکاح دَ مشرک سره ختم شو نو واپس کولو کښې نقصان دے دویم دا چه هغوی کمزورے دی هسے نه چه کافران ئے مرتدے کړی۔

فَامْتَحِنُوْهُنَّ هرکله چه دَ هجرت دَ پاره ډیر اسباب دی اوخصوصًا دَ زنانه دَ هجرت دَ پاره کله سبب وی دَ خاوند سره اختلاف او کله محبت دَ بل سړی سره۔ اوکله خاوند ته ضرر ورکول دَ دے وجے نه امتحان کول ضروری دی چه معلوم شی چه دَ دوی هجرت فقط دَ پاره دَ ایمان دے۔ اودَ امتحان قرطبی درے طریقے ویلے دی یو هغه چه روستو ذکرکیږی په ایت دَ بیعت کښې او دویمه هغه زنانه له قسم ورکول چه دِے دا هجرت دَ هیڅ دنیوی اونفسانی غرض دَ پاره نه دے کړے۔ دریم دا چه دَ کلمے دَ شهادت ورته امر اوکړی چه دا اوایه او په زړه سره په دے یقین اوکړه۔ اَللّٰهُ اَعْلَمُ بِاِيْمَانِهِنَّ اشاره ده چه دے امتحان اغستلو کښې فائده دا ده چه ستاسو علم حاصل شی الله تعالیٰ خو عالم دے۔ فَاِنْ عَلِمْتُمُوْهُنَّ مُؤْمِنٰتٍ، دَ دے نه مخکښې عبارت کښې تقدیر دے یعنی که معلومه شوه چه دَ دوی هجرت دَ پاره دَ ایمان نه دے نو واپس کړئ دوی لره۔ اوکه علم درته حاصل شو چه دوی مؤمناتے دی په ذریعه دَ قسم اودَ شهادت دَ ژبے سره۔ اوپه نورو علاماتو سره هم ظن غالب حاصلیږی لیکن په شرع کښې په دے باندے هم اطلاق دَ عِلم کیدے شی لکه په سورة یوسف ۸۱ کښې۔ فَلَا تَرْجِعُوْهُنَّ اه دا دلیل دے چه علت دَ فراق ایمان دے صرف هجرت نه دے۔ لَا هُنَّ حِلٌّ لَّهُمْ اه په ابتدا دَ اسلام کښې نکاح دَ مشرکانو دَ مؤمناتو سره جائز ووَ دَ دے وجے نه دَ نبی صلی الله علیه وسلم بعضِ لونړه مشرکانو ته وادہ شوے وے نو په دے ایت سره دَ دے حرمت راغے۔ وَاٰتُوْهُمْ مَّآ اَنْفَقُوْا دا حکم خاص دے په حالت دَ صلح په مینځ دَ مؤمنانو اوکافرانو کښې لکه په وخت دَ صلح (پاتے په بل مخ)

فَعَاقَبْتُمْ فَاٰتُوا الَّذِيْنَ ذَهَبَتْ اَزْوَاجُهُمْ

بیبیانے دَ هغوی چه تلے دی نو ورکړئ هغه کسانو ته نوستاسو نمیر چه راشی

مِّثْلَ مَآ اَنْفَقُوْا ۭ وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْٓ اَنْتُمْ

پشان دَ هغې چه دوی خرچ کړے دی او ویره کوئ دَ الله تعالیٰ نه هغه ذات دے چه تاسو

بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ ⑪ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَا جَاۗءَكَ

په هغه باندے ایمان لرے . اے نبی (صلی الله علیه وسلم) کوم وخت چه راشی تا ته

دَ حدیبیه کښ دا قول دَ قتادهؒ دے او دا صحیح دے او مراد دَ انفقونه هغه مهر دے چه خاوند ورکړے وی او پیشګی نفقه ده .

وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ یعنی اګرچه مشرک خاوند دے ښځے ته طلاق نه وی ورکړے لیکن نکاح دَ دوی مات شوے نو روستو دَ استبراء یا دَ عدت تیریدلو نه دَ مسلمان سره نکاح کول جائز دی .

وَلَا تُمْسِكُوْا بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ یعنی لکه چه نکاح دَ مؤمنے دَ کافر سره مات شو نو دا رنګ نکاح دَ کافرے ښځے دَ مؤمن سره هم ختم شو . عِصَم جمع دَ عصمت ده ساتنے ته ویلے کیږی او مراد دَ دے نه نکاح دے . یعنی که دَ یو مؤمن ښځه کافره په دار حرب کښ پاتے شی او سړے هجرت اوکړی یا دَ دهٔ په نکاح کښ روستو دَ هجرت کولو نه یو مشرکه ښځه وی چه ایمان نه راوړی نو نکاح دَ دوی ختم شو . او اتفاق دَ مفسرینو دے چه مراد دَ دے نه مشرکه غیر کتابیه ده او دَ کتابیے حکم دَ دے نه خاص کړے شوید ے په سورة مائده ۵ کښ .

وَاسْئَلُوْا مَآ اَنْفَقْتُمْ اه دا خاص دے په زمانه دَ عهد او دَ صلح پورے بال اتفاق او اشاره ده چه دا حق دَ جانبینو دے دَ وجے دَ عهد نه .

ذٰلِكُمْ حُكْمُ اللّٰهِ دا دَ تاکید دَ پاره دے چه دَ دے تابعداری په مؤمنانو او کافرانو دواړو باندے لازم ده .

۱۱ دا متعلق دے دَ مخکنی حکم سره یعنی مهر دَ مرتدے زنانه دَ کافرانو نه اوغواړئ نو که چرے هغوی انکار اوکړو دَ مهر دَ واپس کولو نو هر کله چه تاسو څهٔ مال فئ یا غنیمت دَ دغه کافرانو نه حاصل کړئ نو دَ تقسیم نه مخکښ دغه سړی ته رچه زنانه ئے مرتده شوید اه او کافرانو دَ هغې مهر نه دے واپس

الْمُؤْمِنٰتُ يُبَايِعْنَكَ عَلٰٓى اَنْ لَّا يُشْرِكْنَ

زنانہ مؤمنے بیعت کوی تا سرہ پہ دے خبرو باندے چہ شریک بہ نہ گنڑی

بِاللّٰهِ شَيْـًٔا وَّلَا يَسْرِقْنَ وَلَا يَزْنِيْنَ

دَ اللہ تعالیٰ سرہ هیڅ څیز او نہ بہ غلا کوی او نہ بہ زنا کوی.

وَلَا يَقْتُلْنَ اَوْلَادَهُنَّ وَلَا يَاْتِيْنَ بِبُهْتَانٍ

او نہ بہ وژنی بچی خپل او نہ بہ راتلل کوی پہ بد ناے نگولو سرہ

يَّفْتَرِيْنَهٗ بَيْنَ اَيْدِيْهِنَّ وَاَرْجُلِهِنَّ

چہ جوړ وی ئے دَ خپلو لاسونو او خپو تر مینځہ

وَلَا يَعْصِيْنَكَ فِيْ مَعْرُوْفٍ فَبَايِعْهُنَّ

او نافرمانی بہ نہ کوی ستا پہ هیڅ کار دَ دین کښ نو بیعت اوکړہ دَ دوی سرہ

کړے) مهر مثل دَ ښځے دَ هغہ ورکړے دَ مجاهد او قتادہ نہ روایت دے چہ دا حکم عام دے کہ دغہ کافرانو سرہ عهد وی او کہ نہ وی۔ او بعضو مفسرینو خاص کړے دے پہ وخت دَ عهد پورے۔

فَعَاقَبْتُمْ دا دَ عقاب یا عقوبت نہ ماخوذ دے سزا ورکولو تہ ویلے کیږی مراد دَ دے نہ دَ هغوی سرہ جنگ او قتال کول دی کلہ چہ عهد ورسرہ نہ وی کړے یا عهد مات کړی لکہ سورة حج سنلہ کښ۔ عاقب پہ معنیٰ دَ قتال سرہ دے یا دَ عقبة نہ ماخوذ دے نوبت او نمبر راتللو تہ ویلے کیږی معنیٰ دا چہ ستاسو نمبر او نوبت راشی پہ کافرانو باندے نو مراد دا دے چہ دَ دغہ کافرانو زنانہ تاسو تہ راشی او مهر دَ ځان سرہ راوړی نو دغہ مهر هغہ کافرانو تہ واپس مہ ورکوئے (اگرچہ عهد وی) بلکہ هغہ مؤمن لہ ئے ورکړے چہ دَ هغہ دَ ښځے مهر هغوی تہ پاتے شوے وؤ نو بنا دہ پہ اول تفسیر باندے ایت دَ هغہ کافرانو پہ بارہ کښ دے چہ عهد ورسرہ نہ وی شوے یا عهد ئے مات کړے وی او بنا پہ پہ دویم تفسیر پہ عهد والو پورے خاص دے۔ اَنْتُمْ بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ یعنی دَ ایمان مقتضیٰ تقویٰ دہ او مراد دَ تقویٰ اللہ طاعت دَ اوامرو او نواهیو دے۔

وَاسْتَغْفِرْ لَهُنَّ اللّٰهَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ⑫

او بخنه غواړه دوی لره دَ الله تعالیٰ نه یقیناً الله تعالیٰ بخنه کوونکے رحم کوونکے دے.

۱۲ دا قانون تفسیر دَ فامتحنوهن دے یعنی مراد دَ امتحان نه دا بیعت دے ځکه
چه په حدیث دَ بخاری کښں راغلے دی چه نبی صلی الله علیه وسلم به دَ مهاجراتو
امتحان کوؤ په دے ایت سره نوچا به چه اقرار اوکړو په دے شرطونو باندے
نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به ورته اویل چه ما تا سره بیعت اوکړو په
خبرو سره او لاس به ئے دَ هغے په لاس کښں نه ورکوؤ. بیا دا حکم په مهاجراتو
پورے خاص نه دے بلکه زنانه به چه ایمان راوړو نو دَ هغے دَ ایمان دَ پاره
دا شرطونه وؤ. او په حدیث دَ بخاری کښں دی چه نبی صلی الله علیه وسلم
دَ عید الفطر دَ خطبے نه روستو زنانو ته راغے نو په دے ایت سره ئے ورته
خطاب اوکړو نو ټولے زنانه چپ شوے صرف یوے ورته جواب ورکړو.
او په بل حدیث صحیح سره ثابت دی چه نبی صلی الله علیه وسلم داسے بیعت
دَ ناریننو نه هم اخستلے وؤ. او دا بیعت مشتمل دے په شپږ خبرو باندے.
لَا يُشْرِكْنَ بِاللّٰهِ شَيْـًٔا دا خو منافی دَ ایمان دے په دے سره ایمان قطعاً زائل
کیږی دَ دے وجے نه دا ئے دَ ټولو نه مخکښں ذکر کړو او هر کله چه څوک پدے
نه پوهیږی نو لازم ده چه دَ شرک دَ معنی او اقسامو پوره تفصیل هغه ته اوکړے
شی. (تنبیه) نن زمانه کښں داسے ډیر پیران پیدا شویدی چه پخپله په شرک
کښں اخته وی او نور خلق هم په شرک کښں اچوی او ډیر جاهلان ئے گمراه
کړے دی دَ هغوی نه اجتناب کول فرض دی. دویمه خبره دا ده چه...
وَلَا يَسْرِقْنَ پردی مالونه او دَ خاوند دَ مال نه به هم غلا نه کوی هاں که چرے
یو خاوند خپلے زنانه یا اولاد ته نفقه نه ورکوی نو زنانه له جائز دی چه دَ خپل
حق موافق دَ هغه دَ مال نه څه خیزبیت کړی دا په حدیث دَ هنده (ښځه دَ
ابوسفیان) کښں راغلے دی. دریمه خبره وَلَا يَزْنِيْنَ غلا کول متعدی گناه دے
او زنا کول ذاتی گناه دے دَ دے وجے نه غلا ئے مخکښں ذکر کړے ده.
څلورمه خبره وَلَا يَقْتُلْنَ اَوْلَادَهُنَّ قتل ناحق خو مطلقاً حرام دے لیکن زنانه
اکثر په نور قتل باندے قدرت نه لری ما سیوا دَ بچو دَ قتل کولو نه دَ دے وجے نه
دَ دے تخصیص ئے اوکړو او مراد دَ دے نه قتل دَ عام اولاد دے دَ وجے دَ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَوَلَّوْاْ قَوْمًا غَضِبَ ٱللَّهُ

اے ایمان والو دوستانه مه کوئے دَهغه قوم سره چه غضب کړیدئے الله تعالیٰ

فقراولوګے نه لکه چه په سورة انعام ۱۵۱ او سورة اسراء ۳۱ کښ ذکر دی او قتل دَلونړو پکښ هم داخل دے۔ او مفسر الوسی ویلے دی چه کیدیشی چه دا قتل شامل وی اسقاط حمل ته روستو دَ ساه اغستلو ته او په جاهلیت کښ غلا او زنا ډیر وو په نسبت دَ قتل دَ اولاد نو هغه ئے مخکښ ذکر کړل۔ پنځمه خبره وَلَا يَأۡتِينَ بِبُهۡتَٰنٖ يَفۡتَرِينَهُۥ بَيۡنَ أَيۡدِيهِنَّ وَأَرۡجُلِهِنَّ په دیکښ دَ مفسرینو ډیر اقوال دی اول دا چه مراد دَ بهتان نه موندلے شوے ځوئے دے چه خاوند ته ئے نسبت کیږی او ولد په وخت دَ پیدائش کښ دَ مور دَ لاسو او خپو په مینځ کښ پروت وی. دویم دا چه مراد دَ دے نه ولد دَ زنا دے چه اول خو به ئے قتل کوؤ او که دَ قتل نه بچ شو نو بیا به ئے خاوند ته نسبت کوؤ۔ او حمل په خیټه کښ وی او خیټه په مینځ دَ لاسو او خپو کښ ده دَ دے وجے نه زنا او قتل دَ ولد او بهتان ئے په ترتیب سره ذکر کړل۔ دریم دا چه مراد دَ بهتان نه په چا باندے دَ یو ګناه بد نامه لګول دی او دَ ځان نه ئے جوړوی دلیل ورسره نه وی نو دَ دے نه تعبیر کیږی په بين ايديهن اوارجلهن سره۔ او په دے کښ دروغ غیبت چغلی کول کنځل دَ زنا دا ټول داخل دی۔ شپږمه خبره وَلَا يَعۡصِينَكَ فِي مَعۡرُوفٖ دوه معنی دی یو معنٰی خاص ده هغه مقابل دَ منکر ده یعنی هغه شئ چه په شرع سره دَ هغے حُسن ثابت وی نو ما قبل کښ منکرات او منهیات پنځه ذکر شول او په معروف کښ مامورات مراد دی او هغه ډیر دی دَ دے وجے نه ئے اجمالاً ذکر کړل دویمه معنٰی عامه ده هغه دا چه هر هغه خیز چه دَ هغے حکم په شرع سره معلوم وی چه جائز یا ناجائز دے په دے معنی سره ماموراتو او منهیاتو ته شامل دے. دلته دویمه معنٰی غوره ده او دَ دے دَ عموم دَ لاندے مفسرینو امور دَ جاهلیت لیکلے دی۔ هغه ویر کول په مړی باندے، دَ ځان نه څخ شوکول، څخ ټکول، دَ ځان نه جامے شلول، ویښته لګول خالونه لګول، دَ پردی سړی سره دَ زنانه خبرے کول بغیر دَ ضرورت نه نو دے ټولو ته دا لفظ شامل دے۔

فائده ۱: الوسی او قاسمی لیکلے دی چه معروف لفظ کښ اشاره ده چه دَ هیڅ مخلوق طاعت بغیر دَ معروف نه جائز نه دے (پاتے په بل مخ)

عَلَيْهِمْ قَدْ يَئِسُوا مِنَ الْاٰخِرَةِ كَمَا يَئِسَ

په هغوی باندے یقینًا نا امیده دی دوی د اخرت نه لکه چه نا امیده دی

الْكُفَّارُ مِنْ اَصْحٰبِ الْقُبُوْرِ ﴿۱۳﴾ ع

کافران د دوباره ژوند د قبرونو والو نه -

النصف ع ۷ ۲ ۸۰

فائده ۱۲: قرطبی لیکلی دی چه دلته د منهیاتو ذکریئے په تفصیل سره اوکړو او د معروف تفصیل یئے نه دے کړے ځکه چه انسانان اوخصوصًا په زنانو کښ ارتکاب د دے منهیاتو ډیر دے په نسبت د ترک د ماموراتو -

۱۳ دا ایت متعلق دے د ابتداء د سورت سره چه دعوی د سورت ده - په ابتداء د سورت کښ د عوامو مشرکانو نه براءت وؤ او په دے ایت کښ د کتابیانو کافرانو نه براءت دے -

غَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مراد د دوی نه کتابیان کافران دی -

قَدْ يَئِسُوا مِنَ الْاٰخِرَةِ مضاف محذوف دے یعنی د خیر او د ثواب د اخرت نه نا امیده دی د وجے د عناد د دوی نه د حق سره یعنی سره د علم انکار کوی د عناد د وجے نه نوخه پوهیږی چه زمونږ په اخرت کښ اجر او ثواب نیشته -

كَمَا يَئِسَ الْكُفَّارُ مِنْ اَصْحٰبِ الْقُبُوْرِ - مِنْ بیانیه دے یعنی هغه کافران چه مړه شویدی نو هغوی یقینًا د ثواب د اخرت نه نا امیده شویدی یا هغوی د ژوندو نه نا امیده دی چه دوی به ورته خه خیر اورسوی -

یا مَنْ د پاره د ابتداء دے او مضاف محذوف دے یعنی من بَعْثِهِم معنٰی داده لکه چه نا امیده دی ټول کافران د دوباره ژوند د اصحاب قبور نه -

او بعض مشرکینو عنادیانو د دے ایت نه دلیل نیولے چه د مړو د خیر رسولو نه نا امیدی کول د کافرانو عقیده ده یعنی قبرونو والا خیر او شر رسولے شی جواب دادے چه دا تحریف د قران دے د درے وجو نه اوله وجه داده چه د سلف صالحینو او تمام مفسرینو نه دا معنٰی نقل نیشته او علماؤ اتفاق کړے دے چه د قران داسے تفسیر کول چه د سلف صالحینو نه نقل نه وی دا تحریف دے -

دویمه وجه داده چه دا د نفس الامر (واقع) نه خلاف دے ځکه چه

کافران خو مړو معبودانو نه امید دَ نفع دَ خوف او دَ ضرر لري لکه مشرکین مکه چه دَ هبل او لات و منات (چه مړه بزرګان وو) امیدونه ساتل او هغوی ته به ئې حاجاتو کښې چغې وهلے۔

دریمه وجه الزامي ده چه اصحاب القبور نیکانو او بدانو ټولو ته شامل دي نو ایا دَ بدانو بدکارو خلقو نه چه مړه شویدي هم امید دَ نفع ضـــرر کیدے شي۔

الحمد لله۔ ختم شو تفسیر دَ سورة الممتحنة په توفیق دَ الله تعالیٰ سره۔

سُوْرَةُ الصَّفِّ ۶۱ مَدَنِيَّةٌ ۱۰۹	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰيَاتُهَا ۱۴ رُكُوْعَاتُهَا ۲

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ج

پاکی وائی الله تعالیٰ لره هغه څيزونه چه په اسمانونو کښ او هغه څيزونه چه په زمکه کښ دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة الصف دیته سورة حواریین او سورة عیسٰی هم ویلے شی۔

ربط دَ دے دَ ماقبل سره دا دے چه تیر شوی سورت کښ زجر وؤ مؤمنانو ته په غیر مناسب کارونو باندے نو په دے سورت کښ زجر دے په اقوالو غیر مناسبو باندے بله وجه دا ده چه په هغه سورت کښ منع وه دَ دوستانے دَ مشرکانو نه نو په دے سورت کښ ترقی ده چه دَ دوی سره جنګ او قتال اوکړئے۔ دریمه وجه دا چه په هغه سورت کښ دَ یهودیانو سره دَ براءت حکم وؤ نو په دے سورت کښ دَ یهودیانو قباحت ذکر کوی۔

دعویٰ دَ سورت۔ زجر دے په مخالفت دَ عمل دَ قول ۲ـ ۳ـ نه لکه سرهٔ دَ دعوے دَ ایمان نه دَ جهاد او قتال نه مخ ګرځول او مسئله دَ توحید هم په اول کښ ذکر ده ۱ ۔ او ترغیب دے جهاد ته په ۱۰ کښ۔

خلاصه دَ سورت۔ مختصره خلاصه دا ده چه په دے سورت کښ درے خطابات دی په یا ایها الذین امنوا سره په اول خطاب کښ زجر دے په ترک دَ قتال فی سبیل الله او ترغیب دے قتال ته او په دویم کښ بشارت اخرویه او دنیویه دے او په دریم کښ ترغیب دے چه په طریقه دَ حواریینو سره جهاد اوکړئے۔ او تفصیل دا دے چه اول دعوی دَ توحید ده بیا زجر دے په مخالفت دَ قول او دَ عمل بیا ترغیب دے قتال ته بیا دوه دلیلونه نقلیه دی اول دَ موسٰی علیه السلام او دویم دَ عیسٰی علیه السلام او تخویف دے په ذکر دَ حال دَ یهودیانو چه هغوی قتال فی سبیل الله پریخودلے وؤ (او دا اذیت ورکول وؤ موسٰی علیه السلام ته او زیغ وؤ دَ حکم دَ الله تعالیٰ نه) چه دَ هغوی په زړونو کښ ازاغت راغے۔ بیا ترغیب دے تابعدارئے دَ اخری

وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ① يَا أَيُّهَا الَّذِينَ

او خاص الله تعالیٰ زور اور حکمتونو والا دے ۔ اے

اٰمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ ②

ایمان والو ولے وایئ په ژبه هغه خبرے چه نه یئ کوئ (په عمل کښ)

رسول ته خصوصًا په قتال فی سبیل الله کښ او تاکید دَ ترغیب یئ ذکر کړیدے په بشارت دَ عیسیٰ علیه السّلام سره په باره دَ دے رسول کښ او زجر دے په تکذیب باندے او زجر دے په افتراء باندے او زجر په اطفا دَ نُورِ دَ الله تعالیٰ باندے ۔ بیا ذکر کوی صداقت دَ رسول چه دے رالیږلے شویدے دَ پاره دَ قتال فی سبیل الله ۔ بیا بشارت اخرویه او دنیویه دے په باره دَ جهاد کښ او په آخر کښ ترغیب دے نصرت او قتال فی سبیل الله تعالیٰ ته په شان دَ حواریینو ۔

تفسیر په ۱ کښ ذکر دَ توحید دے په تعبیر دَ تسبیح سره ۔ او په دیکښ اشاره ده دفع کولو دَ اعتراض ته چه فائده دَ قتال راجع ده تاسو ته الله تعالیٰ دیته محتاج نه دے ځکه چه هر قسم عیب او احتیاج نه داسے پاک دے چه آسمانونو او زمکو والا دَ هغے په پاک والی باندے ګواهی کوی ۔

او مَا فِي السَّمٰوٰتِ اه شامل دے مکان او مکین او ظرف او مظروف دواړو ته یعنی آسمانونه او زمکے سره دَ هغه څیزونو نه چه په دوی کښ دی تسبیح وائی

۲ دا اول خطاب دے مؤمنانو ته دَ درے خطابونو نه او مقصد په دیکښ تیزی ورکول دی په قتال فی سبیل الله باندے او زجر دے په مخالفت دَ قول او دَ عمل باندے او دَ دے مختلف طریقے دی اوله طریقه دا چه په تیره زمانه کښ یو شخص یو کار نه وی کړے او دے وائی چه ما فلانے کار کړے دے نو دیته دروغ ویلے کیږی ۔ او دویمه طریقه په زمانه مستقبل پورے متعلق ده یعنی که یو شخص اوائی چه زه به فلانے کار کوم او بیا یئ اونکړی او دا شامل دے وعده کولو دَ بندګانو دَ یو بل سره ته ۔ او نذر کول په نوم دَ الله تعالیٰ معلّق وی او که مطلق وی او عهد کول دَ الله تعالیٰ سره لکه چه اوائی چه قتال فرض شی نو زهٔ به قتال کوم او هر کله (پاتے په بل مخ)

كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللّٰهِ اَنْ تَقُوْلُوْا مَا لَا

غټه وجه دَ غصے ده په نیز دَ الله تعالیٰ دا چه وائيے په ژبه هغه چه

تَفْعَلُوْنَ ﴿۳﴾ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الَّذِيْنَ

عمل پرے نه کوئے. یقیناً الله تعالیٰ مینه کوی دَ هغه کسانو سره

يُقَاتِلُوْنَ فِیْ سَبِيْلِهٖ صَفًّا كَاَنَّهُمْ بُنْيَانٌ

چه جنگ کوی په لار دَ الله تعالیٰ کښ صفونه صفونه گویا چه دوی دیوال دے

چه فرض شی نو بیائے نه کوی. او دروغ او خلاف دَ وعدا او عهد نه دا ټول گناهونه دی هاں په وفا دَ وعده کښ اختلاف دے دَ اهل علمو چه واجب ده او که مستحب ده قرطبی دَ هغے تفصیل کړے دے. او دا خصلتونه دَ منافقانو دی نو معلومه شوه چه مقصد په دے خطاب کښ منافقان دی او دَ قتال په باره کښ دَ مخالفت دَ عهد ذکر په سورة نساء ۷۷ او سوره محمد ۲۰ کښ تیر شوید ے. لِمَ تَقُوْلُوْنَ بنا په اول باندے زجر په قول باندے دے یعنی دروغ ویل او دویمه طریقے سره دا زجر په عدم فعل باندے دے په قول باندے نه دے لکه په دے قول دَ الله تعالیٰ کښ اَتَاْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ اَنْفُسَكُمْ. او دریمه طریقه دا ده چه مراد دا دے چه کوم فعل دَ انسان دَ قدرت نه بهر وی او دے وائي چه زه به دا قلانے کار کووم نو په دے معنیٰ سره زجر په قول باندے دے په شان دَ اولے طریقے.

۳ په دیکښ تاکید دے دَ زجر په پنځه وجوهو سره یو لفظ دَ كَبُرَ چه دا تعجب دے مِنْ غَيْرِ لَفْظِهٖ دویم لفظ مَقْتًا مقت سخت بغض او غضب ته ویلے کیږی او دا مغضوب دے په تمییز سره روستو دَ ابهام دَ كَبُرَ نه دریم عِنْدَ اللّٰهِ او دَ الله تعالیٰ په نیز چه سبب دَ بغض وی نو هغه ډیر لوئے جرم وی څلورم اَنْ تَقُوْلُوْا فاعل دَ كَبُرَ دے یعنی نفسِ قول بے عمله خالص مقت دے او پنځم دا چه دا لفظ ئے مکرر راوړے دے. او په دواړو ایاتونو کښ سخت زجر هغه عالمانو خطیبانو ته دے چه په علم باندے عمل نه کوی او نورو خلقو ته وعظ کوی.

مَّرۡصُوۡصٌ ﴿۴﴾ وَاِذۡ قَالَ مُوۡسٰی لِقَوۡمِهٖ

په یو بل کښې نښتي ـ او کوم وخت چه اُویل موسیٰ علیه السلام قوم خپل ته

یٰقَوۡمِ لِمَ تُؤۡذُوۡنَنِیۡ وَقَدۡ تَّعۡلَمُوۡنَ

اے زما قومه ولے خفه کوئ ما او حال دا چه یقیناً پوهیږئ تاسو

اَنِّیۡ رَسُوۡلُ اللّٰهِ اِلَیۡکُمۡ ؕ فَلَمَّا زَاغُوۡۤا

چه زه رسول دَ الله تعالیٰ (رالیږلے شوے یم) تاسو ته نو هر کله چه دوی کاګه شول

ے په دے ایت کښې ترغیب دے قتال فی سبیل الله ته عملاً۔ او دَ دے ایت دَ اتصال نه معلومه شوه چه اول دواړه ایتونه په طریقه دَ تمهید عمومی سره وو او په دے کښې مقصد ئے ذکر کړو یعنی چه قول دَ امنّا تاسو کړے دے نو دَ هغې دَ پاره عمل دَ قتال ضرور او کړئ او دا دَ خطاب طریقه ده چه اول عمومی کلام ذکر کړے شی نو بیا خصوصی مقصد دَ هغې په مناسبت کښې ذکر کړے شی۔

صَفًّا په معنیٰ دَ مصطفین سره دے یا فعل دَ یصفّون حذف دے او دا حال دے او دَ دے نه بعض علماؤ دلیل نیولے دے چه جهاد پیاده غوره دے دَ جهاد دَ سورلئ نه او دَ دے نه معلومه شوه چه هیځ مجاهد له جائز نه دی چه بغیر دَ اذن دَ امیر او بغیر دَ ضرورته دَ صف نه اوځی۔

کَاَنَّهُمۡ بُنۡیَانٌ مَّرۡصُوۡصٌ هغه دیوال چه کَټے او خښتے دَ هغې په یو بل کښې او مښلے شی تر دے پورے چه چودو نه بند شی او هموار وی او مضبوط وی نو دا سے صف دَ قتال او صف دَ مونځ دَ جماعت ضروری دے چه دَ یو بل سره دا سے جُخت وی چه په مینځ کښې فُرجَات نه وی او دَ نعمان بن بشیر روایت امام بخاری نقل کړیدے چه مونږ به په صف کښې اوګے اوګیتئ دَ خپو دَ یو بل سره پیوست کولے۔ او دا حالت دَ صف دلالت کوی په اتحاد دَ مؤمنانو باندے او دا رنګ په مضبوطوالی دَ قدمونو دَ هغوی په خپل ځایونو باندے او دَ دوستانے دَ مؤمنانو دَ یو بل سره۔

أَزَاغَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ ط وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي

کاګه کړه الله تعالیٰ زړونه د دوی او الله تعالیٰ هدایت نه ورکوی

الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ۞ ۵ وَإِذْ قَالَ عِيْسَى ابْنُ

قوم ډیر نافرمان ته - او کوم وخت چه اوویل عیسیٰ ځوئ

ٿه دا دلیل نقلی دے د موسیٰ علیه السّلام نه چه موسیٰ علیه السّلام دعوت توحید او جهاد ته ورکړے وؤ او دا رنګ په دیکښ تسلی ده نبی صلی الله علیه وسلم ته په داسے طریقه چه دا منافقان چه مخالفت کوی د امر د قتال نه نو صبر کوه ځکه چه داسے یهودیانو هم د موسیٰ علیه السّلام د امر نه خلاف کړے وؤ او هغه صبر کړیدے. او د دے وجے حدیث د بخاری کښ راغلے دی چه هر کله یو منافق په تقسیم د غنیمتونو د حنین کښ په نبی صلّی الله علیه وسلّم باندے اعتراض اوکړو نو هغه اوفرمائیل رحمت د الله تعالیٰ دِ وی په موسیٰ علیه السّلام باندے هغه ته د خپل قوم د طرف نه ډیر اذیتونه رسیدلے وؤ لیکن هغه صبر کړے وؤ. او مضمون د دے ایت پشان د سورة احزاب ۶۹ دے. لِمَ تُؤْذُوْنَنِيْ بنی اسرائیلو موسیٰ علیه السّلام ته ډیر ایذاګانے ورکړے وے لکه سورة نساء ۱۵۳ او اعراف ۱۳۸ او نورے واقعے هم په احادیثو او کتابونو د تفسیر کښ لیکلے دی لویه ایذاء هغه ده چه په سورة مائده ۲۴ کښ ذکر شویده یعنی انکار د قتال فی سبیل الله نه او دلته دا مراد واضح دے.

وَقَدْ تَعْلَمُوْنَ اه قد د پاره د تحقیق او د تاکید دے یعنی په ډیرو ایاتونو او معجزاتو سره تاسو ته یقیناً زما رسالت ثابت شویدے.

فَلَمَّا زَاغُوْا سره د علم د حق نه انکار کول یا اوړیدل دیته زیغ ویلے کیږی د هغے پوره نخه په سورة العمران ٿه کښ تیره شویده.

أَزَاغَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ جزاء د جنس د عمل نه وی هر کله چه دوی د طاعت او د ایمان او د احترام د رسول او د قتال فی سبیل الله نه کاږه شول نو الله تعالیٰ د دوی په زړونو کښ شکوک، شبهات، حیرانتیا، او ګمراهی پیدا کړه لکه په سورة نساء ۱۱۵ او سورة انعام ۱۱۰ کښ.

مَرْيَمَ يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ

دَ مریم اے بنی اسرائیلو یقیناً زه رسول دَ الله تعالیٰ (رالیږلے شوے یم)

اِلَيْكُمْ مُّصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرٰىةِ

تاسو ته تصدیق کوونکے دَ هغه کتاب چه زما نه مخکښ دے چه تورات دے

وَمُبَشِّرًۢا بِرَسُوْلٍ يَّاْتِيْ مِنْۢ بَعْدِي اسْمُهٗٓ

او زیرے ورکوونکے یم پداسے رسول چه راځی به په ما پسے روستو نوم دَ هغه

اَحْمَدُ ۗ فَلَمَّا جَآءَهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ قَالُوْا هٰذَا

احمد دے نو هر کله چه راوړل ئے دوی ته ښکاره معجزات دوی اُویل دا

سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۝٦ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى

جادو ښکاره دے . او څوک ډیر ظالم دے دَ هغه چا نه چه جوړ وی

اَلْفٰسِقِيْنَ دا فسق دَ عقیدے دے په قرینه دَ زیغ سره ځکه چه زیغ دَ عقیدے سره تعلق لری۔

سـ۶ دا هم دلیل نقلی دے چه عیسٰی علیه السّلام تصدیق دَ تورات هم کړیدے لیکن بنی اسرائیلو دَ هغه نه زیغ اوکړو او دا رنګ بشارت ئے په آخری نبی سره هم ورکړے دے او دا بنی اسرائیل دَ هغه نه هم انکار کوی لکه چه په سورة اعراف سـ۱۵۷ او سورة آل عمران سـ۸۱ کښ هم دیته اشاره ده . او په حدیث دَ مسند احمد کښ راغلی دی چه رسول الله صلّی الله علیه وسلّم فرمائیلی دی چه زهٔ دُعا دَ پلار یم چه ابراهیم علیه السّلام دے او بشارت دَ عیسٰی علیه السّلام هم یم . مِنْۢ بَعْدِي، لفظ دَ بعد دلالت کوی په مطلق روستو والی، او لفظ دَ مِنْ چه داخل شی په بعد باندے نو اشاره ده قلّتِ بعدیت او عدمِ واسطے ته په مینځ دَ مخکښی او روستنی کښ یعنی په مینځ دَ عیسٰی علیه السلام او محمد صلی الله علیه وسلّم کښ یله واسطه (یعنی بل رسول او نبی) نه دے راغلے او دَ دے دواړو په مینځ کښ تقریباً پنځه سوه او نهه اویا کاله فاصله ده . اَحْمَدُ، امام رازی په رپاڅے په بل مخ)

عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ وَهُوَ يُدْعَىٰٓ إِلَى الْإِسْلَامِ ط

په الله تعالیٰ باندے دروغ او حال داچه هغه رابللے کیدے شی اسلام ته

په تفسیر کبیر او قاسمی په خپل تفسیر کښ او الشیخ رحمت الله الکیرانوی په کتاب اظهار الحق کښ دَ انجیل دَ یوحنّا دَ څوارلسم باب نه بشارت په لفظ دَ فارقلیط سره نقل کړے دے او دا یونانی لفظ دے او اصل ئے بیرکلوط دے او معنیٰ دَ هغے احمد دے او په انجیل دَ برنابا کښ صریح عبارتونه ډیر دی هاں روستو راهبانو دَ ډیر ضد دَ وجے نه په دغه الفاظو کښ تحریفات کړیدی ۔ او حدیث دَ بخاری کښ چه څه محمد یم او احمد یم او ماحی او حاشر او عاقب یم او په حدیث دَ مسلم کښ ورسره المقفّی او نبی الرحمة او نبی التوبة او نبی الملحمه هم راغلی دی ۔ او خطیب په سراج المنیر کښ دَ بعض اهل علم نه نقل کړیدی چه دَ هغه زر اسماء دی (اگر چه دَ دے دعوے هیڅ دلیل نیشته) او دا رنګ بعضو دَ نبی صلی الله علیه وسلّم یو کم سل (۹۹) اسماء لیکلے دی په موافق دَ اسماء الحسنیٰ دَ الله تعالیٰ او دَ دوی سره په دے باندے هم څه دلیل شرعی نیشته ۔

فائده :- فرق په مینځ دَ احمد او محمد کښ په دوه طریقو سره دے اول داچه احمد اسم تفضیل دے یعنی احمد الحامدین لله ۔ ټول انبیاء علیهم السّلام حمد ویونکی دی لیکن آخری نبی دَ ټولو نه زیات حمد کوونکے دَ الله تعالیٰ دے او محمد په معنیٰ دَ محمود سره دے لیکن محمود صرف حمد کړے شوے ته ویلے کیږی او محمّد هغه ته ویلے شی چه بار بار ئے حمد ویلے کیږی نو په لفظ احمد کښ زیادت دَ کیفیت دے او په لفظ محمد کښ زیادت دَ کمیّت (مقدار) دے ۔ دویم فرق دا دے چه احمد هم مبنی للمفعول دے لکه دَ اشغل پشان نو دَ محمد معنی ده بار بار حمد ویلے شوے او دَ احمد معنیٰ ده ډیر غټ حمد ویلے شوے بیا دَ اول فرق په بِنا حکمت دا دے چه اول خو یو انسان ډیر حمد ونه او صفتونه وائي روستو دَ هغے نه بیا دَ دغه انسان حمد او ستائینه کیدے شی په دے وجه په مخکنی کتاب (انجیل) کښ اول صفت ذکر شو او په قرآن کښ دویم نوم ذکر کړے شو ۔ او دَ دے نه چه مرزائي دَ خپل نبوت دَ

وَاللّٰهُ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٧﴾ يُرِيْدُوْنَ

او الله تعالىٰ هدايت نه ورکوى قوم ظالمانو ته ۔ دوى غواړى

لِيُطْفِـُٔوْا نُوْرَ اللّٰهِ بِاَفْوَاهِهِمْ ۗ وَاللّٰهُ مُتِمُّ

چه مړه کړى رڼړا دَ الله تعالىٰ په خپلو خُلو سره او الله تعالىٰ پوره کوؤنکے دے

اثبات دَپاره دليل ذکر کړے دے نو هغه خالص دروغ او تحريف دے ځکه چه دَ مرزائي نوم غلام احمد دے او په دے ايت کښې احمد ذکر شوے دے او مضاف خو غيروى دَ مضاف اليه نه ۔

فَلَمَّا جَآءَهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ضمير دَ فاعل عيسىٰ عليه السّلام يا اخرى نبى ته راجع دے دويم قول غوره دے او په دے کښې سخت زجر دے يهود او نصارى ته چه هغوى سرهٔ دَ بشارت دَ عيسىٰ عليه السّلام او سرهٔ دَ بينات نه دَ دے اخرى نبى نه انکار اوکړو ۔ او بينات نه مراد قران کريم دے. هٰذَا سِحْرٌ هذا اشاره ده بينات ته او سحر پخپله معنىٰ سره دے يا هذا اشاره ده رسول ته او مصدر (سحر) په معنىٰ دَ اسم فاعل دے او حمل ئے مبالغةً دے ۔

سے دا زجر دے هغه کسانو ته چه بيناتو ته سحر وائي که يهود وى چه تکذيب دَ عيسىٰ عليه السلام ئے کړے دے او که يهود او نصارىٰ دواړه دى چه تکذيب ئے دَ اخرى نبى صلى الله عليه وسلم کړے دے ۔

الْكَذِبَ هر سحر کذب او افتراء ده او دا رنګ شرک کول هم افتراء ده ۔

الْاِسْلَامِ مراد دَ دے نه دين دَ توحيد دے چه دَ ټولو انبياء عليهم السلامُ دين دے يا مراد دَ دے نه اتباع دَ محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم ده ۔

الظّٰلِمِيْنَ يعنى انکار دَ حق نه په طريقه دَ ضد او عناد سره کوى ايت پنځم کښې الفاسقين ذکر وو ځکه چه زيغ دَ زړونو فسق دَ عقيدے دے او دلته ئے الظالمين اويل ځکه چه په اول دَ ايت کښې ئے وَمَنْ اَظْلَمُ ويلے دى ۔

نُوْرِهٖ وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ ﴿۸﴾ هُوَ الَّذِیْٓ

رڼړا خپله لره اگرچه بد ئے گنړی کافر - خاص الله تعالیٰ هغه ذات دے

سه دا هم زجر دے په انکار د رسول او د قران سره ؛ دا ئے ذکر کړے دے بغیر د حرفِ عطف نه په طریقه د جوابِ سوال سره. سوال دا دے چه دوی ظلم کوی او د اسلام مقابله په افتراء سره کوی دا د څه مقصد د پاره کوی ؟ جواب او شو چه مقصد د دوی اِطفاء د نور الله ده. نو په یُرِیْدُوْنَ کښ ضمیر راجع دے هغه کسانو ته چه حق ته سحر وائی او ظلم کوی. اطفاء او اخماد کښ فرق دا دے چه اطفاء په لګه او ډیره رڼړا دواړو کښ استعمالیږی او اخماد فقط په ډیره رڼړا کښ استعمالیږی او بل فرق ئے دا دے چه اخماد اکثر په اُور کښ استعمالیږی او اطفاء په نُور کښ مستعملیږی.

فائده :- په سورة توبه ۳۲ کښ اَنْ ذکر شوی او دلته لام ذکر دے وجه د فرق دا ده چه اَنْ په تاویل د مصدر سره مفعول د یریدون دے یعنی اطفاء د دوی اصل مراد دے او لام د پاره د علت دے او مفعول د یریدون پټ دے یعنی یُرِیدُونَ الافتراء والتکذیب لاجل الاطفاء نو معلومه شوه چه په اول تعبیر کښ مبالغه ده په نسبت د دویم تعبیر سره او په سورة توبه کښ تفصیل د قبائحو او علل د قتال د یهودو او نصاریٰ بیانیدل مقصود وو نو د هغې سره تعبیر په مبالغه (په اَنْ) سره ذکر کړے شو. نُوْرَ اللّٰهِ بِاَفْوَاهِهِمْ مراد د نور نه نمر دے او کلام په طریقه د استعاره تمثیلیه سره دے یعنی دا منکرین چه د حق د ابطال کوشش کوی د دوی مثال د هغه شخص دے چه نمر په پوکو بانده مړکول غواړی. یا مراد د نور نه قران او توحید او رسالت د اخری نبی صلی الله علیه وسلم او اسلام دے او افواههم نه مراد بے دلیله خبرے او شبهاتِ واهیه دی. وَاللّٰهُ مُتِمُّ نُوْرِهٖ اتمام د نور په نازلولو د قران او په جواب د شبهاتو د دوی سره دے، او په دے کښ اشاره ده چه د اتمام د نور نه وړاندے (یعنی د قران پوره نازلولو او دین اسلام د پوره کولو نه مخکښ) د هیچا قدرت نه وو چه دا ئے ختم کړے یا نیمګړے کړے وے. وَلَوْ كَرِهَ الْكٰفِرُوْنَ په لفظ د کفر کښ اشاره ده ظلمت ته چه مقابل د نور دے یعنی تیاره (ظلمات) خوخوَل خلق رڼړا نه غواړی.

أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَىٰ وَدِينِ الْحَقِّ

چه را اولیږه ئے رسول خپل په هدایت سره او په حق دین سره

لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ

د دے د پاره چه غالب کړی هغه لره په دینونو ټولو باندے اګرچه بد ئے ګنړی

الْمُشْرِكُونَ ﴿٩﴾ ع يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ ع ٩ ١

مشرکان . اے ایمان والو آیا اوخایم تاسو ته

ف دا بیان دے د پاره د مُتِمُّ نُوْرِهٖ یعنی اتمام د نور خپل کوی په رالیږلو د
دے رسول او قران سره سرهٔ د صفت د غالب کولو نه په ټولو دینونو باندے.
تفسیر د دے په سورة فتح ۲۸ او سورة توبه ۳۳ کښ تیر شوے دے.
بِالْهُدَىٰ وَدِينِ الْحَقِّ قران او توحید. یا قران او حدیث یا عقیده او احکام
مراد دی۔
لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ د ظهور نه ماخوذ دے په معنیٰ د غلبے سره او ضمیر د
مفعول راجع دے رسول ته یا دین ته او غلبه عامه ده که په حجت سره
وی او که دا سے وی چه نور دینونه وی لیکن کمزوری وی لکه په زمانه د
خلفاء راشدینو کښ چه اوشوه او که دا سے وی چه بل دین سیوا د اسلام
نه په مخ د زمکه باقی نه وی لکه چه په زمانه د نزول د عیسیٰ علیه السلام
کښ په قرب د قیامت کښ به وی. یا اظهار په معنیٰ د اعلام او د اطلاع سره
دے یعنی نزول د قران په نبی صلی الله علیه وسلم باندے سبب دے
د پاره د حصول د علم په ټولو ادیان سماویه او غیر سماویه باندے.
وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ هر کله چه هدیٰ او دین حق توحید دے او انکار د
توحید ته شرک ویلے کیږی نو د دے ایت اختتام ئے په المشرکون سره
اوکړو.
فائده:- په سورة فتح ۲۸ کښ وکفیٰ بالله شهیدا او په سورة توبه ۳۳ کښ
او په دے سورت کښ ولوکره المشرکون ئے ذکر کړو. وجه دا ده چه
په سورة فتح کښ رد وؤ په مشرکینو عوامو باندے چه هغوی د رسول الله
صلی الله علیه وسلم په رسالت باندے شهادت نه کوؤ ایلے په بل مخ)

عَلٰی تِجَارَةٍ تُنْجِيْكُمْ مِّنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ⑩

پر داسې تجارت چه بچ کوی تاسو لره د عذاب درد ناک نه.

تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَتُجَاهِدُوْنَ

ایمان به راوړې په الله تعالی باندې او په رسول د هغه باندې او جهاد به کوئ تاسو

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ ۭ

په لارې د الله تعالی کښ په مالونو خپلو سره او نفسونو خپلو سره

بلکه د صلح حدیبیه په عهدنامه کښ د لفظ د رسول الله لیکلو نه ئې انکار کوئ نو د دې وجې نه الله تعالی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په رسالت باندې خپل شهادت ذکر کړو. او په سورة توبه او په دې سورت کښ رد دې په کتابیانو باندې چه هغوی د توحید په ځائې د شرک نه دین جوړ کړو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم ئې د مخالفت لوئې سبب هغه بیان د توحید او رد د شرک وو.

ف ۱۰ ف ۱۱ ف ۱۲ دا دویم خطاب دې مؤمنانو ته او ترغیب دې جهاد ته په ذکر د بشارت اخرویه سره او متعلق دې د څلورم ایت د دې سورت سره. هَلْ اَدُلُّكُمْ مقصود د استفهام نه امر دې لیکن د پوره متوجه کیدلو د پاره ئې تعبیر په استفهام سره کړې دې. عَلٰی تِجَارَةٍ دا لفظ ئې د دې وجې نه راوړو چه تپوس کوونکی (عثمان بن مظعون رضی الله عنه) ویلې وو چه کوم تجارت ډیر محبوب دې الله تعالی ته نو جواب ئې موافق د سوال سره راوړو یا دا د پاره د ترغیب دې ځکه چه طبائع انسانیه په تجارت باندې ډیر خوشحالیږی ځکه چه په تجارت کښ لزوم د عوض وی او دا ئې په سورة توبه ۱۱۱ کښ په تعبیر د اشتراء سره ذکر کړې دې. تُنْجِيْكُمْ الخ دا اشاره ده فرق د تجارت دنیویه او اخرویه ته یعنی په دې تجارت کښ ګټه ضرور شته او ابدی ګټه ده او د خسران هیڅ احتمال پکښ نشته او دنیوی تجارت خو داسې نه وی.

تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ الخ دا تفسیر د تجارت دې یعنی د خرڅوونکو (چه مؤمنان دی) د طرف نه ایمان او جهاد بالمال والنفس دې. ایمان ئې د جهاد

ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۱﴾

دا کار غوره دے تاسو لره که چرے تاسو پوهه لرے.

يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنّٰتٍ

بخښه به اوکړی تاسو ته دَ ګناهونو ستاسو او داخل به کړی تاسو جنتونو ته

تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً

چه بهیږی لاندے دَ هغے نه وَلے او کورونه دَ اوسیدلو مزیدار

فِىْ جَنّٰتِ عَدْنٍ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿۱۲﴾

په باغونو دَ هیشوالی کښ دا کامیابی لویه ده.

دَقبولیت دَپاره ذکر کړے دے ځکه چه جهاد بغیرَ ایمان نه فائده نه کوی نو مراد دَ دے نه دوام دَ ایمان دے ځکه چه دوی ته يُے اٰمَنُوْا په خطاب کښ ویلے دی. وَتُجَاهِدُوْنَ مراد دَ دے نه قتال فی سبیل الله دے په قرینه دَ څلورم ایت سره بِاَمْوَالِكُمْ دَ مال خرچ کولو ته اول او هر وخت ضرورت دے په نسبت دَ نفس سره دَ دے وجے نه اموال يُے مقدم ذکر کړو. اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ سوال:- خیریت دَ جهاد په علم دَ مخاطبینو پاندے موقوف نه دے نو دلته يُے دَ څه وجے نه دا شرط اولګوؤ.

جواب:- دا شرط حقیقةً نه دے بلکه مقصود په دے کښ تیزی ورکول دی په منلو دَ دے حکم باندے. یا اِنْ په معنیٰ دَ اِذْ سره دے.

يَغْفِرْ لَكُمْ اه دا ذکر دَ عوض دے دَ جانب دَ اشتراء کوؤنکی چه الله تعالی دے. يَغْفِرْ مجزوم دے په سبب دَ شرط پټ سره یعنی اِنْ تُؤْمِنُوْا وَتُجَاهِدُوْا- او قرطبی دَ مبرد او زجاج نه نقل کړیدی چه تؤمنون (په سر دَ ایت کښ) په معنیٰ دَ اٰمِنُوْا ، امر سره دے دَ دے وجے یغفر مجزوم دے دَ وجے دَ جوابِ امر نه او فرّاء ویلے دی چه دا جواب دَ استفهام دے چه په (هل تؤمنون و تجاهدون) کښ معنیً مراد دے. ذُنُوْبَكُمْ هر کله چه ایمان او جهاد دواړه یو ځائے ذکر کړیدی نو ذنوبکم يُے بغیر دَ مِنْ نه ذکر کړے دے دَ پاره دَ عموم یعنی ټول ګناهونه (پائے په بل مخ)

وَاُخْرٰى تُحِبُّوْنَهَا ؕ نَصْرٌ مِّنَ اللّٰهِ وَفَتْحٌ

او بل نعمت چه خوښوئے تاسو هغه. (چه هغه) مدد دے دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه او کته

قَرِيْبٌ ؕ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٣﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ

نزدے او زیرے ورکړه مؤمنانو لره. اے ایمان

اٰمَنُوْا كُوْنُوْۤا اَنْصَارَ اللّٰهِ كَمَا قَالَ عِيْسَى ابْنُ

والو شئ مدد کوونکی دَ دین دَ الله تعالیٰ لکه چه وئیلے دی عیسیٰ ځوئ

مَرْيَمَ لِلْحَوَارِيّٖنَ مَنْ اَنْصَارِيْۤ اِلَى اللّٰهِ ؕ

دَ مریم حوارینو خپلو ته څوک دی ما سره مدد کوونکی (دَ پاره دَ نزدیکیدلو) الله تعالیٰ ته

په دے ځلے کیږی. او مغفرت دَ گناهونو په اصل کښی مقدم دے په دخول دَ
دَ جنت بانـدے ځکه چه سرۀ دَ وصف دَ گناه نه جنت نه حاصلیږی دَ دے
وجے نه یغفر ئے مقدم کړیدے په ید خلکم جنات بانـدے. طَيِّبَةً یعنی
داسے مساکن چه دَ ژوند دَ خوشحالئ ټول اسباب به پکښی وی.
فِيْ جَنّٰتِ عَدْنٍ دَ اول جنات نه مراد دارالثواب دے چه الله تعالیٰ دَ
عامو مؤمنانو دَ پاره تیار کړیدے او مختلفو نعمتونو بانـدے مشتمل دے
او دَ دویم جنات نه مراد باغات دَ اونو بوټو دی یعنی دا مساکن به په باغونو
کښی دننه وی گیر چاپیر به دَ دوی نه اونے وی.
عَدْنٍ اقامت ته وئیلے کیږی یعنی دَ مزو حاصلولو دَ پاره به دَ جنت نه بهر
وتلو ته ضرورت نه پریوځی.
١٣ دا بشارت دنیویه دے. وَاُخْرٰى عطف دے په تجارت بانـدے یا په
تقدیر دَ لَكُمْ تِجَارَةٌ یا نِعْمَةٌ اُخْرٰى.
نَصْرٌ مِّنَ اللّٰهِ دا بدل دے دَ اُخْرٰى نه یا پکښی لکم مقدر دے او تفسیر دے
دَ اخرٰی دَ پاره. تُحِبُّوْنَهَا دلیل دے چه دَ صحابه کرامو محبت دَ جهاد او
دَ نصرت الٰهیه او دَ فتح دَ حق سره وۀ دَ دُنیا دَ نور متاع سره دَ هغوی
محبت نه وۀ. وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ اشاره ده چه بشارت دنیویه اخرویه
ټول دَ ایمان په وجه دی.

قَالَ الْحَوَارِيُّوْنَ نَحْنُ اَنْصَارُ اللّٰهِ فَاٰمَنَتْ

اوویل حواریینو مونږ مددکوونکي دَدین دَ الله تعالیٰ نو ایمان راوړو

طَّآئِفَةٌ مِّنْۢ بَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ وَكَفَرَتْ طَّآئِفَةٌ

یو ډلے دَ بنی اسرائیلو نه او کفر اوکړو بلے ډلے

فَاَیَّدْنَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا عَلٰی عَدُوِّهِمْ

نو کلک کړل مونږ هغه کسان چه ایمان ئے راوړے وو په دشمنانو دَدوی باندے

فَاَصْبَحُوْا ظٰهِرِیْنَ ﴿۱۴﴾ ع

نو شول هغوی غالب ۔

۲ع۵ ۱۰

ف۱۴ دا دریم خطاب دے دَ پاره دَ تاکید دَ حکم دَ جهاد او په دیکښ ترتیب دے چه اول اعلان دے دَ نصرت کولو بیا دعوت کول دی بیا مقابله کول دی دَ دُشمنانو دَدین سره بیا حصول دَ تائید دَ الله تعالیٰ دے۔

اَنْصَارُ اللّٰهِ مضاف محذوف دے یعنی اَنْصَارُ دِیْنِ اللّٰهِ یا لام مقدر دے یعنی اَنْصَارًا لِّلّٰهِ او په دے تعبیر کښ تاکید دے چه په نصرت دَدین سره انسان په ډله او جماعت دَ الله تعالیٰ کښ داخلیږی کَمَا قَالَ اه

سوال :۔ دَ کونوا انصار الله تشبیه دَ قال عیسیٰ سره صحیح نه ده ځکه چه دَ فعل دَ قول سره تشبیه صحیح نه وی؟

جواب :۔ په کلام کښ تقدیر دے یعنی قُلْ یَا مُحَمَّدُ لِلْمُؤْمِنِیْنَ کُوْنُوْا اه یا کونوا انصار الله بسبب قول النبی صلّی الله علیه وسلّم مِثل قولِ عیسٰی ۔

لِلْحَوَارِیِّیْنَ اه دَ حور نه ماخوذ دے سپین والی ته ویلے کیږی لکه حُوْرٌ عِیْنٌ۔ نو حوّاری سپین زړے مخلص راز دار دوست ته ویلے کیږی۔ او کله خاص وی لکه "لِکُلِّ نَبِیٍّ حَوَارِیٌّ وحواری زبیر" (حدیث) او کله عام وی لکه بل حدیث کښ راغی چه "دَ هر نبی په امت دَ هغه کښ حواریین او اصحاب وی چه یَهْتَدُوْنَ بِسُنَّتِهٖ وَیَقْتَدُوْنَ بِاَمْرِهٖ"۔

فائده سورة العمران ۵۲ کښ فرمائیلی دی قَالَ مَنْ اَنْصَارِیْ اِلَی اللّٰهِ قَالَ الْحَوَارِیُّوْنَ۔ او په دے ایت کښ قال عیسی بن مریم للحواریین فرمائیلی دی (پاتے په بل مخ)

نو معلومه شوه چه په دے کښ ترتیب دے هغه دا دے چه اول خو عیسٰی علیه السّلام عام اعلان اوکړو چه زما سره په دین دَ الله تعالٰی کښ څوک ملګرتیا کوی یعنی ایمان راوړی نو حواریینو اجابت اوکړو (دا دَ العمران دَ ایت مقصد دے) بیا ئے حواریینو ته اوویل چه مَنْ اَنْصَارِی یعنی څوک دعوت کوئے حق ته سره دَ مصیبتونو ته حواریینو اوویل چه مونږ دے ته تیار یو (دا دَ دے ایت مقصد دے) نو معلومه شوه چه حواریین دوه قسمه دی عام چه صرف دَ ایمان اعلان کوی بل خاص چه دعوت کوونکی وی په اخلاص سره.

فَاٰمَنَتْ طَّآئِفَةٌ" شربینی ویلے دی چه دلته تقدیر دے یعنی حواریینو دعوت شورو کړو په بنی اسرائیلو کښ نو هغوی خو اول دوه ډلے شوے چا ایمان راوړو نو هغوی ته نصاری ویلے کیدل او چا کفر اوکړو نو هغوی ته یهود ویلے کیدل بیا روستو دَ رفع دَ عیسٰی علیه السّلام نه اسمان ته، نصارٰی مختلف شول چا اُویل چه عیسٰی علیه السّلام الله دے هغه یعقوبیه دی چا اُویل چه ځوئے دَ الله دے دا نسطوریه دی او څوک په تثلیث باندے قائل شول او هغه ملکانیه دی او څوک په توحید باندے پاخه وو او په هغوی کښ هم درے ډلے پیدا شوے. مجاهدین، دعوت کوونکی او ډِے دواړه ولړه یهودیانو قتل کړل او راهبان لکه چه سورة حدید کښ ذکر شویدی.

فَاَیَّدْنَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا تائید او غلبه دَ دوی په حجت سره وه او بیا دَ دوی غلبه راغله په سبب دَ بعثت دَ اخری نبی صلی الله علیه وسلم سره یعنی هغه دَ دوی دَ عقیدے تائید اوکړو چه عیسٰی علیه السّلام الله او ابن الله نه دے بلکه عبد او رسول دَ الله تعالٰی دے.

الحمد لله تفسیر دَ سورة صف په فضل دَ الله تعالٰی سره ختم شو

سُوْرَةُ الْجُمُعَةِ ۶۲ مَدَنِيَّةٌ ۱۱۰	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰيَاتُهَا ۱۱ رُكُوْعَاتُهَا ۲

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ

پاکی وائی الله تعالیٰ لره هغه څیزونه چه په اسمانونو کښ دی او هغه څیزونه چه په زمکه کښ دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة الجمعة

ربط دَ دے سورت دَ مخکښ سورت سره په ډیرو وجوهو سره دے. اوله وجه دا ده چه په هغه سورت کښ زیغ دَ زړونو دَ یهودیانو ذکر ووُ نو په دے سورت کښ ذکر دَ اثارو دَ زیغ دَ هغوی دے. دویمه وجه دا چه په مخکښ سورت کښ ترغیب ووُ جهاد ته نو په دے سورت کښ زجر دے مانعینو دَ جهاد ته. دریمه وجه دا چه په هغه سورت کښ ترغیب ووُ جهاد ته نو پکار دے سورت کښ ترغیب دے اوریدلو دَ خطبۂ جمعے ته دَ پاره دَ تذکیر دَ مسائلو دَ جهاد. څلورمه وجه په هغه سورت کښ ذکر دَ صفونو دَ قتال ووُ نو په دے سورت کښ ذکر دَ صلوٰة جمعه دے چه په هغے کښ دَ صفونو جوړولو طریقه ایزده کول دی. پنځمه وجه په سورة صف کښ بشارت ووُ په بعثت دَ اخری نبی صلی الله علیه وسلم سره نو په دے سورت کښ خبر ورکوی په راتللو دَ هغه سره. شپږمه وجه دا ده سورة صف کښ زجر ووُ په ترک دَ عمل سره نو په دے سورت کښ مثال دَ دغه کسانو ذکر کوی دَ حمار (خر) سره. دعوی دَ سورت. رد دے په درے دعووُ دَ یهودیانو سرهٔ دَ رد دَ شرک فی العلم والتصرف نه او دَ هغے دَ پاره ئے نهه اسماء حسنیٰ ذکر کړیدی.

خلاصه دَ سورت. اول ذکر دَ توحید دے په تسبیح سره بیا صداقت دَ رسول دے په درے ایاتونو کښ بیا رد دے په اوله دعویٰ دَ یهودیانو باندے چه په فخر سره ئے ویل چه مونږ علماء یو او تاسو امیان یئ دَ هغے جواب په ۵ کښ دے چه بے عمله عالم خو پشان دَ خر وی. دویم رد دے په دویمه دعویٰ باندے دوی فخر کوؤ چه مونږ اولیاء الله یو (یا تے په بل مخ)

الْمَلِكِ الْقُدُّوْسِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ①

بادشاه دے ډیر پاک دے زوراور دے حکمتونو والا دے.

هُوَ الَّذِيْ بَعَثَ فِي الْاُمِّيّٖنَ رَسُوْلًا

خاص الله تعالیٰ هغه ذات دے چه اولیږلو ئے په آن پړه کښ رسول

مِّنْهُمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِهٖ وَيُزَكِّيْهِمْ

دَ دوی دَ جنس نه بیانوی په دوی باندے ایاتونه دَ الله تعالیٰ او خائی دوی ته پاک اخلاق

جواب اوشو په درے ایاتونو کښ په دعوت دَ مباهلے سره - دریم فخر کول وو دَ دوی په یوم السبت سره دَ هغے جواب اوشو په ذکر دَ عظمت دَ ورځ دَ جمعے سره په خطبه او صلوٰة سره بیا ترغیب دے حلال کسب ته روستو دَ فارغ کیدلو دَ موځ دَ جمعے نه او ترغیب دے او ریدلو دَ خطبے ته او پریخودل دَ مال و تجارت وغیره دَ دُنیا -

تفسیر په ۱ کښ دعوی دَ توحید ده په ذکر دَ تسبیح سره او په تسبیح کښ په دے خاص تعبیر سره اشاره ده چه الله تعالیٰ مَلِك دے نو دَ رعیت (چه دا امت دے) دَ اصلاح دَ پاره ئے اخری رسول را اولیږلو او قُدُّوْس دے یعنی په هغه باندے اعتراض نیشته په تشبیه ورکولو دَ بے علمه مُلیانو دَ حمار سره او عَزِيْز دے ویره نه کوی دَ چا دَ دعوے دَ ولایت نه په دروغه سره او حَکِیْم دے په مقرر کولو دَ ورځ دَ جمعے کښ دَ پاره دَ خاص عبادت -

يُسَبِّحُ په صیغه دَ فعل مضارع سره ذکر کړو او تیر سورتونو (حدید، حشر، صف) کښ په فعل ماضی سره وو اشاره ده دوام او احاطه دَ هرے زمانے ته په تسبیح ویلو سره دَ سبّح عموم دَ زمانو دے او ما فی السمٰوٰت وما فی الارض عموم دَ مکان دے سره دَ عموم دَ زمانیا تو او مکانیاتو نه.

الْمَلِكِ الْقُدُّوْسِ اه په دے صفاتو کښ روستو دَ موصوف نه اشاره ده چه استحقاق دَ تسبیح دَ الله تعالیٰ دَ ذات او دَ صفاتو دواړو دَ وجے نه دے.

وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ ۗ وَاِنْ كَانُوْا

او تعلیم ورکوی دوی ته دَ قرآن او دَ سنت اګر چه دوی وو

مِنْ قَبْلُ لَفِیْ ضَلٰلٍ مُّبِیْنٍ ۝۲ وَّاٰخَرِیْنَ

مخکښ دَ دے نه خامخا په ګمراهۍ ښکاره کښ او نور خلق (روستو)

ے روستو دَ توحید نه صداقت دَ رسول صلی الله علیه وسلم ذکر کوی او اشاره ده چه تسبیح دَ انسانانو الله تعالیٰ لره په طریقه دَ رسول سره ضروری ده او دَ وجے دَ استقلال دَ دے مسئلے نه په ماقبل بانده عطف نه دے کړے بعث په معنیٰ دَ ارسل سره دے یا په معنیٰ دَ پیدا کولو دے۔

فِی الْاُمِّیّٖنَ اُمّی په اصل کښ هغه چا ته ویلے کیږی چه نه ئے لوستل کړے وی او نه لیکل ورځی او دلته مراد مقابل دَ کتابیانو دے لکه چه په سورة العمران ۲۰ کښ دی یعنی هغه خوک چه آسمانی کتاب هغوی له نه وو ورکړے شوے نو هغه دا ټول عرب دی۔

او اُمّی صفت دَ نبی صلی الله علیه وسلم په سورة اعراف ۱۵۷ کښ ذکر دے نو دَ نبی صلی الله علیه وسلم اُمّی صفت سرهٔ دَ نبوت او رسالت نه دا دَ مدح صفت دے ځکه چه دا معجزه ده او دلیل دَ صداقت دَ هغه دے لکه سورة عنکبوت ۴۸ کښ دے ته اشاره ده او په امیین (عرب) کښ رالیږل په دے طریقه سره دی چه دَ عربو په هره قبیله کښ دَ نبی صلی الله علیه وسلم قرابت دَ پلار یا دَ مور دَ طرف نه وو ماسیوا دَ بنی تغلب نه ځکه چه په هغوی کښ نصرانیت وو۔ او په عرب (امیین) کښ دَ بعثت حکمت دا دے چه دَ هغوی نسب دَ عجمو دَ ټولو نسبونو نه اوچت دے او بیا قریش او په هغوی کښ بنی هاشم خو دَ ټول عالم دَ خاندانونو او قبیلو نه اوچت دی نو الله تعالیٰ خپل آخری نبی په دا سے قوم او نسب کښ را اولیږلو چه دَ نسب په لحاظ سره هغه ته څوک سپک او نه ګوری لکه چه په حدیث دَ هرقل کښ هم راغلے دی چه الله تعالیٰ انبیاء په اوچت نسب کښ رالیږی۔

نو لفظ دَ فی الامیین نص صریح دے په دے خبره بانده چه نبی صلی الله علیه وسلم عربی دے نو څوک چه دَ هغه راپاتے په بل مخ)

مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوا بِهِمْ ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ③

دَ دوی نه چه نه دی رسیدلے هغوی ته په مرتبه کښې او خاص الله تعالیٰ زور اور حکمتونو والا دے.

په عربیت کښې شک یا انکار کوی نو دا کافر دے. رَسُولًا مِّنْهُمْ دَ جنس دَ دوی نه دے یعنی بشر دے او دا هم صریح نص دے په رسالت او په بشریت دَ نبی صلی الله علیه وسلم بانْدے نو دَ دے نه انکار یا په دے کښې شک کول هم کفر دے لکه چه الوسی په تفسیر روح المعانی دَ سورة العمران په تفسیر کښې دا سے تفصیل لیکلے دے. دا درے صفات دی دَ نبی صلی الله علیه وسلم عربیت، رسالت، بشریت بیا درے کارونه دَ هغه ذکر کوی. اول يَتْلُوا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِهٖ مراد دَ تلاوت نه بیان دَ قرآن او دعوت ورکول دی قرآن ته نو دا مرتبه دَ دعوت او دَ تبلیغ ده او نصاب دَ دے آیاتو نه دَ قرآن کریم دی. دویم کار وَيُزَكِّيهِمْ مراد دَ دے نه طریقه خودل دَ اعمالو او اخلاقو ده دَ هغے اوقات، مقادیر، کیفیات او هیئات خودل او دا مرتبه دَ عمل کولو او دَ عمل خودلو ده چه هغه مقصد دَ دعوت او دَ تعلیم دے او دَ دے وجه نه تزکیه ئے په مینځ دَ دعوت او دَ تعلیم کښې ذکر کړیده چه دا اصل مقصود دے او دیته علم التزکیه او علم الاخلاق ویلے کیږی. لیکن دیته تصوف او دَ صوفیت نوم کیخودل صحیح نه دی ځکه چه منقول شرعی نوم پریخودل او غیر منقول نوم استعمالول دَ شرعے نه خلاف کول دی لکه چه په حدیث سره ثابت ده چه عَتَمَة نوم دَ عشاء دَ پاره مه استعمالوئے. او دریم کار وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ او دا مرتبه دَ تعلیم او تدریس ده او نصاب دَ هغے قرآن او حدیث دے دَ قتاده روایت دے او امام شافعی رحمه الله په الرساله کښې هم ذکر کړیدی چه مراد دَ حکمت نه سنت دے. دا صفات او کارونه دَ نبی صلی الله علیه وسلم په سورة بقره ۱۲۹ ۱۵۱ او سورة العمران ۱۶۴ کښې هم ذکر کړے شویدی. وَاِنْ كَانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ دا صریح دلیل دے چه بغیر دَ ایمان او دَ تابعدارئ دَ رسول نه بوٹے لارے دَ گمراهئ دی او دارنګ دَ هرے گمراهئ نه دَ نجات ذریعه صرف تابعداری دَ قرآن او دَ سنت دَ نبی صلی الله علیه وسلم ده.

۳ دا عطف دے په ضمیر دَ يعلمهم بانْدے ځکه چه معلّم دَ روستنو هم په اصل کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم دے اگرچه په واسطه سره دے یا معطوف دے په الامیین بانْدے. بِنا په اوله توجیه بانْدے مراد دَ اٰخرین نه تمام هغه مؤمنان دی که عرب وی او که عجم وی چه دَ صحابه کرامو نه روستو دی تابعین او تبع تابعین او نور مؤمنان تر قیامته پورے او بِنا په دویمه توجیه بانْدے مراد عجمیان دی چه ایمان ئے راوړے دے په رسول الله صلی الله علیه وسلم

ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ ۭ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ

دا فضل دَ الله تعالیٰ دے ورکوی ئے هغه چاته چه اوغواړی او الله تعالیٰ خاوند دَ فضل

الْعَظِيْمِ ۝۴ مَثَلُ الَّذِيْنَ حُمِّلُوا التَّوْرٰىةَ ثُمَّ

لوئے دے. مثال دَ هغه کسانو چه ورکړے شویده (ذمه واری) دَ تورات بیا

لَمْ يَحْمِلُوْهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ اَسْفَارًا ۭ بِئْسَ

ذمه واری ئے نه ده اداکړے پشان دَ حال دَ خر دے چه پورته کوی کتابونه . بد دے

بانده ترقیامته پورے. لَمَّا يَلْحَقُوْا بِهِمْ دَ دے هم دوه توجیه دی اوله دا چه نه وو ئے په زمانه دَ هغوی کښ او په هغوی پسے راځی، دویمه توجیه دا ده چه نه دی یوځائے شوی دَ صحابه کرامو سره په فضیلت اومرتبه کښ، دا توجیه آلوسی په روح المعانی کښ ذکر کړیده اګرچه لفظ دَ لَمَّا په معنیٰ اصلی سره (چه تراوسه یوکار نه وی او امید ئے دَ کیدلو وی) دَ دے مناسب نه دے چه دا امید نیشته چه تابعین او روستنی خلق دِ دَ صحابه کرامو فضیلت ته اورسیږی. او په دے توجیه کښ اشاره ده چه یو تابعی اګرچه لوئے علم او تقویٰ والا وی دَ یو ادنیٰ صحابی مرتبے ته نشی رسیدے لکه چه آلوسی ذکر کړیدی چه دَ عبد الله بن مبارک نه تپوس اوکړے شو چه عمر بن عبد العزیز غوره دے او که معاویه رضی الله عنه نو هغه جواب کښ اُویل چه هغه دوړے او غُبار چه دَ معاویه رضی الله عنه دَ اس په پوزه کښ داخل شویدی (رانختے دی) هغه دَ الله تعالیٰ په نیز دَ سل عمر بن عبد العزیز نه افضل دی. (فائده) لفظ دَ فی الامیین په باره کښ سوال دَ چه دا لفظ دلالت کوی چه زمونږ دَ نبی صلی الله علیه وسلم رسالت خاص دے په امیین (عرب) پورے او دَ دے وجے نه دَ ابن صیّاد په روایت کښ راغلے دی چه هغه نبی صلی الله علیه وسلم ته ویلی وو چه ته رسول ئے لیکن صرف رسول دَ امییانو ئے. جواب اول دا دے چه لفظ دَ آخرین په هر دواړو توجیهاتو سره دلالت کوی صراحتًا چه رسالت دَ هغه ټولو عربو او عجمو ته عام دے. دویم جواب دا دے چه یو مَبْعُوث فیهم او بل مبعُوث الیهم دی په دے ایت کښ دَ مبعوث فیهم ذکر دے چه عرب دی او نبی دَ خاص قوم دَ عرب نه وو او مبعوث الیهم په دے ایت کښ ذکر نه دی دَ هغے دَپاره نور ایاتو نه شته لکه قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعًا سورة اعراف ۱۵۸ او لِاُنْذِرَكُمْ بِهٖ وَمَنْۢ بَلَغَ سورة انعام ۱۹.

۴ په دے کښ رد دے په یهودیانو بانده چه هغوی رسالت بخپل قوم پورے خاص ګڼړلو. ذٰلِكَ اشاره ده بعثت دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په امیین کښ. (پاتے په بل مخ)

مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ؕ

مثال دَهغه قوم چه دروغژن گنړی ایاتونه دَ الله تعالیٰ

وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۝۵ قُلْ

او الله تعالیٰ هدایت نه کوی قوم ظالمانو ته - ته اوایه

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ هَادُوْۤا اِنْ زَعَمْتُمْ اَنَّكُمْ

اے یهودیانو که چرے تاسو دعویٰ کوئے چه یقیناً تاسو

یا مطلق وحی او نبوت ته. يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ لیکن دَ نورو نصوصو قطعیو نه ثابت ده چه دَ خاتم النّبیّن محمد رسول الله صلی الله علیه وسلّم نه روستو هیچا له نوے نبوت نه ورکوی.

ف۵ روستو دَ اثبات دَ صداقتِ رسول نه زجر دے منکرینو دَ دغه رسول ته سره دَ علم نه او په دے کښ رددے دَ اولے دعوے دَ یهودیانو هغه دا چه دوی ویل چه تاسو امیین یئے او مونږ علماء او اهلِ کتاب یو نو مونږ ستاسو نه غوره یو نو مونږ باندے لازم نه ده چه رسول امّی باندے ایمان راوړو حاصل دَ رد دا دے چه عالم بے عمله خو دَ خرپشان دے دَ هغه هیڅ غوره والے نیشته.

حُمِّلُوا التَّوْرٰىةَ تحمیل نه مراد مکلف کول دی په هغے باندے په عمل کولو سره او دَ هغے په بیان کولو سره یعنی دوی باندے ذمه واری کیخودے شوے وه چه دَ تورات علم به حاصلوی او په هغے باندے به عمل کوی او دَ هغے بیان به کوی. ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوْهَا یعنی دوی سره دَ علم دَ هغے نه عمل اونکړو او کتمان او تلبیس، تحریف یئے اوکړو. كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ اَسْفَارًا دَ مثال تفصیل دا دے لکه خر باندے دَ غټو کتابونو بوجه کیخودے شی نو په ملا باندے بوجه وی او ډیر دے ورله زخمی کوی او فائده ترینه هیڅ نشی اغستلے او کله دَ جهل دَ وجے نه دَ لارے په مینځ کښ لت شی نو لاره بنده کړی نو دارنګ هغه عالم دَ کتاب دَ الله تعالیٰ چه دَ هغے حفظ کوی او په لوستلو کښ یئے تکلیفونه تیروی لیکن عمل ورباندے نه کوی نو بوجه او تکلیف ورباندے ډیر دے او فائده یئے هیڅ نیشته نه په دنیا کښ او نه په آخرت کښ او داسے عالم کله دَ ضد او دَ حسد دَ وجے نه دَ حق والو سره مقابلے کوی او په حق لار کښ روکاوټ پیدا کوی. اَسْفَارًا جمع دَ سفر ده غټ کتاب ته ویلے کیږی اشاره ده دا لوئے مُلّا دے لیکن بے عمله دے دا ایت دَ عموم دَ الفاظو په وجه سره دَ دے امت بے عمله عالمانو ته هم شامل دے بلکه ابن قیم رحمه الله په اعلام الموقعین کښ ویلے دی چه هغه چا ته هم شامل دے چه حفظ دَ قران کوی ختمونه یئے کوی لیکن هیڅ تدبر او فکر پکښ نه کوی او اتباع یئے نه کوی او فیصلے ورباندے نه کوی او نه یئے په مطلب ځان پوهوی او په حدیث دَ مسند

أَوْلِيَاءُ لِلَّهِ مِنْ دُونِ النَّاسِ فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ إِنْ كُنْتُمْ

دوستان دَ الله تعالیٰ یئ سیوا دَ نورو خلقو نه تو اوغواړئ مرګ که چرے تاسو یئ

صٰدِقِينَ ⑥ وَلَا يَتَمَنَّوْنَهُ أَبَدًا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ

رشتني . او نه غواړی دوی مرګ هیچرے په وجه دَ هغه عملونو چه مخکښ لیږلی دی لاسونو دَ دوی

وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ ⑦ قُلْ إِنَّ الْمَوْتَ الَّذِي

او الله تعالیٰ عالم دے په ظالمانو باندے . ته اُوایه یقیناً هغه مرګ

احمد کښ راغلی دی چه چا دَ جمعے دَ خطبے په وخت کښ خبرے کولے نو دَ دهٔ مثال پشان دَ خر دے چه کتابونه پورته کوی. بِئْسَ مَثَلُ اه یعنی دا مثال په اصل کښ دَ مکذبینو دَ کتاب الله دَ پاره دے چه په تورات کښ ذکر دَ خاتم النبیین شته او دوی انکار کوی او په قران کښ توحید شته او دوی انکار کوی لیکن انکار او تکذیب دَ یهودیانو او دَ هغوی پشان دَ علماء سوء په طریقه دَ تحریف او تلبیس او کتمان سره دے په صریح انکار سره نه دے. وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ په دے کښ اشاره ده چه دا سے عالمان خو ظالمان دی او دَ توفیق دَ هدایت نه محرومه دی.

سـ۶ـ په دے کښ رد دے په دویمه دعویٰ دَ یهودیانو باندے هغه دا ده چه دوی ویل تاسو زمونږ بدَ والے ذکر کوئے په مثال ورکولو دَ حمار سره مونږ دَ الله تعالیٰ اولیاء (دوستان) یو لکه په سورة مائده سـ۱۸ـ کښ او تاسو (اے مؤمنانو) په ګمراهی کښ یئ نو دَ دے دعوے تردید کوی په دعوت دَ مباهلے سره. هَادُوا په معنیٰ دَ تهوّدوا سره دے یعنی دین دَ یهودیت یئ اختیار کړیدے. أَوْلِيَاءُ لِلَّهِ په سورة بقره سـ۹۴ـ کښ إِنْ كَانَتْ لَكُمُ الدَّارُ الْآخِرَةُ عِنْدَ اللَّهِ دے نو په دواړو کښ یو قسم ملازمه ده ځکه چه جنت والا دَ الله تعالیٰ دوستان دی او دا رنګ برعکس هم. لیکن په سورة بقره کښ بحث وو په دعوی دَ جنت باندے لکه په سـ۸۰ سـ۱۱۱ کښ دَ دے وجه نه هلته یئ دَ مباهلے په باره کښ دَ دوی دعوی دَ جنت ذکر کړیده او دلته صرف دَ دوی مقصد خپل فضیلت ښکاره کول وُو او هغه متعلق دے په دعوی دَ ولایت پورے.

فَتَمَنَّوُا الْمَوْتَ ابن کثیر ویلے دی چه دعا دَ مرګ او غواړئ په ګمراه باندے دَ دواړو فریقونه او په سورة بقره کښ هم ابن کثیر دا تفسیر کړے دے. او ابن قیم هم په بدائع التفسیر (دَ سورة بقره) کښ (پاڼے په بل مخ)

تَفِرُّوْنَ مِنْهُ فَإِنَّهٗ مُلٰقِيْكُمْ ثُمَّ تُرَدُّوْنَ

چه تاسو تیخته کوئ د هغې نه یقینًا هغه ستاسو مخې له راتلونکے دے بیا به اوګرځولے شئ تاسو

إِلٰى عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ

هغه ذات ته چه عالم دے په هرپټ او ښکاره باندے نو خبر به درکړی تاسو لره

بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۸﴾ ع يٰٓأَيُّهَا الَّذِيْنَ ع ۱۴

په هغه عملونو باندے چه تاسو یې کوئ. اے ایمان

دا توجیه ذکرکړیده او دامباهله د یهودیانو سره ده او په سورة العمران ۶۱ کښې مباهله د نصاری سره ده او په سورة مریم ۷۵ کښې مباهله د مشرکینوعوامو سره ده. او هرچه مشهور تفسیر د دے ایت دے نو په هغې باندے اعتراض دادے چه په مینځ د ولایت او د دُعا د مرګ کښې ملازمه نیشته د دے وجے نه انبیاء علیهم السلام یقینًا دوستان د الله تعالیٰ دی لیکن هغوی د مرګ تمنّا نه ده کړے او دارنګ په حدیث صحیح کښې وارد دی چه هیڅوک دِ د مرګ تمنّا نه کوی او نه دے د مرګ دُعا ځان د پاره غواړی.

وَلَا يَتَمَنَّوْنَهٗٓ أَبَدًا دا نفی د مباهلے کولو د یهودیانو ده.

بِمَا قَدَّمَتْ اه یعنی یهودیان پوهیږی چه مونږ خو کافر او ګمراه یو او دا نبی په حقه باندے دے که مونږ د ده سره مباهله اوکړو نو تباه به شو. په سورة بقره ۹۰ کښې دا نفی یې مؤکد کړیده په حرفِ لَنْ سره ځکه چه هلته دعویٰ د جنت د دوی په تاکید د لَنْ سره ده په دواړه ایاتونو کښې ۸ ۱۱۱ نو جواب د تاکید هم په تاکید سره مناسب وی.

۸ په دے کښې تخویف دے چه په عدم تمنّا د مرګ سره خو د مرګ نه بچ کیدے نشئ نو ضرور ده چه توبه اوباسئ. تَفِرُّوْنَ مراد د فرار نه د مرګ تمنا نه کول دی او دارنګ هرانسان چه میدانِ قتال نه تیخته کوی د مرګ د ویرے نه یا چه د یو مقام او علاقے د طاعون نه د مرګ د ویرے د وجے نه تیخته کوی نو هغه هم په دے کښې داخل دی. فَإِنَّهٗ مُلٰقِيْكُمْ د دے په معنیٰ کښې تاکید دے پدے وجے سره چه لِقاء مخامخ راتللو ته ویلے کیږی یعنی په فرار سره انسان د هغه څیز نه بچ کیدے شی چه روستو ورپسے راځی

آمَنُوْا اِذَا نُوْدِیَ لِلصَّلٰوۃِ مِنْ يَّوْمِ الْجُمُعَةِ

والو کوم وخت چه اواز اوکړے شی د پاره د مونځ د ورځ د جمع نه

فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ؕ ذٰلِكُمْ

نو زر ځان اورسوئ ذکر د الله تعالٰی ته او پریګدئ خرڅول دا کار

خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ⑨

غوره دے تاسو لره که چرے تاسو پوهیږے .

او مرګ خود ځے نه راځی نو د دے نه فرار کول هیڅ فائده نه ورکوی.
سوال :- فَا په فَاِنَّهٗ کښ د جزاء ده او شرط خو نیشته ؟
اول جواب دا دے چه موصول (الذی) کله کله متضمن وی معنٰی د شرط لره یعنی اِنْ فَرَرْتُمْ مِنْهُ فَاِنَّهٗ مُلٰقِیْکُمْ.
دویم جواب دا دے چه خبر د اِنَّ پټ دے او فَا د پاره د تعلیل ده یعنی هغه مرګ چه تاسو ترینه تیخته غواړئ نشئ بچ کیدلے د هغے نه ځکه چه ستاسو مخے له راځی. ثُمَّ تُرَدُّوْنَ الخ په دے کښ بعث بعد الموت مراد دے او ثُمَّ دلالت کوی چه په مینځ د مرګ او د قیامت کښ ډیره موده شته چه هغه حالتِ برزخیه دے یا مراد د دے رد نه سوال او عذاب د قبر دے او ثم د پاره د ترتیب ده بغیر د تاخیر نه. عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ دا صفتِ خاصه د الله تعالٰی دے د دے وجے نه ئے موصوف حذف کړیدے.
ف ربط د دے ایت د ماقبل سره په ډیرو وجوهو سره دے اوله دا چه دارد دے د یهودیانو په دریمه دعوٰی باندے چه دوی فخر کوؤ چه زمونږ د پاره ورځ د خالی د تعظیم شته او تاسو د هغے تعظیم نه کوئ!
حاصل جواب دا دے چه زمونږ د پاره هم ورځ د تعظیم شته چه ورځ د جُمعے ده او دا د الله تعالٰی د طرف نه انتخاب دے او ستاسو ورځ د خالی خو ستاسو خپل انتخاب دے او بیا د ربانے الله تعالٰی د هغے تعظیم فرض کړو لکه چه سورۃ نحل ۱۲۴ کښ ذکر دی. دویمه وجه د ربط دا ده چه یهودیان د دنیا د محبت د وجے د مرګ د ځایو نو نه تیخته کوی لیکن مؤمنان د الله تعالٰی د ذکر ځایونو ته سعی کوی. دریمه وجه دا ده چه د

فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلٰوةُ فَانْتَشِرُوْا فِي الْأَرْضِ

نو هر کله چه پوره کړے	مونځ	نو خوره شئ	په	ملک کښ

حماریت (خرتوب) دَ بهیمیت نه دَ بچ کیدلو دَ ایمان په مقتضیٰ باندے عمل او کړے چه هغه دَ خیر دَ پاره جمع کیدل دی۔

اِذَا نُوْدِيَ لِلصَّلٰوةِ مراد دَ نداء نه نداءِ شرعی ده چه هغه اذان شرعی دے ځکه ابن حجر رحمه الله فرمائیلے دی چه کلمات شرعیه په حمل کیدیشی په معانی شرعیو باندے خو پورے چه څه قرینه اړوونکے دَ هغے نه نه وی (فتح الباری) او مراد دَ دے نه هغه اذان دے چه کله خطیب په منبر باندے کینی نو دَ هغه مخے ته ویلے کیږی او امام بخاری او نورو محدثینو ذکر کړیدی چه دَ نبی صلی الله علیه وسلم او ابوبکر او عمر رضی الله عنهما په زمانه کښ اول اذان دَ جمعے هغه وخت و ئیلے کیدو چه خطیب به په منبر باندے کیناستلو او حدیث دَ ابوداؤد کښ دی چه دا اذان به په دروازه دَ مسجد کښ دَ امام مخامخ و ئیلے کیدلو۔ هرکله چه دَ عثمان رضی الله عنه په زمانه کښ خلق ډیر شول نو بل اذان ئے زیات کړو دَ مسجد نه بهر دَ یو کور دَ پاسه چه هغے ته زوراء ویلے کیدلو او مؤرخینو لیکلے دی چه هشام بن عبد الملک دا اذانِ عثمانی بیا په مسجد کښ داخل کړو. نو په دے ایت کښ په اتفاق سره مراد دَ اذان نه اذان دَ خطبے دے اګرچه اذانِ عثمانی هم سنت دَ خلیفه دے هغے ته شرعاً بدعت نه ویلے کیږی۔

فائده :- سورة مائده ۵۸ کښ اذان دَ عامو مونځونو دَ پاره دے او په دے ایت کښ اذان دَ جُمعے دے په دلیل دَ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ سره۔ او په ایت دَ سورة مائده کښ الی الصلوٰة ذکر دے او په دے ایت کښ للصلوٰة ذکر دے وجه دَ فرق (والله اعلم) داده چه دَ هر اذان او اقامت په مینځ کښ فاصله وی کم از کم دَ دوه رکعتونو په مقدار او اذان دَ خطبے، دَ خطبے او مونځ سره متصل دے او خطبه هم په حکم دَ مونځ کښ ده نو لفظ دَ اِلیٰ چه په لرے والی دلالت کوی دَ اول سره ئے ذکر کړو او حرف دَ لام چه په نزدیکت دلالت کوی نو هغه ئے په دے ایت کښ راوړو۔

مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ مِنْ په معنیٰ دَ فی سره دے لیکن په حرف دَ مِنْ راوړلو

وَابْتَغُوْا مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ وَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَثِيْرًا

او اولټوئ د فضل دَ الله تعالیٰ نه او یادوئ الله تعالیٰ لره ډیر

کښې اشاره ده چه دَ ورځ دَ جُمعې په بعضِ حصّه کښې دا اذان دے چه هغه وخت دَ ظهر دے دَ ټولے ورځ دَ جمعې اذانونه مراد نه دی۔
فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ (سوال) سعی منړاه وهلو ته ویلے کیږی او په حدیث صحیح کښې خو منع شویده چه څوک دے مونځ کولو دَ پاره منړاے نه وهی بلکې عادت سره دِ رفتار کوی؟
جواب:۔ سعی نه مراد دلته کوشش کول او اهتمام کول او تیاری کول دی او حسن بصری نه روایت دے چه دے ته سعی بالقلب والنیة ویلے کیږی لکه چه په سورة اسراء ۱۹ او سوره نجم ۳۹ او سورة اللیل ۴ کښې راغلے دی۔ نو په فَاسْعَوْا کښې هغه اعمالو ته اشاره ده کوم چه دَ صلوٰة جمع دَ تیارئ دَ پاره په سنت سره ثابت دی لکه غسل کول، خوشبو لګول، مسواک کول، پاک جامے اغوستل، دَ وخته مسجد ته تلل، امام ته نژدے اودریدل وغیره۔
ذِكْرِ اللّٰهِ مراد دَ دے نه اول خطبه ده او بیا صلوٰة دے دَ دوی په مینځ کښې بل عمل نیشته دے۔ او ذِکر دَ الله تعالیٰ عام دے قرآن لوستل، حدیث ذکر کول، خلقو ته دَ دین دَ الله تعالیٰ احکام بیانول، مونځ کول دا ټول ذکرالله ته شامل دی او په ټولو کښې سنت طریقه شرط ده۔
وَذَرُوا الْبَيْعَ مراد دَ دے هر هغه شغل دے چه منع کوونکے دے خطبے ته دَ رسیدلو او اوریدلو ته لکه غفلت، ملازمت، زمینداری، تجارت ټول پکښې داخل دی او تخصیص دَ بیع ئے دَ دے وجے نه اوکړه چه دَ جمعے په ورځ اکثر خلق دَ بانډو نه راغلی وی هغه په سودا اخستلو کښې مشغولیږی نو خرڅوونکو ته اویلے شول چه تاسو خرڅول پریږدے نو چه بیع نه وی نو شراء هم نشی کیدلے۔ او دا دلیل دے چه دا اشغال کول روستو دَ دویم اذان نه حرام دی۔ او اشاره ده چه دَ مؤمن دَ پاره دین اهم دے دَ دنیا دَ کارونو نه۔
ذَرُوا دا هغه ځائے استعمالیږی چه دَ یو کار باعث موجود وی یا شورو وی لیکن پریخودلے شی یعنی که بیع شورو وی لیکن دَ اذان ثانی (رپاتے په بل مخ)

لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ⑩ وَاِذَا رَاَوْا تِجَارَةً

دَ دے دپاره چه کامیاب شئ - او هر کله چه دوی اُوینی تجارت

اَوْ لَهْوَا انْفَضُّوْٓا اِلَيْهَا وَتَرَكُوْكَ قَآئِمًا ط

یا لوبے نو روان شی دوی هغے ته او پریګدی تا لره اودرېږ

"اوریدلو سره به پریخودلے کیږی -

ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ دا اشاره ده مجموعه ما قبل ته سعی کول او بیع او نور مشاغل پریخودل او خطبه اوریدل او مونځ کول خَیْرٌ اسم تفضیل دے یا صفت مشبه ده -

ف۱ په دے کښ اشاره ده فرق ته په مینځ دَ احترام دَ ورځ دَ جمعے په دین زمونږ کښ او احترام دَ سبت په نیز دَ یهودیانو چه په هغوی بانـدے دَ سبت توله ورځ کښ کار دَ دُنیا حرام وؤ او زمونږ په دین کښ روستو دَ فراغ دَ مونځ دَ جُمعے نه امر دے په تجارت او طلب دَ روزئے سره -

فَاِذَا قُضِيَتِ مراد دَ قضا نه اداکول او پوره کول دَ مونځ دَ جُمعے دے او په دے کښ سنّتِ بعدیه داخل دی او قاسمی ویلے دی چه روستو دَ مونځ دَ جمعے نه څلور رکعته دَ ماسپخین رچه هغے ته احتیاطی مونځ ویلے کیږی) دا مذهبی تعصب او بے دلیله عمل دے -

فَانْتَشِرُوْا فِي الْاَرْضِ مراد په امر سره وجوب دَ انتشار نه دے بـلکه مخالفت کول دی دَ اهل کتابو نه په تعطیل دَ ورځ دَ خالی او اتوار کښ -

وَابْتَغُوْا مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ عام دے تجارت کول ، عیادت دَ بیمار ، ملاقات دَ رور مسلمان او طلب دَ علم ټولو ته شامل دے -

وَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَثِيْرًا مراد دا چه هیڅ وخت دَ الله تعالیٰ دَ یاداشت نه غفلت مه کوئے په ژبه او په زړه او په طاعت سره - او مونځ دَ ماز یګر ته هم اشاره ده -

او کثرةِ ذکر په توحید او اخلاص او موافق دَ سنت سره راځی -

قُلْ مَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ مِّنَ اللَّهْوِ وَمِنَ

ته اوايه هغه ثواب چه دَ الله تعالیٰ سره دے غوره دے دَ لوبو او دَ

التِّجَارَةِ ۭ وَاللّٰهُ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ⑪ ع

تجارت نه او الله تعالیٰ غوره دے دَ روزئ ورکوونکو نه ۔

ع۲/۱۲

ـ۱۱ په دے کښ زورنه ده په یو عمل سره چه دَ صحابه کرامو نه صادر شوے وو چه دَ خطبے دَ نبی صلی الله علیه وسلم په وخت کښ هغوی تجارتی سامان ته خواره شول صرف دولس کسان پاتے شول۔ دا خو په هغه وخت کښ گناه نه وو ځکه چه دَ دغه وخت نه مخکښ الله تعالیٰ دا سے حکم نه وو رالیږلے لیکن تنبیه شوه دَ ائینده وخت دَ پاره۔ نو په دے کښ اشاره ده چه اوریدل دَ خطبے دَ جمعے واجب دی۔ لَهْوًا عام دے هر عمل دنیوی ته شامل دے که مباح وی او که ناجائز وی۔

قَآئِمًا په دے کښ اشاره ده چه خطبه په ولاړے ہاندے ویل سنت دَ نبی صلی الله علیه وسلم دی۔

قُلْ مَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ اه یعنی هغه اجر او ثواب چه اوریدلو دَ خطبے او په جماعت سره مونځ ادا کولو کښ دَے یا هغه رزق چه په شرعی طریقے سره حاصل کړیشی وَاللّٰهُ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ اشاره ده چه روزی په اختیار دَ الله تعالیٰ کښ ده نو دَ هغه په طاعت سره به غوره روزی حاصلیږی۔ خَيْرِيَة نه مراد حلاله، او دَ برکت روزی ده په دُنیا او اخرت کښ۔

الحمد لله چه ختم شو تفسیر دَ سورة جمعه په توفیق دَ هغه سره۔

سُوْرَةُ الْمُنٰفِقُوْنَ ۶۳ مَدَنِيَّةٌ ۱۰۴	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰيَاتُهَا ۱۱ رُكُوْعَاتُهَا ۲

اِذَا جَآءَكَ الْمُنٰفِقُوْنَ قَالُوْا نَشْهَدُ اِنَّكَ

هر كله چه راشي تا ته منافقان دوى وائي گواهي كوو مونږ چه يقيناً ته

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة المنافقون

ربط دَ دے سورت دَ ماقبل سره په ډیر وجوهو دے اوله وجه دا چه په سورة جمعه کښې رد وو په دروغو دَ یهودیانو باندے نو په دے سورت کښې رد دے په دروغو دَ منافقانو باندے. دویمه وجه دا چه په هغه سورت کښې زجر دے په یهودیانو باندے او په دے سورت کښې زجر دے په منافقانو باندے۔ دریمه وجه په هغه سورت کښې ئے اوفرمائیل چه دَ لهو په وجے سره خطبه اوریدل مه پریږدئ نو په دے سورت کښې فرمائیلی دی چه مالونه او اولاد تاسو لره دَ ذکر دَ الله تعالیٰ نه مشغول نه کړی۔ څلورمه وجه دا چه په هغه سورت کښې صداقت دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم ذکر شو نو په دے سورت کښې رد دے په هغه چا باندے چه اقرار په رسالت دَ هغه باندے په دروغه سره کوی۔

دعوی دَ سورت۔ زجر دے په منافقانو باندے په منع کولو سره دَ انفاق نه خصوصاً او په نورو قبائحو سره عموماً۔

خلاصه دَ سورت۔ رد دے اولاً په شهادت دَ رسالت باندے په دروغه سره او بیا اتلس قبائح دَ هغوی ذکر کوی۔ او بیا منع کوی مؤمنانو لره دَ تشبیه دَ منافقانو نه په اشتغال دَ مال او اولاد سره او ترغیب دے انفاق کولو ته مخکښې دَ راتللو دَ مرګ نه۔

وقف لازم

لَرَسُوْلُ اللّٰهِۘ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اِنَّكَ لَرَسُوْلُهٗ ؕ

خامخا رسول د الله تعالیٰ یې او الله تعالیٰ پوهه دے چه یقیناً ته خامخا رسول د هغه یې

وَاللّٰهُ يَشْهَدُ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَكٰذِبُوْنَ ۚ ﴿۱﴾

او الله تعالیٰ گواهی کوی چه یقیناً منافقان خامخا دروغژن دی.

تفسیر :- په دے آیت کښې تعریف د منافق ته اشاره ده چه مخامخ شهادت د حق کوی او په باطن کښې منکر وی او د هغوی یو وصف ذکر کوی یعنی دوی دروغ وائی.

قَالُوْا نَشْهَدُ الخ شهادتِ شرعیه موافقت د زړه او د ژبے دے لیکن دوی چه دا کلمه ویله نو صرف مشابهت یې کوؤ د مؤمنانو سره چه هغوی اَشْهَدُ او نَشْهَدُ وائی یا مراد د دوی د شهادت نه قسم کول دی.

وَاللّٰهُ يَعْلَمُ الخ دا جمله معترضه ده د پاره د دفع د وهم، هغه دا دے چه روستو جمله کښې الله تعالیٰ د دوی تکذیب کړے دے نو آیا دا پیغمبر د الله تعالیٰ رسول نه دے؟ نو جواب او شو چه یقیناً دے! د الله تعالیٰ رسول دے.

وَاللّٰهُ يَشْهَدُ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَكٰذِبُوْنَ ۔ (سوال) قول د منافقانو چه اِنَّكَ لَرَسُوْلُ اللّٰهِ دا خو حق او رشتیا وؤ نو څه رنګ او ویلے شو چه دوی دروغژن دی؟ جواب په دیرو وجوهو سره دے! اوله وجه دا ده چه شهادت موافقت د ژبے او د زړه ته ویلے کیږی او د منافقانو زړه د ژبے سره موافق نه دے نو دا شهادت نه دے او حال دا چه دوی هغے ته نوم د شهادت وائی نو دا دروغ دی.

دویمه وجه دا ده چه دوی په خپل زعم کښې دروغژن دی یعنی د دوی په نیز اِنَّكَ لَرَسُوْلُ اللّٰهِ د واقع ته خلاف دے او خلاف د واقع نه دروغ وی. دریمه وجه دا ده چه دلته د کاذبون نه مراد کذب په دے جمله کښې مراد نه دے (اِنَّكَ لَرَسُوْلُ اللّٰهِ) بلکه د دے آیت په تفسیر کښې مفسرینو واقعه لیکلے ده چه دوی ویلے وؤ چه لَيُخْرِجَنَّ الْاَعَزُّ مِنْهَا الْاَذَلَّ (لکه چه روستو به راشی) لیکن هرکله چه دوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم مخے له راغلل نو دوی قسمونه کول چه مونږ دا وینا نه ده کړے نو انکار یې د خپل قول نه اوکړو نو دا یې کذب دے.

اِتَّخَذُوْٓا اَيْمَانَهُمْ جُنَّةً فَصَدُّوْا عَنْ

گرځولے دی دوی قسمونه خپل ډال نو منع شول (منع کوی) دَ

سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ اِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ②

لارے دَ الله تعالیٰ نه یقیناً دوی بد دی هغه عملونه چه دوی کوی۔

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا فَطُبِعَ عَلٰى

دا په دے وجے سره چه دوی ایمان راوړے دے بیائے کفر کړے دے نو مهر وهلے شویدے په

قُلُوْبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُوْنَ ③ وَاِذَا رَاَيْتَهُمْ

زړونو دَ دوی باندے نو دوی نه پوهیږی۔ او هر کله چه ته اُوینے دوی لره

۲ په دیکښ دَ دوی درے خصلتونه ذکر کوی دا سے په سورة مجادله ۱۶ کښ هم ذکر دی۔ اَيْمَانَهُمْ هر کله چه نشتهدے وئیل په نیت دَ قسم سره او دا قسم دے لکه چه دَ اکثر اهل علم مذهب دے دَ دے وجے نه په دے ایت کښ دَ هغے نه تعبیر اوکړے شو په اَيْمَان سره او صیغه دَ جمع دَ دے وجے نه ذکر کړه چه دَ دوی دا سے قسمونه کول ډیر وو. جُنَّةً لکه چه په ډال سره انسان ځان دَ گذار دَ تورے او نیزے وغیره نه بچ کوی نو دا رنگ دوی په دے قسمونو سره ځان دَ سزا دنیوی او دَ قتال او دَ مؤمنانو دَ زورنے نه بچ کوی.

فَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ، صد لازمی او متعدی دواړه صحیح دے په لازمی معنیٰ سره مقصد دا دے چه په دروغ قسمونو سره دوی دَ حق نه محروم شول ځکه چه اصرار کول په گناه باندے قصداً سبب دے دَ محروم کیدلو دَ حق لارے نه. او په متعدی معنیٰ سره مطلب دا دے چه په دروغ قسمونو سره خلقو لره دهوکه ورکوی نو لار دَ توحید او سنت نه ئے اړوی ځکه چه هغوی ور باندے دَ رشتینی گمان کوی۔

۳ په دے ایت کښ دَ دوی درے اوصاف ذکر کوی۔ ذٰلِكَ اشاره ده حکم دَ نفاق ته په دوی باندے په اول ایت کښ یا اشاره ده ټول ماقبل ته یعنی نفاق، دروغ ویل، قسم کول په دروغه، دَ دین نه خلق اړول، بد عملونه کول۔ بِاَنَّهُمْ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا مراد دَ دے نه یو ځل ایمان او

تُعۡجِبُكَ اَجۡسَامُهُمۡ ؕ وَاِنۡ يَّقُوۡلُوۡا تَسۡمَعۡ

نو په تعجب کښ به واچوی تا لره تنے دَ دوی او که چرے دوی وینا کوی نو غوږ به کیدے ته

لِقَوۡلِهِمۡ ؕ كَاَنَّهُمۡ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ ؕ يَحۡسَبُوۡنَ

وینا دَ دوی ته گویا چه دوی لرگی دی اړم کړے شوی دیوال ته گمان کوی دوی

كُلَّ صَيۡحَةٍ عَلَيۡهِمۡ ؕ هُمُ الۡعَدُوُّ فَاحۡذَرۡهُمۡ ؕ

دَ هرے چغے په ځان باندے هم دوی پوره دُشمنان وی نو ځان اوساتے دَ دوی نه

قٰتَلَهُمُ اللّٰهُ ۡ اَنّٰى يُؤۡفَكُوۡنَ ﴿۴﴾ وَاِذَا قِيۡلَ

تباه دِ کړی دوی لره الله تعالیٰ نو څه رنگ اړولے شی دوی (دَ حق نه) - او کوم وخت چه اوویلے شی

کفر نه دے بلکه کثرت او تکرار مراد دے یعنی هر وخت ایمان ښکاره کوی نو بیا دَ کفر کار کوی نو بیا بیا داسے کوی لکه په سورة نساء کښ - او دا سبب دے دَپاره دَ طبع او مُهر په زړونو باندے دَ دے وجے نه فَا ذکر کړه په فَطُبِعَ کښ او مُهر سبب دے دَپاره دَ جهل دَ دے وجے نه فَا ئے راوړه په فَهُمۡ لَا يَفۡقَهُوۡنَ کښ، هغه علم چه په هغے سره دَ حق او باطل تمیز کیږی هغه فقاهت دے او دَ دے نه منافق محروم دے۔

په دے ایت کښ پنځه اوصاف دَ منافقانو ذکر دی. تُعۡجِبُكَ اَجۡسَامُهُمۡ یعنی دَ دوی بدنونه غټ دی او صحت والا دی مقصد دا چه دوی هر وخت دَ بدن په اصلاح کښ او په قسم قسم خوراکو نو کښ مشغول دی خو رُوحانی ته توجه نه کوی. تَسۡمَعۡ لِقَوۡلِهِمۡ یعنی دوی دَ دنیا په خبرو کښ ډیر فصیح بلیغ دی او رډ ونکو کښ کشش پیدا کوی لکه چه سورة بقرة کښ ذکر دی او مراد دَ قولهم نه دَ دنیا دَ خیزونو په باره کښ خبرے کول دی ځکه چه يَعۡلَمُوۡنَ ظَاهِرًا مِّنَ الۡحَيٰوةِ الدُّنۡيَا (سورة روم).

كَاَنَّهُمۡ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ داسے لرگے چه دیوال ته اودرولے شوے وی نو هغه بے فائدے وی، دننه ډډ وی (یعنی مینځ ئے تش وی) کمزورے وی او یو طرف ته ئے لوند او بل طرف ته ئے اوچ وی. دَ آباد ئے او دَ فائدے دَ خیزونو جوړولو دَپاره صلاحیت نه لری او ظاهر کښ غټ (پاتے په بل مخ)

لَهُمْ تَعَالَوْا يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ

دوی ته راشئ چه .مخنه اوغواړی تاسو لره رسول الله (صلی الله علیه وسلم)

لَوَّوْا رُءُوْسَهُمْ وَرَاَيْتَهُمْ يَصُدُّوْنَ

واړوی دوی سرونه خپل او اُوینے به ته دوی لره چه مخ اړوی

وَهُمْ مُّسْتَكْبِرُوْنَ ۝۵ سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ

او دوی لويئ کوؤنکی دی - برابره خبره ده په دوی باندے

خائسته ښکاری نو د غسے حال دَ منافق دے یعنی دَ دهٔ بدن هم غټ وی ټول اهتمام دَ بدن په څربولو باندے کوی لکه چه حدیث (خیرالقرون) کښې راغلے دی یُحِبُّوْنَ السَّمَانَةَ (خوښوی په څورب ولے)۔

يَحْسَبُوْنَ كُلَّ صَيْحَةٍ عَلَيْهِمْ په دے کښې اشاره ده چه سرهٔ دَ غټ والی بدنونو اودَ چالاکے دَ ژبے نه ډیر بزدل دی ۔ صَيْحَةٌ ، اعلان عذاب، ایا تونه دَ تخویف دنیوی او اخروی، زواجر، دے ټولو ته صیحه شامل ده نو دوی گمان کوی چه دا ایا تونه زمونږ په باره کښې دی او ویریږی چه زمونږ رازونه څرګنده ښکاره نشی سورهٔ توبه ۶۴ کښې ۔ هُمُ الْعَدُوُّ الف لام دلالت کوی په کمال باندے یعنی په دوی کښې دَ دوستانے هیڅ جهت باقی نه دے پوره دُشمنان دَ توحید او دَ سنّت دی. قٰتَلَهُمُ اللّٰهُ دا جمله خبریه په خپله معنٰی سره ده یا په معنٰی دَ دُعا ده او مراد دَ دے نه لعنت او هلاکت دے ځکه چه قتال دَ الله تعالٰی سره مستلزم دے دَ هغه تباهئ او لعنت لره۔

اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ یعنی سرهٔ دَ وضاحت دَ دلیلونو دَ حق نه دوی په کوم دلیل سره دَ حق نه بل طرف ته اوړیدلے کیدیشی ۔

۵ په دے ایت کښې درے اوصاف دَ هغوی ذکر کوی او دلالت کوی په اصرار کولو دَ دوی په گناه باندے. وَاِذَا قِيْلَ صیغه دَ مجهول دَ پاره دَ تعمیم دَ قاتل او دَ وخت دَ پاره ده. تَعَالَوْا دا ماخوذ دے دَ علو نه په هغه ځائے کښې استعمالیږی چه ترقیٔ او اوچت والی طرف ته دعوت وی نو دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم مجلس ته راتلل او دَ هغه دُعا او استغفار غوښتل دا لویه مرتبه حاصلول دی ۔

أَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ أَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ ط

که ته بخنه غواړے دوی لره یا بخنه نه غواړے دوی لره

لَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ ط إِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِي

هیچرے بخنه نه کوی الله تعالی دوی ته یقینًا الله تعالی هدایت نه کوی

الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿۶﴾ هُمُ الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ

قوم ډیر نافرمانو ته - دوی داسے خلق دی چه دوی وائی

لَا تُنْفِقُوْا عَلٰى مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ

خرچ مه کوئ په هغه چا چه د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره دی

حَتّٰى يَنْفَضُّوْا ط وَلِلّٰهِ خَزَآئِنُ السَّمٰوٰتِ

تردے پورے چه خواره واره شی او خاص الله تعالی لره خزانے دی د اسمانونو

لَوَّوْا رُءُوْسَهُمْ اړول د مخ او د سر په نفرت او سرکشئ سره يَصُدُّوْنَ په دے کښ معنیٰ د اعراض ده سره د روانیدلو نه بل جانب ته په طریقه د انکار سره او دا صفت د منافقانو وخت په وخت نوے نوے پیدا کیږی د دے وجے نه په صیغه د مستقبل سره ئے ذکر کړو۔

وَهُمْ مُسْتَكْبِرُوْنَ دا صفت علت دے د پاره د ماقبل او استکبار کښ معنی د تحقیر او د سپک ګڼړلو ده یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راتلل او د هغه دعا غوښتل سپک ګڼړی او دا صریح کفر دے۔

۶ په دے کښ د دوی یو وصف ذکر کوی یعنی هر کله چه ذکر شوه چه دوی ښکاره کفر کوی او استغفار هم نه غواړی نو د داسے انسان د پاره دعا د نبی صلی الله علیه وسلم هم فائده نه ورکوی لکه چه سورة توبه ۸۰ کښ تیر شویدی۔

الْفٰسِقِيْنَ هغه کسان دی چه د فسق کولو نه توبه نه کوی او دوی اصرار او ضد کوی په دے وجه د هدایت او توفیق او مغفرت نه محروم دی۔

وَالْاَرْضِ وَلٰكِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَا يَفْقَهُوْنَ ⑦

او دَ زمکې او لیکن منافقان نه پوهیږي۔

ک په دے ایت کښ دَدوی دوه وصفونه ذکرکوی او په مینځ کښ ردکوی دَدوی په قول باندے۔

هُمُ الَّذِيْنَ بغیر دَعطف نه ئے ذکرکړیدے ځکه دا علت دَ فسق دَ دوی دے یعنی بخیله هم بخل کوی اونوروته په بخل سره امرکوی لکه په سورة نساء ۳۷ کښ دی او بخیله دَ نبی صلی الله علیه وسلم نه مخ اړوی اونور ترینه هم په یوحیله سره شړی۔

مَنْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ دا قول دَمنافقانو دے ځکه چه دوی به ظاهرًا هغه ته رسول وئیل یا دا تعبیر دَ الله تعالٰی دے دَدوی دَډیر تقبیح دَپاره یعنی دَرسول الله دَخواته خلق شړل خودیره لویه بداخلاقی ده۔

حَتّٰى يَنْفَضُّوْا یعنی دَلوږے دَ وجے نه به لاړشی او خواره به شی او دادُنیا پرستو او دَ جاهلانو طریقه ده چه هرڅیز صرف په ظاهری اسبابو پورے تړی او دَالله تعالٰی دَربوبیت او الوهیت نه غافل وی او دارنګ دَدے وسنو جاهلانو هم دا عقیده ده چه دے اهل حق خلقو دَخوراک او دَخپلو دنیوی مقادالتو دَپاره حق قبول کړے دے اوس هم په مشرکانو او مبتدعینو او جاهلانو کښ دا عقیدے موجود دی۔

وَلِلّٰهِ خَزَآئِنُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ دارد دے دَ دوی په قول او په دغه عقیده باطله باندے۔مراد دادے چه دَ روزئ او دَ هغے دَ اسبابو (چه بارانونه او اونے بوټی وغیره دی) ټول په اختیار دَ الله تعالٰی کښ دی او هغه بے انتها خزانے دی چه نه کمیږی او الله تعالٰی دَ هغے دَ خرچ کولو نه هم ویره نه کوی لکه سورة اسراء ۱۰۰ او سورة حجر ۲۱ کښ ذکرشویدی۔

وَلٰكِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَا يَفْقَهُوْنَ فقاهت دادے چه دَ ظاهری الفاظو او معانی نه باطنی احکام او اسرار او حکمتونه معلوم ولے شی نو چه دَ رزق دَپاره صرف ظاهری اسبابو ته ګوری او دَ مسبب حقیقی نه غافل وی نو په داسے شخص کښ فقاهت نیشته۔

يَقُولُونَ لَئِن رَّجَعْنَآ إِلَى الْمَدِينَةِ
دوی وائی که چرے واپس شو مونږ مدینے ته

لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ ۚ وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ
ضرور اوبه باسی عزتمند دَ هغے نه ذلیل لره اوخاص الله تعالیٰ لره صفت دَ عزت دے

وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَٰكِنَّ الْمُنَافِقِينَ
اورسول لره (صفت دَ عزت دے) او مؤمنانو لره (صفت دَ عزت دے) او لیکن منافقان

لَا يَعْلَمُونَ ﴿٨﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُلْهِكُمْ
نه پوهیږی . اے ایمان والو غافل دِ نکړی تاسو لره

ع ۱/۸

ف۸ په دے ایت کښې دوه اوصاف دَ منافقانو دی. تیر شوی ایت کښې معلومه شوه چه په مال سره بخل کوی نو په دے ایت کښې ذکر کوی چه مال سبب دَ عزت گنړی. یَقُولُونَ دلته ئے لفظ دَ هُم نه دے ویلے اشاره ده چه تیر شوے قول دوی هر وخت کوؤ او دا قول ئے یوځل کړے دے.

لَئِن رَّجَعْنَا دا واقعه دَ غزوه بنی مصطلق نه په واپسے کښې ده او هغے ته مریسیع هم ویلے کیږی. لَيُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ اه دَ اعزّ نه مراد عبدالله بن اُبَیُّ منافق وؤ مالدار وؤ او مال ئے سبب دَ عزت گنړلو او دا اذلّ نه دوی رسول الله صلی الله علیه وسلم مراد کړے وؤ او دا صریح کفر دے.

وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ اه دا تردید دے دَ عقیدے دَ دوی او عزت خو په اختیار دَ الله تعالیٰ کښې دے او عزت حاصلیږی په ایمان او تقویٰ سره او دا صفتونه دَ رسول او دَ مؤمنانو دی.

سوال:۔ په سورة نساء ۱۳۹ او فاطر ۱۰ کښې تخصیص دَ عزت په الله تعالیٰ پورے کړے شوے دے او په دے ایت کښې ورسره رسول او مؤمنان هم ذکر شو؟

جواب:۔ په هغه دواړه ایاتونو کښې مراد دَ اختیار دَ عزت دے او هغه خاص دے په الله تعالیٰ پورے او په دے ایت کښې مراد توصیف دے په عزت سره یعنی موصوف په عزت سره الله تعالیٰ (پاتے په بل مخ)

أَمْوَالُكُمْ وَلَآ أَوْلَادُكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ ۚ وَمَنْ

مالونه ستاسو او نه اولاد ستاسو دَ ذکر دَ الله تعالیٰ نه او چا چه

يَّفْعَلْ ذٰلِكَ فَأُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ۝٩

اوکړو دا کار نو دغه کسان دوی پوره تاوان والا دی.

اورسول او مؤمنان دی منافقانو او کافرانو لره په نیز دَ الله تعالیٰ هیڅ عزت نیشته دے. بیا دَ درے واړو سره حرف دَ لام ئے جدا جدا ذکر کړیدے اشاره ده چه دَ دوی په عزت کښې دَ یو بل سره ډیر فرق دے.

وَلٰكِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ فقاهت خاص دے دَ علم نه نو دا ترقی ده په قباحت دَ دوی کښې یعنی فقاهت خو څه چه علم هم په دوی کښې نیشته او علم استعمالیږی په امور ظاهری او باطنی دواړو کښې او فقه صرف امور باطنه کښې استعمالیږی نو نظر کول خزانو دَ الله تعالیٰ ته دا فقاهت دے او عزت او ذلت خو ظاهری خیزونه دی نو په دے کښې علم استعمال کړیدے.

سوهرکله چه دَ منافقانو قبائح ذکر کړے شول نو اوس مؤمنانو لره تحذیر ورکوی دَ اوصافو دَ منافقانو نه. او هرکله چه سبب دَ دغه قباحتونو اشتغال او فخر کول دی په مال او په اولاد سره نو خصوصًا دَ هغے دَ اشتغال نه نهی کوی.

عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ مراد دَ ذکر نه طاعت دے توحید، اتباع سنت، پابندی دَ مونځ او قراءة دَ قران ټول په دے کښې داخل دی.

وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ دا اشاره ده ترک دَ ذکر الله ته په سبب دَ مال او اولاد سره.

او دَ دینه معلومه شوه چه قباحت دَ مالونو دَ دُنیا فی نفسها نیشته بلکه په دے سبب ئے قباحت دے چه دَ دین دَ الله تعالیٰ نه مانع اوګرځی.

الْخٰسِرُوْنَ وجه دَ خسران دا ده چه دوی باقی لره تباه کړو په فانی خیز سره او عمر (رأس المال) ئے تباه شو.

وَأَنفِقُوا مِن مَّا رَزَقْنَاكُم مِّن قَبْلِ

او خرچ کوئ دَ هغه نه چه موږ درکړے دی تاسو ته مخکښ

أَن يَأْتِيَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ فَيَقُولَ رَبِّ

دَ دے نه چه راشي يو تن ستاسو ته مرګ نو وائي به اے ربه زما

لَوْلَا أَخَّرْتَنِي إِلَىٰ أَجَلٍ قَرِيبٍ فَأَصَّدَّقَ

ولے نه روستو کوے ته ما لره تر يو نيټے نزدے پورے نو زه به صدقه اوکړم

وَأَكُن مِّنَ الصَّالِحِينَ ⑩ وَلَن يُؤَخِّرَ اللَّهُ

او شم به زهٔ دَ نيکانو نه ۔ او هيچرے نه روستو کوی الله تعالیٰ

سنا دا ترغيب دے انفاق ته په وخت دَ قبوليت دَ هغے کښ (چه قبل الموت دَے) او انفاق دَ ذکر الله يو خاص فرد دے په مقابل دَ منافقينو کښ چه هغوی دَ انفاق نه منع کوله۔ او مراد دَ انفقوا نه عام دے زکوٰة، صدقات واجبه، انفاق فی سبيل الله ټولو ته شامل دے۔

مِن قَبْلِ أَن يَأْتِيَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ دَ مرګ دَ راتللو وخت نه دے معلوم نو مراد دَ دے نه تعجيل کول دی په انفاق کښ چه کله ئې وس برشي نو روستو والے دِې نه کوی۔ فَيَقُولَ رَبِّ دا قول وی په وخت دَ ځنکدن کښ په طريقه دَ تمنّا سره۔ فَأَصَّدَّقَ دا منصوب دے په جواب دَ تمنّا کښ أَن پټ دے او دا صيغه دلالت کوی په مبالغه دَ تصدق باندے۔

وَأَكُن مِّنَ الصَّالِحِينَ مراد دَ صالحين نه نور دَ اصلاح کارونه دی ماسيوا دَ تصدّق نه۔ ايمان راوړل، اتباع دَ سنت کول توبه کول دَ ګناهونو نه او دا سے مضمون په سورة ابراهيم ۴۴ او سورة مؤمنون ۹۹ کښ هم تير شويدے۔ وَأَكُن په جزم سره دے نو دا عطف دے په محل دَ فَأَصَّدَّقَ باندے ځکه چه تقدير دَ عبارت دا دے إِنْ أَخَّرْتَنِي أَصَّدَّقْ وَأَكُن۔ يا په توهّم دَ شرط باندے يعنی إِنْ أَصَّدَّقْ فَأَكُن مِنَ الصَّالِحِين۔ او الوسی ويلے دی چه محل او متوهم يو څيز دے ليکن دَ توهّم اطلاق په قرآن کښ تعبير قبيح دے۔

نَفۡسًا اِذَا جَآءَ اَجَلُهَا ؕ وَاللّٰهُ خَبِیۡرٌۢ بِمَا

هیڅ نفس کوم وخت چه راشی نیټه دَ هغه او الله تعالیٰ خبردار دے په هغه

تَعۡمَلُوۡنَ ﴿۱۱﴾ ع

عملونو چه تاسو کوئ .

سلا دا معطوف دے په مقدر باندے. دَ تیر شوی ایت په اخر کښ لَنۡ یُّؤَخِّرَهُ وو یعنی دغه تمنا کوونکے نه روستو کوی او دلته تعمیم کوی په نَفۡسًا نکره ذکر کولو سره په مقام دَ نفی کښ. وَاللّٰهُ خَبِیۡرٌۢ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ خبیر عالم دے په باطن او ظاهر دواړو باندے نو مَا تَعۡمَلُوۡنَ شامل دے پټ او ښکاره عملونه او نیتونو دَ زړه ته هم. او مفسر الوسی ویلے دی چه عمر رضی الله عنه دَ نبی صلی الله علیه وسلم عمر دَ درے شپیته کلونو دَ دے ایت نه استنباط کړیدے پداسے طریقه چه دا ایت انتهاءَ دَ درے شپیتم سورة ده او په دے کښ نفسًا نبی صلی الله علیه وسلم ته هم شامل دے چه دَ هغه نیټه چه راغله نو هم روستو اے نشوکیدلے او ورپسے تغابن ذکر شو او غبن امت ته په سبب دَ وفات دَ نبی صلی الله علیه وسلم سره اورسیدلو. ګویا الله تعالیٰ دنیا کښ مونږ دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ زیارت نه محروم یو لیکن دَ هغه سره زیارت به په قیامت کښ په حوض کوثر باندے او په جنت کښ نصیب کړے". اللّٰهم امین ثم امین.

الحمد لله ختم شو تفسیر دَ سورة المنافقون.

رکوعاتها ۲	آیاتها ۱۸	بسم الله الرحمن الرحیم	سورة التغابن ۶۴ مدنیة ۱۰۸

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۚ

پاکی وائي الله تعالی لره هغه څیزونه چه په اسمانونو کښ دی او هغه څیزونه چه په زمکه کښ دی

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سورة التغابن

ربط دَ دے سورت دَ مخکښ سورت سره په ډیر وجوهو سره دے اوله وجه داده چه په تیر شوی سورتونو کښ رد وؤ په یهودیانو او منافقینو باندے نو په دے سورت کښ رد دے په مشرکینو او منکرینو دَ بعث بعد الموت باندے.
دویمه وجه داده چه په مخکښ سورت کښ شهادت دَ منافقانو په رسالت باندے ذکر کړو چه دا دروغ دے نو په دے سورت کښ اشاره کوی چه دوی په شان دَ ښکاره کافرانو دی چه انکار دَ رسول نه په سبب دَ بشریت سره کوی.
دریمه وجه داده چه په مخکښ سورت کښ انکار دَ رسول نه ذکر شو په طریقه دَ منافقت سره نو په دے سورت کښ ترغیب دے ایمان بالرسول ته۔
څلورمه وجه داده چه په هغه سورت کښ اوفرمائیل لَا تُلْهِكُمْ اَمْوَالُكُمْ وَلَا اَوْلَادُكُمْ الخ نو په دے سورت کښ دَ هغے علت ذکر کوی چه اِنَّ مِنْ اَزْوَاجِكُمْ وَاَوْلَادِكُمْ عَدُوًّا لَّكُمْ۔ او اِنَّمَا اَمْوَالُكُمْ وَاَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ۔
دعویٰ دَ دے سورت اثبات دے دَ څلورو مقاصدو عالیو (توحید، رسالت، قرآن، بعث بعد الموت) سره دَ تزهید فی الدنیا او ترغیب الی الانفاق ته او دَ دے وجے نه په دے کښ نهه اوامر ذکر دی او اسماء حسنیٰ ئے څوارلس ذکر کړیدی دَ پاره دَ اثبات دَ توحید۔
خلاصه دَ سورت داده۔ په یکښ اول دعوی دَ توحید ده په تسبیح سره او په هغے باندے څلور عقلی دلیلونه ذکر کړے دی بیا تخویف دنیوی او بیا سبب ته دَ عذاب ذکر دی اول انکار دَ رسول نه او دویم انکار دَ بعث بعد الموت نه او دَ هغے اثبات کوی په حلف سره۔ بیا امر دے (پاکے په بل مخ)

لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ ز وَهُوَ عَلٰى كُلِّ

خاص هغه لره بادشاهي ده او خاص هغه لره ستائنه ده او هغه په هر

شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿١﴾ هُوَ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ فَمِنْكُمْ

څیز باندے قدرت لرونکے دے. خاص الله تعالیٰ هغه ذات دے چه پیدا ئے کړے تاسو نو بعض ستاسو نه

كَافِرٌ وَّمِنْكُمْ مُّؤْمِنٌ ط وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

کافر دی او بعض ستاسو نه مؤمن دی او الله تعالیٰ ستاسو عملونو لره

بَصِيْرٌ ﴿٢﴾ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ

لیدونکے دے. پیدا کړے دی اسمانونه او زمکه د حق ښکاره کولو د پاره

په ایمان سره په درے مقاصدو باندے سرهٔ د بشارت او تخویف نه بیا ترغیب دے په ایمان بالقدر د پاره د تخفیف د مصیبتونو او امر دے په طاعت د الله او د رسول. او ذکر د توحید دے بیا تحذیر دے د محبت د دنیا نه او ترغیب دے توحید او قرآن او انفاق ته سرهٔ د بشارت نه او د امر د انفاق سره پنځه اسماء حسنیٰ ذکر دی د پاره د ترغیب.

تفسیر ۱ په دیکښ توحید ذکر دے په طریقه د تسبیح سره او د هغے د پاره ئے درے صفات د الله تعالیٰ ذکر کړے دی.

اول لَهُ الْمُلْكُ پوره او ټوله بادشاهي د دُنیا او د آخرت خاص الله تعالیٰ لره ده نو دا دلیل دے چه په الله تعالیٰ کښ هیڅ صفت د نقصان نیشته.

دویم وَلَهُ الْحَمْدُ نسبت د ټولو نعمتونو لویو او وړو ښکاره او پټ خاص الله تعالیٰ ته دے هغه د هغے پیدا کوونکے او ورکوونکے دے او استحقاق د حمد کامل مستلزم دے پاکوالی لره د هر عیب نه.

او دریم وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ نو هیڅ عجز او مجبوری پکښ نیشته نو تسبیح د هغه حق دے.

۲ دا هم دلیل د دعوے د توحید دے او دیته دلیل نفسی عقلی ویلے شی. فَمِنْكُمْ كَافِرٌ الخ په دیکښ دوه قولونه دی اول دا چه د دے نه مراد کفر او ایمان تقدیری دے یعنی الله تعالیٰ په تقدیر کښ څوک کافر مقرر کړیدے

وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ ۚ وَإِلَيْهِ

او شکلونه ئې درکړې دی تاسو ته نو خائسته کړے دی شکلونه ستاسو او خاص هغه ته

الْمَصِيرُ ﴿٣﴾ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ

ورګرځیدل دی. عالم دے په هغه څه چه په اسمانونو کښې دی او زمکه کښې دی

وَيَعْلَمُ مَا تُسِرُّونَ وَمَا تُعْلِنُونَ ۚ وَاللّٰهُ

او عالم دے په هغه څه چه پټوئے تاسو او په هغه څه چه ښکاره کوئے تاسو او الله تعالیٰ

عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿٤﴾ أَلَمْ يَأْتِكُمْ

عالم دے په هغه خبرو چه په سینو دَ خلقو کښې دی. ایا نه دے راغلے تاسو ته

او څوک مؤمن. نو خالق او تقدیر کوونکے الله تعالیٰ دے او دَ کفر او ایمان کسب کوونکے بنده دے. دویم قول دا چه په دے کښې کفر او ایمان کسب کوونکے بنده دے. دریم قول دا چه په دے کښې کفر او ایمان کسبی مراد دے نو په دے کښې معنیٰ دَ زجر ده یعنی الله تعالیٰ تاسو پیدا کړی ئې نو پکار دا وه چه ټولو ایمان راوړے وے لیکن تاسو تقسیم شوئے دوه ډلو ته او هر کله چه سبب دَ زجر کفر دے دَ دے وجے نه کافرئے مخکښې ذکر کړیدے.

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ یعنی دَ کفر او دَ ایمان اعمال ستاسو نه چه صادر یږی (روستو دَ خلق دَ الله تعالیٰ نه) نو الله تعالیٰ هغے لره وینی.

۳ دا بل دلیل عقلی دے آفاقی او انفسی نه مرکب دے. بِالْحَقِّ په معنیٰ دَ حکمت سره یا په معنیٰ دَ یقین سره دے یا با په معنیٰ دَ لام سره ده یعنی دَ پاره دَ اظهار دَ حق او هغه توحید دَ الله تعالیٰ دے. فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ حُسن په اعتبار دَ باطن او دَ ظاهر دواړو سره وی او جمال صرف په اعتبار دَ ظاهر سره وی نو په انسان کښې اوصاف باطنیه معنویه او تناسب دَ اندامونو او سیدها قد و قامت دا سے دے چه په نور مخلوق کښې نیشته او دا سے په سورة مؤمن ۶۴ کښې هم تیر شویدی. وَإِلَيْهِ الْمَصِيرُ کښې اشاره ده چه په خپل حُسن دے هیڅوک غرور او نکړی بلکه اخرت دِ را یاد کړی.

۴ دا بل دلیل دے روستو دَ صفاتو دَ تصرف نه صفت (پاتے په بل مخ)

نَبَؤُا الَّذِينَ كَفَرُوا مِن قَبْلُ فَذَاقُوا

خبر دَ هغه کسانو چه کفر ئې کړے وو مخکښ ستاسو نه نو اوڅکله هغوی

وَبَالَ أَمْرِهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ⑤

سزا دَ کار خپل او دوی لره عذاب درد ناک دے.

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُ كَانَت تَّأْتِيهِمْ رُسُلُهُم بِالْبَيِّنَاتِ

دا په دے وجه چه یقیناً راتلل دوی ته رسولان دَ دوی په ښکاره احکامو سره

فَقَالُوا أَبَشَرٌ يَهْدُونَنَا فَكَفَرُوا وَتَوَلَّوا

نو دوی اُوئیل آیا یو بشر مونږ ته لار ښائي نو انکار اوکړو دوی او مخ ئې واړه وو

وَّاسْتَغْنَى اللَّهُ وَاللَّهُ غَنِيٌّ حَمِيدٌ ⑥

او ښکاره کړه الله تعالیٰ خپله بے پرواهي. او الله تعالیٰ بے حاجته ستائیلے شوے ذات دے.

دَ علم ذکر کوی او دَ عِلم درے کلیات ئې ذکر کړل چه هر یو کلی په بے شماره جزئیاتو باندے مشتمل دے اول ما فی السموات اه دویم ما تسرون اه دریم ذات الصدور.

ف۵ دا تخویف دنیوی او اخروی دے نبأ لوئے خبر او غټے واقعے ته ویلے کیږی.

وَبَالَ بوج او سختئ ته ویلے کیږی أَمْرِهِمْ مراد دَ دے نه کفر او تکذیب دَ دوی دے دا ئې مبهم ذکر کړو دَ پاره دَ هیبت شان دَ هغے. وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ دا تخویف اخروی دے.

ف۶ دا سبب دَ عذاب ذکر کوی چه انکار دے دَ رسالت دَ رسولانو نه په بهانه دَ بشریت سره. او دا مرض دَ ټولو منکرینو دے لکه په سورة اسراء ۹۴ کښ ذکر دے. يَهْدُونَنَا بَشَرٌ اسم جنس مفرد او جمع دواړه استعمالیږی دلته ئې هم ضمیر دَ جمع ورته راجع کړیدے. فَكَفَرُوا دا تکذیب دَ رسول دَ بشریت دَ وجے نه کفر دے یا كَفَرُوا معنیٰ دا چه انکار ئې اوکړو دَ توحید او رسالت نه. وَتَوَلَّوا اعراض ئې اوکړو دَ تدبر کولو نه په بینا تو کښ. وَّاسْتَغْنَى اللَّهُ....

سوال :- دا عطف دے په تَوَلَّوا باندے یعنی تولّی دَ کافرانو او استغنا دَ الله تعالیٰ په یو وخت کښ ده او حال دا چه غِنا خو دَ الله تعالیٰ صفتِ قدیمه دے ؟

زَعَمَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنْ لَّنْ يُّبْعَثُوْا ؕ

گمان کوی کافران چه دوی به هیڅ رے دوباره پیدا نشی

قُلْ بَلٰى وَرَبِّيْ لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ

ته اوایه هاں قسم دے په رب زما خامخا به دوباره پیدا کړے شئ بیا به خامخا خبر درکړیشی تاسو ته

بِمَا عَمِلْتُمْ ؕ وَذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ۝۷

دَ هغه عملونو چه تاسو کړیدی او دا کار په الله تعالیٰ باندے اسان دے .

فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَالنُّوْرِ الَّذِيْٓ اَنْزَلْنَا ؕ

نو ایمان راوړئ په الله تعالیٰ او په رسول دَ هغه باندے او په هغه رڼا باندے چه نازل کړیده مونږ

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ۝۸ يَوْمَ يَجْمَعُكُمْ

او الله تعالیٰ ستاسو عملونو باندے خبردار دے . په هغه ورځ چه جمع به کړی تاسو

جواب ا:- دا په معنیٰ دَ اظهار دَ استغناء دے په هلاکولو دَ دوی سره یا دا جمله حالیه ده یعنی حال دا چه الله تعالیٰ خود مخکښے نه غنی ذات دے دَ هغه دَ مخلوق ایمان ته هیڅ حاجت نیشته .

ے په دیکښ زجر دے په انکار دَ بعث بعد الموت سره او دا هم سبب دَ عذاب دے او داخل دے په فکفروا وتولوا کښ او دا څلورم ایت دے دَ قرآن کریم نه چه په هغے کښ الله تعالیٰ په خپل ربوبیت باندے قسم کوی دَ پاره دَ اثبات دَ بعث اول په سورة یونس ۵۳ دویم سورة مریم ۶۸ دریم سورة سبا ۳ او څلورم دا ایت شو . زعم اکثر استعمالیږی په باطل او دروغو کښ او هر کله چه دَ دے فاعل یقیناً دغه قول کړے وی لکه په دے ایت کښ نو دا استعمال صحیح دے اګرچه مزعوم باطل دے او هر کله چه دَ دے فاعل باندے یقین نه وی او بے دلیله نسبت کوی بل چا ته نو په هغه وخت دا کلمه استعمالول منع دی لکه چه حدیث دَ ابوداؤد کښ راغلے دی بِئْسَ مَطِيَّةُ الرَّجُلِ زَعَمُوا .او دَ شریح نه نقل شویدی چه دَ هر څیز کنیت وی او کنیت دَ دروغو زعموا لفظ دے .

ے هر کله چه مخکښ اَیاتونو کښ توحید او رسالت رپاتے په بل مخ)

لِيَوْمِ الْجَمْعِ ذٰلِكَ يَوْمُ التَّغَابُنِ ؕ وَمَنْ

په ورځ دَ جمع کولو کښې دغه ورځ دَ غبن ښکاره کیدلو ده او چاچه

يُؤْمِنْ بِاللّٰهِ وَيَعْمَلْ صَالِحًا يُّكَفِّرْ عَنْهُ

ایمان راوړو په الله تعالیٰ باندے او عمل ئے نیک اوکړو لرے به کړی الله تعالیٰ دَ دهٔ نه

سَيِّاٰتِهٖ وَيُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ

بدئ دَ دهٔ او داخل به کړی دهٔ لره جنتونو ته چه بهیږی لاندے دَ

تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَاۤ اَبَدًا ؕ ذٰلِكَ

هغے نه ویالے همیشه به وی دوی په هغے کښې همیشه - دا

الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ⑨ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا

کامیابی لویه ده - او هغه کسان چه کفر ئے کړیدے او دروغژن گڼړی

او بعث بعد الموت دَ قران کریم په اخبارا تو سره ثابت شو نو اوس په هغے باندے تفریح کوی په دعوت او ایجاب دَ ایمان سره په دے ټولو باندے.

فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ یعنی ایمان راوړئے په الوهیت دَ الله تعالیٰ باندے وَرَسُوْلِهٖ مراد دَ دے نه جنس رسول دے نو ټولو رسولانو باندے عمومًا او خصوصًا دَ اخری رسول په رسالت باندے ایمان راوړل مراد دی. وَالنُّوْرِ الَّذِیْۤ اه مراد دَ دے نه ټوله وحی او خصوصًا قران دے ځکه چه دَ دے په ذریعه دَ تیاروڅ گمراهئ دَ جهل نه خلاصے حاصلیږی.

سوال:- چه رسوله ئے اوئیل نو نُوْرِ په ئے هم وئیلے وؤ؟

جواب:- که نُوْرِهٖ وئیلے وے نو دَ الله تعالیٰ صفت ترینه مراد وؤ لکه چه سورة نور کښې تیر شوے دے او مقصود خو دلته په قران باندے ایمان راوړل دی.

⑨ په دے کښې تذکره دَ ورځ دَ قیامت ده (او دَ دے وجه نه په مخکښې ایت کښې ئے ذکر اونکړو) او بیا بشارت اخرویه ذکر کوی. یَوْمَ منصوب دے په اُذْکُر پټ سره. لِيَوْمِ الْجَمْعِ دا نوم دے دَ نومونو دَ قیامت نه ځکه په هغے کښې به اولین او اخرین او تمام انسانان پیریان او اسمانونو او زمکو والا او انبیاء

بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ

ایاتو ته زموږ دغه کسان اُور والا دی همیشه به وی دوی په هغې کښې

اوامتونه دَ هغوی او ظالمان او مظلومان او ټول اعمال جمع کیدلیشی لکه چه دا سے صفت په سورة هود ۱۰۳ او سورة الواقعه ۵۰ کښې ذکر دے۔

ذٰلِكَ يَوْمُ التَّغَابُنِ ماخوذ دے دَ غَبن نه په لغت کښې نقصان دَ قیمت ته ویلے کیږی کله چه یو انسان یو څیز لره په کم قیمت سره خرڅ کړی نو ویلے کیږی چه فلانی غبن اوکړو او دا رنګ چه څوک په امانت کښې خیانت اوکړی نو هغې ته هم غبن ویلے شی۔

سوال:- دلته خو څه معامله نیشته چه په هغې باندے اطلاق دَ غبن اوکړے شی؟

اول جواب دا دے چه دا په طریقه دَ استعارے (مجاز) سره ده ځکه چه جنت والو دُنیا خرڅه کړه او جنت ئې حاصل کړو دا خوره بچه ده او اور والو خپل مالونه او خپل عمر خرڅ کړو او په هغې ئې اور واخستو او دا غبن او لوئے نقصان دے دَ نورو ایاتونو کښې دے ته خسران هم ویلے کیږی نو دا معامله دَ اور والوئے مشابه کړه یو دا سے مبادلے سره چه په هغې کښې تاوان او غبن حاصل شی۔

دویم جواب دا دے چه هر مکلف سره دَ هغه عمر او بدن او مال امانت دَ الله تعالیٰ دے او دے مامور دے چه دا په داسے طریقه خرچ کړی چه په هغې سره جنت حاصل شی او دَ اُور نه بالکل نجات او مومی لیکن اکثر مکلفینو په دے امانت کښې غبن کړے دے په دنیا کښې دے په هغه غبن باندے پوهه نه لری لیکن په اخرت کښې به دَ دهٔ غبن ښکاره شی۔

سوال:- التَّغَابُنِ باب تفاعل دے نو په دے معنیٰ سره دَ صدور دَ جانبینو نه څه رنګ جوړیږی؟

جواب:- چه دنیا کښې هر شخص خپل غبن دَ بل نه پټ ساتی "كُلُّ حِزْبٍ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُوْنَ" او په اخرت کښې به یو بل ته نقصانات خپل او پردی هم ښکاره شی۔

نو یوم التغابن نوم دے دَ نوموټو دَ قیامت نه په اعتبار دَ بعض اشخاصو سره (چه هغوی ګنهګاران دی) لکه چه یَوْمُ الْحَسْرَةِ نوم هم په اعتبار دَ بعضو سره دے۔

وَمَنْ يُّؤْمِنْ ۱۱ه دا دلیل دے چه په ایمان او عمل صالح سره انسان دَ غبن نه بچ کیږی دَ دے وجے نه دے ته فوز عظیم اویلے شو۔

وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿۱۰﴾ مَآ اَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ

او بد دے ځائے د ورګرځیدلو. نه رسي هيڅ مصيبت

اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ وَمَنْ يُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ يَهْدِ

مګر په حکم (تقدیر) د الله تعالیٰ سره او چاچه ایمان راوړلو په (تقدیر) د الله تعالیٰ کلک کړی الله تعالیٰ

قَلْبَهٗ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۱۱﴾

زړه د هغه او الله تعالیٰ په هر څیز باندے پوره علم لرونکے دے.

سنا په دے کښ ذکر د غبن والو دے او د هغے سبب ئے ذکر کړے دے او تخویف اخروی دے. (سوال) څه حکمت دے چه وَمَنْ يُّؤْمِنْ اه ئے په فعل مضارع سره ذکر کړو او کفر وائے په صیغه د ماضی سره ذکر کړو؟ (جواب) وجه دا ده چه اول ئے یوم التغابن ذکر کړو نو د هغے نه د نجات د پاره ایمان او عمل صالح دے نو اهل التغابن خو په اصل کښ کافران دی نو تقدیر د عبارت دا دے
وَمَنْ يُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ مِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا اه وَمَنْ لَّمْ يُؤْمِنْ مِنْهُمْ اُولٰٓئِكَ اَصْحَابُ النَّارِ.
سلا دا متعلق دے د فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ اه سره په طریقه د جوابِ سوال سره سوال دا دے چه په توحید او اتباع د قرآن او سنت کښ ډیر مصیبتونه راځي نو د هغے علاج څه دے؟ حاصل جواب دا دے چه هر مصیبت مقرر وی د طرف د الله تعالیٰ نه نو هر کله چه په چا باندے مصیبت راشی نو عقیده دِ او لری چه دا د الله تعالیٰ په تقدیر سره دے نو په دے سره به د هغه زړه مضبوط شی او په هدایت باندے به کلک شی. مَآ اَصَابَ اه دا سے په سورة حدید ۲۲ او سورة توبه ۵۱ کښ تیر شویدی اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ مراد دے نه تقدیر او اراده د الله تعالیٰ ده. وَمَنْ يُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ مراد د ایمان بالله نه ایمان دے په تقدیر د هغه باندے يَهْدِ قَلْبَهٗ قرطبی د ابو عثمان الحیری نه نقل کړیدی چه دا ایمان صحیح شو نو الله تعالیٰ ورله د اتباع سُنّت توفیق ورکوی یا مراد د دے نه کلک والے د زړه د هغه دے په ایمان باندے په وخت د مصیبتونو کښ.
او خطیب شربینی ویلی دی چه هر کله زړه په هدایت باندے پوخ شی نو زائل شی د هغه نه هر اعتقاد باطل، کفر او بدعت او صفاتِ خبیثه د هغه.

وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ ۚ فَإِن

او تابعداری کوئے دَ الله تعالیٰ او تابعداری کوئے دَ رسول نو که چرے

تَوَلَّيْتُمْ فَإِنَّمَا عَلَىٰ رَسُولِنَا الْبَلَاغُ

مخ واړوؤ تاسو نو یقینًا زمونږ په رسول باندے دَ رسول

الْمُبِينُ ⑫ اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ وَعَلَى اللَّهِ

ښکاره دی . الله تعالیٰ نیشته حقدار دَ بندګے سیوا دَ هغه نه او خاص په الله تعالیٰ باندے دے

فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ⑬ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ

ځان اوسپاری مؤمنان . اے ایمان

آمَنُوا إِنَّ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ وَأَوْلَادِكُمْ

والو یقینًا بعضِ دَ بیبیانو ستاسو او اولاد ستاسو نه

عَدُوًّا لَّكُمْ فَاحْذَرُوهُمْ ۚ وَإِن تَعْفُوا

دُشمنان ستاسو دی نو ځان اوساتئ دَ هغوی نه او که چرے معاف کوئے تاسو (خطائے دَ هغوی)

سِـ۱۲ دا معطوف دے په معنیٰ دَ ما قبل باندے یعنی اسان کړئے په ځان باندے مصیبتونه دَ وجے دَ ایمان نه په تقدیر باندے او اطاعت دَ الله تعالیٰ او دَ رسول دَ هغه کوئے دَ مصائبو دَ وجے نه ئے مه پریګدئے. ابن کثیر دَ امام زهری نه نقل کړیدی چه دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه رسالت دے او دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ طرف نه بلاغ دے او زمونږ دَ طرف نه تسلیم دے۔

سِـ۱۳ دا دعویٰ دَ توحید ده او دا دَ اطاعة الله والرسول اوله مسئله ده او دا رنګ دَ مصائبو دَ دفع کولو دَ پاره توکل په الله تعالیٰ باندے ضروری دے۔ ابن کثیر وئیلی دی چه په اوله جمله کښ معنیٰ دَ طلب پرته ده یعنی اخلاص اوکړئے الله تعالیٰ ته په هر قسم شرک پریخودلو سره۔

وَتَصْفَحُوْا وَتَغْفِرُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ

او مخ اړوئ (دَ ملامته کولونه) او بخنه ورته کوئ نو یقیناً الله تعالیٰ بخنه کوونکے دے

رَّحِيْمٌ ﴿۱۴﴾ اِنَّمَآ اَمْوَالُكُمْ وَاَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ ط

رحم کوونکے دے۔ یقیناً مالونه ستاسو او اولاد ستاسو امتحان دے

سلا دَ اطاعة الله والرّسول دَ یو مانع (چه مصیبتونه دی) علاج ئے ذکر کړو نو اوس نور موانع ذکر کوی چه ازواج او اولاد دی۔
اِنَّ مِنْ اَزْوَاجِكُمْ مِنْ دلیل دے چه دا دشمنی دَ بعضو دَ طرف نه وی۔
عَدُوًّا لَّكُمْ مراد دَ دے نه عداوت دینیه اخرویه دے یا په طریقه دَ تشبیه باندے دے یعنی پشان دَ دشمنانو وی اودشمنی دا ده چه منع کول کوی دَ هجرت دَ جهاد او دَ اتباع دَ سنت نه په غم او بنا دے کښ او ترغیب ورکوی بدعاتو او رسمونو رواجونو ته۔
فَاحْذَرُوْهُمْ یعنی په باره دَ دین کښ دَ هغوی دَ وسوسے او دَ اطاعت کولو نه ځان اوساتے۔ وَاِنْ تَعْفُوْا وَتَصْفَحُوْا دا تعلیم دَ حسنِ اخلاق دَ پاره دے دَ دفع دَ فساد دَ کورنئ دَ یعنی خپل دین هم مه خرابوئے په اطاعت کولو دَ هغوی او خپله دنیا هم مه فاسد وئے په هغوی باندے په غصه کیدلو او جنګ کولو سره۔ او هر کله چه په وخت دَ غصّه کیدلو کښ اول انسان سزا ورکول غواړی په وهلو سره نو دَ هغے دَ دفع دَ پاره ئے او فرمائیل وان تعفوا، دویم که عملی سزا نه ورکوی نو بیا په خوله سره سب وشتم او ملامته کول کوی نو دَ هغے دفع په تَصْفَحُوْا سره ذکر شوه بیا که ملامته کول نه کوی لیکن دَ هغه ګناه نور و خلقو ته ښکاره کوی دَ دے دَ پاره چه دَ خلقو په نظر کښ ذلیل شی نو دَ هغے مدافعه ئے اوکړو په تغفروا سره۔ او مراد دَ دے جرم نه هغه دے چه قابل دَ عفو او صفح وی یعنی دَ هغوی دَ ناکاره اخلاقو چه امور دنیویه سره تعلق لری او جرم دَ معاف کولو نه وی لکه چه موځ نه کوی دَ شرک او کفر کارونه کوی زنا او بدکاری ورباندے ثابته شی نو بیا دَ هغے دَ سزا ورکولو انتظام شرعی ضروری دے۔

وَاللّٰهُ عِنْدَهٗۤ اَجْرٌ عَظِیْمٌ ﴿۱۵﴾ فَاتَّقُوا اللّٰهَ

او الله تعالیٰ خاص دَ هغه سره ثواب لوئے دے - نو ویره کوئے دَ الله تعالیٰ نه

مَا اسْتَطَعْتُمْ وَاسْمَعُوْا وَاَطِیْعُوْا

څو مره چه ستاسو وس رسیږی او غوږ کیدئے او خبره منئے

وَاَنْفِقُوْا خَیْرًا لِّاَنْفُسِكُمْ ؕ وَمَنْ یُّوْقَ

او خرچ کوئے نو غوره به وی ستاسو دَ پاره - او هغه څوک چه اوساتلے شو

شُحَّ نَفْسِهٖ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۱۶﴾

دَ حرص دَ نفس خپل نه نو دغه کسان دوی کامیاب دی -

۱۵ دا دَ اطاعة الله والرسول نه دَ بل مانع ذکر کوی چه هغه مالونه او اولاد دی. په تیر شوی ایت کښ مِنْ ئے ذکر کړے وو ځکه چه عداوت دینیه دَ هرے شئ او اولاد نه نه وی او هرچه مالونه او اولاد فتنه کیدل دی دا خو ټول اولاد مالونو ته شامل دے. او اموال ئے مخکښ ذکر کړو په اولاد باندے ځکه چه دَ مالونو فتنه ډیره ده په نسبت دَ اولاد سره۔

فِتْنَةٌ فتن په اصل کښ اړولو ته ویلے کیږی او په عرف کښ او په قران کښ دَ دے مختلف معانی دی دلته مراد امتحان دے یعنی محبت دَ مال او اولاد کله انسان لره منع کوی دَ طاعت دَ الله تعالیٰ او دَ رسول نه او کله دا سبب اوګرځی دَ پاره دَ تقرب الی الله تعالیٰ.

وَاللّٰهُ عِنْدَهٗۤ اَجْرٌ عَظِیْمٌ یعنی هر کله چه دَ طاعت دَ الله تعالیٰ او دَ محبت دَ مال او اولاد مقابله راشی نو طاعت دَ الله تعالیٰ مه پریګدئے ځکه چه لوئے اجر به ضائع شی دَ پاره دَ لګ او فانی څیز او دا رنګ په سورة انفال ۲۸ کښ ذکر شویدی او په هغه سورت کښ اول منع اوکړه دَ خیانت نه او هغه ډیر لوئے جرم دے نو دَ خیانت نه دَ بچ کیدلو دَ پاره په تاکید سره او فرمائیل وَاعْلَمُوْۤا اَنَّمَاۤ اه او دلته ډیر تاکید ته ضرورت نه وو۔

۱۶ روستو دَ ذکر کولو دَ اسبابو دَ عداوت او دَ فتنے نه چه هغه اسباب دَ ګمراهئ دی ذکر کوی امور دَ هدایت او دَ دین چه هغه راتے په بل مخ)

إِنْ تُقْرِضُوا اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا يُضٰعِفْهُ

که چیرے قرض ورکړئ تاسو الله تعالیٰ قرض ښائسته (په اخلاص سره) زیات به یئے کړی

لَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۗ وَاللَّهُ شَكُورٌ حَلِيمٌ ﴿١٧﴾

تاسو لره او بخنه به کوی تاسو ته او الله تعالیٰ قبلوونکے د عملونو دے صبر ناک دے۔

ځلور او امر دی۔ اول امر په تَقْوٰی سره، په دے کښې قید لګولے دے د مَا اسْتَطَعْتُمْ او سورة آل عمران ۱۰۲ کښې حق تقاته ذکر کړے دے نو اکثر مفسرینو ویلے دی چه آیت د سورة آل عمران منسوخ دے په دے آیت سره ځکه چه حق تقاته نه مراد دا اخستلے شوے دے چه هیڅ قسم معصیت به نه کوی او دا خو د استطاعت نه بهر خبره ده لیکن تحقیق دا دے چه د حق تقاته معنیٰ دا ده چه تقوی کوئے موافق د حدود شرعیه سره او د مَا اسْتَطَعْتُمْ مقصد دا دے چه هر انسان دِ خپل پوره استطاعت صرف کوی په اقامت د حدودِ شرعیه د تقوی کښې نو بنا په دے معنیٰ سره د دواړو آیاتونو منافات نیشته نو نسخ هم نیشته بلکه دا آیت د سورة آل عمران آیت تفسیر دے او چا چه قول د نسخ کړے دے نو هغه په معنیٰ د تقیید سره دے او دا په تیز د متأخرینو نسخ نه دے۔

دویم امر وَاسْمَعُوا، دریم امر وَأَطِيعُوا یو علم حاصلولو ته اشاره ده او بل په هغے باندے عمل کولو ته۔ ځلورم امر وَأَنْفِقُوا دا عبادتِ مالیه دے او مخکښې درے عبادات بدنیه (عقیده او اعمال) دی۔ خَيْرًا دا د ځلورو واړو امرو سره تعلق لری او دلته فعل محذوف دے یکن خیرا لکم تفسکم۔ وَمَنْ يُوقَ شُحَّ د تیر شوے اعمالو نه منع کوونکے شح د انسان دے د دے وجے نه د هغے نه د بچ کیدلو ترغیب ئے ذکر کړو۔

۱۷ ۱۸ په دے کښې ترغیب دے انفاق فی سبیل الله ته روستو د امر د انفاق نه او انفاق ته ئے قرضِ حسنه نوم کیخودلے دے د پاره د ترغیب۔ یا مراد د قرض نه مطلق اعمال حسنه دی چه په هغے کښې حُسن وی په توحید او اتباع سنت سره نو دا تعمیم بعد التخصیص دے او دا سے سورة بقره ۲۴۵ کښې هم تیر شوے دے۔ وَيَغْفِرْ لَكُمْ هر عمل صالح باندے هم ثواب حاصلیږی او هم په هغے سره ګناه معاف کیږی۔

ع ۲ ۱۶ ۸

عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿١٨﴾

عالم دے په هر پټ او ښکاره باندے زور اور حکمتونو والا دے۔

وَاللّٰهُ شَكُورٌ حَلِيمٌ۔ شکر د طرف د الله تعالیٰ نه ښکاره کول د نعمت دی په ذریعه د ډیرے جزا ورکولو سره او دا متعلق دے د یضاعف سره۔ حَلِيمٌ تلوار نه کوی په سزا ورکولو کښې مجرمانو ته بلکه مهلت ورکوی د پاره د دے چه توبه اوباسی او بخښش ورته اوکړے شی نو دا متعلق دے د يَغْفِر سره۔

عَالِمُ الْغَيْبِ اه دا صفتونه د پاره د تحذير دی د ګناهونو کولو نه چه د الله تعالیٰ نه هیڅ څیز پټ نیشته او زوراور پوخ تدبیر کوونکے دے نو انسان ولے ګناه اوجرم کوی۔

"اَللّٰهُمَّ نَسْأَلُكَ بِهٰذِهِ الْاَسْمَاءِ الْحُسْنٰى اَنْ تَغْفِرَ لَنَا خَطَايَانَا وَتُدْخِلَنَا الْجَنَّةَ وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ"۔

الحمد لله ختم شو تفسیر د سورة تغابن په فضل د الله تعالیٰ سره۔

رکوعاتها ٢ / اٰیاتها ١٢	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ	سُوۡرَةُ الطَّلَاقِ ٦٥ مَدَنِيَّةٌ ٩٩

يٰۤاَيُّهَا النَّبِىُّ اِذَا طَلَّقۡتُمُ النِّسَآءَ فَطَلِّقُوۡهُنَّ

اے نبی هرکله چه طلاق ورکول غواړئے بيبيانوته نو طلاق ورکړئے دوی ته

لِعِدَّتِهِنَّ وَاَحۡصُوا الۡعِدَّةَ‌ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ رَبَّكُمۡ‌ ۚ

مخکښې دَ زمانے دَ عدت نه او پوره شماروے موده دَ عدّت او ويره کوئے دَ الله تعالیٰ نه چه ستاسو رب دے

لَا تُخۡرِجُوۡهُنَّ مِنۡۢ بُيُوۡتِهِنَّ وَلَا يَخۡرُجۡنَ

مه اوباسئے دوی لره دَ کورونو دَ دوی نه او نه دِ ے اوځی دوی پخپله

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

سورة الطلاق او دَ دے بل نوم سورة النساء القصریٰ دے

ربط دَ دے سورت دَ ماقبل سره په ډيرو وجوهو سره دے اوله وجه دا ده چه په هغه سورت کښې دَ بعض ازواجو دَ عداوت ذکر اوکړے شو نو په دے سورت کښې دَ هغوی دَ مفارقت طريقه شرعی ذکر کوی په وخت دَ ضرورت کښې.

دويمه وجه دا ده چه په هغه سورت کښې امر وؤ په تقویٰ سره او په دے سورت کښې پنځه فائدے دَ تقویٰ ذکر کوی.

دريمه وجه دا ده چه دَ هغه سورت په ۵ کښې نزول دَ عذاب ذکر وؤ اجمالاً نو دَ دے سورت په ۸ ۹ کښې دَ هغے تفصيل او اسباب ذکر کړی دی.

دعوی دَ دے سورت امر دے په رعايت دَ حدود شرعيه سره عموماً او په معامله دَ طلاق او دَ عدت دَ زنانو کښې خصوصاً او دا معنیٰ دَ تقویٰ ده چه دَ هغے پنځه فوائد ئے ذکر کړے دی او حدود شرعيه په ديارلس اوامرو سره او په درے نواهی سره ذکر شوے دی او دعویٰ دَ توحيد په ١٢ کښې ده او دَرے اسماء حسنیٰ دَ الله تعالیٰ ئے ذکر کړی دی.

خلاصه دَ سورت دا ده۔ چه په اول ايت کښې ذکر دَ طريقه شرعی دَ طلاق او دَ عدت او حکم دَ سُکنیٰ (او سيدل دَ ښځے) په حالت دَ عدت کښې ذکر

إِلَّآ أَن يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ۚ وَتِلْكَ

مگر که چرے راتلل اوکړی په بد ئے ښکاره سره او دا

حُدُودُ اللَّهِ ۚ وَمَن يَتَعَدَّ حُدُودَ اللَّهِ فَقَدْ

پولے دَ الله تعالیٰ دی او چاچه تیریدل اوکړل دَ پولو دَ الله تعالیٰ نه نو یقیناً

ظَلَمَ نَفْسَهُ ۚ لَا تَدْرِي لَعَلَّ اللَّهَ يُحْدِثُ

ظلم ئے اوکړو په ځان خپل باندے نه پوهیږې هیڅ نفس چه امید دے چه الله تعالیٰ به پیدا کړی

بَعْدَ ذَٰلِكَ أَمْرًا ① فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ

روستو دَ دے بله څه خبره . نو هر کله چه دوی نزدے شی نیټې خپلې ته

کړے دے او دے ته ئے حدود ویلے دی او په ۲ کښ حکم دَ رجوع او دَ عدم رجوع ذکر دے او په ۳ کښ دوه فائدے دَ تقویٰ مذکور دی او په ۴ کښ بعضِ قِسمونه دَ عدت او دریمه فائده دَ تقویٰ ذکر شویده او په ۵ کښ دا احکام ئے مسمیٰ کړیدی په امر الله سره او دَ تقویٰ دوه فائدے ئے ذکر کړیدی او په ۶ کښ حکم دَ سُکنیٰ او دَ انفاق او دَ رضاع دَ ولد ذکر شویدے او په ۷ کښ ذکر دی چه انفاق به دَ زوج دَ طاقت مناسب وی. بیا تخویف دنیوی او اخروی په سبب دَ تعدّی عن حدود الله سره په درے ایاتونو کښ ذکر کوی او صداقت دَ قرآن او دَ رسول سرهٔ دَ بشارتِ اخرویه نه په دوه ایاتونو کښ او اختتام دَ سورت دے په ذکر دَ توحید سره او په ۱۲ کښ خلاصه دَ اسماؤ او صفاتو دَ الوهیت ذکر کړیده په ضمن دَ دوه صفتونو کښ چه علم او قدرت دے. تفسیر: يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ په دے ایت کښ اته جملے دی او په هره جمله کښ ډیر احکام او حکمتونه شرعیه دی او درے اوامر دی او دوه پکښ نهی دی. په نِداء دَ یا ایها النبی کښ اشاره ده چه احکام شرعیه به صادریږی دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم په واسطے سره بغیر دَ هغه نه شرعی حکم نشی کیدلے. نو تقدیر دَ عبارت دادے چه اے نبی (قل للمؤمنین) او ایه مؤمنانو ته. او قرطبی ویلے دی چه اصح داده چه دا شرع مبتدا مستقله ده خاص سبب نزول دَ دے دَ پاره په روایاتِ صحیحه سره راپاتے په بل مخ)

فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ فَارِقُوهُنَّ

نو حصار کړئ دوی لره په ښه طریقه سره (رجوع کول) یا جدا کړئ دوی لره

ثابت نه دے. فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ مراد دَ عدت نه زمانه دَ طهر ده په اتفاق سره او لام دَ پاره دَ توقیت دے په نیز دَ هغه علماؤ چه عدت په طهر سره وائي او څوک چه عدت په حیض سره وائي نو په دے کښې لفظ دَ استقبال یا مستقبلات پټ دے او دَ مسلم په یو قراءت کښې فی قبل عدتهن راغلے دے هغه دَ دے تقدیر دَ پاره دلیل دے. او ابن جریر وایي دي معنیٰ دا ده "طلاق ورکړئ دوی لره په هغه طهر کښې (چه دوی ئې شماره کوی دَ عدت نه) په غیر دَ جماع نه په دغه طهر کښې". او دا معنیٰ دَ اول قول سره موافق ده او بنا په دویم قول معنیٰ دا ده "چه طلاق ورکړئ دوی لره په طهر کښې چه مخکښې ئې راشي زمانه دَ عدت تیر ولو چه هغه حیض دے". او ابن کثیر وایي دي چه دَ دے آیت نه فقهاؤ اقسام دَ طلاق راغستلي دي چه طلاق سنت دا دے چه طلاق ورکړي په داسے حال کښې چه دَ حیض نه پاکه وی او جماع ئې ورسره نه وی کړے چه حامله وی او حمل ئې ښکاره وی او طلاق بدعت دا دے چه طلاق ورکړي په حالت حیض کښې یا په طهر کښې چه جماع ئې ورسره کړے وی او نه پوهیږي چه حامله ده او که نه ده. او دریم قسم طلاق دے نه سنت دے او نه بدعت دے هغه طلاق دَ وړے نابالغې یا دَ بوډۍ دے او غیر مدخول بها دے. او دا په فقه حنفي کښې احسن او حسن او بدعي دے دَ هغې تفصیل دَ فقهې په کتابونو کښې دے.

وَأَحْصُوا الْعِدَّةَ دَ عدت ورځې یا حیضونه او طهرونه پوره شمارل لازم دي او دا حکم دَ پاره دَ مدخول بها دے او دا شمارل دَ دے وجې نه ضروري دي چه په دے باندے احکام دَ رجوع او دَ دویم نکاح او نفقې وغیره تفریع کیږي. او خطاب په دیکښې خاوندانو ته دے.

وَاتَّقُوا اللَّهَ دا تمهید دے دَ پاره دَ روستني احکامو او تاکید دے دَ پاره دَ تیر شوؤ. لَا تُخْرِجُوهُنَّ الخ دا دلیل دَ اوسیدلو دے دَ زنانه روستو دَ طلاق نه په وخت دَ عدت کښې په کور دَ خاوند کښې خاوند باندے دَ هغې ویستل حرام دي او ښځې لره هم پرېښودل دَ سکني حرام دي.

بِمَعْرُوْفٍ وَّاَشْهِدُوْا ذَوَیْ عَدْلٍ مِّنْكُمْ

په ښه طريقې سره (رجوع نه کول) او ګواهان کړئ (په دواړه حالو کښې) دوه انصاف والا ستاسو نه

وَاَقِيْمُوا الشَّهَادَةَ لِلّٰهِ ؕ ذٰلِكُمْ يُوْعَظُ بِهٖ

او پوره کړئ شهادت د پاره د الله تعالیٰ دا وعظ ورکیدیشي په دے سره

مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ۵

هغه چاته چه ایمان لری په الله تعالیٰ او په ورځ د روستنے

وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا ۝۲

او څوک چه ویره کوی د الله تعالیٰ نه جوړه به کړی دهٔ لره طریقه د نجات ،

بُيُوْتِهِنَّ کور د خاوند دے لیکن هغې ته اضافت کړے شویدے د وجے د اوسیدلو هغې نه اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ مراد د دے نه وتل دی بغیر د اجازت نه او وتل دی بغیر د ضرورت نه یا مراد تری نه بد زبانی د ښځے ده د خاوند او د سخر کښے سره. یا مراد د دے نه زنا دے لیکن وتل د پاره د حد قائم کولو دی هسے شړل مراد نه دی۔ وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ دا احکام ئې مسمّیٰ کړل په حدود سره اشاره ده چه په دے کښ د ځان د طرف نه زیاتے کول یا کمے کول منع دی۔

لَا تَدْرِیْ لَعَلَّ اللّٰهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذٰلِكَ اَمْرًا ضمیر د لا تدری مؤنث غائب دے نفس ته راجع دے۔ او دا حکمت دے د پاره د طلاق رجعی او عدت تیرول په کور د خاوند کښ. بَعْدَ ذٰلِكَ دا اشاره ده یو طلاق یا دوه طلاقو ته اَمْرًا مراد د دے نه رغبت د خاوند دے دغه ښځے ته په رجوع کولو سره۔ او دا دلیل دے چه درے طلاق په یو ځل ورکول ظلم دے او د دے حکمت نه خلاف دے ځکه چه په هغې کښ رجوع کول حرام دی بغیر د تحلیل شرعی نه. ۲ په دے ایت کښ څلور او امر ذکر کوی۔ بَلَغْنَ اَجَلَهُنَّ مراد دا دے چه عدت ئې قریب دے تیریدلو ته لیکن ختم شوے نه دے. فَاَمْسِكُوْهُنَّ الخ مراد دا چه په عدت کښ د خاوند خوښه ده که رجوع ورته کوی او که نه کوی د ښځے رضا په دے کښ شرط نه ده بِمَعْرُوْفٍ د دے نه مراد ادا کول د حقوقو د ښځے دی نفقه، جامے، اوسیدل او ښه ژوند تیرول رپاتے په بل مخ)

وَّيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ۚ وَمَنْ

او روزي به ورکوي ده ته د داسې ځائې نه چه دے به ګمان نه کوي او چا چه

يَّتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ فَهُوَ حَسْبُهٗ ۚ اِنَّ اللّٰهَ

ځان او سپارو به الله تعالیٰ بانده نو هغه (الله ته) پوره دے ده لره یقیناً الله تعالیٰ

بِمَعْرُوْفٍ دَ دے نه مراد زورنے او بدے وینا او دَ کنځلو نه ځان بچ کول دی او رجوع نه کول تر دے پورے چه عدت ئے تیر شی۔ وَاَشْهِدُوْا ذَوَیْ عَدْلٍ مِّنْكُمْ شهادت پیش کول په وخت دَ رجوع کولو یا په وخت دَ طلاق ورکولو کښ دَ اکثر اهلِ علمو په نیز بانده دا امر دَ وجوب دَ پاره نه دے لیکن بغیر دَ اشهادنه رجوع کول او طلاق ورکول خلافِ سنت دی لکه چه ابو داؤد دَ عمران بن حصین رضی الله عنه نه روایت نقل کړیدے. او قاسمی وئیلے دی چه ظاهر دا ده چه دا امر هم دَ وجوب دَ پاره دے ځکه ټول اوامر دَ دے سورت دَ وجوب دَ پاره دی او دا یو قول دَ امام شافعی رض دے۔ وَاَقِیْمُوا الشَّهَادَةَ لِلّٰهِ دا امر دے ګواهانو ته په وخت دَ ضرورت دَ ګواهئ ادا کولو کښ چه ګواهئ ته حاضر شی او دروغ دِ پکښ نه وائی او اجرت دِ په هغے بانده نه اخلی ذٰلِکُمْ یُوْعَظُ بِهٖ الخ دا دَ تاکید دَ مخکښ احکامو دَ پاره دے یعنی په دے اوامرو بانده عمل کول دَ ایمان بالله تقاضا ده او په دے بانده دَ ثواب امید ساتل یا دَ عذاب نه ویره کول دَ ایمان بالاخرة دلیل دے۔ وَمَنْ یَّتَّقِ اللّٰهَ یَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا په یکښ دَ تقویٰ یوه فائده ذکر کړه او مراد دَ تقوی نه دَ شرك او کفر نه ځان ساتل او دَ ټولو ګناهونو کبیرو نه بچ کیدل او په صغیره اصرار نه کول او دَ ماموراتِ شرعیو امتثال کول دی. او په سنت طریقه طلاق ورکول او دَ بدعی طلاقو نه ځان ساتل په دے تقویٰ کښ داخل دی لکه حدیث دَ ابو داؤد کښ راغلے دی چه یو شخص خپلے ښځے ته درے طلاق ورکړے وو نو ابن عباس رض ته راغے نو هغه ورته دا ایت اولوستلو او ورته ئے اوفرمائیل تا دَ الله تعالیٰ نه ویره نه ده کړے نو ستا دَ پاره مخرج نیشته۔ یَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا هر غم دَ دُنیا او اخرت نه نجات او دا رنګ دَ شبهاتو او دَ شکونو نه بچ کیدل مراد دی او دفع دَ ضررخو مخکښ وی دَ حصول دَ منفعت نه دَ دے وجے نه دا فائده ئے وړاندے ذکر کړه لفظ دَ

بَالِغُ اَمۡرِهٖ ؕ قَدۡ جَعَلَ اللّٰهُ لِكُلِّ شَیۡءٍ

پوره کوونکے دے خپل کار لره یقینًا جوړ کړے دے الله تعالیٰ د پاره د هر څیز

قَدۡرًا ③ وَالّٰٓـِٔیۡ یَئِسۡنَ مِنَ الۡمَحِیۡضِ

خاص انداز ۔ او هغه زنانه چه نا امیده وی د حیض نه

مخرجا کښې اشاره ده چه تکلیفونه مصیبتونه به ورباندے راځی لیکن د هغے نه راوتل او د هغے د ناکاره آثارونه به نجات مومی ځکه چه خروج مخکښې دخول غواړی ۔ او د سهل بن عبدالله نه نقل دے چه چا تابعداری د سنت اوکړه الله تعالیٰ به ئے بچ کړی د عقوبت د بدعتیانو نه ۔

۳ په دے کښې دویمه فائده د تقویٰ ذکر کوی ۔ او مراد د دے نه برکات اچول دی په رزق د دهٔ کښې ۔ او بغیر د ظاهری اسبابو نه روزی راتلل دی ۔ معلومه شوه چه د روزئ اصل سبب تجارت او کسب نه دے بلکه تقویٰ ده تجارت او کسب وغیره چه سرهٔ د تقویٰ نه وی نو روزی به سرهٔ د برکاتو نه ملاویږی او یا مراد د دے نه روزی ده په جنت کښې او دا فائده د مخکښې نه جدا او مستقله ده د دے وجے نه د هغے نه ئے جدا ذکر کړو ۔

وَمَنۡ یَّتَوَكَّلۡ عَلَی اللّٰهِ فَهُوَ حَسۡبُهٗ ، هر کله چه توکل لره هم دخل وؤ په برکت د رزق کښې د دے وجے نه دا ئے ورسره متصل ذکر کړو ۔ توکل اعتماد دے په الله تعالیٰ باندے او ټول کارونه هغه ته سپارل دی سرهٔ د استعمال د اسبابو نه دلته ترتیب دا معلوم شو چه اول تقویٰ ده چه اوامر د الله تعالیٰ په ځائے راوړی او د منهیاتو نه ځان ساتی او ورپسے توکل علی الله دے نو اشاره ده چه توکل بغیر د تقویٰ نه راتلے نه شی او نه فائده ورکوی دا رنګ د دے سیاق سره مناسبت دا دے چه احکام د طلاق او د عدت او د رجوع په شرعی طریقه سره اداکوی او د دے د نتیجے اعتماد په الله تعالیٰ باندے اوکړی فَهُوَ حَسۡبُهٗ هغه به ورله توفیق د خیر ورکوی ضرر نه به ئے لرے کوی فائدے به ورکوی بل چاته به ئے نه محتاج کوی ۔ اِنَّ اللّٰهَ بَالِغُ اَمۡرِهٖ دا جواب د سوال دے سوال دا چه ډیر توکل کوونکی متقیان خلق دی او په هغوی باندے مصیبتونه مرضونه وغیره راځی ؟ حاصل جواب دا دے چه دا فیصلے د الله تعالیٰ دی رېتے په بل مخ)

مِنْ نِّسَآئِكُمْ اِنِ ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلٰثَةُ

دَ زنانو ستاسو نه که چرے شک کوئے (په عدت دَ هغوی کښ) نو عدت دَ هغوی درے

اَشْهُرٍ وَّالِّٰٓیْ لَمْ یَحِضْنَ ؕ وَاُولَاتُ الْاَحْمَالِ

میاشتے دے او هغه زنانه چه نه وی حائضه شوے هم او حمل والا زنانه

اَجَلُهُنَّ اَنْ یَّضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ؕ وَمَنْ یَّتَّقِ

عدت دَ هغوی زیګول دَ حمل دَ دوی دی او چاچه ویره کوله

اللّٰهَ یَجْعَلْ لَّهٗ مِنْ اَمْرِهٖ یُسْرًا ﴿۴﴾ ذٰلِكَ

دَ الله تعالیٰ نه جوړه وی دهٔ لره دَ کار دَ دهٔ نه اسانتیا . دا

چه په مخلوق کښ چلوی او هره فیصله خپلے انتها ته رسوی.
قَدْ جَعَلَ اللّٰهُ لِكُلِّ شَیْءٍ قَدْرًا مراد دَ دے نه تقدیر دے او علت دے دَ بالغ اَمرهٖ دَ پاره یعنی دَ دے وجے نه پوره کوی چه دَ هغے تقدیر ئے کړے دے یا مراد دَ دے مقدار او انتهاء وه لکه چه دَ طلاق او عدت دَ پاره ئے تعداد او مدت مقرر کړے دے دا رنګ دَ هر مصیبت او مرض دَ پاره مقدار او مدت الله تعالیٰ مقرر کړے دے.
۴ په دے ایت کښ دَ درے قسمونو زنانو عدت ذکر کوی او په اخر دَ ایت کښ دَ تقوی یوه فائده ذکر کوی. یو قسم زنانه ایسه ده چه دَ حیض دَ راتللو نه نا امیده شی نو حامله کیدے هم نشی او دَ دے په مدت کښ اختلاف دے شپیته، اویا، پنځه پنځوس کلونه. صحیح دا ده چه دا په عادت دَ وطنونو او دَ زنانو باندے بنا دے. دویم قسم صغیره نابالغه چه دَ هغے حیض تراوسه پورے نه وی شوروشوے لیکن دَ هغے نکاح کړے شوے وی او خاوند ورسره دخول کړے وی او بیا طلاقه کړے شی دَ دے دواړه قسمونو عدت درے میاشتے دے ځکه چه اصل په عدت کښ حیض دے او عادةً حیض په میاشت کښ یو ځل راځی او دَ دوی حیض نیشته نو دَ دے حیضونو په ځائے کښ درے میاشتے مقرر کړے شوے. دریم قسم حاملے زنانه دی برابره خبره ده چه طلاقه کړے شوے وی یا خاوند ترینه وفات شوے وی

أَمْرُ اللّٰهِ أَنْزَلَهٗٓ إِلَيْكُمْ ۗ وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يُكَفِّرْ

حکم دَ الله تعالیٰ دے نازل کړے دے تاسو ته او چاچه ویره اوکړه دَ الله تعالیٰ نه لرے کوی به

عَنْهُ سَيِّاٰتِهٖ وَيُعْظِمْ لَهٗٓ أَجْرًا ۝٥ أَسْكِنُوْهُنَّ

دَ دهٔ نه بدئ دَ دهٔ او لویه وی به دوی لره ثواب - او سوئے دوی لره

دَ دے عدت وضع دَ حمل ده که لګ وخت روستو وی او که ډیر وخت پس وی.
دلته هم په وجه دَ حمل سره حیض بند شویدے نو په عدت کښ حمل دَ حیض
په ځائے بانْدے قائم کړے شو. اِنِ ارْتَبْتُمْ "که تاسو خوک شک کوئے په حکم دَ
عدت دَ دوی کښ" دا شرط ئے ځکه ذکر کړو چه مخاطبینو ته دَ عدت دَ حیض والو
حکم دَ جاهلیت دَ وخت نه معلوم وؤ لیکن دَ غیرِ حائضے په باره کښ علم نه وؤ.
یا معنیٰ دا ده چه دَ آئِسه او صغیره وینه راځی خو ستاسو شک وی چه دا دَ ځه وینه
ده لیکن هغه وینه دَ حیض نه ده نو عدت به په میاشتو سره وی نو که شک هم
نه وی ځکه چه وینه نه وی نو بیا خو په طریقه اولٰی سره دا حکم دے. بله معنیٰ
دا ده چه آئِسه او صغیره مستحاضه وی او ستاسو شک وی په باره دَ عدت کښ
نو حکم دغه دے. دا معانی په هغه وخت کښ دی چه ارتبتم په معنیٰ دَ شک سره
شی او بل احتمال دا دے چه دا په معنیٰ دَ یقین سره هم راځی دا دَ اضداد و نه
دے. وَالّٰٓئِیْ لَمْ یَحِضْنَ دا دلیل دے چه دَ نابالغے نکاح چه ولی اوکړی دَ چا سره
نو دا شرعًا جائز دے لکه نکاح دَ عائشه رضی الله عنها نو څوک چه دے نه انکار
کوی او په باره دَ حدیثِ عائشه رضی الله عنها کښ په امام بخاری یا په امام زهری
بانْدے طعنونه کوی نو دا خلق پخپله مطعون دی.
وَمَنْ یَّتَّقِ اللّٰهَ الخ دلته هم تقوی عامه ده او داخل دے په دے کښ طلاق
ورکول په سنت طریقے سره دا رنګ دا تقوی دَ زنانو ته اشاره ده چه په عدت
تیرولو کښ دَ حکم شرعی لحاظ کوی نو الله تعالیٰ به دے زنانه لره آسانتیا ورکوی.
او یُسْرًا عام دے دَ مخرجًا نه دَ دُنیا او دَ آخرت آسانتیا ته شامل دے. نو دا
لویه فائده ده په نسبت دَ مخکښ دواړه فائدو.
۵ دا تاکید دے دَ پاره دَ امتثال دَ تیر شوے احکامو او دَ تقویٰ دوه فائدے
نورے ذکر کوی. ذٰلِكَ اشاره ده ټولو احکامو ذکر کړے شوؤ ته رپاتے په بل مخ)

مِنْ حَيْثُ سَكَنْتُمْ مِّنْ وُّجْدِكُمْ وَلَا

په هغه ځائے کښې چه تاسو پکښې اوسيږئے د طاقت ستاسو نه او مه

تُضَآرُّوْهُنَّ لِتُضَيِّقُوْا عَلَيْهِنَّ ؕ وَاِنْ كُنَّ

ضرر ورکوئے دوی ته د پاره د دے چه تنګسيا راولے په دوی باندے او که چرے دی

اُولَاتِ حَمْلٍ فَاَنْفِقُوْا عَلَيْهِنَّ حَتّٰى

دا زنانه حمل والا نو خرچ کوئے په دوی باندے ترد ے پورے چه

يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ۚ فَاِنْ اَرْضَعْنَ لَكُمْ

او زيږوی حمل خپل نو که چرے پئ ورکوی دوی ستاسو (بچو) لره

فَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ ۚ وَاْتَمِرُوْا بَيْنَكُمْ

نو ورکوئے دوی ته مزدوری د دوی او جرګه کوئے په مينځ خپل (په باره د بچی کښې) کښې

يعنی طلاق، عدت، رجوع، شهادات. اَمْرُ اللّٰهِ مراد د دے نه حکم او قانون د الله تعالیٰ د ے برابره خبره ده که په صيغه د امر سره وی او که د نهی سره وی. وَيُعْظِمْ لَهٗٓ اَجْرًا په صيغه د مضارع سره ئے ذکر کړو اشاره ده چه څومره تقویٰ زياتيږی نو دومره به اجر او ثواب عظيم ورکيدے شی.

فائده :- هر کله چه د تقوی درے درجے دی لکه چه په سورة مائده ۹۳ کښې تيرے شويدی د د ے وجے نه په د ے سورت کښې هم درے کرته تقویٰ ذکر شوه اوله درجه کښې پوره عقيده د توحيد ساتل او د هر قسم شرک نه ځان بچ کول هر کله چه صرف توحيد ذکر وؤ نو د هغے فائده ئے صِرف مخرج ذکر کړه او هر کله چه ورسره توکل ذکر کړو چه اشاره ده د هر قسم شرک نه ځان بچ کولو ته نو ورسره برکت او وسعت د رزق د دنيا او د جنت ذکر کړے شو. دويمه درجه د تقویٰ ده د احکامو د الله تعالیٰ پوره پابندی کول په امتثال د اوامرو سره او اجتناب د نواهی سره نو ورسره ئے يسر ذکر کړو چه پد ے سره مشکلات اسانيږی. دريمه درجه استقامت او د شبهاتو نه ځان ساتل دی نو د هغے دوه فائد ے ذکر کړے د سيئاتو معافی او د اجرو ثواب ډير والے (والله اعلم).

بِمَعۡرُوۡفٍۚ وَاِنۡ تَعَاسَرۡتُمۡ فَسَتُرۡضِعُ لَهٗۤ

په خه طریقے سره	او که چرے تاسو سختی کوئے ډیو بل سره (په مزدوئے د ډیئ ورکولو کښ) نو پئ به ورکړی ده ته	

اُخۡرٰی ؕ﴿۶﴾ لِیُنۡفِقۡ ذُوۡ سَعَۃٍ مِّنۡ سَعَتِہٖ ؕ

بله زنانه -	خرچ دِ کوی	خاوند دَ فراخ	دَ فراخ خپلے نه (دَ مال په لحاظ سره)

ــــ ۶ په دے ایت کښ شپږ جملے او شپږ احکام ذکر کړے دی۔ اول حکم اَسۡکِنُوۡهُنَّ وجوب دَ سکنیٰ دَ مطلقے که په طلاق رجعی سره وی او که بائن سره وی۔ په دے کښ سکنی دَ مطلقے رجعی دَ پاره خاص وُو او دلته عام دے۔ مِنۡ حَیۡثُ، مِنۡ دَ تبعیض دے یعنی مکان دَ اوسیدلو یا مِنۡ زائده دے یا مِنۡ دَ ابتداء دَ پاره دے یعنی دَ هغه طریقے نه چه تاسو خه رنګ اوسیږئ۔

مِنۡ وُّجۡدِکُمۡ مراد تری نه قدرت مالیه دَ خاوند دے که په طریقه دَ ملکیت سره وی او که اجرة سره وی لوئے کور وی یا وړوکے خو موافق دَ طاقت دَ خاوند سره۔

دویم حکم وَلَا تُضَآرُّوۡهُنَّ الخ اضرار عام دے په مسکن کښ یا بے ضرورته رجوع کول طلاقے شوے ته یا نفقه نه ورکول په نیز دَ امام ابوحنیفه رحمة الله او مقصد ئے دا وی چه دا سکنیٰ پریږدی یا خپل حق او نه غواړی۔

دریم حکم وَاِنۡ کُنَّ اُولَاتِ حَمۡلٍ الخ حاملے ته په عدت کښ نفقه ورکول۔ او په غیر دَ حاملے نه دَ نورو مطلقو په باره کښ اختلاف دے چه دَ هغوی نفقه واجب ده او که نه ده واجب۔

څلورم حکم فَاِنۡ اَرۡضَعۡنَ فَاٰتُوۡهُنَّ دَ دے وجے نه راوړه چه اول خو دا چه دَ دے بچے پیو والا نه وی او که وی نو دا زنانه خو خپله بچی ته پئ ورکوی او اجرت نه غواړی او که غواړی نو خاوند بانـدے اجرت دَ رضاعت واجب دے۔

پنځم حکم وَاۡتَمِرُوۡا بَیۡنَکُمۡ بِمَعۡرُوۡفٍ مخاطب په دے سره مور او پلار دَ بچی دی دوی په دَ هغه دَ رضاعت په باره کښ مشوره او اتفاق کوی دَ پاره دَ دے چه دَ دوی په اختلاف سره تربیت دَ بچی برباد نشی۔

شپږم حکم وَاِنۡ تَعَاسَرۡتُمۡ الخ دا هم خطاب دے مور او پلار دَ بچی ته چه دَ اجرت دَ رضاعت په باره کښ اختلاف راشی او یو بل سره تنګسیا کوی یعنی مسامحه او اتفاق نه کوی نو پلار دَ بچی لره لازم دی چه بله مرضعه په اجرت سره اونیسی۔

وَمَنۡ قُدِرَ عَلَيۡهِ رِزۡقُهٗ فَلۡيُنۡفِقۡ مِمَّاۤ اٰتٰىهُ

او هغه څوک چه تنګه وه په هغه باندے روزی د هغه نو خرچ دې اوکړی د هغه مال نه چه ورکړے دے ده ته

اللّٰهُ ؕ لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفۡسًا اِلَّا مَاۤ اٰتٰهَا ؕ

الله تعالیٰ تکلیف نه ورکوی الله تعالیٰ هیڅ نفس ته مګر برابر د هغه طاقت چه ورکړے دے ده ته

سَيَجۡعَلُ اللّٰهُ بَعۡدَ عُسۡرٍ يُّسۡرًا ⑦ ع

زر ده چه پیدا به کړی الله تعالیٰ روستو د تنګسیا نه اسانتیا ۔

وَكَاَيِّنۡ مِّنۡ قَرۡيَةٍ عَتَتۡ عَنۡ اَمۡرِ رَبِّهَا

او ډیر کلو والو چه نافرمانی اوکړه د حکم د رب خپل نه

ف په دے ایت کښ څلور جملے دی د مسئلے د انفاق سره متعلق دی ۔
لِيُنۡفِقۡ ذُوۡ سَعَةٍ مِّنۡ سَعَتِهٖ دا امر د انفاق عام دے انفاق د خاوند په ښځه باندے او انفاق د پلار په اولاد باندے او انفاق په مرضعه باندے او د دے نه علاوه انفاق فی سبیل الله او نور نفقاتو واجبو ته هم شامل دے دا رنګ خرچ کول د انسان په خپل ځان باندے هم په دے کښ داخل دے په دے ټولو کښ چه حال د انفاق کوونکی ته اعتبار دے نو معلومه شوه چه په باب د نکاح کښ هم د ښځے حالت د مالدارئ غریبئ ته اعتبار نیشته بلکه د خاوند حالت ته به نظر کیدیشی حکمت په دے کښ په دریمه جمله کښ ذکر دے چه لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ اه یعنی څوک چه په یو عمل باندے مکلف وی نو د هغه طاقت ته اعتبار دے ۔
اِلَّا مَاۤ اٰتٰهَا هرکله چه په دے ایت کښ صرف د انفاق د مال مسئله ده د دے وجے نه اٰتَاهَا ئے ذکر کړو او هرکله چه عام عبادات او تکالیف مراد وی نو هلته الا وسعها (عام لفظ) ذکر کیږی ۔
سَيَجۡعَلُ اللّٰهُ بَعۡدَ عُسۡرٍ يُّسۡرًا دا تسلی ده چه هرکله انسان په هر حالت کښ د الله تعالیٰ د حکم تابعداری کوی په مالدارئ کښ او غریبئ کښ نو الله تعالیٰ به په هغه باندے اسانتیا په دنیا او اخرت کښ راولی لکه په سورة انشراح ۵ ۔ ۶ کښ ۔

وَرُسُلِهٖ فَحَاسَبْنٰهَا حِسَابًا شَدِيْدًا ۙ

او د رسولانو د هغه نو حساب اوکړو مونږ د هغوی سره حساب سخت

وَّعَذَّبْنٰهَا عَذَابًا نُّكْرًا ⑧ فَذَاقَتْ وَبَالَ

او عذاب ورکړو مونږ هغوی ته عذاب ډیر بد - نو اوڅکل هغوی سزا

اَمْرِهَا وَكَانَ عَاقِبَةُ اَمْرِهَا خُسْرًا ⑨

د کارخپل او شو عاقبت د کار د هغوی تاوان .

سـ۸ سـ۹ روستو د بیان د احکامو او حدود شرعیه نه تخویف دنیوی او اخروی ذکرکوی د پاره د تحذیر د مخالفت کولو د دے حکمونو نه او تخویف په پنځه طریقو سره ذکر شوید ے . مِنْ قَرْيَةٍ مراد ترینه اهل قریه دی په تقدیر د اضافت سره قریة د قری نه د ے جمع ته ویلے شی نو قریه هغه ښار او کلے چه ډیر خلق پکښ جمع وی.

عَتَتْ عَنْ اَمْرِ رَبِّهَا لفظ د امر کښ اشاره ده سـ۵ ته او مراد د د ے نه وحی د الله تعالیٰ ده وَرُسُلِهٖ یعنی د توحید او رسالت دواړو نه یئ نافرمانی او بغاوت کړے وو.

فَحَاسَبْنٰهَا الخ د سخت حساب نه مراد دا د ے چه هیڅ جرم یئ ورته معاف کړے نه د ے د ټولو ګناهونو په سزا سره یئ را اونیول.

وَعَذَّبْنٰهَا عَذَابًا نُّكْرًا دا په دنیا کښ وو اشاره ده هغه عذابونو ته چه په قوم نوح ع او عاد او ثمود واصحاب مدین او مؤتفکات وغیره باندے راليږلے شوی وو.

فَذَاقَتْ وَبَالَ اَمْرِهَا مراد د امر نه نافرمانی کول په کفر او شرک او انکار رسالت سره دی.

وَبَالَ سخت عاقبت ته ویلے شی او حرف فا اشاره ده چه روستو د عذاب نه دوی ته احساس اوشو چه دا زمونږ د اعمالو عاقبت د ے ځکه چه لفظ د ذاقت هم په احساس باند ے دلالت کوی ذوق د احساسات ظاهریو نه د ے.

وَكَانَ عَاقِبَةُ اَمْرِهَا خُسْرًا لفظ د امر یئ مکرر ذکر کړو د پاره د مزید قباحت د هغے. ظاهر د الفاظو نه دا ده چه دا څلور واړه جملے د عذاب دنیوی سره متعلق دی.

أَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا ۙ فَاتَّقُوا اللّٰهَ

تیار کړے دے الله تعالیٰ دوی لره عذاب سخت (په آخرت کښې) نو ویره کوئے د الله تعالیٰ نه

يٰٓأُولِي الْأَلْبَابِ ۚ الَّذِينَ آمَنُوا ۛ قَدْ أَنْزَلَ

اے صفا عقل والو۔ هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے یقیناً نازل کړے دے

اللّٰهُ إِلَيْكُمْ ذِكْرًا ﴿١٠﴾ رَسُولًا يَتْلُوا عَلَيْكُمْ

الله تعالیٰ تاسو ته یاد داشت رسول چه لولی په تاسو باندے

آيَاتِ اللّٰهِ مُبَيِّنَاتٍ لِيُخْرِجَ الَّذِينَ آمَنُوا

آیاتونه د الله تعالیٰ ښکاره کوونکی د حکمونو د دے د پاره چه اوباسی هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے

وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ ۚ

او عملونه ئے کړیدی په برابر د سنت سره د تیارو نه د رڼا ته۔

سن په دے کښې تخویف اخروی ذکر کوی په اوله جمله کښې او ایمان بالاخرة او صداقت د قرآن هم په دے آیت کښې ذکر کوی۔ فَاتَّقُوا اللّٰهَ روستو د ذکر د عذاب د تیر شوے خلقو نه تنبیه ده او امر په تقویٰ دے دِ دے امت ته ځکه چه تقویٰ دعوی د دے سورت ده او مراد د دے امر د تقوی نه ادامة (رهیش والے) او استقامت دے په تقویٰ باندے په درے واړه مرتبو د تقویٰ کښې کوم چه مخکښې ذکر شویدی په دلیل د دے چه دا خطاب دے ایمان والو ته۔

يٰٓأُولِي الْأَلْبَابِ هغه خلق دی چه د هغوی عقلونه د مقابلے د وهم نه او د شکونو شبهاتو نه محفوظ دی د هغوی صفات په سورة آل عمران سن۱۹۰ سورة زمر سن۱۸ کښې ذکر دی۔

الَّذِينَ آمَنُوا دا صفت دے یا عطفِ بیان دے یا بدل دے د اولی الالباب نه او په دے کښې اشاره ده چه ایمان او تقوی والا صحیح عقل والا خلق دی۔

قَدْ أَنْزَلَ اللّٰهُ إِلَيْكُمْ ذِكْرًا مراد د دے نه قرآن دے او په دے کښې تاکید دے چه اے مؤمنانو غفلت او نکرئے ځکه چه تاسو سره د تذکیر کتاب موجود دے۔

وَمَنْ يُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ وَيَعْمَلْ صَالِحًا يُّدْخِلْهُ

او چا چه ایمان راوړو په الله تعالیٰ او عمل یې کوؤ برابر د سنت سره داخل به کړي هغه لره

جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ

جنتونو ته چه بهیږي لاندې د هغې نه ویالې همیشه به وي

فِيْهَآ اَبَدًا ۭ قَدْ اَحْسَنَ اللّٰهُ لَهٗ رِزْقًا (۱۱)

په هغې کښې همیشه یقینًا خائسته کړې ده الله تعالیٰ دهٔ لره روزي (په جنت کښې).

ذِكْرًا رَّسُوْلًا په دې کښې صداقت د رسول ذکر کوي. په نصب (زور) د رسولًا کښې ډیر اقوال دي یو دا چه دا بدل دے (راوکو فیان ورته ترجمه وائي) د ذکرًا نه نو رسول ته یې ذکر مبالغةً اویل یعني صاحب د ذکر دے. دویم قول دا دے چه په دې کښې اَرْسَلَ پټ مراد دے. دریم دا چه ذکرًا مصدر دے او رسولًا د هغې مفعول دے یعني نازل کړیدے الله تعالیٰ ذکر د رسول په قران کښې.

څلورم دا چه فعل امر (اِتَّبِعُوا) پټ دے. يَتْلُوْا عَلَيْكُمْ اٰه صداقت د قران ته اشاره ده او دا دلیل دے چه مراد د رسول نه محمد صلی الله علیه وسلم دے مُبَيِّنٰتٍ، بینات اکثر په عقیدو کښې استعمالیږي او مبینات په احکامو او اعمالو کښې لکه سورة نور ۳۴ ۴۶ کښې هلته هم احکام وؤ او په دې سورت کښې هم احکام دي. لِيُخْرِجَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اٰه ضمیر د یخرج رسول ته راجع دے یا آیات الله ته راجع دے په تاویل د قران یا د ذکر سره یا الله تعالیٰ ته راجع دے.

تائید د اول احتمال په سورة ابراهیم ۱ کښې دے او تائید د دویم په سورة مائده ۱۶ کښې دے او تائید د دریم په سورة احزاب ۴۳ او سورة بقره ۲۵۷ کښې دے.

سوال :- ایمان او عمل صالح والا خو د ظلماتو نه وتلے دي نو بیا د هغوی د اخراج څه معنیٰ ده؟

جواب اول :- مراد هغه کسان دي چه د هغوی ایمان په تقدیر د الله کښې مقرر دے

جواب دویم :- مؤمنان کتابیان مراد دي.

جواب دریم :- مؤمنان مراد دي، او د اخراج نه مراد بچ کول دي د ظلماتو د گمراهۍ نه. (رپاتے په بل مخ)

اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ وَّمِنَ الْاَرْضِ

الله تعالیٰ هغه ذات دے چه پیدا کړیدی اوۀ اسمانونه او دَ زمکو نه

مِثْلَهُنَّ ؕ یَتَنَزَّلُ الْاَمْرُ بَیْنَهُنَّ لِتَعْلَمُوْۤا

پشان دَ اسمانونو راکوځیږی حکم دَ الله تعالیٰ په مینځ دَ دوی کښې دَدے دَپاره چه یقین اوکړئ تاسو

اَنَّ اللّٰهَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ ۙ۬ وَّاَنَّ اللّٰهَ

چه یقینًا الله تعالیٰ په هر څیز باندے قدرت والا دے او یقینًا الله تعالیٰ

قَدْ اَحَاطَ بِكُلِّ شَیْءٍ عِلْمًا ﴿۱۲﴾ ع ٢ ٥ ١٨

راګیر کړے دے هر څیز په علم خپل کښې.

جواب څلورم:- دا چه ظلمات نه مراد بعض شکونه او شبهات او وسوسے شیطانی او نفسانی دي نو الله تعالیٰ مؤمنانو لره دَ قران او رسول په ذریعه دَدے نه اوباسی. وَمَنْ یُّؤْمِنْ الخ دا بشارت دے روستو دَ اخراج دَ ظلماتو نه قَدْ اَحْسَنَ اللّٰهُ لَهٗ رِزْقًا مراد احسان نه وسعت او دَرزق نه مراد رزق دَجنت دے یا دا بشارتِ دنیوی دے روستو دَ بشارتِ اخرویه نه او په دنیا کښې احسان دَ رزق په ۳ کښې ذکر شو.

۱۲ په دے ایت کښې پنځه جملے دی او ټولے دلالت کوی په توحید باندے په رد دَ شرک فی التصرف او فی العلم سره. او دا متعلق دے دَ تخویف سره چه الله تعالیٰ قادر او عالم دے نو دَ هغه دَ عذاب نه په هیڅ طریقه بچ کیدلے نه شئ بغیر دَ ایمان نه. وَمِنَ الْاَرْضِ مِثْلَهُنَّ مماثلت په بعض صفاتو کښې وی نو دلته مماثلت په عدد کښې دے چه اوۀ دی او دا رنګ احادیث صحیحه کښې تصریح راغلے ده چه زمکے اوۀ دی لکه حدیث دَ بخاری چه چا په ظلم سره دَ بل چا دَ زمکے نه دَیو لیشت په مقدار سره واغستله نو دَ قیامت په ورځ به دَ دهٔ غاړے ته دَ اوۀ زمکو نه اچولے شی. او دا حدیث اشاره کوی چه دا زمکے دَیو بل دَپاسه طبقه طبقه دی نو چا چه وئیلی دی چه اوۀ اقلیمونه مراد دی هغه قول بے دلیله دے. لیکن هغه حدیث چه امام بیهقی په کتاب الاسماء والصفات کښې ذکر کړیدے چه په هره زمکه کښې

آدم دے ستاسو دَ آدم پشان او نوح علیه السّلام (الی آخره) دا حدیث صحیح نه دے بیهقی ویلے دی چه دا حدیث شاذ دے او دَ دے متابع هم نیشته۔
ابن کثیر او امام ذهبی هم دا سے ویلے دی او ابوحیان په بحر المحیط کښ ویلے دی چه دا بیشکه موضوعی روایت دے او دَ واقدی کذّاب نه نقل دے او دَ دے په مقابله کښ دَ حاکم صاحب مستدرك تصحیح ته اعتبار نیشته او په نبراس کښ وئیلے دی چه دَ امام نووی نه نقل ده چه دا حدیث ثابت نه دے۔
یَتَنَزَّلُ الْاَمْرُ بَیْنَهُنَّ امر نه مراد وحی ده یا هغه امور چه الله تعالیٰ مقدر کړے دی بَیْنَهُنَّ بنا اول احتمال ضمیر راجع دے ټولو اسمانونو ته او دَ اسمانونو او زمکے مینځ ته چه په دے کښ وحی دَ الله تعالیٰ نازلیدله او په دویم احتمال ضمیر ټولو اسمانونو او زمکو ته راجع دے په ټولو کښ دَ الله تعالیٰ مقدّرات او تدبیرات چلیږی۔
لِتَعْلَمُوْٓا دا متعلق دے دَ خَلَقَ سره یا متعلق دے دَ یتنزل سره بنا په اول بانده مطلب دا دے چه خلق دَ دے عالم بره او خکته دلیل دے دَ دوه صفتونو دَ الله تعالیٰ بانده چه قدرت ئے دے هر څیز بانده او علم لری دَ هر څیز۔
او بنا په دویم احتمال بانده مقصد دا دے چه دَ وحی منزل خلاصه علم دَ دوؤ مسئلو دے اوله مسئله عموم دَ قدرت دَ الله تعالیٰ دے او دویمه علم دَ الله تعالیٰ په هر څیز بانده۔ لِتَعْلَمُوْٓا په دے لفظ کښ اشاره ده چه علم دَ دے دوه صفتونو فرض دے په هر مکلّف بانده۔
سوال :۔ اسماء او صفات دَ الله خو ډیر دی نو دَ دے دوؤ تخصیص ئے ولے کړید؟
جواب :۔ دا دوه صفتونه خلاصه ده دَ ټولو صفتونو الهیو او دَ دے وجه نه عقلی دلیلونه دَ توحید په قران کریم کښ په دے دوه صفتونو بانده مشتمل دی لکه په سورة بقره ۲۸ ۲۹ او سورة انعام ۱ ۲ ۳ او سورة نحل ۳ ۱۹ او نور ډیرو سورتونو کښ هم شته۔
الحمدلله تفسیر دَ سورة الطلاق ختم شو۔

ایاتها ۱۲ / رکوعاتها ۲	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ	سُوۡرَةُ التَّحۡرِیۡمِ ۶۶ مَدَنِیَّةٌ ۱۰۷

یٰۤاَیُّهَا النَّبِیُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَاۤ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكَ ۚ

اے نبی ولے بندّ وے په ځان باندے هغه څیزچه حلال کړیں دے الله تعالی تا لره

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

سورة التحریم او نور نومونه ئے سورة النبی او سورة لم تحرم او سورة المتحرم دی ربط دَ دے سورت دَ مخکښ سورت سره په ډیرو وجوهو سره دے اول وجه دا ده چه مخکښ امور متعلقه دَ طلاق ذکر کړل اوس په دے سورت کښ هغه اخلاق ذکر کوی چه منع کوونکی دَ طلاق دی۔ دویمه وجه دا ده هر کله چه ذکر کړل په مخکښ سورت کښ احکام دَ جدائے دَ ښځے او خاوند نو په دے سورت کښ ذکر کوی هغه احکام چه په هغے سره جوړخ رائے دَ ښځے خاوند۔ دریمه وجه دا ده چه هر کله مخکښ سورت کښ عظمتِ شان دَ رسول صلی الله علیه وسلم ذکر شو نو په دے سورت کښ عتاب دے هغه چا ته چه دَ هغه دَ خفګان کار کوی۔
دعوی دَ سورت۔ ذکر دَ حقوق دَ زوجیت۔ او عدم افاده دَ زواج دَ پاره دَ نجات دَ عذاب نه۔ او تهه اسماءِ حسنیٰ ذکر کوی دَ پاره دَ توحید۔
خلاصه دَ سورت دا ده۔ دوه خطابات دَ نبی صلی الله علیه وسلم او دوه دَ مؤمنانو په اول خطاب دَ نبی صلی الله علیه وسلم کښ مقصد حرج لرے کول دی دَ هغه نه په باره دَ رضا کولو دَ بیبیانو کښ په هغے څیز کښ چه دَ هغوی حق نه دے۔ بیا ترغیب دے بیبیانو ته په ساتلو دَ رازونو دَ نبی صلی الله علیه وسلم کښ او دَ هغه دَ خلاف (تظاهر) نه منع کول دی او دا رنګ ترغیب دے دوی ته په پنځه اخلاقِ حسنه سره دا ترسه پورے دی۔ بیا ذکر دَ حق دَ خاوند دے په بنځه باندے۔ بیا اول خطاب دے مؤمنانو ته چه په هغے کښ ذکر کوی حق دَ ښځے په خاوند باندے په هغه امورو چه دَ عذاب نه بچ کول کوی او بیا دویم خطاب دَ مؤمنانو دے او په هغے کښ ترغیب دے توبے ته دَ پاره دَ

تَبۡتَغِيۡ مَرۡضَاتَ اَزۡوَاجِكَ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ①

لټوے په دے سره خوشحالی د بيبيانو ستا او الله تعالىٰ بخښونکے رحم کوونکے دے.

بچ کيدلو د اُور نه او بشارت اخرويه دے. او بيا دويم خطاب د نبي صلى الله عليه وسلم دے په جهاد سره د پاره د دے چه معامله د بيبيانو سره مشغول نشي د دے اهم مقصد نه. بيا د دوه وهمونو جوابونه دی اول وهم دادے چه هر کله د ښځې عقيده د خاوند د عقيدے نه مخالفه وی په سبب د شرک کولو د ښځې نو ايا صرف ښځه کيدل د مؤحد سړی دِ ے له فائده ورکوی؟ حاصل جواب دادے چه نه ورکوی او مثال ئے ذکر کړو د ښځې د نوح عليه السلام او د ښځې د لوط عليه السلام. دويم وهم دادے چه هر کله ښځه مؤحده وی او خاوند مشرک کافر وی نو دا نکاح دِ ے ښځې ته ضرر او نقصان ورکوی؟ حاصل جواب دادے چه هيڅ ضرر نه ورکوی ما سيوا د ابتلاء نه او مثال ئے ذکر کړے دے په امرءة فرعون سره او په دے مثال کښې سرهٔ د ذکر د حال د مريم نه تشجيع هم ده مؤمنانو ته په استقامت د دين د الله تعالىٰ سره.

تفسير: مفسر قرطبي او اکثرو مفسرينو د دے سببِ نزول کښې ډير اقوال ليکلے دی ليکن هغه روايت چه په سند صحيح سره امام بخاري نقل کړيدے هغه دادے چه نبي صلى الله عليه وسلم د بی بی زينب رضی الله عنها کور کښې د ګبين شربت اوڅښلو نو بی بی عائشه رضی الله عنها او بی بی حفصه رضی الله عنها د بنتوب د غيرت د وجے نه اتفاق اوکړو چه نبي صلى الله عليه وسلم چه هر يو کره راشی نو ورته به اُوايو چه ستا نه د مغافير بوئ ژی ايا تا مغافير خوړلے دی (مغافير جمع د مغفور ده او دے ته عرفط هم ويلے شی دا د يو قسم بوټي ګل دے چه د عربو (نحل) مچو به هغه خوړلو او د هغے نه به شهد پيدا کيدل نو په هغه شهد کښې به هغه بوټي بوئ وو نو د دوی قول چه ستا نه د مغافير بوئ ځی دا خبره رشتيا وه او دويمه خبره خو په طور د تپوس سره ده چه ايا تا مغافير خوړلے دی د تپوس په جمله کښې صدق او کذب نه راځی (او نبي صلى الله عليه وسلم به د بد بوئ څيز د استعمال نه ځان بچ ساتلو) نو هغه اوفرمائيل چه ما مغافير نه دی خوړلی ليکن د شهد شربت مِ څښلے دے ائينده به نه څښم او په (رپاتے په بل مخ)

قَدْ فَرَضَ اللّٰهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ أَيْمَانِكُمْ وَاللّٰهُ

یقینًا مقرر کړی دی الله تعالیٰ تاسو لره پرانستل د قسمونو ستاسو او الله تعالیٰ

ما د حرام وی، او بل صحیح سند والا روایت هم شته لیکن صحیحینو نه دے راوړے د هغې اختصار دادے چه رسول صلی الله علیه وسلم حفصه رضی الله عنها ته ویلے وو چه ماریه رضی الله عنها مور د ابراهیم د په ما باندے حرامه وی او په دواړه روایتونو کښ دا هم شته چه نبی صلی الله علیه وسلم حفصه رضی الله عنها ته او فرمائیل چه دا راز په ته ښکاره کوے او تو لو خبرو کښ مقصد د نبی صلی الله علیه وسلم دا وو چه نورے بیبیانے رضا وی او زینب او ماریه هم خفه نشی نو الله تعالیٰ د دے سورت ابتدائی ایاتونه نازل کړل چه

يٰۤاَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَاۤ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكَ قرطبی ویلے دی چه دا عتاب دے (یعنی د دوه دوستانو په مینځ کښ د زورنے خبرے) دا گناه صغیره یا کبیره نه دے او قاسمی ویلے دی چه دا خطاب په طریقه د شفقت سره دے چه ولے ځان په تکلیف کښ د بیبیانو د وجے نه اچوے او شربینی ویلے دی چه دا په طریقه د عتاب سره نه دے بلکه تنبیه ده چه دا کار ستا د شان سره مناسب نه دے۔

سوال:- کوم خیز چه الله تعالیٰ حرام کړے وی نو نبی صلی الله علیه وسلم خو هغه نشی حرام کولے لکه حدیث د بخاری (په پاره د نکاح د علی رضی الله عنه د لور د ابوجهل سره) کښ وارد دی چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلے دی چه زه خو حلال د الله تعالیٰ نشم حراموله نو د دے ایت څه مطلب دے؟

جواب:- دلته تحریم په معنیٰ لغوی سره دے چه منع ده او فایده اخستل د یو خیز نه نه ده مراد په سره عقیده د تحریم د ما احل الله ځکه چه داسے عقیده لرل خو کفر دے او نبی د هر معصیت نه پاک وی داسے خطیب شربینی ذکر کړے دی۔

تَبْتَغِيْ مَرْضَاتَ اَزْوَاجِكَ او دا خو امر مباح دے لیکن د دے وجے نه په ځان باندے مشقت خلاف عادت مه اچوه۔

مَوۡلٰىكُمۡ ۚ وَهُوَ الۡعَلِيۡمُ الۡحَكِيۡمُ ﴿۲﴾ وَاِذۡ اَسَرَّ

مولا ستاسو دے او خاص هغه په هرڅه پوهیږی حکمتونو والا دے. او کوم وخت چه پټه او کړه

النَّبِيُّ اِلٰى بَعۡضِ اَزۡوَاجِهٖ حَدِيۡثًا ۚ فَلَمَّا

نبی صلی الله علیه وسلم بعضِ دَ بیبیانو خپلو ته یوه خبره نو هر کله

نَبَّاَتۡ بِهٖ وَاَظۡهَرَهُ اللّٰهُ عَلَيۡهِ عَرَّفَ

چه دے خبر کړه په هغې سره بله او خبر ورکړو الله تعالیٰ په هغې باندے نبی صلی الله علیه وسلم له نو ورښودله

بَعۡضَهٗ وَاَعۡرَضَ عَنۡۢ بَعۡضٍ ۚ فَلَمَّا نَبَّاَهَا

یوه خبره او مخ ئې واړوؤ دَ بلې خبرے نه نو هر کله چه نبی صلی الله علیه وسلم خبر ورکړو هغې بی بی ته

بِهٖ قَالَتۡ مَنۡ اَنۡۢبَاَكَ هٰذَا ؕ قَالَ نَبَّاَنِىَ

په هغې خبرے سره هغې اُویل چا تاله دا خبر درکړے دے هغه اُویل خبر راکړے دے ما ته

۲ قَدۡ فَرَضَ اللّٰهُ په دے کښې ترغیب دے دَ دغه قسم ماتولو ته په کفاره ادا کولو سره. فَرَضَ په معنیٰ دَ تقدیر سره دے او تقدیر دَ کفارے په سورة مائده ۸۹ کښې ذکر کړے شوے دے. تَحِلَّةَ اَيۡمَانِكُمۡ، تحلّه دَ حَلّ نه ماخوذ دے په معنیٰ دَ پرانستلو دَ غوټے دے یعنی په قسم سره چه کومه غوټه راغله نو دَ هغې غوټے پرانستل په کفارے سره دی. اَيۡمَانِكُمۡ جمع دَ یمین ده قسم ته ویلے کیږی دا اشاره ده چه تحریم دَ ما احل الله په معنیٰ دَ قسم کښې دے که خوراک څښاک وغیره وی یا ښځه وی او دا قول امام بخاری دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت کړے دے او په دے کښې قرطبی اتلس اقوال ذکر کړے دی لیکن غوره دا ده چه چا دَ خوراک، څښاک، لباس او ښځې وغیره په باره کښې اُویل چه دا دِ په ما باندے حرام وی لیکن عقیده دَ حرمتِ شرعیه حقیقیه ئې نه وی نو دا قسم دے او په هغې کښې کفاره دَ قسم واجب ده.
وَاللّٰهُ مَوۡلٰىكُمۡ لفظ دَ الله ئې دوباره ذکر کړو دَ پاره دَ زیاتے تسلّی دَ زړه.
مَوۡلٰىكُمۡ مالک، متولی، اختیارمند دَ کارونو او دوست ستاسو دے.

الْعَلِيمُ الْخَبِيرُ ﴿٣﴾ إِنْ تَتُوبَا إِلَى اللَّهِ فَقَدْ

الله تعالیٰ چه په هر څه پوهه ده خبردار دے. که چرے توبے او باسئ الله تعالیٰ ته نو یقیناً

صَغَتْ قُلُوبُكُمَا ۖ وَإِنْ تَظَاهَرَا عَلَيْهِ

جوړ دی ستاسو زړونه (د پاره د توبے) او که چرے تاسو دوارے جوړے شوئ په مخالفت د هغه کښ

۳ دا هم متعلق دے د مخکښ واقعے سره بَعْضِ أَزْوَاجِهِ مراد د دے نه حفصه رضی الله عنها ده په غوره قول باندے. حَدِيثًا مراد د دے نه تحریم د شهد دے او منع کول د هغے دی د ښکاره کولو د دے راز نه او بل قول کښ تحریم د ماریه رضی الله عنها مراد دے دا دلیل دے چه خاوند له جائز دی چه په بعض رازونو سره بعضے بیبیا نے خاص کړی. فَلَمَّا نَبَّأَتْ بِهِ یعنی عائشه رضی الله عنها ئے په هغے سره خبر کړه گمان ئے دا وُ چه په دے کښ به څه حرج نه وی ځکه چه عائشه رضی الله عنها ډیره محبوبه وه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته او مفعول د نَبَّأَتْ ئے ذکر نه کړو اشاره ده چه نفس دا خبر ورکول نامناسبه کار وُ تخصیص د یو شخص پکښ مقصد نه وُ. وَأَظْهَرَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ په دے کښ دلیل دے چه نبی صلی الله علیه وسلم خو په غیب باندے نه پوهیدلو بلکه په علم کښ د الله تعالیٰ اخبار ته محتاج وُ. عَرَّفَ بَعْضَهُ تعریف په معنیٰ د الزام او ملامتیا ورکولو دے یعنی نبی صلی الله علیه وسلم حفصه رضی الله عنها ته اُوئیل چه تا ولے زما راز خور کړیدے او عائشه رضی الله عنها ته ډِ حال وئیلے دے لیکن په ټولو خبرو باندے زورنه ورنکړه د بعضو خبرو ئے ورته شکوه اوکړه د دے وجه نه ئے اوفرمائیل وَأَعْرَضَ عَنْ بَعْضٍ یا مراد د دے نه دا چه زورنه ئے ورکړه لیکن طلاق ئے ورنکړو او فراق ئے ورسره اونکړو. او په دے کښ خائسته اخلاقو ته اشاره ده هغه دا ده چه دوست یا بی بی نه څه غلطی او نقصان اوشی نو پوره په هره یو خبره باندے زورنه ورکول پکار نه دی بلکه صرف په بعض خبره باندے زورنه دِ ے اوکړی. او دا دلیل دے چه ښځے له یا دوست له جائز نه دی چه د خاوند او دوست رازونه ډِ خوره وی. قَالَتْ مَنْ أَنْبَأَكَ هَٰذَا دا دلیل دے چه د صحابه کرامو او د بیبیا نو د نبی صلی الله علیه وسلم دا عقیده وه چه نبی صلی الله علیه وسلم حاضر او ناظر

فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ مَوْلٰىهُ وَجِبْرِيْلُ وَصَالِحُ

نو یقینًا الله تعالیٰ مولا دَ هغه دے او جبرئیل علیه السلام او نیکان

الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمَلٰٓئِكَةُ بَعْدَ ذٰلِكَ ظَهِيْرٌ ④

مؤمنان او نور ټول ملائک روستو دَ دے نه دَ هغه ډله کوونکی دی۔

اوغیب دان نه دے۔ قَالَ نَبَّاَنِيَ الْعَلِيْمُ الْخَبِيْرُ اشاره ده چه نبی صلی الله علیه وسلم وحی دَ الله تعالیٰ محتاج وؤ الْعَلِيْمُ الْخَبِيْرُ کښ اشاره ده چه دَ الله تعالیٰ دَ رضا نه خلاف پټه یا ښکاره هیڅ خبره کول جائز نه دی۔ علیم په اعتبار دَ ظاهری خبرو او خبیر په اعتبار دَ باطنی خبرو سره دے۔

سے په دے ایت کښ ترغیب دے توبه کولو ته۔ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوْبُكُمَا صغت دَ صوغ نه دے مائل کیدلو او جوړیدلو ته وئیلے کیږی که په ښه طریقه سره وی یا بدے طریقے سره وی او زیغ همیشه استعمالیږی په بده طریقه کښ نو مراد دا دے چه ستاسو زړونه توبے طرف ته مائل دی او دَ توبے دَ پاره جوړ شویدی نو جزا په اصل کښ محذوف ده یعنی که چرے تاسو توبه کوئے نو ستاسو توبه مقبوله ده او بل قول دا دے چه معنیٰ دا ده چه ستاسو زړونه اوړیدلے او کاږه شویدی دَ واجب طریقے نه په اطاعت دَ رسول کښ او دلته هم جزا په اصل کښ محذوف ده یعنی که تاسو توبه کوئے نو موجود دے سبب دَ توبے کولو ستاسو۔ لیکن په اوله توجیه کښ ترغیب توبے ته ډیر دے او دا رنګ پدے کښ صفت دَ عائشه او حفصه رضی الله تعالیٰ عنهما دے او هغه امهات المؤمنین دی چه دَ هغوی اکرام په مونږ باندے واجب دے۔ قُلُوْبُكُمَا قانون دَ عربیت دا دے چه تثنیه بلے تثنیے ته مضاف کولو کښ ثقل ګنړی نو دَ اول تثنیه نه جمع جوړه کړی نو دا افصح کلام دے او افراد هم جائز دے سرهٔ دَ فصاحت ته او تثنیه راوړل صرف جواز لری۔ او خطاب په ضمیر دَ کما کښ عائشه او حفصه رضی الله عنهما ته دے لکه چه حدیث دَ ابن عباس رضی الله عنه کښ امام بخاری نقل کړے دے۔ وَاِنْ تَظٰهَرَا عَلَيْهِ تظاهر دَ یو بل ملا تړنګول او مدد کول دی او علی دَ طرف دَ ضرر دے یعنی "که چرے تاسو دَ یو بل سره ډله کوئے دَ پاره دَ ایذا ورکولو رسول صلی الله علیه وسلم ته" ریاکے په بل مخ)

عَسٰى رَبُّهٗٓ اِنْ طَلَّقَكُنَّ اَنْ يُّبْدِلَهٗٓ اَزْوَاجًا

امید دے چه رب دَ نبی صلی الله علیه وسلم که چرے (دا نبی) طلاق ورکړی دَ بیبیانو ته نو بدله کښ به ورکړی نورے بیبیانے

خَيْرًا مِّنْكُنَّ مُسْلِمٰتٍ مُّؤْمِنٰتٍ قٰنِتٰتٍ

چه غوره به وی ستاسو نه مسلمانانے بنګاره ایمان لرونکی په زړونو تابعداری کوونکی دَ حکم

تٰٓئِبٰتٍ عٰبِدٰتٍ سٰٓئِحٰتٍ ثَيِّبٰتٍ وَّاَبْكَارًا ﴿۵﴾

توبے کوونکی بندګی کوونکی (په توحید سره) روژے نیوونکی کونډے او جینکے.

هرکله چه تظاهر په ابتداء کښ مقصد دَ بیبیانو نه وُو دَ دے وجے نه دائے روستو ذکر کړو صرف په طریقه دَ احتمال سره. فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ مَوْلٰىهُ جزاء په اصل کښ پټه ده یعنی ضرر نه شی ورکولے تظاهر ستاسو ځکه چه الله تعالیٰ مددګار دَ دهٔ دے.

وَجِبْرِيْلُ اه غوره دا ده چه دا مبتدا ده او ما بعد په دے باندے عطف دے او ظهیر ئے خبر دے او هغه جنس په معنی دَ جمع سره دے او مفرد ئے دَ دے وجے نه ذکر کړو چه دَ دوی په مینځ کښ پوره اتحاد او اتفاق دے ګویا که یو دی.

وَصَالِحُ الْمُؤْمِنِيْنَ صالح اسم جنس دے ټول مؤمنان سابقین او روستنی ټول پکښ داخل دی چه هغوی اکرام دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم کوی او په هغه باندے درود وائی او دَ هغه دَ سنت تابعداری کوی. جبرئیل ئے اول ذکر کړو ځکه چه هغه هر وخت دے نبی ته وحی راوړله په اِذن دَ الله تعالیٰ سره او وروستو مؤمنین ذکر کړل چه هغوی دغه وحی لولی او اتباع دَ رسول سره مکلف دی او نور ملائک ئے روستو ذکر کړل ځکه چه دَ هغوی دَ نبی صلی الله علیه وسلم سره دَ جبرئیل او دَ صالح المؤمنین نه تعلق کم دے. بَعْدَ ذٰلِكَ دا اشاره ده تظاهر ته یا اشاره ده ولایت دَ الله تعالیٰ ته بِنا په اول باندے علتیت ته اشاره وه او بِنا په دویم باندے اشاره ده چه مدد دَ الله تعالیٰ دَ هر چا مدد نه غټ دے.

۵ په دے کښ تنبیه او تحذیر دے بیبیانو دَ نبی صلی الله علیه وسلم ته په تطلیق او تبدیل سره کله چه دوی توبه او نکړی او تظاهر کوی. لیکن دوی توبه کړیده او تظاهر ئے پریخودلو نو نبی صلی الله علیه وسلم دوی لره طلاق نه دے ورکړے او روایت دَ طلاق دَ حفصه رضی الله عنها ثابت نه دے. عَسٰى رَبُّهٗٓ عسی دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه دَ وجوب دَ پاره وی لیکن په هغه وخت چه څه تعلیق نه وی

يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْٓا اَنْفُسَكُمْ وَاَهْلِيْكُمْ

اے ایمان والو بچ کوئے ځانونه خپل او بال بچ خپل

او دلته ئے خو په شرط پورے معلق کړے دے، شرط دا دے اِنْ طَلَّقَكُنَّ لیکن نبی صلی الله علیه وسلم طلاق نه دی ورکړی ۔ اَنْ يُّبْدِلَهٗٓ اَزْوَاجًا په زنانه بانده تطلیق لوئے مصیبت وی او روستو دَ طلاق نه بله ښځه په بدل کښې نکاح کول خو ډیر زیات مصیبت او غم وی دَ دے وجے دا دواړه کارونه (تطلیق او ابدال) ئے ذکر کړل ۔ خَيْرًا مِّنْكُنَّ ۔(سوال) دا دلالت کوی چه دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ ازواجو نه نورے زنانه هم غوره شته ؟

جواب:۔ دا دلالت نیشته ځکه چه ابدال دَ غوره ښځے په طریقه دَ فرض (تقدیر) سره ده نه په طریقه دَ وقوع سره یعنی که بالفرض ازواج دَ نبی صلی الله علیه وسلم تظاهر کوی او عصیان کوی نو ضرور راتلونکی صفتونو والا زنانه به دَ دوی نه غوره وی لیکن توبے ئے اُویستلے او تظاهر دَ نبی صلی الله علیه وسلم ئے پریخودلو او راتلونکی صفتونه پکښې ټول موجود وُو نو معلومه شوه چه دَ هغوی نه نورے زنانه غوره نیشته او بل دلیل دا دے چه که دَ ازواج مطهرات دَ نبی صلی الله علیه وسلم نه نورے زنانه غوره وے نو بیا لازمیږی چه الله تعالی نبی خپل لره ترمرګه پورے دَ ناقصو (چه غوره نه وی) زنانو سره اوساتلو او اولے او اعلے صفت نه ئے محروم کړو او دا خو باطله خبره ده نو یقیناً معلومه شوه چه ازواج دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ ټولو زنانو نه غوره دی او تفاضل دَ آسیه رضی الله عنها ښځه دَ فرعون او دَ مریم رض لور دَ عمران او خدیجه رضی الله عنها او عائشه رضی الله عنها او دَ فاطمه رضی الله عنها په تفصیل سره په کتابونو دَ عقیدے کښې ذکر دے په هغې کښې اوګورے ۔ مُسْلِمٰتٍ دا شپږ صفتونه دَ کمال دَ عبدیت دی په انسان کښې که نارینه وی او که زنانه وی او روستے صفت دَ عبدیت سره تعلق نه لری اشاره ده چه هغه صفت ځان له سبب دَ کمال او دَ افضلیت نه دے ځکه چه بعض ثیبه زنانه دَ نیک عمل او عقیدے په سبب دَ جاهلے بکرے (ځوانے) نه ښه وی ۔ مُسْلِمٰتٍ اسلام چه دَ ایمان نه وړاندے ذکر شی په دے کښې اخلاص دَ پوره انقیاد سره مراد وی او اخلاص دَ تصدیق دَپاره شرط دے دَ دے وجے نه وصف دَ اسلام ئے (راتے په بل مخ)

نَارًا وَّقُوۡدُهَا النَّاسُ وَالۡحِجَارَةُ عَلَيۡهَا مَلٰٓـئِكَةٌ

دَ اور نه چه خشاک دَ هغې خلق دی او ګټې دی په هغې اور بانسې مقرر دی ملائک

غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعۡصُوۡنَ اللّٰهَ مَاۤ اَمَرَهُمۡ

سخت (طبیعت والا) طاقتور نافرمانی نه کوی دَ الله تعالیٰ نه دَ هغې چه امر ئې کړے وی دوی ته

وَيَفۡعَلُوۡنَ مَا يُؤۡمَرُوۡنَ ۞ ﴿۶﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ

او کوی دوی هغه څه چه دوی ته حکم ورکیدیشی - (او به ویلے شی) اے کفر

په ایمان بانډے مقدم ذکرکړو۔ قَانِتَاتٍ مراد دَدے نه طاعة دَ الله تعالیٰ او د رسول دَ هغه دے په پوره اطاعت سره نو ټول اعمالِ صالحه کول او دَ منهیاتو نه بچ کیدل پدے کښ داخل دی تَائِبَاتٍ مخکښی صفات ثبوتیه دی او دا صفت سلبیه دے یعنی ګناهو نه نه کول او که چرے ګناه اوشی نو دَ هغې نه توبه کول او اشاره ده چه دَ خاوند په باره کښ څه نامناسب خبرے کړے وی نو دَ هغې نه توبه کوی۔ عَابِدَاتٍ په دے وصف کښ اشاره ده چه مخکښی صفتونه دَ خپل طبیعت په وجه سره یا دَ ریا په وجه یا دَ نفاق په طریقه سره نه کوی بلکه دَ الله تعالیٰ دَ عبدیت په سبب سره ئې کوی.

سَائِحَاتٍ سیاحت په اصل کښ ګرځیدل په زمکه کښ دی او مفسرینو دَ دے درے معانی ذکر کړے دی روژے نیوونکے، هجرت کوونکے، ګرځیدونکے دَ طاعت دَ پاره او قاسمی ویلے دی چه هغه آیاتونه چه په هغې کښ دَ سیر فی الارض ذکر راغلے دے لکه سورة حج ۴۶ او سورة غافر ۲۱ او سورة روم ۹ دغه صفت لکه چه نارینو دَ پاره ضروری دے نو زنانو دَ پاره هم ضروری دے. ثَيِّبَاتٍ وَّاَبۡكَارًا اشاره ده چه دَ نبی صلی الله علیه وسلم ازاواج هم دواړه قسمونه وے بعضِ بکرے او اکثر ثیبې وے۔

۶ هرکله چه مخکښ حاصل داوو چه په ښځه بانډے دَ خاوند حق واجب دے دَ هغه رازونه به نه خوروی دَ هغه مقابله کښ په تظاهر نه کوی بلکه ځان کښ به دَ صالحو زنانو صفتونه پیدا کوی نو اوس دَ ښځو حق په خاوند بانډے ذکر کوی۔ قُوۡۤا اَنۡفُسَكُمۡ وَاَهۡلِيۡكُمۡ نَارًا معطوف او معطوف علیه دواړه په وقایت کښ شریک دی لیکن په طریقه دَ وقایت کښ فرق دے هغه دا چه ځان به بچ کوی دَ اور نه په اتباع دَ قرآن او سنت سره او په طاعاتو کولو او پریخودلو

كَفَرُوْا لَا تَعْتَذِرُوا الْيَوْمَ ۖ اِنَّمَا تُجْزَوْنَ

دالو	بهانے مه کوئے	نن ورځ -	یقیناً	بدله درکیدیشی تاسو ته

دَ معاصی سره او اهل به بچ کوی په امر بالمعروف او نهی عن المنکر سره او په
ادا بو خودلو سره په عامو حالاتو کښ او مونځ خودلو او امر کولو سره مخکښ دَ بلوغ
نه. وَقُوْدُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ (سوال) چه په انسانانو سره بلیږی او دوی ئے خشاک
دے نو هر کله چه دوی ورته نه دی داخل شوی نو خشاک څه خیز وو ځکه چه اور
خو دَ مخکښ نه بل دے، او دا رنګ هر کله چه دوی خشاک دے نو مقصد دَ بلولو
څه دے؟ (جواب) په څو وجوهو سره دے اول دا چه کلام په طریقه دَ تشبیه بلیغ
سره دے یعنی الناس والحجارة مثل الوقود دوی به دَ خشاک په شان سوځیږی.
دویمه وجه دا ده چه مخکښ دَ دخول دَ انسانانو نه دوی ئے خشاک دے او عبارت[م]
کښ تقدیم تاخیر دے. دریمه توجیه دا ده چه سبب دَ بلیدلو دَ اور عابدانو او
معبودان باطله دی چه اکثر دَ کڼو نه جوړ کړے شویدی. النَّاسُ مراد دَ دوی نه
کافران مشرکان دی په دلیل دَ ایت دَ سورة العمران ۱۰ او سورة بقره ۲۴ سره.
او مؤمنان ګنهګاران چه الله تعالیٰ هغوی ته معافی او نکړی هغوی به هم اور ته
داخلیږی لیکن دَ خشاک پشان به پکښ نۀ سوځیږی اندامونه دَ سجدے به
بچ وی لکه چه حدیث صحیح کښ راغلے دی. وَالْحِجَارَةُ دا لفظ عام دے جنس
کڼې ته چه دَ هغے اور ډیر ګرم وی او کڼې دَ کوګړو (کبریت) چه دَ هغے اور تیز او
بدبوئیه وی او هغه کڼې چه دَ هغے عبادت کړے شوے دے بتان ئے دَ هغے
نه جوړ کړے دی یا ئے په قبرونو باندے لګولے دی او مشرکانو هغے لره
سبب دَ نفع او ضرر ګنړلے وی.
سوال:۔ په سورة بقره ۲۴ کښ النار ئے معرفه په الف لام سره او صفت دَ هغے
ئے معرفه په التی سره ذکر کړیدے او په دے سورت کښ نکره ده وجه دَ
فرق څه ده؟
جواب:۔ الف لام دلالت کوی په کمال او مبالغه باندے او نکره دلالت کوی په قلت
او تخفیف باندے نو سورة بقره کښ خطاب دے مؤمنانو ته چه هغه مبالغه او
سختی نه غواړی. عَلَيْهَا مَلٰٓئِكَةٌ عدد دَ هغه ملائکو په سورة مدثر ۳۰ کښ
ذکر کړے دے. او نوم دَ هغوی زبانیه په سورة علق ۱۸ کښ (راځے په بل مخ)

[م] مقدم دَ هغه خشاک دَ اور وسته دَ دخول دَ انسانانو نه دوی

مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ⑦ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ع ۱ ۱۹

دَ هغه عملونو چه تاسو کوئے ۔ اے ایمان والو

تُوْبُوْٓا اِلَى اللّٰهِ تَوْبَةً نَّصُوْحًا ۭ عَسٰى رَبُّكُمْ

توبے اوباسئ الله تعالیٰ ته توبے اخلاص والا امید دے چه رب ستاسو به

کښ ذکر دے غِلَاظٌ زړونه ئے سخت دی په جهنم والو باندے نه ترسیږی اگرچه هغوی ترینه دُعا غواړی خوراک اوڅښاک غواړی ۔ شِدَادٌ مضبوط بدنونو اوانداموتو والادی اویو روایت قرطبی ذکر کړے دے چه دَ دے ملائکو دَ دواړه اوګوترمینځ دومره فاصله به وی لکه دَ مشرق نه ترمغربه پورے ۔ لَا يَعْصُوْنَ اللّٰهَ مَآ اَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُوْنَ مَا يُؤْمَرُوْنَ فرق دَ دواړه جملو دا دے چه مراد دَ اول نه دا دے چه انکار دَ اوامرو دَ الله تعالیٰ نه نه کوی او مراد دَ دویم دا دے چه عمل کوی په ماموراتو باندے ۔ دویم فرق دا چه اوله جمله په باره دَ زمانه ماضی کښ ده او دویمه په باره دَ زمانه مستقبله کښ ده. دریم فرق دا دے چه دَ اولے جملے معنیٰ دا وه چه خلاف نه کوی دَ الله تعالیٰ نه دَ هغه کارونو چه امرئے په باره دَ اجتناب دَ هغے کښ کړے دے چه منهیات دی او عمل کوی په ماموراتو باندے نو په اوله جمله کښ اجتناب دَ منهیاتو نه مراد دے او په دویمه کښ امتثال دَ اوامرو مقصد دے ۔ او دا ټول صفتونه دلالت کوی چه دَ دغه ملائکو نه په هیڅ طریقے سره بچ کیدل نشی کیدلے نه په رحم درخواست سره او نه په مقابلے کولو دَ هغوی سره او نه په رشوت اخستلو او مخالفت دَ حکم دَ الله تعالیٰ سره او نه په رعایت سره په کموالی دَ عذاب کښ .

ک دا ایت هم دَ تخویف اخروی سره تعلق لری او دفع دَ وهم ده که څوک اوائی چه دَ ملائکو نه خو نشی بچ کیدلے لیکن کیدے شی چه الله تعالیٰ ته عذرونه پیش کړی او هغه ورله عذرونه قبول کړی نو په دے ایت کښ جواب دے. يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا دلته عبارت داسے دے وَيُقَالُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ راویلے به شی دوی ته په ورځ دَ قیامت) چه اے کافرانو نن ورځ بهانے مه کوئے. نن دَ جزا دَ خپل عملونو نه نشئ بچ کیدلے.

أَن يُكَفِّرَ عَنكُمْ سَيِّـَٔاتِكُمْ وَيُدْخِلَكُمْ جَنَّٰتٍ

لرے کړی ستاسو نه بدئ ستاسو او داخل به کړی تاسو جنتونو ته

تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ يَوْمَ لَا يُخْزِى ٱللَّهُ

چه بهیږی لاندے دَ هغے نه دَ لے په هغه ورځ چه نه به شرمنده کوی الله تعالیٰ

ٱلنَّبِىَّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَعَهُۥ ۖ نُورُهُمْ يَسْعَىٰ بَيْنَ

نبی لره او هغه کسانو لره چه ایمان ئے راوړے دے دَ هغه په ملګرتیا کښ ـ رڼړا دَ دوی به منډے وهی

أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَٰنِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَتْمِمْ لَنَا

مخے دَ دوی ته او په ښی طرفونو دَ دوی دوی به وائی اے ربه زمونږ پوره اوساتے مونږ لره

نُورَنَا وَٱغْفِرْ لَنَآ ۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ⑧

رڼړا زمونږ او بخښنه اوکړے مونږ ته یقیناً ته په هر څیز باندے قدرت والا ئے.

ﮩ هر کله چه مخکښ ایت کښ معلومه شوه چه دَ عذاب دَ الله تعالیٰ نه په بهانو سره نجات نه حاصلیږی بلکه صرف په توبه سره نو اوس ترغیب ورکوی توبه کولو ته او توبه کول فرضِ عین دی په هر حالت کښ او خصوصًا په حالت دَ ګناه کولو کښ ـ

تَوْبَةً نَّصُوحًا دا دَ نصح نه ماخوذ دے دَ خیری نه پاکول یا په معنیٰ دَ جامے ګنډلو سره دے نو په اوله معنیٰ سره اخلاص په توبه کښ مراد دے او په دویمه معنیٰ سره دا مناسبت دے چه په ګناه کولو سره تعلق دَ الله تعالیٰ سره او شلیدلو نو دا سے توبه پکار ده چه هغه بیا اوګنډلے شی او دَ توبه نصوح په تعریف شرعی کښ قرطبی درویشت [۲۳] اقوال ذکر کړے دی۔

او ابن کثیر دا قول غوره کړے دے چه توبه نصوح دا ده چه ګناه کول فی الحال پریږدی او په تیر شوی باندے پښیما نه شی او عزم اوکړی چه ګناه به نه کوی په مستقبل کښ او که حق دَ بنده وی نو هغه دِے ادا کړی او په توبه نصوح کښ دا اختلاف دے چه آیا دا شرط دے چه تر مرګه پورے به دغه ګناه نه کوی او یا دا چه عزم اوکړی چه بیا به ئے نه کوی ا

ظاهر دَ نور روایاتو نه دویم قول دے او په دے مقام کښ رپاتے په بل مخ)

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ جَٰهِدِ ٱلْكُفَّارَ وَٱلْمُنَٰفِقِينَ وَٱغْلُظْ

اے نبی جهاد کوه دَ کافرانو سره او دَ منافقانو سره او سختي اوکړه

عَلَيْهِمْ ۚ وَمَأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ⑨

په دوی باندے او ځائے دَ دوی جهنم دے او بد ځائے دَ ورګرځیدلو دے.

واقعه دَ نصوحا شخص موضوعي واقعه ده دَ ایت سره دَ هغې تعلق نیشته.
عَسَىٰ رَبُّكُمْ عسٰی دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دَ یقین دَ پاره دے او په دے کښ دَ توبه نصوح دوه فائدے ذکر کوی اول دفع دَ ضرر چه سیئات معاف کیدل دی او دویم جلب دَ منفعت چه جنتونه او رنړا حاصلول دی. لَا يُخْزِي ٱللَّهُ ٱلنَّبِيَّ دَ دے ذکر دَ دے سورت په تیر شوے ایاتو نو سره مناسبت لری یعنی الله تعالیٰ خپل نبی دنیا کښ نه رسوا کوی بلکه دَ هغه مدد کوی لکه چه فان الله هو مولاه کښ ذکر شول نو دا رنګ په اخرت کښ ئے هم نه شرمنده کوی وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ هغه مؤمنان چه په دُنیا کښ ئے دَ نبی صلی الله علیه وسلم ملګرتیا کړیده لکه چه صالح المؤمنین مخکښ تیر شول. نُورُهُمْ يَسْعَىٰ اه دا سے په سورة حدید ۱۲ کښ ذکر شویدی او شمائلهم ذکر ئے نه دے کړے دَ دے وجے نه چه هغه طرف ته منافقان او کافران او جهنم دے یا دَ هغې ذکر ئے مقایسته پرېښودلے دے.
أَتْمِمْ لَنَا نُورَنَا په دے ایت کښ نور دَ اتباع دَ رسول او دَ توبة نصوح دے هر کله چه دَ منافقانو نور ناقص دے دَ دے وجے نه مؤمنان دَ اتمام نور دُعا غواړی.
وَٱغْفِرْ لَنَا دُعا دَ مغفرت هر وخت دَ تعبّد دَ پاره ده اګرچه ګناهونه دَ دوی معاف کړے شویدی یا مراد دَ مغفرت نه بخښش دَ صغائرو دے په دے خوف سره چه چرته دَ اتمام دَ نور نه مانع او نه ګرځی.
۹ دا دویم خطاب دے نبی صلی الله علیه وسلم ته ربط ئے اول خطاب سره دا دے چه اے نبی دَ مخلوق او دَ بیبیانو دَ رضا کولو کوشش مکوه بلکه هغوی ته دعوت ورکړه او دَ کافرانو او منافقانو سره جهاد اوکړه دا ډیر اهم دے دا رنګ ذکر شوه نرمی دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ کمزورے مخلوق سره چه زنانه دی نو اوس هغه ته حکم ورکوی په سختئ کولو دَ ناکاره خلقو سره.
جَٰهِدِ ٱلْكُفَّارَ وَٱلْمُنَٰفِقِينَ دا رنګ په سورة توبه ۷۳ کښ هم ذکر شوے دے؛

ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوا امْرَاَتَ نُوْحٍ

بیان کړیدے اللہ تعالیٰ مثال کافرانو لره د ښځې د نوح علیه السلام

وَّامْرَاَتَ لُوْطٍ ؕ كَانَتَا تَحْتَ عَبْدَيْنِ مِنْ

او د ښځې د لوط علیه السلام وے دا دواړه په نکاح د دوه بندګانو کښ د

عِبَادِنَا صَالِحَيْنِ فَخَانَتٰهُمَا فَلَمْ يُغْنِيَا عَنْهُمَا

بندګانو زمونږ نه چه نیکان وو نو نقصان اوکړو دوی د هغوی سره نو دفع نه کړو هغوی د دوی نه

مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا وَّقِيْلَ ادْخُلَا النَّارَ مَعَ الدّٰخِلِيْنَ ﴿۱۰﴾

د عذاب د اللہ تعالیٰ نه هیڅ څیز او اویلے شو داخلے شئ اور ته سره د داخلیدونکو نه ۔

جهاد عام دے د قتال نه۔ هر قسم کوشش او محنت صرف کول د پاره د اشاعت او د غلبے د دین حق ته جهاد ویلے شی وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ دا متعلق دے د المنافقین سره او مراد د دے نه د دوی اوصاف قبیحه ذکر کول دی دوی ته زور نه ورکول او په دوی باندے حدود شرعیه قائمول دی او دا امور د ښکاره کافرانو سره نیشته یا وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ متعلق دے د دواړو سره نو مراد د دے نه تشدد او کلک والے دے په دین کښ مقابله د دواړه ډلو کښ په اقامة د حجة سره په دواړو باندے او په تخویفاتِ دنیویه او اخرویه ذکر کولو سره۔

ننا په دے کښ تنبیه ده زنانو ته پشان د ابتدا د سورت په ایمان او توحید او په اتباع د رسول صلی اللہ علیه وسلم سره یعنی که اے زنانو ستاسو خپله ایمان او عمل صالح نه وی نو د خاوندانو عمل تاسو ته فائده نه ورکوی او دا رنګ دا هم یو تفسیر د جَاهِدِ وا او د وَاغْلُظْ دے او جواب د وهم دے چه ایا مشرکانو زنانو او سړو ته د موحدینو خپلولی څه فائده ورکوی ؟

حاصل د جواب دا دے چه خپلولی د نیکانو هیڅ فائده نه ورکوی کله چه د نیکانو نه په عقیده او عمل کښ مخالفت وی لکه چه ښځې د نوح علیه السلام او ښځې د لوط علیه السلام ته زوجیت د پیغمبرانو هیڅ فائده ورنکړه۔

امْرَاَتَ نُوْحٍ وَّامْرَاَتَ لُوْطٍ لفظ د زوجه ئے نه دے وئیلے ځکه چه د دوی د خاوندانو سره موافقت د عقیدے نو وو صرف نکاح وو (رپاتے په بل مخ)

وقف لازم

وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا امْرَاَتَ فِرْعَوْنَ

او بیان کړیدے الله تعالیٰ مثال مؤمنانو لره د ښځې د فرعون

اِذْ قَالَتْ رَبِّ ابْنِ لِيْ عِنْدَكَ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ

کوم وخت چه اُوئیل هغې اے ربه زما جوړ کړے مالره ستا په خوا کښې کوټه په جنت کښې

وَنَجِّنِيْ مِنْ فِرْعَوْنَ وَعَمَلِهٖ وَنَجِّنِيْ مِنَ الْقَوْمِ

او بچ اوساتے مالره د فرعون او د عمل د هغه نه او بچ اوساتے مالره د قوم

او زوجه هغه مقام کښې ذکر کیږی چه د ښځې او خاوند موافقت وی۔

كَانَتَا تَحْتَ عَبْدَيْنِ اه په دے تعبیر کښې اشاره ده چه د دوی د هغوی سره شپه او ورځ محبت وؤ او ژوند د یو بل سره تیرول وؤ خدمت او د نکاح فائدے اخستل وؤ۔

او عبدین او صالحین دلالت کوی چه د انبیاء علیهم السّلام کمال هم دا دے چه په هغوی کښې عبدیت د الله تعالیٰ د پوره اطاعت سره موجود دے۔

فَخَانَتَاهُمَا ابن کثیر ویلے دی چه مراد د خیانت نه فاحشه او بدکاری کول نه دی ځکه د انبیاؤ بیبیانے د زنا نه پاکے دی اګرچه کفر او شرک یا نفاق پکښې وؤ او قرطبی ویلے دی چه دا د مفسرینو اجماع ده۔ ”چه د دے دواړو خیانت دا وؤ چه د خاوندانو نه ئے پټ کفر او شرک کوؤ۔ او د هغوی رازونه به ئے د هغوی دشمنانو ته رسول“۔

فَلَمْ يُغْنِيَا عَنْهُمَا اه قرطبی ویلے دی چه دا تنبیه ده چه عذاب د الله تعالیٰ په طاعت سره دفع کیږی په وسیلو سره نه دفع کیږی او رد دے په مشرکانو باندے چه هغوی وائی چه نبی صلی الله علیه وسلم به زمونږ د پاره شفاعت کوی۔

وَقِيْلَ دا قول د الله تعالیٰ او د ملائکو د طرف نه دے د دے وجے نه فاعل ذکر کولو ته حاجت نیشته۔

مَعَ الدّٰخِلِيْنَ اشاره ده چه د دوی نسبت هغه انبیاؤ ته په شان د نورو مشرکانو پردو خلقو شو چه هغوی اور ته داخلیږی او د انبیاؤ شفاعت ورته هیڅ فائده نه ورکوی نو د غسے شان د دے بیبیانو هم اوګرځیدلو۔

الظّٰلِمِيْنَ ﴿١١﴾ وَمَرْيَمَ ابْنَتَ عِمْرٰنَ الَّتِيْٓ

ظالمانو نه (او بیان کړیدے مثال) دَ مریم لور دَ عمران هغه زنانه

ک داجواب دَ دویم وهم دے چه آیا نیکانو نارینو او زنانو ته دَ مشرکانو خپلولی ضرر ورکولے شی؟ حاصل دَ جواب دا دے چه هرکله دَ انسان عمل صالح وی نو دَ مشرک سره خپلولی او نکاح وغیره مؤمن ته هیڅ ضرر نه ورکوی او دا دَ پوهے دَ مؤمنانو دَپاره دویم مثال دَے دَدے وجے نه په دے کښ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اُوئیلے شو او دا رنګ په دے مثال کښ تشجیع ورکول دی مؤمنانو ته چه زنانه دَ فرعون دَ دینِ حق او اتباع دَ موسٰی علیه السلام دَپاره خپل څومره شجاعت ښکاره کړو او آخرکار شهیده کړے شوه نو اے مؤمنانو په تاسو هم واجب دی چه دَ توحید دَپاره داسے شجاعت ښکاره کړئ۔

اِمْرَاَتَ فِرْعَوْنَ دلته هم دَ نبيٌّ خاوند په کورنئ کښ مخالفت دَ عقیدے دے دَ دے وجے نه زوجه یئے نه ده ذکر کړے۔ او په دے دواړو مثالونو کښ تعریض دے عائشه او حفصه رضی الله عنهما ته په اول کښ تحذیر دَے چه دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ مخالفت نه ځان بچ اوساتی او په دویم کښ ترغیب دے طاعت ته پشان دَ امرأة فرعون او دَ هغے نوم آسیه لور دَ مزاحم وه او په موسٰی علیه السلام یئے ایمان راوړے وُو۔ او فرعون دے لره قسما قسم سزا ګانے ورکولے او آخرکار یئے دَ هغے لاس او خپے اوتړلے او په سخت نمر کښ دَ هغے په بدن بانده ګرمے تنے کیخودلے او په لاسونو او خپو یئے ورله میخونه ټک وهل په دغه سخت حالت کښ هغے دا دُعا اوغوښتله رَبِّ ابْنِ لِيْ عِنْدَكَ بَيْتًا الخ دلیل دے چه په داسے حالت کښ الله تعالٰی ته تضرّع کول ډیره فائده ورکوی او لفظ دَ عندك کښ اشاره ده هغه قول مشهور ته چه اُطْلُبِ الْجَارَ قَبْلَ الدَّارِ (دَ کور نه وړاندے دَ همسایه معلومات اوکړه)۔

وَنَجِّنِيْ مِنْ فِرْعَوْنَ "دَ دهٔ دَ مجلس او دَ نکاح نه"۔

وَعَمَلِهٖ مراد دَ دے نه عمل دَ کفر او دَ شرک دَ هغه دے یا دَ هغه دَ طرف نه عقوبت او ظلم کول دی۔

مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ مراد دَ دے نه قوم دَ فرعون دے چه هغه ټول ظالمان وُو په سبب دَ کفر او شرک، او ظلم کوُنکی وُو په مؤحدینو بنی اسرائیلو بانده یا مراد دَ دے نه صرف هغه کسان دی چه دَ فرعون په امر یئے سزا ورکوله دغه بی بی ته۔

أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيهِ مِن رُّوحِنَا

چه ښځ یئ اوساتلو عورت خپل نو پو کے اوکړو مونږ په هغے کښ د روح د طرف نه زمونږ نه

وَصَدَّقَتْ بِكَلِمَٰتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهِۦ وَكَانَتْ

او تصدیق کړے وو ډے د کلمو د رب خپل او د کتابونو د هغه او دا وه

مِنَ الْقَٰنِتِينَ ﴿۱۲﴾ ع

د پوره تابعدارے کوونکو نه۔

۱۲ دا دویم مثال دے د پاره د اهل ایمان او په دے کښ هم اول مقصد داد ے چه دشمنانو (یهودیانو) په مریم علیها السلام باندے طعنونه لګول لیکن هرکله چه هغه پاکدامنه وه او په کلماتو د الله یقین کوونکے وه نو طعنونو د دشمنانو هغے ته هیڅ ضرر ورنکړو د هغے په درجه عند الله کښ هیڅ نقصان رانغے دا رنګ مؤمن صالح داعی الی الله باندے که دشمنان د دین طعنونه او بهتانونه لګوی خو چه د هغه لمن پاکه وی او په کتاب د الله تعالی باندے کلک وی نو هغه ته هیڅ ضرر او نقصان نشی رسولے۔ دارنګ په دے کښ تشجیع ده مؤمنانو ته چه یو زنانه (بے خاونده) د الله تعالی د دین د پاره په ځان باندے مصیبتونه تیروی او دین بیانوی نو تاسو باندے خو د هغے نه زیات کوشش صرف کول پکار دی ځکه چه نارینه یئ او ابن قیم رحمه الله اعلام الموقعین کښ د دے امثالوخه تشریح کړے ده حاصل یئ داد ے چه په دے کښ د درے قسمونو زنانو ذکر دے اول قسم هغه چه خاوند یئ مؤمن وی او ښځه کافره وی نو ایمان د هغهٔ دِے ښځے ته فائده نه ورکوی۔ دویم قسم هغه زنانه چه خاوند یئ کافر وی او دا مؤمنه وی نو د خاوند کفر دیته ضرر نه رسوی۔ دریم هغه چه خاوند یئ نیشته نه مؤمن او نه کافر نو دا سے ښځے ته عدم د خاوند هیڅ ضرر نه ورکوی۔ الَّتِيٓ أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا اشاره ده چه یهودیانو په دے باندے په دروغه طعن د بد کارئ لګولے وو داخو پاکدامنه وه بلکه د نکاح او زنا دواړو نه یئ خپل ځان بچ ساتلے وو۔ فَرْج نه مراد ګریبان د هغے د قمیص دے ځکه نفخ د روح د هغے په ګریوان کښ کړے شوے وو یا مراد د فرج نه معنی معروفه ده او فِيهِ کښ مضاف محذوف دے یعنی فی جیب درعها او دا سے په سورة الانبیاء ۹۱ کښ تیر شوی دی۔

سوال :- په هغه سورت کښې ضمیر مؤنث (فیها) ذکر دے او دلته ضمیر مذکر دے؟
جواب :- لفظ دَ فرج مذکر او مؤنث دواړه استعمالیږی نو دَ لفظ دَ دواړه جهتونو حق ادا کړے شو لکه لفظ دَ نفس شو. بیا هر کله چه په سورة الانبیاء کښې لفظ مریم او بنت ئے نه وؤ ذکر کړے نو ضمیر دَ مؤنث ئے ذکر کړو دَ پاره دَ دفع کولو دَ احتمال دَ تذکیر او په دے ایت کښې مریم او بنت صراحةً موجود دی نو ضمیر دَ مؤنث ته ضرورت نه راځی فَنَفَخْنَا دَ دے نه مخکښې اَرْسَلْنَا اِلَيْهَا جِبْرَئِيل فَتَمَثَّلَ لَهَا مقدر دَے په قرینه دَ سورة مریم ۱۷ سره. وَصَدَّقَتْ بِكَلِمَاتِ رَبِّهَا امام فراء وئیلے دی چه مراد دَ دینه احکام شرعیه دَ الله تعالیٰ دی چه په ذریعه دَ کلماتو سره په تورات او انجیل کښې نازل کړے شوی وؤ. او کلمات دَ جبریل چه په سورة مریم ۱۹ ۲۱ ۲۲ کښې ذکر دی هغه هم پکښې داخل دی او دَ دے صفت دَ وجه نه مریم ته صِدِّيقه ویلے کیږی او دا مقام دَ کمال دَ ایمان دے. وَكَانَتْ مِنَ الْقَانِتِينَ دا مرتبه دَ کمال دَ عمل ته اشاره ده یعنی قوّةِ علمیه ایمانیه او عملیه پکښې درے واړه کامل وؤ. وَكَانَتْ بخپله معنی سره دے او مراد دا دے چه دَ عمل په لحاظ سره دا دَ قانتینو نه وه او مِنْ په دے معنی سره تبعیضیه دے یا كَانَت په اعتبار دَ ولادت او دَ نسب سره دے او من په معنی دَ ابتدا سره دَے او القانتین نه مراد خاندان دَ دے دے چه اولاد دَ هارون علیه السّلام په بنی اسرائیل کښې په ډیرے تقوی او قنوت سره مشهور وؤ.
سوال :- القانتین مذکر ذکر شو دَ دے وجه څه ده؟
جواب :- لفظ دَ قوم پټ دے یعنی قوم قانتین یا اشاره ده چه دَ دے اطاعت او اخلاص خالص پشان دَ نارینو وؤ په شجاعت او حسنِ بیان کښې.
الحمدلله، ختم شو تفسیر دَ سورة تحریم، ثم الحمد لله چه اتم جلد اختتام ته اورسیده و.

یا الله دَ دے تفسیر په لیکونکو رحم اُوکړے آمین.

کاتب :- ارقم جان
کلے خس ره خیل بخشی پل
پیښور

تفسیر د پي ډي ایف ډول جوړونکے
عابد منصور مردانوي.........................
تحریک طالبان پاکستان حلقه مردن....
کلے ګلي باغ (بخشالي)ضلع مردان....

فهرست تفسير احسن الكلام جلد ٨

نمبرشمار	عنوان	صفحه
	سوره الاحقاف	
١:	ربط،دعوی اوخلاصه دسورت احقاف	١
٢:	موده درضاعت	١١
٣:	فائدے متعلق د ٢٠ آیت سره	١٦
٤:	تفسیرد الاحقاف	١٧
٥:	اتخذ ومن دون الله تفسیر	٢١
٦:	طریقه د دعوت	٢٢
٧:	مسئله د جناتو د خول جنت ته	٢٣
	سوره محمد	
٨:	ربط،دعوی اوخلاصه	٢٧
٩:	درے حالات د شهیدانو	٣٠
١٠:	دوه حالات د کافرانو	٣٢
١١:	تقابل دفریقینو په جزا کنبې	٣٥
١٢:	واړه علامات دقیامت	٣٨
١٣:	مقصد د مثال	٣٩
١٤:	څلور حالات د منافقینو	٤٠
١٥:	نتائج د اعراض د کتاب الله نه۔	٤١
١٦:	دوه فائدے متعلق د ٢٣،٢٤ آیت سره	٤٢
١٧:	سوال جواب متعلق د ٣٠ آیت سره	٤٦
١٨:	لعبٌ ولهوٌ مفهوم	٤٩
	سوره فتح	
١٩:	ربط،دعوی اوخلاصه	٥٢
٢٠:	فائدے متعلق د ٢،٣ آیت سره	٥٣
٢١:	انزال دسکینے په مؤمنانو باندے	٥٥
٢٢:	مسئله د زیادت د ایمان۔	٥٥
٢٣:	څلور فائدے متعلق د ٩ آیت سره	٥٩
٢٤:	ید الله معنی	٦٠
٢٥:	واقعه د بیعت رضوان	٦٨
٢٦:	لس صفات د صحابه کرامو۔	٧٨
	سوره الحجرات	
٢٧:	ربط،دعوی اوخلاصه	٨٣
٢٨:	مراد دفاسق نه	٨٩
٢٩:	د ظن معاني	٩٨

نمبرشمار	عنوان	صفحه
	سورت ق	
۳۰:	ربط،دعوی او خلاصه	۱۰۹
۳۱:	دقیامت د اثبات مقصاصد۔	۱۱۵
۳۲:	دقوم تُبّع حکمتونه	۱۱٦
۳۳:	دقرآن مجید نه د فائدے اغستلو دوه وجے۔	۱۳۱
۳٤:	پینځه امرونه د پاره دتشجیع دد اعی۔	۱۳۲
	سوره الذاریات	
۳۵:	ربط،دعوې،خلاصه	۱۳۷
۳٦:	د منکرینو ۵ خبائث	۱۳۹
۳۷:	اداب د میلمستیا	۱٤۷
۳۸:	عذاب په عادیانو	۱۵۳
	سوره الطور	
۳۹:	ربط،دعوی،خلاصه	۱٦۰
٤۰:	اتباع د اولاد په ایمان سره۔	۱٦۵
٤۱:	معنی دریب المنون	۱٦۸
٤۲:	مراد د ادبار النجوم	۱۷٤
	سوره النجم	
٤۳:	ربط،دعوی،خلاصه	۱۷۵
٤٤:	فرق په مینځ د ضلال اوغوایت کښې	۱۷٦
٤۵	رؤیت د الله تعالیٰ یاجبریل۔	۱۷۹
٤٦:	ذکر دلت،عزا،منات	۱۸۲
٤۷:	اقوال په تفسیر د "الالمم"کښې۔	۱۸۹
٤۸:	مراد د صحف موسیٰ	۱۹۱
٤۹:	دخپل عمل ثواب بل چاته دبخلو عقیده	۱۹۲
۵۰:	صفات د الله تعالیٰ د پاره دثبوت د الوهیت	۱۹۵
۵۱:	فرق په مابین د اغنیٰ او اقنیٰ کښې۔	۱۹٦
۵۲:	تفسیر دربَ الشعری	۱۹٦
	سوره القمر	
۵۳:	ربط،دعوی،خلاصه	۲۰۰
۵٤:	معجزه د انشقاق القمر	۲۰۱
۵۵:	پینځه واقعات د پاره دتخویف دنیوی۔	۲۰٤
۵٦:	فائده متعلق د "ولقد یسرنا" سره	۲۱۳
۵۷:	تفسیر د "سیهزم الجمع"	۲۱٤

نمبرشمار	عنوان	صفحه
:٥٨	مسئله د تقدير	٢١٦
	سوره الرحمن	
:٥٩	ربط، دعوى، خلاصه	٢١٩
:٦٠	څلور فائدے د سوره الرحمن متعلق۔	٢١٩
:٦١	ترتيب د خلق د آدم	٢٢٥
:٦٢	تفسير د مشرقين او مغربين۔	٢٢٦
:٦٣	تشبيه د ياقوت او مرجان سره۔	٢٤٠
:٦٤	تقابل د نعمتونو د جنتونو۔	٢٤٥
:٦٧	فائده متعلق د ذو الجلال والاكرام۔	٢٤٦
	سوره الواقعه	
:٦٨	ربط، دعوى، خلاصه	٢٤٨
:٦٩	د زنانو د ټولو نه افضل صفت	٢٥٧
:٧٠	تفسير د يحموم	٢٥٩
:٧١	فائده متعلق د ٤٥ آيت سره	٢٥٩
:٧٢	فائدے متعلق د ٧٠ آيت سره	٢٦٧
:٧٣	په جواب قسم كښې توجيهات	٢٧٠
:٧٤	المطهرون كښې احتمالات	٢٧١
:٧٥	تلاوت قرآن د پاره اودس كول	٢٧٢
:٧٦	تفسير د "مدهنون"	٢٧٣
:٧٧	آيت ٨٢ كښې توجيهات	٢٧٤
:٧٨	فائده متعلق ٩٦ آيت سره	٢٧٨
	سوره الحديد	
:٧٩	ربط، دعوي او خلاصه	٢٨٠
:٨٠	تعارض په مابين د معيت استواء على العرش كښې	٢٨٣
:٨١	د قرض حسن لس شرطونه	٢٨٨
:٨٢	د اهل ايمان اقسام	٢٩٥
:٨٣	د آيت ٢١ او العمران آيت ١٣٣ مابين كښې فرق۔	٢٩٩
:٨٤	فرق په مابين د مختال او فخور كښې۔	٣٠١
:٨٥	تفسير د انزلنا الحديد	٣٠٣
:٨٦	تحقيق د رهبانيت	٣٠٥
:٨٧	تحقيق د بدعت	٣٠٩
:٨٨	په آيت ٢٩ كښې درے توجيهات۔	٣١٢
	سوره المجادله	
:٨٩	ربط، دعوى، او خلاصه	٣١٣
:٩٠	تفسير د "محاده"	٣١٨
:٩١	تفسير د ثالثهم	٣٢١
:٩٢	په مجلس كښې راتلونكي شخص ته اودريدل	٣٢٦
:٩٣	اوتو العلم درجات كښې دوه توجيهات۔	٣٢٧
:٩٤	د آيت ٢٢ متعلق فائده	٣٣٧
	سوره الحشر	
:٩٥	ربط، دعوى او خلاصه	٣٣٨
:٩٦	د بنى نضير واقعه	٣٤٠

نمبرشمار	عنوان	صفحه	نمبرشمار	عنوان	صفحه
٩٥:	تفسير د ما اتاكم الرسول فخذوه	٣٤٧		**سوره التغابن**	
٩٦:	فرق په مابين د شح او بخل		١١٢:	ربط، دعوى او خلاصه	٤٢٥
	کښې۔	٣٥١	١١٣:	فمنکم کافر کښې	
٩٧:	تفسير د غلا للذين امنوا	٣٥٢		دوه اقوال۔	٤٢٧
٩٨:	په ٢١ آيت کښې توجيهات	٣٦٠	١١٤:	سوال جواب متعلق	
٩٩:	تعداد د اسماء حسنې په			د غبن۔	٤٣١
	قرآن کريم کښې۔	٣٦٥	١١٥:	تفسير د تعفوا	
	سوره الممتحنه			وتصفحوا	٤٣٤
١٠٠:	ربط، دعوى، او خلاصه	٣٦٧		**سوره الطلاق**	
١٠١:	مراد د "فتنه"	٣٧٣	١١٦:	مراد د عدت نه	
١٠٢:	حاصل د ١٠ آيت۔	٣٧٨		زمانه د طهر ده۔	٤٤٠
	سوره الصف		١١٧:	د درې قسمه زنانو	
١٠٣:	ربط، دعوى او خلاصه	٣٨٦		عدت۔	٤٤٤
١٠٤:	اول خطاب مؤمنانو ته	٣٨٧	١١٨:	د تقوى درې درجې	٤٤٦
١٠٥:	فرق په مابين د محمد		١١٩:	مماثلت په عدد د کښې	٤٥٢
	او احمد کښې۔	٣٩٢		**سوره التحريم**	
١٠٦:	دويم خطاب مؤمنانو ته	٣٩٦	١٢٠:	ربط، دعوى او خلاصه	٤٥٤
١٠٧:	دريم خطاب مؤمنانو ته	٣٩٩	١٢١:	سبب نزول د سوره	٤٥٥
	سوره الجمعه		١٢٢:	تفسير د "خير امنکن"	٤٦١
١٠٨:	ربط، دعوى او خلاصه	٤٠١	١٢٣:	توبه نصوحا	٤٦٥
١٠٩:	تفسير د "الاميين"	٤٠٣	١٢٤:	د مؤمنانو د پوهې د	
١١٠:	اذان شرعي	٤١٠		پاره اول مثال	٤٦٩
	سوره المنفقون		١٢٥:	د مؤمنانو د پوهې د	
١١١:	ربط، دعوى او خلاصه	٤١٤		پاره دويم مثال	٤٧٠